فَتح النحو

واضح متن
اعراب
زنځیري (زنجیري) ترکیب
ژباړه
تشریح
د آیاتونو تخریج
د حدیثو تخریج
پوښتنه او جواب
د لغاتو حل
تر هر اړین بحث وروسته تمرین

شرح

هِداية النحو

لیکوال: شیخ سراج الدین چشتي (متوفي ۷۵۸هـ)

صداقت کتب خانه

د لومړي ځل لپاره په روانه پښتو کې د (هداية النحو) تقريباً له ځلوېښتو ۴۰ شرحو څخه چاپ سوې شرحه

فَتحُ النّحو

پشتو شرح

هِداية النّحو

د زيري پيغام: دا د نحو د اوځار (مشهور) کتاب (هداية النحو) په پښتو ژبه کي تر ټولو غوره شرحه ده ؛ ځکه چي لاندي ځانګړ تياوي ټولي لري :

① واضح متن .
② اعراب .
③ زنځيري (زنځيري) ترکيب .
④ ژباړه .
⑤ تشريح .
⑥ د آياتونو تخريج .
⑦ د حديثونو تخريج .
⑧ پوښتنه او جواب .
⑨ د ځينو تشريحګانو، نحوي قاعدو او خبرو نقشې .
⑩ د ګرانو لغاتونو حل .
⑪ تر هر اړين بحث وروسته تمرين .
⑫ او په سر کي يې فهرست (لړليک) .

ليکوال

شيخ سراج الدّين عُثمان چشتي رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِ (متوفى ۷۵۸ هـ)

شارح (سپړونکی)

مفتي أبو الفيضان فضل الرّحمٰن فيضون غَفَرَ اللهُ لَهُ

خپرندويه

صداقت کتابخانه/کندهار

۴



فَتحُ النّحو

مؤلف: شیخ سراج الدّین عثمان چشتي رح

شارح: مفتي مفتي أبو الفيضان فضل الرّحمٰن فيضون

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

چاپ کال: ۱۳۹۹ل.

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ: (۳۸۳)

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندويه ټولنه-کندهار

اوله ناحيه، نوی سړک- کريم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com – ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه- ارګ بازار-قلم او کتاب مارکېټ. **کابل:** صداقت خپرندويه ټولنه، کوټه سنګي مينه يار مارکېټ سروش کتاب پلورنځی او اکسوس کتاب پلورنځی. **هلمند:** تاج منور خپرندويه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه ګدام. **جلال آباد:** مومند خپرندويه ټولنه-ننګرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

ډالۍ

- هغو علماوو ته چې د نحو کتابونه يې په ډېر زيار سره ليکلي دي .
- هغو شارحينو (سپړونکو) ته چې په ځانګړې توګه د دې نوموړي کتاب (هداية النحو) شرحې يې ليکلي دي .
- هغو ديني مخکښانو ته چې طالبان د دې نحوي کتاب وزده کړې ته تياروي او په ښه شوق او ذوق يې ورته درسوي .
- هغو طالبانو ته چې له خپل وخت څخه اسلامي او ديني ګټه پورته کوي او د نحوي له علم سره مينه لري .
- هغو طالبانو او د علم مينه والو ته چې دا کتاب (فتح النحو پښتو شرح هداية النّحو) په غور لولي او زده کوي يې .
- هغو لوستونکو ته چې د (هداية النحو) کتاب د متن مقصدونه په يادوي او بيا يې نه هېروي .
- او هغو اسلام پالو کسانو ته چې نور خلګ ديني علومو لکه : قرآن شريف، حديث شريف، تفسير شريف، صرف، نحو، بلاغت او داسې نورو علمونو ته يې تشويقوي او راجلبوي يې .

د داسې کسانو ژوند دې تل تر تله له فتحو (برياوو) ډک وي : آمين .

فضل الرحمن فيضون

فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

الْحَمْدُ لله الَّذِيْ افْتَتَحَتْ بِاسْمِهِ الْفُتُوحَات، وَصَلَحَتْ بِنُوْرِ عِلْمِهِ الْمَعْلُوْمَات، وَأَتْقَنَتْ بِأَمْرِهِ عِلْم النَّحْو وَالصَّرْف وَالْعَلَامَات .

وَصَلَّى اللهُ عَلَىٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ سَيِّدِ السَّادَات، وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ ذَوِيْ الْفُتُوحِ وَالْهَيْئَات .

أَمَّا بَعْدُ :

گرانه لوستونکي ! ښکاره خبره ده چي الله ربّ العزت پر موږ دا خپل احسان (منت) کړی دی چي پر موږ انساني نړۍ يې د علم نعمت ولوروی .

او په علمي لوړيني کي يې موږ محمدي أمت د خپل سپېڅلي کتاب (قرآن شريف) او د خپل ستر لاربنوود ﷺ د حديثو (وېناوو) په علم ونازولو ! .

او موږ ته يې د دې علم ښوونه په عربي ژبه کي غوره کړه .

او بېشکه (بې له شکه) ده ربّ العزت ﷻ عربي ژبه د ژبو سرداره ژبه گرځولې ده او د دې ژبي لپاره يې څو داسي علوم (علمونه) اېښي دي چي د هغو په زده کولو انسان ته د دې ژبي ويل او کارېدل آسانه کېږي. لکه: (عِلم النّحو)، (عِلم الصّرف)، (عِلم البلاغة)، (عِلم البديع)، (عِلم المعاني) او داسي نور .

او په دې ټولو علمونو کي (عِلم النّحو) او (عِلم الصّرف) د عربي ژبي لپاره داسي مثال (بېلگه) لري، لکه د انسان لپاره سر او کله چي د انسان سر نه وي ؛ نو انسان بې ساه وي، همداسي د کوم انسان چي عربي زده وي او نحو او صرف يې زده نه وي ؛ نو د هغه به هم عربي ژبه سمه زده نه وي .

او ريښتيا يې ويلي دي : (النّحو في الكلام كالمِلح في الطّعام)، يعني (بانې) د نحو زده کړه په خبرو کي داسي ده لکه مالگه په ډوډۍ کي .

رابه سم ! دې خبري ته چي د نحو په فن کي تر ټولو غوره کتاب (هداية النّحو) ده، که څه هم ځينو علماوو د دې فن (الكافية) د ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ ښوولي، مگر د کوتاه والي او ټولوالي په اعتبار سره (هداية النّحو) ډېره غوره کتاب دی ؛ ځکه نو د افغانستان،

پاکستان او هندوستان په زیاترو ښوونځیو کي د (هداية النّحو) کتاب په نظامي درس (نصاب) کي شامل سوی دی او ځکه د هنوی استاذان د دې پر زده کړه د (کافيه) يې تر زده کړي ډېر ټینګار کوي او طالبان دې ته هڅوي چي (هداية النّحو) ښه سمه زده کړئ!.

او پوه سه ! په دې چي د دې کتاب (هداية النّحو) ډېري شرحي جوړي سوي دي. چي په ټولو ژبو کي په اردو کي ډېر کار پر سوی دی او ډېري شرحي يې جوړي سوي دي او د هنو شمېر تر شلو اوړي او په اردو ژبه کي يې تر ټولو غوره شرحه (خير النحو شرح اردو هداية النحو) ده او په پښتو ژبه کي يې تر ټولو غوره شرحه (کفاية النحو شرح هداية النحو) ده: نو ما هم په خپله دې شرحه کي له پښتو شرحي (کفاية النحو) څخه ډېر کار اخيستی دی ! او زياتره مي د هغې شرحي د ليکوال شيخ الصرف والنحو أبو حماد نصير الحق عليه السلام وېناوي پکې راوړي دي ! مګر له دې سره سره زما په شرحه کي تر هغې زياتي ځانګړتياوي دي.

او د هنو ځانګړتياوو يادونه به اوس په راتلونکي سرليک کي راسي : بالله التَّوفِيقِ، وَبِيَده أزِمَّةُ التَّحقِيقِ.

د دې شرحي (فتح النحو) ځانګړتیاوي

د (هداية النحو) دا شرحه (فتح النحو) لاندي ځانګړتیاوي تولي لري :

① : د (هداية النحو) هر متن (عبارت) په واضحه بڼه په خپل ځوکاټ کي راوړل سوی دی : چي د دې ځانګړتیا په لرلو عام لوستونکي ته هم د متن زده کول او یادول آسانه کیږي .

② : د دې شرحي د عبارتونو لپاره خپل اعراب اېښوول سوی دی : چي د دې په لرلو وعام طالب ته هم د (هداية النحو) د عبارت لوستل آسانه کیږي .

③ : د (هداية النحو) د سختو عبارتونو لپاره خپل آسانه زنځیري ترکیب حل سوی دی : ځکه چي د ترکیب په زده کړه باندي د (هداية النحو) د عبارت زده کړه آسانه کیږي .

او د ځینو عبارتونو ترکیب نه دئ پکي سوی : ځکه چي هلته ترکیب ډېر بنکاره وو . په دې وجه مي یې ترکیب نه دئ راوړی ! او د (مبني) په برخه کي مي صرف درې ځایه ترکیب کړی ! ځکه هلته عبارتونه آسانه دي او که چیري تر هر عبارت د هغه خپل ترکیب په زنځیري ډول راوړل سي ! نو دا شرحه به برابر دوه ۲ ټوکه ته ورسیږي . مګر چي تر کوم عبارت لاندي د هغه د ترکیب راوړل ډېر اړین دی، له هغه ځخه ما لیکوال فیضون دریغ نه دئ کړی ! .

④ : د (هداية النحو) د هر عبارت لپاره د هغه ژباړه په خپل ځوکاټ کي غوره سوې ده : چي د دې په زده کړه د (هداية النحو) د عربي متن زده کړه آسانه کیږي .

⑤ : د (هداية النحو) د هر مقصودي عبارت خپله تشریح راوړل سوې ده : چي د دې په یادولو سره د علم نحو د متنونو پابند کیږي .

⑥ د آیاتونو تخریج (راایستنه) پکي سوې ده : چي د دې په یادولو سره د دې شرحي (فتح النحو) د قرآني آیاتونو معلومېدل کیږي .

⑦ : د حدیثونو تخریج پکي سوی دی : چي د دې په یادولو د دې شرحي (فتح النحو) د حدیثو معلومېدل کیږي چي فلانی حدیث په فلاني کتاب کي یاد سوی او په فلاني ټوک او فلاني مخ کي یاد سوی دی !! .

⑧ : د (هداية النحو) د هر مقصودي عبارت لپاره خپله پوښتنه او جواب غوره سوی دی : چي د دې په یادونو د (هداية النحو) سخت او پېچیده ځایونه زده کول آسانه کیږي .

او الحمد لله د پوښتنو او ځوابونو شمېر پوره ۳۶۰ ته رسیږي چي دا د کال د ورځو له شمېر سره ورته شمېره ده او په دې کي راز دا دی . چي په دې ۳۶۰ پوښتنو کي تولي ځانګړي پوښتني جواب سوي دي ! .

⑨ : د ځینو تشریحګانو، نحوي قاعدو او نحوي ځانګړو ټکو تشې پکې راوړل سوي دي ؛ چې د دې په راوړلو د لوستونکي طالب پام د نحو وزده کړي ته ډېر ژر حاضرېږي او په مقصد یې ډېر ژر پوهیږي .

⑩ : د ګرانو لغاتونو حل پکې سوی دی ؛ چې د دې په یادولو د (هداية النّحو) د ګران عبارت او پېچلي متن زده کړه آسانه کیږي .

⑪ : تر هر اړین بحث وروسته تمرین پکې غوره سوی دی ؛ چې د دې په راوړلو د هغه بحث مقصد روښانه کیږي او څومره چې زما فیضون وس سوی دی ؛ نو هغه تمرین ما مختصر کړی دی ؛ ځکه چې د زده کوونکو په ذهنو کې په آساني سره د هغه د سوالو جوابونه راسي ؛ وَاللهُ الْمُوَفِّقُ .

⑫ : او په سر کې یې خپل لړلیک یاد سوی دی ؛ چې د دې په راوړلو د دې شرحې (فتح النّحو) د موضوعګانو (سرلیکونو) پیدا کېدل آسانه کیږي .

خو له دې لسو ځانګړتیاوو سره سره دا شرحه په روانه طالبانه[1] پښتو ژبه باندي لیکل سوې ده، چې د لر او بر طالب پښتانه او د دې فن عام پوهان (عالمان) پښتانه ټوله کار ځني اخیستلای سي .

او دا ټولې ځانګړتیاوې د الله تعالی په فضل پکې غوره سوي دي چې تر دې مخکې د (هداية النّحو) دومره ځانګړتیاوې په هیڅ پښتو شرحه کې نه دئ راغلي ؛ نو زه په حق سره د ده ﷻ شکر ادا کوم ! او د ده ﷻ د دې ستري لورېنې په لرلو ویاړم ! او دا وایم ! : ﴿... هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ﴾ (النمل: ۴۰).

العبد الفقير إلى عفو ربّه القدير

فضل الرّحمٰن "فيضون" عفا الله عنه

۲۱/ د حسن حسین میاشت/ ۱۴۴۲ س

❁ ❁ ❁

(۱) یعني : طالبانه لهجه : ځکه پښتو ژبې څو لهجې لري. لکه : کندهاري لهجه. پېښوري لهجه. کابلي لهجه. غزنوي لهجه او نوري داسي لهجې او طالبانه لهجه زیاتره هغه وې چې ملایان یې په خپلو نظامي درسونو کې خپلو شاګردانو ته د هغوی د پوهاوي لپاره کاروي !.

د (هداية النّحو) د ليکوال پېژندنه

ليکوال شيخ سراج الدّين عثمان نوميږي چې په (أخي السّراج) سره اوځار وو : تخلص يې (چشتي) دی چې د (چشتيه) سلسلې طرف ته يې نسبت کيږي ؛ په (نظامي) صاحب هم بلل کېدی ؛ ځکه چې دی د حضرت پير خواجه نظام الدين رحمه الله په خليفه ګانو کې وو چې له هغه سره يې بيعت کړی وو او له (الأودهي) قبيلې سره يې تړاو درلود ؛ په دې وجه (اودهي) هم ورته وايي !.

⇦ **زوکړه:** شيخ سراج الدّين په شپږ سوه شپږ پنځوس ۶۵۶ هجري کې دنيا ته سترګې پرانيستې او د هندوستان په (اوده) ښار کې يې زوکړه وسوه.

⇦ **زده کړه او زيار:** دی په کشرتوب کې چې تازه يې برېتونه راغلي وه د حضرت نظام الدين محمد بديواني رحمه الله خانګاه ته راغلی او هلته يې له شيخ پير نظام الدّين سره بيعت وکړ ؛ خو د څه وخت په تېرېدو يې باطني علمونه زده کړل، مګر ظاهري علومو ته لاس رسی نه درلود، البته شوق يې زيات ورسره کاوه.

او بيا دی له خپل ښار (لکهنو) څخه ډهلي ته په سفر ولاړ او له ده سره د کتاب او کاغذ پرته بل هيڅ هم نه وو او له ډهلي څخه به هر کال خپل ښار (لکهنو) ته د مور د زيارت لپاره تلی، بيا به يې د خپل پير نظام الدّين سره ملاقات کاوه.

خو د ډېر وخت په تېرېدو سره پير شيخ نظام الدين وغوښتل چې د هندوستان مختلفو سيمو ته خپل نماينده ګان ولېږي ؛ نو له نېکمرغه يې په زړه کې يې دا فکر سو چې بنګال سيمې ته خپل مريد شيخ سراج الدّين چشتي د نماينده په توګه ولېږي ؛ ځکه چې شيخ سراج الدّين د هغه ځای د خلکو په ژبه ډېر ښه پوهېدی، بيا يې دا فکر وواهه چې ده چشتي ظاهري علوم نه دي زده کړي او د نماينده ګۍ لپاره ؛ خو د علم ضرورت دی ؛ ځکه چې جاهل سړی خو شيطان دوکه کوي ؛ نو يې دا هوډ وکړ چې د ظاهري علومو لپاره يې ډهلي ته په سفر ولېږي.

په دغه مجلس کې د نماينده ګانو د ټاکنې پر وخت مولانا فخر الدّين زرادي رحمه الله هم حاضر وو، ده زرادي صاحب عرض وکړ چې دی سراج الدّين چشتي به زه په شپږو ۶ مياشتو کې عالم کړم !.

هغه وو چې فخر الدّين زرادي صاحب په غياث پور کې وسراج الدين چشتي ته د صرفو علم ورزده کړی او د صرفو په ميزان ؛ قاعدو او ګردانو باندي يې پوه کړی.

او په دغه وخت کې زرادي صاحب د خپل مشهور کتاب (زرادي) ليکنه هم روانه کړې وه او ده زرادي به خپل شاګرد چشتي ته ويل : چې ما ستا لپاره د صرفو په هکله يو مفصل (سپړېدونکی) کتاب ليکلی دی او له هغه څخه به يې ده ته ښوونه سبق (لوست) هم وايه.

د صرفو د علم تر زده کړې وروسته شيخ سراج الدّين له مولانا رکن الدّين اندرپتي رحمه الله څخه زده کړه پيل کړه، چې له هغه څخه يې د نحو علم ؛ د فقه او داسې نور بېلابېل فنون زده کړل.

په نحو کې يې (الكافية) د ابن حاجب رحمه الله او (المفصل) د علامه زمخشري رحمه الله زده کړل او په فقه کې يې (مختصر القدوري) او (مجمع البحرين) زده کړل.

او دی چشتي صاحب په شپږو میاشتو کي داسي مرتبي ته ورسید چي یو ډیر پوه عالم هم له ده سره د مباحثي مجال (خواک) نه درلود او نه یې له ده سره د علمي مناظري تاب راوړای سو.

د ظاهري علومو تر زده کړي وروسته وده ته خپل پیر شیخ نظام الدین بدیواني صاحب خلافت ورکړه او دی سراج الدین چشتي صاحب یې خلیفه جوړ کړی.

بیایې د خپل شیخ په اجازه سره بنګال ته سفر وکړ او هلته یې د دین خدمت پیل کړ چي په زرګونو مسلمانان ځني برخمند سول.

لیکني او علمي میوه: شیخ سراج الدین چشتي د خپل برکتناک ژوند په دې وروستیو شپږو کي څو لیکني هم وکړې چي هغه په لاندي ډول دي:

(۱) پنج ګنج (فارسي)، چي پر پینځو رسالو مشتمل او په صرفو کي یو درسي کتاب دی.

او بل په دې نامه (پنج ګنج) د شیخ سعدي رحمة الله علیه دی چي په هغه کي فارسي شعرونه دي او هغه هم په ځینو ښوونځیو کي درسیږي.

او دریم (پنج ګنج) د شیخ نظامي الکنجي رحمة الله علیه دی چي دا هم په فارسي ژبه کي یو دیوان (جونګ)، یعني د شعرونو کتاب دی.

(۲) میزان الصرف (فارسي)، چي دا هم د صرفو یو مشهور کتاب دی او حجم یې د رسالې په څېر دی.

(۳) هداية النحو (عربي)، چي دا بیا د نحو مشهور کتاب دی او د افغانستان، پاکستان او هندوستان په زیاترو ښوونځیو کي درسیږي او زه یې دا دئ اوس د شرحي سیرلو په لړ کي روان یم![1]

او د دې (هداية النحو) په نامه سره بل چاپي کتاب نسته او زیات تفصیل به په راتلونکي سرلیک (عنوان) کي راسي: إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

همدا یې لیکني وې چي درې سره په درس کي شامل دي.

مړینه: شیخ سراج الدین چشتي په اووه سوه اته پینځوس ۷۵۸ هجري کي وفات سو[2]: روح دې یې ښاد او بریالی وي.

او د مړیني ځای یې نامعلوم دی، چي دی په کوم ځای کي ښخ دئ؟! مګر د تاریخ له څېړکو ځخه دومره څرګندیږي چي دی خپل د هندوستان په (اوده) ښار کي ښخ دی: روح دې ښاد او بریالی وي.

---

[1] (کشف الظنون) ۱ ټوک. ۲۵۷ مخ.

[2] (نزهة الخواطر وبهجة المسامع والنواظر) ۲ ټوک. ۱۷۳ مخ او (خیر النحو) ۳۱ - ۳۲ مخونه په حواله د (ظفر المحصلین) او (نزهة الخواطر).

ايا د (هداية النحو) ليکوال أبو حيان الأندلسي دئ ؟!

دا له مهمو پوښتنو څخه ده چي ايا د (هداية النحو) ليکوالي أبو حيان أندلسي دئ ؟! او په دې هکله ځيني مدرسين (معلمان) ډېره غټه تېروتنه کوي.

هغه دا چي د ځينو علماوو او مدرسينو په ژبه دا خبره مشهوره ده چي (هداية النّحو) کتاب شيخ مفسر أبو حيان أندلسي رحمه الله عليه[1] ليکلي. مګر دا خبره غلطه او له تحقيق څخه لېري ده: ځکه چي د دې پېنځه وجې دي:

لومړى وجه دا ده: چي د أبو حيان أندلسي په ليکنو کي په دې (هداية النحو) نامه کتاب نشته او نه تر اوسه چا په مستند کتاب کي ليکلي چي د أبو حيان يو تصنيف (هداية النحو) ده. بلکي د دې نسبت يې (سراج الدين چشتي) ته کړى دى.

دويمه وجه دا ده: که (هداية النّحو) کتاب أبو حيان أندلسي ليکلى واى: نو خامخا به په عربي نړۍ کي دا کتاب (هداية النّحو) مشهور سوى واى او هلته به په پوهنځيو کي د نظامي درسونو په لړ کي طالبانو ته درس سوى واى او بيا به د دغه کتاب نسبت أبو حيان أندلسي ته خامخا سوى واى.

درېيمه وجه دا ده: چي د (هداية النّحو) په نامه کتاب تر اوسه چا نه دئ ليکلى او که يې ليکلى دى: نو هغه يې د (الهداية في النّحو) په نامه ليکلى دى چي په هغه کي د (في) زياتونه سوې ده او د (الهداية في النّحو) په نامه کتاب شيخ عبد الله بن جعفر ليکلى چي په ابن دَرَستَوَيه سره اوځار دى او مړينه يې په ۳۴۷ هجري کي سوې ده[2] او دى د (هداية النّحو) ليکوال: ځکه نه دى چي خپله د (هداية النّحو) ليکوال په خطبه کي ويلي دي: (جَمَعْتُ فِيهِ مُهِمَّاتِ النَّحْوِ عَلَىٰ تَرْتِيبِ الكَافِيَة). يانې: ما په دې کي د نحو مهمي خبري راټولې کړي دي پر ترتيب د کافيه يې: له دې خبري څخه دا معلومېږي چي مروجه (هداية النّحو) تر کافيه د ابن حاجب وروسته ليکل سوې ده او کافيه په اوومه هجري پېړۍ کي ليکل سوې ده او د ليکوال مړينه يې په ۶۴۶ هجري کي سوې ده. لکه څرنګه چي خير الدين زرکلي رحمه الله عليه ويلي دي[3] او له دې څخه په ډاګه دا معلومېږي چي ابن الحاجب تر ده سراج الدين څو پېړۍ مخکي تېر سوى دى.

---

[1] يادونه: د (أبو حيان) په نامه دوه کسان دي. يو په خپله (أبو حيان الأندلسي) دى چي د نحو عالم او د قرآن کريم مفسر وو او په ۷۴۵ هجري کي يې مړينه سوې ده: د زيات تفصيل لپاره (الأعلام) د زرکلي رحمه الله ۷ ټوک. ۱۵۲ مخ او بل (أبو حيان التوحيدي) وو چي د (البصائر والذخائر) ليکوال دى او په ۴۰۰ هجري کي يې مړينه سوې ده: وګوره! (الأعلام) ۴ ټوک ۳۲۶ مخ.

[2] (کشف الظنون) ۲ ټوک. ۲۰۴۱ مخ.

[3] (الأعلام) ۴ ټوک. ۲۱۱ مخ.

او دویم د (الهداية في النّحو) په نامه کتاب شیخ عبد الجلیل بن فیروز الغزنوي النحوي رحمه الله علیه لیکلی دی چې د دې لیکوال د (غزني) اوسېدونکی دی او د ده نوري لیکني لکه : (لُباب التّصريف)، (معاني الحروف)، (مؤنس الإنسان ومُذهب الأحزان) دي[1] او دا نه دئ معلوم چې کله پیدا سوی دئ ؟ چیري بنخ دئ ؟ او په کوم کال کي یې مړینه سوې ده ؟ او دا ممکنه (کېدونکې) ده چې د دې مروجه (هداية النّحو) او د هغه هدایې تر مینځ ډېر فرق وي، مګر له دې سره سره ما په (خیر النحو شرح اردو ہدایۃ النحو) په بحث د (مصنف ہدایہ کے متعلق تحقیق لطیف) کي ولیدل چې لیکوال أستاذ العلماء حضرت مولانا الله بخش ظفر مدّ ظلّه پکي فرمایلي وو : مولانا عبد الحي الحسني رحمه الله علیه چې د (حضرت مولانا علی میاں رحمه الله علیه) پلار وویو کتاب ولیکی چې د هغه اصلي نوم (عوارف المعارف في أنواع العلوم والمعارف) دی، اوس دغه کتاب په دمشق هیواد کي چاپ سوی دی او د ده نوم په (الثقافة الإسلامية في الهند) سره بدل سوی : د دې کتاب په ۲۱ مخ کي د (مصنفات أهل الهند في النّحو) تر سرلیک لاندي وایي : (ومِنها: هداية النّحو للشيخ سراج الدّين عثمان الأودي ؛ نصّ عليه صاحب تعداد العلوم على حسب الفهوم، وهو كتابٌ مقبولٌ متداولٌ بأيدي النّاس). یعني : او له دې [نحوي کتابونو] څخه هداية النحو ده چې شیخ سراج الدّین عثمان الأودي لیکلې ده : پر همدې خبري د (تعداد العلوم على حسب الفهوم) تصریح کړې ده[2]

نو له دې تحقیق څخه ښکاره دا خبره معلومیږي چې د (هداية النّحو) لیکوال د هندوستان یو عالم دی چې هغه سراج الدّین اودهي نومیږي، کوم چې د حضرت خواجه نظام الدين بدیواني رحمه الله علیه په خلیفه ګانو کي دی .

څلورمه وجه دا ده : چې (هداية النّحو) کتاب ؛ څکه د شیخ سراج الدّین چشتي تصنیف دی چې په دې نامه کتاب صرف د هندوستان عالِم لیکلی دی او سراج الدين اودهي هم د هندوستان عالم دی او أبو حيان أندلسي صاحب د اندلس عالِم دی او په دې هکله هم ډاکټر (پروفیسر) أحمد خان په (معجم المطبوعات العربيّة في شبه القارة الهنديّة) کتاب کي د دې خبري ته اشاره کړې چې (هداية النّحو) د لومړي ځل لپاره د هندوستان په کلکته ښار کي چاپ سوه او دا وخت ۱۸۰۵ عیسوي کال وو او نور یوولس ځله چاپونه یې تر دې لومړي چاپ وروسته هم ښوولي چې هغه چاپووني هم په هندوستان او داسي په نژدې شاوخوا

(۱) (الوافي بالوفيات) د علامه صفدي ۱۸ ټوک، ۳۱ مخ. (بُغية الوعاة في طبقات اللغويين والنحاة) د جلال الدين سيوطي ۲ ټوک، ۷۳ مخ.
(۲) (خير النحو) ۳۱ مخ.

سپمو کې سوي دي[1].

پينځمه وجه دا ده: کومه چې آخري وجه يې ده چې (هداية النّحو) کتاب: ځکه د شيخ سراج الدين چشتي دی چې زياترو محقيقينو شارحينو هر يو لکه: أستاذ العلماء مولانا أبو سعيد الله بخش ظفر په (خير النحو اردو شرح هداية النحو) ۳۱ مخ کې. علامه محمد ياقت علي رضوي په ۹ مخ کې. مفتي محمد جاويد قاسمي سهارنپوري په خپله شرح (درس هداية النحو) ۱۱ مخ کې په ډاګه کړې ده چې د (هداية النحو) ليکوال شيخ سراج الدين عثمان چشتي دی او زما خپله هم دغه تحقيق دی چې مؤلف يې شيخ سراج الدين چشتي دی.

او نور شارحينو هر يو لکه: مولانا عبد الحي استوري په (معارف النحو شرح اردو هداية النحو) ۷ مخ کې. مولوي عبد الرب مير تهي په (رواية النحو شرح اردو هداية النحو) ۵ مخ کې. حضرت مولانا محمد اصغر علي په (ضياء النحو اردو شرح هداية النحو) ۳ مخ کې. أبو حماد نصير الحق په (كفاية النحو پښتو شرح هداية النحو) ۱۰ مخ کې ويلي دي: چې د (هداية النحو) ليکوال أبو حيان أندلسي دی. مګر دا خبره د دوی بې ځايه ده: ځکه چې دا مخکې پينځه وجې په تفصيل (سپړنې) سره تېرې سوې چې ليکوال يې په حقيقت کې شيخ سراج الدين چشتي اودهي رحمه الله عليه دی او له دې سره سره د ده پېژندنه هم تېره سوه: وَالحَمْدُ لله اَللّٰهمَّ بالصَّوَاب.

د علم نحو څو ځانګړي خبري

پوه سئ! په دې چې د هر علم تر شروع کېدو مخکې د يو څو شيانو (سرتکو) پېژندل ضروري (اړين) دي او هغه لس سرتکي دي:

لومړی: تعريف (پېژندنه) د علم: د دې لپاره چې طلب د مجهول مطلق لازم نه سي.

دويم: وجه تسميه (د نوم ايښېدو لامل) د علم: د دې لپاره چې د علم معنا ښه واضح سي.

دريم: موضوع د علم: د دې لپاره چې يو علم له بل علم څخه ممتاز سي.

څلورم: غرض د علم: د دې لپاره چې طلب د عبث لازم نه سي.

پينځم: واضع د علم: د دې لپاره چې د علم عظمت او شان په زړونو کې راسي.

شپږم: تاريخ د علم: د دې لپاره چې د لويو لويو علماوو د محنت معلومېدو سره زيات درنښت د علم په زړونو کې راسي.

اووم: مقام او مرتبه د علم: د دې لپاره چې د دې علم د تعليم (زده کړې) او تعلم (ورزده کړې) شوق پيدا سي.

اتم: د کتاب د ليکوال پېژندنه: د دې لپاره چې د کتاب درنښت په زړونو کې راسي: ځکه چې د ليکوال په پېژندنې سره د کتاب درنښت په زړه کې راځي.

[1] د زيات تفصيل لپاره وګوره! (معجم المطبوعات العربيّة في شبه القارة الهنديّة) ۵۳۷-۵۳۸ مخونه.

نهم: ضرورت (اړتيا) د علم: د دې لپاره چې د علم مقصد (موخه) ښه واضح سي.

لسم: او ثمره (مېوه او ګټه) د علم: د دې لپاره چې د علم پلټه ښه په شوق وسي.

او د دې لسو سرټکو تفصيل به اوس مخ ته راسي؛ بِاللهِ التَّوْفِيْقِ، وَبِيَدِهِ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ.

لومړی (پېژندنه د علم نحو): پوه سه! په دې چې د نحو علم لغوي او اصطلاحي معناوي دواړي لري: نو (علم النحو) په لغت کي له (نحا، ينحو) څخه مصدر (جوړ) دی چې د دې معنا د قصد (هوډ) او ارادې ده او په اصطلاح (ګړنه) کي دا يو داسي علم دی چې د دې په لامل سره د آخري دريو کليمو حالات له جهت (اړخ) څخه د اعراب، بناء او د يوې کليمې له بلي کليمي سره د جوړه کېدلو (ترکيب) کيفيت پېژندل کيږي.

او ما د عربي لغت زياتره کتابونه مطالعه کړل چې ما د (نحو) ټولي دوولس ۱۲ معناوي وموندلې؛ چې يوه: خو يې اصلي معنا وه کومه چې اوس تېره سوه او دويمه معنا د نحو د لاري ده. لکه يو عربي چې وايي: (ذهبتُ بهذا النّحو الواسع!). زه پر دې پراخي لاري ولاړم!.

دريمه معنا يې د حفاظت (ساتني) ده. لکه څرنګه چې حضرت علي ﷺ په خپلې يوې مقولې کي فرمايلي دي: (إِذَا جَاءَ نَحْوِيُّوْنَ فِيْ يَوْمِ الْقِيَامَةِ؛ قِيْلَ لَهُمْ فِيْ حَقِّهِمْ مِنْ جَانِبِ اللهِ تَعَالَى: يَا مَلَائِكَتِيْ! أُنْحُوْهُمْ عَنِ النَّارِ كَمَا نَحَوْا كَلَامِيْ عَنِ الْخَطَايَا)

ژباړه: کله چې د قيامت په ورځ نحويان (ګړپوهان) د قيامت په ورځ اد الله تعالی په درشل ا کي راسي: نو دوی ته به د الله تعالی لخوا څخه وويل سي: اې پرېشتو! دوی اد دوزخ اله اور څخه وساته لکه څرنګه چې دوی زما کلام (خبري) له غلطيو څخه ساتل.

څلورمه معنا يې د فصاحت ده. لکه په عربي لغت کي چې ويل کيږي: (مَا أحسنَ نحوكَ في الكلام!). يعني: څومره ښه فصاحت دی ستا په خبرو کي!.

پېنځمه معنا يې د ميلان ده، لکه چې يو عربي وايي: (فنحى إليه). يعني: نو ميلان يې ورته وکړ.

او نوري اووه معناوي يې يو پارسيبان شاعر په خپل يو شعر کي سره يو ځای کړي دي، لکه چې وايي:

بنحت معنا در بيان نحو اے جان من بگو! قصد و مقدار و قبيله صرف و نوع شبه و سو

يانې: اووه معناوي په بيان د نحو راځي. لکه: ۱- هوډ. ۲- اندازه. ۳- تېر. ۴- اړول. ۵- ډول (مثال). ۶- مشابه (ورته). او ۷- اړخ (خوا).

نو دا يې ټولي دوولس معناوي سوې او بېلګې د دې تېرو اوو معناوو دا دي:

۱- د هوډ بېلګه (مثال). لکه: (نحا الولد نحو والده). يانې: زوی د پلار په لوري کوچ وکړ.

۲- د اندازه مثال لکه: (اشتريتُ هذا نحو ألف درهم!). ما دا شی په اندازه د زرو درهمو رانيوی!.

---

(۱) (شرح هداية النحو اردو) د علامه محمد لياقت علي رضوي لاهوري. ۳۰ مخ او (الشمة) ۱۶ مخ.

۳- د تېر مثال لکه : (هُم نَحُو بنو هاشم)، يعني : دوی يو ډېر د بنو هاشم دي .

۴- د اړول مثال لکه : (نحا بصرهُ إليه)، يعني : وايي ړوی خپل نظر وهغه شي ته. يا (نحا زيد عنه)، يعني : زيد له ده څخه مخ واړوی (اعراض يې ځني وکړی)، يا لکه فقهاء چي وايي : (ثُمَّ يتنحّى عَنْ ذَلِكَ المَكَانِ)، ياني : بيا به ليري سي له دغه ځای څخه او يا لکه ځيني نحويان چي وايي : (نحا الكلمة)، يعني : وايي ړول کليمه .

۵- د ډول مثال لکه سيبويه چي وايي : (والألقاب والكُنى بمنزلة الأسماء نحو : زيد وعمرو)[1]، يعني : لقبونه او کنيې په منزله کي د نومانو دي، لکه : زيد او عمرو .

۶- د ورته مثال لکه : (هُو الرّجل نحوِيّ !)، يعني : دا سړی زما ورته دی او دا زما مشابه دی .

۷- او د اړخ مثال لکه : (اتّجه نحو الشّرق !)، ياني : ده اراده وکړه د ختيځ په اړخ (خوا) کي . او پاته د ها نورو دريو بيلګي (مثالونه) : هغه تر دي اوو مخکي اوس تېري سوې اه ! .

او د نحو جمع (أنحاءٌ) او (نُحُوٌّ) ده .

دويم (وجه تسميه د علم نحو) : نحو ته : ځکه نحو وايي چي د دې څلور لاملونه دي او هغه لکه : ۱- دا لفظ (توری) له (نحا، ينحو) څخه جوړ دی او (نحا، ينحو) وايي هوډ او ارادې ته : نو په نحو کي هم د عربي ژبي د خبرو د سمولو هوډ کيږي او ويونکی انسان يې د سمولو اراده کوي - دا يې د نوم ايښېدو لامل دی .

۲- دويم لامل د نوم ايښېدو يې دا دئ : چي د (نحو) يوه معنا د لاري ده : نو متکلم (خبري کوونکی) د دې علم په ذريعه د عربو پر لاره ځي .

۳- دريم لامل د نوم ايښېدو يې دا دئ : چي د نحو يوه بله معنا ده د اړخ او بغل : نو په دې علم کي هم د کليمي پر آخري اړخ (حرف) بحث کيږي .

۴- او څلورم لامل د نوم ايښېدو يې دا دئ : چي د نحو بله معنا د ډول او بيلګي ده : نو د دې علم پوه کس هم د عربو د خبرو کولو پر قاعده او طرز وس لري : په دې وجه نحو ورته وايي. لکه څرنګه چي دا څلور سره وجي مولانا محمد لياقت علي رضوي په خپله شرحه کي ذکر کړي دي[2] .

دريم (موضوع د علم نحو) : موضوع د دې علم نحو هغه کليمه او کلام دی او کليمه د کلام يوه برخه ده، د بيلګي په توګه لکه : (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ) : نو (إِلٰه) يوه کليمه ده او له (إِلَّا اللهُ) سره دا کلام سو اه ! .

---

[1] (الكتاب) د امام سيبويه. ۲ ټوک. ۹۷ مخ .

[2] (شرح هداية النحو اردو) ۳۰ مخ .

څلورم (غرض د علم نحو) : غرض او موخه د دې علم (صِيانةُ الذّهن عنِ الخطَاءِ اللّفظِيْ فِيْ كَلَامِ العَرَبِ)، يعني : چې ذهن وساتل سي له لفظي غلطي څخه په عربي خبرو کې .

پينځم (واضع د علم نحو) : د نحو د واضع (اېښوونکی) او ښوونکي په باره کې ډېر اقوال راغلي دي :

لومړی قول دا دئ : چې حضرت عمر بن الخطاب ﷺ دی او هغه په داسې ډول چې يو وخت په هغه زمانه (مهال) کې يو اعرابي (صحرايي) راغی چې هغه د قرآن کريم د تلاوت مطالبه وکړه ؛ نو عجمي قاري د قرآن تلاوت شروع کړی، کله چې يې د قرآن کريم د (سورة برأة) د دې آيت تلاوت شروع کړی : ﴿...أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥ...﴾ [التوبة: ۳] ؛ نو په کسرې د لام له رسوله سره هغه تلاوت کړی چې معنی يې غلطه سوه، يعني : الله (ﷻ) له مشرکينو څخه بري (بېزار) دی او د خپل رسول (استازي) څخه هم بري دی ؛ نو اعرابي وويل: (إنْ كان الله بريءٌ مِن رسوله ؛ فأنا بريءٌ مِنه !)، يعني : که الله له خپل استازي څخه بېزار وي ؛ نو زه هم ځني بېزاريم ! حضرت عمر ﷺ چې کله دا خبره واورېدله ؛ نو ډېر غمجن سو او په فکر سره يې يو څو نحوي قواعد وضع کړل .

دويم قول دا دئ : چې اول واضع د نحو حضرت علي ﷺ دی او دا قول مشهور دی .

درېيم قول دا دئ : چې اول واضع يې أبو الأسود الدؤلي رحمه الله دی[1] او هغه په داسې ډول چې له أبو الأسود څخه نقل سوي دي، وايي : زه د امير المؤمنين حضرت علي ﷺ په خدمت کې حاضر سوم، چې هغه په فکر کې ناست وو ما پوښتنه ځني وکړه : حضرت ولې ؟ هغه وويل : د عجمو له عربو سره د اختلاط له وجې په عربي ژبه کې فساد راغلی دی او ما د يو څو اصولو (بنسټونو) د منضبط کولو اراده کړې ده ! که په دې عمل وسي ؛ نو له فساد څخه د تحفظ لامل به وګرځي، درې ورځې پس بيا زه حاضر سوم هغه ما ته يوه رقعه راکړه په هغې کې داسې ليکلي وه : (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، الكَلَامُ كُلّه ثَلَاثَة : اسم وفِعْل وحَرف ؛ فالاِسْم ما أنبأ عنِ المُسَمّى، والفعل ما أنبأ عنِ الفاعل، والحرف ما أنبأ عن معنى ليس باسم ولا فعل)، حضرت وفرمايل : په دې کې اضافه وکړه ؛ نو ما څه مزيد قواعد، لکه : عطف لغت، تعجب، استفهام، باب ان وغيره جمع کړل او هغوی ته ما مسوده وړاندې کړه، مګر له حروف مشبه بالفعل څخه ما (لكن) نه وو ذکر کړی، هغوی وويل : دا ورسره هم شامل کړه ؛ نو يوه مجموعه د قواعدو نحويه وو مرتبه سوه ، حضرت علي ﷺ چې دا وليدله ؛ نو ويې فرمايل : (ما أحسن هذا النّحْو الّذي نحَوت)، له دې څخه معلومه سوه چې اول واضع د علم نحو أبو الأسود الدؤلي دی .

څلورم قول دا دئ : چې اول واضع يې عبد الرحمن بن هرمز الأعرج دی .

او پينځم قول دا دئ : چې نصر بن عاصم دی .

---

[1] (معجم الأوائل) ۴۰۳ مخ .

نو خلاصه (غورچاڼ) دا دئ : چې د نحو اولي څو قاعدې حضرت عمر رضي الله عنه کېښنولې، بيا وروسته کرار په کرار د قرآن شريف تلفظ او تلاوت سمېدی څو قاعدې حضرت علي كرم الله وجهه جوړي کړې، بيا دا قاعدې حضرت أبو الأسود ته حواله سوې چې له هغه څخه د بشپړي نحوي علم لړۍ روانه سوه.

فايده (د علم صرف اول واضع) : لکه څرنګه چې د نحو اول سم واضع حضرت علي كرم الله وجهه دی ؛ نو د صرف علم هم اول واضع لري چې هغه معاذ بن مسلم الهرّاء رحمة الله عليه دی .

شپېږم (تاريخ د علم نحو) : نو په دې علم کې چې اول ګام اخيستی دی هغه په خپله صحابه کرام رضي الله عنهم دي چې اول دور (پېر) يې وو او هغه صحابه لکه : حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت علي كرم الله وجهه او په تابعينو کې لکه : حضرت أبو الأسود دؤلي رحمة الله عليه ؛ ده د نحو نور بشپړي قاعدې هم کېښنولې.

دويم پېر يې : د تبع تابعينو دی او هغه لکه د أبي الأسود الدؤلي شاګردان چې د هغو په ټولګه کې أبو إسحاق عيسى الثقفي، أبو عمرو بن العلاء، نصر بن عاصم، عبد الرحمن بن هرمز الأعرج، يحي بن يعمر، عنبة الفيل او ميمون الأقران دا ټوله راځي ؛ نو بيا دوی علم النحو ته په تدريجي ډول ترقي ورکړه .

دريم پېر يې : د ځينو نحوي امامانو دی او هغه لکه : أبو عمرو بصري او د هغه شاګرد أبو عبد الرحمن خليل بن أحمد فراهيدي او د خليل شاګرد امام أبو بشر عمرو بن عثمان چې مشهور په سيبويه دی (مړينه : ۱۸۰ هجري سپوږميز) هجري او سيبويه رحمة الله عليه په دې فن کې يو کتاب د (السيبويه) په نامه هم وليکی او أبو عمرو عيسى بن عمرو الثقفي رحمة الله عليه دوه کتابونه وليکل، يو د (الإكمال) په نامه او بل د (الجامع) په نامه .

تر دې وروسته نحات (ګروهان) دوې ډلې سوي دي : (۱) نحويان د کوفې . (۲) نحويان د بصرې . دوی دواړو ډلو په ښه شان سره په هيوادونو کې د علم نحوي وضاحت، تشريح او تشهير وکړ، مګر بيا هم په تدوين او ايجاد د علم نحو کې د بصرې نحويان د کوفې پر نحويانو علماوو مخکې دي او همدا ډول د بصرې نحويان د کوفې د نحويانو استاذان دي او د دوی په خپل مينځ کې ډېري مناظرې او مقابلې سره سوي دي تر دې چې هره يوه ډله جلا جلا مذهب په دې فن او علم کې وګرځېد ؛ نو د کوفې د نحوي امامان : امام فراء او امام کسائي رحمهما الله دي . او د بصرې د نحوي امامان : سيبويه او خليل رحمهما الله دي .

فايده (د علم نحو مشهور امامان) : مشهور امامان د دې فن : ۱ : علامه أبو القاسم الزمخشري رحمة الله عليه (مړينه : ۵۳۸ هجري سپوږميز) . ۲ : علامه أبو عبد الله محمد بن مالک رحمة الله عليه (مړينه : ۶۷۲ هجري سپوږميز) ؛ د ده مشهور تصنيف (الفيه) ده . ۳ : علامه جمال الدين عبد الله بن يوسف المعروف بابن هشام رحمة الله عليه (مړينه : ۷۶۲ هجري سپوږميز) . ۴ : علامه الشيخ جمال الدين أبو عمرو عثمان بن عمر

---

(۱) د زيات تفصيل لپاره وګوره ؛ (شرح التّصريح) ۱ ټوک. ۵ مخ. او (ضياء السالك إلى أوضح المسالك) ۱ ټوک. ۹ مخ. بحث في وضع النحو .

(۲) (معجم الأوائل) ۳۰۳ مخ او (حاشية الصبان على شرح الأشموني لألفية ابن مالك) ۱ ټوک. ۲۴ مخ .

بن أبي بكر المالكي رحمة الله عليه (مړينه : ۱۴۶ هجري سپوږميز) : د ده مشهور كتاب په دې فن كې (كافيه) ده . ۵: علامه سيد السند شريف الجرجاني رحمة الله عليه (مړينه : ۸۱۲ هجري سپوږميز) : (وافيه شرح كافيه) د ده د زماني د طفوليت تصنيف دی او د علم نحو په فن كې يې مشهور كتاب (نحومير) دی چې اوس هم د ځينو ښوونځيو په نصاب كې شامل دی .

او د نحو نور پياوړي امامان هم شته، لكه : زُجاج محمد بن سراج، أبو علي فارسي، عبد القاهر جرجاني، امام رضي، امام أخفش، امام مُبرد، امام ثعلب، علامه ابن هشام رحمة الله عليهم او داسې نور .

اووم (مقام او مرتبه د علم نحو) : پوه سه ! په دې چې علوم د مقصد او علوي (شرافت) په لحاظ سره په دوه ډوله دي : ۱- علوم مقصوده عاليه . ۲- علوم غير مقصوده غير عاليه . مقصوده عاليه علوم، لكه : علم تفسير، علم حديث، علم الفقه، علم الميراث او داسې نور . غير مقصوده او غير عاليه علوم، لكه : علم نحو، علم صرف، علم بديع، علم بلاغت او داسې نور : ځكه دا بالذات مقصودي علمونه نه دي، بلكې دا علوم مقصود او موقوف عليه پر مقصوده علومو دي، له دې وجې د نحو د فضيلت او مرتبې په هكله مختلف اقوال ويل سوي دي :

۱. د حضرت علي كرم الله وجهه قول دی : (تَعَلَّمُوا النَّحو كَمَا تعلمون السُّنن والفرائض)، يعني : تاسې نحو داسې زده كوئ لكه سنتونه او فرضونه چې زده كوئ .

۲. امام ايوب سختياني رحمة الله عليه فرمايي : (تَعلموا النَّحو ؛ فإنه جمال للوضيع، وتركه هجنة للشريف)، يعني : تاسې نحو زده كړئ ؛ ځكه چې دا د كښته (انسان) لپاره هم ښايست دی او د شريف (انسان) لپاره يې [د زده كړې] پرېښودل د عيب ذريعه ده .

۳. امام كسائي رحمة الله عليه فرمايي : (إنَّما النَّحو قياس يتبع وبه كُلّ علم ينتفع)[1]، يعني : بېشكه نحو يو آله ده او په دې سره هر علم ګټور كېږي .

۴. علامه مورق رحمة الله عليه فرمايي : (تعلمُوا النَّحو والفرائض ؛ فإنّه مِن دِيْنكم)، نحو او فرضونه زده كوئ : ځكه چې دا نحو ستاسو له دين څخه ده .

۵. حضرت طاشكبري زاده رحمة الله عليه فرمايي : د علم نحو حاصلول فرض كفايي دي .

همدا ډول د علم نحو د عظمت او مرتبې په باره كې نور اقوال هم راغلي دي، لكه چې ويل كېږي :

۶. (النَّحو في الكلام كالملح في الطَّعَام)، يعني : نحو په خبرو كې داسې ده لكه مالګه په ډوډۍ كې .

۷. (النَّحو للعُلُوم كالضَّوء للنُّجُوم)، يعني : نحو د علمونو لپاره داسې ده لكه رڼا د ستورو لپاره .

۸. (النَّحو في الكلام كالضَّوْء في الظَّلَام)، يعني : نحو په خبرو كې داسې ده لكه رڼا په ستورو كې .

۹. (الصَّرف أُمّ العلوم والنَّحو أبُوها)، يعني : صرف د علمونو لپاره د مور حيثيت لري او نحو يې د پلار حيثيت لري .

---

[1] يادونه : د امام كسائي رحمه الله دا خبره يو لومړی بيت دی له هغو لسو بيتونو څخه چې د نحو د فضيلت په هكله يې ويلي دي . د زيات تفصيل لپاره وګوره : (إنباه الرّواة على أنباه النّحاة) ۲ ټوک، ۲۶۷ مخ .

۱۰. او آخري قول : (مَن لم يعرف النّحو ؛ فلا ثقة له في العربيّة). يعني : كه څوک نحو نه وپېژني ؛ نو هغه لره په عربي ژبه کې اعتبار نسته .

اتم (د هداية النحو د ليكوال پيژندنه) : د دې بنه پوره تفصيل په تېرو دوو بحثونو کې تېر سو چې اوس يې مكررولو ته اړتيا نسته اه !

نهم (ارتيا د علم نحو) : پوه سه ! په دې عربي ژبه چې پر نورو ژبو څومره شرافت او لوړوالی لري ؛ نو دا پر چا پټه نه ده : ځكه چې عربي ژبه د قرآن او حديث ژبه ده او په عربي ژبه د اسلام بنسټونه واضح سوي دي او څېله اسلام په عربي ژبه دنيا ته راغلی دی ؛ نو په دې وجه د داسې ژبې زده كړه او عمل ورباندې كول ضروري دي او د دې صحيح (سم) ويل ډېر ضروري دي. البته د پيغمبر ﷺ په زمانه کې د نحو تدوين نه وو سوی ؛ ځكه چې پيغمبر ﷺ په څېله عربی وو او د مورنۍ ژبې د قاعدو ضرورت هم نه وي. مګر كله چې اسلام عجمو ته ورسېدی ؛ نو د څه ګډوډتيا په وجه عجمي خلكو اعرابي غلطيان شروع (پيل) كړې. بيا د دې خبري ضرورت پيدا سو چې څو داسې قوانين كېښوول سي چې د هغه په وسيله د عربي ژبه سمه زده كړه او سم ويل وسي ؛ نو صحابه كرامو رضي الله عنهم څو داسې قوانين جوړ كړل چې د هغه په وسيله دا علمي ستونزه لږ اواره سوه او بنستيزه خبره هم دا ده چې كله د يوې ژبې والا د بلې ژبې زده كړه كوي ؛ نو د هغې ژبې قواعد په خامخا زده كوي ؛ ځكه بيا دی هغه ژبه آسانه زده كولای سي. كنې نه يې سي زده كولای او په دې وجه د عجمو لپاره د عربي ژبه زده كړه ډېره اړينه ده ؛ ځكه چې د دې عربي ژبې د زده كړې په وجه د اسلام خپرېدل او پاتېدل راځي ؛ نو د صحابه كرامو رضي الله عنهم په بركت او داسې د امت د نورو پياوړو علماوو په مټ داسې علم مدون سو چې د هغه په ذريعه د دې ژبې ساتنه راغله .

دا د نحو ضرورت وو او دا يې وجې وې. ګوندې په پامېدلو يې ګران لوستونكی د نحو زده كړې ته هڅندوی سي او د پامېدلو يې بنه سمه هڅه وكړې .

لسم (د علم نحو ثمره او ګټه) : ښكاره خبره ده څرنګه چې د وخت علماوو د دې علم تدوين وكړ او د دې ضرورت يې احساس كړ ؛ نو د امت په عربو او عجمو كې د دې علم ګټه هم ښكاره سوه او ګټه يې په لاندې پينځو ټكو كې روښانه سوې ده :

۱. د دې علم په بركت د قرآن شريف لوستل له خطاوو او غلطيو څخه وژغول سو .

۲. د حديثو شريفو د متونو اعراب وركول سو او زده كړه يې آسانه سوه ؛ ځكه چې د حديثو د زده كړې تر مخه د حديثو لوستل ډېر ستونزمن وو .

۳. د عربي ژبې زده كوونكو ته د دې سپېڅلې ژبې د زده كړې لاره ډېره اواره سوه ؛ ځكه چې مور او تاسو يې ښكاره وينو .

---

(۱) په همدې معنا ما هم ويلي دي ؛ (لو لا النَّحو ؛ لما أتقنت ... عربيّة) يعني : كه نحو نه وای نو عربي ژبه به نه وای سره برابره سوای ... قول زما خپل دی ؛ او د چا د قول يا ماخذ (اخځليک) اقتباس نه دی

۴. د قرآن شريف او د حديثو شريفو په ځينو ځايونو کي داسي توري (الفاظ) دي چي صرف د زور، يا زېر، يا پېښ او يا د شد (ّ) په غلط ويلو سره انسان سخت ګناهګارېږي او يا په کافر کيږي ؛ نو د دې علم نحو په برکت د دې غلط ويلو اصلاح (سمون) وسو او قرآني آياتونو او نبوي حديثو ته د دې علم په برکت اعراب ورکول سو او انسانان يې له غلط ويلو څخه را وګرځول .

۵. او پېنځمه عظيمه ګټه يې دا ده : چي خوک دا علم زده کړي او ځان ورباندي پوه کړي ؛ نو هغه به په ډېر لږ وخت کي له اسلامي عربي ژبي سره بلد سي او په ډېر لږ وخت کي به يې زده کړي .

دا پېنځه داسي ثمرې او ګټي دي چي پر هيڅ يو داسي هوښيار پټي نه دي، کوم چي له دې علم سره علاقه (تړاو) لري .

الحمد لله د دې لسو سرټکو نه پوره وضاحت وسو او تر دې ځايه د دې شرحې (فتح النّحو) په اړوند سرسري خبري تولي پای ته ورسېدلې، اوس به د (هداية النحو) متن پيل سي ؛ بِاللهِ التَّوْفِيْقِ، وَبِيَدِهِ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ .

۞ ۞ ۞

د پيل خبري

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

پيل کوم ! د الله (جل) په نامه سره چې دی [په دنيا کې پر مومنانو او کافرانو] مهربان (پېرزوينه کوونکی) دی او [په آخرت کې پر مومنانو ډېر] پېرزوينه کوونکی دی

(۱) پوښتنه : مصنف (ليکوال) ولې د خپل کتاب (هداية النحو) په سر کې بسم الله راوړه ؟

جواب : ځکه چې په دې سره يې لس ګټې تر لاسه کړې او هغه په لاندې ډول دي :

۱- د تبرک لپاره، چې زما کتاب برکتي سي .

۲- چې اقتدا راسي په قرآن شريف سره ؛ ځکه د هغه په سر کې هم بسم الله شريفه راغلې ده .

۳- چې په حديث باندې عمل راسي، کوم د ابتدا بالتسميه په باره کې روايت سوی دی : (كُلُّ أَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَا يَبْدَأُ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ ؛ أَقْطَعُ)[۱]. يعني : هر هغه کار چې شروع يې په بسم الله سره نه وسي ؛ هغه پرې کېدونکی دی .

۴- چې په دې حديث باندې عمل راسي : (لَمَّا نَزَلَ قَوْلُهُ تَعَالَى : إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : ضَعُوْهَا فِيْ صُدُوْرِ الرَّسَائِلِ وَالدَّفَاتِرِ وَالْمُكَاتَبَاتِ ؛ فَإِنَّمَا كَانُوْا يَكْتُبُوْنَ قَبْلَ ذٰلِكَ بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ)[۲].

يعني : چې کله د الله تعالى دا قول (آيت) : (إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) رانازل سو، پېغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل : چې دا د خطونو، کتابچو او ليکونو په سر کې راولئ ؛ ځکه چې تر دې مخکې به تېرو خلکو : (بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ) ليکل .

او په بل حديث کې هم د بسم الله شريفې پر ليکلو امر راغلی دی چې د هغه يادونه به که د الله تعالى خوښه وه اوس مخ ته د شپږم ۶ خاصيت په حاشيه کې راسي .

۵- د شيطان د رټنې لپاره لکه چې په حديث شريف کې دي : (مَنْ قَالَ بِسْمِ اللهِ ؛ يَذُوْبُ الشَّيْطَانُ كَمَا يَذُوْبُ الرَّصَاصُ فِي النَّارِ)[۳].

يعني : څوک چې بسم الله ووايي ؛ نو شيطان يې ويلی سي لکه څرنګه چې سرپ په اور کې ويلی سي .

۶- چې د قلم له اولي ليکني سره ورته والی راسي ؛ ځکه په حديث قدسي کې راغلي : (أَوَّلُ مَا كَتَبَ الْقَلَمُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)[۱].

يعني : اوله پلا قلم بسم الله الرحمن الرحيم وليکله .

---

[۱] (كنز العمال) حديث شمېره (۲۴۹۱) او هندي ويلي : چې دا حديث عبد القادر رهاوي په (الأربعين) کې [په خپل سند سره] روايت کړی دی .

[۲] (خزينة الأسرار)، باب : الأحاديث الصحيحة الواردة في فضائل البسملة الشريفة، فصل الخصائص في كتابة البسملة الشريفة وفي حلها، ۹۱ مخ .

[۳] دا حديث مفتي عطاء الرحمٰن ملتاني په خپل کتاب (سعاية النحو شرح اردو هداية النحو) کې بې له کوم ماخذه ذکر کړی دی، ۵ مخ .

۷- په کفارو باندي د رد لپاره : ځکه چي هنوی به په خپلو کارونو کي د خپلو باطلو معبودانو په اسماء سره شروع کول چي ويل به يې : (باسم اللات و العزی) .

۸- لېږه داتباع د سلف صالحين چي هنوی خپل کتابونه په (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) سره پيل کړي دي .

۹- د دې لپاره چي له الله تعالی څخه استعانت او مدد حاصل سي : ځکه چي په بسم الله شريفه کي د الله تعالی د ذات په نامه پيل سوی دی .

۱۰- او د دې لپاره چي الله تعالی راضي سي : ځکه چي د کوم عبادت په سر کي بسم الله شريفه وويل سي ؛ نو الله تعالی په خوشاله کيږي .

نو د دې لسو ګټو په وجه ليکوال شيخ سراج الدين چشتي رحمة الله عليه بسم الله شريفه د خپل کتاب (هداية النّحو) په سر کي وليکله او[1] .

د بسم الله شريفې اړوند فايده : بسم الله مرکبه ده د اسماء ثلاثه وو او له الله تعالی څخه يو اسم ذاتي دی چي هغه لفظ د الله دی او دوه صفتي دي چي الرحمن او الرحيم دي : په دې کي يو اسم صفتي ځانګړی دی په الله تعالی پوري چي الرحمن دی دوهم اسم صفتي غير مختص په الله تعالی پوري چي الرحيم دی .

او الرحمن الرحيم دواړه له رحم څخه مشتق دي، په دوی کي معنا د مبالغي ده ؛ نو د لفظ د الرحمن معنی ده : (ذو الرّحمة التي لاغاية لها بعْدَ الرّحمة) . له دې وجي د علماوو قاعده ده چي (لايطلق الرحمن إلا علی الله) . يعني : اطلاق نه کيږي د رحمن مګر پر الله (جل جلاله) .

د رحمن او رحيم تر مينځ فرق : فرق اول په اعتبار د کيفيت، يعني په اعتبار د کثرت د افرادو سره دی او د رحمن تعلق له دنيوي نعمتونو سره دی چي شامل دی مومنانو او کافرانو ټولو ته او د رحيم تعلق له نعمتونو اخروي وو سره دی چي له هغي څخه کفار محروم دي ؛ په دې اعتبار سرلا موحدين د رحمن زيات او موحدين د رحيم کم دي .

دويم فرق : باعتبار کيفيت چي د رحمن تعلق له لويو او کوچنيو نعمتونو سره دی : ځکه واړه نعمتونه هم سته او لوی هم سته او د رحيم تعلق صرف له لويو نعتونو سره دی .

زنځيري ترکيب : باحرف جر . اسم مضاف . الله موصوف . الرحمن صفت اول . الرحيم صفت ثاني : موصوف سره د صفتينو مضاف إليه سو د مضاف . مضاف سره د مضاف إليه مجرور سو د جار . جارسره د مجرور ظرف مستقر سو چي متعلق په (أشرع) . يا (أصنف) فعل محذوف پوري دی . فعل سره له فاعل او له متعلق خپل لفظا جمله خبريه معنا انشائيه ده .

(۲) پوښتنه : د رحمت لغوي معني ده (رقة القلب بحيث يقتضي الفضل والإحسان) او الله تعالی له رقة القلب څخه مبري او منزه دی : نو رحمن او رحيم څنګه د الله تعالی صفتين واقع کيږئ ؟

---

[1] دا حديث شيخ حقي نازلي رحمه الله په (خزينة الأسرار) کي نقل کړی دی . وګوره : ۹۱ مخ او دا زياتونه يې ورسره کړي ده : (فإذا کتبتُم کِتَابًا فاکتُبُوها في أوّله) . ياني : چي کله تاسي يو خط (يا يو کتاب) ليکی او وګوره : (سعاية النحو) چي دا حديث بيله کوم ماخذه په دغومره تورو

جواب : د دې صفتينو مبدا رقة القلب دی : خو لكن منتهي او غايه د دې فضل او احسان دی. دلته غايه او مسببات مراد دي. چې د ذكر الأسباب ؤاو إرادة المسببات له قبيلې څخه دي چې دا يو قسم مجاز دی له مجاز مرسل څخه .

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

ټول صفتونه الله (ﷻ) لره ثابت دي چې پالونكى د ټولو نړيو دی

تشريح: مصنف تر تسميه پې وروسته د تحميد ذكر كړی دی چې په دې سره يې هم يو ځو كټې تر لاسه كړې : ۱-اقتداء بالقرآن . ۲- عملاً بالحديث . ۳- اتباع سلف الصالحين .

حمد : په لغت كې (ستوږن) ته وايي او اصطلاحا : (كُلّ حمد مِن الأزل إلى الأبد مِن أي حامد من الخلائق أو من مخلوقه مختصّ لله تعالى) .

او په حمد كې تعميمات ثلاثه او تخصيص واحده دی :

۱ - تعميم الحمد . دا معلوميږی له الف لام څخه چې د جنس لپاره دی، يا د استغراق لپاره دی .

۲ - تعميم الزمان . (أي مِن الأزل إلى الأبد) : دا د جملې اسمي يې څخه معلوميږي چې معدوله ده له جملې فعلي يې څخه .

۳ - تعميم الحامد . دا د عدم ذكر له حامد او د فاعل له حامد څخه معلوميږي .

٤ - تخصيص الحمد . دا معلوميږي له لام جاره څخه چې په لفظ د الله كې لام جاره اختصاصيه دی چې كرځوي يو شی مختص په خپل مدخول پوري .

د الله (ﷻ) د نامه لغوي او اصطلاحي تعريف : په لغوي تعريف كې علماوو د دې لفظ (الله) ﷻ په هكله درې اقوال ويلي دي: ۱- ځيني وايي : چې دا سرياني لفظ دی او هغوی دا وجه بيانوي : چې دا لفظ په اصل كې (لاها) وو. بيا الف له آخر څخه وغورځول سو او په اول كې يې الف او لام داخل سو او معرب جوړ سو .

۲- ځينو ويلي دي : چې دا لفظ عربي دی چې دا د الله تعالی په ذات پوري مختص دی. له كوم ماخذ څخه مشتق نه دی او نه پر يو اصل متفرع دی .

د مشهور نحوي امام سيبويه، امام خليل او امام اعظم ابو حنيفه رحمهم الله عليهم هم دغه مذهب دی او زما فيضون هم خپله دا رايه ده چې دا لفظ د الله غير مشتق، اسم جامد او د الله تعالى د ذات نوم دی .

۳- او دریم قول دا دئ : چي د نحویانو دی - دا لفظ مشتق دی او د دې ماخذ (إله) دی چي له (ألوهة إله ألوهية) څخه مشتق دی چي په معنا د (عبد) راځي او له دې (تأله)، یا (إستأله) هم جوړېږي، پر همدغه صورت (إله) پر وزن د (فعال) چي په معنا د (مفعول) سره راځي، يعني : (مألوهٌ) چي معبود دی ؛ نو همزه پکي وغورځول سوه او په عوض کي يې الف او لام داخل سو.

او د (الله) ﷻ اصطلاحي تعريف لکه څرنګه چي علامه سعد الدين تفتازاني رحمه الله علیه ويلي : (هو اسمٌ للذات الواجب الوجود المستحقّ لجميع المحامد)، يعني : دا (الله) نوم د هغه ذات دی چي واجب دی وجود يې، کوم چي حقدار دی د ټولو ثناوو.

يادونه : د (الله) ﷻ د نامه د زيات تفصيل لپاره (فتح الله بخصائص اسم الله) ته مراجعه وکړئ ! چي د (الله) ﷻ د نامه په هکله په دوو جلدونو (ټوکونو) کي د مولانا محمد موسی بازي روحاني صاحب رحمه الله علیه مستقل تصنيف دی او که يې بنه غورچاڼ او هراړخيز بيان مطالعه کول غواړئ ! نو زما جامع او روحاني کتاب (فردوس القلوب في وصف الله علّام الغيوب) ته مراجعه وکړئ ! په هغه کي به ستاسو د زړونو پوره تسکين او ډاډ حاصل سي ؛ بإذن الله تَعَالَى.

د (رَبّ) **تعريف** : (رب) مرفوع، منصوب او مجرور درې سره لوستل صحيح دي، که مرفوع سي ؛ نو خبر د مبتدا محذوف دی (أي هو رَبّ العالَمين).

او که منصوب سي ؛ نو درې احتماله دي : ۱- بناء برحال . ۲- منصوب على المدح . ۳- منادي بحذف حرف النداء .

او که مجرور سي ؛ نو بيا درې احتماله لري : ۱- بناء بر صفت . ۲- بدل الكل . ۳- عطف بيان .

او رب مدبر، مالک، متصرف، مربي ؛ دا ټوله الفاظ مترادفه دي چي معنا د دوی يوه ده، يعني : پالونکی.

زنځيري ترکيب : (الحمد) مبتدا لام جاره، الله موصوف، رب مضاف، العالمين مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه صفت د موصوف، موصوف سره له صفت خبر د مبتداء، مبتدا سره خبره جمله اسميه خبريه لفظا، جمله اسميه انشائيه معنا . (العالَمين) عالمين جمع د عالم ده چي په فتحه د لام سره (عالَم) جهان او نړۍ ته وايي او په کسره د لام سره (عالِم) پوهه ته وايي .

او عالم صيغه د اسم آله ده په معنی د (ما يعلم به الشيء) ته وايي، لکه (خاتم ما يختم به) او اطلاق د عالم په (جميع ما سوى الله) باندي کيږي .

(۳) پوښتنه : هر کله چي اطلاق په (كُلّ ما سوى الله) باندي د مفرد کيږي ؛ نو جمع يې ولې ذکر کړه سره له دې چي جمع فرع د مفرد ده چي ذکر د اصل متعذر نه دی ؛ نو ولې فرعه ذکر سوه ؟

جواب : جمع يې ذکر کړي ده په اعتبار د کثرت د انواعو سره، لکه : عالم انس، عالم جن، عالم ملائکه او بيا صيغه د جمع د ذوي العقول ذکر کړه له وجې د شرافت د دوی پر غير ذوي العقول اه !.

يادونه : د عالم او عالمين د زيات تفصيل لپاره زما بل نړيوال کتاب (نړيوالي ځېړنې) ته مراجعه وکړه ! والله الموفق.

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ

غوره عاقبت (انجام) د متقيانو لپاره دی

زنځيري ترکيب : واو اعتراضيه، العاقبة مبتدأ، لام جار، متقين مجرور، جار سره له مجروره ظرف مستقر چې متعلق په ثابتة پورې دی، ثابتة فاعل ضمير پکې مستتر دی چې تعبير ځنې کيږي په هي سره او هغه راجع دی العاقبة ته، چې صفت سره له فاعل خپل او متعلق به شبه جمله خبر د مبتداء، مبتدا سره د خبر جمله اسميه خبريه سوه .

او په العاقبة چې کوم الف لام داخل دی : دا عوض د مضاف إليه دی او اصل عبارت داسې دی : (خير العاقبة)، يا (أحسن العاقبة)، بيا مضاف حذف سو او عوض له هغه څخه الف لام راوړل سو . ولې که الف لام عوض نه سي د مضاف إليه : نو عاقبت انجام خير او شر دواړو لره شامليږي، حال دا چې د متقينو لپاره د شر انجام نه دی، بلکې د خير انجام دی .

توجيه : العاقبة موصوف دی : د دې لپاره صفت محذوف دی چې هغه (المحمودة) دی او اصل عبارت داسې دی : (العاقبة المحمودة للمتقين) . عاقبة صيغه د مصدر ده په وزن د فاعلة لکه کاذبة چې مصدر دی په وزن د فاعلة . او متقين جمع د متقي ده معنې د دې : ١- الذي يتقي الشرك وكسب الكبائر . ٢- إذا قال قال لله، وإذا سكت سكت الله . ٣- الذي لايرى نفسه خيرا من أحد .

په دې عبارت سره مصنف طلباوو ته ترغيب او تنبيه د صحيح عمل ورکوي، لکه فرمايي : (لوكان لتعلم شرف بدون التقوى ؛ لكان الشيطان أعلى منزلة) .

وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ رَسُوْلِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

او رحمتونه او سلامتيا دې وي پر استازي د الله (ﷻ) چې نوم د هغه محمد (ﷺ) دی او په آل د ده او اصحابو ټولو د ده

زنځيري ترکيب : واو عاطفه، الصلاة مبتدا، على جار و رسول مضاف، ضمير مضاف إليه، مضاف بامضاف إليه معطوف عليه، محمد عطف بيان، يا مبدل منه، بدل سره د مبدل منه معطوف عليه . واو حرف عاطفه آل مضاف، ضمير مضاف إليه راجع إلى محمد، مضاف بامضاف إليه معطوف عليه، واو حرف عاطفه، أصحابه مضاف مضاف إليه معطوف، معطوف سره له معطوف عليه مؤکد، أجمعين تاکيد، مؤکد سره د تاکيد معطوف عليه سو ؛ لپاره د معطوف چې رسوله دی، معطوف عليه سره د معطوف مجرور سو د جار، جار سره د مجرور ظرف مستقر متعلق په نازلة، نازلة شبه جمله خبر د مبتدا چې الصلاة دی، مبتدا سره د خبر جمله اسميه خبريه معنًا، جمله اسميه انشائيه معطوفة .

تشريح : مصنف تر حمد د باري تعالى وروسته ذکر د صلاة او سلام وکړ له درو وجوهو څخه : ۱- اول دا چي د قرآن کريم دحکم تعـ
وسي : ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾ [الاحزاب ۵۶].

۲- دويمه وجه دا ده : چي الله تعالى محسن او منعم حقيقي دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم محسن مجازي دی او د الله ﷻ د احکام
رسولو رسول يوه ذريعه ده : نو هر کله چي مصنف د محسن حقيقي ثناء او تعريف وکړ ; نو مناسب يې وګڼله چي د محسن مجازي حق هم
کړي : له دې وجي صلاة على النبي ذکر سو .

۳- او دريمه وجه دا ده : چي مصنف په ذکر د صلاة او سلام سره اشاره وکړه دې خبري ته چي دا تصنيف د مسلمانانو د تاليف نه دی
څکه د مسلمانانو او کافرانو تر مينځ يو فرق په صلاة او سلام سره هم دی په خلاف د حمد چي حمد : خو کفار هم وايي .

د (صلاة) **لغوي او اصطلاحي تعريف** : لغوي تعريف څلور ډوله دی، لکه : ۱- دعاء . ۲- رحمت . ۳- استغفار . ۴- تسبيح . او اصطلا
صلاة عبارت دی د ارکان مخصوص په اوقات مخصوصه کي : نو دلته د دې جملي معنا ده (إضافة الخير من الرب المعبود نازلة عل
رسوله المحمود) .

(قوله رسوله) . رسول لغة معنا رالېږل سوی او اصطلاحا (هو إنسان بعثه الله تعالى إلى الخلق لتبليغ الأحكام ومعه كتابٌ) .
او يوه سه : نبي عام دی چي کتاب ورسره وي او که نه وي اورسول خاص دی .

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم نوم محمد نبکه، يا يې والده ايښی وو چي په مکه شريفه کي په (محمد) سره مسمى وو او په آسمان کي پ
(أحمد) سره .

او لفظ محمد مرفوعا . منصوبا او مجرورا درې سره احتمالات يې صحيح دي او که مرفوع سي : نو خبر به سي د مبتدأ محذوف (أي هو
محمّد) او که منصوب سي : نو بنابر حال به وي او که مجرور سي : نو دوه احتماله دي يا به بدل وي، يا به عطف بيان . مګر عطف بيان به له
بدل څخه اولى وي .

او وجه داده چي مبدل منه په کلام کي مقصود نه وي، بلکي بدل وي او دلته دواړه د رسول مبدل منه دي چي دا زيادت دی په صفت کي
له بدل څخه چي محمد دی او په عطف بيان کي دواړه مقصود وي دا څکه چي اولى دی .

(قوله وآله) : إن اسم جمع، ده د سيبويه او د بصرينو په نزد باندي چي دا په اصل کي اهل وو . له دې څخه خلاف القانون ها حذف سوه او
(ال) سو . دليل د دوی تصغير د دې (اهيل) راځي او قانون دا دی : (التصغير والتكسير يُرد الشيء إلى أصله) .

فايده (د آل او اهل تر مينځ فرق) : او هغه درې فرقونه دي :
(۱) فرق : د آل استعمال او اضافت ذوي العقول ته کيږي : له دې وجي لفظ د الله . حق . زمان . مکان . حروف او معاني دوی ته يې اضافت نه
سي کېدای : نو آل الله . آل حق . آل زمان . آل مکان او داسي نور نه سو ويلای په خلاف د اهل اه ! .
(۲) فرق : د ال اضافت ذوي العقول مذکر ته کېدای سي او مؤنث ته نه سي کېدلای لکه : آل فاطمه نه سي ويلای په خلاف د اهل .

(۳) فرق : د آل استعمال په اشراف کي کېدای سي مطلقا شرافت دنيوي وي اوکه اخروي وي، لکه : آل نبي، يا آل فرعون ويلای سو : ځکه چي فرعون ته شرافت دنيوي حاصل وو چي پاچاهي وه د دنيا په خلاف د اهل : ځکه چي د دې استعمال په اشراف او غير اشراف دواړو کي کېدای سي، لکه : اهل حجام اهل حائک او داسي نور .

(۴) فرق : د آل اضافت ضمير ته جايز دی په خلاف د اهل د ده چي اضافت يې ضمير ته جايز نه دی .

د (آل نبي) په مصداق کي اختلاف دی : بعضي علماء متبعين د نبي ﷺ مرادوي . بعضي علماء ازواج مطهرات او بنات نبي مرادوي . او بعضي علماء أهل بيت مرادوي .

(قوله وأصحابه) : اصحاب په اصل کي جمع د صحب ده. لکه أنهار جمع د نهر ده. يا أصحاب جمع د صاحب ده. لکه أطهار جمع د طاهر ده.

د صحابي تعريف : صحابي هغه کس ته ويل کيږي چي پيغمبر عليه السلام يې ليدلی وي او ايمان يې پرې راوړی وي : برابره خبره ده چي روايت د حديث يې ځني کړی وي اوکه نه او همدارنګه که دا صحبت قليل وي اوکه کثير او بيا سره له ايمانه وفات سوی وي .

(قوله أجمعين) : دا لفظ د أجمعين تاکيد معنوي دی لپاره د آل او أصحاب او دا تاکيد مصنف ذکر کړی لپاره د رد پر روافضو : ځکه هغوی پر بعضي اصحابو صلاة وايي او پر بعضو يې نه وايي له وجي د دښمنی د دوی له هغوی سره .

دوهم په دې سره مصنف رد کوي پر خوارجو چي دوی صلاة نه وايي پر آل د رسول الله ﷺ له وجي د معاندی او دښمنی له حضرت علي كرم الله وجهه سره .

(قوله محمد) : لفظ د محمد د اسم مفعول صيغه ده له باب تفعيل څخه او خاصه د دې باب تکثير هم راځي چي معنا دا سوه : هغه ذات چي د هغه فضايل محموده ډېر زيات دی .

أَمَّا بَعْدُ : فَهَذَا مُخْتَصَرٌ

وروسته تر دې (صلاة او سلام) دا يو مختصر (کوتاه) کتاب دی

زنځيري ترکيب : أما حرف شرط قائم مقام فعل شرط محذوف. اصل عبارت داسي دی : (مهما يكن شيء بعد البسملة والحمد والصلاة). بعد ظرف زمان (مقطوع عن الإضافة) مبني برضمه مفعول فيه دی. أما حرف شرط چي قائم مقام د فعل شرط دی، يا مفعول فيه د فعل شرط محذوف دی. فا جزائيه. هذا مبتدا. مختصر موصوف .

تشريح : اما کي د نحويانو اختلاف دی : سيبويه وايي : دا مستقله کليمه برأسها ده تغير تبديل نه کوي چي ابتدا ته نقل سوه او متحرکه سوه ام ماتري جوړ سو (بعده ميم در ميم ادغام کردند اما شد) . بعض نحات وايي : اصل د دې (ان) دی او ما زائده دی، مگر دا مذهب ضعيف

دی او راجع مذهب د سیبویه دی . او اما په کلام د عربو کي د دوه معانیو لپاره کارول کیږي. (۱) د تفصیل لپاره (ما أجمل مثال جاءني القوم أما زید ؛ فأکرمته، وأما عمرو ؛ فأهنته، وأما بشر ؛ فأعرضت عنه) .

(۲) او لپاره د استیناف دا به هله کارول کیږي چي په ماقبل کي اجمال نه وي. مثال لکه دا اما چي په سر د کتابونو کي ذکر سوی وي .

(قوله بعد) : بعد ظرف دی د ظروف زمانیه وو او (مقطوع الإضافه مبني علی الضمة) دی چي د دې تفصیل به په بحث د ظروف کي راځي ؛ إنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

(قوله فهذا) : هذا له اسماء اشارات څخه دی په دې سره اشاره کیږي مشار إلیه مفرد مذکر ته .

(۴) پوښتنه : (هذا) وضع سوی دی لپاره د مشار إلیه محسوس بالبصر چي دلته اشاره ده کتاب ته او هغه غیر محسوس دئ ؟

جواب : کله چي غیر محسوس ته درجه د محسوس ورکولیږي ؛ نو اشاره ورته کیږي. لکه : ﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ...﴾ [الأنعام ۱۰۲]

دویم جواب : بعضي شارحین وایي : دلته خطبه الحاقیه ده چي دا د کتاب تر لیکلو وروسته لیکل سوې ده ؛ نو په هذا سره مشار إلیه کتاب دی .

(قوله مختصر) : صیغه د اسم مفعول ده له باب افتعال څخه چي مصدر یې اختصار دی. معنا یې ده : (أداء المطالب الکثیرة بألفاظ قلیلة)، یعني : ډېر مطلبونه په لږو تورو ادا کول. یا (هو کلام قلیل المباني کثیر المعاني)، یعني : مختصر داسې خبري دي چي مباني یې لږ او معنا یې ډېره وي .

فایده (د ځینو متقدمینو په نیز د کتابو ډولونه) : د ځینو متقدمینو علماوو په نیز کتابونه په څلور ډوله دي :

۱- رساله : (قلیل الألفاظ قلیل المعاني)، یعني : چي توري یې لږ او معناوي یې ډېري وي .

۲- فتاوی : (کثیر الألفاظ کثیر المعاني)، یعني : چي توري یې ډېر وي او معناوي یې ډېر وي .

۳- مختصر : (قلیل الألفاظ کثیر المعاني)، یعني : چي توري یې لږ وي او معناوي یې ډېري وي .

۴- مطول : (کثیر الألفاظ قلیل المعاني)، یعني : چي توري یې ډېر وي او معناوي یې لږ وي .

یادونه (د کتاب مکمل ډولونه) : ما په خپل یو بل کتاب (دروس المفتي) په (الدّرس التّاسع والعِشرون) کي د کتاب ټوله لس ۱۰ ډولونه ذکر کړي دي چي هلته یې کتلای سئ ! ځکه هلته ما د کتاب مکمل ډولونه ذکر کړي دي .

نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ په مختصره توګه اشاره وکړه چي زما کتاب له حشو او تطویل څخه محفوظ دی. حشو عبارت دی له هغه زیادت څخه چي دا لفظ زائد به معین وي. مثال یې لکه : (في بئر لاحور) ؛ په دې کي دا لفظ د لا زائد معین راغلی دی په مینځ د مضاف او مضاف إلیه کي او تطویل عبارت دی له دې څخه چي لفظ زیات وي د معنا څخه او په دې زیادت کي څه فائده نه وي او دا لفظ زائد معین هم نه وي .

مثال يې لکه : (والفى قولها كذبا ومينا) ؛ په دې قول کې د لفظ د كذبا معنا هم درواغ دي او د لفظ د مينا معنا هم درواغ دي ؛ نو دا يو لفظ يکې زائد دی او دا زيادت بلا فائده دی او غير معين دی . او د تطويل معنا ده : اوږدول .

مَضْبُوطٌ فِي عِلْمِ النَّحوِ جَمَعْتُ فِيهِ مُهِمَّاتِ النَّحْوِ

چې ټينګ دی په علم نحو کې چې جمع کړي دي ما په دې کې مقاصد د (علم) نحو

زنځيري ترکيب : مضبوط صفت اول د مختصر، في جار، النحو مجرور، جار سره له مجروره ظرف مستقر متعلق په كائن پوري چې دا صفت ثاني دی، جمعت فعل د فاعل، فيه جار د مجرور ظرف لغوه متعلق په جمعت پوري، مهمات النحو مضاف مضاف إليه، مضاف با مضاف إليه مفعول به د جمعت .

تشريح : په دې عبارت سره چې شروع دی له هذا مختصرا څخه ...الخ د کتاب شان ذکر کوي چې دا ما يو عظيم الشان کتاب وليکی : يو خو يې الفاظ کم دي او بل مطالب او معاني يې ډېر دي او بيا مقاصد د علم يکې ما راجمع کړي دي او بل اشاره ده په عبارت کې چې کتاب په فن دعلم نحو کې دی .

(۵) پوښتنه : (في النحو) دا ظرف د ماسبق لپاره صحيح نه دی ؛ ځکه چې ظرف يا زماني وي، يا مکاني وي ؛ نو نحو نه زمان دی او نه مکان دی .

جواب : ظرف په دوه ډوله دی ظرف حقيقي چې هغه زماني وي، يامکاني، لکه : (سافرت شهرا في شهر)، يا (جلست في المسجد) .

دويم ظرف مجازي اعتباري دی ؛ په دې کې مدخول د في ظرف زماني او مکانی نه وي، بلکې مدخول د ده عام وي له ماقبل خاص څخه، لکه (زيد في العلم)، زيد خاص علم عام، يا بالعکس لکه : (العِلم في زيد) ؛ دلته مدخول د في چې زيد دی خاص دی له ماقبل عام سره چې العلم دی ؛ نو دلته ظرف مجازي اعتباري دی چې (في النحو) دی .

عَلَىٰ تَرْتِيبِ الكَافِيَةِ

په ترتيب د کافيه يې باندې

زنځيري ترکيب : على جار، ترتيب مضاف، الكافية مضاف إليه، مضاف با مضاف إليه مجرور د جار، جار او مجرور ظرف لغوه متعلق په جمعت پوري .

تشريح : مصنف نسبت د ترتيب د دې کتاب کافيه يې ته کړی ؛ د دې تقريبا اووه (۷) وجې دي :

۱- د کافيه ترتيب موافق طبيعت او ذوق مستقيم دی ؛ ځکه مصنف دا ترتيب غوره کړی .

۲- کافيه مشهوره ده په ختيځوالو او لويديځوالو کې ؛ نو مصنف وايي : چې زما کتاب هم دغه شان مشهور سي .

۳- چې دا کتاب عمده سي په قواعدو د نحو کې په شان د کافيه يې .

۴- چې تعظيم د مصنف د دې کتاب راسي په شان د کافيه يې .

۵- چې دا کتاب تمهید او تیاری جوړ سي د کافیه یې لپاره : نو مبتدي ته به وروسته د دې کتاب تر زده کړې د کافیه في النحو زده کول اسان سي .

۶- چې توجه د طالبانو دې کتاب ته پیدا سي. لکه څنګه چې کافیه ته یې توجه ده .

۷- چې اجابت د مسؤل راسي ؛ څکه د مصنف له دې کتاب څخه سوال سوی دی په جوړولو د کتاب په شان د کافیه یې په ترتیب کې .

(۶) پوښتنه : په (هداية النحو) کې ډېرې مسئلې داسې دي چې په ترتیب د کافیه یې نه دي، مثلا : (تحذیر) او (ما أضمر عامله) چې د منادی تر بحث مخکې ذکر دي او په کافیه یې کې بحث د منادی مقدم دی .

دویم : دا چې بعضې مسئلې کافیه یې کې موجودې دي، لکه تضمن د مبتدا معنا د شرط لره او مسئله د تضمن د خبر مفرد : دا رنګه حکم د اسم فاعل له اسماء اعداد څخه : نو دا څنګه په ترتیب د کافیه یې دئ ؟

جواب : مراد له دې ترتیب څخه هغه ترتیب دی، کوم چې په کتاب کې ذکر دی او ترتیب په مسائلو کلیه وو کې دی نه په مسائلو جزئیه وو کې .

مُبَوِّبًا وَمُفَصِّلًا !

په حال زما کې چې زه باب باب او فصل فصل کوونکی یمه (یا په حال کون د مختصر کې چې باب باب او فصل فصل سوی دی)

تشریح : دا دواړه صیغې د اسم فاعل دي، یا د اسم مفعول دي له باب تفعیل څخه چې له تبویبا مصدر څخه اسم مفعول دی بنا بر حالیت چې ذو الحال کې له یو بل څخه جدا دي او که صیغه د اسم فاعل سي : نو دا به حال سي د ضمیر له جمعت مرفوع متصل څخه چې فاعل د جمعې دي او معنا به دا سي په داسې حال کې چې زه باب باب او فصل فصل کوونکی یمه ! دې مختصر لره او که صیغه د اسم مفعول سي : نو حال به سي د ضمیر مجرور له فیه څخه چې راجع دي مختصر ته او معنا دا سوه چې په حال کون د دې مختصر کې چې باب باب او فصل فصل سوی دی .

بِعِبَارَةٍ وَاضِحَةٍ

په عبارت واضحه سره

زنځیري ترکیب : مبوبا صیغه د اسم فاعل معطوف علیه. واو حرف عاطفه. مفصلا صیغه د اسم فاعل معطوف. معطوف علیه بامعطوف حال د جمعت د ضمیر فاعل. باجاره موصوف واضحه صفت اول .

تشریح : دا قول بعبارة متعلق دی په جمعت پورې او واضحة د عبارة صفت دی او عبارت واضحه هغه عبارت ته ویل کیږي چې په خپله معنی دلالت کولو کې ظاهر وي او بغیر له څه صعوبت څخه په فهم کې په اسانی سره راځي .

او دا عبارت په اصل کې جواب د يو سوال دی چې مخکې مصنف ووېل : دا کتاب په ترتيب د کافيه يې دی : نو سائل سوال وکړ چې دا به د کافيه يې په شان مغلق او ګران وي : نو مصنف جواب په دې عبارت سره ورکړ چې مقاصد د نحوبه په عبارت واضحه سره بيانوي نه په عبارت مغلق سره په شان د کافيه يې اه ! .

مَعَ إِيْرَادِ الْأَمْثِلَةِ

سره د راوړلو د مثالونو

زنځيري ترکيب : مع مضاف، إيراد مصدر مضاف، الأمثلة مضاف إليه .

تشريح : دا ظرف متعلق دی په واضحة پورې، إيراد د باب افعال مصدر دی، أمثلة جمع د مثال ده، لکه ائمه جمع د امام ده او مثال دې ته وايي چې يو شی د قاعدې د وضاحت لپاره راوړل سي .

فِيْ جَمِيْعِ مَسَائِلِهَا

په ټولو مسائلو کې

زنځيري ترکيب : في جار، جميع مضاف، مسائل مضاف إليه، مضاف ضمير د مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه چې دا بيا مضاف إليه د مضاف سو د مع، مع سره له مضاف إليه مفعول فيه د جمعت سو .

تشريح : د مسائلها ضمير راجع دی مختصر ته چې هغه مذکر دی او ضمير د ها مؤنث دی چې مطابقت نسته بين الضمير ومرجعه .

حل : ضمير راجع دی مختصر ته، مګر مختصر منسوب دی کافيه يې ته او هغه مؤنث دی .

(۷) پوښتنه : په کافيه کې تاء د تانيث لپاره نه ده، بلکې د مبالغې لپاره ده : نو څرنګه ضمير د مؤنث ورته راجع کيږئ ؟

جواب : وضع د تا مدوره په اصل کې د تانيث لپاره ده او که استعمال د دې په مبالغه کې وسي : نو هم د تانيث شبه پکې سته، له دې وجې چې کومه تا چې د مبالغې لپاره وي : نو په دې کې شبه د تانيث وي چې د دې اطلاق په الله تعالى باندې نه کيږي : ځکه چې الله تعالى له تانيث او شبه تانيث دواړو څخه سپېڅلی دی .

دويم جواب : ضمير کافيه يې ته راجع دی او مختصرته نه دئ راجع، له دې وجې چې د مختصر مسائل بعينه د کافيه يې دي .

مِنْ غَيْرِ تَعَرُّضٍ لِلْأَدِلَّةِ وَالْعِلَلِ

بغير له مخکې کېدو څخه دلايلو او علتونو ته .

زنځيري ترکيب : من جار، غير مضاف، تعرض موصوف، لل، يعني دوه لامونه جار او مجرور، ادله معطوف عليه، واو حرف عاطفه، العلل معطوف، معطوف سره له معطوف عليه مجرور د جار سو او جار سره له مجرور ظرف مستقر چې متعلق په کائن پوري، کائن اسم فاعل سره د فاعل او متعلق شبه جمله صفت سو د تعرض د موصوف لپاره .

تشريح: تعرض وايي (إقدام على الشيء) ته وايي، يعني: پر يو شي وړاندي کېدل او (أدلة) جمع د دليل ده، لکه أجنة جمع د جنين ده او دليل په لغت کي لار ښودلو ته وايي چي د دې په وجه بل شي معلومېږي. علل جمع د علت ده او علت په لغت کي مؤثر ته وايي او اصطلاحاً هغه ته وايي چي په ده باندي د بل شي وجود موقوف وي.

(۸) پوښتنه: (أدلة) جمع قلت ده او دلته جمع کثرت پکار وه چي دلائل دي؟

جواب: کله کله جمع قلت د جمع کثرت په ځای کارول کيږي او کله بالعکس چي د دې بيان به په (جمع) کي راسي؛ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ.

(۹) پوښتنه: مصنف رحمه الله عليه د دې کتاب په بعضي مواضعو کي ادله بيان کړي دي او په هر ځای کي يې نه دئ بيان کړي؟

جواب: دلته مراد په نفي سره نفي د اغلب مراد ده او په عام طور سره بيان د ادله مصنف نه دئ کړی.

؛لِئَلَّا يُشَوِّشَ ذِهْنُ الْمُبْتَدِيْ عَنْ فَهْمِ الْمَسَائِلِ

؛د دې لپاره چي گډوډ نه کړي ذهن د مبتدي لره د پامېدلو له مسائلو څخه

زنځيري ترکيب: لام جاره، ان ناصبه مصدريه، لا نافيه، يشوش فعل هو ضمير مستتر فاعل فعل راجع دی تعرض، يا مختصر، يا ذهن المبتدي ته، مضاف يا مضاف إليه مفعول به د يشوش، عن فهم المسائل جار او مجرور چي ظرف لغو متعلق په يشوش فعل پوري، مفعول به فعل سره د فاعل او متعلق بتأويل المصدر مجرور سو د لام جاره، جار سره د مجرور متعلق په جمعت پوري، فعل سره د فاعل او د مفعول به او سره له متعلقاتو جمله فعليه خبريه صفت ثالث د مختصر.

تشريح: (يشوّش)؛ په دې صيغه کي دوه احتماله دي. ۱- مضارع معلوم. ۲- مضارع مجهول او که مضارع معلوم سي؛ نو ذهن المبتدي به مفعول سي او که مجهوله صيغه سي؛ نو ذهن المبتدي به نائب فاعل سي.

او (الذهن) چي دی: (قوّة موجودة في جنان الإنسان). او (المبتدي) چي دی په لغت کي شروع کوونکي ته وايي او په اصطلاح کي: (هو الّذي شرع في الجزء الأول مع قصد تحصيل باقي الأجزاء).

وَسَمَّيْتُهُ بِـهِدَايَةِ النَّحْوِ

او نوم مي ورته کېښودی په هداية النحو سره

زنځيري ترکيب: واو عاطفه، سميت فعل د فاعل، ه مفعول به اول، هداية مضاف، النحو مضاف إليه مفعول به ثاني.

تشريح: (سمي يسمي تسمية) په معنا د نوم ايښودلو او هداية (بمعنى اراءة الطّريق الموصل المطلوب) او (بمعنى الإيصال إلى المطلوب إضافة)، د هدايت نحو ته اضافت معنوي دی؛ دا د قبيلې د اضافت له مصدر څخه دی مفعول ته، لکه (قيام اللّيل).

(۱۰) پوښتنه: (سمي يسمى)؛ دا باب متعدي بنفسه دی چي دوه مفعوله غواړي؛ نو دلته (با) څنګه په مفعول ثاني داخله سوې ده؟

جواب: دا باء زائده ده.

(۱۱) پوښتنه: دباء زائده لپاره قانون دی چې لاندې له نفي او استفهام وغيره څخه به نه وي؟

جواب: دا باء زائده ده خلاف القانون.

رَجَاءَ أَنْ يَّهْدِيَ اللهُ تَعَالَى بِهِ الطَّالِبِيْنَ

لپاره د طمعې چې الله تعالى هدايت وکړي په دې سره طالبانو (د علم نحو) ته

زنځيري ترکيب: رجاء مضاف، أن مصدريه، يهدي فعل، الله ذو الحال، تعالى بتقدير، قد جمله فعليه خبريه، بتقدير قد حال سو د ذو الحال، ذو الحال سره له حال فاعل سو لپاره د فعل، با جاره، ه ضمير مجرور، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په يهدي به الطالبين پورې، مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او متعلق جمله فعليه خبريه بتأويل المصدر سره مضاف إليه د رجاء، مضاف سره له مضاف إليه مفعول له د سميت، فعل سره له فاعل او سره له مفعولينو او مفعول له جمله فعليه خبريه صفت رابع د مختصر په ذريعه د عطف سو.

تشريح: مصنف وجه د تسميه يې بيان کړه چې زما له الله تعالى څخه اميد دی چې زما د دې کتاب په سبب طلباء ته هدايت وركړي، يعني: د نحو په قاعدو او قوانينو به پوه کړي.

او دا روښانه خبره ده چې کوم انسان له الله تعالى څخه ښکله اميد وکړي او ښکله ګومان ورباندې وکړي؛ نو الله تعالى هغسې ورسره کوي.

وَرَتَّبْتُهُ عَلَىٰ مُقَدِّمَةٍ وَّثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ وَخَاتِمَةٍ بِتَوْفِيْقِ الْمَلِكِ الْعَزِيْزِ الْعَلَّامِ

او مرتب کړی مې دی په يوه مقدمه او په اقسام ثلاثه وباندې چې د الله تعالى په توفيق باندې چې پاچاه غالب او ډېر پوه دی

زنځيري ترکيب: واو عاطفه، رتبت فعل د فاعل، ه مفعول به، على جار، مقدمة معطوف عليه، واو حرف عاطفه، ثلاثة أقسام مضاف مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه معطوف د معطوف عليه، معطوف سره له معطوف عليه مجرور د جار چې على دی، جار سره له مجرور ظرف لغوه متعلق په رتبت پورې، با جار، توفيق مضاف، الملك موصوف، العزيز صفت اول، العلام صفت ثاني موصوف باصفتين مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجرور متعلق په رتبت يا جمعت پورې؛ دا مجموعه جمله فعليه خبريه صفت خامس د مختصر سو. موصوف سره له صفات خمسه خبر سو د هذا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه جزاء د شرط، شرط سره له جزاء جمله شرطيه.

تشريح: مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت کښې سره اجزاء بيانوي او اجزاء د کتاب پينځه دي:

۱- مقدمه. ۲- اسم. ۳- فعل. ۴- حرف. ۵- خاتمه.

يادونه: مصنف خاتمه ذکر کړې ده مګر په صحيح نسخو کې خاتمه نشته، بلکې دا سهوه د قلم د ناسخ ده.

قوله (ترتيب): ترتيب په لغت کې (وضع كُلّ شيء في مرتبته) ته وايي.

او په اصطلاح کې (جعل الأشياء المتعددة، بحيث يطلق عليها الاسم الواحد).

او مصنف د الهاميه وايي: ترتيب په لغت کې ساختن شی

او په اصطلاح کې (جعل كل شيء في مرتبته) ته وايي.

(ثلاثة أقسام) قسم اول بحث د اسم دی. قسم ثاني بحث د فعل دی. قسم ثالث بحث د حرف دی.

او دواړي مساوي سره ورته دي چي ډېر فرق یې سره نشته او!.

د كتاب اجمالي خلاصه: مصنف لومړی مقدمه ذکر کړې ده چي مراد دلته له مقدمه څخه مقدمه د علم ده او په دې مقدمه کي فصول ثلاثه ذکر کوي: فصل اول کي په تعريف د علم نحو کي. فصل ثاني: موضوع د علم نحو. فصل ثالث: غرض د علم نحو.

په اول فصل کي امور ثلاثه دي. په دويم فصل کي تعريف د جز د موضوع د علم نحو دی چي کليمه ده او د هغې اقسام ثلاثه چي اسم فعل حرف دي او بيا د هر يو تعريف په اعتبار د وجود ذهني سره. لكه: (الاسم ما دلّ على معنى في نفسه) الخ. او په اعتبار د وجود خارجي سره چي (وعلامات الاسم) الخ. دارنګه تعريف د فعل او حرف کوي او فايده د حرف ذکر کوي په کلام د عرب کي په دې قول خپل سره (وللحرف في كلام العرب فوائد). په دريم فصل کي تعريف او تقسيم د دويم جز د موضوع د علم نحو تعريف دی (الكلام ما تضمن الكلمتين الخ) او تقسيم د کلام په دې قول خپل سره ذکر کوي: (فعلم أنّ الكلام لا يحصل إلا من اسمين) الخ. دا مقدمه چي ذکر سي: نو بيا شروع کوي په تقسيم د اقسام ثلاثو کي په دې قول کي اول بحث د اسم کوي او دا وېشي په دوو بابونو کي: ۱- باب معرب. ۲- باب مبني. په باب معرب کي اول مقدمه او بيا مقاصد ثلاثه ذکر کوي: (المقصد الأول في المرفوعات، والمقصد الثاني في المنصوبات، والمقصد الثالث في المجرورات). په مقدمه کي څلور فصول ذکر کوي اول فصل په بيان د تعريف د اسم معرب کي، دويم فصل حکم د اسم معرب او تعريف د اعراب او تعريف د عامل، دريم فصل په بيان د اصنافو د اعراب او په بيان د حکم د ده کي او څلورم فصل په باره د بيان د اقسامو داسم معرب کي قسمينو ته چي منصرف او غير منصرف دی او د دوی په حکم کې په دې کي تفصيل د غير منصرف کوي چي نهه اسباب د منع صرف ذکر کوي او منصرف څني معلوميږي: ځکه (وبضدّها تتبين الأشياء). له دې څخه چي فارغ سي. بيا بيان د مقاصد ثلاثه کوي: مقصد اول اته مرفوعات ذکر کوي (فاعل مبتدأ) الخ. اجمالا وتفصيلا. بيا دوولس منصوبات په مقصد ثاني سره ذکر کوي: دا خلاصه د باب معرب سوه داچي ختم سي: نو باب د مبني شروع سي.

اولا په تعريف د اسم مبني ذکر کړي: (وهو اسم وقع غير مركب مع غيره) الخ سره او حکم د مبني چي ذکر کړي تر هغې وروسته په تفصيل د اته اقسامو د اسم مبني ذکر کړي. بيا يوه خاتمه مشترکه د معرب او مبني ذکر کوي او په هغې کي مختلف فصول راوړي: فصل اول په بيان د معرفه او نکره کي. دويم فصل په بيان د اسماء العدد کي. دريم فصل په بيان د اسم مذکر او اسم مؤنث کي. څلورم فصل په بيان د مثنى او پينځم فصل په بيان د الجموع کې. شپږم فصل په بيان د مصدر کي، اووم فصل په بيان د اسم فاعل، اتم فصل په بيان د اسم مفعول کي. نهم فصل په بيان د صفت مشبه کي او لسم فصل په بيان د اسم تفضيل کي. تر دې ځای پوري بيان د اسم وسو.

داچي ختم سي: نو بيا به بحث د فعل شروع سي او وايي دارنګه: (القسم الثاني في الفعل): په دې کي اقسام د فعل ذکر کوي تفصيلا. د ماضي تعريف. د مضارع تعريف. د امر حاضر تعريف او د فعل علامات ذکر کوي. بيا فصول ذکر کوي: په اول فصل کي بيان د اصنافو د اعراب الفعل کوي او هغه څلور قسم ذکر کوي، دويم فصل کي عوامل د مضارع ذکر کوي: دا په درې فصلونو کي. بيا به مکمل د امر ذکر

وکړي. بيا به د مفعول مالم يسم فاعله بحث راواخلي . په بحث د فعل کي لازمي متعدي، افعال ناقصه، افعال قلوب، افعال مدح وذم، افعال تعجب : دا ټول به ذکر کړي، له دې ځخه چي فارغ سي : نو بحث د حرف به راواخلي . القسم الثالث الحرف : په دې کي دوه قسمه حروف ذکر کوي عامله او غير عامله . اختتام به په تنوين سره وکړي او په دې باندي به کتاب ختم سي .

أَمَّا الْمُقَدِّمَةُ

هر چي مقدمه ده

په لفظ د مقدمه کي يو څو مباحث دي : ۱- صيغوي تحقيق : په دې کي دوه احتماله دي، يا د اسم فاعل صيغه ده، معنا دا سوه مخکي کوونکي .

اعتراض : يو اعتراض دا وارديږي : چي مقدمه صيغه د اسم فاعل غلطه ده : ځکه چي مقدمه په خپله مخکي سوې ده. نه داچي مخکي کوونکي ده ؟

نو مونږ جواب دا ورکوو : چي دا باب تفعيل په معنا د تفعل سره دی، مقدمة په معنا د متقدمة متعدي بمعنی لازمي او باب تفعيل بمعنی تفعل راغلی دی. لکه په قرآن کريم : ﴿وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا﴾ (المزمل ۸) د باب تفعل لپاره يې مفعول مطلق د باب تفعيل نه راوړی دی : له دې ځخه دا معلومه سوه چي يو د بل په ځای کارول کيږي .

دويم جواب : صيغه د اسم فاعل صحيح ده مقدمه خپله عالم مخکي کوي په جاهل باندي چي علم د هغه په مقدمه نه وي . او دويم احتمال : صيغه د اسم مفعول ده په معنا د مخکي سوې او دا هم تر مقصود مخکي وي .

۲- ماخذي تحقيق : لفظ مقدمه ماخوذ ده له (مقدمة الجيش) ځخه چي مناسبت يې ورسره سته : نو په مقدمه کي هم داسي مسائل ذکر کوي چي راتلونکي مضامين پري اسانيږي .

تحقيق د اقسام د مقدمې : مقدمه په دوه قسمه ده ۱- مقدمة العلم . ۲- او مقدمة الکتاب. مقدمه د علم هغه معاني مخصوصه دي چي په هغې باندي د علم د مسائلو شروع موقوف وي، لکه تعريف، موضوع، غرض او (مقدمة الکتاب) دې ته وايي چي دا هغه برخه د کلام ده چي د کتاب تر مسائلو مخکي راوړل سي، برابره خبره ده چي مسائل پري موقوف وي او که نه وي اه ! .

اَلْمُقَدِّمَاتُ فِي الْمَبَادِئِ الَّتِي يَجِبُ تَقْدِيمُهَا ؛ لِتَوَقُّفِ الْمَسَائِلِ عَلَيْهَا . وَفِيهَا فُصُولٌ ثَلَاثَةٌ

مقدمې په مباديو کي هغه دي کومي چي واجب دي مخکي کول يې : لپاره د توقف د مسئلو پر هغو او په دې کي درې فصلونه دي

زنځيري ترکيب : أما حرف تفصيل. مقدمه مبتدأ متضمن ده معنا د شرط لره. فا جزائيه. في حرف جر. المبادئ موصوف. التي اسم موصول. يجب فعل. تقديم مصدر متعدي مضاف. ها ضمير راجع دی مبادئ ته مجرور محلا مضاف إليه. لام حرف جر. توقف مصدر لازمي مضاف. المسائل مجرور لفظا مضاف إليه او مرفوع معنا فاعل. علي جار. ها ضمير راجع مبادئ ته. جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق به توقف مصدر پوري. مصدر مضاف سره د مضاف إليه فاعل سره د لام جاره. جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق سو په يجب فعل

پوري، فعل سره له فاعل او سره له متعلق صله سوه د موصول، موصول سره له صله صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مجرور د جار
جار سره له مجرور ه ظرف مستقر متعلق په ثابتة پوري .

دا مجموعه خبر قائم مقام له جزا مبتدا سره د خبر جمله اسميه خبريه سوه، واو عاطفه، فيها جار او مجرور چي ظرف مستقر متعلق په ثا
پوري سو چي خبر مقدم دى، فصول موصوف، ثلاثة صفت، موصوف سره له صفته مبتدأ مؤخر، مبتدأ سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

(۱۲) پوښتنه : مبادي او مقدمه يو شى دي او في د ظرف لپاره ده : نو دلته ظرفيت د شي لازم سو د خپل نفس لپاره او دا باطل دى ؟

جواب : له مبادي څخه مراد الفاظ مخصوصه دي او له مقدمه څخه مراد معاني مخصوصه دي : نو معنى دا ډول سوه : (أمّا المعا
المخصوصة ففي الألفاظ المخصوصة ؛ فلا يلزم ظرفية الشيء لنفسه) .

دويم جواب : يا مراد له مقدمه څخه الفاظ دي او دا مبادي دي نه معاني او كليمه د في په معنا د لام سره ده : نو تقدير د عبارت دا ډول سو
(وأمّا الألفاظ والمعاني ؛ فلا يلزم ظرفية الشيء لنفسه) .

او دلته (مقدّمة الكِتاب) مراد ده، نه تعريف د علم نحو، موضوع د علم نحو او غرض د علم نحو او دا موقوف عليه دي : ځكه كه تعريف
معلوم نه سي : نو طلب د مجهول به لازم سي او كه موضوع معلومه نه سي : نو امتياز به را نه سي د علم ماشرع او د غير ماشرع كي او كه غرض
معلوم نه سي : نو سعي يې به عبث سي او دا صحيح نه ده .

تشريح : قَوْلُهُ (وَفِيْهَا فُصُولٌ ثَلَاثَةٌ) : فصول جمع د فصل ده، ثلاثه د فصول صفت واقع دى . په مقدمه كي فصول ثلاثه دي، فصل اول
(في تعريف علم النحو وموضوعه وغرضه) . دويم فصل : په تعريف كي كليمې او د هغې د اقسامو دى، لكه : اسم، فعل، حرف او دريم
يوه علامې په دريم فصل كي په كلام د تعريف او په اقسامو د بيان كي دي .

الفَصْلُ الأَوَّلُ : فِيْ تَعْرِيفِ عِلْمِ النَّحْوِ

فصل اول په بيان كي د تعريف د علم نحو دى

تشريح : فصل په لغت كي معنى جلا كول او په اصطلاح كي (هو الحاجز بين الحُكمين) . په فصل كي دوه احتماله دي : ۱- معرب. ۲-
مبني . د مبني احتمال به هله وي چي مفرد سي : نو مبني على السكون به وي او كه معرب سي : نو معرب به سي . فصل مبتدا او خبر د ده
حذف چي (هذا) دى، يا بالعكس (هذا فصلٌ)، يا منصوب به وي په (أعني) مقدره سره (أعني مفصّلا) .

النَّحْوُ : عِلْمٌ بِأُصُولٍ تُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ، وَكَيفِيةُ
تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ

ترکيب ترکيب: النحو مبتدا علم مصدر، با جاره، اصول موصوف، يعرف فعل مجهول، با جاره، ها مجرور، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په يعرف، أحوال مضاف، أواخر مضاف إليه، الكَلِم موصوف، الثلاث صفت، موصوف يا صفت مضاف إليه سو د أواخر، مضاف سره له مضاف إليه مضاف إليه د احوال سو، مضاف سره له مضاف إليه معطوف عليه سو، مِن حرف جر، حيث مضاف، الاعراب معطوف عليه، واو حرف عاطفه، البناء معطوف عليه، معطوف عليه سره له معطوفه مضاف إليه د حيث سو، مضاف سره له مضاف إليه مفعول به د مصدر سو چي ترکيب دی.

مع مضاف، بعض مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مفعول فيه د ترکيب سو، مضاف سره له مضاف إليه او مفعول به او فيه ؛ دا مضاف إليه سو لپاره د ترکيب، مضاف سره له مضاف إليه معطوف د احوال سو، معطوف عليه سره له معطوفه نائب فاعل د يعرف سو، فعل سره له نائب فاعل او سره له متعلقه صفت سو د موصوف چي اصول دی، موصوف باصفت مجرور د جار سو، جار سره له مجروره ظرف لغوه په علم مصدر پوري دی، مصدر سره له متعلق خپله خبر د مبتدا سو، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

يادونه: د نحو لغوي او اصطلاحي معنا او د نحو مکمل ډولونه ټوله د سريزي په سرسري خبرو کي تېر سوي دي چي اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته.

فايده (د علم نحو تعريف): تعريف د علم جامع مانع دی په دې کي لابدي ده د جنس او فصل ؛ نو علم پکي جنس دی تمامو علومو لره چي شامل دي په تعريف کي څلور فصول : فصل اول : (يُعرف بها أحوال) ؛ په دې سره هغه علوم خارج سول چي په هغې سره ذات د کليمې معلوميږي، لکه : علم د صرفو . فصل ثاني : (أواخر الكلِم الثلاث) ؛ په دې سره هغه علم خارج سو له تعريف څخه چي په هغې سره د اول او د اوسط حالات معلوميږي . دريم فصل : (مِن حيث الإعراب والبناء) ؛ په دې سره خارج سو علم د عروضو او په دې سره احوال معلوميږي، مګر (لا مِن حيث الإعراب والبناء) . څلورم فصل (وكيفية تركيب إلخ) ؛ په دې سره هغه علوم خارج سول چي په هغې سره د مفرداتو کيفيات معلوميږي، لکه : علم الهيئت او داسي نور.

(۱۳) پوښتنه: په تعريف د علم نحو کي لفظ د علم راوړل صحيح نه دي ؛ ځکه چي علم په لغت کي ويل کيږي پوهي ته او په اصطلاح کي (حُصُول صورة الشّيء في العقل) ته وايي او دانه وي مګر وجود ذهني وي او علم نحو : خو قواعد مکتوبه ملفوظه دي ؟

جواب: د علم اطلاق په دريو معانيو باندي کيږي : ۱- حصول د صورت د يو شي په عقل کي . ۲- قواعد مکتوبه ملفوظه . ۳- قواعد مکتوبه منقوله ؛ نو دلته آخري دوې معناوي مراد دي.

(۱۴) پوښتنه: ډېر مبتديان طالبان علم نحو زده کړي مګر آخر د کلمات ثلاثه وو د اعراب له حيثيته نه پېژني ؟

جواب: دلته عبارت په حذف سره دی چي هغه تر ها مخکي مضاف حذف دی، (أي باستحضارها) او دا خبره ظاهره ده چي په وخت د استحضار د قواعد نحويه وو کي آخر د کلمات ثلاثه وو (مِن حيث الإعراب والبناء) معلوميږي.

(۱۵) پوښتنه : په تعریف د علم نحو کې لفظ د (أحوال) ذکر دې او دا صیغه د جمعې ده ؛ نو دلته ټول احوال مراد دي او که بعضې. که ټول احوال مراد سي ؛ نو پکار ده چې یو نحوي دې هم نحوي نه سي ؛ ځکه ټول احوال د علم نحو چا ته معلوم دئ ؟

او که له احوالو څخه بعضې احوال مراد سي ؛ نو پکار ده چې په یو څو احوالو معلومولو سره دې سړی نحوي سي او بیا خو به دې مناهر یو سړی نحوي جوړېدای سي. حاصل دا سو چې په اول صورت کې نحوي غیر نحوي سو او په دویم صورت کې غیر نحوي نحوي سو او دا خبره باطله ده ؟

جواب : مراد له احوال څخه ټول احوال دي، مګر له معرفت څخه مراد (ملكة الاستعداد) ده، یعنې نحوي ته یوه ملکه حاصله سي چې د دې په ذریعه سره د ټولو احوالو او قواعدو په معلومولو قادر وي .

والغَرَضُ مِنْهُ : صِيَانَةُ اللِّسَانِ عَنِ الخَطَأِ اللَّفظِيِّ فِي كَلَامِ العَرَبِ

او غرض له دې نحو څخه : ساتل د ژبې دي له غلطې څخه د لفظ په خبرو کې د عربو

زنځیري ترکیب : واو حرف عاطفه، یا استنافیه، الغرض موصوف منه جار مجرور ظرف مستقر متعلق په الکائن پوري، الکائن صفت سو د موصوف. موصوف باصفت مبتدا، صیانة مصدر مضاف، الذهن مضاف إلیه مفعول به، عن حرف جر. الخطاء موصوف لفظي صفت اول. في حرف جر. کلام مضاف. العرب مضاف إلیه. مضاف سره له مضاف إلیه مجرور د جار سو. جار سره له مجروره ظرف مستقر متعلق په کائن پوري دی چې دا کیږي صفت ثاني د موصوف، موصوف سره له صفتینو مجرور د جار سو، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په صیانة پوري دی. صیانة مضاف، مضاف سره له مضاف إلیه چې مفعول به دی او سره له متلعقه خبر د مبتدا سو. مبتدا سره له خبره جمله اسمیه خبریه سوه.

تشریح : مصنف دلته د نحوي غرض بیانوي، غرض په لغت کې نښې ته وایي او په اصطلاح کې (ما یکون باعثا للفعل) او له خطاء سره یې قید د لفظي ولګوی : د دې لپاره چې خارج سي په دې قید سره علم الصرف، علم معاني، علم بیان او علم منطق : ځکه غرض د علم صرف له صیغیزه غلطیو څخه ځان ساتل دي او غرض د علم معاني او علم بیان له معنوي غلطیو ځان ساتل دي او غرض د علم منطق له فکري غلطیو څخه ځان ساتل دي .

او غرض د علم نحو له لفظي غلطیو څخه ځان ساتل دي .

(۱۶) پوښتنه : لفظي غلطي ؛ خو له ژبې څخه کیږي نه له ذهن څخه ؛ نو دلته څنګه وایي : (صیانة الذهن عن الخطأ اللفظي). بلکې دلته : خو (صیانة اللسان عن الخطاء اللفظي) پکار وو ؟

جواب : په اصل کې ذهن لفظي غلطي کوي او لسان د ذهن مترجم وي ؛ نو عبارت په اصل کې په حذف د مضاف سره دی چې تقدیر دا سو : (صیانة مبین الذهن هو اللسان) .

دویم جواب : تلفظ کوونکی په اصل کې ذهن دی او لسان مترجم دی د ذهن ؛ (فصیانة الحقیقة صیانة الفرع أیضًا) .

وَمَوْضُوعُهُ: الكَلِمَةُ والكَلامُ

او موضوع د نحو: كليمه او كلام دي

زنځيري تركيب: واو عاطفه، يا استنافيه، موضوع مضاف، ه مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مبتدا، الكلمة معطوف عليه، واو حرف عاطفه، الكلام معطوف، معطوف سره له معطوف عليه خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جملهٔ اسميه خبريه .

تشريح: موضوع په لغت کي ايښودلو ته وايي او په اصطلاح کي (ما يبحث فيه عن عوارض الذاتية)، يعني له حالات ذاتيه وو څخه دغه علم بحث کوي، مثلا د علم طب موضوع ده (بدن الإنسان)؛ ځکه په علم طب کي د انسان له احوالو څخه بحث کيږي .

او د علم نحو موضوع کليمه او کلام دی؛ ځکه په علم نحو کي د کليمه او کلام عوارض ذاتيه او احوال ذاتيه بيانيږي، مثلا منصرف او غير منصرف، معرب، مبني، مفرد، تثنيه، جمع، مذکر، مؤنث، مرکب تام، مرکب ناقص او داسي نور چي له دوی څخه بحث کيږي .

(۱۷) پوښتنه: د هر علم موضوع يوه وي؛ نو دلته د علم نحو موضوع دوه شيان ښودل سوي ده؛ نو يکار خو دا ده چي علم نحو هم دوه علوم سي؛ ځکه چي قاعده دا ده (لأن تعدد الموضوع يستلزم تعدد العِلم) او حال دا دیٔ چي علم نحو يو علم دی ؟

جواب: تعدد په دوه ډوله دی: ۱- لفظي. ۲- او معنوي. تعدد لفظي، لکه (قاعد جالس).

او تعدد معنوي، لکه: (عاقل بالغ)؛ دلته مراد تعدد لفظي دی، نه معنوي، لکه چي دواړه کليمه او کلام وضع سوي دي د يوې معنا لپاره او قاعده چي کومه ده چي تعدد د موضوع مستلزم وي تعدد د علومو لره؛ هلته تعدد معنوي مراد دی، نه لفظي .

(۱۸) پوښتنه: هر کله چي کليمه او کلام دواړه د علم نحو موضوع سوه؛ نو کليمه پر کلام ولیٔ مقدمه سوه سره له دې چي په کلام کي فائده تامه سته او په کليمه کي فائده تامه نسته، له دې وجي صاحب الفيه کلام مقدم کړی دی پر کليمې ؟

لومړی جواب: کليمه يې په کلام: ځکه مقدمه کړه چي کليمه جز د کلام دی او کلام کل دی. کليمه د کلام لفظا او معنا جز دی، هر چي لفظا جزء ده، لکه: (زيد قائم) او معنا لکه: (زيد قائم حيوان ناطق مع هذا الشخص ذات مَن له القيام)؛ دا کل سو او (زيد حيوان ناطق مع هذا الشخص)؛ دا جزء سو له معنا څخه د کلام او جزء په کل مقدم وي؛ ځکه دلته کليمه مقدمه سوې ده پر کلام .

دويم جواب: کليمه مفرد ده او کلام مرکب دی او مفرد مخکي وي پر مرکب؛ نو له دې وجي مصنف کليمه پر کلام مخکي کړه .

فَصْلٌ: الكَلِمَةُ لَفظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ

فصل دی: کليمه يو توری دی چي ايښوول سوی دی لپاره د يو معنا مفرد

زنځيري ترکيب: الكلمة مبتدا لفظ موصوف، وُضع فعل ماضي مجهول چي نائب فاعل د ده ضمير مستتره دی او هغه راجع دی لفظ ته. لام حرف جار معنی- مجرور تقديرا. جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په وضع پوري. فعل سره له نائب فاعل او متعلقه جمله فعليه خبريه د

صفت سره او مفرد درې احتماله لري : مرفوعا صفت، لفظ مجرورا، صفت معنا منصوبا. حال از ضمير وضع، يا از معنا لفظ، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه .

تشريح : دا د مقدمه دويم فصل دی چې په دې کې اول تعريف د يو جز د موضوع د علم نحو ذکر کوي او دويم تقسيم کوي درې اقسامو ته او دريم د هر قسم تعريف ذکر کوي او د هغوی علامات ذکر کوي په تعريف د کليمه کې چې يو څو کلمات دي :

۱- الکلمة . ۲- لفظ . ۳- وضع . ۴- معنی . ۵- مفرد . او د دې پينځو کليمو مختصره تشريح به اوس مخ ته راسي او تفصيل يې په کافيه او شرح جامي کې ولتهوه ! .

اوله تشريح د (الکلمة) : په (الکلمة) کې درې اجزاء دي : ۱- ال . ۲- کلم . ۳- تا مدوره . او د هر يوه به جلا جلا بحث اوس مخ ته روښانه سي .

(د الف لام مکمل ډولونه) : لومړی بحث : د الف لام نهه (۹) ډولونه دي . الف لام په لغت کې کليمه د (ال) ته وايي او په اصطلاح کې (کلمة تحلي بها کلمة أخرى) . الف لام يوه کليمه ده چې ښايسته کيږي په دې سره بله کليمه، الف لام په سر کې پر دوه ډوله دي : ۱- اسمي . ۲- حرفي . الف لام اسمي داخليږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندي اتفاقا او په صفت مشبه باندي اختلافا او دا الف لام به دلالت کوي پر اسم موصول چې (الذي) پر مذکر او (التي) پر مؤنث دلالت کوي او له اسم فاعل څخه تعبير په ماضي معلوم سره کوي او له اسم مفعول څخه تعبير په ماضي مجهول سره، يا په مضارع مجهول سره کوي. مثال د اسم فاعل لکه : (الضارب والضاربة الّذي ضرب) يا (يضرب التي ضربت، التي تضرب) .

او مثال د اسم مفعول، لکه : (المضروب والمضروبة الذي ضرب) يا (يضرب التي ضربت، والتي تضرب) . او په صفت مشبه کې اختلاف دی، بعضي وايي : دا مشابهت لري له اسم فاعل سره په افراد، تثنيت، جمعيت او داسي نورو کې ؛ نو په ده باندي هم الف لام اسمي داخليږي او بعضي وايي : الف لام حرفي پر داخليږي ؛ ځکه دا صفت مشبه په شان د اسم جامد دی چې تعلق د ده له زمانې سره نسته، لکه د جامد په شان او په جامد باندي الف لام حرفي داخليږي ؛ نو په صفت مشبه باندي هم الف لام حرفي داخليږي.

دويم ډول دی : الف لام حرفي ؛ الف لام حرفي دې ته وايي چې داخل به وي په هغه اسم باندي چې هغه غير وي له اسم فاعل او اسم مفعول څخه، لکه : الرجل د أرجل نه اسم فاعل دی او نه اسم مفعول ؛ ځکه په ده الف لام حرفي داخل دی .

د الف لام حرفي بيا دوه ډوله دي : ۱- الف لام حرفي زائد . ۲- الف لام حرفي غير زائد .

۱- الف لام حرفي زائد دې ته وايي چې په سقوط د ده سره خلل نه راځي په اصلي معنا کې، لکه دا قول د حضرت علي كرم الله وجهه چې په شعر کې يې ويلی دی :

لقد أمر على اللئيم يسبّني فمضيتُ، ثم وقلت لايعنيني

نو الف لام په (اللئيم) کې زائد دی ؛ ځکه (يسبني) جمله ورته صفت ده او جمله صفت د نکرې واقع کيږي نه د معرفې او دا (اللئيم) به هله نکره سي چې الف لام پکې زائد سي ؛ نو معلوميږي چې الف لام به په تقدير د صفتينو باندي زائد وي .

۲- او الف لام غير زائده دې ته وايي چې د هغې په سقوط سره خلل راځي په اصل معنا کې، مثال يې لکه : (الرجل) چې الف لام يې غير زائد وي ؛ نو معرفه به وي او که زائد سي الف لام ؛ نو له تعريف څخه به ووځي .

بيا الف لام زائد پر څلور ډوله دی : ۱- الف لام زائد عوضي لازمي، لکه الف لام د لفظ د (الله) . ۲- الف لام زائد لازمي غير عوضي، لکه : (النجم الصاعق) . ۳- الف لام زائد غير لازمي عوضي، لکه : (النّاس) . ۴- الف زائد لازمي غير عوضي، لکه : (الغلامان) .

او الف لام حرفي غير زائد پر شپږ ډوله دی : ۱- الف لام جنسي . ۲- الف لام استغراقي . ۳- الف لام عهد خارجي . ۴- الف لام عهد ذهني . ۵- الف لام عهد حضوري . ۶- او الف عهد ذکري .

۱- الف لام جنسي هغه دی چې له مدخول څخه يې مراد يوازې جنس وي او افرادو ته يې اعتبار نه وي، لکه : ﴿فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا﴾ [المزمل: ۱۶] ؛ نو د (الرّسول) الف لام عهد خارجي دی .

۲- الف لام استغراقي هغه چې له مدخول څخه يې مراد ټول افراد وي، لکه : (الحَمْدُ لله)، دلته الف لام لپاره د استغراق دی، يعني : ټولې ثناوې الله (تعالى) لره دي، يا لکه : ﴿إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَفِى خُسْرٍ﴾ [العصر: ۲] . يعني : بېشکه هر انسان په تاوان کې دی ؛ ځکه دلته الف لام استغراقي دی .

۳- الف لام عهد خارجي هغه دی چې د هغه مدخول متکلم او مخاطب دواړه متعين وي، لکه : (الرَّجُل خيرٌ مِن المرأةِ)، يعني : جنس سړي تر جنس ښځې غوره دی ؛ نو دلته الف لام جنسي دی چې په خارجي لحاظ سره متعين سوی دی .

۴- الف لام عهد ذهني هغه دی چې له مدخول څخه يې مراد غير معين فرد وي، لکه : ﴿... وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ ٱلذِّئْبُ ...﴾ [يوسف: ۱۳] . يعني : او زه بېرېږم چې (يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ) به شرمښ وخوري ؛ نو دلته په (الذّئب) کې الف لام عهد ذهني دی .

۵- الف لام عهد حضوري هغه الف لام دی چې له مدخول څخه يې مراد داسې فرد وي چې هغه حاضر او موجود وي، لکه : ﴿...ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ ...﴾ [المائدة: ۳] . يعني : نن ورځ ما ستاسو لپاره (خپل) دين مکمل کړ ؛ نو دلته په (اليوم) کې الف لام عهد حضوري دی .

۶- او آخري ډول له الف لام حرفي غير زائد ډولونو څخه الف لام عهد ذکري دی او دا هغه الف لام دی چې له مدخول څخه يې مراد مذکور (ياد سوی) فرد وي، لکه : ﴿وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ﴾ [البقرة: ۵۰] . يعني : او کله چې موږ پر تاسو درياب سره جلا کړ ؛ نو دلته الف لام په (البحر) کې عهد ذکري دی، يعني : دغه ياد درياب چې بني اسرائيلو ته کوڅې کوڅې سو او دوی چې کله ترې ووتل ؛ نو فرعوني لښکر پکې غرق سو .

(۱۹) پوښتنه : الف لام په (الكلمة) کې د څه لپاره دئ، يعني الف لام به خالي نه وي يا به اسمي وي ؛ نو دا نه صحيح کيږي ؛ ځکه چې کليمه اسم فاعل او اسم مفعول نه دی او مدخول د الف لام اسمي اسم فاعل او اسم مفعول وي .

او که حرفي وي ؛ نو يا به زائد وي، يا به غير زائد وي ؛ نو اول ډول نه صحيح کيږي ؛ ځکه چې نکارت د مبتدا به لازم سي او نکارت د مبتدا باطل دی .

او که قسم ثاني سي ؛ نو بيا به خالي نه وي يا به جنسي وي ؛ نو دا هم نه صحيح کيږي ؛ ځکه تاپه (الکلمة) کي د وحدت لپاره ده چي له هغې سره يې منافات دی .


او که استغراقي وي ؛ نو بيا هم نه صحيح کيږي يو ؛ خو له دې وجي چي له تا سره يې منافات دی او بل به لازم سي تعريف د افرادو او تعريف د ماهيت، کېدای سي نه د افرادو .

او که الف لام عهد ذهني وي ؛ نو بيا هم نه صحيح کيږي ؛ ځکه چي لازم به سي نکارت د مبتدا او دا باطل دی .

او که الف لام عهد خارجي سي ؛ نو بيا هم نه صحيح کيږي ؛ ځکه چي هغه مخکي معهود (شی) غواړي او دلته معهود نسته .

جواب : دلته الف لام جنسي وايم ! او وحدت دلته په څلور ډوله دی. ۱- وحدت جنسي . ۲- وحدت نوعي . ۳- وحدت صنفي . ۴- وحدت فردي ؛ نو منافات په الف لام جنسي او وحدت فردي کي دی : نه په نورو کي او مراد دلته غير له وحدت فردي څخه دی .

د الف لام د ډولونو نقشه : د زيات وضاحت لپاره به ګران لوستونکي ته د الف لام ډولونه په راتلونکي نقشه کي غوره سي :



د (کلم) **تشریح او د نحاتو ترجیح** : دویم بحث په کلم کې په کلم کې د نحویانو دوه اختلافه راغلي دي : ۱- دا مشتقي ده او په دې کې دوه مذهبين دي : اول مذهب د جمهورو دی، دوی وايي : مشتقان دي له (کلْم) څخه په سکون دلام او مناسبت د مشتق چې کليمه او کلام دي له مشتق منه سره چې کلم دي سته لفظا او معنا او هر چې لفظا هغه ظاهر دی چې په (کلم) کې (ک) لام ميم دي : نو لکه څرنګه په کلام کې کلام لام ميم دی، دارنګه په (کلم) کې هم کلام لام م دي او هر چې مناسبت معنوي دی : نو بعضي کلماتو لره (تأثير في النفوس) لازم دی، که څوک ښه خبره وکړي اوکه بده خبره : نو تاثير په نفوسو کې راځي .

او (کلم) جرح ته وايي او د هغې تاثير په مجروح کې وي چې خوږ او درد دی، تر دې چې بعضي شعراء عين تعبير په جرح سره څني کوي. لکه چې ويلي سوي دي :

جراحات السنان لها التيام ولايلتام ماجرح اللسان

يعني پرهارونه (زخمونه) د نيزې ښه وي چې جوړيږي (په مرهم) او نه جوړيږي هغه پرهارونه چې ژبې کړي وي ځکه چې دا بد وي او عمر سره سم وي !

دارنګه دا مقوله د عربو ده چې : (جراحة اللسان أصعب مِن جراحة السنان)، يعني : زخم د ژبې ډېر سخت دی تر زخم د نيزې .

دويم مذهب د بعضو دی، دوی وايي : چې کليمه اوکلام اسمين جامدين دي چې نه دوی له چا څخه مشتق دي او نه له دوی څخه څوک مشتق دی : ځکه د دوی مناسبت له کلم سره لفظا سته : خو معنا مناسبت يې نسته : ځکه د کليمې معنا ده (لفظٌ وُضِع) الخ . او د کلام معنا ده (ما تضمن کلمتين) الخ .

او د (کلم) معنا ده جرح او مناسبت معنوي په مينځ د مشتق او مشتق منه کې شرط دی او فقط مناسبت لفظي کافي نه دی لپاره د اشتقاق .

جمهور نحات وايي : مناسبت معنوي سته : خو په معنی التزامي کې : ځکه چې د بعضو کلماتو سره تاثير لازم وي او د جرح په مجروح کې هم تاثير کوي . دويم اختلاف په (کلم) کې په کسرې د لام سره دی چې په دې کې هم دوه مذهبونه دي . ۱- جمهور نحات . ۲- بعض نحات .

جمهور نحات وايي : (کلم) جنس دی او جمع نه ده . د دوی درې دلايل دي :

۱- صفت د دې مفرد راځي . مثلا په دې قول د الله تعالى کې : ﴿...إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ...﴾ [فاطر ۱۰] : نو دا (الطيب) مفرد دی او صفت واقع دی د (الکلم) .

همدا ډول که چيرې (الکلم) جمع وي : نو صفت د ده به (الطيبات) راغلی وای او هر کله چې صفت مفرده د ده واقع دی : نو معلومه سوه الکلام هم مفرد دی او هم جنس .

۲- (كلم) تميز د عدد اوسط واقع كيږي، لكه (ثلاثة عشر كلما) او تميز د عدد اوسط نه وي مګر مفرد وي .

۳- د ده تصغير (كليم) راغلى دى غير د ردولو خپل اصل ته : نو معلوميږي چي دا جنس دى، كه جمع واى ؛ نو تصغير د ده به محتاجه واى ردولو د مفرد ته .

بعضي نحات وايي : چي (كلم) جمع ده او مفرد د ده (كلمة) ده، دليل دا دئ چي د ده اطلاق په ثلاثه او په ما فوق د ثلاثه كيږي او د اعلامه د جمع ده، كه مفرد د ده جنس وي ؛ نو په واحد او اثنين باندي به د ده اطلاق كيږي او داسي نه ده ؛ ځكه جنس دې ته وايي : چي پر قليل او كثير دواړو صادقيږي .

دوى جمهورو ته وايي : چي په (الكلم الطّيب) كي الطيب صفت د بعض مقدر دى او بعض مفرد دى ؛ نو (الطيب) هم مفرد سو، مګر دا جواب مردود دى ؛ ځكه دوى تاويل كوي او دا تاويل بغير له ضرورت څخه نه سي كولاى او دلته ضرورت نسته د دويم دليل .

د دې جواب دا دئ : چي تميز د عدد اوسط كليمه بالتاء واقع كيږي، نه كلم بغير التاء ؛ خودا قول هم مردود دى ؛ ځكه چي دا دعوه بلا دليل ده . له دريم دليل څخه جواب وركوي چي تصغير د (كلم كليم بدون التاء) نه راځي، بلكي (كلمة بالتاء) ده ؛ خو داهم تحكم او دعوي بلا دليله ده .

جمهور د بعضو نحاتو دلايلو ته داسي جواب وركوي : چي دا عدم اطلاق د (كلم) په واحد او اثنين باندي جايز دى ؛ نو حق مذهب د جمهور و نحاتو دى .

د تاء ډولونه : په (الكلمة) كي تا اولا پر دوه ډوله ده : ۱- مطوله (ت) . ۲- او مدوره (ة)، مطوله بيا پر دوه ډوله ده : ۱- اسمي، لكه (مسلمات)، يا (مؤمنات) . ۲- فعلي، (ضربتْ، ضربتُ، ضربتَ، ضربتِ) ؛ دا ډول تاء په حالت د وقف كي په ها سره نه بدليږي او مدوره تاء په حالت د وقف كي په ها سره بدليږي، لكه : (امرأة) ؛ نو په وقف سره د (امرأة) او داسي نورو الفاظو تاء په اسم پوري ملحق كيږي او دا په څو ډوله ده، لكه څرنګه چي په دې شعر كي يو شاعر وايي :

تائی تانیث است تذکیر است وحدت ہم بدل مصدریت، ومبالغہ زائدہ شد ہم نقل

مثال د تاء تانيث، لكه : (امرأة) . ۲- مثال د تاء تذكير، لكه : (ثلاثة رِجال) . ۳- مثال د تاء وحدت، لكه : (تمرة) . ۴- مثال د تاء بدل، لكه : (عدة) . ۵- مثال د تاء مصدر، لكه : (جرحة) . ۶- مثال د تاء مبالغه، لكه : (علامة) . ۷- او مثال د تاء زائده، لكه : (زنادقة) . ۸- مثال د تاء نقل، لكه : (كافية) .

د لفظ لغوي او اصطلاحي تعريف : لفظ په لغت كي رمي (وښتلو) ته وايي، برابره خبره ده، كه له ذوي العقولو څخه وي، لكه : (أكلت التمرة ولفظت النواة)، يعني : كجوري مي اوخوړه او تاكى مي يې وغورځوله او يا له غير ذوي العقولو څخه وي، لكه : (لفظت الرّحي

الدقيق)، ژرندي وړه وغوړخول . په اصطلاح کې لفظ عبارت دی له (ما يتلفّظ به الإنسان) څخه، يعني : له هغه شي څخه عبارت دی چې انسان تلفظ ورباندي کوي .

د لفظ ډولونه : لفظ په اته ډوله دی : ۱- (لفظ موضوع) : دا عبارت دی له هغه لفظ څخه چې واضع وضع کړی وي لپاره د معنی، لکه : (زيدٌ، رَجلٌ، إنسانٌ) او داسي نور .

۲- (لفظ مهمل) : دا عبارت دی له هغه لفظ څخه چې واضع للمعنی نه وي وضع کړی، لکه : (جسقٌ ديز) چې مقلوب دی له (زيد) څخه چې معنا ورله نشته .

۳- (لفظ حقيقي) : دا عبارت دی د ملفوظ د انسان حقيقتا، مثال يې (زيدٌ) سو چې په دې باندي انسان په حقيقت کې تلفظ کوي .

۴- (لفظ حکمي) : دا عبارت دی د ملفوظ د انسان حکما، لکه ضمير مستتر په (زيدٌ ضرب) کې موجود دی چې هو ! دی انسان پر حکم تلفظ کوي نه حقيقة ؛ ځکه له ده څخه تعبير په ضمير منفصل سره کيږي او حکما لفظ دی ؛ ځکه احکام د لفظ حقيقي پرې جاري کيږي چې هغه کېدل د ضمير فاعل دي او دا رنګه نائب فاعل او بدل واقع کيږي .

۵- (لفظ مفرد) لکه : (زيدٌ) سو .

۶- (لفظ مرکب) لکه : (زيدٌ قائمٌ) .

۷- هغه لفظ چې بالفعل ملفوظ د انسان وي، لکه : (ضرب بالفعل) انسان تلفظ ورباندي کوي .

۸- او اتم ډول لفظ دا دئ چې انسان بالقوه تلفظ ورباندي کوي، مثال يې لکه : (کلمات الله، کلمات الملائکة) او (کلمات الجن) چې موږ ته رانقل سوي نه وي ؛ نو موږ بالفعل تلفظ نه سو ورباندي کولای او بالقوه تلفظ ورباندي کولای سو په داسي توګه چې په موږ کې دا وس سته چې تلفظ ورباندي وکړو ! .

نو پر دې ټولو ډولونو تعريف اصطلاحي د لفظ صادقيږي او حاصل د کلام دا سو چې په لفظ کې عموم دی په داسي طريقې سره چې : (ما يتلفظ به الإنسان موضوعا كان، أو مهملا مفردا كان، أو مركبا حقيقة كان، أو حكما بالفعل كان، أو بالقوة) آه ! .

(۲۰) پوښتنه : (الكلمة) مبتدا ده او لفظ ورلره خبر دی او خبر محمول وي په مبتدا باندي او په دې مقام کې حمل نه صحيح کيږي ؛ ځکه (الكلمة) ذات دی او لفظ (رمي) ته وايي ؛ نو دا صرف وصف دی او حمل د صرف وصف په ذات باندي باطل دی .

جواب : لفظ اګر چې مصدر دی او دا معنی وصفي ده، مګر دا له خپلي معنا څخه نقل سوی دی : (ما يتلفظ به الإنسان) ته او دا معنا د ذات ده ؛ نو حمل د ذات په ذات باندي راغی، بيا په دې نقل کې له معنا مصدري څخه معنا اصطلاحي ته دوه مذهبه دي ؛ اول مذهب دا

دئ چي اولا لفظ نقل سوی دی (ما يتلفظ به الإنسان) ته لپاره د صحت د حمل د خبر په مبتدا باندي او په مينځ د منقول عنه کي چي لفظ دی او منقول إليه کي چي (ما يتلفظ به الإنسان) دی. مطلب دا چي دا تسميه د مسبب ده په اسم د سبب سره .

دويم مذهب دا دئ : چي نقل د لفظ (ما يتلفظ به الإنسان) ته ابتدا نه ده سوي، بلکي اولا لفظ مؤل سوی دی په ملفوظ سره او تر هغه وروسته نقل سوی دی (ما يتلفظ به الإنسان) ته دا : ځکه يې ثانيا نقل کوي چي په مينځ د منقول عنه او منقول إليه کي علاقه قويه حاصله سي په دايي توګه چي د لفظ معنا په معنا د ملفوظ سره سي : نو بيا دا ملفوظ اعم شامل دی ملفوظ د انسان ته او هم شامل دی ملفوظ د غير انسان ته او دا معنا چي (ما يتلفظ به الإنسان) دی : نو دا معنا اصطلاحي ده اخص ده .

(۲۱) پوښتنه : تعريف د لفظ صحيح نه دی : ځکه شامل سو پکي لسان د انسان او لسان هغه شی دی چي په دې سره انسان تلفظ کوي او تعريف د لفظ تا داسي کړی دی (مايتلفظ به الإنسان) ؟

جواب : دا پوښتنه به تا هله کولای چي په (به) کي دا با د استعانت لپاره وای : نو لسان پکي بيا داخليږي په تعريف د لفظ کي : خو دلته باء د (تعدية) لپاره ده او صله ده د (ما يتلفظ) لپاره : نو معنا دا سوه چي لفظ عبارت دی د هغه شی. نه چي د انسان تلفظ پري واقع کيږي او په لسان د انسان تلفظ نه واقع کيږي .

(۲۲) پوښتنه : (الكلمة) مؤنث ده او خبر مذکر دی او مطابقت موجود نه دی بين (المبتدأ والخبر) په تذکير او تانيث سره او حال دا دئ چي د مبتدا او خبر په مينځ کي مطابقت لازمي دی په تذکير او تانيث سره ؟

جواب : مطابقت په مينځ د مبتدا او خبر کي مطلقا او په هر حالت کي ضروري نه دی. بلکي دا مشروط دی په اتو شرطونو سره او هغه په راتلونکي ډول دي :

۱- مبتدا او خبر به اسم ظاهر وي : (فلايرد الاعتراض). لکه دا قول چي (هي اسم و فعل وحرف) : دلته مبتدا (هي) دی او دا مؤنث دی او خبر يې اسم فعل حرف دی او دا مذکر دی .

۲- خبر به مشتق وي (بقوله الكلمة لفظٌ) .

۳- خبر به حامل الضمير مبتدا وي، لکه : (زينب ماه وجور ممتنع) .

۴- خبر به مستعمل اسم تفضيل په (مِن) سره نه وي، لکه : (الصلاة خيرٌ مِن النوم) .

۵- خبر به الفاظ مشترکه بين المذکر والمؤنث نه وي، لکه : (المرأة جريح المرأة صبور) .

۶- خبر به الفاظ مختصه د مؤنث نه وي، لکه : (أنت طالق ! أنت حائض) :

۷- خبر به اسم متوغل في الابهام نه وي، لکه : (أنت مثل رجل في اللباس) .

٨- او اتم آخري شرط دا دئ: چي خبر به په صيغه د مبالغې سره نه وي، لکه: (رجل علامة). دلته په (الكلمة) لفظ کي دويم او دريم شرط منتفي دی؛ فلا يرد ما يرد آه!.

(٢٣) پوښتنه: دلته که مطابقت واجب نه وو، مګر بيا هم مستحسن وو؛ نو داسي پکار وه (الكلمة لفظة)؟

جواب: (لفظة) يې ځکه نه دئ ويلی چي اختصار راسي؛ ځکه چي په لفظ کي اختصار دی تر (لفظة).

(٢٤) پوښتنه: قرينه مرجحه د لفظ لپاره دا سوه چي اختصار پکې دی؛ نو د (لفظة) لپاره هم قرينه مرجحه سته چي هغه مطابقت دی؛ نو ولې مصنف ترجيح ورکړه لفظ لره پر (لفظة)؟

جواب: که لفظ وويل سي؛ نو صرف مطابقت به فوت سي او په تقدير د (لفظة) سره لازميږي تطويلات ثلاثه، لکه: ١- اول تطويل به په (لفظة) کي راسي. ٢- تطويل د (وُضِعتْ) به وويل سي. ٣- تطويل د (مفردة) به وويل سي؛ نو په لفظ کي يو نقصان راځي چي عدم مطابقت دی او په (لفظة) کي درې تاوانه راځي او يو تاوان دېر لږ دی تر دريو تاوانونو؛ ځکه يې لفظ وويلی او (لفظة) يې نه وويلی په ترجيح سره؛ (فتأمل!).

قوله (وُضِعَ): وضع په لغت کي: ١- نهادن (كېښودلو) ته وايي. ٢- بعضي معنی لغوي داسي کوي (الوضع جعل الشيء في حيز الشيء). يعني: وضع په لغت کي عبارت ده د ګرځولو د يو شي په مکان او حيز د بل شي کي.

او معنا اصطلاحي د وضع: (تخصيص الشيء بشيء بحيث متى أطلق، أو أحس الشيء الأول؛ فهم منه الشيء الثاني)؛ نو وضع عبارت دی د له دې ځخه چي يو شی متعين او خاص کړل سي لپاره د بل شي، برابره خبره ده، که دا شی اول لفظ وي. لکه (زيدٌ ضرب) او که غير لفظ وي، لکه (دوال اربعه)؛ نو چي کله اطلاق وسو، يعني تلفظ يې وسو په شي اول که لفظ وو، يا احساس يې وکړل سو د شي اول کله چي غير لفظ وو، لکه: (دوال اربعه)؛ نو دويم شی به ځني پاميږي، لکه په زيد تلفظ وسي چي وضع سوی وي لپاره د (حيوان ناطق مع هذا التشخص) لپاره؛ نو دا معنا ځني معلوميږي.

په ځانګړې توګه چي دې ته ويل کيږي: (تخصيص اللفظ بالمعنى) او غير لفظي، لکه: (دوال اربعه) سو، لکه: (خطوط، نصب، عقود، إشارات) چي په دې احساس وسي؛ نو غير ځني معلوميږي او دا وضع د غير لفظ ده.

وضع په څلور ډوله ده: ١- (وضع عام موضوع له): نو وضع عام دې ته وايي: چي دا په واسطه د مرآتيت د امر کلي سره سوی وي او (موضوع له عام) دې ته وايي: چي دا (موضوع له) معنی کلي وي، نه معنی جزي، مثال يې لکه وضع د انسان لپاره د حيوان ناطق -

دا وضع عامه ده : ځکه چې په وخت د وضع کې لحاظ د امر سوی دی چې هغه حیوان ناطق دی او (موضوع له) هم عام دی : ځکه (موضوع له) دا حیوان ناطق دی او دا معنی کلي ده .

۲- (وضع عام) او (موضوع له خاص) : وضع عام عبارت دی له هغه وضع څخه چې دا وضع په واسطه د مرآتیت د امر کي سوی وي او (موضوع له) به جزئیات وي، مثال یې لکه : وضع د اسم اشاره لکه (هذا) : دا وضع دی لپاره د افرادو د مطلق مفرد مذکر : نو په وخت د وضع کې لحاظ د امر کلي وسو چې مطلق مفرد مذکر دی .

او (موضوع له) افراد جزئیات د مطلق مفرد مذکر دي، لکه : (زید، عَمرو، بکر) .

۳- (وضع خاص) او (موضوع له خاص) : دا عبارت دی له هغه وضع څخه چې په وخت د وضع کې لحاظ د امر کلي نه وي سوی، بلکې د امر جزئي سوی وي او (موضوع له) به امر جزئي او فرد خاص وي، مثال یې لکه : وضع د زید لپاره د خپل معنا چې (حیوان ناطق مع هذا التشخص) ده او په وخت د وضع کې هم دغه جزئي معنا لحاظ سوې ده او (موضوع له) هم دغه جزئي معنا ده .

۴- (وضع خاص) او (موضوع له عام) : دا عبارت دی له دې څخه چې په وخت د وضع کې لحاظ د امر نه وي سوی او (موضوع له) په امر کې وي او دا ډول د وضع نفس احتمال عقلي دی چې په کلام د عربو کې ورله وجود نسته .

قوله (المعنى) : معنی په لغت کې مراد او مقصود ته وایي او په اصطلاح کې عبارت دی له (ما يقصد بشيء) څخه، مثال یې لکه : (حیوان ناطق مع هذا التشخص) معنا د زید ده : ځکه له دې څخه قصدیږي لفظ د زید او په صیغه د معنا کې احتمالات ثلاثه دي : ۱- صیغه د اسم مفعول قصد سوې ده . ۲- صیغه د اسم ظرف، (ځای قصد) . ۳- صیغه د مصدر میمي، (قصد کردن) .

او تفصیل دا دئ : که صیغه د اسم مفعول سي : نو په اصل کې معنُوي وو : نو اعلال د (مَرْضِيٌّ) په شان پکې وسو، واو بدل سو په یاء سره او یا په یاء کې مدغمه سوه : نو معنا څنې جوړ سوه، بیا یاء مدغمه حذف سوه او ضمه د نون په کسرې بدله سوه چې (معنی) څنې جوړه سوه، بیا کسره په فتحه بدله سوه او یا په الف باندې بدله سوه له وجې د فتحې د ماقبل څخه : نو (معنی) سوه .

دویم احتمال صیغه د اسم ظرف ده په معنا د ځای د قصد کې .

(۲۵) پوښتنه : کلیمه یو لفظ دی چې وضع سوی دی لپاره د مقصود د متکلم، نه لپاره ځای د قصد ؟

جواب : صیغه د ظرف په معنا د اسم مفعول سره ده، لکه : (مركبٌ فارهٌ) او (مشربٌ عذبٌ) : دا صیغې د اسم ظرف دي په معنا د اسم مفعول سره، (أي مركوبٌ فارهٌ ومشروبٌ عذبٌ) او له ظرف څخه د اسم مفعول اخیستل مجاز دي او د مجاز لپاره علاقه وي دلته د اسم مفعول او د ظرف په مینځ کې علاقه د فضیلت ده چې دواړه په کلام کې فضله واقع کېږي .

دریم احتمال صیغه د مصدر میمي ده : نو معنا به دا سي چې کلیمه یو لفظ دی چې وضع سوی دی لپاره د قصد کولو د متکلم .

(۲۶) پوښتنه : دا معنا صحيح نه ده ؛ ځکه چې کليمه د مقصود د متکلم لپاره وضع سوې ده، نه د قصد لپاره ؟

جواب : دلته مصدر ميمي په معنا د اسم مفعول دی او د مصدر تاويل په اسم مفعول سره کېږي، لکه : (هذا ضربُ الأمير، أي : مضروب الأمير) او له مصدر څخه د اسم مفعول معنی اخيستل مجاز دي او د مجاز لپاره علاقه وي ؛ نو دلته علاقه د مصدر او اسم مفعول تر مينځ کليت او جزئيت دی چې اسم مفعول کل او مصدر جزء دی .

(۲۷) پوښتنه : په تعريف د کليمه کې معنا ذکر کول وروسته تر ذکر کولو د وضع مستدرک دی ؛ ځکه معنا موجوده ده په وضع کې او وضع مشتمله ده په معنا باندې ؟

لومړی جواب : په وضع کې که څه هم معنا موجوده ده، مګر په دې مقام کې د وضع تجريد سوی دی له معنا څخه ؛ نو ذکر د معنا پس له وضع څخه مبني دی په تجريد باندې .

دويم جواب : معنا په وضع کې ذکر ده ضمنا او مصنف وروسته ذکر کړې ده چې دا صراحتا ده ؛ نو دا (تصريح بما علم) ضمنا ده ؛ نو استدراک نسته .

قوله (مفرد) : مفرد په لغت کې ضد او مقابل د مرکب ته وايي او په اصطلاح کې مفرد عبارت دی له هغه لفظ څخه چې جزء د لفظ د ده به دلالت نه کوي په جزء د معنا مقصوده باندې په داسې توګه چې دا دلالت هم مقصود وي .

د مفرد پولونه : مفرد په پېنځه ډوله دی : اول مفرد هغه دی چې د لفظ لپاره يې جزء نه وي، لکه واو عاطفه او همزه د استفهام سره دا دواړه د قبيلې د مفرد نه دي ؛ ځکه په دواړو کې جزء د لفظ دلالت نه کوي په جزء د معنا باندې ؛ ځکه د لفظ لپاره جزء نسته .

دويم ډول د مفرد : هغه دی چې د معنا لپاره جزء نه وي، مثال لکه لفظ د الله سره، دا لفظ د الله مفرد دی ؛ ځکه جزء د لفظ دلالت نه کوي په جزء د معنا باندې ؛ ځکه معنا د دې ذات (واجب الوجود) ده او د هغې لپاره اجزاء نسته .

دريم ډول د مفرد : د لفظ لپاره به جزء وي او د معنا لپاره به هم جزء وي، مګر جزء د لفظ به دلالت نه کوي په جزء د معنا باندې، مثال يې لکه زيد سره .

څلورم ډول د مفرد : د لفظ لپاره به يې اجزاء وي د معنی لپاره به يې هم اجزاء وي او جزء د لفظ به دلالت کوي په جزء د معنا باندې او دا جزء به جزء د معنا مقصودي نه وي، بلکې د معنی غير مقصودي جزء به وي، لکه : (عبد الله) سره په حين د علميت کې .

پېنځم ډول د مفرد : د لفظ لپاره به هم جزء وي ؛ د معنا لپاره به هم جزء وي ؛ دلالت به هم کوي او معنا به يې هم مقصودي وي، مګر دلالت به مقصود نه وي، لکه : (حيوانٌ ناطِقٌ) چې عَلَم سي لپاره د شخص انساني .

د (مفرد) اعراب : په دې کې درې احتماله دي : ۱- (مفردٌ) مرفوع . ۲- (مفردً) منصوب . ۳- (مفردٍ) مجرور . ۱- که مرفوع سي : نو صفت د لفظ به سي، يا خبر د مبتدا محذوفې به سي چې (هو) دی .

۲- که منصوب سي ؛ نو دا به حال سي د معنا، یا به حال سي د ضمیر مستکن په وضع کې چې راجع دی لفظ ته، یا به مفعول به د فعل مقدره سي چې (أعني) دی.

۳- او که مجرور سي ؛ نو یا به صفت د معنا سي، یا به بدل سي د معنا ؛ نو معنا د مفرد بیا عبارت دی د هغه معنا چې جزد لفظ یې دلالت نه کوي په جزء د معنا باندې ؛ دا مجموعه احتمالات اووه سول چې تفصیل یې تاسې د نحو په غټو کتابو کې کتلای سئ !.

(۲۸) پوښتنه : مفرد مرفوع لوستل بنا پر دې چې دا صفت ثاني د لفظ دي صحیح نه وي ؛ ځکه قانون دا دئ چې د یو شی دوه صفتونه واقع سي یو مفرد او بل جمله صفت وروسته وي په مفرد صفت باندې او دلته جمله صفت د لفظ چې وضع دي مقدم وي پر مفرد صفت چې مفرد وي.

لومړی جواب : دا قانون او قاعده اکثریه ده او کلیه نه ده ؛ د دې مثال په قرآن شریف کې سته، لکه الله تعالی چې فرمایي : ﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٌ ...﴾ [الأنعام ۹۲] ؛ په دې آیت کې د کتاب لپاره یو صفت جمله واقع ده چې (أنزلناهُ) دی او دا مقدم دی پر بل صفت چې مفرد دی او هغه (مبارك) دی ؛ نو معلومه سوه چې دا قاعده اکثریه ده.

دویم جواب : په دې کې اشاره ده تقدیم د وضع ته پر مفرد چې اول شی د یو معنا لپاره وضع سي او بیا متصف سي په افراد او په ترکیب سره : نو دې ته اشاره سوې ده په صیغه د ماضي له وضع سره، اوس که مفرد مقدم سي پر جمله چې صفت دی ؛ نو لازم به سي خلاف د مقصود.

(۲۹) پوښتنه : مفرد منصوب لوستل هم صحیح نه دي ؛ ځکه دا د رسم الخط له قاعدې څخه خلاف دی، بلکې قاعده د رسم الخط دا ده چې یو اسم منصوب وي ؛ نو په آخر د هغه کې الف لیکل کیږي او دلته الف نه دئ لیکل سوی، لکه : (رأیت زیدا ! رأیت رَجُلا !) ؟

لومړی جواب : دا قاعده اکثریه ده او د دې خلاف په قرآن شریف کې هم موجود دی، لکه الله تعالی چې فرمایي : ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ ...﴾ [سبا ۲۸] ؟

دویم جواب : الف په آخر د اسم منصوب کې لیکل کیږي چې نصب متعین او یقیني وي او دلته خو د دوو نورو اعرابونو احتمال هم سته چې جر او رفع ده.

(۳۰) پوښتنه : مفرد په احتمال د نصب سره حال له معنا څخه صحیح نه دی ؛ ځکه حال د فاعل نه وي، یا د مفعول به نه وي او معنا نه فاعل او نه مفعول به ده ؟

جواب : معنی في الحقیقت مفعول به نه ده، بلکې حکما ده.

(۳۱) پوښتنه : مفرد په جر سره صفت د معنا صحیح نه دی ؛ ځکه دا له قانون او قاعدې څخه خلاف دی او قانون دا دئ چې یو شی متصف سي په یو وصف سره او دغه شی ته اسناد د فعل او شبه فعل وسي : نو هغه به متصف وي مخکې د اسناد له فعل او شبه فعل څخه دغه شی ته.
لکه : (جاءني رَجلٌ عالِمٌ)، رجل موصوف دی او عالم ورلره صفت دی : نو دا (رَجلٌ) مخکې د اسناد له (جاء) څخه دی چې متصف دی

په علم سره او دلته دا قانون صحيح نه دی. بلکې د قانون خلاف دی؛ نو معنا متصف په (مفرد) سره سوه او معنا که نسبت د وضع سوی دی؛ نو معنی مخکې له وضع څخه متصف سوه په مفرد سره او حالانکې اول وضع راځي د يو شی د معنی لپاره بيا وروسته متصف کيږي بالافراد والتركيب.

جواب: دلته (معنی) متصف سوې ده په افراد سره (قبل الوضع باعتبار مايؤول إليه) دا له قبيلې د (إنّي أعصر خمرا) څخه دی. يا (مَن قتل قتيلا؛ فله سلبه)، يا (إذا جاء المُصلّي؛ فليتوضّأ).

استعمال د مفرد: مفرد کارول کيږي په مقابله د څلورو شيانو کې: ۱- مفرد مقابل د مرکب از کلام، لکه دلته په (الكلمة) کې (لفظ وُضع لمعنى مفرد).

۱- مفرد مقابل د تثنيه او جمع، لکه: (فالمفرد المنصرف في بحث أصناف الإعراب الاسم).

۲- مفرد مقابل د مضاف او شبه مضاف، لکه: (فالمنادى المفرد إلخ) په بحث د منادی کې.

۴- مفرد مقابل د (جملة التميز ما يرفع الإبهام عن مفرد مقدار).

دا تعريف د کليمې سو او په هر يو تعريف کې جنس او فصل وي؛ نو دلته هم جنس او فصول دي، لفظ په منزله د جنس دی چې (يشمل الموضوعات والمهملات). (وضع لغة)؛ دا فصل اول دی. (يخرج به المهملات وما وضع لغرض التركيب كحروف الهجاء ألف با تا وما وضع العلامة الإعراب كالحروف والحركات). (مفرد) دا فصل ثاني دی (يخرج به ما وضع للمعنى المركب سواء كان كلامية) آه!.

وَهِيَ مُنْحَصِرَةٌ فِي ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ: اسْمٍ. وَفِعْلٍ. وَحَرْفٍ

او دا منحصره ده په دريو ډولونو کې. لکه: اسم. فعل او حرف

زنځيري ترکيب: واو عاطفه، هي مبتدا، منحصرة صيغه د اسم فاعل ضمير پکې مستتر دی چې تعبير ځنې کيږي په (هي) سره هغه ورلره فاعل سو، في حرف جر، ثلاثه مضاف، اقسام مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار سو. جار سره له مجروره ظرف لغوه چې متعلق سو په منحصرة پورې، منحصرة سره له فاعل او سره له متعلقه خبر د مبتدا سو. مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

او په (اسم وفعل وحرف) کې اعرابات ثلاثه جاري کيږي. رفع بناء پر دې چې خبر د مبتدا محذوفي دی: (أحدها اسم، وثانيها فعل، وثالثها حرف). نصب بنا پر دې چې مفعول به دی د (أعني اسما وفعلا وحرفا) او جر بنا پر دې چې له اقسام ځخه بدل دی او د بدل او مبدل منه اعراب يو وي.

تشريح: هر كله چې فارغ سو مصنف له تعريف څخه كليمې؛ نو په دې عبارت سره تقسيم د كلي كوي اقسام ثلاثه وو ته چې كليمه درې ډوله ده : اسم، فعل او حرف .

(۳۲) پوښتنه : (هي) ضمير به خالي نه وي، يا به راجع وي لفظ د (الكلمة) ته، يا به مفهوم ته راجع وي، كه (الكلمة) ته راجع وي؛ نو مطابقت راځي په ضمير او په مرجع كي، مګر تقسيم نه صحيح كيږي؛ ځكه يو؛ خو تقسيم د شي راځي نفس خپل ته؛ ځكه (الكلمة) اسم دى او (هي) هم اسم دى او دويم مطابقت نه راځي په مابين د خبر كي چې (اسم وفعل وحرف) دى؛ نو په تذكير او تانيث كي مبتدا مؤنث ده او خبر مذكر دى او كه ضمير مفهوم ته راجع وي؛ نو تقسيم صحيح دى، مګر مطابقت د ضمير (هي) په مرجع كي چې مضموم دى نه صحيح كيږي ؟

جواب: ضمير راجع دى (الكلمة) ته او تقسيم په اعتبار د مفهوم سره دى؛ نو معنا داسې سوه : دا كليمه په اعتبار د مفهوم سره منحصره ده په اقسام ثلاثه وو كي .

فايده (د حصر درې ډولونه) : حصر په درې ډوله دى : ۱- حصر عقلي . ۲- حصر استقرائي . ۳- حصر جعلي .

۱- حصر عقلي عبارت دى له هغه حصر څخه چې دائر وي په مينځ د نفي او اثبات كي او عقل مجوز له قسم آخر څخه وي .

۲- حصر استقرائي دې ته وايي چې هغه حاصل سوى وي په تتبع او تلاش باندې او عقل مجوز له قسم آخر څخه وي .

۳- حصر جعلي دې ته وايي چې حاصل سوى وي په جعل د جاعل سره .

مثال د حصر عقلي، لكه : حصر د حيوان په ناطق او غير ناطق كي - دا حصر عقلي دى؛ ځكه دائر دى په مينځ د نفي او اثبات كي په داسې توګه چې حيوان به ناطق وي، يا به غير ناطق وي او عقل جواز نه وركوي قسم آخر د حيوان ته چې هغه ناطق نه وي او نه غير ناطق وي .

مثال د حصر استقرائي : لكه حصر د انواع حيوانية؛ نو دا مطلق حيوان چې په كومو انواعو كي منحصر دى، لكه : انسان، خر، غويى او داسې نور؛ نو دا حصر استقرائي دى؛ ځكه دا حصر موږ ته معلوم سو او حاصل سو په تتبع او تلاش سره .

او مثال د حصر جعلي، لكه : حصر د فرائض الوضوء په څلورو كي؛ نو دا حصر په جعل د جاعل سره دى؛ ځكه جاعل چې الله تعالى دى فرض د اودس څلور څيزونه مقرر كړي دي؛ نو دلته مراد له حصر څخه حصر عقلي دى؛ ځكه دا حصر دائر دى په مينځ د نفي او اثبات كي په داسې توګه چې په وجه د حصر كي يې ويل سوي دي : چې (إمّا أن تدلّ على معنى) او دا نفي ده ويل سوې ده چې (أو تدلّ على معنى) او دا اثبات دى او عقل جواز نه وركوي قسم آخر د كليمې ته اه !.

؛ لأَنَّها إمَّا أَنْ لا تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِي نَفْسِهَا . وهُوَ (الحَرْفُ) أَوْ تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِي نَفْسِهَا . وَيَقْتَرِنَ مَعْناهَا بِأَحَدِ اَلأَزْمِنَةِ الثَّلاثَةِ . وهُوَ (الفِعْلُ) . أَوْ تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِي نَفْسِهَا وَلَمْ يَقْتَرِنْ مَعْنَاهَا بِهِ، وَهُوَ (الاِسْمُ) .

دا کليمه موضوعه يا به دلالت نه کوي پر معنا چي کائن وي په نفس د کليمه کي او هغه حرف دی او يا به دلالت کوي پر معنا چي کائن وي په نفس د کليمه کي او معنا يې مقترنه وي په يو د دريو زمانو پوري او هغه فعل دی او يا به دلالت کوي پر (معنى في نفسها) او مقترنه به نه وي معنا د دې په يوې زمانې پوري يو له دريو زمانو څخه او دا اسم دی

زنځيري ترکيب: لام حرف جر، أن حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، ها ضمير اسم د أنّ، إما ترديديه، أن مصدريه ناصبه، لا نافيه، تدل فعل، هي ضمير د فاعل، على جار، معنى موصوف، في جار، نفس مضاف، ها مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجرور ه ظرف مستقر چي متعلق په کائن پوري دی، کائن صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه چي متعلق په لاتدل پوري دی، لاتدل فعل سره له فاعل او سره له متعلقه چي معطوف عليه دی او عاطفه تدل على إلخ معطوف عليه، يقترن فعل، معناها مضاف د مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجموعه فاعل، باء حرف جر، أحد مضاف، الأزمنة موصوف، الثلاثه صفت، موصوف سره له صفت مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه چي متعلق په يقترن پوري دی، فعل سره له فاعل او متعلقه معطوف، معطوف عليه سره له معطوفه او حرف عاطفه (تدل على معنى في نفسها) معطوف عليه، واو حرف عاطفه، لم جازمه، يقترن فعل سره له فاعل او سره د متعلقه معطوف، معطوف سره له معطوف عليه معطوف، لاتدل معطوف عليه سره له معطوفاتو په تاويل د مصدر سره خبر د أنّ، أنّ سره له اسم او خبره په تاويل د مفرد سره مجرور د جار چي لام دی، جار سره له مجروره خپل ظرف لغوه چي متعلق په منحصرة پوري دی، (وهو الاسم) مبتدا او خبر دی؛ دارنګه (وهو الحرف، وهو الفعل).

تشريح: په دې عبارت سره مصنف دليل د حصر په اقسام ثلاثه وو د کليمې کي بيانوي؛ حاصل د دې دا دئ چي کليمه به خالي نه وي، يا به په دلالت کولو کي په خپله معنا باندي مستقله وي، يا به پکي نه وي قسم ثاني؛ نو حرف که قسم اول وي؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به معنا د دې له دريو زمانو څخه په يوې زمانې پوري مقترنه وي، يا به پکي نه وي قسم ثاني؛ نو اسم دی او که قسم اول وي؛ نو فعل دی.

دا يې وجه د حصر ده غير مشهوره او وجه د حصر مشهوره يې داده: چي دا کليمه به خالي نه وي يا به دلالت کوي په ذات باندي، يا به دلالت کوي په وصف باندي، يا به دلالت کوي په رابطې باندي، که قسم اول وو؛ نواسم دی او که قسم ثاني وو؛ نو فعل دی او که قسم ثالث وو؛ نو حرف دی.

(۳۳) پوښتنه: وجه د حصر مصنف ولې غير مشهوره ذکر کړه او پکار د مشهوري وجي حصر ذکر کول وو؟

جواب: په کافيه دابن حاجب کي وجه دحصر غير مشهوره ذکر وه او مصنف خپل کتاب (هداية النّحو) په ترتيب د کافيه باندي مرتب کړی دی؛ نو ده هم وجه د حصر غير مشهوره ذکر کړه؛ لپاره د مطابقت.

(۳۴) پوښتنه: صاحب د کافيه يې ولې وجه د حصر غير مشهوره ذکر کړه؟

جواب: صاحب د کافيه يې يوه معاهده کړې وه چي زه به يو مغلق او ګران کتاب او ګران عبارتونه به ذکر کومه! او دا وجه د حصر ګرانه او مغلقه وه؛ ځکه په ډېرو اعتراضاتو او جواباتو باندي مشتمله ده: نو ځکه وجه د حصر ابن حاجب غير مشهوره ذکر کړه.

(۳۵) پوښتنه : دا عبارت چي (لأنها إمّا الخ) ؛ دا دليل د مدعي سابقې دی چي (هي منحصرة)، مگر د دليل ارتباط له مدعي سابقې سره نشته دی ؛ ځکه په دليل کي دلالت او اقتران ذکر دی او په مدعي کي دا نشته ؟

جواب : دا دلالت او اقتران که په مدعي سابقه کي لفظا نشته، مگر تقديرا سته په داسي توګه چي په تعريف د کليمه کي وضع ذکر ده او وضع مستلزم ده دلالت لره ؛ ځکه اول وضع د لفظ راځي د معنا لپاره، بيا دا لفظ دلالت کوي په معنا باندي او په اقتران او عدم اقتران سره موصوف کيږي .

(۳۶) پوښتنه : مصنف ولې په وجه د حصر کي حرف مقدم کړ او په تفصيل کي يې حرف مؤخر کړی دی ؟

جواب : حرف په لغت کي طرف ته وايي ؛ نو مصنف په وجه د حصر کي او په تفصيل کي په طرف کي ذکر کړه اولا وآخرا .

(۳۷) پوښتنه : مصنف حرف په وجه د حصر کي پر اسم او فعل ولې مقدم کړ او په تفصيل کي يې تر اسم او فعل ولې مؤخر کړ ؟

جواب : په وجه د حصر کي يې مقدم کړ ؛ ځکه چي دا حرف عدمي دی ؛ ځکه په مفهوم د ده کي عدم دلالت معتبر دی او عدم معتبر وي په وجود باندي په نفس الأمر کي ؛ نو مصنف په ذکر کي هم مقدم کړ ؛ د دې لپاره چي وضع او ذکر موافق سي له نفس الأمر سره او په تعين کي يې وروسته ذکر کړ چي دا اشاره کوي تاخير د حرف ته په مرتبه کي په داسي توګه چي مرتبه د حرف موخره ده تر مرتبې د اسم او فعل .

(۳۸) پوښتنه : اسم ولې مقدم سو په وجه د حصر کي او په تفصيل کي تر اسم ولې موخر سو ؟

جواب : تعريف د اسم عدمي دی او تعريف د فعل وجودي دي او عدمي مقدم وي په وجودي باندي .

فَحَدُّ الاِسْمِ : كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلَىٰ مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا غَيْرِ مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِ الأَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ. أَعْنِي المَاضِيَ وَالحَالَ وَالاِسْتِقْبَالَ. كَرَجُلٍ وَعِلْمٍ

نو دا اسم : يوه کليمه ده چي دلالت کوي په يوه معنى في نفسها باندي او دا اسم مقترن نه وي تر دريو زمانو په يوه زمانه پوري چي هغه ماضي او حال او استقبال دی، لکه (رَجل) او (عِلم).

زنځيري ترکيب : فا فصيحيه، حد الاسم مضاف مضاف إليه چي مجموعه مبتدا ده، کليمه موصوف، تدل على معنى صفت، في نفسها جار مجرور، ظرف مستقر چي متعلق په کائن پوري ؛ دا مجموعه صفت اول معنا. يا جار مجرور ظرف لغو متعلق په تدل پوري، تدل سره له فاعل او سره له متعلقه دا صفت د کلمې سو، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا محذوفي چي هي دی، هي ضمير راجع دی حد الاسم ته دا مرفوع محلا مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سو ؛ نو خبر د حد الاسم سو، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه، غير مقترن الخ په دې کي درې اعرابات دي ؛ دا مبتدا محذوف الخبر ده چي اصل عبارت داسي دی : (هو غير مقترن إلخ)، همدا ډول دا حال دی له معنا څخه ؛ نو منصوب به سي او صفت د معنى او مجرور دی .

تشريح : (فحدّ الاسم) کي فاء فصيحيه ده چي دا راځي د شرط محذوفه په جواب کي ؛ نو دلته عبارت دارنګه دی (إذا بينا دليل الحصر ؛ فحد الاسم)، هر کله چي موږ دليل د حصر بيان کړ ؛ نو تعريف د اسم اوس دا دیٔ، مگر مصنف تعريف د اسم په دوو اعتبارو سره

كوي: ۱- تعريف په اعتبار د وجود ذهني سره . ۲- تعريف په اعتبار د وجود خارجي سره لپاره د نهايت وضاحت ؛ نو اول تعريف په اعتبار د وجود ذهني په دې عبارت سره دی چې (فحد الاسم إلخ) . دويم تعريف د اسم ذكركوي په اعتبار د وجود خارجي سره، لكه چې وايي: (وعلامته صحة الاخبار عنه إلخ) .

(۳۹) پوښتنه: تعريف د اسم د مخكې له وجه حصر څخه هم معلوميږي ؛ نو بيا ذكر كولو ته يې څه ضرورت دئ ؟

جواب: صحيح ده ! تعريف د اسم مخكې په وجه د حصر كې ذكر دی، مګر دا معلوميږي پوه طالب العلم، متوسط او غبي د وجه له حصر څخه تعريف د اسم نه سي معلوملای او دلته چې بيا تعريف كوي ؛ نو رعايت د متوسط او غبي طالب العلم سوی دی .

(۴۰) پوښتنه: تعريف د اسم جامع نه دی خپلو افرادو لره چې خارج سو له اسماء افعالو څخه : ځكه دا مقترن دی بالماضي والمستقبل او دارنګه تعريف د اسم مانع نه دی د دخول له غير افعال منسلخه عن الزمان څخه او په دې كې داخل سو (كاد، كرب) او داسې نور چې دا افعال او غير مقترن دي ؟

جواب: د اقتران لپاره شرط وضع اول ده ؛ نو په دې سره اسماء افعال داخل دي په اسم كې ؛ ځكه دوی وضعا اولا مقترن نه دی او افعال منسلخه عن الزمان ځني خارج سول : ځكه اولا هغه وضع دی چې په استعمال كې منسلخ سوی دی له زماني څخه .

(۴۱) پوښتنه: اسم فاعل او اسم مفعول د تعريف له اسم څخه خارج سو ؛ ځكه دوی دوه هم مقترن دي ؟

جواب: عدم اقتران د زماني په اعتبار د فهم سره دی، يعني د لفظ له اسم څخه په اقتران د زماني نه فهميږي . دا دول اسم فاعل او اسم مفعول هم دغه شان دی، بلكې دوی په اعتبار د امور خارجيه سره مقترن دی، مثلا : (زيد ضارب الآن، زيد ضارب غدًا، زيد ضارب أمس، وكذا زيد مضروب الآن) .

(۴۲) پوښتنه: ستا په تعريف د اسم كې مضارع داخله سوه ؛ ځكه هغه په زمانينو پوري مقترن ده او تا نفي د يوې زماني كړې ده ؟

جواب: مضارع د تعريف له اسم څخه خارج ده ؛ ځكه په استعمال كې هغه په زمانه واحده پوری مقترن ده چې په يوه زمانه پوري كليمه مقترنه وي ؛ نو هغه به فعل وي او چې په زمانينو پوري مقترن وي ؛ نو هغه به په طريقه اولی سره فعل وي ؛ دا جواب پر خپل ځای دی .

قوله (أعني الماضي والحال والاستقبال) : مصنف په دې عبارت سره د ازمنه وو ثلاثه وو بيان كوي چې هغه ماضي، حال او مستقبل دی ۱- زمانه ماضي : (ما تقدّم)، تېره سوې زماني ته وايي . زمانه حال : (ما أنت فيه في زمان المتكلم) . ۳- زمانه استقبال : (ماتأخّر عن الحال) .

قوله : (كرَجُلٍ وعِلْمٍ) : د اسم لپاره يو مثال هم پوره وو ؛ خو دلته يې دوه مثالونه راوړل، يو مثال د اسم جامد دی چې (رَجُل) دی او بل مثال د مصدر دی چې (عِلْم) دی .

د قيوداتو فايده : په تعريف د اسم کي يو جنس دی او دوه فصلونه دي . لفظ د کليمې جنس دی معرف لره هم شامل دی چي اسم دی او غير معرف لره هم شامل دی چي فعل او حرف دی او په دې قيد سره چي (تدلّ علىٰ معنى في نفسها) : دا فصل اول دی چي په دې سره حرف خارج سو او په دې قيد چي (غير مقترن بأحد الأزمنة) : دا فصل ثاني دی چي په دې سره فعل خارج سو .

وعلامَتُهُ صِحَّةُ الإخْبَارُ عَنهُ. نَحْوُ : زَيْدٌ قَائِمٌ

او نښه د دې صحت د اخبرول دي له دې څخه. لکه : (زيدٌ قائمٌ)

زنځيري ترکيب : علامته مضاف مضاف إليه چي دا مجموعه مبتدا ده. صحة مضاف. الإخبار مضاف إليه. عنه جار مجرور چي ظرف لغو متعلق د اخبار پوري دی، مضاف سره له مضاف إليه او متعلقه خبر د مبتدا محذوفي چي نحو دی .

قاعده : لفظ د نحو همېشه له خپل مضاف او مضاف إليه سره خبر د مبتدا محذوفي واقع کيږي چي (نحو) دی او لفظ د مثل کي درې ترکيبونه دي : ۱- (خبر محذوف المبتداء) . ۲- (مفعول مطلق) د فعل محذوفه چي امثل دی . ۳- (مفعول به) د (أعني) فعل محذوفه .

تشريح : په دې عبارت سره ليکوال دويم تعريف د اسم بيانوي په اعتبار د وجود خارجي سره او د زيات وضاحت لپاره دلته مراد له علامې څخه خاصه ده. خاصه په لغت کي مشتق دی له خصوص څخه او خصوص ضد د عموم دی. معنا يې دا سوه چي : (خاصة ما ليست بعامة) او معنا اصطلاحي د خاصې : (ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره) . او دويمه اصطلاحي معنا يې : (ما يختص به ولا يوجد في غيره عند البعض) .

خاصه پر دوه ډوله ده : ۱- (خاصه شامله) . ۲- (خاصه غير شامله) . (خاصه شامله) دې ته وايي چي هغه شامله وي ټولو افرادو د ذو الخاصه لره، مثال يې (کتابة بالقوة) سو چي دا خاصه د انسان د ټولو افرادو د انسان لره شامل دی : ځکه هر واحد د افرادو له انسان څخه (کاتب بالقوة) دی، يعني استعداد د کتابت پکي سته او (غير شامله خاصه) دې ته وايي : چي په ټولو افرادو د ذو الخاصه کي موجوده نه وي، مثال لکه : (کتابة بالفعل) سو چي دا (خاصه غير شامله) ده ټولو افرادو د انسان لره : نو دلته مراد له خاصه څخه غير شامله ده په داسي توګه چي دا خصوص او علامات چي مصنف ذکر کړي دي شامل نه دي ټولو افرادو د اسم لره. بلکي په بعضي افرادو د اسم کي موجود دي، مثلا : الف لام نه داخليږي په اعلام باندي .

نو دا ډول په مضاف باندي چي مضاف سوی وي په اضافت معنوي سره، دا ډول په اسماء اشاراتو او موصولاتو او ضمائرو باندي او دا ډول جر او تنوين نه داخليږي په غير منصرف باندي .

او دا ډول اضافت نه جاري کيږي چي په اعلامو کي مسند إليه نه راځي په اسماء افعالو کي او دا ډول تثنيه توب او جمع توب او تصغير نه جاري کيږي په (کِلا) او (کِلتا) کي . اوله خاصه د اسم دلته مخبر عنه ذکر کړی دی. يعني اسم به مخبر عنه واقع کيږي او (مسند إليه) به

واقع کيږي او دا (مسند إليه) عام دی هغه که مبتدا وي، که فاعل وي او که مفعول ما لم يسم فاعله وي ؛ ځکه په دې درې واړو صورتونو کې له اسم څخه خبر ورکړل سوی وي په آخر شی سره او مسند إليه وي لپاره د شيء آخر ؛ ځکه په صورت د مبتداوالي کې خبر ورڅخه ورکړل سوی وي په مسند باندې چې خبر دی او په صورت د فاعل توب کې خبر ورڅخه ورکړل سوی وي په فعل معلوم باندې او په صورت د مفعول ما لم يسم فاعله کې خبر ورڅخه ورکړل سوی وي په فعل مجهول سره ؛ نو مراد له خبر ورکولو څخه دا دئ چې دا اسم به محکوم عليه او مسند إليه واقع سوی وي، بيا برابره خبره ده چې په جمله اسميه کې وي او که په جمله انشائيه کې وي .

دليل : دا مسند إليه والی ؛ ځکه خاصه د اسم ده چې مسند إليه هغه شی وي چې هغه مستقل وي او حرف غير مستقل دی او فعل اگر که مستقل دی، مگر د ده وضع سوې ده لپاره د مسند أبدا او که مسند إليه سي ؛ نو لازم به سي مخالفت له وضع څخه .

دويم دليل : مسند إليه او محکوم عليه که ذات وي او که نه وي ذات مگر اسم دی ؛ نو (هذا) له دې وجې څخه مسند إليه خاصه د اسم ده .

(۴۳) پوښتنه : دا چې : ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ۝﴾ [البقرة: ١١] ؛ په دې آيت کې (لا تُفسدوا) جمله نائب فاعل مسند إليه محکوم عليه واقع سوې ده او اسم نه دئ ؟

جواب : موږ وايو اسم عام دی، يا به اسم حقيقي وي، يا به اسم تأويلي وي او يا به اسم حکمي وي .

(۴۴) پوښتنه : زيد، عمر، بکر او داسې نور اسماء دي او مسند إليه نه دی ؟

جواب : صلاحيت پکې سته، هغه وخت چې دوی په ترکيب کې واقع سي، لکه : (جاءني زيدٌ ضرب عمرٌو) ؛ نو بيا مخبر عنه او مسند إليه واقع کيږي او مراد زما صلاحيت دی نه دا چې في الحاله دې اسم مسند إليه واقع وي، لکه : (زيدٌ قائِمٌ)، زيد مسند إليه، مخبر عنه قائم مسند او مخبر به مجموعه جمله اسميه خبريه .

قاعده : ۱- مسند إليه . ۲- مبتداء . ۳- محکوم عليه . ۴- مخبر عنه . ۵- او موضوع ؛ دا تعبيرات د مصنفينو مختلف دي چې دلته يې په علاماتو د اسم کې په مخبر عنه سره تعبير وسو او صاحب د کافيه يې مسند إليه وايي او دا ډول ۱- مسند . ۲- خبر . ۳- محکوم به . ۴- مخبر به . ۵- محمول ؛ دا تعبيرات هم مختلف دي .

وَالْإِضَافَةُ نَحْوُ : غُلامُ زَيْدٍ

۱ او اضافت هم خاصه د اسم ده، لکه : (غُلامُ زَيْدٍ)

زنځيري ترکيب : واو عاطفه، (الإضافة) معطوف، (على صحة الإخبار عنه) ؛ دا هم خبر د مبتدا چې (علامته) دی او بله خاصه د اسم اضافت دی چې ليکوال اضافت ذکر کړی او داسې يې نه ويل : چې مضاف، يا مضاف إليه ؛ نو دلته اشاره ده د نحويانو تر مينځ واختلاف ته . بعضي نحات وايي : چې مضاف خاصه داسم ده او مضاف إليه د اسم خاصه نه ده ؛ نو هغه اسم هم واقع کيږي، لکه : (غُلامُ زَيدٍ) او فعل هم واقع کيږي، لکه : ﴿.. هَـٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّـٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ...﴾ [المائدة: ١١٩] ؛ نو دلته (ينفعُ) د (يوم) لپاره فعل

مضارع مضاف إليه واقع دی او (هذا) مضاف إليه خاصه د اسم نه ده . بعضي نحات وايي : مضاف او مضاف إليه دواړه خاصې د اسم دي، کوم ځای چې مضاف فعل واقع وي؛ نو په هغې کې به تاويل په اسم باندې ځنې کيږي او دلته هم اسم تاويلي دی چې (ينفع الصادقين) دی.

دليل : اضافت خاصه او علامه داسم ده ؛ ځکه فوائد د اضافت چې تعريف، تخصيص او تخفيف دی ؛ دا خاص دي په اسم پورې؛ نو اضافت هم خاصه د اسم ده .

فايده : تعريف يعني اضافت نکره معرفه کوي هغه وخت چې کله د نکرې اضافت معرفې ته وسي، لکه دا عام مثال چې په کتابونو کې ذکر دی : (غُلَامُ زَيدٍ) .

دويمه فايده : تخصيص چې کله اضافت د نکرې ونکرې ته سي، لکه : (غُلَامُ رَجُلٍ) .

دريمه فايده : تخفيف کله چې اضافت لفظيه وي ؛ نو په اضافت سره تنوين د مضاف، يا نون د تثنيه يې، يا نون د جمع ساقطيږي، لکه : (ضارب زيد، ضاربا زيد، ضاربو زيد) .

څلورمه فايده : دلته يو قيد مراد دی په متن کې چې هغه تقدير د حرف جر دی، يعني (والإضافة بتقدير حرف الجرّ) او دا قيد لګول ضروري دي ؛ ځکه چې کله اضافت په ذکر د حرف جر سره وي ؛ نو بيا دا خاصه د اسم نه ده، بيا مضاف فعل هم واقع کيږي، لکه : (مَرَرْتُ بزيدٍ) او مصنف دا قيد نه دئ لګولی بنا پر يوه قاعده چې کله اضافت مطلقا ذکر سي ؛ نو مراد ځنې په تقدير د حرف جر سره وي او د ده په نيز باندې په تقدير د حرف جر قيد لګولو ته ضرورت رانه غلی، لکه : (غُلَامُ زَيدٍ) ؛ نو غلام مضاف، زيد مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مبتدا خبر ورله مقدر دی چې (قائمٌ) دی، يا (حاضرٌ) او داسې نور دي او مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه .

وَدُخُولُ لامِ التَّعْرِيفِ عَلَيهِ، كَالرَّجُلِ

اوبله خاصه داسم دخول دلام تعريفي دی په اسم کې، لکه (الرَّجُلِ)

ترکيب : واو عاطفه، دخول مضاف، لام مضاف إليه د مضاف، التعريف مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مضاف إليه سو د مضاف چې دخول دی او مضاف سره له مضاف إليه دا معطوف د (صحة الإخبار) دی .

تشريح : بله خاصه د اسم دخول د لام تعريفي دی چې مصنف دخول د لام تعريف ووايه په دې سره يې احتراز وکړ له لام امر، لام تاکيد او داسې نورو څخه او په لام کې لام امر په فعل باندې داخليږي چې دا د اسم خاصه نه ده .

(۴۵) پوښتنه : الف لام خاصه داسم ده، نه لام فقط او مصنف لام ذکر کړی دی فقط ؟

جواب : دلته د نحويانو درې مذاهب دي : ۱- امام سيبويه . ۲- امام خليل . ۳- امام مبرد ؛ نو امام سيبويه وايي : حرف تعريف صرف لام دی او همزه يې : د دې لپاره په ابتدا کې راوړې ده چې ابتداء بالساکن محال ده .

امام خليل وايي : چي الف لام مجموعه حرف تعريف دی، لکه : (هل) چي د استفهام لپاره حرفين دي .

امام مبرد وايي : چي حرف تعريف صرف همزه ده او لام ورسره زيات سوی دی ؛ د دې لپاره چي فرق راسي د همزې تعريفي او د همزې استفهامي غوره مذهب د امام سيبويه وو ؛ نو مصنف ذکر کړ او مختار يې کړ ، نو ويې ويل دا ډول : (دُخُول لام التّعريف) او تفصيل د نحو په کتابونو کي دی .

دليل : لام تعريف : ځکه خاصه د اسم ده چي واضع دا وضع کړی دی لپاره د دلالت په معنا مستقل مطابقي باندي او دا معنا موجوديږي په اسم کي ؛ نو ځکه لام تعريف خاصه د اسم سوه چي حرف مستقل نه دی او فعل مستقل دی ؛ خو په معنا مطابقي باندي دلالت نه کوي، بلکي په تضمني باندي دلالت کوي .

وَالجَرِّ، والتَّنْوِيْنِ نَحْوُ : بِزَيْدٍ

بله خاصه د اسم جر او تنوين دی لکه : (بزيد)

زنځيري ترکيب : الجر والتنوين معطوف معطوف عليه چي مجموعه عطف سو په لام تعريف باندي چي عبارت دا ډول سو (وَدُخُول الجَرّ والتَّنْوِيْنِ) .

(۴۶) پوښتنه : د (دخول الجَرّ) معنا صحيح ده ؛ ځکه حرف جر په اول د اسم کي داخليږي، مګر دا معنا په تنوين کي صحيح نه ده ؛ ځکه تنوين په آخر کي راځي نه په اول کي ؟

جواب : دلته د (دخول التنوين) معنی (لحوق التنوين) دی، دخول او لحوق د يو بل په معنا کارول کيږي ؛ نو دلته دخول په معنا د لحوق سره او په أسماء اشارات کي لحوق په معنا د دخول سره دی او هلته وايي : (ويلحقها حَرف التّنبيه)، لکه : (هذا) دلته هاء تنبيه په آخرد اسم اشاره کي نه ده راغلې، بلکي په اول کي راغلې ده سره له دې چي لحوق ورته وايي .

دليل : جر اثر د حرف جر دی او حرف جر راکاږي معنا د فعل او شبه فعل مدخول خپل ته او مدخول د ده نه دئ، مګر اسم دی، که فعل سي ؛ نو راکښل د حدث به سي حدث ته او که مدخول حرف سي ؛ نو راکښل د مستقل به سي غير مستقل ته او دا دواړه باطل دي .

مثال د فعل، لکه : (مَرَرْتُ بِزَيدٍ) او مثال د شبه فعل، لکه : (أنا مار بزيدٍ) .

يادونه : حروف جاره اوولس ۱۷ دي چي تفصيل به يې په حروف عامله کي راسي ؛ إنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

فايده : تنوين په لغت کي منون کرده شده راګويند او په اصطلاح کي (نون ساکنة تتبع حركة آخِر الكلمة لا لتاكيد الفعل) .

نحوي فايده (تنوين په پينځه ډوله دی) : پوه سه ! په دې چي تنوين په پينځه ډوله دی، لکه په دې پارسي شعر کي چي يو شاعر وايي :

تنوين پنج قسم اندای پسر عرض — تمکن، تنکير، ترنم، تقابل، عوض

تنوين پنج قسم شد ای يار من بگير — اول تمکن است عوض ثالثش تنکير

دیگر مقابله وترنم برادرم ! این پنج قسم یاد کن که شوی شاه بینظیر

په دې پينځه واړه تنوين کې څلور خاصې د اسم دي او يو ډول تنوين ترنم عام دی او هغه تنوينونه په راتلونکې ډول سره دي :

۱- (تنوین تمکن) : د منصرف او د غیر منصرف د فرق لپاره راځي او منصرف او غیر منصرف خاصه د اسم ده : نو تنوين تمكن هم خاء اسم ده، لکه : (رَجلٌ، زيدٌ، أحمدٌ، عمرانٌ) او داسې نور.

۲- (تنوین تنکیر) : دا د تعريف او د تنکير د فرق لپاره راځي او تعريف او تنکير خاصه داسم ده : نو دا ډول تنوين هم خاصه د اسم ـ مثال د معرفه لکه : (أسكت سكوتا الآن) : دا معنا د (صَهٍ مَهٍ) ده او مثال د نكره لكه : (أسكت سكوتا ما في وقتها).

۳- (تنوين عوض) : دا په آخر د مضاف کې عوض د مضاف إليه راځي : نو اضافت خاصه د اسم ده او دا تنوين هم خاصه د اسم ده، مـ يې لکه : (يومئذٍ، حينئذٍ، ساعتئذٍ).

۴- (تنوين مقابله) : دا د نون جمع سالم په مقابله کې راځي او نون د جمع سالم په اسم پورې ځانګړی دی : نو دا تنوين هم خاصه د ا ده، لکه : (مسلماتٌ) په مقابله د نون د (مسلمون) کې.

۵- (تنوين ترنم) : دې ته وايي چې د آواز د ښايسته کولو لپاره په آخر د اشعارو او ابياتو کې راځي، لکه په دې شعر کې چې يو شـ وايي:

أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلُ ! وَالْعِتَابَنْ وَقُولِي : إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

أَفِـدَ التَّرَحُّلُ غَيْرَ أَنَّ رِكَابَنَا لَـمَّا تَـزُلْ بِرِحَالِنَا وَكَأَنْ قَدِنْ

يانې : اې ملامت کولو والا ښځې ! ملامت او پېغور کم کړه . او داسې ووايه : كه مې سم كار وكړ : نو په تحقيق سره هغې سم وكړ . اوس كوچ وخت رانژدې سو مګر ښکه زموږ سپرلۍ د اوښانو . زموږ له کجاوو سره يې کوچ نه وكړ او حال دا چې كوچ يې وكړ (په دې وجه د ـ هوډ سوی دی !).


اوس په دې شعر کې تنوين ترنم (العِتَابَن) د اسم مثال، (أَصَابَنْ) د فعل مثال او (قَدِنْ) د حرف مثال دی : نو په دې تنوين ترنم کله اـ وي. کله فعل وي او کله حرف وي.

فایده : (۱) امام فراء وايي : تنوين د اسماء او افعالو د فرق لپاره دی . (۲) امام سيبويه وايي : د منصرف او غيرمنصرف د فرق لپاره دی (۳) او کوفيين وايي : د مفرد او د مضاف د فرق لپاره دی.

د تنوين د بحث لپاره تمرين : راتلونکي لس مثالونه دي چې د تنوين بحث ځنې زده کيږي :

(۱) ﴿... مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ ...﴾ [التحريم: ۵] . (۲) ﴿... مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ ...﴾ [التحريم: ۶] . (۳) ﴿... وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [آل عمران: ۱۰۵] . (۴) ﴿... وَعَلَىٰٓ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [البقرة: ۷] . (۵) ﴿... وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ...﴾ [الأعراف: ۵۴] . (۶) ﴿... فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا ...﴾ [الأحزاب: ۳۷] . (۷) ﴿أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا﴾ [النبأ: ۶] . (۸) ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲] . (۹) ﴿أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [البقرة: ۵] . (۱۰) (أخواتنا صالحاتٌ) .

د تنوين د پينځو ډولونو نقشه : د زيات وضاحت لپاره راتلونکي د تنوين ډولونه ښيي :



وَالتَّثْنِيَةُ وَالْجَمْعُ وَالنَّعْتُ وَالتَّصْغِيرُ وَالنِّدَاءُ ؛ فَإِنَّ كُلَّ هٰذِهٖ مِنْ خَوَاصِّ الْاِسْمِ

او (بله خاصه د اسم) تثنيه، جمع، نعت، تصغير او منادى ده؛ ځکه چې هر يو د دوى له خاصو څخه د اسم دي

زنځيري ترکيب : واو عاطفه، التثنية سره له معطوفاتو دا عطف سو په دخول باندې، يا په صحت باندې .

تشريح : تثنيه او جمع د علاماتو د اسم دي؛ ځکه دوى دلالت کوي په تعدد باندې او تعدد په حرف او فعل کې نه راځي صرف په اسم کې تعدد وي، لکه : (رَجلان، رِجال، مُسلِمان، مُسلِمون) .

(۴۷) پوښتنه : تثنيه او جمع په فعل او حرف کې هم راځي، لکه : (ضربا، ضربوا)، (نَصَرَا، نَصَرُوا) ؛ نو دا څنګه د اسم علامه سوه ؟

جواب : فعل همېشه مفرد وي او ظاهرا چې کوم تثنيه او جمع معلوميږي ؛ نو د فعل فاعل تثنيه او جمع وي او فاعل اسم وي، لکه ضرب ؛ ځکه الف فاعل ضمير بارز دى او په (ضربوا) کې واو ضمير بارز فاعل دى او دا اسم وي .

قوله (والنعت) : نعت علامه د اسم ده ؛ ځکه نعت دلالت کوي په زيادت د معنا باندې د شي او دا معنا نه راځي مګر په اسم کې او فعل او حرف زيادت نه قبلوي .

(۴۸) پوښتنه : فعل هم صفت واقع کېږي، لکه : (جاءني رَجل يضرِبُ) ؛ نو دلته رجل موصوف دی او يضرب دلته فعل، يا جمله واقع دی ؟

جواب : په کوم ځای کې چې فعل، يا جمله صفت واقع سوی وي ؛ نو په هغې کې به تاويل د اسم مفرد سوی وي او دلته (جاءني رَجل يضرب) په معنا د (جاءني رَجلٌ ضارِبٌ) سره دی او ضارب مفرد دی او يا مراد له نعت څخه منعوت دی او منعوت خاصه د اسم ده، فعل حرف منعوت نه واقع کېږي .

قوله (والتصغير) : تصغير علامه د اسم ده ؛ ځکه مصغر مقابل د مکبر دی او مکبر اسم وي ؛ نو مصغر به هم اسم وي، يا د تصغير چې کو معاني دي ؛ نو هغه په اسم کې راځي او تصغير هم په اسم کې راځي .

د تصغير معاني : پوه سه ! په دې چې تصغير څېل وزنونه لري ؛ نو هغه په راتلونکي نقشه کې وګوره ! :

مکبّر	مصغر	تصغير لپاره	شمېره
ضارِبٌ	ضويرب	قِلّت	۱
رَجلٌ	رُجيل	حقارت	۲
ابن	يا بني	محبت	۳
قرشٌ	قريش	عظمت	۴

د تصغير لپاره اريني قاعدې : (۱) درې حرفيز، يعني اسم ثلاثي تصغير په وزن د (فُعَيْلٌ) راځي، له (رَجُلٌ) څخه (رُجَيْلٌ) او له (عَبْدٌ) څخه (عُبَيْدٌ) .

(۲) له رباعي اسم څخه په وزن د (فُعَيْعِلٌ) کي، لکه : له (جَعْفَرٌ) څخه (جُعَيْفِرٌ) راځي .

(۳) له خماسي اسم څخه په وزن د (فُعَيْعِيْلٌ) کې په دې شرط چې څلورم حرف د دې مده، يا لين وي، لکه له (قِرطاسٌ) څخه (قُرَيْطِيْسٌ) راځي او که څلورم حرف مده، يا لين نه وو ؛ نو له دې څخه به پينځم حرف حذف کېږي ؛ نو تصغير د دې به په وزن د (فُعَيْلِلٌ) راځي، لکه له (سَفرجُلٌ) څخه (سُفَيرِجٌ) او دلته پينځم حرف حذف سو چې هغه لام دی .

(۴) په مؤنث سماعي کې (ة) د تصغير به ظاهرېږي لکه له (أرضٌ) څخه (أُرَيْضَةٌ) او له (شَمْسٌ) څخه (شُمَيْسَةٌ) راځي .

(۵) د کوم اسم چې آخري حرف حذف سوی وي ؛ نو په تصغير کې به معاد کولای سي، لکه له (ابن) څخه (بُنَيَّ) او د (ابن) اصل (بنوٌ) وو ؛ نو واو ځني حذف سو .

(۶) د افعالو، حروفو او اسم مبني تصغير نه راځي مګر په طور د شذوذ خلاف القياس راغلى دى، لکه په اسم اشاره کې له (الَّذي) څخه (اللُّذَيّ)، له (الّتي) څخه (اللُّتَيّا) او له (ذَا) څخه (ذُيّا) او له (تا) څخه (تُيّا) .

(۷) په تصغير کې درې اوزان قياسي دي، لکه : (فُعَيْلٌ)، (فُعَيْعِلٌ)، (فُعَيْعِيْلٌ) او نور اوزان سماعي دي .

(۸) د بعضي مصغراتو مکبر نه وي، لکه : (کميتٌ)، (الثُّريا)، (جُهَينَةٌ)، (حنينٌ) .


قوله (وَالنِّدَاء) : بله خاصه د اسم ندا ده چې مراد له نداء نه منادى ده او منادى خاصه د اسم ؛ ځکه ده چې منادى اثر د حرف نداء ده او حرف نداء خاصه د اسم ده ؛ نو منادى هم خاصه د اسم سوه .

فايده (د اسم نوري خاصې) : د اسم نوري خاصې هم سته، لکه : ۱- په اول کې چې يې ميم زائده وي، لکه : (مَضرُوبٌ) . ۲- علم وي، لکه : (عمر، بکر، زيد) . ۳- يا نسبتي يې په آخر کې وي، لکه : (بُغدادي) . ۴- تاء متحرکه يې په آخر کې وي، لکه (ضارِبَةٌ) . ۵- الف مقصوره ولري، لکه : (ضربىٰ) . ۶- الف ممدوده ولري، لکه : (ضرباء) . ۷- صيغه د منتهى الجموع وي، لکه : (دَوَّابٌ) . ۸- له حروف مشبه بالفعل څخه وي، لکه : (إنَّ)، (أنَّ)، (كَأنَّ)، (لَكِنَّ)، (لَيْتَ) او (لَعَلَّ) . ۹- تنوين مقدر وي، لکه : (أضْرَبُ) . ۱۰- لا د نفي جنس وي، لکه : (لَا رَجُلٌ قائِمٌ) . ۱۱- ما او لا وي چې مشبهتين بليس وي، لکه : (ما زَيْدٌ قائِمًا) .

او ځينو له دې علامو او خاصو څخه په راتلونکي شعر کې ذکر دي :

لام وتنوين حرف جر مسند إليه منسوب دان	پس مصغر وتثنيه مجموع ومضاف دان
پس تاي متحرکه موصوف اين علامت اسم دان	نظم کردم آنچه ديدم در کتب نحويان

په نقشه کې د اسم علامې : د زيات وضاحت لپاره په راتلونکې نقشه د اسم علامې تولي بنودل سوي دي :



د اسم د علامو تمرين : په راتلونکي تمرين کي د اسم علامې زده کيږي په داسي توګه چي استاذ يې له خپلو شاګردانو څخه وپوښتي او ورويې ښيي :

(۱) ﴿ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ ...﴾ [البقرة: ۱۹۴] . (۲) ﴿إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ ...﴾ [الأحزاب: ۳۵] . (۳) ﴿ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ﴾ [مريم: ۲] . (۴) ﴿... مِن كِتَابِ رَبِّكَ ...﴾ [الكهف: ۲۷] . (۵) ﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ ...﴾ [البقرة: ۴۰] . (۶) ﴿ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ ...﴾ [البقرة: ۳] . (۷) ﴿... يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ ..﴾ [سبأ: ۱۰] . (۸) ﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ﴾ [الماعون: ۵] . (۹) ﴿... يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفۡ ..﴾ [النمل: ۱۰] . (۱۰) (مُسْلِمُوْنَ) . (۱۱) (مدني) . (۱۲) (العِلْم عِلْمانِ)[۱] . (۱۳) (كِتاب الله) . (۱۴) (الجنّة تحت ظلال السّيوف)[۲] .

وَمَعْنَى (الإِخْبَارُ عَنْهُ) أَنْ يَكُونَ مَحْكُومًا عَلَيْهِ، لِكَوْنِهِ فَاعِلًا، أَوْ مَفْعُولًا، أَوْ مُبْتَدَأً

او معنا د (إخبار عنه) دا ده : چي وي به محکوم عليه له وجې د دې چي فاعل، يا مفعول او يا مبتدا به وي

زنځيري ترکيب : واو حرف عاطفه، معنى مضاف، الإخبار مصدر معرف باللام، عنه جار مجرور ظرف لغوه متعلق په مصدر پوري، متعلق سره له متعلقه مضاف إليه د مضاف، مضاف سره له مضاف إليه مبتدا، أن ناصبه، يكون فعل له افعال ناقصه وو څخه، هو ضمير مستتر، اسم محكوما صيغه د اسم مفعول، عليه جار مجرور چي نائب فاعل د اسم مفعول دی ؛ دا مجموعه خبر د مبتدا، لام جار، كون فعل ناقص مضاف، ه ضمير محلا مجرور مضاف إليه معنا مرفوع اسم د فعل ناقص، فاعلا معطوف عليه، أو عاطفه، مفعولا معطوف معطوف عليه، أو بيا عاطفه مبتدا د معطوف معطوف عليه، معطوف عليه سره له معطوفاتو خبر د كون، فعل ناقص سره له اسم او خبره مجرور د جار سو، جار سره له مجروره ظرف لغوه چي متعلق په يكون پوري دی، يكون سره له اسم، خبر او متعلقه په تاويل د مصدر سره خبر د معنا سو ؛ نو مبتدأ سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه .

تشريح : په دې عبارت سره ليکوال جواب د يو سوال مقدر کوي او سوال، ياني پوښتنه داسي ده : چي په علاماتو د اسم کي له اولي علامې څخه تعبير په (صحة الإخبار) سره وسو ؛ نو يو وهم پيدا سو چي مراد به له (صحة الإخبار) څخه مبتدا وي او فاعل او نائب

---

(۱) دا په اثر کي راغلي او اثر د حضرت حسن بصري رحمه الله دی او عبارت يې په داسي دول دی : (العِلْمُ عِلْمَانِ : فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذَلِكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ، وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ فَذَلِكَ حُجَّةُ اللهِ عَلَى ابْنِ آدَمَ) ؛ دا اثر هم دی او مرسل حديث هم چي دواړه په خپلو سندونو سره امام دارمي په خپل (سنن) کي روايت کړي دي، پکي وګوره ! ؛ كتاب العِلم، باب : التوبيخ لمن يطلب لغير الله، (۳۷۶) او (۳۷۷) شمېري.

(۲) دا په حديث کي راغلي او حديث متفق عليه دی، يعني : بخاري او مسلم دواړو روايت کړی دی. وګوره ! (اللؤلؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان) حديث شمېره (۱۱۳۷).

فاعل به مخبر عنه نه وي ؛ نو مصنف دغه وهم او سوال دفع کړ او وضاحت یې وکړ په دې عبارت سره چې (ومعنی الإخبار عنه)، یعني مراد زماله (الإخبار عنه) څخه (محکوما علیه) دی او معنا د محکوم علیه ظاهره ده چې فاعل وي، که مبتدأ وي او که نائب فاعل وي.

دا ټول بل وهم هم په دې عبارت سره دفع سو چې (الإخبارعنه) مراد جمله خبریه به وي ؛ نو دا حاصل څني راځي چې په جمله انشائیه کې به فاعل او نائب فاعل اسم ضرور وي ؛ نو جواب دلته محکوم علیه مراد دی ؛ نو اوس اشکال دفع سو اه !.

په کلام کې د **مسند** او **مسند إلیه ډولونه** : لومړی د (مسند في الکلام) ډولونه لکه : ۱- فعل . ۲- اسم فعل . ۳- خبر د مبتدا . ۴- خبر افعال ناقصه . ۵- خبر د حروف مشبه بالفعل . ۶- خبر د لا لنفي الجنس .

او د (مسند إلیه في الکلام) ډولونه لکه : ۱- فاعل . ۲- نائب فاعل . ۳- مبتدا . ۴- اسم حروف مشبه بالفعل . ۵- اسم د ما او لا مشبهتان . ۶- اسم افعال ناقصه . ۷- اسم لا لنفي الجنس .

وَيُسَمّٰى إِسْمًا لِسُمُوِّهٖ عَلٰى قَسِيْمَيْهِ، لَا لِكَوْنِهٖ وَسْمًا عَلَى الْمَعْنٰى

او نوم به ایږدی اسم ته له وجې د کېدو د ده عالي په خپلو دوو ډولونو باندې نه له دې وجې چې دا علامه ده پر خپلې معنا

زنځیري ترکیب : واو عاطفه، یا استئنافیه، یُسمّٰی فعل مضارع مجهول ضمیر پکې مستتر دی، هغه نائب فاعل، اسما مفعول به، لام حرف جر، سمو مضاف، ه ضمیر مضاف إلیه، علی جار، قسیمیه مجرور، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په سمو پوري، سمو مضاف سره له مضاف إلیه او متعلقه مجرور د جار سو، جار سره له مجروره معطوف علیه . لا عاطفه . لام جار . کون فعل ناقص مضاف، ه ضمیر محلا مجرور مضاف إلیه، معنا مرفوع اسم، وسما موصوف، علی المعنی جار او مجرور ظرف مستقر چې متعلق په کائن پوري دی : دا صفت د وسما سو .

موصوف سره له صفته خبر د کون سو، کون سره له اسم او خبره مجرور د جار سو. جار سره له مجروره معطوف سو د لسموه، معطوف سره له معطوف علیه ظرف لغوه چې متعلق په یُسمی پوري دی. فعل سره له نائب فاعل او سره له متعلقه جمله فعلیه خبره سوه .

تشریح : په دې عبارت سره مصنف وجه تسمیه د اسم بیانوي. دا اسم په اصل کې د نحاتو اختلاف دی او په دې کې دوه مذهبونه دي کوفیان او بصریان :

(۱) د بصریانو په مذهب د اسم اصل (سِمْوٌ) وو چې ناقص واوي په معنا د بلند اوچت کېدو سره دی او دلیل د دوی جمع د دې اسماء راځي او تصغیر د ده (سُمَيٌّ) راځي چې په اصل کې (سُمَيْوٌ) وو او دا ناقص واوي دی ؛ نو معلومه سوه چې اصل د اسم (سِمْوٌ) وو. واو پکې حذف سو او د سین اعراب میم ته نقل سو. په اول کې یې همزه راوړل سوه له وجې د ابتدا په ساکن سره او دا محال ده : نو (اسم) سو او له جمع او تصغیر څخه معلومیږي چې دا ناقص واوي دی او ویل کیږي : (التصاغیر والتکاسیر تردان الأشیاء إلی أصولها).

یعني تصغیرونه او تکسیرونه اړوي شیان وخپلو اصولو (بنسټونو) ته .

(۲) او کوفيان وايي : د اسم اصل (وِسْمٌ) دی چې مثال واوي دی، واو يکې حذف سو او د دې په بدله کې همزه وصليه راوړل سوه؛ نو اسم ځني جوړ سو او دليل د دوی دا دئ : چې جمع د ده (أوسَامٌ) راځي او تصغير د ده (وَسِيمٌ) راځي او قاعده ذکر سوه چې (التصاغير والتكاسير إلخ) ده.

د راجح مذهب تعين : راجح مذهب د بصريانو دی؛ ځکه د اسم جمع او تصغير (أسماء) او (سمو) راغلی دی نه (أوسام) او (وسيم)؛ نو معلومه سوه چې اسم مشتق دی له (سموٌ) څخه او کوفيان وايي : چې اسم علامه ده په خپله معنا باندي؛ ځکه ورته اسم وايي او مشتق دی له (وسمٌ) څخه؛ نو بيا دې فعل ته هم اسم وويل سو؛ ځکه هغه هم په خپله معنا باندي علامه ده.

د اسم وجه تسميه : د اسم معنا ده اوچت والی او اسم هم په خپلو اخوينو او قسمينو سره چې فعل او حرف دی اوچت او بلند دی؛ ځکه اسم مسند او مسند إليه دواړه واقع کيږي چې له دې څخه کلام جوړيږي - له دې وجې (اسم) ورته وايي.

او ځيني نحويان وايي : (اسم) ته؛ ځکه (اسم) وايي چې اسم علامې ته وايي؛ نو اسم هم علامه ده چې په خپله معنا باندي دلالت کوي، لکه مصنف دې ته اشاره کړې ده په (لا لكونه وسما على المعنى) کې اه!.

وَحَدُّ الفِعْلِ : كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلَىٰ مَعْنًى فِي نَفْسِهَا دَلَالَةً مُقْتَرِنَةً بِزَمَانٍ ذَٰلِكَ الْمَعْنَىٰ كَـ (ضَرَبَ, يَضْرِبُ, اِضْرِبْ)

او تعريف د فعل : دا يوه کليمه ده چې دلالت کوي په خپله معنا چې کائنه وي په نفس د کليمې کې په دلالت مقترنه سره په دغي زماني پوري، لکه : (ضَرَبَ، يَضْرِبُ، اِضْرِبْ)

ز نځيري تر کيب : حد الفعل مضاف مضاف إليه چې دواړه مبتدا، کلمة موصوف، تدل فعل، هي ضمير فاعل، على جار، معنى موصوف، في نفسها جار مجرور ظرف مستقر متعلق په کائن پوري چې دا مجموعه صفت د موصوف سو، موصوف سره له صفته مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په تدل پوري، دلالة موصوف، مقترنة صفت، با جار، زمان مضاف، ذلک اسم اشاره، المعنى مشار إليه، اسم اشاره سره له مشار إليه مضاف إليه د مضاف سو، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په مقترنة پوري، متعلق سره له متعلقه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مفعول مطلق د تدل، تدل سره له فعل او مفعول مطلقه صفت، کليمه موصوف سره له صفته خبر د مبتدا محذوفي چې هي دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه خبر د مبتدا چې حد الفعل دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

تشريح : هر کله چې مصنف فارغ سو د اسم له تعريف څخه په اعتبارينو سره چې وجود ذهني او وجود خارجي وو؛ نو په دې عبارت سره هم تعريف د فعل کوي په اعتبارينو سره : ۱- تعريف په اعتبار د وجود ذهني سره کوي چې (حدّ الفعل إلخ) دی. ۲- او تعريف په اعتبار د وجود خارجي سره هم کوي په (وعلامات الفعل) سره اه!.

(۲) او كوفيان وايي : د اسم اصل (وِسْمٌ) دی چي مثال واوي دی، واو پکي حذف سو او د دې په بدله کي همزه وصليه راوړل سوه؛ نو اسم څني جوړ سو او دليل د دوی دا دئ : چي جمع د ده (أوسَامٌ) راځي او تصغير د ده (وُسَيمٌ) راځي او قاعده ذکر سوه چي (التصاغير والتكاسير إلخ) ده .

د راجح مذهب تعين : راجح مذهب د بصريانو دی؛ ځکه د اسم جمع او تصغير (أسماء) او (سمو) راغلی دی نه (أوسام) او (وسيم)؛ نو معلومه سوه چي اسم مشتق دی له (سموٌ) څخه او كوفيان وايي : چي اسم علامه ده په خپله معنا باندي؛ ځکه ورته اسم وايي او مشتق دی له (وسمٌ) څخه؛ نو بيا دې فعل ته هم اسم وويل سو؛ ځکه هغه هم په خپله معنا باندي علامه ده .

د اسم وجه تسميه : د اسم معنا ده اوچت والی او اسم هم په خپلو اخوبنو او قسمينو سره چي فعل او حرف دی اوچت او بلند دی؛ ځکه اسم مسند او مسند إليه دواړه واقع کيږي چي له دې څخه کلام جوړيږي – له دې وجي (اسم) ورته وايي .

او ځيني نحويان وايي : (اسم) ته؛ ځکه (اسم) وايي چي اسم علامې ته وايي؛ نو اسم هم علامه ده چي په خپله معنا باندي دلالت کوي، لکه مصنف دې ته اشاره کړې ده په (لا لكونه وسما على المعنى) کي اه ! .

وَحَدُّ الفِعْلِ : كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلَىٰ مَعْنًى فِي نَفْسِهَا دَلَالَةً مُقْتَرِنَةً بِزَمَانٍ ذَٰلِكَ الْمَعْنَىٰ كَـ (ضَرَبَ, يَضْرِبُ, اِضْرِبْ)

او تعريف د فعل : دا يوه کليمه ده چي دلالت کوي په خپله معنا چي کائنه وي په نفس د کليمي کي په دلالت مقترنه سره په دغي زماني پوري، لکه : (ضَرَبَ، يَضْرِبُ، اِضْرِبْ)

زنځيري ترکيب : حد الفعل مضاف مضاف إليه چي دواړه مبتدا، كلمة موصوف، تدل فعل، هي ضمير فاعل، على جار، معنى موصوف، في نفسها جار مجرور ظرف مستقر متعلق په كائن پوري چي دا مجموعه صفت د موصوف سو، موصوف سره له صفته مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په تدل پوري، دلالة موصوف، مقترنة صفت، با جار، زمان مضاف، ذلك اسم اشاره، المعنى مشار إليه، اسم اشاره سره له مشار إليه مضاف إليه د مضاف سو، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په مقترنة پوري، متعلق سره له متعلقه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مفعول مطلق د تدل، تدل سره له فعل او مفعول مطلقه صفت، كليمه موصوف سره له صفته خبر د مبتدا محذوفي چي هي دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه خبر د مبتدا چي حد الفعل دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه .

تشريح : هر کله چي مصنف فارغ سو د اسم له تعريف څخه په اعتبارينو سره چي وجود ذهني او وجود خارجي وو؛ نو په دې عبارت سره هم تعريف د فعل کوي په اعتبارينو سره : ۱- تعريف په اعتبار د وجود ذهني سره کوي چي (حدّ الفعل إلخ) دی . ۲- او تعريف په اعتبار د وجود خارجي سره هم کوي په (وعلامات الفعل) سره اه ! .

(۴۹) پوښتنه: د تعريف له فعل څخه فعل مضارع خارجه سوه؛ ځکه په فعل مضارع کي دوې زماني دي؟

جواب: د فعل مضارع په باره کي اختلاف دی چي په دې کي د علماؤ درې مذاهب دي: ۱- اول مذهب: وضع د فعل مضارع صرف د زماني د استقبال لپاره ده او په حال کي يې استعمال مجازي دی. ۲- دويم مذهب: عکس د اول دی چي د حال لپاره حقيقتا وضع سوې ده او د استقبال لپاره مجازا. ۳- او دريم مذهب دا دئ: چي مضارع د حال او استقبال دواړو لپاره وضع سوې ده.

او دا سوال پر دريم مذهب واردېږي نه په مذهب اول او ثاني او له دريم مذهب څخه جواب دا دئ چي فعل مضارع په يو وخت کي پر زمانينو دلالت کوي او دا پر سبيل د بدليت، له دې وجي زمانه بالفعل يکي يوه ده: نو فعل مضارع خارج نه ده له فعل څخه اه!. او بل جواب يې دا دئ: چي يوه کليمه په زمانه واحده پوري مقترنه وي؛ نو هغه به فعل وي او کله چي په زمانينو پوري مقترنه وي؛ نو په طريق اولى به فعل وي.

وَعَلَامَتُهُ أَن يَصِحَّ الإِخْبَارُ بِهِ لَا عَنْهُ.

او علامه يې دا ده چي صحيح کيږي به اخبار په ده سره نه له ده څخه

زنځيري ترکيب: علامه مبتدا، أن مصدريه ناصبه، يصح فعل، الإخبار مصدر معروف باللام، به جار مجرور ظرف لغوه متعلق په الإخبار پوري، لا عاطفه، عنه جار مجرور چي دا معطوف د به دی، به معطوف عليه؛ دا مجموعه متعلق په الإخبار پوري، فعل سره له فاعله په تاويل د مفرد سره خبر سو د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه سوه.

تشريح: په دې عبارت سره تعريف د فعل کوي په اعتبار د وجود خارجي سره چي اوله علامه د فعل مخبر به ده؛ ځکه فعل حدث او غرض دی او اعراض او احداث مسند وي.

او فعل واضع وضع کړی دی مسند له دې وجي مسند به مخبر به خاصه د فعل سوه.

(۵۰) پوښتنه: دا قيد په عبارت کي چي (لا عنه) دا مستدرک دی؛ ځکه مخبر به او مخبر عنه يو شی وي؟

جواب: دا ستا وهم دی په دې دواړو کي فرق دی او په اصل کي إخبار بالشيء په دوه ډوله دی: ۱- اول ډول دا دئ چي په دې باندي به خبر هم ورکول کيږي، يعني مخبر به به واقع کيږي او له ده څخه به خبر ورکول سي، يعني مخبر عنه به واقع کيږي؛ نو دا ډول د إخبار خاصه د اسم ده او خاصه د فعل نه ده؛ ځکه فعل مخبر عنه نه واقع کيږي.

دويم ډول د إخبار به دا دئ: چي دا شی مخبر به واقع کيږي او مخبر عنه نه واقع کيږي، يعني په ده سره به د بل شی خبر ورکول کيږي او له ده څخه به په بل شی خبر نه ورکول کيږي او دا خاصه د فعل ده؛ نو له دې وجي مصنف دا قيد چي (لا عنه) دی ورسره ذکر کړ او که يې نه وای ذکر کړی؛ نو إخبار به يې مطلقا ذکر کړی وای او بيا دا توهم پيدا کېدی چي مخبر به مطلقا خاصه د فعل ده او حال دا دئ چي داسي نه ده: نو د (لا عنه) د ذکر کولو فايده دا سوه چي مستدرک نه دی.

وَدُخُولُ (قَدْ. وَالسِّيْنِ. وَسَوْفَ. وَالجَزمِ)

او (علامه د فعل په اول د فعل کې) ننوتل د (قد، سين، سوف) او حرف (جازم) دي

زنځيري ترکيب : دخول مضاف، قد معطوف عليه، السين وسوف والجزم معطوفات، معطوف عليه سره له معطوفاتو مضاف إليه سو د مضاف چې دخول دی، مضاف سره له مضاف إليه معطوف عليه د أن يصح .

تشريح : بله خاصه د فعل (قد) دی : ځکه (قد) چې په ماضي داخل سي : نو (تحقيق مع التقريب) پيدا کوي، لکه : (قد ضرب) او چې په مضارع داخل سي : نو (تحقيق مع التقليل) پيدا کوي، لکه : (قد يضرِبُ) او دا معاني نه راځي، مګر په فعل کې : نو (قد) به هم علامه د فعل وي .

کله کله (قد) د تاکيد لپاره هم راځي، لکه : (قد ضرب في جواب مَن قال هل قام زيد ؟!)، کله کله په مضارع داخل سي : نو صرف تحقيق پيدا کوي، لکه : ﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِ ...﴾ [البقرة: ١٤٤] .

بله خاصه د فعل (سين) او (سوف) دی او دوی خاصې د فعل : ځکه دي چې (سين) دلالت کوي په استقبال قريب باندي او (سوف) راځي د استقبال بعيد لپاره او دا معاني د استقبال قريب او استقبال بعيد نه وي، مګر په فعل کې وي : نو (سين) او (سوف) په دې وجه خاصې د فعل دي .

(۵۱) پوښتنه : مصنف (السين) معرفه او (سوف) نکره ولې ذکر کړه او دواړه معرفه ذکر کول پکار وه، يا دواړه نکره ذکر کول پکار وه؟

جواب : (السين) يې معرفه ذکر کړ : ځکه د دې اقسام ډېر ول چې په هغو کې يو (سين کسکسه) وو چې هغه خاصه د فعل نه وه : نو الف لام ځني ليري‌کول چې مراد له سين څخه به هغه وي کوم چې په فعل داخليږي نه مطلقا سين او (سوف) صرف يو سوف وو : نو ځکه يې نکره ذکر کړی .

د سين دولونه : سين پر شپږ ډوله دی : ۱- د استقبال لپاره، لکه : (سَيَضْرِبُ) . ۲- سين زائده، لکه : (استطاع) . ۳- سين تحويل، لکه : (استحجر الطّين)، أي : تحولت حجرًا . ۴- سين وجدان، لکه : (استکبر)، (أبى واستکبر) . ۵- سين طلب، لکه : (استطعم)، (استطهم أهلها) . ۶- سين کسکسه، لکه : (مررتُ بكِس) او دا مذکوره خاصې د فعل دي .

او سين کسکسه دې ته وايي چې په آخر د ضمير چې کاف دی په مؤنث مخاطبي پوري پيوست کيږي : لپاره د دې خبري چې التباس رانه سي د ضمير د مؤنث مخاطب له مذکر مخاطب سره په حالت د وقف کې، لکه : (مررتُ بكَ) چې مخاطب ستا مذکر وي : نو هر کله چې وقف تا وکړ : نو (مررتُ بكَ) سو چې اوس التباس راغی (بين الضّمير المذکر المخاطب وبين الضّمير المؤنث المخاطب) .

لهذا که سین په آخر کې پیوست سوی وو ؛ نو ضمیر د مؤنث به وي، لکه : (مَرَرْتُ بِكِسِ) او که سین یې په آخر کې نه وي پیوست سوی ؛ نو ضمیر د مؤنث به نه وي .

تشریح : بله خاصه د فعل جزم دی او جزم ؛ ځکه خاصه د فعل ده چې جزم اثر د حرف جازم دی او جازم خاصه د فعل وه ؛ نو جزم به هم خاصه د فعل وي ؛ د دې لپاره چې لازم نه سي وجود د اثر بې له موثره او حروف جوازم پينځه دي : ۱- (إن) . ۲- (لم) . ۳- (لما) . ۴- (لام أمر) . ۵- (لا ناهية) .

(۵۲) پوښتنه : حروف جوازم ولې خاصې (علامې) د فعل دي ؟

جواب : ځکه چې دا جوازم یا وضع سوي دي لپاره د نفي د فعل، لکه : (لم) او (لما) چې په دې دواړو سره فعل نفي کیږي، لکه : (لَمْ يَضْرِب) او (لَمّا يَضْرِب) .

یا دا جوازم وضع سوي دي لپاره د طلب د فعل، لکه : (لام أمر) چې مثال یې دی : (لِيَضرِب) .

یا وضع سوي دي لپاره د نهي عن الفعل، لکه : (لَا تضرب) .

یا وضع سوي دي لپاره د معلق کولو د یو شي تر فعل پوري، لکه : کلمات د شرط چې مثال یې دی : (إِنْ جَلَسْتَ جَلَسْتُ ا) او یا دا سې نور مثالونه یې اه ! .

وَالتَّصْرِيفُ إِلَى الْمَاضِيْ وَالْمُضَارِعِ

او (بله خاصه د فعل) تصریف دی و(فعل) ماضي او مضارع ته

زنځیري ترکیب : (التّصریف) مصدر معرفه په الف او لام سره وجار ته، الماضي معطوف علیه، المضارع معطوف، بیا دا معطوف علیه سره له معطوفه مجرور د جار سو، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په مصدر پوري، متعلق سره خپل متعلقه معطوف سو په أن یصح پوري .

تشریح : دا بله خاصه د فعل ده چې له ده څخه به ماضي او مضارع جوړیږي او که څوک وایي : چې تصریف ولې خاصه د فعل ده ؟ نو په جواب کې یې دا ویل سوي : چې ځکه دا انقسام د فعل دی په اعتبار د زماني سره او زمانه نه وي مګر په فعل کې وي .

وَكَوْنُهُ أَمْرًا، أَوْ نَهْيًا

او (بله خاصه د فعل) کېدل دي د ده امر او نهي

زنځیري ترکیب : دا مجموعه معطوف علیه چې دا عطف دی په أن یصح باندي .

لږ تشریح : دلیل د دادواړه خاصې د فعل دي ؛ ځکه دوی راځي لپاره د طلب، مګر په امر کې طلب د فعل وي او په نهي کې طلب د ترک الفعل وي او طلب نه وي مګر په فعل کې وي .

(۵۳) پوښتنه : مصنف ولې نه وویل چې : (والتّصریف إلى الأمر والنهي) لکه څرنګه چې یې وویل : (إلى الماضي والمضارع) ؟

جواب : په دې کې مصنف لحاظ د مذاهب ثلاثه وو کړی دی په داسې توګه چې په امر او نهي کې درې مذاهب دي : اول مذهب دا دیٔ : چې امر او نهي د فعل ډولونه دي .

دویم مذهب دا دیٔ : چې ماضي او مضارع فقط د فعل ډولونه دي او هر چې امر او نهي دی : نو دا د مضارع ډولونه دي .

او دریېم مذهب دا دیٔ : چې د فعل ډولونه درې دي : ماضي، مضارع او امر او نهي د مضارع ډول دی : نو که (التّصريف إلى الأمر والنهي) یې ویلی وای : نو اول مذهب به ثابت سوی وای چې د فعل تقسیم دواړو ته سوی دی او د دویم مذهب اثبات بیا نه کېدی : ځکه دوی وایي : چې دا اقسام د مضارع دي او دریېم مذهب باندې امر صحیح کېدی : ځکه هغه د فعل ډول دی، مګر د نهي په باره کې نه صحیح کېدی .

ځکه د دوی په مذهب کې دا قسم د فعل نه دیٔ، بلکې د مضارع دی : نو هر کله چې مصنف وویل : (وكونه أمرًا ونهيًا) : نو درې واړه مذاهب ثابت سول : ځکه معنا د کلام د مصنف دا ده : چې فعل کله امر کېږي او کله نهي کېږي، بیا برابره خبره ده که دا فعل بالذات امر او نهي وي، لکه دا مذهب اول دی او که په واسطه د مضارع سره امر او نهي وي، لکه دا دویم مذهب دی او که امر بالذات وي او نهي په واسطه د مضارع وي، لکه دا دریېم مذهب چې دی .

وَاتِّصَالُ الضَّمَائِرِ الْبَارِزَةِ الْمَرْفُوْعَةِ نَحْوَ : (ضَرَبْتُ)

او (بله خاصه د فعل) اتصال د ضمائرو بارزه وو دی چې مرفوع وي، لکه : (ضَرَبْتُ)

ز نځیري ترکیب : اتصال مضاف، الضمائر موصوف، البارزة صفت اول، المرفوعة صفت ثاني، موصوف سره له دواړو صفتینو مضاف إليه سو، مضاف، مضاف سره له مضاف إليه دا معطوف د أن يصح سو .

تشریح : بله خاصه د فعل اتصال د ضمیر بارزه مرفوعه دی، لکه په (ضَرَبْتُ) کې (تُ) ضمیر بارز مرفوع متصل دی چې صیغه د واحد متکلم ده او په (ضربْتَ) کې (تَ) ضمیر بارز مرفوع متصل دی چې صیغه د واحد مذکر مخاطب ده او لکه په (ضربتِ) کې (تِ) ضمیر بارز مرفوع متصل دی چې صیغه د واحده مؤنثه مخاطبه (ضربنَ) ده : ځکه (نَ) لکه په (ضربْتُ) کې ضمیر بارز مرفوع متصل دی چې صیغه د (متکلم مع الغیر) ده او دا خاصه د فعل ده : ځکه دا ضمائر فاعل وي او فاعل د فعل لپاره وي .

(۵۴) پوښتنه : فاعل خو د ملحقاتو د فعل لپاره هم وي چې اسم فاعل، صفت مشبه او اسم تفضیل دي : نو دا څنګه خاصه د فعل سوه؟

جواب : د هغوی فاعل ضمیر مستتره وي نه بارزه : ځکه بیا به مساوات د فرع چې ملحقات د فعل دي له اصل سره چې فعل دی لازم سي دا باطل دي : نو مصنف قید د بارزه ولګوی چې په دې سره ضمیر مستتره خارج سو .

ځکه هغه خاصه د فعل نه ده او په قید مرفوعه سره ضمیر منصوب او مجرور خارج سو : ځکه هغه هم خاصه د فعل نه ده چې هغوی په حرف اسم پورې هم متصل کېدای سي او نور تفصیل به د (الضمائر) په بحث کې راسي : إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ .

وَتَاءِ التَّأْنِيثِ السَّاكِنَةِ نَحوَ : (ضَرَبْتُ)

او (بله خاصه د فعل) اتصال د تاء ساکنه دی، لکه : (ضَرَبْتُ)

زنځيري ترکيب : تا مضاف، التأنيث موصوف، الساکنة صفت، موصوف سره له صفته مضاف إليه د مضاف، مضاف سره له مضاف إليه ؛ دا معطوف د الضمائر سو.

تشريح : تاء تانيث ساکنه ؛ ځکه خاصه د فعل ده ؛ ځکه دا په مقابله د تاء متحرکه کي ده او هغه خاصه د اسم ده ؛ نو دا خاصه د فعل سوه .

(٥٥) پوښتنه : عکس ولې نه وسو چي هغه تاء متحرکه خاصه د فعل سي او تاء ساکنه خاصه د اسم سي ؟

جواب : اسم خفيف دی او فعل ثقيل دی او قاعده دا ده چي ثقيل تقاضا کوي د خفت، له دې وجي فعل ته تاء ساکنه ورکړل سوه ؛ ځکه دا خفيفه ده او اسم ته تاء متحرکه ورکړل سوه ؛ ځکه دا ثقيله ده .

بل جواب : (تاء التأنيث) دلالت کوي په تانيث د فعل باندي او فاعل د فعل لپاره وي ؛ نو دا به هم خاصه د فعل وي .

قاعده (د تاء ډولونه) : تاء په سر کي پر دوه ډوله ده : ١- تاء مطوله (ت) چي په حالت د وقف کي په هاء نه بدليږي او دا په فعل کي هم راځي، لکه : (ضربت) او په اسم کي هم راځي، لکه : (مسلمات) . ٢- تاء مدوره (ة)، يعني غونډه تاء چي په حالت د وقف کي په هاء بدليږي او دا د اسم له خواصو څخه نه ده او دا ډول تاء لس ډوله ده :

(١) تاء مصدريه، لکه : (فاعلِيَّةْ ومفعُوْلِيَّةْ) . (٢) تاء نقل، لکه : (کافيةْ) . (٣) تاء مؤنثه، لکه : (امرَأَةْ، نَاقَةْ) . (٤) تاء عوض، لکه : (عِدَةْ) . (٥) تاء حالت، لکه : (جِلْسَةْ) . (٦). تاء وحدت، لکه : (تَمَرَةْ) . (٧) تاء مذکر، لکه : (ثلاثَةَ رِجالٍ) . (٨) تاء مرة، لکه : (دفعةْ، جلسةْ) . (٩) تاء زائده، لکه : (زَنَادِقَةْ) . (١٠) تاء مبالغه، لکه : (علامةْ) .

او دا مجموعه په دې يو شعر کي هم راغلي دي :

مصدر، وتانيث، وحدت، مرت، مبالغه ‌ ‌ ‌ ‌ نقل، عوض، مذکر، حالت، تائی زائده

وَنُونَيِ التَّأْكِيدِ

او (بله خاصه د فعل) دوه نونان د تاکيد دي [چي مراد ځني نون ثقيله او نون خفيفه دی] .

زنځيري ترکيب : نوني مضاف، التاکيد مضاف إليه ؛ دا مجموعه عطف دی په الضمائر باندي .

تشريح : بله خاصه د فعل اتصال د نون تاکيد ثقيله او خفيفه دی په فعل پوري او دا خاصه د فعل ؛ ځکه ده چي دا دواړه نونان راځي د تاکيد لپاره او دا معنا موجوديږي په فعل کي ؛ نو دا هم خاصه د فعل سوه د نون تاکيد ثقيله او خفيفه چي تفصيل به يې د کتاب په آخر کي راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

فَإِنَّ كُلَّ هٰذِهٖ خَوَاصُّ الْفِعْلِ

نو دا ټوله (مذكوره) خواص د فعل دي

ژنخيري تركيب : فاء فصيحيه، إن حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، كلّ هذه اسم د إن، خواص الفعل خبر د إنّ، إنّ سره له اسم او خبره جمله اسميه خبريه سوه.

تشريح : مصنف په دې عبارت سره جواب وركوي د يوې پوښتني او پوښتنه داسې كيږي : چې علامه د شي له شي څخه نه جلا كيږي او خيني د يادو علاماتو له فعل څخه جلا كيږي.

لكه (نونِ التّأكيد) چې په ماضي كې نه راځي او دا ډول (تاء التأنيث الساكنة) په مضارع پوري نه پيوست كيږي؛ نو دا څنګه د فعل علامې سوې؟ مصنف په دې عبارت سره جواب وركوي : چې مراد له علامو څخه خواص دي او خاصه د شي دا ده چې په هغه شي كې او په بل كې نه وي او خاصه په دوه ډوله ده : شامله او غير شامله؛ نو دلته مراد له (خاصه) څخه غير شامله ده لكه څرنګه چې مخكې دا خبره تېره سوه چې اوس يې مكررولو ته ارتيا نسته.

وَمَعْنَى الْإِخْبَارِ بِهٖ أَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْمًا بِهٖ

او معناد (إخبار به) دا ده چې محكوم به وي

ژنخيري تركيب : معنى مضاف، الإخبار مصدر معرف باللام، به جار مجرور چې دا ظرف متعلق په الإخبار پوري دى، الإخبار سره له خپل متعلقه مضاف إليه د مضاف، مضاف سره له مضاف إليه مبتدا، أن مصدريه، يكون فعل له افعال ناقصه وو څخه، هو ضمير پكې مستتر دى چې هغه اسم د يكون دى، محكوما اسم مفعول، به جار مجرور چې نائب فاعل دى، اسم مفعول سره له نائب فاعل چې شبه جمله خبر د يكون دى، يكون سره له اسم او خبره جمله فعليه خبريه سوه په تاويل د مصدر سره چې خبر د مبتدا دى، مبتدا سره خبره جمله اسميه خبريه سوه.

تشريح : غرض عبارت مخكي (الإخبار به) ذكر سو چې د دې مراد واضح نه وو او شبه له دې څخه پيدا سوه چې امر او نهي لره به شامل نه وي : ځكه دوى مخبر به نه وي؛ ځكه دوى له انشاء څخه دي : نو دلته معنا واضح كوي د (الإخبار به) په دې عبارت سره (ومعني الأخبار به إلخ) چې مراد له (إخبار به) څخه (محكوما به) دى او دا لفظ امر او نهي لره شامل دى.

وَيُسَمّٰى فِعْلًا بِاسْمِ أَصْلِهٖ وَهُوَ الْمَصْدَرُ؛ لِأَنَّ الْمَصْدَرَ هُوَ فِعْلُ الْفَاعِلِ حَقِيْقَةً

او مسمى كيږي په اسم د خپل اصل سره او هغه مصدر دى؛ ځكه مصدر خاص فعل د فاعل دى په حقيقت كې

ژنخيري تركيب : يسمى فعل مجهول، هو ضمير پكې مستتر نائب فاعل، فعلا مفعول به، باسم أصله جار مجرور ظرف لغوه چې متعلق په يسمى پوري دى، واو اعتراضيه، هو مبتدا، المصدر خبر، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه معترضه، لام جار، أنّ حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، المصدر اسم د أنّ، هو مبتدا فعل د الفاعل چې مضاف مضاف إليه دى مبهم مميز، حقيقة تميز، مميز سره له تميزه خبر د مبتدا

چي هو دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبر د أنّ سو، أنّ سره له اسم او خبره په تاويل د مفرد مجرور د جار سو، جار سره له مجروره ظرف مستقر متعلق په ثابت پوري دی او دا خبر د مبتدا محذوفي دی چي هذا دی.

تشريح: په دې عبارت سره مصنف وجه تسميه د فعل ذکر کوي چي فعل نحوي ته فعل؛ ځکه وايي چي فعل حقيقة نوم د مصدر دی د فعل نحوي؛ نو دا معنا مصدري د فعل ورکړه فعل اصطلاحي لره.

ځو مصدري اصطلاحګاني: د ځو مصدري اصطلاحو په نحو کي جلا مراد وي چي هغه په راتلونکي ډول سره دي، لکه:

۱- (تسمية الفرع باسم الأصل) مصدر اصل دی او فعل فرعه ده؛ ځکه فعل مشتق کيږي له مصدر څخه؛ نو مصدر مشتق منه سو او فعل مشتق؛ نو مشتق منه اصل وي او مشتق فرعه وي او بل تعبير داسي هم څني کيږي.

۲- يا (مِن قبيل تسمية المشتق باسم المشتق منه).

۳- يا (تسمية الأفراد بالجنس).

۴- يا (تسمية المجموعة بالصّنف).

۴- يا (تسمية الكُل باسم الجُزء)؛ ځکه فعل لغوي چي مصدر دی او فعل نحوي چي حدث نسبت زمانه ده - دا کل دی؛ نو د جزء نوم کل ته ورکړل سو؛ ځکه دا تعبير څني کيږي اه!.

د فعل لغوي، فعل نحوي، فعل اصطلاحي، تعبير نحوي او اطلاق نحوي نقشه: راتلونکي نقشه کي به د تېر بحث مکمل غورچاڼ ذکر سي:

تعبير او اطلاق	فعل نحوي، يا فعل اصطلاحي	فعل لغوي
تسمية الفرع باسم الأصل.	۱- حدث. ۲- نسبت. ۳- زمان.	۱- حدث.
تسمية المشتق باسم المشتق مِنه.	فعل مشتق.	۲- يا مصدر مشتق منه.
تسمية الكُل باسم الجزء.	کل.	۳- جزء.
تسمية المأخوذ باسم المأخوذ مِنه.	ماخوذ.	۴- مأخوذ منه.
تسمية الدال باسم المدلول.	دال.	۵- مدلول.
تسمية المتضمِن باسم المتضمَن.	متضمن بصيغة اسم الفاعل.	۶- متضمن اسم مفعول.

په شعر کې د فعل علامې :

سین، سوف جازمہ، قد، تائی ساکن، امر دان	اتصال تائی فعلت، نہی این علامات فعل دان

د فعل د علامو تمرين : (۱) ﴿لَّقَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٌ ...﴾ [آل عمران: ۱۸۱] . (۲) ﴿... لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَـٰنَ رَبِّهِۦ ...﴾ [يوسف: ۲۴] . (۳) ﴿... وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ...﴾ [آل عمران: ۱۴۲] . (۴) ﴿... فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلْأُمِّيِّ ...﴾ [الأعراف: ۱۵۸] . (۵) ﴿... كِتَـٰبَ ٱللَّهِ ...﴾ [البقرة: ۱۰۱] . (۶) ﴿... وَٱشْرَبُواْ ...﴾ [البقرة: ۶۰] . (۷) ﴿...ٱعْبُدُواْ رَبَّكُمُ...﴾ [البقرة: ۲۱] . (۸) ﴿... إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ ...﴾ [محمد: ۷] . (۹) ﴿وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ۝﴾ [الضحى: ۵] . (۱۰) ﴿خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ...﴾ [البقرة: ۷] . (۱۱) ﴿ٱقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ...﴾ [الأنبياء: ۱] . (۱۲) ﴿...وَقَالَتِ ٱلنَّصَـٰرَىٰ ...﴾ [البقرة: ۱۱۳] . (۱۳) ﴿... وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ ..﴾ [الشعراء: ۲۲۷] . (۱۴) ﴿فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ ...﴾ [البقرة: ۲۴] . (۱۵) ﴿۞ قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ...﴾ [الحجرات: ۱۴] . (۱۶) ﴿مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَآ أَمَرْتَنِى بِهِۦٓ ...﴾ [المائدة: ۱۱۷] .

هر کله چې فارغ شو مصنف د فعل له تعریف څخه په اعتبارینو سره چې وجود ذهني او وجود خارجي وو ؛ نو شروع یې وکړه په تعریف د حرف کې ؛ نو دا رنګه یې وویل :

وَحَدُّ الحَرْفِ : كَلِمَةٌ لَا تَدُلُّ عَلَىٰ مَعْنًى فِي نَفْسِهَا، بَلْ تَدُلُّ عَلَىٰ مَعْنًى فِيْ غَيْرِهَا، نَحْوُ : (مِنْ) ؛ فَإِنَّ مَعْنَاهَا الابْتِداءُ، وَهِيَ لَا تَدُلُّ عَلَيْهِ إِلَّا بَعْدَ ذِكْرِ مَا مِنْهُ الابْتِداءُ، كَالبَصْرَةِ وَالكُوفَةِ مَثَلًا تَقُول : (سِرْتُ مِنَ البَصْرَةِ إِلى الكُوفَةِ !)

او تعریف د حرف (دا دئ) : دا یوه کلیمه ده چې دلالت نه کوي په معنی د خپل ځان کې، بلکې دلالت کوي په معنی د غیر کې، لکه : (مِن) ؛ ځکه د دې معنا د ابتدا (پیل) ده او دا دلالت نه کوي پر دې مګر وروسته تر هغه چې له هغه څخه ابتدا کیږي لکه بصره او کوفه، د بیلګې په توګه لکه ته چې وایې : (سِرْتُ مِنَ البَصْرَةِ إِلَى الكُوفَةِ !)

زنځیري ترکیب : واو عاطفه، حد الحرف، مضاف مضاف إلیه چې دواړه مبتدا ده، کلمة موصوف، لا تدلّ علی معنی في نفسها معطوف علیه، بل اضطرابیه، تدلّ علی معنی في غیرها معطوف، معطوف علیه سره له معطوفه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا محذوفي چې هي دی، هي ضمیر راجع دی حد الحرف ته چې مرفوع محلا مبتدا ده. مبتدا سره له خبره جمله اسمیه خبریه ده . إنّ حرف، معناها اسم د إنّ، الابتداء خبر د إن، هي مبتدا، لا تدلّ فعل د فاعل، علیه جار مجرور چې ظرف لغوه متعلق په لاتدل پوري دی، إلا حرف استثناء، بعد مضاف، ذکر مضاف إلیه، ما موصوله، منه ظرف مستقر چې خبر مقدم دی، الابتداء مبتدا موخره ؛ نو دا سوه جمله اسمیه خبریه . صله د موصول ؛ دا مجموعه مضاف إلیه د ذکر سو، مضاف سره له مضاف إلیه دا مضاف إلیه د بعد سو، مضاف سره له مضاف إلیه مستثنی مفرغ

(مفعول فيه مستثني منه في وقت مِن الأوقات) محذوف ده، لا تدلّ سره له فاعل او له متعلقه او سره له مفعول فيه خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

(٥۶) پوښتنه: حرف په خپله په معنا دلالت نه کوي؛ نو څرنګه به دلالت (على المعنى في غيرها) وکړئ؟

جواب: دلته ظرفيت په معنا د باعتبار سره دى، لكه د فقهاؤ دا قاعده ده: (الدار في نفسها حُكمها كذا، أي: باعتبار نفسها حُكمها كذا)؛ حاصل دا سو چي حرف په اعتبار د خپل ذات سره دلالت نه کوي، بلکي حرف يوه کليمه ده چي دلالت کوي په يوه معنا باندي په اعتبار د غير سره چي په دلالت کي انضمام د آخري کليمي ته محتاج دى.

د قيودو اتو فايده: په تعريف د حرف کي حرف معرّف او محدود دى، (کلمة إلخ) تعريف او حد دى چي کليمه په درجه د جنس کي ده او معرف لره هم شامل ده او غير معرف لره هم چي اسم او فعل دى او لا تدلّ په منزله د فعل دى چي په دې سره اسم او فعل خارج سول؛ نو تعريف جامع او مانع سو.

وَعَلَامَتُهُ: أَنْ لَا يَصِحَّ الإِخْبَارُ عَنْهُ، وَلَا بِهِ، وأَنْ لَا يَقْبَلَ عَلَامَاتِ الْأَسْمَاءِ، وَلَا عَلَامَاتِ الأَفْعَالِ

او علامه د حرف دا ده: چي نه صحيح کيږي (إخبار) له ده څخه او نه په ده سره او نه قبلوي علامې د اسماؤ او نه علامې د افعالو

زنځيري ترکيب: علامه مبتدا، أن لا يصح إلخ د دې ترکيب مخکي ذکر دى؛ دا بيا معطوف عليه سو، واو عاطفه، أن لا يقبل إلخ معطوف، معطوف سره له معطوف عليه په تاويل د مفرد خبر د مبتدا دى.

تشريح: په دې عبارت سره علامې د حرف ذکر کوي؛ نو حرف نه مخبر عنه او نه مخبر به دى، يعني مبتدا فاعل، نائب فاعل او خبر نه واقع کيږي؛ ځکه چي دوى مستقله معنا لري او حرف غير مستقل دى چي دا يوه علامه د حرف سوه.

دويمه علامه د حرف دا ده: چي حرف علامات د اسماء او علامات د افعالو نه قبلوي؛ نو مصنف د (أن لا يُقال) قيد پس د أن لا يصح نه دئ ذکر کړى چي دا اشاره و (تخصيص بعد التعميم) ته ده.

وَلِلْحَرْفِ فِيْ كَلَامِ العَرَبِ فَوَائِدُ، كَالرَّبْطِ بَيْنَ الاِسْمَيْنِ، نَحْوُ: (زَيْدٌ فِي الدَّارِ).

أَوْ الْفِعْلَيْنِ، نَحْوُ: (أُرِيْدُ أَنْ تَضْرِبَ)، أَوْ اِسْمٍ وَفِعْلٍ كـ(ضَرَبْتُ بِالْخَشَبَةِ)، أَوْ الْجُمْلَتَيْنِ، نَحْوُ: (إِنْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ؛ أَكْرَمْتُهُ!)، وَغَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الفَوَائِدِ الَّتِيْ تَعْرِفُهَا فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى

او حرف لره په کلام د عربو کي فايدې دي لکه رابطه په مينځ د دوو نومونو کي، لکه: (زَيْدٌ فِي الدَّارِ).
يا دوو فعلونو کي، لکه: (أُرِيْدُ أَنْ تَضْرِبَ)، يا اسم او فعل کي، لکه: (ضَرَبْتُ بِالْخَشَبَةِ)، يا دوو جملو کي، لکه: (إِنْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ؛ أَكْرَمْتُهُ!) او داسي نوري فايدې چي ته به يې وپيژنې په دريم برخه کي که خوښه وه د الله تعالى

زنځيري ترکيب : واو حرف عاطفه، للحرف جار مجرور چې ظرف مستقر خبر مقدم دی، فوائد موصوف مؤخر، في کلام العرب جار مجرور ظرف مستقر متعلق په کائنة پورې، کائنة سره له متعلقه صفت مقدم، موصوف سره له صفته مبتدا مؤخره او پاته ترکيب واضح دی اه !.

تشريح : غرض له دې عبارت څخه جواب د سوال دی چې هر کله حرف نه مخبر عنه او نه مخبر به واقع کيږي او نه علامې د اسم او نه علامې د فعل قبلوي ؛ نو بحث ځنې بلا فايدې دی – مصنف په دې عبارت سره جواب ورکړ چې (للحرف في کلام العرب فوائدٌ)، يعني : د حرف لپاره په کلام د عربو کې فايدې دي ؛ نو بحث ورڅخه بې فايدې نه دی :

۱- د حرف اوله فائده دا ده : چې د ده په واسطې سره رابطه قايميږي په مينځ د دوو اسمينو کې، لکه : (زَيْدٌ فِي الدَّارِ) ؛ نو د زيد او دار په مينځ کې رابطه په دې طريقې سره ده چې د زيد استقرار راغلی دی، په دار کې ؛ نو (دار) ته ظرف وايي او (زيد) ته مظروف وايي.

او دا استقرار حاصل دی په حرف جر سره چې في دی او که في نه وي ؛ نو معنا به دا سې چې زيد دار دی او دا معنا باطله ده اه.

۲- دويمه فايده دا ده : چې په حرف سره بين الفعلين رابطه راځي، لکه : (أُرِيدُ أَنْ تضرب) چې (أُريد) يو فعل دی او (تضرب) بل فعل دی.

او د دوی په مينځ کې رابطه په دې توګه ده چې دويم فعل مفعول به د اول فعل دی او دا مفعوليت د فعل ثاني د فعل اول لپاره په واسطه د حرف سره دی چې (أَنْ) دی او (أَنْ) مصدريه له فعل ثاني څخه اسم جوړ کړی او مفعول به اسم وي.

۳- دريمه فايده دا ده : حرف رابطه د اسم او فعل راولي، لکه : (ضربْتُ بالخشبة)، ضربت فعل د فاعل او (الخشبة) اسم دی چې ربط يې داسې دی (الخشبة) واسطه لپاره د حصول د ضرب ده.

او دا واسطه توب په (باء) حرف جر سره حاصل دی چې معنا يې داسې سوه، لکه : (ضَرَبْتُ الخَشَبةَ !)، ما لرګی وواهه او دا معنا باطله ده.

۴- څلورمه فايده دا ده : حرف ربط د جملتينو راولي، لکه : (إِنْ جاءني زيدٌ أكرمتُهُ !) ؛ نو په دې مثال کې (جاءني زيدٌ) يوه جمله ده او (أكرمتُهُ) بله جمله ده چې ربط د دوی (إن) شرطيه راوستی په داسې توګه چې جمله ثانيه معلقه سوې ده تر جملې اولې پورې.

او دا تعلق حاصل سوی دی په واسطه د (إِنْ) حرف شرطيه سره.

او د حرف نورې فايدې هم سته چې د هغو بيان به په دې کتاب (هداية النحو) کې په (القسم الثالث) کې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ.

وَيُسَمّٰى حَرْفًا ؛ لِوُقُوْعِهِ فِي الْكَلَامِ حَرْفًا، أَيْ : طَرَفًا ؛ إِذْ لَيْسَ مَقْصُوْدًا بِالذَّاتِ مِثْلَ الْمُسْنَدِ وَالْمُسْنَدِ إِلَيْهِ

او مسمى سوی دی حرف ؛ له وجې د وقوع د ده په کلام کې حرف، يعني : په يو طرف کې ؛ ځکه دی مقصود بالذات نه دی، لکه (مسند) او (مسند إليه)

زنځيري ترکيب : يسمى فعل مجهول، ضمير پکې مستتر، هو نائب فاعل، حرفاً مفعول به، لوقوعه جار او مجرور ظرف لغوه متعلق په يُسمى پوري، في الکلام جار او مجرور متعلق په وقوع مصدر پوري، حرفاً حال د ذو الحال چي د ده ضمير مجرور د وقوعه دی، أي حرف تفسير، طرفاً تفسير د حرفاً دی، إذ تعليليه، ليس فعل له افعال ناقصه وو څخه، هو ضمير اسم له افعال ناقصه وو څخه مقصوداً خبر، بالذات جار مجرور چي ظرف لغوه متعلق دی په مقصوداً پوري، مثل مضاف، المسند معطوف عليه، واو حرف عاطفه، المسند إليه معطوف، معطوف عليه سره له معطوفه خبر د مبتدا محذوفي چي هو دی او هغه راجع دی مقصوداً ته اه !.

تشريح : حاصل د وجه تسميه دا دئ : مصنف وايي : چي حرف ته حرف : ځکه وايي چي حرف په لغت کي طرف ته وايي، لکه ويل کيږي چي (جلست حرف الوادي، أي : طرف الوادي) ؛ نو دا حرف هم په طرف د کلام کي واقع کيږي او غرض له دې عبارت څخه چي (إذ ليس مقصودا بالذات) دی جواب د يو سوال دی او هغه دا چي نه منو دا خبره : حرف په طرف کي واقع کيږي د کلام، بلکي په وسط د کلام کي هم واقع کيږي، لکه : (زيدٌ في الدّار) ؛ نو مصنف جواب ورکړ چي مراد له طرف څخه طرف د کلام نه دی، بلکي مراد له طرف څخه دا دئ چي مقصود بالذات به نه وي، لکه مسند او مسند إليه چي څنګه مقصود وي ؛ نو دا حرف په يو طرف کي وي له مقصود څخه چي مسند او مسند إليه دی .

څورځاې د تېر بحث دا دئ : چي اول تعريف د جز د موضوع د علم نحو وسو په داسي توګه چي (الکلمة لفظٌ إلخ)، بيا تقسيم د ده په هي (اسمٌ وفعلٌ وحرفٌ) سره وسو، بيا د هر يوه تعريف په اعتبار د تعريف وجودي ذهني او تعريف وجودي خارجي سره وسو، لکه : (الإسم کلمة إلخ وعلامته، الفعل کلمة إلخ وعلامته، الحرف کلمة إلخ وعلامته) .

او د هر واحد وجه تسميه ذکر سوه چي ويې ويل : (ويُسمّى اسمًا إلخ، ويُسمّى فِعلًا إلخ، ويُسمّى حرفًا إلخ) اه !.

د اسم، فعل او حرف د علامو نقشه : د زيات وضاحت لپاره به اوس ګران لوستونکو ته د اسم، فعل او حرف د علامو نقشه ذکر سي :

شمېره	د اسم علامې	شمېره	د فعل علامې	شمېره	د حرف علامې
۱	کليمه معرف په الف او لام سره وي، لکه : (الحمد).	۱	د (قد) حرف به په اول د کليمې کي راغلی وي، لکه : ﴿قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ ...﴾ [الأحزاب: ۱۸].	۱	او د حرف لپاره يواځي يوه علامه ده او هغه خالي والی د کليمې دی له علامو څخه د اسم او فعل .
۲	حرف جر به يې په ابتدا کي وي، لکه : (بعَزيز) .	۲	سين به پر داخل سوی وي، لکه: ﴿سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ﴾ [المسد: ۳] .		

۳	تنوين به په آخر د كليمې كې راغلى وي، لكه: (رسولٌ).	۳	سوف به پر داخل سوى وي، لكه: ﴿...فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ...﴾ [الأنعام: ۱۳۵].		
۴	كليمه به مسند إليه وي، لكه: (اللهُ قادِرٌ).	۴	حرف جازم به پر داخل سوى وي، لكه: ﴿إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡ...﴾ [آل عمران: ۱۶۰].		
۵	كليمه به مضاف وي، لكه: (رسول الله).	۵	ضمير متصل به په آخر د كليمې راغلى وي، لكه: (ان ﴿إِنِّي وَجَدتُّ ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ ...﴾ [النمل: ۲۳].		
۶	كليمه به مصغره وي، لكه: ﴿...يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ ...﴾ [لقمان: ۱۳].	۶	تاء ساكنه به په آخر د كليمې كې راغلې وي، لكه: ﴿...ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ ..﴾ [يونس: ۹۰].		
۷	كليمه به منسوبه وي، لكه: (مدنيٌّ) چې مديني ته نسبت سوى دى. (مكيٌّ) چې مكې شريفې ته يې نسبت سوى دى.	۷	كليمه به امر وي، لكه: ﴿قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا ..﴾ [الحجر: ۳٤].		
۸	كليمه به مثنى وي، لكه: ﴿قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ ...﴾ [طه:	۸	كليمه به نهي يې وي، لكه: ﴿... وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ...﴾ [الأنعام: ۱۵۱].		

	۶۳].				
۹	کلیمه بـه موصـوفه وي، لکه : (رسولٌ کريمٌ) .	۹	دوه نونان د تاکيـد بـه پـه آخر د کليمې کې راغلي وي، لکه : ﴿كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِٱلنَّاصِيَةِ﴾ [العلق: ۱۵] . او په اصل کې (لنسفعن) په نون خفيفه سره وو .		
۱۰	تاء متحرکه به په آخر د کليمې کې راغلې وي، لکه : ﴿...قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ ..﴾ [الحشر: ۵].	۱۰	تصريف بـه پـه کليمـه کې سوی وي او لـه دې څخـه څـوارلس صيغې راوځي، لکـــــه : (ضَرَبَ، يَضْرِبُ،...) .		

د حرف فايدې : (۱) ربط راولي په مينځ د دوو نومانو کې، لکه : (زيدٌ في الدّار) ؛ نو دلته (زيد) مظروف او (في الدّار) ظرف . (۲) ربط راولي په مينځ د دوو فعلينو کې، لکه : (أُرِيد أن تضرب) . (۳) ربط راولي په مينځ د اسم او فعل کې، لکه : (ضربتُ بالخشبة !) . (۴) او ربط راولي په مينځ د دوو جملو کې، لکه : (إن جاءني زيدٌ ؛ فأكرمتُهُ !) .

او نور تفصيل د دې ټولو په خپل ځای کې تېر سو چي اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته .

د اسم، فعل او حرف آسانه تمرين : هر يو له درو ډولونو څخه، يعني : اسم، فعل او حرف په خپلو علامو سره په راتلونکو مثالونو کې سره جلا کړه ! : (۱) ﴿... كِتَٰبَ ٱللَّهِ ..﴾ [البقرة: ۱۰۱] . (۲) ﴿إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ﴾ [الحاقة: ۴۰] . (۳) ﴿...وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [البقرة: ۱۸۹] . (۴) (العِلم نورٌ) . (۵) (المدرسة جميلة) . (۶) ﴿لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ ...﴾ [المائدة: ۱۷] . (۷) ﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ﴾ [قريش: ۱] . (۸) ﴿.. إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ ...﴾ [طه: ۶۳] . (۹) (آمنتُ بالله !) . (۱۰) (القرآن كِتابنا !) . (۱۱) ﴿...وَٱللَّهُ قَدِيرٌ ..﴾ [الممتحنة: ۷] . (۱۲) ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ [التكاثر: ۳] . (۱۳) ﴿... فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًۢا﴾ [الفرقان: ۷۷] . (۱۴) ﴿... وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ..﴾ [البقرة: ۱۸۴] . (۱۵) (فلان عبدٌ مِن عِباد الله) . (۱۶) (اجتنب الذّنوب !) .

❁❁❁

فصل دی په بیان کي د تعريف د كلام

فَصْلٌ

فصل دی

الْكَلَامُ : لَفْظٌ تَضَمَّنَ الْكَلِمَتَيْنِ بِالْإِسْنَادِ

كلام : يو لفظ دی چي متضمن وي كلمتينو لره په سبب د اسناد (حاصل) سره

زنځيري تركيب : الكلام مبتدا، لفظ موصوف، تضمن فعل فاعل، كلمتين مفعول به، بالإسناد متعلق په تضمن، يا متعلق مستقر پوري، فعل سره له فاعل، مفعول به او سره له متعلقه صفت سو د لفظ، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا سو، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

تشريح : ربط له مخكي سره دا دربيم فصل د مقدمي (سريزي) دی چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ په دې كي بيان د موضوع د جز ثاني د علم نحو بيانوي چي هغې ته كلام وايي او بيا اقسام د كلام بيانوي او كلام په لغت كي (ما يتكلم به) ته وايي او په اصطلاح د نحاتو كي (ما تضمن كلمتين بالإسناد) ته وايي او دا كلمتين عام دي : ۱- حقيقت وي . ۲- كه حكم وي . ۳- كه لفظ وي . ۴- كه تقدير وي .

(۵۷) پوښتنه : كلام بايد مصنف په عطف سره ذكر كړی وای او داسي به يې ويلي وای : (والكلام إلخ) ؛ ځكه دواړه د علم نحو موضوع ده ؟

جواب : په عطف سره يې ؛ ځكه ذكر نه كړی چي په دې سره يې اشاره كړې ده استقلال د كلام ته، كه يې حرف عطف ورسره ذكر كړی وای ؛ نو كلام به معطوف سوی وای او كليمه به معطوف عليه وای او معطوف تابع د معطوف عليه وي او دا وهم پيدا كېدی چي كليمه اصل د كلام دی او كلام فرعه او تابع د كليمه ده، حال دا چي كلام مستقلا اصل دی اه ! .

(۵۸) پوښتنه : په تعريف كي ذكر سو (تضمّن كلمتين) ؛ نو له دې څخه دا معلومه سوه چي كلام هغه ته وايي چي متضمِن وي كلمتين لره، لكه : (زيدٌ قائِمٌ) كلام دی ؛ نو د دې لپاره متضمن څه شی دئ او همدا ډول كه خپله تضمن وای ؛ نو اتحاد به راغلی وای په مېنځ د متضمِن او متضمَن كي ؟

جواب : دلته دا قيد پكي لګول كيږي چي متضمِن وي په اعتبار د عروض د هيئت اجتماعي سره ؛ نو (زيدٌ قائِمٌ) متضمِن دی او هر واحد له كلمتين څخه متضمَن دی چي د دې مثال په محسوساتو كي كټ دی چي په اعتبار د عروض د هيئت اجتماعي سره متضمِن دی او پښې، بازوګان او رسۍ پري متضمَن دي .

(۵۹) پوښتنه : ستاله تعريف څخه (زيدٌ قائِمٌ أبوه) او (زيدٌ أبوه قائِمٌ) خارج سو ؛ ځكه دا كلام دی او متضمن كلمتين لره نه دی، بلكې

جواب: كلمتين عام دي حقيقتا وي او كه حكما او دا حكما كلمتين ته متضمن دى په اعتبار د تاويل سره چې (زيد قائم الأب) دى.

(۶۰) پوښتنه: دا خو بيا كلمات ثلاثه دي؟

جواب: (الأب) مضاف إليه دى او مضاف إليه خارج وي له مضاف څخه.

(۶۱) پوښتنه: خارج سو د تعريف له كلام څخه (جسق مهمل) او (ديز مقلوب زيد)؛ ځكه په دې كې الفاظ مهمله دي، لكه جسق لفظ مهمل دى او ديز لفظ مهمل دى او مراد ستا به داسې لفظ وي چې هغه د معنا لپاره موضوع وي؟

جواب: كلمتين عام دي، حقيقتا وي، كه حكما او دا حكما دي په تاويل د (هذا اللّفظ) سره.

(۶۲) پوښتنه: ستا له تعريف څخه (اضرب) او (لا تضرب) خارج سو او كلام دى دلته تضمن د كلمتينو چې نسته دى، بلكې كليمه واحده ده؟

جواب: كلمتين عام دي لفظي كلمتين وي، كه تقديري كلمتين او دلته تقديري كلمتين دي په (اضرب) او (لا تضرب) كې (أنت) مستتر دى چې هغه فاعل د فعل دى، فعل سره له فاعل جمله فعليه انشائيه ده.

(۶۳) پوښتنه: مصنف كليمه او كلام ذكر كړل او جمله يې ذكر نه كړه او دلته د جملې ذكر كول هم پكار وو؟

جواب: دلته دوه مذهبه دي: ۱- د محققينو نحاتو. ۲- د بعضو نحاتو.

۱- نو محققين نحات د جملې او د كلام په مينځ كې د ترادف قائل دي او هر كله چې د كلام تحقيق وسي؛ نو دا د جملې تحقيق هم دى.

۲- او بعضې نحات وايي: چې د جملې او كلام تر مينځه فرق دى؛ جمله عامه ده او كلام خاص دى او هنوى د جملې تحقيق داسې كوي: (الجملة ما تضمن الإسناد الأصلي)؛ برابره خبره ده كه هغه اسناد نسبت مقصود لذاته وي او كه نه وي او د كلام تعريف داسې كوي: (ما تضمن الإسناد الأصلي)، مګر اسناد پكې مقصود لذاته وي؛ نو په دې وجه باندې د جملې او كلام په مينځ كې نسبت د عموم خصوص مطلق سو او پس تر ټولو خبرو دلته مصنف صاحب مذهب د محققينو نحاتو راخيستى دى او پس تر تعريف د كلام بيا تعريف د جملې راخيستى دى او بالعكس پر دې مصنف تعريف د كلام وكړ او په هر تعريف كې لابدې ده له جنس او فصل څخه چې په لفظ د قيد سره تمام الفاظ داخل سول، يعنې: دا په منزله د جنس دي (مفردات، مركبات، موضوعات، مهملات) ټول داخل دي چې په تعريف د كلام كې په لفظ سره او قيد د بالإسناد فصل ثاني دى چې په دې سره مركبات غير كلاميه خارج سول اه!.

وَالْإِسْنَادُ نِسْبَةُ إِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ إِلَى الْأُخْرَىٰ. بِحَيْثُ تُفِيْدُ الْمُخَاطَبَ فَائِدَةً تَامَّةً يَصِحُّ السُّكُوتُ عَلَيْهَا، نَحْوُ: (زَيْدٌ قَائِمٌ, وَقَامَ زَيْدٌ)

او اسناد نسبت دى د يو د دوو كليمو وبلې ته په داسې توګه چې فايده كوي مخاطب فايده پوره چې صحيح ګڼل كيږي چوپوالى پر هغې كليمې. لكه: (زَيْدٌ قَائِمٌ، وَقَامَ زَيْدٌ)

زنځيري ترکيب : الإسناد مبتدا، نسبة مضاف، إحدى مضاف إليه د مضاف، الكلمتين مضاف إليه چي دا مجموعه مضاف إليه د نسبة سو، إلى الأخرى : دا متعلق دی په نسبة پوري، با جار، حيث مضاف، تفيد فعل فاعل، المخاطب مفعول به، فائدة موصوف، تامة مفسر، يصح السكوت فعل او فاعل، عليها متعلق دی په السكوت پوري، فعل سره له فاعل او سره له متعلقه تفسير د تامة، مفسر سره له تفسيره صفت د موصوف موصوف سره له صفته مفعول مطلق، تفيد فعل، فعل سره له فاعل، مفعول به او مفعول مطلقة مضاف إليه د حيث، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار چي دا مجموعه ظرف لغوه متعلق په نسبة پوري دی او دا مجموعه خبر د مبتدا، واو عاطفه، يُسمّى فعل، هو نائب فاعل، جملة مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه سوه .

تشريح : غرض له دې عبارت څخه چي (والإسناد) دی تعريف د اسناد کوي چي په تعريف د کلام کي ذکر سوی دی اه ! .

د قيوداتو فايده : (نسبة إحدى الكلمتين إلى الأخرى) : دا جنس دی معرف او غير معرف ټولو لره شامل دی، (بحيث تفيد المخاطب) : دا فصل دی چي په دې سره نسبت اضافي چي (غلام زيد) دی او نسبت توصيفي چي (رجل عالم) دی خارج سو او په دې سره مخاطب ته فائده تامه نه رسيږي : ځکه د فائدې تامې لپاره ځلور شيان ضروري دي : ۱- محکوم عليه، ۲- محکوم به، ۳- نسبت حکمي، ۴- او حکم، لکه : (زيدٌ قائمٌ) سو، دلته (زيد) محکوم عليه دی، (قائمٌ) محکوم به دی او د قيام نسبت (زيد) ته نسبت حکمي دی او د (قائمٌ) چي کوم ربط دی، يعني : (دی) : دې ته حکم وايي او له دې څخه هري ژبي والا په خپله ژبه کي تعبير کوي چي په پارسي کي (است) ورته وايي، په اردو کي (ہے) ورته وايي او په پښتو کي (دی) وايي او په مرکب اضافي کي دا ځلور شيان نه موندل کيږي، لکه : (غلامُ زيدٍ) او دلته مضاف مضاف إليه که محکوم عليه سي : نو محکوم به نسته او که محکوم به سي : نو محکوم عليه نسته، لهذا نسبت تامه نه فايده کوي : ځکه چي دوی خارج سول : نو قيد د (يصحّ السّكوتُ عليها) : دا په تعريف د اسناد کي داخل نه دی، بلکي دا د فائدې تامې لپاره تفسير دی .

فايده (د کلام نور نومونه) : د کلام نور نومونه هم سته، لکه : (جمله، مرکب تام، مرکب مفيد، مرکب اسنادي)، مګر مشهور نوم د ده په ترتيب کي جمله ده .

فَعُلِمَ أَنَّ الكَلامَ لا يَحْصُلُ إِلَّا مِنْ إِسْمَيْنِ، نَحْوُ : (زَيْدٌ قَائِمٌ)، وَيُسَمَّى جُمْلَةً اسْمِيَّةً . أَوْ مِنْ فِعْلٍ وَاسْمٍ، نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ)، وَيُسمّى جُمْلَةً فِعلِيَّةً ؛ إِذْ لَا يُوجَدُ الْمُسْنَدُ وَالْمُسْنَدُ إِلَيْهِ مَعًا فِي غَيْرِهِمَا، وَلَا بُدَّ لِلْكَلَامِ مِنْهُمَا

نو معلومه سوه چي کلام نه حاصليږي مګر په يو د دوو اسمينو سره، لکه : (زَيْدٌ وَاقِفٌ) او دا جمله اسميه بلل کيږي، يا له فعل او اسم څخه وي، لکه : (قَامَ زَيْدٌ) او دا جمله فعليه بلل کيږي : ځکه چي نه موجوديږي مسند او مسند إليه دواړه په ماسوا د دوی دوو کي او چاره نسته له دوی دوو مسند او مسند إليه څخه

ځنځيري تركيب : فا تفريعيه، عُلِم فعل مجهول، أنّ حرف مشبهه بالفعل، الكلام اسم د أنّ، لا يحصل فعل فاعل، إلا استثنا، مِن اسمين معطوف عليه، من فعل او اسمين معطوف، دا سره له معطوف عليه مستثنى مفرغه چي دا مجموعه بيا ظرف لغوه سوه متعلق په لا يحصل پوري، فعل سره له فاعل او متعلقه خبر د أنّ، دا بيا په تأويل د مفرد سره نائب فاعل سو د عُلِم : نو دا جمله فعليه تفريعيه سوه او د پاته عبارت تركيب واضح دی.

تشريح : كلام به حاصليږي د اسمينو څخه، داسي اسمين چي يو مسند إليه وي او بل مسند، يا به يو اسم وي او بل به فعل وي او دليل دا دئ چي ؛ ځكه په كلام كي لابدي وي له اسناد څخه او په اسناد كي لابدي ده له مسند او مسند إليه څخه او دا نه حاصليږي مگر په ضمن د اسمينو كي او يا ضمن د اسم او فعل كي اه !.

(۶۴) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه ده په (غُلَام زيدٍ) كي چي دا دوه اسمين دي او كلام نه دئ ؟

جواب : موږ وايو چي دوه اسمين به وي، مگر يو به مسند إليه وي او بل به مسند وي او دلته داسي نه دی، بلكي يو مضاف دی چي (غلام) دی او بل مضاف إليه دی چي زيد دی .

(۶۵) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه ده په (ضَرَبَكَ) باندي او دلته يو اسم دی او بل فعل دی او كلام نه دئ ؟

جواب : موږ وايو چي كلام به مركب وي له اسم څخه چي مسند إليه او له فعل څخه چي مسند وي او دلته اسم چي ضمير د مفعول دی فضله دی او مسند إليه نه دی، كه څه هم فعل مسند دی .

(۶۶) پوښتنه : څه وجه ده چي مصنف په تقسيم د كلام كي ادات د حصر ذكر كړه چي (لا) او (إلا) دی او په تقسيم د كليمه كي يې ذكر نه كړئ ؟

جواب : په تقسيم د كليمه كي احتمالات عقليه نه وه او په كلام كي احتمالات عقليه موجود وه ؛ نو په (إلا) سره چي كوم احتمالات صحيح وه - هغه يې ذكر كړل ؛ ځكه احتمالات په تقسيم د كلام كي شپږ دي : درې احتمالات سره متوافقين دي، لكه : ۱- اسم او اسم . ۲- فعل او فعل . ۳- حرف او حرف . او درې احتمالات سره متخالفين دي : ۱- اسم او فعل . ۲- اسم او حرف . ۳- حرف او فعل . بلكي راغلي دي د شاعر په دې قول كي :

اسم واسم، فعل وفعل، حرف وحرف   اسم وفعل، اسم وحرف، فعل وحرف

نو په دې احتمالاتو كي اسم او اسم، اسم او فعل صحيح دي او باقي نور احتمالات غير صحيح دي ؛ ځكه په دوی كي كه مسند إليه وي ; نو مسندبه نه وي او كه مسند وي ; نو مسند إليه به نه وي، يا به دواړه نه وي او كلام جوړيږي له مسند او مسند إليه څخه ; نو مصنف دې ته اشاره كړې ده په دې قول سره (إذ لا يوجد المسند والمسند إليه معًا في غيرهما إلخ) .

فايده : اسم مسند او مسند إليه دواړه واقع كيږي، فعل مسند واقع كيږي نه مسند إليه او حرف نه مسند او نه مسند إليه او كوم ځاى چې فعل مسند إليه واقع وي او حرف يا مسند يا مسند إليه واقع وي ؛ نو هغه به اسم وي تأويلا چې د هغه ذكر به په خپل ځاى كې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ .

فَإِنْ قِيلَ : هذا يَنْتَقِضُ بِالنِّداءِ ، نَحْوُ : (يَا زَيْدُ !)

پس كه څوك وايي : چې ستا قاعده مذكوره منقوضه سوه په تركيب ندائيه باندې، لكه (يَا زَيْدُ !)

زنځيري تركيب : إن حرف شرط، قيل فعل مجهول، قد حرف تحقيق، نوقض فعل مجهول، بالنداء ظرف لغوه متعلق په نوقض پورې چې دا جمله فعليه مقوله د قيل سوه .

تشريح : په دې عبارت سره مصنف په قاعده مذكوره باندې يو اعتراض ذكر كوي، حاصل د اعتراض دا دئ : چې ستا حصر د كلام صرف په دوو صورتونو كې صحيح نه دى چې كلام له دوو اسمينو څخه مركب كيږي، يا له فعل او اسم څخه مركب كيږي ؛ ځكه جمله ندائيه دا قاعده ورانوي، لكه : (يَا زَيد) بالإتفاق كلام دى او دا مركب دى له حرف نداء څخه چې يا حرف نداء ده او له اسم څخه چې زيد منادى ده ؛ نو د دې جواب مصنف په دې خپل عبارت سره كوي :

قُلْنَا : حَرْفُ النِّداءِ قَائِمٌ مَقَامَ (أَدْعُو ، وَأَطْلُبُ) وَهُوَ الفِعْلُ ؛ فَلَا نَقْضَ عَلَيْهِ

موږ وايو : چې حرف نداء قائم په مقام د فعل ده چې (أَدْعُو) او (أَطْلُبُ) دى او هغه فعل دى ؛ نو قاعده منقوضه نه ده

زنځيري تركيب : قلنا فعل فاعل، حرف النداء مبتدا، قائم صفت، مقام مضاف، أدعو معطوف عليه، أطلب معطوف چې دا مجموعه مضاف إليه د مقام دى او دا مجموعه بيا مفعول فيه د قائم دى او دا مجموعه خبر د مبتدا دى، فاء تفريعية، لا لپاره د نفي الجنس، نقض اسم، لا عليه ظرف مستقر د خبر د لا لپاره اه ! .

تشريح : حاصل د جواب دا دئ چې يا حرف ندا قائم مقام د (أدعو وأطلب) دى او دا فعلين دي ؛ نو تركيب د كلام له يو اسم او فعل څخه راغلى دى نه له حرف او اسم څخه .

(۶۷) پوښتنه : يا حرف نداء ده چې غير مستقل حرف دى ؛ نو غير مستقل د مستقل قائم مقام ځنګه سو ؟

جواب : دغه شان سماع له عربو څخه راغلې ده او قياس ته په دې كې دخل نسته .

د تېر عبارت لپاره تمرين :

(۱) ﴿خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ...﴾ [البقرة: ۷] . (۲) ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا ...﴾ [إبراهيم: ۲۴] . (۳) ﴿.. إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا ..﴾ [يوسف: ۴] . (۴) ﴿إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ۝﴾ [الحاقة: ۴۰] . (۵) ﴿وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم ..﴾ [الأنبياء: ۵۷] .

(۶) ﴿وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ ...﴾ [هود: ۷۱] . (۷) ﴿وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ ...﴾ [الاسراء: ۳۲] . (۸) (حَجّ بيت الله فرض) . (۹) (عذاب القبر حقٌ) . (۱۰) (لا تشركوا بالله !) .

وَإِذَا فَرَغْنَا مِنَ الْمُقَدِّمَةِ ؛ فَلْنَشْرَعْ فِي الْأَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ، وَاللهُ الْمُوَفِّقُ وَالْمُعِيْنُ

هر كله چي موږ فارغ سو له سريزي څخه : نو اراده موږ د شروع وكړه په اقسام ثلاثه وو كي او الله (تعالى) توفيق وركوونكى او مرسته كوونكى دى .

زنځيري تركيب : إذا شرطيه، فرغنا فعل فاعل، مِن جار، المقدمة مجرور او دا مجموعه فعل شرط، فاء جزائيه، نشرع فعل فاعل، في جار، الأقسام موصوف، الثلاثة صفت چي دا مجرور سو، جار او مجرور متعلق په فعل پوري چي دا مجموعه جزاء د شرط ده او باقي تركيب واضح دى.

الْقِسْمُ الْأَوَّلُ فِي الْاِسْمِ . وَقَدْ مَرَّ تَعْرِيْفُهُ، وَهُوَ يَنْقَسِمُ إِلَى الْمُعْرَبِ وَالْمَبْنِيِّ ؛ فَلْنَذْكُرْ أَحْكَامَهُ فِيْ بَابَيْنِ وَخَاتِمَةٍ

قسم اول چي دى په بيان كي د اسم دى او په تحقيق سره د دې تعريف تېر سو او دا تقسيمبدى ومعرب او مبني ته : نو موږ به يې احكام ذكر كړو په دوو بابونو او يوې خاتمې كي.

د اسم بيان : زده كړه دا خبره ! دا كتاب د مصنف مشتمل دى په امور خمسه وو باندي : ۱- مقدمه . ۲- اقسام ثلاثه. ۳- خاتمه چي دا سهوه د قلم له ناسخ څخه نه ده اه ! .

قسم اول د كتاب په بيان د اسم كي، قسم ثاني په بيان د فعل كي او قسم ثالث په بيان د حرف كي .

ياد قسم اول درې اجزاء دي : جز اول باب اول دى په بيان د اسم معرب كي، جز ثاني باب دويم دى په بيان د اسم مبني كي او جز ثالث خاتمه ده په امور مشتركه وو كي په بيان د اسم معرب او اسم مبني كي او په هغې كي د مطلق اسم اقسام ذكر كوي، لكه : معرفه او نكره ؛ مذكر او مؤنث؛ واحد، مثنى او جمع ؛ اسم عدد او غير عدد او داسي نور .

د مقدمې په هكله يادونه : د (المقدمة) په باب اول كي فصول اربعه دي : ۱- تعريف اسم معرب . ۲- بيان حكم اسم معرب . ۳- بيان اصناف اعراب . ۴- تقسيم د اسم معرب ومنصرف او غير منصرف ته ؛ نو مصنف بيان د اسم مخكي كړى دى په بيان د فعل او حرف باندي ؛ ځكه اسم اصل او عمده دى په نسبت وفعل او حرف له په داسي توګه چي د نوع د اسم نه كلام جوړېداى سي، نه نوع د فعل او نوع د حرف جوړېداى سي .

(۶۸) پوښتنه : (إذا فرغنا) شرط لپاره د (فلنشرع) نه صحيح كيږي ؛ ځكه شرط ملزوم وي او جزاء ورسره لازم وي او په دې معنا سره چي شرط كله موجود سي ؛ نو جزاء ورسره هم موجوده وي او دلته لزوم نسته (بين الفراغ عن المقدمة وبين الشروع في الأقسام الثلاثة) ؛ ځكه جايز ده چي تر فراغ وروسته به مصنف استراحت او آرام كړى وي ؟

جواب: دلته شروع جزاء نه ده د فراغ، بلکې جزاء دلته اراده د شروع ده او تقدير د عبارت داسې دی: (فأردنا الشروع في الأقسام الثلاثة) اه.

(۶۹) پوښتنه: تاسو تقسيم د اسم کوئ ! معرب او مبني ته او تقسيم د شي لومړی تعريف غواړي، بيا تقسيم کېدای سي ؟

جواب: د دې اعتراض دفعه مصنف په خپل عبارت سره کړې ده په (وقدمت تعريفه) سره ؛ نو اوس د معترض اعتراض دفع سو.



د اسم معرب تعريف او حکم

فَصْلٌ فِيْ تَعْرِيْفِ الاِسْمِ الْمُعْرَبِ : وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ رُكِّبَ مَعَ غَيْرِهٖ وَلَا يُشْبِهُ مَبْنِيَّ الْأَصْلِ. أَعْنِيَ الْحَرْفَ، وَالْأَمْرَ الْحَاضِرَ. وَالْمَاضِيَ. نَحْوُ : (زَيْدٌ فِيْ قَامَ زَيْدٌ) لَا زَيْدٌ وَحْدَهٗ ؛ لِعَدَمِ التَّرْكِيبِ. وَلَا هٰؤُلَاءِ فِيْ قَامَ هٰؤُلَاءِ ؛ لِوُجُوْدِ الشِّبْهِ. وَيُسَمّٰى مُتَمَكِّنًا

فصل په بيان د تعريف د اسم معرب کې دی : او دا هر هغه اسم دی چې مرکب سوی وي له غير سره او مشابه نه وي د مبني الأصل، مراد مې څخه حرف، امر حاضر او ماضي ده، لکه : (زَيْدٌ فِيْ قَامَ زَيْدٌ) نه زيد يواځې ؛ له وجې د عدم ترکيب اونه (هٰؤُلَاءِ فِيْ قَامَ هٰؤُلَاءِ) ؛ له وجې د شبه او دا بلل کيږي (اسم) متمکن

زنځيري ترکيب: في جار. تعريف مضاف مجرور، الاسم مضاف إليه مجرور، وهو مبتدا، کُلّ مضاف، اسم موصوف، رکّب فعل مجهول، مع مضاف، غيره مضاف مضاف إليه چې دا مجموعه مفعول فيه د رکّب دی، فعل سره له نائب فاعل او مفعول فيه معطوف عليه، واو حرف عاطفه، لا يُشبه فعل فاعل، مبني الأصل مفسر. أعني فعل فاعل، الحرف، مبطوف عليه، الأمر الحاضر والماضي معطوف، معطوف عليه سره له خپلو معطوفاتو مفعول به، فعل سره له فاعل او سره له مفعول به تفسير د مفسر، يا تفسير د مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به معطوف د رکّب، معطوف عليه سره له معطوفه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مضاف إليه د مضاف، مضاف سره له مضاف إليه خبر د مبتدا چې دا جمله اسميه خبريه سوه او باقي ترکيب واضح دی.

تشريح: مصنف په دې عبارت سره د اسم معرب تعريف کوي، اسم معرب هغه اسم دی چې مرکب وي له غير او (مبني الأصل) سره چې مشابه نه وي.

او (مبني الأصل) د جمهور په نيز درې شيان دي : ۱- ماضي. ۲- امر حاضر. ۳- او حرف. او د (المفصل) د مصنف جار الله زمخشي په نيز څلور دي : ۱- ماضي. ۲- امر حاضر. ۳- حرف. ۴- او جمله.

د قيوداتو فايده: (الاسم المعرب) معرف او محدود او (كُلّ اسم إلخ) ؛ دا تعريف او حد دی او (كُلّ اسم) په منزله د جنس دی.

(رُكّب مع غيره) فصل اول دی چې په دې سره اسماء معدوده خارج سول، لکه : (زيد، عمرو، بکر، خالد).

(ولا يُشبه مبني الأصل) فصل ثاني دی چي په دې سره (هٰؤلاء) خارج سو په (قام هٰؤلاء) کي، پس د اسم معرب تعريف مانع او جامع دی، لکه : (قام زيدٌ) .

د معرب پر مبني د مخکي کېدلو دوې وجې : مصنف چي معرب پر مبني مقدم کړ ؛ نو له دوو وجو څخه :

(۱) معرب اصل دی په نسبت سره ومبني ته ؛ ځکه مقصود له (وضع الألفاظ) څخه اظهار د (ما في الضمير) دی او اظهار د (ما في الضمير) حاصليږي په اعراب سره ؛ ځکه په اعراب سره دا معلوميږي چي دا يو لفظ عامل دی ؛ دا بل لفظ معمول دی ؛ هغه بل لفظ مضاف دی او هغه بل لفظ مضاف إليه دی او دا اعراب په معرب کی موجوديږي نه په مبني کي او څوک ووايي : چي اظهار د (ما في الضمير) ؛ خو په مبني کي هم کېدای سي، لکه : (جَاءني هٰؤلاء إلخ) ؟ نو موږ ورته وايو : چي په معرب کي اظهار د (ما في الضمير) ښه کېدای سي او په مبني کي ښه سم نه سي کېدای .

(۲) او دويمه وجه داده : چي معرب په منزله د مفرد دی او دا يو قسم دی چي مرکب وي له غير سره او مشابه له (مبني الأصل) سره نه وي او مبني په منزله د مرکب دوه ډوله دی : ۱- مشابه د مبني الأصل . ۲- او وقوع غير مرکب او مفرد مقدم وي پر مرکب : نو ځکه مصنف معرب پر مبني مقدم کړ .

د معرب وجه تسميه : معرب په لغت کي ماخوذ دی له اعراب څخه او اعراب په لغت کي په دوو معناوو کارول کيږي :

۱- اعراب ابانه او اظهار ته وايي او په معرب کي هم معنا مراده ظاهره وي چي دا معنا په حديث کي هم ذکر سوې ده : قال النبيّ ﷺ : (الثَّيِّبُ تُعْرِبُ عَنْ نَفْسِهَا وَالْبِكْرُ رِضَاهَا صَمْتُهَا)(1)، يعني : کونډه [ښځه به په خوله باندي] اظهار د رضا د نکاح کوي او د پېغلي [ښځي] رضا د هغې چوپوالی دی .

۲- دوهمه معنا د اعراب (إزالة الفساد) ته وايي چي دا ماخوذ دی له (عُرِبت مِعدته) څخه او په اعراب کي همزه د باب افعال د سلب لپاره ده، (أي : إزالة الفساد) او په معرب کي هم ازاله د فساد ده .

---

(1) دا حديث امام أبو جعفر طحاوي په خپل درسي کتاب (شرح معاني الآثار) کي روايت کړی دی، کتاب الزّيادات، باب : تزويج الأب ابنته البکر، ....، حديث شمېره (۷۳۴۹) او همدا ډول يې په خپل يو بل کتاب (شرح مشکل الآثار) کي روايت کړی دی، بيان ما أشکل عن رسول الله صلّى الله عليه وسلم مِن قوله : (الأيِمُ أحَقُّ بنَفسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا، وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ، وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا)، ۱۴ ټوک، ۴۳۹ مخ، حديث شمېره (۵۷۴۳) .

او همدا ډول دا حديث امام أحمد په خپل (المسند) کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۱۷۷۲۲) او محقق شعيب الأرناؤوط وېلي : چي (صحيح لغيره) دی .

(۷۰) پوښتنه : تعريف د معرب مانع د دخول له غير څخه نه دی، لکه : (غُلام زيدٍ) چي په دې کي داخل سو لفظ د غلام له غير سره چي زيد دی او دا مرکب دی او دله مبني الأصل سره مشابه هم نه دی، حال دا چي دا معرب نه دی، بلکي مبني دی ؟

جواب : دلته مراد له غير څخه عامل دی او دلته (غلام) له خپل عامل سره مرکب نه دی .

(۷۱) پوښتنه : په داسي صورت کي ؛ خو بيا مبتدا او خبر څني خارج سو ؛ ځکه دوی مرکب مع العامل نه دي او معرب دي .

جواب : عامل عام دی چي لفظي وي او که معنوي وي ؛ نو د مبتدا او خبر عامل معنوي دی .

(۷۲) پوښتنه : غير منصرف څني خارج سو ؟ ځکه دا مشابه دی له مبني الأصل سره ؟

جواب : مراد له مشابهت څخه مشابهت موثره دی او د غير منصرف مشابهت ضعيف دی . او دويم دا چي نوم د معرب متمکن دی او متمکن د باب تفعيل د اسم فاعل صيغه ده په معنا د ځای ورکولو سره او معرب هم اعراب لره ځای ورکوي ؛ له دې وجي دې ته متمکن وايي .

فَصْلٌ : وَحُكْمُهُ أَنْ يَخْتَلِفَ آخِرُهُ بِاخْتِلافِ الْعَوامِلِ لَفْظِيًّا. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ، ورَأَيْتُ زَيْدًا، ومَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، أَوْ تَقْدِيرِيًّا. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ مُوْسَى، وَرَأَيْتُ مُوْسَى، ومَرَرْتُ بِمُوْسَى)

فصل دی : او حکم يې (يعني : د اسم معرب حکم) دا دئ : چي بدليږي آخر يې په اختلاف د عواملو لفظا. لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ، ورَأَيْتُ زَيْدًا، ومَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، يا بدليږي تقديرا، لکه : (جَاءَنِيْ مُوْسَى، وَرَأَيْتُ مُوْسَى، ومَرَرْتُ بِمُوْسَى)

زنځيري ترکيب : حکم مضاف، هُ مضاف إليه چي مجموعه مبتدا، أن ناصبه، يختلف فعل، آخره مضاف مضاف إليه فاعل، با جاره، اختلاف مجرور مضاف، العوامل مضاف إليه ؛ دا ټول بيا خبر د مبتدا جوړيږي او باقي ترکيب واضح دی .

تشريح : دا دويم فصل دی په دې کي بيان د يوڅو امورو دی، لکه : ۱- حکم د معرب . ۲- تعريف د اعراب . ۳- اقسام د اعراب . ۴- عامل تعريف . ۵- محل د اعراب . ۶- اقسام د معرب .

نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَىٰ په دې عبارت سره حکم د اسم معرب ذکر کوي چي حاصل د دې دا دئ : د عامل په بدليدو سره به آخر د معرب بدليږي، اختلاف عام دی لفظي وي، لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ إلخ)، يا تقديري وي، لکه : (جَاءَنِيْ مُوْسَى إلخ) .

او اختلاف له لوبه سره په دوه ډوله دی :

۱- اختلاف صفتي . ۲- اختلاف ذاتي : له اختلاف صفتي څخه مراد دا دئ چي يو حرکت په بل حرکت بدل سي او له اختلاف ذاتي څخه مراد دا دئ چي يو حرف په بل حرف بدل سي، بيا هر يو له دې څخه په دوه ډوله دی : ۱- اختلاف صفتي لفظي . ۲- اختلاف صفتي تقديري ؛ نو ټوله څلور صورتونه سول او مثالونه يې په راتلونکي ډول دي :

۱- اختلاف ذاتي لفظي. لکه : (جَاءَنِيْ أَبُوْكَ) إلخ .

۲- اختلاف ذاتي تقديري. لکه : (جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ) إلخ .

۳- اختلاف صفتي لفظي، لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ) إلخ .

۴- اختلاف صفتي تقديري، لکه : (جَاءَنِيْ مُوْسَى) إلخ .

(۷۳) پوښتنه : حکم په ډېرو معناوو سره راځي ؛ نو دلته کومه يوه معنا مراد ده ؟

جواب : دلته په معنا د اثر سره دی .

(۷۴) پوښتنه : (العوامل) جمع ده او د جمع اطلاق کم ازکم په درو باندي کيږي ؛ نو د دې مطلب دا سو چي په معرب باندي به درې عوامل او تر دې زيات داخليږي، حال دا چي دا معنی غلطه ده .

جواب : دلته جنس عوامل مراد دي چي قرينه پرې الف لام جنسي دی او هغه ورباندي داخل دی .

(۷۵) پوښتنه : جمع يې بيا ولې راوړه چي دلته جنس عوامل مراد دي ؟

جواب : اشاره ده کثرت د عواملو ته او عامل يو نه دی، بلکي ډېر دي ؛ نو له دې وجي صيغه د جمع کثرت يې راوړې ده .

الْإِعْرَابُ مَا بِهِ يَخْتَلِفُ آخِرُ الْمُعْرَبِ

اعراب هغه دی چي د ده په سبب سره آخر د معرب مختلف کيږي

ترکيب : الإعراب مبتدا، ما موصوله يا موصوفه، ما ورله صله يا صفت د خبر د مبتدا، به جار مجرور محلا، يختلف فعل، آخر المعرب مضاف مضاف إليه فاعل .

(۷۶) پوښتنه : په تعريف د اعراب کي عامل او معنا مقتضي داخله سوه ؛ ځکه د دوی په وجه هم آخر د معرب مختلف کيږي ؟

جواب : مراد له ما څخه دلته حروف او حرکتونه دي او عامل او معنا مقتضي د حروفو او حرکتونو نه دي ؛ حاصل دا سو چي اعراب نوم د حرف او حرکت دی .

(۷۷) پوښتنه : په (ما بِهِ) کي دا باء د څه لپاره ده ؟

جواب : مراد له باء څخه باء سببيه ده .

وَإِعْرَابُ الْاِسْمِ ثَلَاثَةُ أَنْوَاعٍ : رَفْعٌ، وَنَصْبٌ، وَجَرٌّ . وَالْعَامِلُ مَا بِهِ رَفْعٌ، وَنَصْبٌ، وَجَرٌّ كَالضَّمَّةِ، وَالْفَتْحَةِ، وَالْكَسْرَةِ، وَالْوَاوِ، وَالْيَاءِ، وَالْأَلِفِ .

لکه پېښ، زور، زېر، واو، ياء او الف . او اعراب د اسم درې ډوله دی : رفع، نصب او جر او عامل هغه دی چي په هغه باندي رفع، نصب او جر وي

تشريح : مصنف رحمة الله عليه په دې عبارت سره دوه ډولونه د اعراب ذکر کوي : ۱- اعراب بالحرکت . ۲- اعراب بالحرف . او اعراب بالحرکت په درې ډوله دی : ۱- پېښ، ۲- زور، ۳- زېر او اعراب بالحرف هم په درې ډوله دی : ۱- اعراب په واو سره، ۲- اعراب په الف سره، ۳- او اعراب په ياء سره .

او بله خبره دا ده : چې اعراب بالحركت اصل دی او اعراب بالحرف فرع ده .

(۷۸) پوښتنه : مصنف انواع وويل او اقسام يې ولې نه وويل ؟

جواب : انواع لفظ چې يې راوړی ؛ نو دې ته اشاره ده چې رفع، نصب او جر دا يوه نوعه ده او تر دې لاندې افراد دي او د رفع درې افراد دي : ۱- رفع په پېښ سره . ۲- رفع په الف سره . ۳- او رفع په واو سره .

او د نصب څلور انواع دي : ۱- نصب په زور سره . ۲- نصب په زېر سره . ۳- نصب په الف سره . ۴- او نصب په يا سره او د جر درې افراد دي : ۱- جر په زېر سره . ۲- جر په زور سره . ۳- او جر په يا سره .

وَمَحَلُّ الْإِعْرَابِ مِنَ الْاِسْمِ هُوَ الْحَرْفُ الْأَخِيْرُ. مِثَالُ الْكُلِّ نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ) ؛ فَـ (قَامَ) عَامِلٌ، وَ(زَيْدٌ) مُعْرَبٌ، و(الضَّمَّةُ) إِعْرَابٌ، وَالدَّالُ مَحَلُّ الْإِعْرَابِ

او محل د اعراب له اسم څخه هغه حرف آخر دی، لکه مثال د کل : (قَامَ زَيْدٌ) ؛ نو (قَامَ) عامل دی او (زيد) معرب دی او پېښ اعراب دی او دلالت کوونکی يې محل د اعراب دی

زنځيري ترکيب : محل الاسم مضاف مضاف إليه موصوف دی له اسم څخه په اعتبار د متعلق چې کائن دی دا صفت دی لپاره د دغه موصوف، موصوف سره له صفته مبتدا، هو بيا مبتدا، حرف آخر موصوف او صفت خبر د متبدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبر د مبتدا چې محل الاسم دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه .

(۷۹) پوښتنه : محل الإعراب به آخر الاسم وئ ؟

جواب : آخر په منزله د صفت دی او اسم په منزله د موصوف دی او قاعده دا ده چې صفت وروسته وي تر موصوف، له دې وجې آخر د اسم معرب محل د اعراب دی .

(۸۰) پوښتنه : (مُسْلِمَانِ) او (مُسْلِمُوْنَ) د دې آخري حرف نون او محل د اعراب ؛ خو نون نه دی، بلکې ماقبل تر نون محل د اعراب دی .

جواب : نون حرف آخر د تثنيه يې او د جمع نه دی، بلکې دا نون د حرکت د مفرد، يا تنوين د مفرد په عوض کې راوړل سوی دی او محل د اعراب الف او واو دی، له دې وجې مصنف دا سوال دفع کړی دی په ضمير فصل سره، کوم چې د حصر لپاره دی په دې قول د هغه کې چې وايي : (هُو الحَرف الأخير، فتأمّل !) .

وَاعْلَمْ ! أَنَّهُ لَا يُعْرَبُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ إِلَّا الْاِسْمُ الْمُتَمَكِّنُ وَالْفِعْلُ الْمُضَارِعُ . وَسَيَجِيْءُ حُكْمُهُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِيْ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ

او پوه سه ! په دې چې بېشکه نه معرب کيږي په کلام د عربو کې مګر اسم متمکن او فعل مضارع . او ژر دی چې رابه سي حکم يې په دوهم کې که خوښه وه د الله تعالی

زنځيري ترکيب : اعلم فعل فاعل، أنّ حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، ه ضمير شان، لا نافيه، يُعرب فعل مضارع مجهول، في کلام العرب جار مجرور چې متعلق تر لا يُعرب پورې دی، إلا حرف استثناء، الاسم المتمکن موصوف صفت، واو عاطفه، الفعل المضارع موصوف صفت، ماقبل معطوف معطوف عليه مستثنی مفرغ نائب فاعل د يُعرب ؛ دا مجموعه خبر د أنّ، بيا دا په تأويل د مفرد سره مفعول به د اعلم او باقي ترکيب واضح دی .

تشريح : د مصنف رحمه الله عليه غرض له دې عبارت څخه بيان د اقسامو د مطلق معرب دی او معرب په دوه ډوله دی : ۱- اسم متمکن، مګر دا مشروط دی په دې شرط سره چې په ترکيب کې به واقع وي اوکه نه وو واقع ؛ نو بيا به مبني وي، لکه : (زيد، عمر، بکر) . ۲- فعل مضارع : د دې لپاره هم شرط دی چې فعل مضارع به خالي وي له نون تاکيد ثقيله او خفيفه او له نون جمع مؤنث څخه، لکه : (لَيَضرِبَنَّ، لَيَضرِبَنْ، يَضرِبْنَ، تَضرِبْنَ) ؛ ځکه په دې صورتونو کې به فعل مضارع مبني وي او دلته د فعل مضارع تفصيل نه کوي، بلکې د هغې بحث به په قسم ثاني د (بحث الفعل) کې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

د اعراب ډولونه : اوس مصنف رحمه الله عليه د اعراب ډولونه بيانوي :

فَصْلٌ فِيْ أَصْنَافِ إِعْرَابِ الْاِسْمِ. وَهِيَ تِسْعَةُ أَصْنَافٍ. الْأَوَّلُ : أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ. وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ. وَالْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ

فصل دی په بيان کې د اصنافو د اعراب د اسم کې او دا اسم معرب نهه ډولونه دي، لومړی دا دئ : چې رفع يې په پېښ، نصب يې په زور او جر يې په زير سره وي

زنځيري ترکيب : في جار، أصناف مضاف، الاسم مضاف إليه ؛ دا مجموعه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف مستقر متعلق په کائن پورې، متعلق سره له متعلقه صفت د موصوف چې فصل دی، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا چې هذا دی، هي مبتدا، تسعة أصناف مضاف مضاف إليه خبر اول د مبتدا، أن يکون إلخ په تأويل د مصدر سره خبر د مبتدا دی .

تشريح : په دې فصل کې مصنف رحمه الله عليه د اسم د اعراب اقسام بيانوي، د اعراب اقسام نهه دي او اسم متمکن چې اعراب ورباندې راځي شپاړس ډوله دی او دا نهه قسمه اعراب چې تقسيمېږي پر شپاړسو اقسامو د اسم طريقه يې د اعراب په لومړي سر کې په دوه ډوله ده :


۱- اعراب لفظي . ۲- اعراب تقديري . اعراب لفظي په دوه ډوله دی ۱- اعراب لفظي بالحرکت . ۲- اعراب لفظي بالحرف .

اعراب لفظي بالحرکت راځي په اسماء مذکوره وو کې، لکه : ۱- مفرد منصرف صحيح . ۲- جاري مجری صحيح . ۳- جمع مکسر منصرف . ۴- جمع مؤنث سالم . ۵- غير منصرف . ۶- اسم منقوص په حالت د نصب کې، لکه : (رأيت القاضي) . او اعراب تقديري بالحرکت راځي په اسماء مذکوره کې، لکه : ۱- اسم منقوص په حالت د رفع او جر کې . ۲- اسم مضاف وياء د متکلم ته په درېو حالاتو کې . ۳- اسم مقصور په درېو حالاتو کې .

اعراب لفظي بالحرف راځي په اسماء مذکوره کې، لکه : ۱- اسماء سته موحده مکبره . ۲- تثنيه حقيقي . ۳- تثنيه صوري . ۴- تثنيه معنوي . ۵- جمع حقيقي . ۶- جمع صوري . ۷- جمع معنوي . ۸- جمع مذکر سالم چې مضاف وي يا د متکلم ته نصبا او جرا .

اعراب تقديري بالحرف راځي په جمع مذکر سالم کي چي مضاف وي يا د متکلم ته په حالت د رفع کي فقط .

په نقشه کي د اعراب ډولونه : وجه د حصر د اسم متمکن په اعتبار د اقسامو د اعراب سره په راتلونکي نقشه کي ذکر ده :



لومړی ډول له دې ډولونو څخه دا دئ چي رفع يې په پېښ سره، نصب يې په زور سره او جر يې په زېر سره وي، مصنف رحمه الله عليه دا ډول اعراب له دوو وجو مخکي کړ : ۱- دا اعراب بالحرکت دی او اعراب په حرکت سره اصل دی تر اعراب په حرف سره . ۲- دا ډول اعراب په دريو احوالو کي راځي او دا اصل دی په نسبت سره يو حالت او دوو حالتونو ته او اصل مخکي وي پر اصل اه ! .

وَيَخْتَصُّ بِالْمُفْرَدِ الْمُنْصَرِفِ الصَّحِيْحِ. وَهُوَ عِنْدَ النُّحَاةِ مَا لَايَكُوْنُ آخِرُهُ حَرْفَ عِلَّةٍ كَـ(زَيْدٍ).
وَبِالْجَارِيْ مَجْرَى الصَّحِيْحِ. وَهُوَ مَا يَكُوْنُ فِيْ آخِرِهِ وَاوٌ. أَوْ يَاءٌ مَا قَبْلَهَا سَاكِنٌ. كَـ(دَلْوٍ. وَظَبْيٍ).
وَبِالْجَمْعِ الْمُكَسَّرِ الْمُنْصَرِفِ كَـ(رِجَالٍ). تَقُوْلُ :

(جَاءَنِي زَيْدٌ وَدَلْوٌ وَظَبْيٌ وَرِجَالٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَدَلْوًا وَظَبْيًا وَرِجَالًا ،وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَدَلْوٍ وَظَبْيٍ وَرِجَالٍ)

او خاص دی دا ډول د اعراب په مفرد منصف صحيح پوري او دا د نحاتو په نيز هغه دی چي نه وي آخري حرف يې علت، لكه : (زَيْدٍ) او په جاري مجرى صحيح سره او هغه دادئ چي وي په آخر كي يې واو، يا ماقبل يې ساكن وي، لكه : (دَلْوٍ وَظَبْيٍ) او په جمع مكسر منصرف سره، لكه : (رِجَالٍ) څرنګه چي ته يې وايې :

(جَاءَنِي زَيْدٌ وَدَلْوٌ وَظَبْيٌ وَرِجَالٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَدَلْوًا وَظَبْيًا وَرِجَالًا، وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَدَلْوٍ وَظَبْيٍ وَرِجَالٍ)

تشريح : لومړی ډول له اعراب څخه چي بالحرکتوي او په احوال ثلاثه وو کي به وي ؛ نو دا خاص دی په دريو اسماؤ پوري، لكه : ۱- مفرد منصرف صحيح . ۲- جاري مجرى صحيح . ۳- جمع مكسر منصرف .

تفصيل : مفرد په مقابله د دريو شيانو كي راځي : ۱- مفرد مقابل مركب . ۲- مفرد مقابل تثنيه وجمع . ۳- مفرد مقابل مضاف وشبه مضاف . ۴- مفرد مقابل جملة وشبه جمله .

نو دلته مفرد په اصنافو د اعراب كي مقابل د تثنيه او جمع دی ؛ ځكه د هغوی اعراب داسي نه دی په دي قيد سره چي منصرف دی اه ! .

فايده (د صحيح ډولونه) : صحيح په اصطلاح كي پر دري ډوله دی : ۱- صحيح د نحويانو . ۲- صحيح د صرفيانو. ۳- او صحيح د محدثينو .

۱- نحويان صحيح دې ته وايي چي په آخر كي يې حرف علت نه وي ؛ نو په دې قيد سره ناقص خارج سو او مهموز، مضاعف، مثال، اجوف او داسي نور په اول ډول كي داخل سول چي د دوی اعراب د جاري مجرى صحيح دی .

۲- صرفيان صحيح دې ته وايي چي په فا، عين او لام كليمه كي همزه تضعيف او حرف علت نه وي .

۳- او محدثين صحيح دې ته وايي چي كوم حديث له پيغمبر ﷺ څخه روايت سوی وي ؛ نو د هغه سند په سالمه توګه رسيدلی وي او راوي يې په مينځ كي نه وي پاته سوی .

نو اوس دلته مراد له صحيح څخه صحيح د نحويانو دی ؛ ځكه مصنف وايي : (الصَّحِيحُ وَهُوَ مَا إلخ) او دليل يې دا دئ : چي مصنف رحمه الله عليه دې ډول ته داسي اعراب ؛ ځكه وركړ چي اسماء اصل دي په نسبت سره نورو اسماؤ ته او اعراب بالحركت اصل دی په نسبت سره اعراب بالحرف ته ؛ نو اصل ته يې اصل اعراب وركړ ؛ لپاره د رعايت د عدل، لكه څرنګه چي ويل سوي دي : مفرد اصل دی په نسبت سره وتثنيه يې او جمع ته ؛ منصرف اصل دی په نسبت سره وغير منصرف ته ؛ صحيح اصل دی په نسبت سره وغير صحيح ته، جاري مجرى صحيح اصل دی په نسبت سره وغير ته او جمع مكسر اصل دی په نسبت سره وجمع سالم ته .

(۸۱) پوښتنه : جمع مكسر ولې اصل ده په نسبت سره جمع سالم ته سره له دې چي په جمع سالم كي حروف د مفرد ټول وي ؟

جواب: په جموع كي اصل دا وي چي تغاير پكي راغلی وي له حروف مفرد څخه او تغاير تام په جمع مكسر كي وي نه په جمع سالم كي اه !

(۸۲) پوښتنه : د جمع په صفت كي مكسر راوړل صحيح نه دي ؛ ځكه تكسير په حروفو د مفرد كي راځي نه په حروفو د جمع كي ؟

اول جواب : مراد دلته له مکسره څخه لغوي معنا مراد نه ده، بلکې معنا اصطلاحي مراد ده .

دويم جواب : دا صفت په خپل حال متعلق دی او تقدير د عبارت داسې دی : (الجمع المكسر واحد) .

د مفرد منصرف صحيح، جاري مجرى صحيح، غير منصرف، جمع مکسر منصرف او جمع مؤنث سالم مثالونه : د مفرد منصرف صحيح درې حالات دي چې هغه : (۱) حالت د رفع يې، لکه : (جَاءَنِي زَيْدٌ)، جاء فعل، ن وقاية، ياء ضمير متکلم مفعول به، زيد فاعل، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۲) حالت د نصب يې، لکه : (رَأَيْتُ زَيْدًا)، لکه : رأيت فعل فاعل، زيدا مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمليه اسميه خبريه .

(۳) او حالت د جر يې، لکه : (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، مررت فعل فاعل، با جار، زيد مجرور، جار سره له مجروره متعلق په مررت پوري، فعل سره له فاعل او متعلقه جمليه فعليه خبريه .

د جاري مجرى صحيح هم درې حالات دي چې هغه : (۱) حالت د رفع يې، لکه : (هَذَا دَلْوٌ)، هذا مبتدا، دلو خبره، مبتدا سره خبره جمله اسميه خبريه .

(۲) حالت د نصب يې، لکه : (أَخَذْتُ دَلْوًا)، أخذت فعل فاعل، دلوا مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۳) او حالت د جر يې، لکه : (نَظَرْتُ إِلَى دَلْوٍ) نظرت فعل فاعل، إلى جار، دلو مجرور متعلق په فعل پوري، فعل سره له فاعل او متعلقه جمله فعليه خبريه .

د غير منصرف هم درې حالات دي چې هغه : (۱) حالت د رفع يې، لکه : (جَاءَنِي أَحْمَدُ)، جاء فعل، ن وقاية، يا ضمير متکلم مفعول به، أحمد فاعل، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۲) حالت د نصب يې، لکه : (رَأَيْتُ أَحْمَدَ)، رأيت فعل فاعل، أحمد مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۳) او حالت د جر يې، لکه : (مَرَرْتُ بِأَحْمَدَ)، مررت فعل فاعل، با جار، أحمد مجرور، جار سره له مجروره متعلق په مررت پوري، فعل سره له فاعل او متعلقه جمليه فعليه خبريه .

د جمع مکسر منصرف هم درې حالات دي چې هغه : (۱) حالت د رفع يې، لکه : (جَاءَنِي رِجَالٌ) جاء فعل، ن وقاية، رجال فاعل، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۲) حالت د نصب يې، لکه : (رَأَيْتُ رِجَالًا)، رأيت فعل فاعل، رجالا مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه .

(۳) او حالت د جر يې، لکه : (مَرَرْتُ بِرِجَالٍ)، مررت فعل فاعل، برجال جار مجرور چې متعلق په فعل پوري دی، فعل سره له فاعل او متعلقه جمله فعليه خبريه .

او د جمع مؤنث سالم هم درې حالات دي چي هغه : (۱) حالت د رفع يې، لکه : (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ)، هن مبتدا، مسلمات خبر، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه.

(۲) حالت د نصب يې، لکه : (رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ)، رأيت فعل فاعل، مسلمات مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه.

(۳) او حالت د جر يې، لکه : (مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ)، مررت فعل فاعل، بمسلمات جار مجرور چي متعلق په فعل پوري دی، فعل سره له فاعل او متعلقه جمله فعليه خبريه.

الثَّانِيْ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ، وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ، وَيَخْتَصُّ بِالْجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ، تَقُوْلُ : (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ)

دويم ډول د اعراب دا دئ چي رفع به يې په ضمې سره وي، نصب او جر به يې په کسرې سره وي او دا ډول خاص دی په جمع مؤنث سالم پوري چي ته به يې داسي وايې : (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ)

تشريح : دوېم صنف د اعراب بالحرکت لفظي په حالتينو کي په داسي توګه چي نصب تابع د جر وي ؛ دا خاص دی په هغه جمع پوري چي په آخر کي يې الف او تا وي، برابره خبره ده چي مفرد ورلره مذکر وي، که مؤنث ؛ نو څه فرق نه لري.

(۸۳) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (ثبون)، (قلون) او (أرضون) باندي چي دا جمع مؤنث سالم ده او دا قسم د اعراب پکي نشته ؟

جواب : مراد له جمع مؤنث سالم څخه جمع اصطلاحي ده او له دې څخه هره هغه جمع مراد ده چي په آخر کي يې الف او تاء زائده وي او دا مذکوره جموع په دې قيد سره وتلي دي.

(۸۴) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په مرفوعات، منصوبات او مجرورات او عرفات باندي او دارنګه کوکبات صافنات د دوی مفرد مذکر دی او صنف ثاني د اعراب پکي راځي، لکه : (مَرْفُوْعٌ، مَنْصُوْبٌ، مَجْرُوْرٌ، كَوْكَبٌ، صَافِنٌ) ؟

جواب : مراد له جمع سالم څخه اصطلاحي جمع سالم ده، برابره خبره ده چي مفرد ورلره مؤنث وي لکه : (مُسْلِمَاتٌ) او که مذکر وي، لکه جموع مذکوره چي د دوی مفرد داسي ذکر دی : (مَرْفُوْعٌ، مَنْصُوْبٌ، مَجْرُوْرٌ، كَوْكَبٌ، صَافِنٌ).

(۸۵) پوښتنه : په جموع کي نصب تابع د جر ولې دی ؟

جواب : جمع مؤنث سالم فرع د جمع مذکر سالم ده او په جمع مذکر سالم کي نصب تابع د جر وي، له دې وجي په جمع مؤنث سالم کي هم نصب تابع د جر سو ؛ د دې لپاره چي د فرع زيادت په اصل باندي رانسي.

(۸۶) پوښتنه : زيادت د فرع په اصل باندي راغلی دی ؛ ځکه چي په جمع مؤنث سالم کي اعراب بالحرکت دی او په جمع مذکر سالم کي اعراب بالحرف دی او اعراب بالحرکت اصل دی تر اعراب بالحرف ؟

جواب : اعراب بالحركت مطلقا اصل نه دى، دارنګه اعراب بالحرف مطلقا فرع نه ده، بلكې په مفرد كې اعراب بالحركت اصل دى او په جمع كې اعراب بالحرف اصل دى ؛ نو زيادت د فرع په اصل باندې نه دئ راغلى .

(۸۷) پوښتنه : هر كله چې جمع مؤنث سالم فرع د جمع مذكر سالم سوه ؛ نو ولې فرع پر اصل مخكې سوه ؟

جواب : دلته اعتبار د اعراب دى، نه د اسماء متمكنه او مصنف رحمه الله تعالى اول اعراب بالحركت ذكر كوي، بيا اعراب بالحرف، له دې وجې اعراب د جمع مؤنث سالم مخكې سو پر اعراب د جمع مذكر سالم اه ! .

الثَّالِثُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ، وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْفَتْحَةِ، وَيَخْتَصُّ بِغَيْرِ الْمُنْصَرِفِ كَـ(عُمَرَ)، تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ عُمَرُ، وَرَأَيْتُ عُمَرَ، وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ)

دريم دا دئ : چې رفع يې په ضمې (پېښ) سره وي، نصب او جر يې په فتحې (زور) سره وي او خاصيږي په غير منصرف پورې، لكه (عُمَر) چې ته به يې داسې وايې : (جَاءَنِيْ عُمَرُ، وَرَأَيْتُ عُمَرَ، وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ)

ز نځيري تركيب : د دې تركيب بعينه د الثاني أن يكون إلخ په ډول دى .

تشريح : دريم صنف د اعراب بالحركت چې جر تابع د نصب وي ؛ دا عكس د جمع مؤنث سالم دى چې دا خاص دى په غيرمنصرف پورې

(۸۸) پوښتنه : په غير منصرف كې جر تابع د نصب ولې دى ؟

جواب : غير منصرف مشابهت لري له فعل سره او په فعل كې كسره نه راځي ؛ نو په غير منصرف كې هم جر نه راځي .

(۸۹) پوښتنه : غير منصرف فرع د منصرف ده ؛ نو دلته اعراب فرعي پكار دى چې هغه بالحرف اعراب دى ؟

جواب : د دې پوښتنې جواب مخكې تېر سوى دى چې په دريو حالاتو كې به اعراب بالحركت لفظي راځي او په دې كې يو حالت اصل او دوه حالات فرع دي او د غيرمنصرف نور تفصيل به په خپل ځاى كې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

يادونه : هر كله چې مصنف فارغ سو له اعراب لفظي بالحركت څخه ؛ نو شروع يې وكړه په اعراب لفظي بالحرف كې او د دې لپاره هم درې صورتونه دي او هغه يې دا ډول ووېل :

الرَّابِعُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ، وَالنَّصْبُ بِالْأَلِفِ، وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ، وَيَخْتَصُّ بِالْأَسْمَاءِ السِّتَّةِ مُكَبَّرَةً مُوَحَّدَةً، مُضَافَةً إِلَىٰ غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ، وَهِيَ : أَخُوْكَ، وَأَبُوْكَ، وَهَنُوْكَ،

وَحَمُوْكَ، وَفُوْكَ، وَذُوْ مَالٍ تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ أَخُوْكَ، وَرَأَيْتُ أَخَاكَ، وَمَرَرْتُ بِأَخِيْكَ)، وَكَذَا الْبَوَاقِيْ

څلورم دا دئ : چې رفع يې په واو سره، نصب يې په الف سره او جر يې په ياء سره وي او دا خاصيږي په اسماء سته مكبره موحده سره چې مضاف وي وغير د ياء متكلم ته او هغه (أَخُوْكَ، وَأَبُوْكَ، وَهَنُوْكَ، وَحَمُوْكَ، وَفُوْكَ، وَذُوْ مَالٍ) چې ته به يې داسې وايې : (جَاءَنِيْ أَخُوْكَ، وَرَأَيْتُ أَخَاكَ، وَمَرَرْتُ بِأَخِيْكَ) او دا ډول نور دي

تشريح : په اسماء سته مذكوره كې اعراب لفظي راځي، مګر مطلقا نه راځي، بلكې د دې لپاره څلور شرطونه دي، يعني اسماء سته : ١- مكبره به وي او كه مصغر وو ؛ نو اعراب بالحركت به راځي په ډول د جاري مجري صحيح، لكه : (جَاءَنِيْ أُبَيٌّ، وَرَأَيْتُ أُبَيًّا، وَمَرَرْتُ بِأُبَيٍّ) ٢- موحده به وي، كه تثنيه او جمع وه ؛ نو د تثنيه او جمع والا اعراب به راځي، تثنيه لكه : (جَاءَنِيْ أَبَوَانِ، وَرَأَيْتُ أَبَوَيْنِ، وَمَرَرْتُ بِأَبَوَيْنِ)، او د جمع يې مثال لكه : (جَاءَنِيْ أَبَاءٌ، وَرَأَيْتُ أَبَاءً، وَمَرَرْتُ بِأَبَاءٍ) . ٣- مضاف به وي او كه مضاف نه وي ؛ نو د مفرد منصرف والا اعراب به راځي مثال يې لكه : (جَاءَنِيْ أَبٌ، وَرَأَيْتُ أَبًا، وَمَرَرْتُ بِأَبٍ) . ۴- مضاف به نه وي يا د متكلم ته او كه مضاف نه وي يا د متكلم ته ؛ نو بيا به اعراب بالحركت تقديري راځي، مثال يې لكه : (جَاءَنِيْ أَبِيْ، وَرَأَيْتُ أَبِيْ، وَمَرَرْتُ بِأَبِيْ) .

فايده د (أسماء ستة مكبرة) **معناوي :** اسماء سته دا دي : ١- (أَخُوكَ)، يعني : ورور ستا . ٢- (أَبُوكَ)، يعني : پلار ستا . ٣- (هَنُوكَ)، يعني : شرمګاه ستا . ۴- (حَمُوكَ)، يعني : لېور ستا . ۵- (فُوكَ)، يعني : خوله ستا . ۶- (ذُو مَالٍ)، يعني : د مال خاوند چې (صَاحِبُ الْمَالِ) ورته وايي .

اولنی درې او پينځم دا مشترک دي په ضمير د مخاطب او مخاطبه كې چې دواړو ته اضافت صحيح دی او څلورم چې (حموكَ) دی ؛ دا خاص دی په مؤنث مخاطبه پورې او دارنګه په ضمير غائب مؤنث پورې ؛ ځکه لېور د ښځې وي او د سړي نه وي چې اضافت د دې ضمير د مذكر مخاطب ته منع دی .

نو دارنګه د ضمير غائب مذكر ته هم د ده اضافت منع دی او شپږم چې ذو دی د ده اضافت ضمير ته منع دی او اسم ظاهر ته د ده اضافت كېداى سي چې دی مضاف إليه خپل د ماقبل لپاره صفت واقع كوي او ضمير صفت نه واقع كېږي، بيا اولني څلور په اصل كې (أَخوٌ، أَبوٌ، هنوٌ، حموٌ) په وزن د فعل چې واو خلاف القياس پكې حذف سو او اعراب په عين كليمه باندې راغلی چې (أَخٌ، أَبٌ، هنٌ، حمٌ) سو او (فوٌ) اجوف واوي دی چې په اصل كې (فُوهٌ) وو په شان د (فلس) دی په وزن د فعل او ها خلاف القياس حذف سوه چې (فوٌ) سو او په دې كې بيا دوه استعماله دي، كه په اضافت سره مستعمل نه وي ؛ نو واو په ميم سره بدلېږي او (فمٌ) جوړېږي او كه په اضافت سره كارول كېږي : نو واو بيا معاد كېږي (فوكَ) ويل كېږي او (ذُو) لفيف مقرون دی چې اصل د ده (ذُوَوٌ) دی، آخري واو حذف سو (ذَو) سو، واو ساكن سو او ذال له پېښ وركړل سو (ذُوْ) ځني جوړ سو .

(٩٠) پوښتنه : اسماء سته مكبره له اعراب بالحرف ولې وركړل سو ؛ د دې لپاره اعراب بالحركت پكار وو ؛ ځکه دا اسماء اصل دي او اصل له اصل اعراب بالحركت پكار وي ؟

جواب : د دې لپاره چې لازم نه سي منافرت او وحشت تامه په مينځ د مفرداتو، تثنيو او جموعو كې سره له مناسبت اشتقاقي او هر كله چې مفرداتو ته اعراب بالحرف وركول سي او تثنيو او جموعو ته هم اعراب بالحرف وركړى سي ؛ نو منافرت تامه او وحشت تامه به د دوی په

مینځ کي راسي، په دې وجه څينو مفرداتو لره اعراب بالحرف ورکول سو په ډول د تثنيو او جموعو ؛ د دې لپاره چي مناسبت راسي په مینځ د دوی کي نه منافرت او وحشت تامه اه !.

(۹۱) پوښتنه : بيا يې شپږ اسماء ولې خاص کړه ؟

جواب : درې حالته د تثنيه يې وي او درې حالته د جمعي وي ؛ نو په شپږو حالاتو کي د مناسبت لپاره يې د شپږو اسماء انتخاب وکړ .

(۹۲) پوښتنه : انتخاب د دې شپږو يې ولې وکړ ؟

جواب : د دوی مشابهت او مناسبت د تثنيي او جمع سره زيات وو ؛ ځکه چي په تثنيه او جمع کي تعدد وو، په دې وجه د دوی (أسماء الستة) وو انتخاب وسو اه !.

فايده د (أسماء ستة مكبرة) **مثالونه** : د اسماء ستة مكبره درې حالات دي چي د رفع حالت په مذكر او مؤنث كي لكه : ۱- (جَاءَنِيْ أَبُوكَ، وَأَبُوهُ، وَأَبُوهَا)، ۲- (جَاءَنِيْ أَخُوكَ، وَأَخُوهُ، وَأَخُوهَا)، ۳- (جَاءَنِيْ هَنُوكَ، وَهَنُوهُ، وَهَنُوهَا)، ۴- (جَاءَنِيْ حَمُوكِ، وَحَمُوهَا)، ۵- (جَاءَنِيْ فُوكَ، وَفُوهُ، وَفُوهَا)، ۶- (جَاءَنِيْ ذُو مَالٍ) .

د نصب حالت يې په مذكر او مؤنث كي لكه : ۱- (رَأَيْتُ أَبَاكَ، وَأَبَاهُ، وَأَبَاهَا)، ۲- (رَأَيْتُ أَخَاكَ، وَأَخَاهُ، وَأَخَاهَا)، ۳- (رَأَيْتُ هَنَاكَ، وَهَنَاهُ، وَهَنَاهَا)، ۴- (رَأَيْتُ حَمَاكِ، وَحَمَاهَا)، ۵- (رَأَيْتُ فَاكَ، وَفَاهُ، وَفَاهَا)، ۶- (رَأَيْتُ ذُو مَالٍ) .

او د جر حالت يې په مذكر او مؤنث كي لكه : ۱- (مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ، وَبِأَبِيْهِ، وَبِأَبِيْهَا)، ۲- (مَرَرْتُ بِأَخِيْكَ، وَبِأَخِيْهِ، وَبِأَخِيْهَا)، ۳- (مَرَرْتُ بِهَنِيْكَ، وَبِهَنِيْهِ، وَبِهَنِيْهَا)، ۴- (مَرَرْتُ بِحَمِيْكِ، وَبِحَمِيْهَا)، ۵- (مَرَرْتُ بِفِيْكَ، وَبِفِيْهِ، وَبِفِيْهَا)، ۶- (مَرَرْتُ بِذِيْ مَالٍ)

الْخَامِسُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْأَلِفِ، وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ الْمَفْتُوْحِ مَاقَبْلَهَا . وَيَخْتَصُّ بِالْمُثَنَّى، وَ(كِلَا) إِذَا كَانَ مُضَافًا إِلَىٰ مُضْمَرٍ . وَ(اثْنَانِ وَاثْنَتَانِ) تَقُوْلُ : (جَاءَنِي الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، وَاثْنَانِ وَاثْنَتَانِ، وَرَأَيْتُ الرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا، وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ، وَمَرَرْتُ بِالرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ)

پينځم دا دئ : چي رفع يې په الف سره وي، نصب او جر يې په ياء مفتوحه ماقبل سره وي . او خاص دی دا په تثنيه يې سره او (كِلَا) چي كله مضاف سي ومضمر ته او (اثْنَانِ) او (اثْنَتَانِ) چي ته داسي وايې : (جَاءَنِي الرَّجُلانِ كِلاهُمَا، وَاثْنَانِ وَاثْنَتَانِ، وَرَأَيْتُ الرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا، وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ، وَمَرَرْتُ بِالرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ)

زنځيري ترکيب : الخامس مبتدا، أن ناصبه مصدريه، يكون فعل ناقصه، الرّفع مرفوع اسم، يكون بالألف سره له متعلقه ظرف مستقر چي خبر د يكون دى، والنّصب والجر : د اعطف دى په الرّفع باندي، با جار، الياء موصوف، إلى په معنى د التي اسم موصول، مفتوح اسم مفعول، ما

(۹۵) پوښتنه : (اثنتان) يې بيا ولې ذکر کړی چې دا هم فرع د (اثنان) ده ؟

جواب : دلته يې دواړه ذکر کړل چې اشاره ده دې خبرې ته چې دا دواړه اسمين له اسماء اعدادو څخه په شان د نورو اسماؤ دي په تذکير او تانيث کې په داسې توګه چې د مذکر لپاره (اثنان) راځي او د مؤنث لپاره (اثنتان) راځي او دوی په شان د باقي اسماء اعداد نه دي چې له ثلاثه تر عشر پورې خلاف القياس راځي .

السَّادِسُ : أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِالوَاوِ المَضْمُومِ مَا قَبْلَهَا، وَالنَّصْبُ والجَرُّ بِاليَاءِ المَكْسُورِ مَا قَبْلَهَا. وَيَخْتَصُّ بِالجَمْعِ المُذَكَّرِ السَّالِمِ. نَحْوُ : مُسْلِمُونَ. وَأُولُوْ عِشْرُوْنَ مَعَ أَخَوَاتِهَا تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ مُسْلِمُوْنَ وَعِشْرُونَ رَجُلًا وَأُولُو مالٍ، وَرَأَيتُ مُسْلِمِينَ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَأُولِي مَالٍ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِينَ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَأُولِي مَالٍ)

شپږم دا دئ : چې رفع يې په واو مضموم ما قبل سره وي او نصب او جر يې په يا مکسور ما قبل سره وي . او دا خاصيږي په جمع مذکر سالم پورې، لکه : (مُسْلِمُوْنَ) او (أُولُوْ عِشْرُوْنَ) سره له اخواتو چې ته به يې داسې وايې : (جَاءَنِيْ مُسْلِمُوْنَ وَعِشْرُونَ رَجُلًا وَأُولُو مالٍ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمِينَ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَأُولِي مَالٍ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِينَ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَأُولِي مَالٍ)

(۹۶) پوښتنه : د جمع لپاره يې ډېر مثالونه ذکر کړل چې وجه يې څه ده ؟

جواب : جمع مذکر سالم په درې ډوله ده : ۱- جمع حقيقي . ۲- جمع صوري . ۳- او جمع معنوي .

۱- جمع حقيقي : دې ته وايي چې شکل يې هم د جمع وي او معنا يې هم د جمع وي، لکه : (مُسْلِمُون) چې جمع د (مُسْلِمٌ) ده .

۲- جمع صوري : دې ته وايي چې صرف صورت يې جمع وي او معنا يې د جمع نه وي او د هغه له جنس او مادې څخه مفرد هم نه وي، لکه : (عِشْرُون) تر (تِسْعُون) پورې .

۳- جمع معنوي : دې ته وايي چې صرف معنا يې د جمع وي او صورت يې د جمع نه وي او مفرد ورلره هم د ده له مادې څخه نه وي، لکه : (أُولُو) .

(۹۷) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (سِنُون، قِلُون، أرضُون، ثبون) باندې چې د جمع مذکر اسم اعراب پکې راغلی او مفرد د دوی مؤنث دی، لکه : (سنة، قلة، أرضة، ثبة) ؟

جواب : مراد زموږ له جمع څخه دلته هغه جمع مذکر سالم ده چې جمع يې سوې وي په واو او نون سره، برابره خبره ده چې مفرد ورلره مذکر وي، لکه : (مُسْلمون) او که مفرد ورلره مؤنث وي. لکن : جموع مذکوره، يعني : مراد له جمع څخه يې جمع اصطلاحي ده چې په دې قيد سره جموع مذکوره داخل دي او خارج نه دي .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ نُوْنَ التَّثْنِيَةِ مَكْسُوْرَةٌ أَبَدًا، وَنُوْنَ جَمْعِ السَّلَامَةِ مَفْتُوْحَةٌ أَبَدًا . وَكِلَاهُمَا تَسْقُطَانِ عِنْدَ الْإِضَافَةِ، تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمُو مِصْرٍ)

او پوه سه ! په دې چې نون د تثنيه يې مکسور (زير ورکړل سوى) وي هميشه او نون د جمع سالمي مفتوح (زور ورکړل سوى) وي هميشه او دواړه ساقطيږي په وخت د اضافت کې چې ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمُو مِصْرٍ)

زنځيري ترکيب : اعلم فعل فاعل، با جار، أنّ حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، نون مضاف، التثنية مضاف إليه چې دا مجموعه اسم د أن، مکسور خبر، أبدا مفعول فيه د مکسورة، واو عاطفه، نون جمع السلامة عطف پر نون تثنيه چې دا هم اسم د أن دی او مفتوحة خبر دی، أبدا مفعول فيه . واو عاطفه، کلاهما مبتدا، تسقطان فعل فاعل، عند الإضافه مفعول فيه، تسقطان فعل، فعل سره له فاعل او مفعول فيه خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه .

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه فرق کوي په مينځ د (نون التثنية) او نون د (جمع السلامة) او د دواړو تر مينځ اشتراکي صورت بيانوي او نون د تثنيه يې به په احوال ثلاثه وو کې رفعا، نصبا، جرا مفتوح وي ؛ نو په (جمع السلامة) سره جمع مکسره خارج سوه ؛ ځکه د هغې نون کله مرفوع، کله مفتوح او کله مجرور وي او په اضافت سره کله کله نه ساقطيږي، لکه : (شياطين) جمع د (شيطان) ده .

دليل : نون د تثنيه يې قائم مقام دی د تنوين د مفرد او تنوين ساکن وي او قاعده دا ده چې (السَّاکن إذا حُرك ؛ حُرِك بالکسرة) ؛ له دې وجې نون د تثنيه يې به مکسور وي او نون د جمع به مفتوح وي ؛ ځکه جمع په اعتبار د معنا سره ثقيل ده او قاعده دا ده چې : (الثقيل يقتضي الخفة) .

او فتحه أخف د حرکاتو ده ؛ له دې وجې نون د جمع به مفتوح وي او په اضافت سره دواړه ساقطيږي ؛ ځکه په اضافت سره اتصال راځي او په نون سره انفصال راځي او دا دواړه نه سره جمع کيږي ؛ نو نون به ساقطيږي اه ! .

السَّابِعُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الضَّمَّةِ. وَالنَّصْبُ بِتَقْدِيْرِ الْفَتْحَةِ، وَالْجَرُّ بِتَقْدِيْرِ الْكَسْرَةِ . وَيَخْتَصُّ بِالْمَقْصُوْرِ، وَهُوَ : مَا آخِرُهُ أَلِفٌ مَقْصُوْرَةٌ نَحْوُ (عَصًا). وَبِالْمُضَافِ إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ غَيْرَ الْجَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ كـ (غُلَامِيْ)، تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ عَصًا وَغُلَامِيْ. وَرَأَيْتُ عَصًا وَغُلَامِيْ، وَمَرَرْتُ بِعَصًا وَغُلَامِيْ)

اووم دا دئ : چې رفع يې په تقدير د ضمې سره وي، نصب يې په تقدير د فتحې سره وي او جر يې په تقدير د کسرې سره وي او دا خاصيږي په مقصور سره او هغه دا دئ : چې آخري الف يې مقصور وي، لکه (عَصَى) او مضاف وي و ياء د متکلم ته غير د جمع مذکر سالم، لکه (غُلَامِيْ) چې ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيْ عَصًا وَغُلَامِيْ، وَرَأَيْتُ عَصًا وَغُلَامِيْ، وَمَرَرْتُ بِعَصًا وَغُلَامِيْ)

زنځيري ترکيب: د دې متن ترکيب اسانه دی ؛ نو اړتيا يې نشته اه !.

تشريح: هر کله چې مصنف رحمه الله عليه فارغ سو د بيان له اعراب لفظي څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د اعراب تقديري کې او د دې درې ډولونه دي : ۱- احوال ثلاثه په اسم مقصور کې راځي . ۲- حالتين په اسم منقوص کې راځي . ۳- او حالت واحده په جمع مذکر سالم کې راځي چې مضاف وي يا د متکلم ته .

(۹۸) پوښتنه : مصنف رحمه الله عليه قسم سابع ته داسي اعراب ولې ورکړ چې په احوال ثلاثه وو کې به تقديري وي ؟

جواب : د اسم مقصوره په آخر کې چې الف وي ؛ د دې دوه صورتونه دي ۱ - الف به باقي وي حذف سوی به نه وي ؛ نو په دې صورت کې اعراب نه قبلوي مثال لکه : (عصى) . ۲- الف حذف سوی وي ؛ نو محل د اعراب آخري حرف وي او هغه باقي نه دی. لکه : (عصا) .

داړنګه دا قسم د اعراب په هغه اسم کې راځي چې غير له جمع مذکر سالم څخه مضاف وي ويا د متکلم ته ؛ ځکه آخير حرف باندي کسره د يا له وجي څخه راغله او محل د اعراب باقي نه سو ؛ نو اعراب تقديري راغی .

يادونه : (عصا) په اصل کې (عَصَوْ) وو، واو د فتحي د ماقبل په الف بدل سو، بيا التقاء د ساکنينو په مينځ د تنوين او الف کې راغله، الف ساقط سو ؛ نو (عصا) سو.

الثَّامِنُ : أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيرِ الضَّمَّةِ، وَالْجَرُّ بِتَقْدِيرِ الْكَسْرَةِ، وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ. وَيَخْتَصُّ بِالْمَنْقُوصِ، وَهُوَ مَا فِيْ آخِرِهِ يَاءٌ مَا قَبْلَهَا مَكْسُوْرٌ كَـ (الْقَاضِيْ). تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ الْقَاضِيْ. وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ. وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ)

اتم دا دئ : چې رفع يې په تقدير د ضمې سره وي. جر يې په تقدير د کسرې سره وي او نصب يې په (تقدير د) فتحې سره وي او دا خاصيږي په (اسم) منقوص سره او دا هغه دی چې په آخر کې يې ياء وي کوم چې ماقبل يې مکسور وي. لکه (الْقَاضِي) چې ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيَ الْقَاضِيَ، وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ، وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيَ)

تشريح : دا قسم له اعراب څخه خاص دی په اسم منقوص پوري، اسم منقوص هغه اسم ته وايي چې په آخر کې يې، يا ماقبل يې مکسور وي، برابره خبره ده چې دا يا اصلي وي، لکه : (الرَّاصِي) سو، يا مبدله وي له واو څخه، لکه : (الداعي) سو چې اصل د دې (داعِوْ) وو.

دليل : دا قسم د اعراب چې تقديري بالحرکت په حالتين کې به وي : دا خاص دی په اسم منقوص پوري ؛ ځکه په اخير د دې کې ياده او په يا باندي ضمه او کسرة ثقيله ده، له دې وجي اعراب تقديري به پکې راځي په حالت رفعي او جري کې او هر چې حالت نصبي دی ؛ نو فتحه لفظي به راځي ؛ ځکه فتحه خفيفه ده په يا باندي اه !.

التَّاسِعُ : أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيرِ الْوَاوِ. وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ لَفْظاً وَيَخْتَصُّ بِالْجَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ مُضَافًا إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ. تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ) تَقْدِيْرُهُ (مُسْلِمُوْيَ) ؛

اِجْتَمَعَتِ الوَاوُ وَاليَاءُ فِي كَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ. وَالأَوَّلُ مِنْهُمَا سَاكِنَةٌ. فَقُلِبَتِ الوَاوُ يَاءً، وَأُدْغِمَتِ اليَاءُ فِي اليَاءِ. وَأُبدِلَتِ الضَّمَّةُ بِالكَسْرَةِ لِمُنَاسَبَةِ اليَاءِ ؛ فَصَارَ : (مُسْلِمِيَّ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ)

نهم دا دئ : چي رفع يې په تقدير د واو سره وي، نصب او جر يې په يا سره وي لفظا او دا خاصيږي په جمع مذكر سالم پوري چي مضاف وي ويا د متكلم ته چي ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ) چي تقدير يې (مُسْلِمُوْيَ) دى : نو واو او يا جمع سوله او اول (حرف) له دوى څخه ساكن دى او واو په يا بدل سو او يا په يا كي مدغمه سوه او ضمه په كسري بدله سوه له وجي د مناسبت د يا : نو (مثال يې) داسي وګرځېد : (مُسْلِمِيَّ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ)

زنځيري تركيب : التاسع إلخ اعراب يې داسي دى لكه د مخكي، جمع المذكر السالم ذو الحال، مضافا اسم مفعول، هو ضمير پكي مستتر نائب فاعل دى، إلى ياء متكلم جار مجرور چي ظرف لغوه متعلق په مضافا پوري دى ؛ دا مجموعه حال سو د ذو الحال او د باقي عبارت تركيب واضح دى .

تشريح : هر كله چي مصنف رحمة الله عليه فارغ سو له اعراب بالحركت تقديري څخه ؛ نو شروع يې وكړه په بيان د اعراب بالحرف تقديري كي او د دې يو صورت دى .

دليل : په حالت رفعي كي اعراب تقديري په واو سره راځي او په حالت نصبي او جري كي اعراب لفظي په واو او يا سره راځي ؛ ځكه په حالت رفعي كي واو په يا سره بدل سو چي واو پاته نه سو ؛ نو تقديري به وي او په حالت نصبي او جري كي يا په يا كي مدغمه سوه ؛ نو يا پاته سوه وروسته تر ادغام، په دې وجه اعراب په دواړو حالتو كي لفظي سواه ! .

فَصْلٌ : الإِسْمُ الْمعرَبُ عَلَى نَوْعَيْنِ : (مُنْصَرِفٌ)، وَهُوَ مَا لَيْسَ فِيهِ سَبَبَانِ، أَوْ وَاحِدٌ يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا مِنَ الأَسْبَابِ التِّسْعَةِ الآتِيَةِ. كَـ(زَيْدٍ)، وَيُسَمَّى الإِسْمَ الْمُتَمَكِّنَ .

وَحُكْمُهُ أَنْ يَدْخُلَهُ الحَرَكَاتُ الثَّلَاثُ مَعَ التَّنْوِينِ. تَقُولَ : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ. وَرَأَيْتُ زَيْدًا. وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ) . وَغَيْرُ مُنْصَرِفٍ. وَهُوَ مَا فِيه سَبَبَانِ. أَوْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا. وَالأَسْبَابُ التِّسْعَةُ هِيَ : اَلعَدْلُ. وَالوَصْفُ. وَالتَّأْنِيثُ. وَالمَعْرِفَةُ. وَالعُجْمَةُ. وَالجَمْعُ. وَالتَّرْكِيبُ. وَالأَلِفُ وَالنُّونُ الزَّائِدَتَانِ. وَوَزْنُ الْفِعْلِ . وَحُكْمُهُ أَنْ لَا يَدْخُلَهُ الْكَسْرَةُ وَالتَّنْوِيْنُ. وَيَكُوْنُ فِيْ مَوْضِعِ الْجَرِّ مَفْتُوْحًا أَبَدًا تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ أَحْمَدَ. وَرَأَيْتُ أَحْمَدَ. وَمَرَرْتُ بِأَحْمَدَ)

فصل دى : اسم معرب پر دوه ډوله دى چي يو (منصرف) دى او هغه دا دئ چي په هغه كي نه وي دوه سبب له او يا يو له دوو سببونو څخه چي دريږي پر ځاى د اسبابو نهو راتلونكو لكه (زَيْدٍ) او دا اسم متمكن بلل كيږي .

او حکم يې دا دئ چې وربانديې داخليږي حرکات ثلاثه سره له تنوينه چې ته به يې داسې وايې: (جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدًا، وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ) . او غير منصرف دا دئ چې په هغه کې دوه سببه او يا يو داسې سبب چې د دوی پر ځای دريږي او نهه سببونه (لاملونه) دا دي: (اَلْعَدْلُ، وَالْوَصْفُ، وَالتَّأْنِيْثُ، وَالْمَعْرِفَةُ، وَالْعُجْمَةُ، وَالْجَمْعُ، وَالتَّرْكِيْبُ، وَالْأَلِفُ وَالنُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ، وَوَزْنُ الْفِعْلِ) او حکم يې دا دئ چې نه وربانديې داخليږي کسره او تنوين او وي په ځای کې د جر مفتوح (زور لرونکی) همېشه چې ته به يې داسې وايې: (جَاءَنِيْ أَحْمَدُ، وَرَأَيْتُ أَحْمَدَ، وَمَرَرْتُ بِأَحْمَدَ)

ترکيب يې واضح دی.

تشريح: دا د مقدمې څلورم فصله دي او په دې کې دا بيان کوي چې اسم معرب پر دوه ډوله دی: ۱- منصرف. ۲- او غير منصرف.

د (منصرف) تعريف دا دئ چې په دې کې د نهه اسبابو له منع صرف څخه دوه سببونه وي، يا يو سبب وي چې هغه قائم مقام د دوو سببونو دی او دويم نوم دده متمکن دی په معنا د قوت سره؛ ځکه دی تنوين او حرکات ثلاثه قبلوي له دې وجې منصرف قوي دی په نسبت سره غير منصرف ته او د دې مناسبت په وجه ورته متمکن وايي.

(غير منصرف) دې ته وايي چې په عکس د منصرف وي او تعريف د ده مصنف ذکر کړی دی چې مکررولو ته يې اړتيا نشته اه!.

(۹۹) پوښتنه: مصنف رحمه الله عليه منصرف ولې پر غير منصرف مخکې کړی دئ؟

جواب: اصل په اسماؤ کې انصراف دی: نو له وجې د اصالت د منصرفه مصنف صاحب منصرف پر غير منصرف مخکې کړی.

(۱۰۰) پوښتنه: مصنف رحمه الله عليه تعريف د منصرف ولې په عدمي سره کړی دی او تعريف: خو په وجودي سره کيږي؟

جواب: کله تعريف د يو شي کېدای سي لپاره د تميز چې يو شی له بل شي څخه جدا کړي او دا په وجودي او عدمي دواړو سره کېدای سي.

(۱۰۱) پوښتنه: په (ضربت) کې دوه سببونه موجود دي: ۱- وزن فعل. ۲- او تانيث او دا غير منصرف نه دئ؟

جواب: مراد زموږ اسم دی، يعني بحث زموږ په اسم کې دی او (ضربت) فعل دی.

(۱۰۲) پوښتنه: (حضار) او (ثمار) کې دوه سببونه سته چې يو علميت او دويم تانيث دی، حال دا چې غير منصرف نه دئ؟

جواب: جواب مراد زموږ له اسم څخه اسم معرب دی او دوی دوه اسم مبني دي.

(۱۰۳) پوښتنه: (قائمةٌ) کې دوه سببونه موجود دي چې يو تانيث دی او دوی وصف دی او اسم معرب هم دی مګر منصرف دی.

جواب: له سببين څخه مراد ذکته مؤثران دي او دوی دوه دلته مؤثران نه دي اه!.

(۱۰۴) پوښتنه: په حکم د غيرمنصرف کې ويل سوي دي: چې تنوين او کسره نه قبلوي: نو ستا قاعده منقوضه سوه په (نعمان) باندي چې غير منصرف دی او دوه سببونه پکې دي: ۱- علميت ۲- او الف نون زائدتان، حال دا چې تنوين او کسره دواړه پر راځي او همدارنګه (سلاسل وأغلالا) او (سلاسلا) صيغه د منتهی الجموع ده چې غيرمنصرف دی او تنوين وربانديې راغلی دئ؟

جواب : کله ناکله د ضرورت شعري او د تناسب لپاره په غير منصرف باندي کسره او تنوين راځي او په نعمان کي تنوين د ضرورت شعري له وجي راغلی دی او شعر لکه :

أَعِدْ ذِكْرَ نُعْمَانَ لَنَا أَنَّ ذِكْرَهُ هُوَ الْمِسْكُ مَاكَرَّرْتَهُ يَتَضَوَّعُ

او په سلاسل کي تنوين د تناسب د (أغلالا) له وجي راغلی دی او نور تفصيل په (الكافية) د ابن حاجب کي وګورئ !.

فايده (د منصرف پوهونه) : منصرف په دوه ډوله دی : ۱- حقيقي . ۲- او جعلي او د منصرف حقيقي تعريف مصنف رحمه الله عليه ذکر کړی دی او د منصرف جعلي لپاره اسباب خمسه دي او هغه لکه : (۱) ضرورت شعري، مثال يې لکه : (أَعِدْ ذِكْرَ نُعْمَانَ لَنَا..) څرنګه چي مخکي تېر سو . ۲- مناسبت په مينځ د دوو کليمو کي، مثال يې لکه : (سلاسلًا) . ۳- نکره وروسته علميت، مثال يې لکه : (لِكُلِّ فِرْعَوْنٍ مُوْسَى) . ۴- دخول د الف او لام، مثال يې لکه : ﴿...وَأَنتُمْ عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ...﴾ [البقرة ۱۸۷] . ۵- او اضافت، مثال يې لکه : ﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ...﴾ [البقرة ۱۵۸]

د نهه اسبابو تعريفونه : مصنف رحمه الله عليه چي کله نهه اسباب ذکر کړل ؛ نو لازمه يې وګڼل چي د هر يو تعريف وکړي او د هغو سببونو د هر يوه تعريف به په راتلونکو څو عبارتونو کي واضح سي :

أَمَّا الْعَدْلُ : فَهُوَ تَغْيِيرُ اللَّفْظِ مِنْ صِيغَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ إِلَى صِيغَةٍ أُخْرَى تَحْقِيقًا أَوْ تَقْدِيرًا

هر چي عدل دی :نو هغه تغير د لفظ دی له خپلي اصلي صيغي څخه وبلي صيغي ته تحقيقا او تقديرا

زنځيري ترکيب : أمّا حرف تفسير، العدل مبتدا چي متضمن دی معنا د شرط لره، هو مبتدا، تغيير اللفظ مضاف مضاف إليه، من صيغته الأصليّة ظرف لغوه چي متعلق په تغيير پوري دی، إلى صيغة أخرى ؛ دا هم متعلق دی په تغيير پوري، تحقيقا او تقديرا دا په ترکيب کي يا د فعل محذوف مفعول مطلق دی، يعني : (حقق تحقيقا و قدر تقديرا) او يا د مضاف إليه د مضاف محذوف دی، يعني (تغير تحقق) او (تقدير) مضاف حذف سو او مضاف إليه د هغه قائم مقام سو او د مضاف اعراب د مضاف إليه سو او يا د مصدر محذوفه صفت دی، يعني : (تغيرًا محققًا ومقدرًا) ؛ نو په دې صورت کي تحقيقا او تقديرا مصدر په معنا د اسم مفعول سره دی او يا دا منصوب بنا پر تميز دی، يعني : د (تغيرا) له لفظ څخه تميز دی او يا د کان محذوفه خبر دی، يعني : (تحقيقًا كان أو تقديرًا) .

فايده (د عدل معاني په لغت او اصطلاح کي) : عدل په لغت کي په څو معناوو سره راځي او هغه : لکه ۱- په معنا د ميلان سره چي کله په صله د ده کي (إلى) راسي، مثال يې لکه : (فلان عدل إليه، أي : مال إليه) . ۲- په معنا د اعراض سره چي کله چي په صله د ده کي (عن) راسي، مثال يې لک : (فلان عدل عنه، أيْ : أعرض عنه) . ۳- په معنا د ليروالي سره چي کله په صله د ده کي (مِن) راسي، مثال يې لکه : (عدل الجمال مِن البعير، أي : بَعُدَ) . ۴- او په معنا د (استواء) برابرتيا سره چي کله په صله د ده کي (بين) راسي، مثال يې لکه : (عدل الأمير بين فلان وفلان، أي : استوى) او اصطلاحي تعريف يې مصنف ذکر کړی دی په متن کي يې ا !.

(۱۰۵) پوښتنه : تعريف د عدل په اسماء مشتقه باندي صادقيږي، لکه : (ضَارِبْ ومضرُوبٌ) او دوی دوه له خپل اصل شکل څخه چي (ضرب) دی تبديل سوی دی، حال دا چي په دوی کي عدل نسته ؟

جواب : په عدل کي صرف شکل او صورت بدل سوی وي او دلته په اسماء مشتقه کي معنا تبديلي راغلې ده .

(۱۰۶) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (يدٍ) او (دم) باندي : نو دلته د شکل او صورت تبديلي راغلې ده او عدل پکي معتبر نه دئ ؟

جواب : مراد زموږ له تغير څخه تغير د صورت دی، نه د مادې او دلته (تغير في المادة) راغلی دی .

د عدل ډولونه : عدل په دوه ډوله دی : ۱- عدل تحقيقي . ۲- عدل تقديري ؛ عدل تحقيقي دې ته وايي : چي په هغه کي يو دليل پيدا کيږي پر وجود د اصل، برابره خبره ده له منع صرف څخه وي، لکه : (ثلاث ومثلث إلخ) او عدل تقديري دې ته وايي : چي په هغه کي نه موجوديږي دليل پر وجود د اصل، لکه : (عمرو، زفر) او داسي نور .

مثال د عدل تحقيقي (ثلاث ومثلث) : دا په کلام د عربو کي غير منصرف لوستل کيږي چي په دې کي يو سبب دی او هغه وصف دی او دا داسي سبب دی چي قائم مقام د سببينو گرځي او په يو سبب سره منصرف غيرمنصرف نه گرځي ؛ نو له دې وجي فرض سو چي په دې کي عدل دی او عدل پکي تحقيقي دی ؛ ځکه د ده په عدم انصراف باندي دليل سته او دا معدول دی .

او معدول عنه د ده موجود دی او هغه دا دئ چي د (ثلاث) او (مثلث) معنی ده درې درې ؛ نو دا لفظ يو دی او په معني کي يې تکرار دی او تکرار د معنا دلالت کوي پر تکرار د لفظ باندي ؛ نو معلومه سوه چي د (ثلاث) اصلي شکل دا نه دی، بلکي (ثلاثة ثلاثة) دی او دغه ډول د (مثلث) اصلي شکل هم (ثلاثة ثلاثة) دی ؛ نو (ثلاثة) او (مثلث) معدول دی او (ثلاثة ثلاثة) معدول عنه دی چي دوی دواړو خپل اصلي شکل پرېښی دی او بل شکل يې يې له صرفي قانونه اختيار کړی دی .

مثال د عدل تقديري : (عمر) او (زفر) ؛ دا دواړه په کلام د عربو کي غيرمنصرف لوستل کيږي چي په دوی کي صرف يو سبب دی او هغه علميت دی او يو سبب قائم مقام د دوو سببونو هم نه وي او په دې سره غيرمنصرف هم نه جوړيږي ؛ نو دا لازمه سوه چي په دې کي دوېم سبب عدل دی او هغه عدل تقديري دی ؛ ځکه دليل د ده په عدم انصراف باندي بل نسته او دا معدول دی او معدول عنه د دوی (عامر) او (زافر) دی چي اصلي شکل او صورت د دوی (عامر) او (زافر) دی : نو دا شکل او صورت دوی پرېښودی او بل شکل او صورت يې يې له قانون صرفي اختيار کړی چي هغه (عمرو) او (زفر) دی .

وَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ وَزْنِ الْفِعْلِ أَصْلًا وَيَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ كَ (عُمَرَ وَزُفَرَ). وَمَعَ الْوَصْفِ كَ (ثُلَاثَ وَمَثْلَثَ وَأُخَرَ وَجُمَعَ)

او نه جمع کيږي عدل له وزن فعل سره هيڅ کله او جمع کيږي له علميت سره، لکه : (عُمَر) او (زُفَر) او له وصف سره، لکه : (ثُلَاثَ وَمَثْلَثَ وَأُخَرَ وَجُمَعَ)

تشريح: عدل او وزن فعل سره نه جمع كيږي: نو داسي نه ويل كيږي چي: په دې اسم كي يو سبب د عدل دى او بل وزن فعل دى: ځكه اوزان د عدل شپږ دي: ۱- (فُعَالِ) لكه (ثُلاثِ). ۲- (مَفْعَل) لكه (مثلث). ۳- (فُعَل) لكه (عُمَر). ۴- (فَعْلِ) لكه (أَمْسِ). ۵- (فَعَل) لكه (سَحَرَ). ۶- او (فَعَالِ) لكه (قَطَامِ).

او يوه سه: په دې چي عدل او علميت جمع كيږي، لكه: (عمر) او (زفر) چي يو عدل دى او بل علميت.

عدل او وصف جمع كيږي، لكه: (ثلاث ومثلث) چي يو عدل دى او بل وصف.

دريم مثال د عدل تحقيقي (أُخَر) دى چي جمع د (أُخرى) ده، (أُخرى) مؤنث د (آخَرُ) دى، (آخَر) په وزن د (أفعل) اسم تفضيل دى او استعمال د اسم تفضيل په دريو طريقو سره دى:

۱- په اضافت سره، مثال يې لكه: (زيدٌ أفضل القوم). ۲- په معرف باللام سره، مثال يې لكه: (زيدٌ الأفضل). ۳- په (مِن) حرف جر سره، مثال يې لكه: (زيد أفضل مِن عُمر).

څلورم مثال د عدل تحقيقي (جُمَعَ) دى او دا هم غير منصرف دى له وجي د سببونو چي عدل او وصف دى او دا مثال د عدل تحقيقي دى؛ ځكه دليل په وجود د اصل باندي يې له منع صرف څخه موجود دى او هغه دليل دا دئ چي (جُمَع) جمع د (جمعاء) ده او (جمعاء) وزن د (فعلاء) دى او (فعلاء) په دوه ډوله دى: ۱- فعلاء صفتي. ۲- فعلاء اسمي.

نو كله چي فعلاء صفتي وي؛ نو جمع د دې راځي په وزن د (فُعْل) باندي، لكه د (حمراء) جمع د (حمر) ده او كله چي فعلاء اسمي وي؛ نو جمع د دې راځي په وزن د (فَعَالي)، يا (فعلوات) باندي، لكه د (صحراء) جمع (صحاري)، يا (صحروات) ده او دلته دا نه په وزن د (فُعْل) دى او نه په وزن د (فعالي) يا (فعلوات) دى؛ نو معلومه سوه چي له دوى څخه معدول دى.

أَمَّا الْوَصْفُ: فَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ أَصْلًا وَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ وَصْفًا فِيْ أَصْلِ الْوَضْعِ؛ فَـ(أَسْوَدُ وَأَرْقَمُ) غَيْرَ مُنْصَرِفٍ، وَإِنْ صَارَ اسْمَيْنِ لِلْحَيَّةِ لِأَصَالَتِهِمَا فِيْ الْوَصْفِيَّةِ. وَ(أَرْبَعٌ) فِيْ (مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ) مُنْصَرِفٌ مَعَ أَنَّهُ صِفَةٌ وَوَزْنُ الْفِعْلِ لِعَدَمِ الْأَصَالَةِ فِيْ الْوَصْفِيَّةِ

او هر چي وصف دى: نو دا نه جمع كيږي له علميت سره هيڅ كله او شرط يې دا دئ چي دا به وصف وي په اصل وضع كي: نو (أَسْوَدُ وَأَرْقَمُ) غير منصرف دى كه څه هم دا دواړه نومونه د مار لپاره ايښودل سوي دي له وجي د اصالت د دې دوو نومونو په وصفيت كي او (أَرْبَعٌ) په (مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ) كي منصرف دى سره له دې چي دا صفت دى او وزن فعل له وجي د نيستوالي د اصالت په وصفيت كي.

زنځيري تركيب: أما حرف تفصيل، الوصف مبتدا چي متضمنه ده معنا د شرط لره، فلا يجتمع إلخ خبر، أصلا په معنى د أبدا چي مفعول فيه دى د فعل لپاره، شرطه مبتدا، أن مصدريه، يكون فعل ناقص، هو اسم د يكون، وصفا موصوف، في أصل الوضع ظرف مستقر چي متعلق په كائن پوري دى، دا سره له خپل متعلقه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته خبر د يكون، يكون سره له اسم او خبره په تاويل د المصدر

خبر د مبتدا، أسود او أرقم مبتدا غير منصرف خبر چي دا جمله اسميه سوه. واو زائده، إن حرف شرط وصليه. صار فعل ناقص، الف ضمير اسم د صار. اسمين موصوف. للحية ظرف مستقر متعلق په كائنينو پوري : دا صفت د موصوف، موصوف سره له صفته خبر د مبتداو لام جاره، أصالة مضاف. هما مضاف إليه فاعل. في الوصفية ظرف لغوه متعلق په أصالة پوري دى. مصدر سره له مضاف إليه فاعل او متعلقه مجرور سو د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه چي متعلق سو د صار، فعل سره له اسم، خبر او متعلقه شرط چي جزاء يې محذوفه ده او باقي تركيب واضح دى.

تشريح : د غيرمنصرف له نهو اسبابو څخه دويم سبب وصف دى او وصف په لغت كي تعريف كولو ته وايي او په اصطلاح كي په دوه ډوله دى. يعني په دوو معناوو سره مستعمل دى : (۱) وصف هغه تابع دى چي دلالت كوي په يوه معنا چي موجوده وي په متبوع كي، لكه : (جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ) . (۲) وصف هغه اسم دى چي دلالت كوي په ذات مبهم باندي چي په هغه كي د يو صفت لحاظ سوى وي، مثال يې لكه : (أحمر) سو.

او فرق يې دا دئ چي اول ډول معرفه هم راځي، مثال يې لكه : (زيدٌ العالِمُ) او نكره هم راځي، مثال يې لكه : (رَجُلٌ عَالِمٌ) . دويم ډول صرف نكره راځي ؛ نو دلته دويم ډول مراد دى .

(۱۰۷) پوښتنه : مصنف وويل (فَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ العَلَمِيَةِ) ؛ د دې څه وجه ده ؟

جواب : د وصف او علميت تر مينځ تضاد دى په معنا كي او وصف دلالت په ذات مبهم باندي كوي او علميت دلالت په ذات معين باندي كوي او د ابهام او تعين په مينځ كي منافات او تضاد دى اه ! .

او دا قول د مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (وَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ وَصْفًا) ؛ د دې مطلب دا دئ : چي دا شرط دى په سببيت كي د منع صرف او دئ شرط وجود د ده په كلام د عربو كي او وصف چي سبب د غير منصرف كرځي ؛ د هغه شرط دا دئ : چي وصفيت اصلي وضعي به وي، عارضي .

د وصف ډولونه : په اصل كي وصف پر دوه ډوله دى : ۱- وصف عارضي . ۲- وصف اصلي وضعي ؛ (وصف عارضي) دې ته وايي چي استعمال سره يكي د وصفيت معنى راغلې وي، نه په وضع د واضع سره او د دې مثال مصنف صاحب ذكر كوي، لكه : (أربع) سو په تركيب كي چي وايي : (مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ) ؛ نو دلته وصفيت عارضي دى ؛ ځكه په اصل كي (أربع) د معيني مرتبې لپاره وضع دى (وصف اصلي وضعي) دې ته وايي : چي واضع وضع كړې وي لپاره د وصفيت او دا دومره قوي وي چي په علميت سره د چالېا صفت وګرځي ؛ نو بيا نه زائليږي چي د هغه مثال (أَسْوَدُ) او (أَرْقَمُ) سو او دا ډول له وصف څخه سبب د منع د صرف ګرځي ؛ ځكه مصنف وايي : (وشرطُهُ أن يكُونَ وصفًا فِي أصل الوَضْعِ) .

أَمَّا التَّأْنِيثُ بِالتَّاءِ : فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا . كَ(طَلْحَةَ وفَاطِمَةَ) . وَكَذَا الْمَعْنَوِيُّ . ثُمَّ الْمَعْنَوِيُّ إِنْ كَانَ ثُلَاثِيًّا سَاكِنَ الْأَوْسَطِ غَيْرَ أَعْجَمِيٍّ ؛ يَجُوْزُ صَرْفُهُ وَتَرْكُهُ لِأَجْلِ الْخِفَّةِ . وَوَجُ[ود] السَّبَبَيْنِ كَ(هِنْدٍ) وَإِلَّا ؛ يَجِبُ مَنْعُهُ كَ(زَيْنَبَ . وَسَقَرَ . وَمَاهَ . وَجُوْرَ) . وَالتَّأْنِيثُ بِالْأَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ

حُبْلَى)، وَالْمَمْدُوْدَةِ كَـ (حَمْرَاءَ) مُمْتَنِعٌ صَرْفُهُمَا أَلْبَتَّةَ ؛ لِأَنَّ الْأَلِفَ قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ : التَّأْنِيْثِ وَلُزُوْمِهِ

هر چي تانيث په تاسره دى : نو شرط يې دا دئ چي عَلَم (نوم) به وي لكه (طَلْحَةَ) او دا ډول معنوي به وي .

يا که معنوي ثلاثي ساكن اوسط وو غير اعجمي وو : نو روا دى اړول او پرېښوول يې له وجي د خفت او وجود د سببينو لكه (هِنْدِ) او كه داسي نه وي : نو واجب دى منع يې لكه (زَيْنَب، وَسَقَرَ، وَمَاهَ، وَجُوْرَ) او تانيث په الف مقصوره سره لكه (حُبْلَى) او په (الف) ممدوده سره لكه (حَمْرَاءَ) ممتنع دى اړول يې خامخا ؛ ځكه الف قائم مقام د دوو سببونو دى : چي هغه تانيث او د هغه لزوم دى

زنځيري تركيب : أما حرف تفصيل. التأنيث موصوف. بالتاء جار مجرور ظرف مستقر متعلق په كائن پوري صفت د موصوف، موصوف سره له صفت مبتدا چي متضمنه ده معنا د شرط لره. فا جزائيه. شرطه مبتدا، أن يكون علما په تاويل د مصدر خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه او باقي تركيب واضح دى .

تشريح : دريم سبب له اسبابو ځخه د منع صرف تانيث دى او د تانيث ځلور ډولونه دي : ۱- (تأنيث بالتاء) ؛ چي دې ته تانيث لفظي هم وائي، لكه : (طلحة) . ۲- (تأنيث معنوي)، لكه : (زينب) . ۳- (تأنيث بألِف مقصورة)، لكه (حُبلى) . ۴- (تأنيث بألِف ممدودة)، لكه : (حمراء) . او په دې ځلورو اقساموكي اول بيان د تانيث لفظي دى چي دا هم سبب د منع صرف واقع كيږي هغه وخت چي علم وګرځي لكه ځرنګه چي مصنف ويلي دي : (وشرطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا) .

(۱۰۸) پوښتنه : په (ظلمة) كي تانيث لفظي سته چي غير منصرف نه دى او علم هم نه دى ؟

جواب : شرط د تانيث لفظي لپاره علم په سببيت د منع صرف كي دى، نه لپاره د وجود د تانيث او دا قاعده په باقي اسبابو كي هم ملحوظه ده ياده !.

(۱۰۹) پوښتنه : علميت د تانيث لفظي لپاره ولې شرط دئ ؟

جواب : ځكه علميت د تانيث لفظي لپاره په سبب د منع صرف كي شرط دى چي تانيث عارضي دى او عارضي شى په محل د زوال كي وي چي دا ضيف وي ؛ نو د علميت په وجه له كليمې سره تانيث لازم سي ؛ ځكه قانون دا دئ : (الأعلام لا تتغير بقدر الإمكان)، يعني : نومونه نه بدليږي په اندازه د امكان : نو تانيث سبب وګرځي د منع صرف، لكه : (طلحة) چي غير منصرف دى يو سبب يكي تانيث دى او بل سبب يكي علميت دى .

أَمَّا الْمَعْرِفَةُ : فَلَا يُعْتَبَرُ فِي مَنْعِ الصَّرْفِ مِنْهُمَا إِلَّا الْعَلَمِيَّةُ وَتَجْتَمِعُ مَعَ غَيْرِ الْوَصْفِ

هر چي معرفه ده : نو نه دئ معتبر په منع صرف كي له دوى دوو ځخه مګر علميت او جمع كيږي له غير وصف سره

زنځيري تركيب : أما حرف تفصيل، المعرفة مبتدا چي متضمنه ده معنا د شرط لره، فاء جزائيه، لا يُعتبر فعل مجهول، في منع الصرف جار مجرور چي ظرف لغوه متعلق په لا يُعتبر پوري دى، منها دا متعلق ثاني فعل، إلا حرف استثنا، العلمية مستثنى مفرغ چي نائب فاعل د ده ضمير دى او هغه هو دى، فعل سره له فاعل او خپلو متعلقاتو خبر د مبتدا چي قائم مقام د جزاء دى، تجتمع فعل ماضي، هي ضمير فاعل، مع غير الوصف مفعول فيه دى .

تشريح : څلورم سبب له اسبابو څخه د منع صرف معرفه ده او دلته مراد له معرفې څخه تعريف دی، نه هغه معرفه چې مقابل د نکرې وي؛ ځکه هغه دلالت کوي په ذات معين باندې او اسباب د منع صرف د اوصاف له قبيل څخه دي، له دې وجې له معرفې څخه مراد تعريف دی چې معنا يې مصدري ده.

(۱۱۰) پوښتنه : د معرفې ډېر ډولونه دي؛ نو مصنف رحمه الله عليه هغه پرېښودل، صرف علميت يې ځنې مختاره کړی: دا ولې؟

جواب : د دې دليل دا دی: چې د معرفې ځيني ډولونه مبني دي، لکه: (مضمرات، إشارات، موصولات)؛ ځکه چې دا د غير منصرف لپاره سبب نه ګرځي او غير منصرف معرب وي او مبني ضد د معرب دی.

قوله (وَتَجْتَمِعُ مَعَ غَيْرِ الْوَصْفِ): مطلب دا چې له وصف سره معرفه نه جمع کيږي؛ ځکه معرفه يعني: عَلَم دلالت کوي په ذات معين باندې او وصف دلالت کوي په ذات مبهم باندې او د دواړو تر مينځ يو تضاد او منافات دی، له دې وجې معرفه او وصف په يو اسم کې نه جمع کيږي.

يادونه : پوه سه! په دې چې (عَلَم) چې هر ځای يادېږي: له دې څخه مراد نوم دی او په بله معنا بېرغ ته هم وايي اه!.

أَمَّا الْعُجْمَةُ : فَشَرْطُهَا أَنْ تَكُوْنَ عَلَمًا فِي الْعُجْمَةِ. وَزَائِدَةً عَلَىٰ ثَلَاثَةِ أَحْرُفٍ كَ (إِبْرَاهِيْمَ). أَوْ ثُلَاثِيًّا مُتَحَرِّكَ الْأَوْسَطِ كَ (شَتَرَ)؛ فَ (لِجَامٌ) مُنْصَرِفٌ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ. وَ(نُوْحٌ) مُنْصَرِفٌ لِسُكُوْنِ الْأَوْسَطِ

هر چې عجمه ده: نو شرط يې دا دئ چې علم به وي په عجمه کې او زائد به وي پر دريو حرفونو لکه (إِبْرَاهِيْمَ). يا ثلاثي (متحرك الأوسط) لکه (شَتَرَ)؛ نو (لِجَامٌ) منصرف دی له وجې د نيستوالي د علميت او (نُوْحٌ) منصرف دی له وجې د (سکون الأوسط)

زنځيري ترکيب : اما حرف تفصيل، العجمة مبتدا چې متضمنه معنی د شرط لره ده، شرطها مبتدا، أن مصدريه، تکون فعل ناقص، هي اسم، علما موصوف. في العجمه ظرف مستقر متعلق په کائن پورې او دا صفت د موصوف، موصوف سره له صفته معطوف عليه، زائدة على ثلاثه أحرف معطوف عليه او عاطفه، ثلاثيا معطوف، متحرك الأوسط صفت، موصوف سره له صفته معطوف، معطوف عليه سره له معطوفه معطوف سو. علما معطوف عليه سره له معطوفه خبر د تکون، فلجام مبتدا، منصرف خبر، لعدم العلمية متعلق په منصرف پورې، نوح مبتدا منصرف چې خبر دی د لسکون الأوسط لپاره او دا متعلق دی په منصرف پورې.

(۱۱۱) پوښتنه : د عجمي لپاره علميت ولې شرط دئ؟

جواب : د عربو دا قانون دی چې په کوم لفظ باندې تلفظ ګران وي؛ نو په هغې کې تغير تصرف کوي، له دې وجې له عجمي څخه که يو لفظ عربي ژبې ته نقل سي: نو خفت به پکې راسي، له دې وجې علميت به ورسره شرط ولګوو چې ثقل يې باقي پاته سي او دې وجه به غير منصرف ولوستل سي.

(۱۱۲) پوښتنه : (قالون) په رومي ژبه کې هر عمده شی ته وايي. مګر چې عربي ته نقل سي؛ نو نوم به سي د يو قوي قاري؛ ځکه د ده په قرائت کې هم عمده والی وي؛ نو دا په لغت عجمي کې علم نه دئ پکار که چې دی منصرف وي، حال دا چې بيا هم غير منصرف دی.

جواب: علميت عام دی حقيقتا وي او که حکما، د (عَلَم حقيقي) مثال لکه : (إبراهيم) سو او مثال د (عَلَم حُکمي) لکه : (قالون) سو، او دا په دې وجه حکمي علم دی چې له عجميت څخه عربيت ته نقل سو؛ نو څه تغير او تصرف پکې نه وسو او علم وګرځېدی او ثقل د ده پاته دی.


او په لغت عجمي کې چې علم وي؛ د دې درې صوتونه دي :


١- په عجمي کې هم علم وي او وروسته تر انتقال وعربي ته هم علم وي، مثال يې لکه : (إبراهيم) .


٢- په عجمي کې علم نه وي، مګر وروسته تر انتقال وعربي ته علم وي چې څه تغير او تصرف پکې نه راځي، مثال يې لکه : (قالون) او د دې دوو صورتونو حکم عدم انصراف دی .

٣- او درېيم صورت يې دا دئ : چې نه په عجمي کې علم وي او نه وروسته تر انتقال وعربي ته علم وي، بلکې سره له تغير او تصرفه هم علم وګرځي؛ د دې حکم د انصراف دی .

فايده (په نقشو کې د ځينو نومونو منصرفوالی او غير منصرفوالی) : د تمامو پېغمبرانو نومونه منصرف دي چې بعض نحات يې په عربيت او عجميت کې فرق کوي؛ دا ډول د پرښتو نومونه؛ همدا ډول د شيطانانو نومونه او د مياشتو نومونه او نور تفصيل په راتلونکو نقشو کې وګورئ! :







فائده (د مواضع او قبيلو د نومونو منصرفوالی او غير منصرفوالی) : پوه سه ! په دې چي غيرمنصرف به وي همېشه لکه تغلب او داسې نور او که تانيث معنوي پکې وو او سببين نه وو او له عربو څخه يې سماع راغلې وه : نو يا به منصرف وي او يا به غير منصرف وي، که غيرمنصرف

وو؛ نو همېشه به غير منصرف لوستل كيږي، لكه : (هود، مجوس، دمشق) او داسي نور او كه منصرف وو او له عربو څخه يې سماع راغلې وه ؛ نو منصرف به وي همېشه، لكه : (بنو ثقيف، حنين، بنو كلب) او له دې دريو صورو پرته منصرف او غير منصرف دواړه لوستل روا دي اه !

أَمَّا الْجَمْعُ : فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَىٰ صِيغَةِ مُنْتَهَى الْجُمُوعِ وَهُوَ أَنْ يَكُونَ بَعْدَ أَلِفِ الْجَمْعِ حَرْفَانِ كَ (مَسَاجِدَ)، أَوْ حَرْفٌ مُشَدَّدٌ مِثْلَ : (دَوَّابّ)، أَوْ ثَلَاثَةُ أَحْرُفٍ أَوْسَطُهَا سَاكِنٌ غَيْرَ قَابِلٍ لِلْهَاءِ كَ (مَصَابِيحَ) ؛ فَإِنَّ (صَيَاقِلَةٌ وَفَرَازِنَةٌ) مُنْصَرِفٌ لِقَبُولِهِما الْهَاءَ

هرچي جمع ده : نو شرط يې دا دئ چي وي به پر صيغه د منتهى الجموع او هغه دا دئ چي وي وروسته تر الف د جمع دوه حرفونه، لكه (مَسَاجِدَ)، يا يو حرف مشدد وي، لكه : (دَوَّاب)، يا وي درې حرفونه چي مېانځنى يې ساكن وي قابل نه وي لپاره د هاء لكه (مَصَابِيْح) ؛ ځكه چي (صَيَاقِلَةٌ) او (فَرَازِنَةٌ) منصرف دي له وجي د قبلولو د دوي دوو د هاء

(۱۱۳) پوښتنه : د جمع معنى لغوي اخلي او كه معنا اصطلاحي، كه معنا لغوي اخلي ؛ نو انضمام صفت د متكلم دى او (متكلم ذات مع الوصف) دى او اسباب د منع صرف اعراض دي او كه معنا اصطلاحي اخلي ؛ نو (ما دلّ على آحاد إلخ) دا ؛ خو لفظ دى او اسباب د منع صرف الفاظ نه دي، بلكي اعراض دئ ؟

جواب : دلته معنا اصطلاحي مراده ده، مګر دا عبارت مؤول دى په تاويل سره چي دلته مضاف حذف دى، (أي : جمعية الجمع إلخ) اه.

(۱۱۴) پوښتنه : (رِجال) او (مُسْلِمُون) جمع دي او غيرمنصرف نه دي ؟

جواب : مراد په جمع سره (جمع منتهى الجموع) ده، نه مطلق جمع ؛ (فشرطه أن يكون إلخ) لپاره د دې چي دا جمع محفوظه وګرځي له تغير څخه په اندازه د امكان منتهى مصدر ميمي دى په معنا د انتهاء سره، يعني (انتهاء الجموع) اه !.

(۱۱۵) پوښتنه : جموع جمع ده او اقل د جمع درې ده، مطلب دا سو چي يو اسم درې ځله او څلور ځله جمع سي ؛ نو هله به غيرمنصرف ګرځي او حال دا چي داسي نه ده : ځكه (مساجد) يو ځل جمع سوى دى او صيغه د (منتهى الجموع) ده غير منصرف ؟

لومړى جواب : دلته مراد له جمع څخه (مافوق الواحد) ده.

دويم جواب : مراد په صيغه د (منتهى الجموع) سره اصطلاحي معنا مراده ده چي هغې ته مصنف اشاره كړې ده په دې قول سره : (وهُو أنْ يكُون إلخ).

فايده د (منتهى الجموع) وجه تسميه : صيغې د (منتهى الجموع) ته (منتهى الجموع) ؛ ځكه وايي لكه ګويا دا جمع سوې ده دوه واره حقيقتا وي كه تقديرا وي، د حقيقتا مثال يې لكه : (أكالِب) جمع د (أكلُبٌ) او (أكلُبٌ) جمع د (كلبٌ) ده او تقديرا مثال لكه :

(مَساجد) او (فَوَاصل) او داسي نور ؛ نو تقديرا جمع دې ته وايي چي د جمع جمع نه وي راغلي، مګر دا د (منتهى الجموع) په وزن باندي راغلي وي، لکه : (مَسَاجد) په وزن د (أكالب) راغلى دى او (مصابيح) په وزن د (أناعيم) راغلى دى اه !.

يادونه : جمع په څو ډوله ده، لکه : (جمع قلت)، (جمع تکسير)، (جمع منتهى الجموع) چي دا اوس يې بيان تېر سو او داسي نور ؛ نو دا دې هر يوې جمعي بيان به په خپل ځای کي په راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

(۱۱۶) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (صواحبات) باندي چي دا جمع د (صواحب) ده او (صواحب) جمع د (صاحب) ده ؛ نو دا (صواحب) جمع د منتهى الجموع ده او حال دا چي بيا هم جمع سوې ده په (صواحبات) سره لکه په يو حديث شريف کي دې ذکر دى : (فَإِنَّكُنَّ صَوَاحِبَاتُ يُوسُفَ !)[1] ؟

جواب : دلته نفي د جمع تکسير سوې ده چي بيا به په جمع تکسير باندي نه جمع کيږي او داسي نه ده چي په جمع سالم باندي به نه جمع کيږي او دلته په جمع سالم باندي جمع سوې ده، مطلب دا چي داسي جمع چي ملتبسه به نه وي په تا د تانيث سره چي مدوره وي او بدليږي په حالت د وقف کي په هاء سره ؛ ځکه که چيري له تا سره سي ؛ نو په وزن د مفرداتو سره به سي او د دې په جمعيت کي به نقصان راسي، لکه : (طواعية) او (كراهية) .

(۱۱۷) پوښتنه : ښکاره ده چي (فوّاره) منصرف سي ؛ ځکه چي د دې په آخر کي هاء راغلې ده او (فرازنة) دى غير منصرف سي ؛ ځکه د دې په آخر کي تا راغلې ده ؟

جواب : مراد له ها څخه تاء ده او په (فوّاره) کي ها اصلي ده او مراد زموږ هغه تا ده چي هغه حاصليږي حلق ته په صورت د هاء سره په وخت د اداېګي د وقف کي اه !.

وَهُوَ أَيْضًا قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ : الجَمْعِيَّةُ وَلُزُوْمِهَا وَامْتِنَاعِ أَنْ يُجْمَعَ التَّكْسِيْرِ ؛ فَكَأَنَّهُ جُمِعَ مَرَّتَيْنِ

او دا هم قائم مقام د دوو سببونو ده : جمعيت او د هغې لزوم او امتناع د دې چي جمع دې سي تکسير ؛ نو ګواکي دا دوه واره جمع سوې ده

زنځيري ترکيب : هو مبتدا، أيضا مفعول مطلق فعل مقدر چي (آض) دى ؛ دا جمله معترضه ده، قائم مقام السببين خبر، الجمعية خبر د مبتدا محذوفي چي أحدها دى، لزومها معطوف عليه، امتناع مضاف، أن مصدريه، يُجمع فعل مجهول، هو نائب فاعل، مرة أخرى موصوف صفت مفعول فيه، جمع التكسير مفعول مطلق، يجمع فعل، فعل سره له فاعل، مفعول فيه او مفعول مطلقه په تاويل د مصدر

---

[1] (سنن ابن ماجة)، كتاب إقامة الصّلاة والسُّنّة فيها باب : ما جاء في صلاة رسول الله ﷺ في مرضه حديث شمېره (۱۲۳۲) او علامه الباني رحمه الله په ښېړنه کي ويلي : چي (صحيح) دى .

سره مضاف إليه د امتناع، مضاف سره له مضاف إليه معطوف د معطوف عليه، معطوف سره له معطوف عليه خبر د مبتدا محذوفي چي ثانيهما دی، كان حرف له حروف مشبه بالفعل څخه ضمير د اسم د كان، جُمع مرتين خبر د كان اه !.

تشريح: جمع په شان د تانيث د الف ممدوده ده او الف مقصوره قائم مقام د سبينو دی : چي اول سبب يې جمعيت دی او دويم سبب يې لزوم د جمعيت دی.

أَمَّا التَّرْكِيبُ : فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا بِلَا إِضَافَةٍ وَلَا إِسْنَادٍ، كَـ (بَعْلَبَكَّ) ؛ فَـ (عَبْدُ اللهِ) مُنْصَرِفٌ. و(مَعْدِيكَرَبُ) غَيْرَ مُنْصَرِفٍ وَ(شَابَ قَرْنَاهَا) مَبْنِيٌّ ؛ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا

هر چي تركيب دی : نو شرط يې دا دئ چي علم به وي بيله اضافته او اسناده لكه (بَعْلَبَكَّ) ؛ نو (عَبْدُ اللهِ) منصرف دی او (مَعْدِيكَرَب) غير منصرف دی او (شَابَ قَرْنَاهَا) مبني دی ؛ نو شرط يې دا دئ چي وي به عَلَم

زنځيري تركيب: اما حرف تفضيل، التركيب مبتدا چي متضمن ه معنى د شرط لره، فاء جزائيه، شرطه مبتدا، أن مصدريه، يكون فعل ناقص، هو ضمير اسم د يكون، علما موصوف، با جار لا په معنى د غير مضاف، إضافة مضاف إليه. واو عاطفه، لا زائده، اسناد عطف دی په إضافة باندي، جار سره له مجروره ظرف مستقر متعلق په كائنا پوري ؛ دا مجموعه صفت سو د علما، موصوف سره له صفته خبر د يكون. يكون سره له اسم او خبره په تاويل د مصدر سره خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره خبر د قائم قام د جزا، عبد الله مبتدا منصرف خبر، معديكرب مبتدا غير منصرف خبر، شاب قرناها جمله په تاويل د هذا التركيب سره مبتدا، مبني خبر.

تشريح: تركيب په لغت كي ضمېدلو ته وايي او په اصطلاح كي گرځېدلو د دوو كليمو ته وايي، يا دا چي تر يوې كليمي زياتي سره يو ځای سي اه !.

(۱۱۸) پوښتنه: دا قيد مصنف رحمة الله عليه لره هم پكار وو چي (بلا وصف) ؛ نو دا يې ولې پرېښوود ؟

جواب: دا قيد يې له وجې د بسني پرېښوود په مركب اضافي سره ؛ ځكه دا دواړه اقسام د مركب تقيدي دی او مركب تقيدي هغه ته وايي : چي جزء ثاني قيد لپاره د جزء اول وي، پس كه د دې دواړو جزئينو په مينځ كي نسبت د اضافت وو ؛ نو مركب اضافي به وي، لكه : (غلامُ زَيدٍ) او كه نسبت د صفت وو ؛ نو مركب توصيفي به وي (ولا إسناد) ؛ دا دويم شرط عدمي دی ؛ ځكه اعلام مشتمله په اسناد باندي دا د قبيلي له مبنياتو څخه دی او انصراف او عدم انصراف دا د اقسامو له معرب څخه دی.

(۱۱۹) پوښتنه: د مركب صوتي او مركب تعدادي قيد لگول هم پكار وو په شرط عدمي كي ؛ ځكه دوی هم له مبنياتو څخه دئ ؟


جواب: مصنف رحمة الله عليه بسنه كړې ده په مركب اسنادي باندي او مركب صوتي او تعدادي يې ذكر نه كړل ؛ ځكه دوی له مبنياتو څخه دي.

پس زده كړه دا خبره ! چي مركب په شپږ ډوله دی : ۱- مركب توصيفي. ۲- مركب اضافي. ۳- مركب. اسنادي. ۴- مركب صوتي. ۵- مركب تعدادي. ۶- مركب امتزاجي ؛ نو معتبر په دوی كي د منع صرف په برخه كي مركب امتزاجي دی او دا نور نه دي.

هر چي مركب اضافي دى هغه غيرمنصرف منصرف گرځوي او هر چي مركب توصيفي دى هغه داخل دى په اضافي كي او هرچي مركب اسنادي دى هغه د قبيلې له مبنياتو څخه دى او هر چي مركب تعدادي او مركب صوتي دى ؛ نو دوى دوه داخل دي په مركب اسنادي كي، مثال يې لكه : (بعلبك) او (بعل) نوم د بت او (بك) صاحب د بت وو، پس دا نوم وگرځېد په شام كي د يو ځانگړي ښار ؛ نو په دې كي دوه سببونه دي : ١- علميت . ٢- او تركيب ؛ نو حكم پري د غير منصرف جاري سو .

او د (بعلبك) تركيب به د مركباتو په بحث كي راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

په نقشه كي د مركب مختصر ډولونه : د وضاحت لپاره به زه تاسو ته د مركب د شپږو ډولونو مثالونه راوړم ! :



يادونه : مطلق تركيب په لس ډوله دى او د دې تفصيل به په (باب المبني) كې په فصل د مركباتو كي راسي ؛ نو هلته مراجعه ورته وكړئ !

أَمَّا الْأَلِفُ وَالنُّونُ الزَّائِدَتَانِ : إِنْ كَانَتَا فِيْ اِسْمٍ ؛ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا كَـ (عِمْرَانَ، وَعُثْمَانَ) ؛ فَـ (سَعْدَانٌ) اِسْمُ نَبْتٍ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ . وَإِنْ كَانَتَا فِيْ صِفَةٍ ؛ فَشَرْطُهُ أَنْ لَا يَكُوْنَ مُؤَنَّثُهُ عَلَى فَعْلَانَةٌ. كَـ (سُكْرَانَ) ؛ فَـ (نَدْمَانٌ) مُنْصَرِفٌ لِوُجُوْدِ (نَدْمَانَةَ)

هر چي الف او نون زائدتان دي كه وه دوى دوه په اسم كي ؛ نو شرط يې دا دئ چي وي به عَلَم لكه (عِمْرَانَ) او (عُثْمَانَ) . نو (سَعْدَانٌ) يو نوم دى د يوې گيا له وجې د نيستوالي د علميت او كه وه دوى دوه په يو صفت كي ؛ نو شرط يې دا دئ چي نه به وي مؤنث يې پر (وزن) د (فَعْلَانَة) . لكه (سُكْرَانَ) ؛ نو (نَدْمَانٌ) منصرف دى له وجې د موجودوالي د (نَدْمَانَةَ)

ترکیبي ترکیب : اما حرف تفصيل، الألف والنون معطوف عليه، معطوف موصوف، الزائدتان صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مبتدا متضمنه معنی د شرط لره، أن شرطيه، کانتا في اسم جمله شرطيه، فشرطه أن يکون علما

جزاء د شرط، شرط سره له جزا جمله شرطيه خبر قائم مقام د جزاء، فسعدان اسم نبت موصوف، صفت او مبتدا، منصرفٌ خبر، لعدم العلمية ظرف لغوه متعلق په منصرف پوري، إن کانتا في صفة جمله شرطيه، فشرطه إلخ جزاء د دې شرط او جمله شرطيه عطف ده په سابقه جملې شرطي باندې، فندمان مبتدا، منصرفٌ خبر، لوجود ندمانة ظرف متعلق په منصرف پوري اه !.

(۱۲۰) پوښتنه : اسباب د منع صرف ټول فروع دي ؛ نو الف او نون زائدتين د چا فرعه ده ؟

جواب : په فرعيت د دې کې اختلاف د دوو مذهبو دی : ۱- بعضي وايي : چې دا فرعه د مزيد عليه ده . ۲- او بعضي وايي : د دې مشابهت د الفين له تانيث سره راغلی دی په عدم قبول د تاء کې ؛ نو دوی مشبه سول او مشبه فرعه د مشبه به وي .

(۱۲۱) پوښتنه : اسباب د منع صرف اوصاف دي او الف او نون ذات دی ؛ نو شمارل د دوی له اسبابو د منع صرف څخه صحيح نه دئ ؟

جواب : دا له وجې د زيادت او مشابهته شمار کړل سوي دي او دا معنی وصفي ده .

(۱۲۲) پوښتنه : مقابله د اسم له صفت سره نه صحيح کېږي ؛ ځکه اسم (ما دلّ علی معنی) ته وايي او صفت هم (ما دلّ علی معنی) ته وايي ؟

جواب : د اسم دوې معناوې دي : ۱- معنا عامه . ۲- معنا خاصه ؛ معنا عامه چې مقابل د فعل او حرف دی او معنی خاصه چې مقابل د صفت دی ؛ نو چې کله اسم په مقابله د صفت کې راسي ؛ نو معنی خاصه به ځني مراد وي او دلته مراد له اسم څخه اسم ذاتي غير صفتي دی او له صفت څخه مراد اسم صفتي مشتقي دی او اسم په مقابله د څلورو شيانو کې راځي : ۱- مقابل د فعل او حرف . ۲- مقابل د لقب او کنيت . ۳- مقابل د مهمل . ۴- مقابل د صفت . او (فشرطه أن يکون عَلَمًا) د دې لپاره دی چې الف او نون زائدتان لازم د کليمې سره وګرځي اه!.

(۱۲۳) پوښتنه : مخکې الف او نون ذکر دي ؛ نو دا دوه دي او (فشرطه) کې ورته ضمير د مفرد راجع دی ؛ نو مطابقت نه راځي په مينځ د راجع او مرجع کې ؟

جواب : اوله خبره دا ده : چې دا ضمير راجع دی اسم ته چې هغه مشتمل دی پر الف او نون . دويمه خبره دا ده : چې دا ضمير راجع دی سبب ته ؛ ځکه دا دواړه يو سبب واقع کيږي .

(۱۲۴) پوښتنه : په (کانتا) کې دي هم ضمير د مفرد راجع سي، يعني : په ځای د (کانتا) دي (کان) سي ؛ حاصل د پوښتنې دا دئ چې يا به په دواړو ځايونو کې ضمير د تثنيه يې سي ؛ نو عبارت به دارنګه سي (إن کانتا ؛ فشرطهما إلخ)، يا به په دواړه ځايونو کې ضمير د مفرد سي ؛ نو عبارت به دارنګه سي (إن کان في اسم ؛ فشرطه إلخ) ؟

جواب: الف او نون مزیدتین لره دوه اعتباره دي : ۱- اعتبار ذات. ۲- اعتبار سبب ؛ نو په اعتبار د ذات سره تثنیه دي او په اعتبار د صفت سره مفرد دي ؛ نو مصنف رحمه الله علیه د دوو اعتبارو لحاظ ساتلی دی، مثال یې لکه : (عمران) او دا مثال د هغه اسم ذاتي دی چې الف او نون مزیدتین پکې وي او (عمران) آبادي ته ویل کیږي، بیا دا نوم سو د موسی علیه السلام د پلار لپاره او د حضرت مریم علیها السلام د پلار لپاره، لکه په قرآن کریم کې راغلي دي : ﴿إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا...﴾ [آل عمران: ۳۵].

(۱۲۵) پوښتنه : (فعلانة) به په فتحې د فا سره وایې، یا به یې په ضمې د فا سره وایې ؛ که یې په فتحې د فا سره ووایې ؛ نو (عریانا) ویل کیږي چې دا غیر منصرف دی ؛ ځکه مؤنث د ده (عریانة) دی او که په ضمې د فا سره یې ووایې ؛ نو (ندمان) دی چې دا غیر منصرف دی ؛ ځکه مؤنث دده (ندمانة) دی ؟

جواب: مراد د (فعلانة) دا دئ چې په مؤنث کې به تا له تانیث څخه وي، برابره خبره ده په فتحې د فا سره وي او که په ضمې د فا سره وي ؛ نو څه فرق نه لري.

تشریح : زده کړه دا خبره ! چې له (ندمانة) څخه دوې معناوې راوتلې دي : ۱- یوه معنا (ندیم) ده او (ندیم) خاص د شرابو ملګري او دوست ته وایې او په دې معنا سره منصرف دی ؛ ځکه مؤنث د ده په تاء سره راځي چې (ندمانة) دی. ۲- دویمه معنا (ندم) ده او دا په معنا د پښېمانې سره ده او مؤنث د ده په الف سره راځي چې (ندمان) دی ؛ نو په دې معنا سره غیر منصرف دی اودی فرق ته شاعر هم په خپل شعر کې اشاره کړې ده :

ندمان منصرف که بود از منادمت	تانیث او بتا بود و معنیش ندیم
ورازندم بود بالف وان مؤنثش	قابل به انصراف شدن غیر مستقیم

أَمَّا وَزْنُ الْفِعْلِ : فَشَرْطُهُ أَنْ يَخْتَصَّ بِالْفِعْلِ، وَلَا يُوجَدُ فِي الْاِسْمِ إِلَّا مَنْقُوْلًا عَنِ الْفِعْلِ كَـ (شَمَّرَ وَضَرَبَ)، وَإِنْ لَمْ يُخْتَصَّ بِهِ ؛ فَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ فِيْ أَوَّلِهِ إِحْدَى حُرُوفُ الْمُضَارَعَةِ. وَلَا يَدْخُلُهُ الْهَاءُ كَـ (أَحْمَدَ. وَيَشْكُرُ. وَتَغْلَبَ. وَنَرْجَسَ) ؛ فَـ (يَعْمَلُ) مُنْصَرِفٌ لِقُبُولِهَا الْهَاءَ كَقَوْلِهِمْ : (نَاقَةٌ يَعْمَلَةٌ)

هر چې وزن د فعل دی : نو شرط یې دا دئ چې خاصیږي په فعل پورې اونه موجودیږي په اسم کې مګر نقل سوی له فعل څخه لکه (شَمَّرَ) او (ضَرَبَ) او که په دې سره خاص نه سي: نو واجب دی چې وي په لومړي کې یې یو د حروفو مضارعه وو اونه داخلیږي دې ته هاء لکه (أَحْمَدَ، يَشْكُرُ، تَغْلَبَ) او (نَرْجَسَ) ؛ نو (يَعْمَلُ) منصرف دی له وجې د قبلولو یې د هاء لکه قول د دوی : (نَاقَةٌ يَعْمَلَةٌ)

(۱۲۶) پوښتنه : په وزن فعل کې اضافت لامي دی او دا اختصاص فایده کوي : نو بیا وروسته (يختص) ذکر کول بې فایدې دئ ؟

جواب : دلته اضافت وزن فعل ته لپاره د مجرد نسبت او تعلق دی.

(۱۲۷) پوښتنه : وزن فعل به په اسم کې موجود وايې او يا به يې نه وايې، که يې وايې ؛ نو دا د خواصو له فعل څخه څرنګه سو ؟ ځکه خاصه (ما يُوجد فيه ولا يُوجد في غيره) ته وايي او دلته ؛ خو په غير کې چې اسم دی موجود سو او که چيري موجود نه وايي ؛ نو شمارل د اسبابو له منع صرف څخه صحيح نه دي ؟

جواب : دا وزن فعل به په اسم کې موجود وي ابتدأ، يا به نقل سوی وي له فعليت څخه واسميت ته .

(۱۲۸) پوښتنه : (بقم) او (شلّم) ؛ دا اوزان د فعل دي او له ابتدا څخه په اسم کې موجود دي او نقل سوي له فعل څخه اسم ته نه دي ؟

جواب : دلته مراد له اختصاص څخه اختصاص دی په وزن عربي او په لغت عربي کې او دا اسماء د لغت عجمي دي، لکه : (شمر) او (ضرب) چې علمين وګرځي د چاپاره ؛ نو (شمر) نوم دی د آس د حجاج بن يوسف او دغه ډول ضرب علم وګرځي .

دا ډول اول د وزن فعل سو او دويم ډول د وزن فعل (وإن لم يختصّ ؛ فيجب أن يكون في أوّله احدى حُرُوف المضارعة إلخ) او که چيري اختصاص د ده له وزن فعل سره نه وو راغلی ؛ نو بيا لازمه ده چې وي دي په اول د (ما يكون على وزن الفعل) کې زيادت د يو حرف له حروف مضارعت څخه او تاء به نه قبلوي مګر له تا څخه تعبير په ها سوی دی ؛ ځکه دا تاء د تانيث مدوره په حالت د وقف کې ګرځي په هاء سره او تاء متحرکه د خواصو له اسم څخه ده او دا چې پکې راسي ؛ نو دا قوي کوي جهت د مشابهت د اسم او ضعيف کوي جهت د مشابهت د فعل او نقصان رسوي سبب د وزن فعل ته .

(۱۲۹) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (أربع) باندې چې دا علم سي ؛ نو غير منصرف دی او تاء پکې راځي چې (أربعة) دئ ؟

جواب : مراد زموږ له تا څخه تاء قياسي ده او دا تاء غير قياسي ده .

(۱۳۰) پوښتنه : (أسودة) غير منصرف دی له وجې د دوو سببينو څخه : ۱- وزن د (فعلة) . ۲- وصفيت او تاء قبلوي ؟

جواب : تاء اصلي زموږ مراد ده او دا تاء عارضي ده (أسود) د جهت له وصفيت اصلي څخه غير منصرف دی او په وصفيت اصلي کې تاء نسته ؛ ځکه مؤنث د ده بيله تاء (سوداء) راځي .

فايده (د ځينو وزنونو مشترکوالی) : ځيني اوزان د فعل او اسم په مينځ کې مشترک دي : ۱- ماضي ثلاثي مجرد واحد مذکر غائب، مثال يې لکه : (فَعَلْ) او دا دې په وزن اسم د (شَجَرٌ) او (حَجَرٌ) دی .

۲- مضارع ثلاثي مجرد واحد مذکر غائب، مثال يې لکه : (يَزِيْدٌ) چې اسم هم دی او مضارع هم ده .

۳- د باب افعال په وزن اسم مثال لکه : (أَكْرَمَ، فَعَلَ، أَحْمَد) .

۴- د رباعي مجرد ماضي په وزن د اسم مثال لکه : (دَحْرَجَ، فَعَلَ، جَعْفَر) .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ كُلَّ مَا شُرِطَ فِيهِ العَلَمِيَّةُ، وَهُوَ : المُؤَنَّثُ بِالتَّاءِ ، وَالمَعْنَوِيُّ وَالعُجْمَةُ، وَالتَّرْكِيبُ، وَالاِسْمُ الَّذِيْ فِيْهِ الأَلِفُ وَالنُّونُ الزَّائِدَتَانِ، أَوْ لَمْ يُشْتَرَطْ فِيهِ ذَلِكَ وَاجْتَمَعَ مَعَ سَبَبٍ وَّاحِدٍ فَقَطْ، وَهُوَ : العَلَمُ المَعْدُوْلُ، وَوَزْنُ الفِعْلِ إِذَا نُكِّرَ ؛ صُرِفَ .

أَمَّا القِسْمِ الأَوَّلُ ؛ فَلِبَقَاءِ الاِسْمِ بِلَا سَبَبٍ، وَأَمَّا فِي الثَّانِيْ ؛ فَلِبَقَائِهِ عَلَى سَبَبٍ وَّاحِدٍ. تَقُولُ : (جَاءَنِيْ طَلْحَةُ وَطَلْحَةٌ آخَرُ، وَقَامَ عُمَرُ وَعُمَرٌ آخَرُ ، وَضَرَبَ أَحْمَدُ وَأَحْمَدٌ آخَرُ)

او پوه سه ! په دې هر هغه (اسم) چې شرط وي په هغه کې علميت او هغه (لکه) : مؤنث په تاء سره، معنوي، عجمه، ترکيب او هغه اسم چې په هغه کې الف اونون زائدتان وي او يا دا چې نه وي په هغه کې شرط په هغه کې دا او جمع سوی وي له يو سبب سره فقط او هغه (لکه) : عَلَم چې معدول وي او وزن فعل چې کله نکره سي ؛ نو اوړي.

هر چې قسم اول دی : نو له وجې د بقاء د اسم بيله سببه او هر چې په دويم کې دی ؛ نو له وجې د بقاء يې پر سبب يو چې ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيْ طَلْحَةُ وَطَلْحَةٌ آخَرُ، وَقَامَ عُمَرُ وَعُمَرٌ آخَرُ ، وَضَرَبَ أَحْمَدُ وَأَحْمَدٌ آخَرُ) .

تشريح : هر کله چې مصنف فارغ سو د بيان د اسبابو له منع صرف څخه ؛ نو شروع يې وکړه په دې خبره باندې چې غيرمنصرف به څنګه منصرف کيږي ؛ نو دا رنګه يې وويل : (واعلم إلخ) اه !.

قاعده : هغه اسم يا هغه غير منصرف چې په هغه کې علميت شرط وي د تاثير د سبب آخر لپاره، لکه تانيث او داسي نور، يا پکې علميت جمع سوی وي له بل سبب سره، لکه : عدل او وزن فعل ؛ نو چې کله علميت له هغه څخه زائل سي په وخت د تنکير کې ؛ نو دا منصرف کيږي او تنکير د اعلامو په څلورو طريقو سره راځي :

۱- ذکر د علم وسي مراد څني صرف مسمی وي. يا مراد څني (جماعة) وي، لکه په (جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدٌ آخَرَ) کې، يا لکه لفظ د (فلان) چې د جماعت پر هر فرد د ده اطلاق کيږي .

۲- ذکر د علم وسي او مراد څني وصف مشهور د علم وي، لکه : (لکُلّ فرعون موسی) ؛ نو دلته ذکر د فرعون او د موسی دی چې اعلام دی، مګر مراد څني هغه او صاف مشهوره د دوی دي چې فرعون په صفت د ابطال د حق مشهور وو او موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په صفت د احقاق د حق مشهور وو ؛ نو مطلب د دې دا سو چې (لکُلّ مبطل مُحِق) .

۳- چې د علم تثنيه، يا جمعه راسي، لکه : (جَاءَنِيْ زيدَان)، يا (جَاءَنِي زَيدُونَ) .

۴- چې په معرفه الف لام داخل سي، لکه : (الزيد) .

وَكُلُّ مَا لَا يَنْصَرِفُ إِذَا أُضِيفَ. أَوْ دَخَلَهُ اللَّامُ ؛ دَخَلَتْهُ الكَسْرَةُ فِي حَالَةِ الجَرِّ. نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِأَحَدِكُمْ وَبِالأَحْمَدِ)

او هر هغه چې نه ګرځي منصرف چې کله مضاف سي، يا داخل سي ورباندي لام ؛ نو داخليږي پر هغه کسره په حالت د جر کي، لکه : (مَرَرْتُ بِأَحَدِكُمْ وَبِالْأَحْمَدِ !)

زنځيري ترکيب : [واو عاطفه] کل مضاف، ما موصوله، لا ينصرف فعل فاعل چې دا صله د ما موصول ده، موصول سره له صلې مضاف إليه د مضاف چې دا مبتدا د إذا شرطيه ده، أضيف فعل فاعل معطوف عليه او عاطفه، دخلته اللام فعل فاعل او مفعول به چې دا مجموعه معطوف دی، معطوف عليه سره له معطوفه شرط د فاء جزائيه يې، دخلته الکسرة جزاء، شرط سره له جزا جمله شرطيه خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه .

يادونه : دا دويمه وجه ذکر کوي چې غير منصرف به منصرف کيږي په اضافت سره او په دخول د الف لام تعريفي سره .

(۱۳۱) پوښتنه : قاعده دي منقوضه سوه په (غلام لأحمد) باندي، يا په (المال لأحمد) باندي ؛ ځکه دا اوس هم غيرمنصرف دی سره له دې چې لام ورباندي داخل دئ ؟

جواب : مراد په لام سره لام تعريفي دی، نه لام جاره او په (لأحمد) کي لام جاره دی .

(۱۳۲) پوښتنه : قاعده دي منقوضه سوه په (غلام أحمد) باندي ؛ ځکه دلته احمد مضاف إليه دی او مکسور نه دئ ؟

جواب : مراد په اضافت سره اضافت د غيرمنصرف دی وبل ته نه اضافت د بل وده ته .

(۱۳۳) پوښتنه : هر کله چې غير منصرف سو او ځرنګه چې تنوين نه ورباندي راځي ؛ نو کسره دي هم نه ورباندي راځي ؟

جواب : ممتنع په غيرمنصرف باندي تنوين (أصالة) دی او کسره په تبع د تنوين ممتنعه ده، پس هر کله چې ضعيف سو مشابهت د ده له فعل سره په سبب د دخول د لام او اضافت سره ؛ نو اثر يې وکړ په سقوط د تنوين کي چې متبوع دی، نه په تابع کي چې کسره ده .

ځيني مهمې نحوي فايدې او قاعدې : اوس به ځيني داسې فايدې او قاعدې بياني سي چې له زده کړې ځخه يې د نحو طالب چاره نه لري :

فايده : اسم په اعتبار د انصراف او عدم انصراف سره په دوه ډوله دی : ۱- منصرف . ۲- غيرمنصرف .

بله فايده : عدل په دوه ډوله دی : ۱- عدل تحقيقي . ۲- عدل تقديري .

۱- قاعده : د تانيث معنوي څلورم حرف قائم مقام د تاء تانيث ګرځي او دا په حکم د تانيث لفظي کي وي، مثال يې لکه : (زينب، عقرب) او داسې دې ته ورته کله چې بل شی ته نوم وګرځي .

۲- قاعده : په تانيث معنوي کي ثلاثي (ساکن الأوسط) غير عجمه وه ؛ نو انصراف او عدم انصراف دواړه جايز دي، مثال يې لکه : (هند) .

۳- قاعده : د صيغې د منتهی الجموع لپاره دوه وزنونه دي : (اول) تر الف جمع وروسته دوه حرفه مشدد وي، لکه : (دوّاب)، يا مخفف وي، لکه : (مساجد) . (دويم) تر الف جمع وروسته حرفونه داسې وي چې اول حرف مکسور، دويم ساکن او دريم تابع عامل وي، مثال يې لکه : (مصابيح) او (غرابيب) لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي : ﴿...وَغَرَابِيبُ سُودٌ﴾ [فاطر: ۲۷].

۴- قاعده : لفظ د (حَضَاجِرُ) په وزن د (مَسَاجِدُ) دی او اطلاق د ده په جمع او مفرد دواړو کيږي، مګر په اصل کې جمع د (حضجر) ده، له دې وجې غير منصرف دی.

۵- قاعده : په جمع مذکر او جمع مؤنث سالم کې اګر چې تنوين غائب وي، مګر د زياترو نحاتو په نيز منصرف دی، لکه : د عرفات توری په دې قول د الله تعالی کې : ﴿...فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ...﴾ [البقرة: ۱۹۸].

۶- قاعده : که چيرې څه الفاظ، يا اوزان د غيرمنصرف د الفاظو او اوزانو سره متفق سول ؛ نو دې لره څه اعتبار نسته چې دی به منصرف وي، لکه : (إسحاق، أسماء، أنبياء، أمثلة، أوزان، جالوت، طالوت) او (قارون) چې دا غير منصرف دي او د دې هم وزنه، لکه : (جاموس، طاووس) او (راقود) منصرف دي.

۷- قاعده : د کوم اسم په آخر کې چې الف مقصوره وو ؛ نو د ضرورت شعري له وجې منصرف نه ګرځي، لکه : (حُبلی) .

په شعر کې د منع صرف سببونه : يو شاعر چې ابن أبي سعيد الأنباري رحمه الله عليه نوميږي د منع صرف اسباب په خپل يو شعر کې داسې جمع کړي دي :

مَوَانِعُ الصَّرْفِ تِسْعٌ كُلَّمَا اجْتَمَعَتْ ... ثِنْتَانِ مِنْهَا فَمَا لِلصَّرْفِ تَصْوِيبُ

عَدْلٌ، وَوَصْفٌ، وَتَأْنِيثٌ، وَمَعْرِفَةٌ ... وَعُجْمَةٌ، ثُمَّ جَمْعٌ، ثُمَّ تَرْكِيبُ

وَالنُّوْنُ زَائِدَةً مِنْ قَبْلِهَا أَلِفٌ ... وَوَزْنُ الْفِعْلِ وَهَذَا الْقَوْلُ تَقْرِيبُ[1]

په يو بل شعر کې د عدل وزنونه : يو پارسيان شاعر په خپل يو شعر کې د (عدل) وزنونه داسې جمع کړي دي :

اوزان عدل را بتمام تو شش شمر ... مفعل، فعل، مثالها ثلث عمر

فعل است همچون امس فعال است چون ثلث ... ديگر فعال وان چون قطام فعل سحر

د صيغه (منتهی الجموع) **د وزن مثالونه** : د منتهی الجموع لپاره ډېر مثالونه دي چې ځيني يې دا دي : ۱- (توابيخ)، ۲- (طواويس)، ۳- (محاريب)، ۴- (تماثيل)، ۵- (مدارس)، ۶- (عصافير)، ۷- (حدائق)، ۸- (کواعب)، ۹- (مقامع)، ۱۰- (مقاعد)، ۱۱- او (قناديل) .

---

(۱) (اللمحة في شرح الملحة) دابن الصائغ رحمه الله، ۲ ټوک، ۷۴۴ مخ.

په آخر کې د غیر منصرف لپاره شعري تمرین : که څه هم د غیر منصرف بحث پر ختمېدو سو ؛ نو په آخر کې به د طالب (زده کوونکي) د زده کړې لپاره څو شعرونه راوړم ! چې منصرف او غیر منصرف توري باید پکې تمرین سي او هغه لکه :

یو شاعر داسې ویلي دي :

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبٌ لَوْ أَنَّهَا ... صُبَّتْ عَلَى الْأَيَّامِ ؛ صِرْنَ لَيَالِيَا



بل شاعر داسې وايي :

سَلَامٌ عَلَى خَيْرِ الْأَنَامِ وَسَيِّدِ ... حَبِيْبِ إِلٰهِ الْعَالَمِيْنَ مُحَمَّدِ

بَشِيْرٌ، نَذِيْرٌ، هَاشِمِيٌّ، مُكَرَّمٌ ... عَطُوْفٌ، رَؤُوفٌ مَنْ يُسَمَّى بِأَحْمَد[1]

يادونه : د الله تعالی په توفیق او مرسته سره تر همدې ځایه د منصرف او غیر منصرف بحثونه خلاص سول، وروسته به د مرفوعاتو بیان پیل سي ؛ وَالْحَمْدُ للهِ تَعَالَى .

❁ ❁ ❁

[1] (كفاية النحو) د نصير الحق رحمه الله، ۱۲۵ مخ .

د مرفوعاتو بیان

اَلْمَقْصَدُ الْاَوَّلُ فِيْ الْمَرْفُوعَاتِ : اَلْأَسْمَاءُ الْمَرْفُوْعَاتُ ثَمَانِيَةُ أَقْسَامٍ : اَلْفَاعِلُ، وَمَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ، وَالْمبتَدأُ وَالْخَبَرُ، وَخَبَرُ إِنَّ وَأَخَوَاتِهَا، وَاِسْمُ كَانَ وَأَخَوَاتِهَا، وَاِسْمُ (مَا) و(لا) الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِـ(لَيْسَ)، وَخَبَرُ (لا) الَّتِي لِنَفْيِ الْجِنْسِ

مقصود اول په بیان د مرفوعاتو کې دی : هغه اسماء چې مرفوع دي اته ډوله دي : فاعل، مفعول ما لم يُسم فاعل، مبتدا او خبر، خبر د إنّ او أخوات يې، اسم د كان او أخوات يې، اسم د ما او لا چې مشابه وي په ليس سره او خبر د لا د نفي جنس سره

تشریح : هر کله چې مصنف فارغ سو له مقدمې څخه ؛ نو شروع یې وکړه په بیان د مقاصدو ثلاثه ؤ کې او دا رنګه یې وویل : (المقصد الأول إلخ) .

او (مقصد) مصدر میمي دی، یا صیغه د ظرف ده په معنا د اسم مفعول چې مقصود دی .

(۱۳۴) پوښتنه : مصنف رحمه الله علیه مرفوعات ولې مقدم کړل پر منصوباتو او مجروراتو ؟

جواب : مرفوعات عمده دي ؛ ځکه په کلام کې اکثره مسند إليه واقع کیږي او مسند إليه عمده وي او منصوبات او مجرورات فضله دي او عمده مقدم وي پر فضله .

(۱۳۵) پوښتنه : مرفوعات جمع د مرفوع ده او مرفوع مذکر دی او د مذکر جمع سالمه په واو او نون سره راځي ؛ نو دلته (مرفوعون) ویل پکار وو، نه مرفوعات په الف او تاء سره ؟

جواب : مرفوع اسم مذکر (لا يعقل) دی، یعني : مرفوع له داسې جنسه دی چې عقل نه لري او قاعده دا ده : چې صفت د مذکر (لا يعقل) جمع کیږي په الف او تاء سره، لکه : (يوم) مذکر غیر عاقل دی او د دې صفت (خالي) دی چې جمع یې راځي په (خاليات) سره ؛ نو جمع یې سره له صفته داسې ویل کیږي : (الأيام الخاليات) .

او دارنګه (الكوكب) مذکر غیر عاقل دی چې د ده صفت (طالعٌ) دی او جمع یې (طالعاتٌ) راځي ؛ نو جمع یې سره له صفته داسې ویل کیږي : (الكواكب الطالعات) .

او دغه ډول اسم مذکر هم غیر عاقل دی ؛ نو د ده صفت چې مرفوع دی جمع یې راځي په مرفوعات سره اه ! .

(۱۳۶) پوښتنه : المرفوعات مجرور د (في) دی او (في) ظرفیه ده چې مدخول خپل ظرف د (ماقبل) ګرځوي او هغه به ورله مظروف وي، لکه : (زيد في الدّار) او دلته مرفوعات ظرف له (المقصد الأول) څخه صحیح کیږي او ظرف یا زمان وي، یا مکان، لکه : (زيد في الدّار) او دلته مرفوعات نه ظرف زمان دی او نه ظرف مکان ؟

جواب : دا ظرف اعتباري دی او په ظرف اعتباري کې د الازمه نه ده چې مدخول د (في) دې ظرف زمان وي او یا ظرف مکان وي، لکه : (زيد في العِلم، زيد في الشجاعة، زيد في النعمة) ؛ نو زيد مظروف، (في) ظرفيه، (العِلم) ظرف اعتباري يا ظرف حكمي إلخ .

فايده : اسماء مرفوعات اته ۸ دي او وجه د حصر په اتو کې دا ده : چې عامل د اسم مرفوع به خالي نه وي، يا به لفظي وي او يا به معنوي وي، که معنوي وو ؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به معمول مسند إليه وي، يا به مسند به وي، که مسند إليه وو ؛ نو مبتدا او که مسندبه وو ؛ نو بيا به خالي نه وي يا به رافع وي اسم ظاهر لره، يا به نه وي ورلره رافع، که وي رافع ؛ نو قسم ثاني د مبتدا دی او که نه وي رافع ؛ نو خبر د مبتدا دی او که لفظي وو ؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به فعل، يا به شبه فعل وي او يا به حرف وي، که فعل او شبه فعل وو ؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به قائم وي په اسم پورې، يا به واقع وي په اسم باندې، که اول وو ؛ نو فاعل دی او که ثاني وو ؛ نو مفعول مالم يسم فاعله دی او که حرف وو ؛ نو معمول به خالي نه وي، يا به مسند إليه وي، يا به مسند وي، که مسند إليه وي، بيا به خالي نه وي، يا به په کلام موجب کې وي او يا به په کلام غير موجب کې وي، که په کلام موجب کې وو ؛ نو اسم دی له افعال ناقصه وو څخه پرته له (ليس) څخه او که په کلام غير موجب کې وو ؛ نو اسم د ليس او د (ما و لا مشبهتين بليس) دی .

او که مسند وو معمول ؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به په کلام موجب کې وي او يا به په کلام غير موجب کې وي، که په کلام موجب کې وو ؛ نو خبر د (حروف مشبه بالفعل) دی او که په غير موجب کې وو ؛ نو خبر د (لا لنفي الجنس) سو، پس دا ټول اته اقسام سول .

يادونه : مصنف رحمه الله عليه افعال ناقصه په حروفو کې شمار کړل ؛ ځکه په اعتبار د معنا سره افعال ناقصه حروف دي او په اعتبار د لفظ سره افعال دي ؛ نو دلته لحاظ د معنا سوی دی .

د فاعل تعريف : مصنف رحمه الله عليه په مرفوعاتو کې تر ټولو مخکې د فاعل تعريف کوي او داسي وايي :

الفَاعِلُ : كُلُّ اِسْمٍ قَبْلَهُ فِعْلٌ، أَوْ صِفَةٌ أُسْنِدَ إِلَيْهِ عَلَى مَعْنَى أَنَّهُ قَامَ بِهِ لَا وَقَعَ عَلَيْهِ، نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًوا، وَمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

هرچي فاعل دی : دا هر هغه اسم دی چې مخکې يې فعل وي، يا صفت وي چې هغه ته اسناد سوی وي پر داسي معنا چې په ده سره قايم سوی دی، نه دا چې پر واقع سوی دی، لکه : (قَامَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًوا، وَمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

(۱۳۷) پوښتنه : فاعل يې ولې مقدم کړ پر باقي مرفوعاتو ؟

جواب : د جمهورو په مذهب باندې اصل په مرفوعاتو کې فاعل دی، له دې وجې فاعل مخکې سو پر باقي مرفوعاتو او که څوک ووايي : چې اصل په مرفوعاتو کې فاعل دی او که مبتدا ؟ نو په دې کې دوه مذهبه دي : ۱- جمهور نحات . ۲- بعضي محققين نحات .

۱- جمهور نحات وايي : چې اصل په مرفوعاتو کې فاعل دی په ادله وو اربعو سره :

(۱) دليل : دا جزء واقع کيږي د جملې فعليه يې او جمله فعليه اصل ده په نسبت سره نورو جملو ته ؛ ځکه دا د غرض د متکلم سره په اخبار او استخبار کې موافقه ده، پس جز د جمله فعليه يې اصل سو او جز د اصل اصل وي .

(٢) دليل : فاعل حاصل د عامل لفظي دی او عامل د مبتدا معنوي دی او عامل لفظي اقوی دی تر عامل معنوي ؛ نو معمول د ده هم اصل سو.

(٣) دليل : فاعل عام دی په مرکب او ناقص دواړو کي راځي په خلاف د مبتدا چي په مرکب تام کي راځي او په ناقص کي نه راځي.

(۴) دليل : عامل د فاعل محسوس دی او عامل د مبتدا غير محسوس دی او محسوس اولی او اقوی وي تر غير محسوس.

٢- بعضي محققين نحات وايي : چي مبتدا اصل ده په مرفوعاتو کي په دليلينو سره :

(١) دليل : مبتدا باقي او قائمه ده په (ما هو الأصل) باندي چي هغه تقديم دی ؛ ځکه چي اصل په محکوم عليه کي تقديم دی په خلاف د فاعل چي هغه مؤخر دی.

(٢) دليل : مبتدا محکوم عليه ده په حکم عامه سره ؛ ځکه دا له جامد او مشتقي دواړو څخه محکوم عليه واقع کيږي په خلاف د فاعل چي هغه صرف له مشتقي څخه واقع کيږي.

(١٣٨) پوښتنه : په تعريف د فاعل کي فعل داخل سو چي ذکر دی په دې ترکيب کي (أعجبني إن ضربت زيدا) ؛ نو دلته (إن ضربت) فاعل د (أعجبني) لپاره دی، سره له دې چي فعل دی، نه اسم ؟

جواب : فاعل به اسم وي او اسم عام دی صريحي وي اوکه تاويلي وي ؛ نو دلته تاويلي دی ؛ ځکه (إن ضربت) په تاويل د مصدر سره فاعل دی او تقدير د عبارت داسي دی : (أعجبني ضربك زيدا).

(١٣٩) پوښتنه : په تعريف د فاعل کي معطوف داخل سو چي هغه مثال د (جاء زيد وعَمرو) دی ؛ نو دلته (عمرو) فاعل او معطوف دی؟

جواب : مراد په اسناد سره (إسناد بالأصالة) دی او دلته په عمرو کي (إسناد بالتبع) دی.

(١۴٠) پوښتنه : اسناد مطلق ذکر دی په تعريف کي او تا مقيد کړی په (الأصالة) سره او دا ؛ خو مجاز تا مختار کړی او ارتکاب د مجاز په تعريفاتو کي ممنوع دی ؟

جواب : ارتکاب د مجاز په تعريفاتو کي هله ناجايز دی چي قرينه داله نه وي په مجاز باندي او دلته قرينه داله سته چي هغه وروسته ذکر توابع راغلی دی اه !.

(١۴١) پوښتنه : راوړل د لفظ (أو) په تعريف کي صحيح نه دي ؛ ځکه (أو) راځي د (تشکيك) لپاره او تعريف راځي د (إيضاح) لپاره ؛ نو دا منافي دی له (تشکيك) سره ؟

جواب: دلته (أو) لپاره د (تنويع) او (تقسيم) دی، لکه : (قام زيد، وزيد ضارب أبوه عمرو، وما ضرب زيد عمرو) ؛ نو اولنی مثال د هغه دی چي نسبت د فعال راغلی وي فاعل ته او دويم مثال د هغه دی چي نسبت د صفت سوی وي فاعل ته او دا دواړه مثالونه په طريقې د ايجاب دي او دريم مثال په طريقې د سلب دی اه !.

(۱۴۲) پوښتنه : مثال مطابق نه دی له ممثل سره ؛ ځکه فاعل مفرد وي او په مثالونو کي جمع ذکر ده ؟

جواب: دلته تقدير د عبارت داسي دی چي (نحو : زيد في قام زيد إلخ) اه !.

د قيوداتو فايده : په تعريف د فاعل کي ذکر د اسم په منزله د جنس دی چي (قبله) فعل او (صفة) په منزله د فصل اول دی او په دې سره خارج سو هغه اسم چي مخکي يې فعل او صفت نه وي، لکه : (زيد أخوك) ؛ نو دلته زيد مبتدا ده، (أخوك) خبر دی او مسند إليه دا فصل ثاني دی چي په دې قيد سره توابع خارج سول ؛ ځکه مسند إليه (بالأصالة) دلته مراد دی او (توابع بالتبع) وي، لکه : (ضرب زيد، زيد على معنى أنه قام به لا وقع عليه) ؛ دا فصل ثالث دی چي په دې سره مفعول ما لم يسم فاعله خارج سو د تعريف له فاعل څخه .

فايده (د اسم پولونه) : اسم په درې ډوله دی : (۱)- اسم حقيقي . (۲) اسم حکمي . (۳) اسم تأويلي .

(۱) اسم حقيقي لس ډوله دی : ۱- اسم جامد . ۲- اسم مصدر . ۳- اسم فاعل . ۴- اسم مفعول . ۵- صفت مشبه . ۶- اسم تفضيل . ۷- اسم آله . ۸- اسم ظرف . ۹- اسم مبالغه . ۱۰- اسم منسوب .

(۲) اسم حکمي دې ته وايي : چي په فعل باندي له حروف مصدريه وو څخه يو داخل وي او دغي جملې ته اسم تاويلي وايي او حروف مصدريه لکه : ۱- ما . ۲- أن . ۳- إن . ۴- کي . ۵- لو . ۶- او همزه تسويه . او مثال يې لکه : ﴿... وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ ...﴾ [البقرة: ۱۸۴]. ﴿وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ۝﴾ [القلم: ۹]. ﴿... وَٱعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ۝﴾ [البقرة: ۲۶۰] .

(۳) اسم تاويلي هغه فعل او حرف ته وايي : چي مراد له هغه څخه لفظ وي او معنا نه وي او په هغه کي (بتأويل هذا اللفظ) او (بتأويل هذا التركيب) تاويل کېداى سي، مثال يې لکه : (ضرب) فعل، (من) حرف، (زيد قائم) جمله اه !.

(۱۴۳) پوښتنه : په اول مثال کي فعل مبتدا واقع ده او په دويم مثال کي حرف او دريم مثال کي جمله مبتدا واقع ده او مبتدا ؛ خو همېشه اسم وئ ؟

جواب: دا اسم تأويلي دی .

لس مهمي قاعدې : لس داسي نحوي قاعدې دي چي له زده کولو څخه يې چاره نسته او هغه لکه :

۱- قاعده : کله چي د مصدر اضافت فاعل ته وسي ؛ نو فاعل به په لفظ کي مجرور وي، لکه : (ضرب زيد عمرا) ؛ په دې مثال کي زيد مضاف إليه دی او فاعل دی .

۲- قاعده : دويم صورت د جر د فاعل چې كله (من) زائده وربانديې داخل سي، لكه دا قول د الله تعالى :

﴿... مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ...﴾ [المائدة: ۱۹].

۳- قاعده : دريم صورت د جر د فاعل چې كله باء وربانديې داخله سي، لكه دا قول د الله تعالى :

﴿... وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾ [النساء: ۱۶۶].

۴- قاعده : څلورم صورت د جر د فاعل چې كله لام وربانديې داخل سي، لكه دا قول د الله تعالى :

﴿هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ﴾ [المؤمنون: ۳۶].

۵- قاعده : په كوم فاعل چې (من) زائده، يا (باء) زائده داخل سي ؛ نو د هغه په تابع كې د اعراب دوې وجې روا دي : ۱- رفع. ۲- جر، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿...هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ...﴾ [فاطر: ۳] ؛ نو دلته لفظا مجرور او معنا مرفوع لوستل روا دي.

۶- قاعده : كله چې د فاعل مجرور تابع معرفه وي ؛ نو دغه تابع به صرف مرفوع لوستل كيږي، لكه : (مَا جاءَنِي مِن عبدٍ ولا زيدٌ).

۷- قاعده : كله چې تر شرط وروسته اسم واقع سي ؛ نو دغه اسم به د فعل مقدر لپاره فاعل وي، لكه دا قول د الله تعالى :

﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ﴾ [التكوير: ۱]. أي : إذا كُوِّرت الشمس.

نو كله چې تر اسم موصول وروسته ظرف واقع سي ؛ نو دغه به ظرف مستقر د فعل مقدر وي او فاعل د فعل به ضمير مستتر وي، لكه : (الّذي في السماء إله، أي : هو الذي ثبت في السماء إله) اه !.

۸- قاعده : د نداء او ندبې په وخت كې به فعل او فاعل دواړه حذف وي، لكه : (يا الله، أي : ادعو الله! وازيداه!).

۹- قاعده : فاعل به همېشه اسم وي، يا حقيقي، يا تأويلي. او يا حكمي.

۱۰- قاعده : د افعال تعجب په دويمه صيغه باندې (باء) حرف جر لازمي داخليږي او نور تفصيل دَ نحو په غټو كتابونو كې وګورئ !.

وَكُلُّ فِعْلٍ لَا بُدَّ لَهُ مِنْ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٍ مُظْهرٍ كَـ (ذَهَبَ زَيْدٌ)، أَوْ مُضْمَرٍ بَارِزٍ كَـ (ضَرَبْتُ زَيْدًا)، أَوْ مُسْتَتِرٍ كَـ (زَيْدٌ ذَهَبَ)، وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ مُتَعَدِّيًا ؛ كَانَ لَهُ مَفْعُوْلٌ بِهِ أَيْضًا نَحْوُ : (ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا)

او د هر فعل چاره نسته له يو فاعل مرفوع مظهر څخه لكه (ذَهَبَ زَيْدٌ)، يا مضمر بارز څخه لكه (ضَرَبْتُ زَيْدًا)، يا مستتر څخه لكه (زَيْدٌ ذَهَبَ) او كه فعل متعدي وي ؛ نو ده لره مفعول به هم وي، لكه : (ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه توطيه او تمهيد بيانوي لپاره د احكامو د فاعل ؛ نو مصنف وايي : د هر فعل لپاره لابدي ده له فاعل څخه ؛ ځكه فعل يو حدث او عرض دى ؛ نو دې لپاره لابدي ده له محدث څخه او له هغه شي څخه چې دا فعل ورپورې قائم سي.

او فعل په دوه ډوله دى : (۱) لازمي. (۲) متعدي.

(۱) فعل متعدي دې ته وايي : چې تعقل د هغه موقوف وي په فاعل باندي بېله د بل متعلقه چې هغه ته مفعول وايي، لکه : (ضربت زيدا وعمروا) . او فعل متعدي په درې ډوله دی : ۱- متعدي يو مفعول ته وي، لکه : (ضرب زيد عمرو) . ۲- متعدي دوو مفعولينو ته وي، لکه : (اعلمت زيدا فاضلا) . ۳- متعدي دريو مفعولينو ته وي، لکه : (اعلمت زيدا عمروا فاضلا) .

(۲) او فعل لازمي دې ته وايي : چې تعقل يې موقوف نه وي بېله فاعله په بل متعلق پوري، لکه : (ذهب زيد) او (خرج زيد) .

وَإِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُظْهِرًا ؛ وُحِّدَ الْفِعْلُ أَبَدًا نَحْوُ : (ضَرَبَ زَيْدٌ، وَضَرَبَ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ) . وَإِنْ كَانَ مُضْمِرًا ؛ وُحِّدَ لِلْوَاحِدِ نَحْوُ : (زَيْدٌ ضَرَبَ)، وَثُنِّيَ لِلْمُثَنَّى نَحْوُ : (الزَّيْدَانِ ضَرَبَا)، وَجُمِعَ لِلْجَمْعِ نَحْوُ : (الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْ)

او که فاعل مظهر وو ؛ نو واحد ګرځي فعل همېشه لکه : (ضَرَبَ زَيْدٌ، وَضَرَبَ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ) . او که مضمر وو ؛ نو واحد ګرځي لپاره د واحد لکه : (زَيْدٌ ضَرَبَ) او تثنيه ګرځي لپاره د تثنيه يې لکه : (الزَّيْدَانِ ضَرَبَا) او جمع ګرځي لپاره د جمع لکه : (الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا)

تشريح : واحدتوب د فعل په وخت د ظاهرتوب د فاعل کې ضروري دی، همدا ډول تثنيه توب او جمع توب د فعل ؛ د دې لپاره دی چې خبرداري وکړي په احوالو د فاعل باندي او هر کله چې فاعل ظاهر وو ؛ نو احوال د هغه به هم ظاهر وي او په دې وجه تثنيه توب او جمع توب د فعل ته ضرورت نشته .

همدا راز فعل که چيري په دې حالت کې تثنيه، يا جمع وګرځي ؛ نو په دې فعل کې به ضمير راسي او هغه به هم فاعل سي او وروسته اسم ظاهر هم فاعل دی ؛ نو لازم به سي تکرار، لکه : (ضربا الزّيدان) او (ضربوا الزّيدون) به وګرځي او دا ممتنع دي، يعني : داسي ګرځول يې منع دي او په نحوي لحاظ سره روايښت نه لري .

او که په دې حالت کې فعل تثنيه، يا جمع وګرځي ؛ نو لازم به سي (إضمار قبل الذكر) ؛ ځکه د (ضربا) ضمير به راجع سي وروسته و(الزّيدان) ته او د (ضربوا) ضمير چې واو دی راجع به سي وروسته و (الزّيدون) ته او (إضمار قبل الذكر) روا نه دی او چې کله فاعل د فعل ضمير وي ؛ نو مطابقت ضروري دی د فعل له فاعل سره او د دې دوه دليله دي .

اول دليل دا دئ : که دا فعل واحد کړل سي په دې حالت کې او ضمير ورله فاعل وي ؛ نو دا به هم واحد وي لپاره د مطابقت (بين الضمير والمرجع) کې او که د دې ضمير مرجع تثنيه وي، يا جمع وي ؛ نو مطابقت نه راځي په مينځ د ضمير او مرجع کې او هر کله چې فعل تثنيه او جمع سي ؛ نو ضمير به ورسره هم تثنيه او جمع وګرځي : نو په دغه صورت کې به مطابقت راسي .

دويم دليل دا دئ : چې فاعل کله مضمر وي ؛ نو احوال خفي وي او بيا دا نه معلوميږي چې ضمير د واحد دئ ؟ که تثنيه ده ؟ او که جمع ده ؟ نو د دې لپاره به فعل تثنيه او جمع کيږي چې دلالت وکړي په احوالو د فاعل باندي .

(۱۴۲) پوښتنه : زيد معرفه ده په علميت سره ؛ نو الف لام په (الزّيدان) او (الزّيدون) کې داخلول باطل دي ؛ ځکه الف لام په علَم کې نه داخلیږي .

جواب : مراد له زيد ځخه په (الزّيدان) او (الزّيدون) کې معنى عَلَمي نه ده، بلکې مراد له دې ځخه مسمى (بزيد) دى او مسمى (بزيد) نکره ده ؛ ځکه قانون دا دئ : چې له عَلَم کله هم تثنيه او جمع سي ؛ نو تاويل پکې کيږي په مسمى (بذلك اللفظ) سره اه ! .

وَإِنْ كَانَ الفَاعِلُ مُؤَنَّثًا حَقِيقِيًّا، وَهُوَ مَا بِإِزَائِهِ ذَكَرٌ مِنَ الْحَيَوَانِ ؛ أُنِّثَ الفِعْلُ أَبَداً إِنْ لَمْ تَفْصِلْ بَيْنَ الفِعْلِ وَالفَاعِلِ. نَحْوُ : (قَامَتْ هِنْدٌ)، وَإِنْ فَصَلْتَ ؛ فَلَكَ الْخِيَارُ فِي التَّذْكِيرِ وَالتَّأْنِيثِ نَحْوُ : (ضَرَبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ)، وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ : (ضَرَبَتْ اليَوْمَ هِنْدٌ)، وَكَذَلِكَ فِي الْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الحَقِيقِيِّ نَحْوُ : (طَلَعَتِ الشَّمْسُ)، وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ : (طَلَعَ الشَّمْسُ). هٰذَا إِذَا كَانَ الفِعْلُ مُسْنَدًا إِلَى الْمُظْهَرِ .

وَإِنْ كَانَ مُسْنَدًا إِلَى الْمُضْمَرِ ؛ أُنِّثَ أَبَدًا نَحْوُ (الشَّمْسُ طَلَعَتْ) .

وَجَمْعُ التَّكْسِيرِ كَالْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الحَقِيقِيِّ، تَقُولُ : (قَامَ الرِّجَالُ)، وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ : (قَامَتِ الرِّجَالُ وَالرِّجَالُ قَامَتْ)، وَيَجُوزُ فِيهِ (الرِّجَالُ قَامُوْا)

او که فاعل مؤنث حقيقي وو او دا هغه دى چې پر برابري يې نارينه وي له حيوان (ژوي) ځخه ؛ نو مؤنث گرځي فعل همېشه هغه وخت چې نه وي جلا سوى فعل او فاعل لکه : (قَامَتْ هِنْدٌ) او که سره جلا سوي وه ؛ نو تا لره اختيار دى په مذکروالي او مؤنثوالي کې لکه : (ضَرَبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ) او که دې خوښه وه داسې يې ووايه : (ضَرَبَتْ الْيَوْمَ هِنْدٌ) او دا ډول په مؤنث غير حقيقي کې لکه : (طَلَعَتِ الشَّمْسُ) او که دې خوښه وه داسې يې ووايه : (طَلَعَ الشَّمْسُ) دا هغه وخت چې کله وي فعل مسند ومظهر ته .

او که مسند وو ومضمر ته ؛ نو همېشه مؤنث گرځي لکه : (الشَّمْسُ طَلَعَتْ) .

او جمع تکسيره داسې ده لکه مؤنث غير حقيقي چې ته به يې داسې وايې : (قَامَ الرِّجَالُ) او که دې خوښه وه داسې يې وايه : (قَامَتِ الرِّجَالُ وَالرِّجَالُ قَامَتْ) او دا ډول داسې ويل هم روا دي په دې کې (الرِّجَالُ قَامُوْا)

ترکيب : د دې عبارت ترکيب واضح دى ؛ له دې وجې مکررولو ته يې اړتيا نسته .

تشريح : فعل په اعتبار د تذکير او د تانيث د فاعل سره په درې ډوله دى : ۱- فاعل مؤنث حقيقي . ۲- فاعل مؤنث غير حقيقي . ۳- او فاعل جمع مکسر .

مؤنث حقيقي دې ته وايي : چې (ما يكون بإزاء إلخ) وي او مثال يې : (امرأة و ناقة) .

مؤنث غير حقيقي دې ته وايي : چې (ما لا يكون بإزاء إلخ) وي او مثال يې : (شمس، ظلمة) .

او له (إن كان الفاعل) څخه تر (قلت ضربت اليوم هند) پوري د فاعل مؤنث حقيقي بيان دی او له (كذالك في المؤنث الغير الحقيقي) څخه تر (الشمس طلعت) پوري د مؤنث غير حقيقي بيان دی . او له (وجمع التكسير) څخه تر (الرجال قاموا) پوري د فاعل جمع مكسر بيان دی .

او كله چي فاعل د فعل مؤنث حقيقي بلا فصله وو ؛ نو تانيث د فعل واجب دی او كله چي فاعل د فعل مؤنث حقيقي سره له فصله وو ؛ نو اختيار په تانيث او تذكير دواړو كي دی .

دليل د اول تانيث د فعل واجب دی ؛ ځكه تانيث حقيقي قوي دی ؛ نو دا سرايت كوي فعل ته او دليل د ثاني تانيث د فعل ضروري نه دی په صورت د فعل كي، بلكي تذكير او تانيث د فعل دواړه جايز دی ؛ نو هر چي تانيث د فعل جايز دی له وجي د سرايت د تانيث څخه وفعل ته او هر چي تذكير له وجي د وقوع له فعل څخه په مينځ د فعل او فاعل كي او مثال د اول (ضربت هند) او مثال د ثاني (ضربت اليوم هند) په تانيث سره او (ضرب اليوم هند) په تذكير سره .

او كله چي فاعل مؤنث غير حقيقي وي ؛ نو تذكير او تانيث د فعل دواړه جايز دی په شان د مؤنث حقيقي مع الفصل. لكه : (طلع الشمس) په تذكير سره او (طلعت الشمس) په تانيث سره .

دليل : ځكه دا تانيث قوي هم نه دی او د فاعل شدت امتزاج هم له فعل سره نه وي ؛ ځكه زموږ كلام په فاعل اسم ظاهر كي دی او شدت امتزاج د هغه فاعل له فعل سره وي چي ضمير فاعل وي او تانيث غير حقيقي ؛ ځكه ضعيف دی چي په دې مؤنث غير حقيقي كي له يو وجي موجود وي او له بلي وجي پكي نه وي ؛ نو په اعتبار د لفظ سره پكي تانيث وي او په اعتبار د معنا سره پكي تانيث نه وي او هر كله چي فصل راسي د فاعل مؤنث غير حقيقي او په فعل دده كي ؛ نو بيا په طريقه اولی سره تانيث او تذكير دواړه جايز دي په فعل كي، بلكي تذكير اولی دی تر تانيث او په جمع مكسر كي تانيث د فعل او تذكير دواړه جايز دی ؛ ځكه په جمع مكسر كي دوه اعتباره دي : اول اعتبار د لفظ چي دا لفظ مذكر دی ؛ نو فعل مذكر راوړل جايز دي او دويم اعتبار پكي د جماعت دی ؛ خو مفرد مؤنث دی ؛ نو فعل مؤنث راوړل هم جايز دي، مثال يې لكه : (قام الرّجال) او (قامت الرّجال) اه ! .

(۱۴۵) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (نعم هندٌ) باندي ؛ ځكه په دې مثال كي فاعل مؤنث حقيقي دی چي (هندٌ) دی بلا فصل او فعل يې مذكر دی ؟

جواب : مراد له فعل څخه فعل متصرف دی او نعم فعل غير متصرف دی .

(۱۴۶) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (اتي النعجة) باندي ؛ ځكه په دې كي فاعل مؤنث حقيقي دی بلا فصل او فعل پكي متصرف دی ؟

جواب : مراد زموږ دلته له فاعل څخه فاعل له انسانانو څخه دی او د فاعل مؤنث حقيقي لپاره به فعل مؤنث کيږي وجوبا مګر په دريو شرايطو سره : ۱- اول شرط : فصل به نه وي په مينځ د فعل او فاعل کي، لکه : (احتراز ضرب اليوم هندٌ) . ۲- دويم شرط : فعل به متصرف وي، لکه : (احتراز نعم هندٌ) . ۳- دريم شرط : فاعل به له انسانانو څخه وي، لکه : (احتراز اتي النعجة) .

د اسم فاعل د ډولونو مختصر وضاحت : فاعل په دري ډوله دی :

۱- فاعل مؤنث حقيقي .

۲- فاعل جمع مکسر .

۳- او فاعل مؤنث غير حقيقي .

فاعل مؤنث حقيقي بيا په دوه ډوله دی : ۱- موصول لکه : (ضربت هندٌ) ؛ ځکه تانيث د فعل يې واجب . ۲- او مفصول لکه : (ضربت اليوم هندٌ) چي په تانيث سره دی او لکه : (ضرب اليوم هندٌ) په تذکير سره دی .

او دويم چي فاعل جمع مکسره ده هم په دوه ډوله دی، لکه : ۱- اسم ظاهر چي مذکر او مؤنث يې دواړه په فعل کي راځي ؛ د مذکر مثال لکه : (قام الرجال) او د مؤنث مثال لکه : (قامت الرجال) . ۲- او اسم ضمير بيا په دوه ډوله دی : ۱- جمع عاقله ؛ چي يو يې په تانيث سره راځي، لکه : (الرجال قامت) او بل يې فقط په واو سره راځي، لکه : (الرجال قاموا) . ۲- او دويم جمع غير عاقله ده ؛ چي يوه جمع يې په تاء سره راځي، لکه : (الأيام مضت) او بله جمع يې فقط په نون سره راځي، لکه : (الأيام مضين) .

او دريم فاعل مؤنث غير حقيقي دی چي دا هم په دوه ډوله دی، لکه : ۱- اسم ظاهر چي مذکر او مؤنث يې دواړه راځي ؛ د مذکر مثال لکه : (طلع الشمس) او د مؤنث مثال لکه : (طلعت الشمس) . ۲- او دويم ډول د فاعل مؤنث غير حقيقي اسم ضمير دی چي مؤنث والی يې واجب دی، لکه : (الشمس طلعت) اه !.

دا د فاعل د دريو ډولونو مختصر وضاحت وو ؛ الله تعالى دي وکړي چي د ګران لوستونکی سر په خلاص سوی وي[1].

وَيَجِبُ تَقْدِيمُ الفَاعِلِ عَلَى المَفْعُولِ إذا كَانَا مَقْصُورَيْنِ، وَخِفْتَ اللَّبْسَ. نَحْوُ : (ضَرَبَ مُوْسَى عِيْسَى)، وَيَجُوزُ تَقْدِيمُ المَفْعُولِ عَلَى الفَاعِلِ إِنْ لَمْ تَخْفِ اللَّبْسَ. نَحْوُ : (أَكَلَ الكُمَّثْرَى يَحْيَى، وَضَرَبَ عَمْرًوا زَيْدٌ)

او واجب دی مخکي کول د فاعل پر مفعول چي کله وي دوی دواړه مقصوره او سپک وي لبس. لکه : (ضَرَبَ مُوسَى عِيْسَى) او روا دی مخکي کول د مفعول پر فاعل چي کله نه وي سپک لبس. لکه : (أَكَلَ الكُمَّثْرَى يَحْيَى، وَضَرَبَ عَمْرًوا زَيْدٌ)

[1] يادونه : مولانا نصير الحق صاحب په خپله پښتو شرحه (کفاية النحو) کي دا ډولونه په نقشه کي په عربي ژبي راوړي وه : نو ما د زيات وضاحت لپاره دلته په پښتو ژبه کي بيله نقشي راوړل : ځکه چي د دې ضرورت په نقشه کي نه وو اه !.

زنځيري ترکيب : واو عاطفه، يجب فعل، تقديم الفاعل فاعل د على المفعول چي ظرف لغوه متعلق په تقديم پوري دی، دا بيا جمله فعليه جزاء مقدمه سوه، يا دال پر جزاء سوه، إذا شرطيه، کان فعل ناقص، الف ضمير اسم د کان مقصورين دی چي دا خبر د کان دی او دا مجموعه معطوف عليه، خفت اللبس معطوف، معطوف سره له معطوف عليه شرط، شرط سره له جزاء مقدمي جمله شرطيه . يجوز تقديم المفعول على الفاعل دا بيا جزاء مقدم، إن لم يخف اللبس شرط موخره او باقي ترکيب واضح دی اه ! .

تشريح : د فاعل تقديم په څلورو صوتونو کي واجب دی او په څلورو صورتونو کي بيا په تمامو معمولاتو د فعل باندي جايز دی ؛ ځکه فاعل جزء د فعل دی لفظا او معنا .

صورتونه د وجوب د تقديم د فاعل په مفعول باندي، لکه : ۱- قرينه او اعراب دواړه منتفي ول په فاعليت د فاعل او په مفعوليت د مفعول باندي، لکه : (ضرب موسى عيسى) .

۲- يا فاعل ضمير متصل وو، لکه : (ضربتك) او (ضربت زيدا) .

۳- واقع کېدل د مفعول د فعل پس له إلا څخه، لکه : (ما ضربت إلّا إيّاك) او (ما ضرب زيد إلّا عمرا) .

۴- مفعول واقع وو پس له (إنّما) څخه، لکه : (إنّما ضرب زيد عمرا) .

دليل د اول صورت : لپاره د دې چي التباس رانه سي په مينځ د فاعل او مفعول به کي .

دليل د دويم صورت : ځکه د اتصال او انفصال په مينځ کي منافات دی .

د دريم او څلورم صورت دليل : ځکه چي فوت نه سي حصر مطلوب او چي منقلب نه وګرځي هغه حصر مقصود.

صورتونه د جواز د تقديم د فاعل په مفعول باندي، لکه : ۱- چي قرينه وي په فاعليت د فاعل او په مفعوليت د مفعول باندي، لکه : (ضربت حبلى موسى) .

۲- چي اعراب داله وي په فاعليت د فاعل او په مفعوليت د مفعول باندي، لکه : (ضرب زيد عمروا) .

۳- چي قرينه او اعراب دواړه وي په فاعليت د فاعل او په مفعوليت د مفعول باندي، لکه : (ضربت هندٌ زيدًا) .

صورتونه د وجوب د تقديم د مفعول په فاعل باندي : ۱- کله چي متصل سي په فاعل پوري ضمير د مفعول، مثال يې لکه : ﴿وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ ...﴾ [البقرة: ۱۲۴] .

۲- چي واقع سي فاعل وروسته تر (إلّا)، لکه : (ماضرب عمروًا إلا زيد) .

۳- چي واقع سي فاعل وروسته تر معنا د (إلّا) چي (إنّما) دی، لکه : (إنّما ضرب عمروا زيدٌ) .

۴- چي متصل سي له فعل سره مفعول د فعل او فاعل متصل نه وي له فعل سره. لکه : (ضربك زيدٌ) .

وَيَجُوزُ حَذْفُ الفِعْلِ حَيْثُ كَانَتْ قَرِيْنَةٌ. نَحْوُ : (زَيْدٌ) فِي جَوابِ مَنْ قَالَ : (مَنْ ضَرَبَ ؟)

او جايز دی حذف د فعل چيرې چې قرينه وي، لکه : (زَيْدٌ) په جواب کې د هغه چا چې ووايي : (مَنْ ضَرَبَ ؟)

زنځيري ترکيب : و حرف عاطفه، يجوز فعل مضارع معلوم، حذف مضاف، الفعل مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه فاعل د يجوز. حيث مضاف، کانت فعل له افعال ناقصه وو څخه چې په معنا د (وجد) دی، قرينة اسم د کانت، کانت سره له اسمه مضاف إليه سو د حيث مضاف، مضاف سره له مضاف إليه مفعول فيه د يجوز، يجوز فعل سره له مفعول فيه جمله فعليه خبريه . نحو مضاف، زيد مبتدا، في حرف جر، جواب مجرور مضاف إليه، مَن موصوله .

قال فعل ماضي معلوم، فعل سره له فاعله جمله فعليه خبريه قوليه . مَن مبتدا په اعتبار د معنا، ضَرَبَ فعل، فعل سره له فاعله خبر، خبر سره له مبتدا جمله اسميه چې دا واقع کيږي مقوله لپاره د قال، قال سره له خپلي مقولې ګرځي صله لپاره د مَن موصوله، موصول سره له خپلي صلې مضاف إليه ګرځي د جواب، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار ګرځي، جار سره له مجروره ظرف مستقر په اعتبار د متعلق مقدره خبر ګرځي، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه معطوفه سوه .

تشريح : تر دې عبارت وروسته مصنف رحمه الله عليه بيان د دريو مسئلو کوي :

۱- (حذف الفعل) . ۲- (حذف الفعل والفاعل) . ۳- (حذف الفاعل بشرط إقامة المفعول مقامه) .

اوله مسئله حذف د (عامل رافعه) کېدای سي چې قرينه موجوده وي، مګر دا حذف جايز دی او قرينه دلته پر دوه دوه ډوله ده : ۱- قرينه محققه . ۲- قرينه مقدره ؛ مګر حذف د رافع د فاعل لږ دی او ذکر يې ډېر دی، له دې وجې ابن حاجب رحمه الله عليه دا قاعده ذکر کوي په (قد داخله) سره په مضارع باندې : (وقد يحذف الفعل إلخ) .

(۱۴۷) پوښتنه : څرنګه چې فعل حذف کيږي : نو دارنګه حذف د شبه فعل هم کيږي او دلته ذکر د فعل وسو او د شبه فعل ذکر نه دئ سوی؟

جواب : دلته مراد له فعل څخه (عامل رافعه) د فاعل دی، برابره خبره ده هغه که فعل وي او يا شبه فعل وي .

(۱۴۸) پوښتنه : فعل بيا ولې ذکر سو ؟

جواب : فعل اصل دی په عمل کې ؛ ځکه يې د ده ذکر وکړی .

(۱۴۹) پوښتنه : بحث موږ په فاعل کې دی او تا د فعل بحث شروع کړی او دا کار داسي نه دئ، مګر يو ډول وتل له بحث څخه دي ؟

جواب : بحث د متعلقاتو له يو شي څخه دا خروج د بحث نه دی ؛ ځکه فعل (عامل رافعه) د فاعل دی، مثال يې لکه : (زيد) په جواب د هغه چا کې چې ووايي : (مَن ضَرَب ؟) ؛ نو (ضرب) فعل دی او (زيد) فاعل دی اه ! .

(۱۵۰) پوښتنه : (قرينة) څه ته وايئ ؟

جواب: په عربي ژبه کې د (قرينة) پېنځه معناوې دي :

۱ـ (قرينة) مېرمنې ته وايي .

۲ـ (قرينة) ملګرې ښځينه ته وايي .

۳ـ (قرينة) له خبرو څخه هغه ته وايي چې پر خپل مراد دلالت کوي ؛ نو دلته په عبارت کې هم له (قرينة) څخه خپله خبره مراد ده .

۴ـ (قرينة) د انسان وځان (نفس) ته هم وايي .

۵ـ او همدا ډول (قرينة) د روحاني عملياتو په لړ کې هغې ښځينه شيطاني پېرۍ ته ويل کيږي چې د بني آدم له هرې ښځې سره ورسره ده او په زړه کې ډول ډول وسوسې وراچوي، لکه څرنګه چې (قرين) هغه شيطان ته ويل کيږي چې د بني آدم له هر نارينه سره ورسره دی او په زړه کې ډول ډول وسوسې وراچوي ؛ اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْ وَسَاوِسِ الشَّيْطَانِ الْقَرِيْنِ، آمِيْنَ .

فايده: پوه سه ! په دې چې د (قرينة) جمع (قرائن) راځي .

وَكَذَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْفِعْلِ وَالْفَاعِلِ مَعًا كَـ (نَعَمْ) فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ : أَقَامَ زَيْدٌ ؟

او دا ډول روا دی حذف کول د فعل او فاعل دواړو لکه (نَعَمْ) په جواب کې د هغه چا چې ووايي : ايا زيد ولاړ دئ ؟

څه تشريح : (ويجوز حذف الفعل والفاعل) ؛ دا هم په د قلت په ډول سره مسئله ده، نه د کثرت په ډول سره او دا مسئله هم د جواز ده، نه د وجوب او د دې لپاره به هم قرينه وي، مثال يې لکه : (نعم) سو ؛ نو دلته فعل او فاعل دواړه حذف دي، يعني : (نعم قام زيد) دی او په اصل کې (قام) او (زيدٌ) فعل او فاعل دواړه حذف سوي دي او قرينه دلته سوال د سائل دی چې (أقام زيد) فعل او فاعل دواړه دلته په سوال کې مذکور دي او ذکر سوی په پوښتنه کې داسې دی لکه راګرځېدونکې په جواب کې، يعني مکررولو ته يې اړتيا نسته .

(۱۵۱) پوښتنه : دلته دې حذف وجوبي راسي او (نعم) دې قائم مقام د فعل او فاعل سي ؟

جواب: (نعم) حرف دی او غير مستقل دی او فعل او فاعل دواړه مستقل دي او غير مستقل قائم مقام د مستقل نه سي واقع کېدای .

(۱۵۲) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (يا زيد) باندې ؛ ځکه يا حرف دی او قائم مقام د فعل (أدعو) دی ؛ نو اقامت د غير مستقل راغلی دی په ځای د مستقل باندې ؟

جواب: دا قاعده سماعي ده او په سماعي باندې يو شی نه سي قياس کېدای .

وَقَدْ يُحْذَفُ الْفَاعِلِ وَيُقَامَ الْمَفْعُوْل مَقَامَهُ إِذَا كَانَ الْفِعْل مَجْهُوْلًا. نَحْوُ : (ضُرِبَ زَيْدٌ). وَهُوَ الْقِسْمُ الثَّانِيْ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ

او په تحقيق سره حذف کيږي فاعل او دريږي مفعول پر ځای د فاعل چې کله وي فعل مجهول، لکه : (ضُرِبَ زَيْدٌ) او دا دويم ډول دی له مرفوعاتو څخه

يادونه : د دې خبرې (حذف الفاعل وإقامة المفعول) تفصيل به په راوروسته مستقل فصل کې راسي؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى .

د فاعل د پيژندګلوی لپاره يو مختصر تمرين : (١) ﴿ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ﴾ [البقرة: ١٥٦]. (٢) ﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ﴾ [التكوير: ١]. (٣) ﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا﴾ [الفجر: ٢٢]. (٤) ﴿قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ﴾ [الصافات: ٥١]. (٥) ﴿... قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ...﴾ [يوسف: ٥١]. (٦) ﴿...فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ﴾ [المائدة: ١٩]. (٧) ﴿...فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ ...﴾ [البقرة: ٢٧٥].

فَصْلٌ : إِذَا تَنَازَعَ الْفِعْلَانِ فِيْ اِسْمٍ ظَاهِرٍ بَعْدَهُمَا. أَيْ : أَرَادَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْفِعْلَيْنِ أَنْ يَعْمَلَ فِيْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ

فصل دی : کله چې تنازع د دوو فعلو سره راسي په يو اسم ظاهر کې وروسته تر دوی دوو، يعنې : هر يو د دوو فعلو اراده وکړي چې عمل وکړي په دغه اسم کې

زنځيري ترکيب : إذا حرف شرط، تنازع فعل ماضي معلوم له مزيداتو څخه د باب تفاعل، لکه : (تنازع، يتنازع، تنازعا)، الفعلان فاعل د تنازع، في جار، اسم مجرور لفظا موصوف، ظاهر صفت، بعدهما ظرف چې مضاف دی ضميل منفصل ته، مضاف سره له مضاف إليه وګرځېدی مفسر، أي حرف تفسير، أراد فعل ماضي معلوم، کُل مضاف وواحد ته، واحد مضاف إليه، مِن حرف جاره، الفعلين مجرور، جار سره له مجرور ظرف لغوه متعلق په واحد پوري او متعلق ګرځي مضاف إليه د کُل، مضاف سره له مضاف إليه ګرځي فاعل د أراد، أن مصدريه، يعمل فعل مضارع معلوم، في حرف جر، ذلک مجرور مضاف، الاسم مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه چې متعلق دی په يعمل پوري، يعمل فعل، فعل سره له فاعله او متعلقه مؤول دی په أن مصدريه سره چې دا بيا ګرځي مفعول د أراد، أراد فعل، فعل سره له فاعله او مفعول به جمله فعليه خبريه تفسيريه . مفسر سره له تفسير ګرځي صفت د اسم، اسم موصوف، موصوف سره له صفته مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغوه متعلق په تنازع پوري، تنازع فعل، فعل سره له فاعله او متعلقه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه.

د (إذا تنازع الفعلان) **بحث :** هر کله چې مصنف رحمه الله عليه فارغ سو د بيان له هغه فاعل څخه چې تنازع د فعلينو پسې نه وه؛ نو شروع يې وکړه په هغه فاعل کې چې تنازع د فعلينو پکې وي او دا مشهوره مسئله د نحاتو ده چې دې ته تنازع د فعلينو وايي .

(١٥٣) پوښتنه : تنازع چې څنګه په دوو فعلينو کې راځي : دارنګه په شبه فعلينو کې هم راځي ؛ نو ولې تنازع خاص سوه په ذکر د فعلينو پوري ؟

جواب : دلته ذکر د فعلين دی او مراد ځني عاملين دي .

(١٥٤) پوښتنه : بيا به يې عاملين ذکر کړي وای ؟

جواب : ذکر د فعلينو يې له وجې د اصالته کړی دی : څکه اصل او قوي په عواملو کې فعل دی .

(۱۵۵) پوښتنه: لکه څنګه چي تنازع په دوو فعلينو کي راځي؛ نو دارنګه په ډېرو فعلينو کي هم راځي، لکه: (كما صليت وسلمت وباركت ورحمت وترحمت على إبراهيم)؛ نو دلته ولې تخصيص د دوو فعلينو وسو؟

جواب: دوه فعلين د حصر لپاره نه دي، بلکي لږ مرتبه د تنازع يې ذکر کړې ده چي کم ازکم دوه عاملين به وي او زيات لره څه حد نسته.

(۱۵۶) پوښتنه: نسبت د تنازع وفعلينو ته صحيح نه دی؛ ځکه چي تنازع په (ذوي الأرواح) کي راځي او فعلين (غير ذي روح) دي؟

جواب: د تنازع لپاره دوې معناوي دي: ۱- لغوي. ۲- اصطلاحي.

لغوي معنايې دا ده: چي يو فعل له بل فعل سره تنازع وکړي او اصطلاحي معنايې دا ده: چي په شدت او سختي سره تقاضا کول دي د دوو عاملينو د معموليت د اسم چي تر دوی وروسته وي او دا اسم هم صلاحيت د دې خبري لري چي د دواړو لپاره معمول واقع سي په طريقې د بدليت سره او دلته معنا اصطلاحي مراده ده.

او دې ته يې اشاره کړې ده په دې قول سره: (أي: أراد كُلّ واحد إلخ في اسم ظاهر)؛ چي په دې قيد سره احتراز راغلی له ضميره، برابره خبره ده چي ضمير متصل وي او که ضمير منفصل وي، که ضمير متصل وي؛ نو معمول به د فعل ثاني وي؛ ځکه د هغه جزء دی او جايز نه دی چي فعل اول په ده کي عمل وکړي؛ ځکه جايز نه دی يو د فعلينو لره چي عمل وکړي په جز د فعل آخر کي، لکه په (ضربتُ وأكرمته) کي (ه) مفعول د (أكرمتُ) دی او هغه پکي عمل کړی دی اول فعل چي (ضربت) دی د هغه معمول او مفعول نه سي جوړېدای.

او که ضمير منفصل وو، لکه: (ما ضرب وأكرم إلّا أنا)؛ نو په دې کي اګر چي تنازع سته، مګر صورت د قطع د تنازع پکي ممکن ده چي هغه اعمال فعل ثاني لره دی په نېز د بصرينو او اضمار دی په اول کي؛ ځکه بيا لازميږي اضمار د حرف او يا ضمير منفصل قياس دی په متصل باندي او په متصل کي تنازع نه سي راتلای؛ نو په منفصل کي هم نه سي راتلای او (بعدهما): په دې قيد سره يې احتراز وکړی له اول اوسط څخه: ځکه بيا تنازع نسته او په دغه وخت کي به اول متعين وي اه!.

فَهٰذَا إِنَّمَا يَكُوْنُ عَلٰى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ. الْأَوَّلُ: أَنْ يَّتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ فَقَطْ. نَحْوُ: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ).

الثَّانِيْ: أَنْ يَّتَنَازَعَا فِي الْمَفْعُوْلِيَّةِ فَقَطْ. نَحْوُ: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا).

الثَّالِثُ: أَنْ يَّتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ وَالْمَفْعُوْلِيَّةِ. وَيَقْتَضِي الْأَوَّلُ الْفَاعِلَ وَالثَّانِيْ الْمَفْعُوْلَ نَحْوُ: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا).

الرَّابِعُ : عَكْسُهُ نَحْوُ : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ) .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الْأَقْسَامِ يَجُوْزُ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ وَإِعْمَالُ الْفِعْلِ الثَّانِيْ خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فِي الصُّوْرَةِ الْأُوْلَىٰ. وَالثَّالِثَةِ أَنْ يُعْمَلَ الثَّانِيْ وَدَلِيْلُهُ لُزُوْمُ أَحَدُ الْأَمْرَيْنِ إِمَّا حَذْفُ الْفَاعِلِ أَوِ الْإِضْمَارِ قَبْلَ الذِّكْرِ وَكِلَاهُمَا مَحْظُوْرَانِ

نو بیشکه دا کیږي پر څلور ډوله : لومړی دا دئ : چې کله تنازع وکړي په فاعلیت کې فقط، لکه : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ) . دویم دا دئ : چې تنازع وکړي په مفعولیت کې فقط، لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا) . دریم دا دئ : چې تنازع وکړي په فاعلیت او مفعولیت (دواړو) کې او تقاضا اول فاعل کوي او دویم (د) مفعول (تقاضا) کوي، لکه : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا) . څلورم یې : عکس دی، لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ) .

او پوه سه ! په دې چې په دې ټولو ډولونو کې روا دی عمل کول د فعل اول او عمل کول د فعل ثاني په خلاف د فراء په لومړي صورت کې او دریم دا دئ چې عمل وکړل سي د دویم او دلیل یې دا دئ چې لازم سي یو د کارونو، یا حذفېدل د فاعل او یا ضمیر کېدل مخکې تر ذکر کولو او دا دواړه منع دي

تشریح : په دې ډولونو کې د بصریانو او کوفیانو په نیز د اول فعل عمل هم جایز دی او د فعل ثاني عمل هم جایز دی، صرف امام فراء رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ وایي : چې په اول او ثالث صورت کې چې عمل د فعل ثاني جایز نه دی دلیل یې دا دئ : که عمل فعل ثاني ته ورکړل سي نو د اول فعل فاعل به یا محذوف وي، یا به ضمیر پټې وي او هغه به وروسته اسم ظاهر ته راجع وي او دا دواړه احتماله صحیح نه دي او هر چې حذف د فاعل دی ؛ نو لازمیږي حذف د عمده او دا جایز نه دی او هر چې ضمیر دی ؛ نو لازمیږي إضمار قبل الذکر او دا هم منع دی، له دې وجې په دوو صورتونو کې به إعمال د فعل اول لپاره وي. مګر غوره مذهب د جمهورو نحاتو دی چې بصریان او کوفیان دي او جواب فرا صاحب ته دا ورکوي چې حذف د فاعل ممنوع او ناجایز دی چې کله (سدمسد) په راوروسته کې نه وي او دلته سته او (إضمار قبل الذکر) ممنوع دی په وروسته کې ؛ خو هله چې تفسیر نه وي سوی او دلته تفسیر په وروسته کې سته .

وَهٰذَا فِي الْجَوَازِ وَأَمَّا الْاِخْتِيَارِ ؛ فَفِيْهِ خِلَافُ الْبَصْرِيِّيْنَ ؛ فَإِنَّهُمْ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الثَّانِيْ إِعْتِبَارًا لِلْقُرْبِ وَالْجَوَارِ وَالْكُوْفِيِّيْنَ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ ؛ مُرَاعَاةً لِلتَّقْدِيْمِ وَالْاِسْتِحْقَاقِ

او دا په روایت کې دی او هر چې اختیار دی : نو په دې کې اختلاف د بصریانو دی : ځکه چې دوی مختاره کړی عمل کول د فعل ثاني په اعتبار د نزدېوالي او همسایتوب سره او کوفیان مختاره کړی دی عمل کول د فعل اول : ځکه چې مراعات راسي د مخکې کېدلو او استحقاق (یعني : طلب د حق کول)

زنځیري ترکیب : هذا مبتدا، في الجواز ظرف مستقر متعلق په ثابت پوري چې دا بیا خبر دی د مبتدا، أما حرف تفصیل، الإختیار مبتدا متضمن دی معنا د شرط لره، فاء جزائیه، فیه خبر مقدم، خلاف البصریین مبتدا موخره، مبتدا سره له خبره جمله اسمیه . خبر قائم مقام د جزاء، إنّ حرف له حروف مشبه بالفعل څخه، هُم اسم د أنّ، یختارون إعمال الفعل الثاني خبر، اعتبارا مفعول له، للقرب والجوار متعلق په اعتبارا پورې، الکوفیین مبتدا، یختارون إعمال الفعل الأول خبر، مراعاة مفعول له، للتقدیم والاستحقاق ظرف لغوه متعلق په مراعات مصدر پوري .

تشريح: د هذا په مشار إليه کي د فراء اختلاف دی، يعني اختلاف د فراء د جمهورو سره په جواز او عدم جواز کي دی؛ نو اوس د جمهور و نحاتو ترمينځ هم اختلاف په اولويت کي بيانوي او هر چي په جواز کي دی؛ نو دوی اتفاق کړی دی په څلورو اقسامو د تنازع کي چي (إعمال الفعل الأول) لره هم جايز وايي او (إعمال الفعل الثاني) لره هم جايز وايي.

بصريان عمل فعل ثاني لره اولی وايي په اعتبار د دليلينو سره؛ لومړی دليل يې دا دئ: چي فعل ثاني اسم ظاهر ته قريب دی او قرب د اسبابو له ترجيح څخه دی. دويم دليل يې دا دئ: که چيري فعل اول لره عمل ورکول سي او اسم ظاهر د ده معمول سي؛ نو د عامل او د معمول تر مينځ به فصل لازم سي چي دا نامناسب دی او کوفيان عمل فعل اول لره اولی وايي په اعتبار د دليلينو سره؛ لومړی دليل يې دا دئ:

چي فعل اول مقدم دی په ثاني باندي او مقدم زيات مستحق وي؛ ځکه فعل اول په طلب کي مقدم دی په فعل ثاني باندي. دويم دليل يې دا دئ: که فعل ثاني ته عمل ورکول سي؛ نو لازم به سي (إضمار قبل الذكر) او دا نامناسب دی، لکه څرنګه چي اوس يې مصنف صاحب په راتلونکي متن سره تفصيل کوي:

فَإِنْ أَعْمَلْتَ الثَّانِيْ؛ فَانْظُرْ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الْأَوَّلُ يَقْتَضِيْ الْفَاعِلَ؛ أَضْمَرْتَهُ فِي الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ، وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمَنِيْ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ الزَّيْدُوْنَ)، وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا، وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ)

که دي عملي کړی دويم: نو ته وګوره دې ته چي فعل اول تقاضا د فاعل کوي: نو مضمر به يې کړې په اول کي لکه څرنګه چي ته يې وايې په دوو موافقو کي: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ، وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمَنِيْ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ الزَّيْدُوْنَ) او په دوو مخالفو کي (يې داسي وايې): (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا، وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ)

تشريح: مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ مذهب د بصريانو مقدم کړی په مذهب د کوفيانو باندي؛ ځکه د مصنف په نيز مذهب د بصريانو راجح دی؛ نو له دې وجي يې په اجمال او تفصيل کي مقدم کړی.

او په متن مذکور کي قسم اول د تنازع دی چي فعل اول او فعل ثاني دواړه د اسم ظاهر د فاعليت تقاضا کوي، لکه مصنف صاحب متوافقين ورته ويلي دي؛ نو په دې صورت کي عمل کول د اول فعل او عمل کول د دويم فعل دواړو جايز دی، مګر د بصريانو په نيز مختاره عمل کول د دويم فعل اولی دی چي اسم ظاهر د فعل ثاني فاعل دی او هر چي فعل اول دی؛ نو د هغې لپاره به فاعل ضمير راجع وي چي دغه اسم ظاهر ته حذف روا نه دی؛ ځکه حذف د فاعل عمده به راسي او ذکر يې روا نه دی؛ ځکه تکرار به راسي؛ نو د ضرورت له وجي به په اول فعل کي ضمير کرځي.

(۱۵۷) پوښتنه: (إضمار قبل الذكر) په راسي او دا ناجايز دی؟

جواب: (إضمار قبل الذكر في العُمدة بشرط التفسير) جايز دی.

د (متوافقين) او (متخالفين) **مثالونه**: د متوافقينو مثال په اسم ظاهر مفرد کي لکه: (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ)، مثال د اسم ظاهر تثنيه لکه: (ضَرَبَانِي وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ) او د اسم ظاهر جمع مثال لکه: (ضَرَبُونِي وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدُونَ).

او د متخالفينو مثال په اسم ظاهر مفرد کي لکه: (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا)، د اسم ظاهر تثنيه مثال پکي لکه: (ضَرَبَانِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ) او د اسم ظاهر جمع مثال پکي لکه: (ضَرَبُونِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ).

وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ الْأَوَّلُ يَقْتَضِي الْمَفْعُوْلَ وَلَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانُ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ؛ حَذَفْتَ الْمَفْعُوْلَ مِنَ الْفِعْلِ كَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ). وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ).

وَإِنْ كَانَ الْفِعْلَانُ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ؛ يَجِبُ إِظْهَارُ الْمَفْعُوْلِ لِلْفِعْلِ الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ: (حَسِبَنِي مُنْطَلِقًا، وَحَسِبْتُ مُنْطَلِقًا)؛ إِذْ لَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ، وَإِضْمَارُ الْمَفْعُوْلِ قَبْلَ الذِّكْرِ، هٰذَا هُوَ مَذْهَبُ الْبَصْرِيِّيْنَ

او که چيري فعل اول تقاضا د مفعول کوله او دوه فعلين له افعال قلوب څخه نه وو: نو مفعول به حذف کړي له فعل څخه لکه څرنګه چي ته يې په متوافقينو کي وايې: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ) او په متخالفينو کي (داسي) وايې: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ).

او که دوه فعلين له افعال قلوب څخه وه: نو واجب دی (إظهار) د مفعول وفعل اول لره لکه څرنګه چي ته يې وايې: (حَسِبَنِي مُنْطَلِقًا، وَحَسِبْتُ مُنْطَلِقًا): ځکه چي نه دئ روا حذفېدل د مفعول له افعال قلوب څخه او (إضمار) د مفعول مخکي تر ذکر، همدا مذهب د بصريانو دی

څه تشريح: که چيري فعل اول تقاضا د مفعول کوله او فعلين له افعال قلوب څخه نه وو؛ نو د دې هم دوه صورتونه دي. ۱- (المتوافقين).

۲- او (المتخالفين)؛ په متوافقينو کی دواړه تقاضا د مفعول کوي او په متخالفينو کي اول فعل تقاضا د مفعول کوي او ثاني تقاضي د فاعل کوي: نو د دې طريقه د قطعي دا ده: چي عمل به فعل ثاني لره ورکول سي او له فعل اول څخه به مفعول حذف سي او ذکر کېدای به نه سي

او که ذکر سي ؛ نو تکرار به لازم سي او (إضمار) هم نه سي کېداى ؛ ځکه (إضمار قبل الذّکر) به لازم سي په فضله کي او دا منع دى ؛ نو له دې وجې حذف متعين سو اه !.

د بصريانو او کوفيانو په نېز د متوافقينو او متخالفينو مثالونه : د اسم ظاهر مفرد مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا)، د اسم ظاهر تثنيه يې مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ) او د اسم ظاهر جمع مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ).

همدا ډول د بصريانو په نېز په متخالفينو کي د اسم ظاهر مفرد مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ)، د اسم ظاهر تثنيه يې مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ) او د اسم ظاهر جمع مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ).

او د کوفيانو په نېز په متوافقينو کي د اسم ظاهر مفرد مثال لکه : (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ)، د اسم ظاهر تثنيه يې مثال لکه : (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمَانِي الزَّيْدَانِ) او د اسم ظاهر جمع مثال لکه : (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمُوْنِي الزَّيْدُوْنَ).

او همدا ډول د کوفيانو په نېز په متخالفينو کي د اسم ظاهر مفرد مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي زَيْدًا)، د اسم ظاهر تثنيه يې مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَانِي الزَّيْدَيْنِ) او د اسم ظاهر جمع مثال لکه : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمُوْنِي الزَّيْدِيْنَ).

وَأَمَّا إِنْ أَعْمَلْتَ الْفِعْلَ الْأَوَّلَ عَلَى مَذْهَبِ الْكُوفِيِّيْنَ ؛ فَانْظُرْ ! إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِيْ يَقْتَضِيْ الْفَاعِلَ ؛ أَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِيْ الْفِعْلِ الثَّانِيْ كَمَا تَقُوْلُ فِيْ الْمُتَوَافِقَيْنِ : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ. وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدُوْنَ) . وَفِيْ الْمُتَخَالِفَيْنِ : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدًا. وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدِيْنَ)

او هرچي ته عمل ورکړې وفعل اول ته پر مذهب د کوفيانو ؛ نو ته وګوره ! چي وي دويم تقاضا کوي د فاعل ؛ نو ضمير وګرځوه فاعل په فعل ثاني کي لکه څرنګه چي ته يې په متوافقينو کي (داسي) وايې : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ، وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدُوْنَ) او په متخالفينو کي يې (داسي) وايې : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدًا، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدِيْنَ)

څه تشريح : که چيري د کوفيانو د مذهب مطابق عمل وفعل اول ته ورکول سي ؛ نو فعل ثاني به خالي نه وي، يا به تقاضا د فاعل کوي او يا به تقاضا د مفعول کوي، که يې د فاعل تقاضا کوله ؛ نو (إضمار) د فاعل به په فعل ثاني کي راسي، برابره خبره ده چي فعل اول د فاعل تقاضا کوي او که د مفعول تقاضا کوي ؛ ځکه چي تکرار به لازم سي او حذف کيږي به نه او حذف د عمده راځي، له دې وجې ضمير د فاعل به راوړل سي اه !.

(۱۵۸) پوښتنه : دلته ؛ څو (إضمار قبل الذکر) لازم سو ؟

جواب : (إضمار قبل الذكر) لفظا راغلى دى او رتبتا نه دئ راغلى او دا جايز دى او (إضمار قبل الذكر) لفظا او رتبتا دواړه يوځاى راتلل ناجايز دي.

وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِيْ يَقْتَضِيْ الْمَفْعُوْلَ وَلَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ ؛ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ: حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ وَالْإِضْمَارِ. وَالثَّانِيْ هُوَ الْمُخْتَارُ ؛ لِيَكُوْنَ الْمَلْفُوْظُ مُطَابِقًا لِلْمُرَادِ.

أَمَّا الْحَذْفُ فَكَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا. وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ) . وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدٌ. وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ. وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ) .

وَأَمَّا الْإِضْمَارُ فَكَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ : (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدًا. وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدِيْنَ) . وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ : (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ. وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَهُمَا الزَّيْدَانِ. وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدُوْنَ) .

وَأَمَّا إِذَا كَانَ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ ؛ فَلَا بُدَّ مِنْ إِظْهَارِ الْمَفْعُوْلِ كَمَا تَقُوْلُ : (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا). وَذٰلِكَ ؛ لِأَنَّ حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا تَنَازَعَا فِيْ مُنْطَلِقًا. وَأَعْمَلْتَ الْأَوَّلَ وَهُوَ حَسِبَنِيْ. وَأَظْهَرْتَ الْمَفْعُوْلَ فِي الثَّانِيْ. فَإِنْ حَذَفْتَ مُنْطَلِقَيْنِ وَقُلْتَ : (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) يَلْزَمُ الْاِقْتِصَارُ عَلٰى أَحَدِ الْمَفْعُوْلَيْنِ فِيْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ. وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ .

وَإِنْ أَضْمَرْتَ ؛ فَلَا يَخْلُوْ مِنْ أَنْ تُضْمِرَ مُفْرَدًا. وَتَقُوْلُ : (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا). وَحِيْنَئِذٍ لَا يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الثَّانِيْ مُطَابِقًا لِلْمَفْعُوْلِ الْأَوَّلِ. وَهُوَ "هُمَا" فِيْ قَوْلِكَ : "حَسِبْتُهُمَا". وَلَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ أَوْ أَنْ تُضْمِرَ مُثَنًّى. وَتَقُوْلُ : (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا). وَحِيْنَئِذٍ يَلْزَمُ عَوْدُ الضَّمِيْرِ الْمُثَنّٰى إِلَى اللَّفْظِ الْمُفْرَدِ وَهُوَ مُنْطَلِقًا الَّذِيْ وَقَعَ فِيْهِ التَّنَازُعُ وَهٰذَا أَيْضًا لَا يَجُوْزُ.

وَإِذَا لَمْ يَجُزِ الْحَذْفُ وَالْإِضْمَارُ كَمَا عَرَفْتَ ؛ وَجَبَ الْإِظْهَارُ

او که دوهم فعل ثاني چې تقاضا يې کوله د مفعول او نه وه دوه فعلونه له افعال قلوب څخه؛ نو روا دی په دې کې دوې وجې: حذف د مفعول او (إضمار) او دويم دا دی چې هغه او که په لياره چې سي ملفوظ ورته د مراد.

مختاره دی: د دې لياره چې هر چې حذف دی لکه څرنګه چې ته يې وايې په متوافقينو کې: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ). او په متخالفينو کې يې (داسې) وايې: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدٌ، وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ، وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ).

او هر چې (إضمار) دی لکه څرنګه چې ته يې په متوافقينو کې وايې: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدًا، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ، وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدِيْنَ) او په متخالفينو کې يې (داسې) وايې: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ، وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ، وَضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدُوْنَ).

او هر چې کله وي دوه فعلونه له افعال قلوب څخه؛ نو چاره نسته له ښکاره کولو څخه د مفعول لکه څرنګه چې ته يې (داسې) وايې: (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) او دا؛ ځکه چې (حَسِبَنِيْ) او (حَسِبْتُهُمَا) تنازع کړې ده په (مُنْطَلِقًا) کې او تا عمل ورکړی اول ته او هغه (حَسِبَنِيْ) دی او ښکاره کړی دې دی مفعول په دويم کې. که دې حذف کړی (مُنْطَلِقَيْنِ) او تا وويل: (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا)؛ نو لازميږي (إقتصار) پر يو د مفعولينو په افعال قلوب کې او دا ناجايز دی.

او که ضمير کړې: نو نه خالي کيږي له دې څخه چې ته به يې ضمير ګرځوې مفرد او ته به يې وايې: (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) او دغه وخت نه کيږي مفعول ثاني ورته د مفعول اول او هغه "هُمَا" ستا په (دې) وينا کې دی "حَسِبْتُهُمَا" او نه دی روا دا او نه دا چې ته ضمير وګرځوې تثنيه او ته (داسې) ووايې: (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) او دغه وخت لازميږي ګرځېدل د ضمير تثنيه ولفظ مفرد ته او هغه (مُنْطَلِقًا) دی کوم چې واقع سوی دی په هغه کې تنازع او دا هم نه دی روا او کله چې نه وي روا حذف او (إضمار) لکه څرنګه چې تا وپېژندل؛ نو واجب دی (إظهار)

د اسم ظاهر مفرد، تثنيه او جمع د متوفقينو او متخالفينو مثالونه: د متوافقينو په صورت د حذف مفعول د فعل ثاني کې مثال ؛ چې اسم ظاهر مفرد وي داسې دی: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا)، د ثنيه يې مثال يې داسې دی: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ) او د جمع مثال يې داسې دی؛ (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ).

او په متخالفينو کې د اسم ظاهر مفرد مثال يې داسې دی: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدٌ)، د تثنيه مثال يې لکه: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ) او د جمع مثال يې لکه: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ).

او په متوافقينو کې د اسم ظاهر مفرد مثال چې کله په صورت د (إضمار) کې راسي داسې دی: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدًا)، د تثنيه مثال يې لکه: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَيْنَ) او د جمع مثال يې لکه: (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدِيْنَ).

او په متخالفينو کې د اسم ظاهر مفرد مثال چې کله په صورت د (إضمار) کې راسي داسې دی: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ)، د تثنيه مثال يې لکه: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ) او د جمع مثال يې لکه: (ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُهُمْ الزَّيْدُوْنَ).

د (تنازع الفعلان) **لپاره يو مختصر تمرين**: ۱- ﴿... قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا﴾ [الكهف ۹۶]. ۲- ﴿... فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ﴾ [الحاقة ۱۹] ۳- (زَيْدٌ مُعطٍ، ومكرٌ مُعمرًا). ۴- (أَنَا ناصِر وضَارِبٌ زَيدًا).

مَفْعُولُ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ، وَهُوَ كُلُّ مَفْعُولٍ حُذِفَ فَاعِلُهُ، وَأُقِيمَ هُوَ مَقَامَهُ، نَحْوُ: (ضُرِبَ زَيْدٌ)

مفعول د هغه چي نه وي نومول سوی فاعل د ده او دا هر هغه مفعول دی چي حذف سوی وي فاعل د ده او درېدلی وي هغه پر ځای د ده، لکه: (ضُرِبَ زَيْدٌ)

يادونه: د دې ترکيب واضح دی اه!.

د (مفعول ما لم يُسَمّ فاعله) **بحث**: دويم ډول د مرفوعاتو (مفعول ما لم يُسم فاعله) دی او د دې بحث خلاصه (غورچاڼ) به په پوښتونو او جوابونو کي حل سي.

(۱۵۹) پوښتنه: دا يې له فاعل سره ولې متصل ذکر کړی او په نورو مرفوعاتو يې مخکي کړی؟

جواب: ده ته شدت اتصال له فاعل سره دی؛ ځکه په وخت د عدم ذکر د فاعل کي (مفعول ما لم يُسَمّ فاعله) قائم وي په ځای د فاعل باندي.

(۱۶۰) پوښتنه: په تعريف کي راوړل د (كُل) صيغه نه ده پکار؛ ځکه (كُل) راځي لپاره د احاطې د ټولو افرادو د شي؛ نو دلالت په افراد و کوي.

او تعريف د شي؛ خود جنس او د حقيقت لپاره کيږي او تعريف؛ خو په جنس او حقيقت کيږي، نه په افرادو سره؛ ځکه افراد غير متناهي وي؛ نو دا مجهول وي او تعريف په مجهول سره باطل دی؟

جواب: په تعريف کي (كُل) له تعريف څخه خارج دی او تعريف د (مفعول ما لم يُسَمّ فاعله) مدخول د (كُل) نه دی چي هغه (مفعول حُذِف فاعله إلخ) دی.

(۱۶۱) پوښتنه: هر کله چي (كُل) په تعريف کي داخل نه دی؛ نو بيا ولې ذکر سوی دئ؟

جواب: (كُل) يې ذکر کړی دی؛ د دې لپاره چي صدق د تعريف وسي په ټولو افرادو د معرف باندي.

(۱۶۲) پوښتنه: د مصنف صاحب په عبارت کي تناقض دی په داسي توګه چي له (مفعول ما لم يُسَمّ فاعله) څخه معلوميږي چي فاعل د ده په بالکل نه وي او له (حُذف فاعله) څخه دا معلوميږي چي فاعل د ده مسمی دی، مګر محذوف دئ؟

جواب: (لم يُسمّى) په خپله معنی سره نه دی چي دا اعتراض وارد سي، بلکي په معنا د لم يذکر سره دی او له عدم ذکر څخه معلوميږي معدوميت د فاعل اه!.

(۱۶۳) پوښتنه: دا عبارت چي (حُذف فاعله) دی؛ دا هم صحيح نه دی؛ ځکه چي حذف تقاضا د مخکي ذکر کوي؛ ځکه حذف (إسقاط الشيء بعد الوجود) ته وايي.

او په دې صورت کي له اول څخه فاعل نه دئ موجود چي نسبت ورته د حذف وسي؟

جواب: مراد له حذف څخه معنا مذكوره نه ده، بلكې معنا د حذف دلته (ترك) ده چې فاعل پرېښوول سوى دى او دې اعتراض او جواب ته ناكت اشاره كړې ده.

(۱۶۴) پوښتنه: حذف د فاعل ممنوع دى : ځكه چې عمده دى ؟

جواب: حذف د فاعل په هغه ځاى كې ممنوع دى چې قائم مقام د ده نه وي او دلته مفعول قائم مقام د فاعل دى.

(۱۶۵) پوښتنه: مفعول به څنګه قائم مقام د فاعل سي : ځكه له فاعل څخه فعل صادرېږي او په مفعول باندې واقع كېږي، په دې وجه فاعل عمده او مفعول فضله په خبرو كې دى ؛ نو فضله به څنګه قائم مقام د عمده سيْ ؟

جواب: دلته مفعول قائم مقام د فاعل ګرځي په اسناد د فعل كې ومفعول ته ؛ نو پس زده كړه دا خبره چې په ځينې ځايو كې فاعل حذف كېږي او مفعول پر ځاى د فاعل درېږي :

۱- له وجې د عدم علم په فاعل باندې، مثال يې لكه : (سُرِق المتاع) .

۲- له وجې د خساست د فاعل، لكه : (شُتِم الخليفة) .

۳- له وجې د تعظيم د فاعل، لكه : (قُطِع اللصّ) .

۴- له وجې د اختيار د غرض او مقصود د متكلم، لكه : (قُتِل عدُوّك) .

۵- له وجې د اختصار په كلام كې، لكه : (أُقِيمَت الصّلاة) .

۶- له وجې د شهرت، لكه : ﴿قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ﴾ [الذاريات: ۱۰] .

قاعده (ځينې مفاعيل په ځاى د فاعل واقع كېږي) : كوم مفاعيل چې په ځاى د فاعل واقع كېږي، لكه : ۱- مفعول به . ۲- مفعول فيه (زمانا ومكانا) . ۳- مفعول مطلق . ۴- او جار مجرور چې دې ته مفعول به (غير صريحي) هم وايي .

تشريح: هر كله چې يو د دې يادو مفاعيلو په ځاى د فاعل باندې واقع سيْ ؛ نو اولى دا ده چې مفعول به قائم سي په ځاى د فاعل باندې او نه دا نور ؛ ځكه د مفعول به زيات مناسبت دى له فاعل سره ؛ ځكه تصور د فعل چې څنګه موقوف وي په فاعل پورې ؛ نو دغه ډول تصور د فعل په مفعول به پورې هم موقوف وي - دا هغه وخت چې كله فعل متعدي وي .

او كله چې په تركيب كې مفعول به نه وي او دا نور مفاعيل وي ؛ نو بيا هر يو په ځاى د فاعل قائم كېداى سي ؛ ځكه چې د يوه مرجع پر ها بل نسته .

د اول مفعول مثال لكه : (ضُرِبَ زَيْدٌ) ؛ نو دلته مفعول به قائم قام د فاعل دى .

د دويم مثال چې (مفعول فيه زماني) دى، لكه : (يوم الجمعة) او د (مفعول فيه مكاني) مثال لكه : (أمام الأمير) .

د دريم مثال چې (مفعول مطلق) دى، لكه : (شديدا) .

او د څلورم مثال چې (جار مجرور) دی، لکه : في داره .

او کله چې دا مفاعيل ټوله سره جمع سي ؛ نو داسې ويل کيږي : (ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِي دَارِهِ) .

او ... سه ؛ په دې چې مفعول اول او ثاني د باب د (أعطيت) دواړه په ځای د فاعل واقع کيږي، مګر اولی پکې مفعول اول دی، مثال يې لکه (أعطيت زيدا درهما) .

او څلور مفاعيل په ځای د فاعل نه واقع کيږي : ۱- مفعول ثاني په باب د (علمت) کې، لکه : (عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا) . ۲- مفعول ثالث په باب د (أعلمت) کې، لکه : (أعلَمْت زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا) . ۳- مفعول معه . ۴- او مفعول له (بدون اللام) .

او وجه يې دا دئ : چې مفعول ثاني د باب (علمت) ؛ دا مسند دی مفعول اول ته او مفعول ثالث د (أعلمت) ؛ هم مسند دی مفعول ثاني ته چې اول او ثاني ورته مسند إليه دی او که چيرې دا په ځای د فاعل قائم سي ؛ نو مسند إليه به سي او دا باطل دي .

ځکه دا دواړه صفات متضاده دي چې يو شی مسند او مسند إليه په يو وخت کې نه واقع کيږي په خلاف د مفعول اول د باب (علمت) او مفعول ثاني د باب (أعلمت) چې دوی واقع کيږي په ځای د فاعل باندې اه ! .

دليل : مفعول معه ؛ ځکه په ځای د فاعل نه واقع کيږي چې مفعول معه وروسته تر واو واقع وي چې يا به په ځای د فاعل بېله د واوه واقع کيږي ؛ نو بيا نه معلوميږي چې مفعول معه دی او که چيرې سره د واوه واقع سي ؛ نو لازم به سي فصل په مينځ د فعل او نائب فاعل کې په واو سره او دا فصل باطل دی ؛ ځکه فاعل (کالجزء من الفعل) وي .

بل دليل : مفعول له ؛ ځکه په ځای د فاعل نه واقع کيږي ؛ ځکه د مفعول له نصب مشعر دی په علت توب د ده باندې لپاره د فعل سابق او هر کله چې په ځای د فاعل واقع سي ؛ نو نصب به په رفع باندې بدل سي او فوت به سي (إشعار) پوهېدل په علت توب باندې او دا باطل دی . مګر که مفعول له سره له لامه وو ؛ نو بيا واقع کيږي په ځای د فاعل باندې، لکه : (ضربتُ زيدًا للتأديب) ؛ ځکه دلته مشعر لام دی په علت توب باندې ؛ نو په قيام سره دا (إشعار) نه فوتيږي اه ! .

وَحُكْمُهُ : فِيْ تَوْحِيْدِ فِعْلِهِ وَتَثْنِيَتِهِ وَجَمْعِهِ وَتَذْكِيْرِهِ وَتَأْنِيْثِهِ عَلَى قِيَاسِ مَا عَرَفْتَ فِي الْفَاعِلِ !

او حکم يې دا دئ : په يواځې والي د فعل کې د ده او تثنيه والي کې د ده او جمع والي کې د ده او مذکر والي او مؤنث والي کې د ده پر قياس د هغه چې تا وپيژندله په فاعل کې .

يادونه : مصنف رحمة الله عليه قياس داحکامو د (مفعول ما لم يُسمّ فاعله) په احکامو د فاعل باندې کړی دی په اسناد د فعل کې إلخ .

په اعتبار د **مذکر والي او مؤنث والي باندې د فعل او نائب فاعل مثالونه** : دا مثالونه په درې ډوله دي، لکه : ۱- مفرد، ۲- تثنيه، ۳- او جمع .

۱- د مفرد مذکر مثال لکه : (ضُرِبَ زَيْدٌ) او مفرد مؤنث بيا په خپل مينځ کې په دوه ډوله دی : حقيقي او غير حقيقي او حقيقي بيا په خپل مينځ کي په دوه ډوله دی :

چي يو بيله فصله دی. لکه : (نصرت عَائشة) او (ضربت الهندان) او بل سره له فصله دی چي په دې کي تا لره اختيار دی، که يې (ضرب اليوم عائشة) وايې او که يې (ضربت اليوم عائشة) وايې !.

او مفرد مؤنث غير حقيقي بيا په خپل مينځ کي په دوه ډوله دی : چي يو مسند وظاهر ته دی او په دې کي هم تا لره اختيار دی، که يې (طلع الشمس) وايې او که يې (طلعت الشمس) وايې او بل مسند ومضمر ته دی، لکه : (الشَّمس طلعت) .

۲- د مفرد تثنيه مذکر مثال لکه : (ضرب الزّيدان) او د تثنيه مؤنث مثال لکه : (ضربت الهندان) .

۳- او دريم نائب فاعل جمع ده چي دا هم په خپل مينځ کي مذکر او مؤنث راځي او جمع مذکر بيا په خپل مينځ کي پر دوه ډوله ده. يو جمع مذکر سالمه عاقله ده، لکه : (ضرب المسلمُون) او بل جمع مکسره غير عاقله ده، لکه : (ضربت الجمال)، يا لکه : (ضربت النوق).

او جمع مؤنث بيا په خپل مينځ کي پر دوه ډوله ده، چي يو جمع مؤنث سالمه ده او بله جمع مؤنث مکسره ده : د جمع مؤنث سالمه مثال لکه : (ضربت مسلمات) او د جمع مؤنث مکسره مثال لکه : (رُئِي نِسوة) او يا لکه : (رئيت نسوة) .

د نائب فاعل لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ ...﴾ [النساء: ۸۶] . ۲- ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ ...﴾ [البقرة: ۱۱] . ۳- ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ ...﴾ [البقرة: ۱۸۷] . ۴- ﴿فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ...﴾ [المؤمنون: ۱۰۱] . ۵- ﴿...وَغِيضَ ٱلْمَآءُ ...﴾ [هود: ۴۴] . ۶- ﴿... وَقُضِيَ ٱلْأَمْرُ ...﴾ [البقرة: ۲۱۰] . ۷- ﴿... يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ...﴾ [البقرة: ۸۵] .

فَصْلٌ : المبْتَدَأُ وَالخَبَرُ هُمَا اسْمَانِ مُجَرَّدانِ عَنِ العَوامِلِ اللَّفْظِيَّةِ. أَحَدُهُمَا : مُسْنَدٌ إِلَيْهِ وَيُسَمَّى المبتَدأُ. وَالثَّانِي مَسْنَدٌ بِهِ. وَيُسَمَّى الخَبَرَ. نَحْوُ : (زَيْدٌ قَائِمٌ)

فصل دی : مبتدا او خبر دواړه اسمونه دي چي خالي به وي له عواملو لفظيه وو څخه چي يو د دوی به : مسند إليه وي او دا مبتدا بلل کيږي او دويم به مسند به وي او دا خبر بلل کيږي. لکه : (زَيْدٌ قَائِمٌ)

يادونه : ترکيب يې واضح دی .

د مبتدا او خبر بحث : هر کله چي مصنف رحمه الله عليه فارغ سو د دويم ډول له مرفوعاتو څخه چي (مفعول ما لم يُسَمّ فاعله) دی : نو شروع يې وکړه په قسم ثالث او رابع باندي چي مبتدا او خبر دی .

(۱۶۶) پوښتنه : مصنف صاحب مبتدا او خبر دواړه په يو ډول کي ولې ذکر کړل سره له دې چي دا دواړه ډولونه سره جلا دي ؟

جواب : د مبتدا او خبر په مينځ کې تلازم دی په داسې توګه چې په يو ترکيب کې (أحدهما) ذکر وي ؛ نو آخر به ورسره هم ذکر وي او يا کوم ځای کې چې (أحدهما) حذف وي ؛ نو هغه به خلاف د اصل نه وي او بل دا چې په نيز د بصريانو دواړه په عامل معنوي کې سره شريک دي.

(۱۶۷) پوښتنه : مبتدا ولې په خبر باندې مقدمه سوه ؟

جواب : مبتدا ذات او خبر وصف وي او ذات مقدم (مخکې) وي په وصف باندې او خبر سره د بيان د احوالو خبر کېدای سي.

(۱۶۸) پوښتنه : مبتدا به اسم وي او ستا قاعده منقوضه سوه په دې قول د الله تعالى سره چې فعل مبتدا واقع ده، لکه : ﴿... وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ ..﴾ [البقرة: ۱۸۱] ؛ نو په دې کې (أَنْ تصُوموا) مبتدا او (خيرٌ لكُم) خبر دی ؟

جواب : اسم عام دی حقيقي وي او که تاويلي ؛ نو دلته (أن تصُومُوا) اسم تاويلي دی ؛ ځکه (أن) مصدريه ور څخه مصدر جوړ کړی دی چې هغه (صيامكم) دی او بل مثال يې ﴿...وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ ..﴾ [البقرة: ۲۸۰] هم دی.

(۱۶۹) پوښتنه : خبر به اسم وي، که فعل ؟

جواب : په دې کې د نحاتو اختلاف دی : اول مذهب د ابن حاجب رحمة الله عليه او عثمان چشتي رحمة الله عليهما دی چې د (هداية النّحو) ليکوال دی.

او بل مذهب د محققينو دی ؛ نو په مذهب د ابن حاجب او چشتي رحمة الله عليهما باندې خبر به لازما اسم وي او چيرې چې جمله واقع وي ؛ نو هلته به تاويل د اسم کېدلای سي او په مذهب د محققينو باندې خبر اسم هم واقع کيږي او جمله هم واقع کيږي بېله دې چې تاويل په اسم سره وسي.

وَالْعَامِلُ فِيهِمَا مَعْنَوِيٌّ وَهُوَ الإِبْتِدَاءُ

او عامل په دې دواړو کې (چې مبتدا او خبر دی) معنوي دی او هغه ابتدا ده

د (عامل الخبر والمبتدأ) **د اختلاف حل :** پوه سه ! په دې چې په (عامل الخبر والمبتدأ) کې اختلاف دی او په دې مسئله کې درې مذاهب دي :

۱ - بصريان وايي : په مبتدا او خبر کې عامل معنوي دی چې هغه ابتدا ده او هغه عبارت دی د مبتدا او خبر خالي والی له عواملو لفظيو څخه ؛ نو مصنف او ابن حاجب رحمة الله عليهما دا مذهب غوره کړی دی.

۲ - دويم مذهب د امام سيبويه رحمة الله عليه دی ؛ دی نوموړی وايي : چې په مبتدا کې عامل معنوي دی او په خبر کې عامل لفظي دی په داسې توګه چې په مبتدا کې عمل د رفع ابتدا کړی دی او په خبر کې عامل مبتدا ده او مبتدا امر لفظي دی.

۳- او دريم مذهب د امام فراء او امام کسائي رحمهما الله دی ؛ د دوی په نيز په مبتدا او خبر دواړو کې عامل لفظي دی په داسي توګه چي مبتدا (عامل في الخبر) دی او خبر (عامل في المبتدأ) دی، مګر په دې دريم مذهب باندي اعتراض واردېږي چي بناء په دې باندي به لازم سي دور او تقدم د شی په خپل نفس باندي .

نو هر چي دور دی ؛ ځکه چي مبتدا اړه ده خبر ته په عمل کې او خبر اړ دی مبتدا ته په عمل کې ؛ نو هر يو موقوف دی په عمل کې تر آخره پوري او دا نه دی مګر دور .

او هر چي تقدم دی او دا ځکه چي هر کله مبتدا عامل سي په خبر کې ؛ نو مبتدا به مقدمه وي په خبر باندي ؛ ځکه عامل مقدم وي په معمول باندي او دارنګه خبر به هم داسي وي او هر کله چي خبر مقدم سو په مبتدا باندي ؛ نو له دې ځخه لازمېږي تقديم د خبر په خپل نفس باندي په دوه مرتبو سره چي په اوله مرتبه کې تقديم د خبر په خپل نفس باندي دی او په دويمه مرتبه کې تقدم د ده په هغه شي باندي دی چي معمول د ده وي چي هغه مبتدا ده او تقدم د شی په خپل نفس باندي محال دی .

نو جواب د دې اعتراض دا دئ : چي دور نه لازمېږي او دا ځکه چي دور او تقدم د شی په خپل نفس نه راځي او جهت د تقدم او جهت د توقف په مبتدا او خبر کې سره جلا جلا دی په داسي توګه چي مبتدا عامله ده په خبر کې ؛ نو دا په دې جهت باندي چي دا منسوب إليه ده او تقدم د مبتدا هم له دې جهت ځخه نه دی ؛ ځکه منسوب إليه مقدم وي په منسوب باندي او خبر چي د دې مبتدا معمول او موخر دی ؛ نو په دې جهت چي منسوب او فرعه د مبتدا ده او دا خبر چي عامل دی په مبتدا کې ؛ نو له دې وجې چي مقصود وي په کلام کې او مبتدا ؛ خو وسيله او ذريعه وي خبر ته او په دې جهت مقدم وي په مبتدا باندي ؛ نو ځکه بيا دور نه لازمېږي .

ځکه چي جهت جلا جلا دی او تقدم د شی په خپل نفس نه راځي ؛ ځکه جهت د تقدم د خبر په خپل نفس باندي جلا دی او جهت د تاخر (وروسته والي) د خبر د خپل نفس جلا دی اه ! .

(۱۷۰) پوښتنه : خالي والی تقاضا د سبق وجود کوي او له دې ځخه دا معلومېږي چي په مبتدا او خبر کې به يو ځل عامل لفظي موجود سوی وي او وروسته به بيا تجرد او خالي والی سوی وي له عواملو ځخه او حال دا دئ چي له اول ځخه په مبتدا او خبر کې عوامل لفظيه نه دي موجود ؟

جواب : دلته د تجرد خپله معنا نه ده مراد، بلکې مراد له دې ځخه خلوه ده، يعني : مبتدا او خبر دوه اسمين دي چي خالي به وي له عواملو لفظيو ځخه .

(۱۷۱) پوښتنه : ستا تعريف منقوض دی په دې قول چي (بحسبك دِرهم) دی ؛ نو (حسب) مبتدا ده او (دِرهم) ورلره خبر دی او حال دا دئ چي (حسب) مجرد (خالي) نه دی له عامل لفظي ځخه ؛ ځکه چي باء پري داخله ده ؟

جواب : مراد له عامل لفظي ځخه هغه دی چي (مؤثر في المعنی) وي او دلته باء زائده ده .

(۱۷۲) پوښتنه : ستا تعريف منقوض دی په دې قول چې (علمت ما زيد قائم) ؛ نو دلته په مبتدا کې عامل موثر په معنی کې دی او ابتدائيت صحيح دی ؟

جواب : مراد زموږ د اثر له عامل څخه په اعتبار د معنا سره دا دئ چې له دې عامل سره به بل معارض موجود نه وي او په (علمت ما زيد قائم) کې له (علمت) سره بل معارض موجود دی چې هغه (علمت) لره منع کوي له نصب ورکولو څخه ومبتدا او خبرته چې هغه (ما) نافيه ده .

(۱۷۳) پوښتنه : (العوامل) جمع او موصوف دی او (اللّفظية) ورلره صفت دی او د موصوف او صفت په مينځ کې مطابقت ضروري وي په وحدت او جمعيت او تثنيه توب کې او دلته مطابقت نشته ؟

جواب : دلته جمع په تاويل د جماعت سره ده چې تاويلي مفرد يې مطابق راغلی دی .

(۱۷۴) پوښتنه : (العوامل) جمع د عامل ده ؛ نو په دې تعريف کې اسم د کان او اسم د (أن) داخل سو ؟

جواب : په العوامل کې الف لام جنسي دی چې په دې سره جمعيت د جمعي باطليږي او مراد ځنې معنی جنسي وي، يعني مبتدا هغه اسم دی چې خالي وي له جنس عامل لفظي څخه، لکه : (زيدٌ قائمٌ) ؛ نو (زيد) مبتدا، مسند إليه، محکوم عليه، مخبر عنه او موضوع ده او (قائم) خبر، مسند، محکوم به، مخبر به او محمول دی اه ! .

فايده (ځيني امور مبتدا واقع کيږي) : په عامه توګه مبتدا مفرده وي او ځيني څو امور مبتدا واقع کيږي :

۱- اسم جامد، مثال يې لکه : ﴿وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ﴾ [يس: ۳۸] .

۲- اسم مشتقي، لکه : ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ ۞ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ﴾ [الرحمن: ۱-۲] .

۳- ضمير، لکه : ﴿... هُوَ خَيۡرٞۚ ...﴾ [البقرة: ۶۱] .

۴- علَم، لکه : ﴿مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ ...﴾ [الفتح: ۲۹] .

۵- اسم اشاره، لکه : ﴿ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲] .

۶- مرکب اضافي، لکه : ﴿... ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ ...﴾ [القصص: ۸۰] .

۷- مرکب توصيفي، لکه : ﴿... وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ ...﴾ [البقرة: ۲۲۱] .

۸- جمع په تاويل د مصدر سره، لکه : ﴿... وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ...﴾ [البقرة: ۱۸۴] .

۹- فعل مؤل په مصدر سره، لکه : (تسمع بالمُعيد خير من أن تراه ! * ستعرف قدره إن فتح فاه) .

۱۰- مرکب تعدادي، لکه : (اثنا عشر عدد عظيم) .

۱۱- مرکب صوتي، لکه : (سيبويهِ رَجلٌ صالحٌ) .

۱۲- مرکب امتزاجي، لکه: (حضر موت قرية عظيمة).

وَأَصْلُ الْمُبْتَدَأِ أَنْ يَكُوْنَ مَعْرِفَةً، وَأَصْلُ الْخَبَرِ أَنْ يَكُوْنَ نَكِرَةً

او اصل په مبتدا کي دا دئ چي وي معرفه او اصل د خبر دا دئ چي وي نکره

تشريح: اصل په مبتدا کي ترکيب دی؛ ځکه ډېر صحيح له امورو څخه په کلام د عربو کي هغه حکم دی په امور معلومه معينه باندي.

او اصل په خبر کي دا دئ چي نکره به وي، يو له دې وجي چي خبر محکوم به دی او په محکوم به کي د معرفي صلاحيت هم سته او دا صلاحيت پکي هم سته چي نکره وي، مګر نکره اصل ده له معرفي څخه؛ ځکه وضع د الفاظو ثابته ده په تنکير سره او تعريف پکي وروسته حاصليږي په عوارضو سره؛ نو هر کله چي غرض او مقصود په اصل باندي پوره کيږي چي هغه نکره ده؛ نو حاجت ومعرفي ته پاته نه سو.

دويمه خبره دا ده: خبر که معرفه سي؛ نو مبتدا به هم معرفه وي او په دې وجه به لازم سي التباس د خبر له صفت سره په خلاف د نکرې باندي چي په دې کي التباس نه راځي د خبر له صفت سره.

(۱۷۵) پوښتنه: اصل په معنا د وجوب سره وي؛ نو له دې څخه دا معلومه سوه چي تنکير د مبتدا به قطعا جايز نه وي، بلکي باطل به وي؛ نو ستا قاعده منقوضه سوه په دې ترکيب چي (فِي الدَّار رَجُل) او دلته (رَجُل) مبتدا او نکره ده؟

جواب: اصل دلته په معنا د اولى او راجح سره دی او دا توهم مصنف په راوروسته عبارت سره هم دفع کړی دی چي وايي: (والنّكرة إذا تخصصت إلخ)؛ نو حاصل دا سو چي نکره مخصصه هم مبتدا واقع کيږي او دا مسئله وجوبي نه ده چي اصل په مبتدا کي تعريف دی او دارنګه معرفه کله کله خبر هم واقع کيږي، لکه: (زيد المنطلق)، (الله إلهنا)، (آدم أبونا)، (محمّد ﷺ نبينا)، (السّماء فوقنا)، (والأرض تحتنا).

وَالنَّكِرَةُ إِذَا وُصِفَتْ، جَازَ أَنْ تَقَعَ مُبْتَدَأً، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿... وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ ...﴾ [البقرة: ۲۲۱]. وَكَذَا إِذَا تُخَصِّصَتْ بِوَجْهٍ آخَرَ. نَحْوُ: (أَرَجُلٌ فِي الدَّارِ. أَمِ امْرَأَةٌ؟)، (وَمَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْكَ)، (وَشَرٌّ أَهَرَّ ذَا نَابٍ)، (وَفِي الدَّارِ رَجُلٌ)، (وَسَلَامٌ عَلَيْكَ)

او نکره چي کله موصوفه سي: نو روا دی چي واقع سي مبتدا، لکه دا قول د الله تعالى: ﴿... وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ ...﴾ [البقرة: ۲۲۱] او دا رول يا چي کله مخصوص کړل سي په يوې وجي بلې سره، لکه: (أَرَجُلٌ فِي الدَّارِ، أَمِ امْرَأَةٌ؟)، (وَمَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْكَ)، (وَشَرٌّ أَهَرَّ ذَا نَابٍ)، (وَفِي الدَّارِ رَجُلٌ)، (وَسَلَامٌ عَلَيْكَ).

يادونه: د دې ترکيب واضح دی؛ نو مکررولو ته يې اړتيا نسته.

تشريح : په دې عبارت سره هغه مواضع بيانوي چې هغه نکره وي او مبتدا واقع سوې وي، مګر په شرط د تخصيص سره په يوه وجه له وجوهو د تخصيص څخه : ځکه په تخصيص سره نکره ګرځي قريبه ومعرفې ته او حکم د قرب د شي لره حکم د عين شي وي .

د تخصيص وجې: ۱- (تخصيص بالصّفة) : چې مثال يې ﴿... وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ ...﴾ [البقرة: ۲۲۱] دی ؛ نو په دې مثال کې (عبد) نکره ده او تخصيص راغلی دی په صفت سره ؛ ځکه (عبد) مطلق (غُلام) ته وايي مومن وي، که کافر، مګر چې کله توصيف د ده راغی په مومن سره ؛ نو تخصيص پکې پيدا سو، يعني : قلت د شرکاء پکې راغی ؛ نو دا قريبه سوه ومعرفې ته او د ده حکم د عين معرفې دی ؛ نو ابتدائيت د ده صحيح دی .

۲- (تخصيص بعِلم مِن المتکلم) : لکه : (أرجُلٌ في الدّار، أم امرأة ؟) ؛ نو په دې مثال کې (رَجُل) مبتدا او نکره ده او دغه شان (امرأة) ده ؛ خو تخصيص د دوی راغلی دی په علم د متکلم سره په داسي توګه چې متکلم عالم دی په دې خبره باندي چې په (دار) کې (أحدهما) موجود دی چې (رَجل)، يا (امرأة) ده .

(۱۷۶) پوښتنه : مبتدا يو امر لفظي دی او علم د متکلم امر ذهني دی ؛ نو تخصيص به څنګه د امر لفظي په امر معنوي سره راسئ او دويم دا چې دا په نسبت سره متکلم ته نکره مخصصه سوه او مخاطب ته مخصصه نه سوه ؟

جواب : دلته امر ذهني مؤول دی په امر لفظي سره چې تقدير د عبارت دا ډول سو : (مِن الأمرين المعلومين الّذين في الدّار) .

۳- (تخصيص بوقوع النکرة في سياق النفي) : مثال يې لکه : (وما أحد خيرٌ مِنك) ؛ نو په دې مثال کې (أحد) مبتدا او نکره ده چې د دې تخصيص سوی دی په دې باندي چې واقع ده په سياق د نفي کې ؛ نو فايده کړې دی عموم او نکره له دې شانه چې نکره وضع سوې ده لپاره د فرد مبهم او لپاره د فرد منتشر غير معين ؛ نو دلته تخصيص په تعميم سره سوی دی .

(۱۷۷) پوښتنه : په مينځ د تخصيص او تعميم کې منافات دی ؛ نو په تعميم سره څرنګه تخصيص راغلی دیٔ ؟

جواب : د تخصيص لپاره دوې معناوې دي : ۱- (قِلّة الشّرکاء) . ۲- (رفع الابهام) ؛ نو دلته تخصيص په معنا ثاني سره دی او په معنا د رفع د ابهام او د تعميم کې منافات نسته .

۴- (تخصيص بالصّفة المقدرة) : مثال يې لکه : (شرّ أهرّ ذا ناب) ؛ نو په دې مثال کې (شرّ) مبتدا او نکره ده او تخصيص يې راغلی دی په صفت مقدره سره چې هغه مستفاد دی له تنوين څخه ؛ نو دلته تنوين د تعظيم لپاره دی او څنګه چې تنوين د تنکير لپاره راځي ؛ نو داسي د تعظيم لپاره هم راځي، لکه : ﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ ...﴾ [الأنعام: ۹۲] يعني : په (کتابٌ) کې تنوين د تعظيم لپاره دی .
او دلته په (شرّ) کې هم تنوين د تعظيم لپاره دی ؛ نو تقدير د عبارت دا سو : (شرّ عظيم أهرّ ذا ناب) .

او بله وجه : د تخصيص په (شرّ) کې دا ده چې (شرّ) فاعل معنوي دی : ځکه دی بدل دی د ضمير له (أهرّ) څخه چې هغه فاعل معنوي دی، پس دا ترکيب چې (شرّ أهرّ ذاناب) دی ؛ دا په ځای د (ما أهرّ ذا ناب إلّا شرّ) سره دی .

اعتراض: يو معترض اعتراض کوي چي په (ما أهرّ ذا ناب) کي ادوات د حصر او تخصيص موجود دي او په (شرّ أهرّ ذا ناب) کي ادوات د حصر او تخصيص نشته؛ نو دلته تخصيص له کوم ځای څخه حاصل دئ؟

مورږ دا جواب ورکوو!: دلته تقديم د (ما حقّه التأخير) راغلی دی او دا حصر او اختصاص فايده کوي؛ ځکه (شرّ أهرّ ذا ناب) په اصل کي (أهرّ ذا ناب شرّ) وو او (شرّ مؤاخر) مخکي سو؛ نو تخصيص يې پيدا کړی.

بل اعتراض: بل اعتراض دا واردېږي چي (شر) بدل او فاعل معنوي دی؛ نو فاعل ورته فقط ولې نه وايي؟

مورږ دا جواب ورکوو!: چي بيا لازمېږي تقديم د فاعل په فعل باندي او دا ناجايز دی.

(۱۷۸) پوښتنه: تقديم د بدل په مبدل منه باندي هم جايز نه دی او بل نقصان دلته دا هم دی چي تقديم د بدل په عامل مبدل منه راغلی دی؟

جواب: دلته بدل له بدليت څخه قطع سوی دی؛ نو اوس دا بدل او مبدل منه پاته نه سو.

(۱۷۹) پوښتنه: (شرّ) دي فاعل سي او قطع دي سي له فاعليت څخه؟

جواب: بيا به فعل راسي بېله فاعله او هرچي مبدل منه بېله بدله دی؛ نو دا راتلای سي.

پس زده کړه دا خبره چي (اهرار) د سپي کله په عادتي غپا سره وي او کله په بې عادته غپا سره وي، بيا عادتي غپا په دوه ډوله ده: ۱- (نباح بالخير)، يعني: د يو ښېګڼي (خير) لپاره غپا. ۲- او (نباح بالشّر)، يعني: د يوې شکنجي (شر) له امله غپا او بې عادته غپا صرف يو ډول دی چي هغه غپا شر ده.

(۱۸۰) پوښتنه: تخصيص دلته په عادتي غپا کي صحيح دی؛ ځکه هغه په دوه ډوله ده، پس چي يو ډول په دوو ډولونو کي خاص سي؛ نو دا صحيح ده، مګر تخصيص په (بې عادته غپا) کي صحيح نه دی؛ ځکه هلته صرف يو ډول دی؛ نو په يو ډول کي تخصيص څنګه راځئ؟

جواب: دلته تخصيص په بې عادته غپا کي هم صحيح دی؛ ځکه شر په دوه ډوله دی: ۱- (حقير). ۲- (عظيم)؛ نو د شر تخصيص راغلی دی په (شرّ عظيم) کي، نه په (حقير) کي؛ نو عبارت داسي سو: (شرّ عظيم لا حقيرٌ أهرّ ذا ناب).

۵- (تخصيص بتقديم ما حقّه التأخير): مثال يې لکه: (في الدّار رَجل)؛ نو دلته (رَجل) مبتدا او نکره ده او تخصيص راغلی دی په (ما حقّه التأخير) سره چي دا فايده کوي حصر او اختصاص؛ پس هر کله چي (في الدّار) وويل سي؛ نو له دې څخه دا معلومه سوه چي تر دې وروسته به هغه شی ذکر کېږي کوم چي صحيح وي کون د هغه محکوم عليه او صحيح وي استقرار د هغه په (دار) کي، ګويا دا (رجُل) موصوف دی په صحت د حکم په ده باندي په استقرار سره په (دار) کي اه!.

۶- (تخصيص بالنسبة والاسناد إلى المتكلم) : مثال يې لكه : (سلام عليك) ؛ نو دلته سلام مبتدا او نكره ده چې تخصيص راغلی دی په نسبت او اسناد سره متكلم ته او دا تركيب په اصل كې وو : (سلمت سلامًا عليك) او (سلاما) مفعول مطلق دی او تاكيد دی لپاره د (سلمت)، يعني : د (سلاما) اول او د موكد او موكدي يو حكم وي - پس فاعل حذف سو ؛ نو (سلاما عليك) پاته سو، بيا عدول له نصب څخه رفع ته وكړل سو ؛ لپاره د قصد د دوام او استمرار ؛ نو (سلامٌ عليك) سو.

(۱۸۱) پوښتنه : جمله اسميه به وي او دلالت به په دوام اواستمرار نه كوي، لكه : (زيدٌ قائمٌ) ؟

جواب : مطلقه جمله اسميه مراد زمونږ نه ده، بلكې هغه جمله اسميه چې معدوله وي له جملې فعليه يې څخه .

يادونه : مصنف رحمه الله عليه تر دې ځايه بطور نمونه ذكر كړې دي او له دې پرته نور مثالونه او ځايونه هم سته چې نكره مخصصه مبتدا واقع كيږي، لكه :

۷- (تخصيص بالإضافة) : مثال يې لكه : (طالب إحسانٍ واقفٌ) ؛ نو دلته (طالب) مبتدا او نكره ده چې تخصيص يې سوی دی په اضافت سره و (إحسان) ته ؛ نو گرځېدلی دی (طالب) معرفه چې ابتدائيت يې صحيح سوی دی او معنا يې دا ده : چې صرف د احسان طالب دی، نه د بل شي .

۸- (تخصيص بالعمل فيما بعد) : مثال يې لكه : (رغبة في الخيرِ خيرٌ) ؛ نو دلته رغبت متعلق دی او عمل يې كړی دی په (في الخير) كې چې متعلق دی ؛ نو ابتدائيت صحيح دی ؛ ځكه تخصيص پكې راغلی دی په اعتبار د عمل سره .

۹- (تخصيص استعمال النكرة في الدّعاء) : مثال يې لكه : ﴿سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلۡ يَاسِينَ ۝١٣٠﴾ [الصافات: ۱۳۰] ؛ نو دلته (سلام) مبتدا او نكره ده چې تخصيص يې سوی دی په دې چې دا صرف د دعاء لپاره مستعمل دی ؛ نو له دې وجې ابتدائيت يې صحيح دی .

۱۰- (تخصيص بأن تكون النكرة مصغرا) : مثال يې لكه : (رجيل عندي) ؛ نو دلته له (رجيل) څخه مراد عام (رَجل) نه دی، بلكې كوچنی سړی ځني مراد دی ؛ نو د دې تخصيص په وجه باندې ابتدائيت يې صحيح دی .

۱۱- او (تخصيص وقوع النكرة بعد لو لا) : مثال يې لكه : (لو لا اصطبار ؛ لما فاز أحد) ؛ نو دلته (اصطبار) مبتدا ده چې وروسته تر (لو لا) نكر واقع ده او ابتدائيت يې صحيح دی ؛ ځكه د دې معنا دا ده : كه چيرې صبر نه وای ؛ نو هيڅ څوک به كامياب نه وای.

وَإِنْ كَانَ أَحَدُ الْإِسْمَيْنِ مَعْرِفَةً، وَالْآخَرُ نَكِرَةً ؛ فَاجْعَلِ الْمَعْرِفَةَ مُبْتَدَأً، وَالنَّكِرَةَ خَبَرًا أَلْبَتَّةَ كَمَا مَرَّ. وَإِنْ كَانَا مَعْرِفَتَيْنِ ؛ فَاجْعَلْ أَيَّهُمَا شِئْتَ مُبْتَدَأً، وَالْآخَرَ خَبَرًا، نَحْوُ : (اَللّٰهُ إِلٰهُنَا، وَمُحَمَّدٌ نَبِيُّنَا، وَآدَمُ أَبُوْنَا)

او که چیري وو یو د اسمینو معرفه او بل وو نکره : نو وګرځوه معرفه مبتدا او نکره خبر خامخا لکه څرنګه چي تېره سوه. او که وه دواړه معرفه : نو وګرځوه هر یو چي ستا خوښه وي مبتدا او بل خبر، لکه : (اللّٰهُ إِلٰهُنَا، وَمُحَمَّدٌ نَبِيُّنَا، وَآدَمُ أَبُونَا)

تشریح : زدکړه ! دا خبره چي مصنف دلته دوې قاعدې بیانوي : ۱- اوله قاعده دا ده : چي دوه اسمین یو ځای کي راغلل چي یو اسم معرفه وو او بل نکره وو ؛ نو معرفه به مبتدا وي او نکره به خبر وي ؛ ځکه دا جایز نه دی چي نکره مبتدا شي سره له وجود د معرفې او دا قاعده مطلقه ده چي په هر مقام کي جاري کیږي.

۲- دویمه قاعده دا ده : که چیري دوه اسمین راسي او دواړه معرفې وي ؛ نو (أحدهما) به مبتدا او ثاني به خبر ګرځول کیږي، مګر دا قاعده مقیده ده په دریو قیودو سره :

۱- دا یوه معرفه به مفسره نه وي په صیغه د اسم مفعول سره او دویمه معرفه به مفسره نه وي په صیغه د اسم فاعل سره او که داسي نه وي بیا د اختیار نسته، بلکي مفسره معرفه به مبتدا وي او مفسره معرفه به خبر وي.

۲- داسي به نه وي چي یو اسم جامد وي او بل اسم مشتقي وي، بلکي یا به دواړه جامدین وي او یا به دواړه مشتقین وي او که داسي نه وي، بیا دا اختیار نسته، بلکي جامد به مبتدا او مشتقي به خبر وي، لکه مثال د دې قاعدې : (زید المنطلق) ؛ نو زید (معرفة بالعَلَم) جامد مبتدا او (المُنطلق معرفة باللام) مشتقي خبر دی.

۳- دواړه اسمین به متساوین وي په اعتبار د ابتدائیت سره، مګر یو له دوی څخه به اعرف د معارفو نه وي، که چیري یو اعرف وو، مثلاً یو ضمیر وو ؛ نو بیا د ابتدائیت لپاره ضمیر متعین دی ؛ ځکه دا اعرف د معارفو دی، مثال یې لکه : (هُو زیدٌ).

قاعده : که دوه اسمین معرفه وه چي یو اسم مبتدا سو او بل اسم خبر سو ؛ نو که په مبتدا باندي قرینه وه او په خبر باندي قرینه وه ؛ نو تقدیم د مبتدا په خبر واجب نه دی، بلکي مستحسن دی، مثال یې لکه : (بنونا بنو أبنائنا) ؛ نو (بنو) خبر دی او (بنو أبنائنا) مبتدا ده ؛ نو په دې مثال کي تقدیم د خبر او تاخیر د مبتدا هم جایز دی او قرینه ورباندي سته، چي کله (بنو أبنائنا) مبتدا سي او (بنونا) خبر سي ؛ نو معنی صحیح کیږي ؛ ځکه (أبناء الأبناء) نازولي دي چي په منزله د (أبناء) دي.

او که چیري (بنونا) مبتدا سي او (بنو أبنائنا) خبر سي ؛ نو معنا نه صحیح کیږي ؛ ځکه معنا به دا سي چي (أبناء) نازولي دي په منزله د (أبناء الأبناء) او حال دا دئ چي داسي نه ده ؛ ځکه (ابن) ته څوک (ابن الابن) نه وایي او (ابن الابن) ته (ابن) ویل کیږي او له دې قبیلې څخه دا قول هم دی : (أبو حنیفة) او (أبو یوسف) ؛ نو (أبو یوسف) مبتدا او (أبو حنیفة) خبر دی او قرینه دا ده : چي (أبو حنیفة) مشبه به دی او مشبه به خبر وي او (أبو یوسف) مبتدا ده او دا مشبه دی او مشبه په کلام کي مبتدا وي او که چیري قرینه په تقدیم د مبتدا نه وه او په تاخیر د خبر وو ؛ نو بیا تقدیم د مبتدا واجب دی، مثال یې لکه : (اللّٰه إلٰهنا) ؛ نو (اللّٰه) مبتدأ مقدم وجوبا او (إلٰهنا) خبر موخر وجوبا.

وَقَدْ يَكُونُ الْخَبَرُ جُمْلَةً اسْمِيَّةً، نَحْوُ : (زَيْدٌ أَبُوهُ قَائِمٌ)، أَوْ فِعْلِيَّةً، نَحْوُ : (زَيْدٌ قَامَ أَبُوهُ)، أَوْ شَرْطِيَّةً، نَحْوُ : (زَيْدٌ إِنْ جَاءَنِيْ؛ فَأَكْرَمْتُهُ)، أَوْ ظَرفيَّةً، نَحْوُ : (زَيْدٌ خَلْفَكَ وَعَمْرٌو فِيْ الدَّارِ)

او په تحقيق سره خبر كله كرځي جمله اسميه، لكه : (زَيْدٌ أَبُوْهُ قَائِمٌ) او كله كرځي (جمله) فعليه، لكه : (زَيْدٌ قَامَ أَبُوْهُ) او كله كرځي (جمله) شرطيه، لكه : (زَيْدٌ إِنْ جَاءَنِيْ؛ فَأَكْرَمْتُهُ) او كله كرځي (جمله) ظرفيه، لكه : (زَيْدٌ خَلْفَكَ وَعَمْرٌو فِيْ الدَّارِ)

تشريح : خبر مفرد هم واقع كيږي او دا به اصل وي : ځكه اصل په خبر كي (إفراد) دى او كله كله جمع هم واقع كيږي او دا به په ځينو وختونو كي وي او مفرد چي واقع كيږي دا به يا خالص مفرد وي، لكه : (زيدٌ قائِمٌ) سو، يا مركب اضافي لكه : (هذا غلام رَجل) او يا مركب توصيفي وي، لكه : (الإنسان حيوان ناطق) او خبر چي جمله واقع كيږي دا بيا عامه وي او يا به جمله اسميه وي، لكه : (زيد أبوه قائم) ؛ نو زيد مبتدا اوله، أبوه مضاف او مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مبتدا ثاني، قائم خبر، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه، بيا دا جمله خبر د مبتدا اولي لپاره ده او يا به دا جمله فعليه وي، لكه : (زيد قام أبوه) ؛ زيد مبتدا، قام فعل، أبوه مضاف او مضاف إليه فاعل د فعل، فعل سره له فاعله جمله فعليه خبريه چي خبر د مبتدا سوه او يا جمله شرطيه وي، لكه : (زيدٌ إن جاءني ؛ فأكرمته) ؛ زيد مبتدا، إن جاءني او فأكرمته خبر او يا به دا جمله ظرفيه وي چي دا به بيا خالي نه وي يا به ظرف زمان وي او يا به ظرف مكان وي او يا به قائم مقام د ظرف وي، لكه : (زيدٌ خلفك) په اعتبارد متعلق سره چي (ثبت) يا (أستقر) دى او جمله ظرفيه خبر د مبتدا ده .

اوس پوه سه ! په دې چي مصنف رحمه الله عليه ذكر د جمله خبريه يې وكړ او د جمله انشائيه ذكر يې نه وكړ ؛ نو په دې مسئله كي دوه مذهبه دي :

١ - ځيني نحويان وايي : چي جمله انشائيه خبر نه واقع كيږي، بلكي تاويل به په خبر سره ځني كېداى سي .

٢ - ځيني نحويان وايي : چي جمله انشائيه بېله تاويله خبر واقع كيږي، لكه دا قول د الله تعالى سو : ﴿قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ...﴾ [ص: ٦٠] . او (مرحبا) اسم د لا لنفي الجنس دى، بلكي په اعتبار د متعلق سره خبر د لا دى او دا جمله انشائيه ده ؛ ځكه دا دعا ده او دعا د قبيلي له انشاء څخه وي، بل مثال يې : (نِعم الرّجل زيدٌ) دى ؛ نو دا په يو تركيب سره (نِعم الرّجل) خبر مقدم او (زيدٌ) مبتدا موخره ده او (نِعم الرّجل) انشاء ده .

او د مصنف په نېز هم دا مذهب غوره دى چي جمله انشائيه خبر واقع كيږي بېله تاويله، مګر د اول مذهب والا علامه ابن الانباري او ځيني كوفيان په دې كي تاويل كوي : (أي : بل أنتم مقول في حقّكم لا مرحبا بكم) او (مقول في حقّه نِعم الرّجل زيدٌ) .

او په جمله شرطيه كي اختلاف دى په مينځ د مذاهب اربعه وو كي :

١ - لومړى مذهب د مصنف رحمه الله عليه : چي جمله انشائيه عبارت ده له شرط څخه فقط چي دا خبر دى د مبتدا او جزاء لره دخل په خبر كي نسته .

۲- دویم مذهب د ځینو نحاتو دی : چي دا مجموعه شرط او جزاء خبر دی د مبتدا .

۳- دریم مذهب د ځینو نحاتو دی : چي جزاء فقط خبر د مبتدا دی .

۴- او څلورم مذهب د ځینو نورو نحاتو دی، لکه صاحب د (الدّراية) : چي جمله شرطيه قطعا خبر نه واقع کيږي د مبتدا، لکه امر او نهي چي خبر نه واقع کيږي .

(۱۸۲) پوښتنه : تقسيم د جملي اقسام اربعه وو ته صحيح نه دی : ۱- جمله اسميه . ۲- جمله فعليه . ۳- جمله ظرفيه . ۴- او جمله شرطيه ځکه جمله ظرفيه او جمله شرطيه په جمله فعليه کي حقيقتا داخل دي ؟

جواب : اګر چي په جمله فعليه کي دوی داخل دي، مګر د دوی تر مينځ اعتباري تغاير دی او تغاير د جمله شرطيه يې له فعليه يې څخه دا دی : چي په جمله شرطيه باندي حرف شرط داخل وي او چمله فعليه داسي نه ده .

او تغاير د ظرفيه يې له جمله فعليه يې څخه دا دئ : چي دا جوړه وي له ظرف څخه ؛ نو دا ووِلونه ؛ ځکه څلور جوړيږي .

وَالظَّرْفُ مُتَعَلِّقٌ بِجُمْلَةٍ عِنْدَ الأَكْثَرِ، وَهِيَ : (اِسْتَقَرَّ)، مَثَلًا تَقُوْلُ : (زَيْدٌ فِيْ الدَّارِ)، تَقْدِيْرُهُ (زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِيْ الدَّارِ)

او ظرف (چي کله خبر واقع سي ؛ نو د هغه) تعلق وي په جملې سره په نيز د زياترو (نحويانو) او هغه : (اِسْتَقَرَّ) دی، لکه ته چي وايې : (زَيْدٌ فِيْ الدَّرِ) چي تقدير يې داسي کيږي : (زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِيْ الدَّارِ)

تشريح : ظرف هم خبر واقع کيږي، برابره خبره ده چي ظرف زمان وي او که ظرف مکان وي او که جار مجرور وي ؛ نو په دې کي دوه مذهبه دي : ۱- بصريان . ۲- او کوفيان .

په مذهب د بصريانو باندي دا به متعلق وي په فعل پوري او دا مذهب د زياترو نحاتو دی او په مذهب د کوفيانو باندي دا به متعلق وي په اسم پوري او ظرف به په فعل پوري متعلق وي ؛ د دې لپاره درې دليلونه دي : يو دليل نقلي دی . او دوه عقلي دليلونه دي :

(۱) دليل نقلي دا دئ : چي فعل وضع سوی دی لپاره د عمل ؛ نو اصل په عمل کي وګرځېدی .

(۲) دليل عقلي دا دئ : چي فعل ډېر محتاج دی او کوم شی چي ډېر محتاج وي ؛ هغه ډېر موثر وي ؛ نو فعل ډېر موثر سو او اصل سو په عمل کي .

(۳) او دويم دليل عقلي دا دئ : چي په فعل کي نسبت دی او نسبت فاعل غواړي او فاعل محتاج دی علامې ته او علامه د ده عمل د فعل دی .

او کوفيان وايي : چي متعلق د ظرف به اسم وي ؛ ځکه جار او مجرور په اعتبار د متعلق سره واقع دی په مقام د خبر کي او اصل په خبر کي افراد دی او دانه حاصليږي مګر په اسم سره ؛ پس هر کله چي په مذهب د بصريانو متعلق د ظرف فعل سو ؛ نو دا فعل به عموما له فعل عامه څخه وي او افعال عامه څلور دي چي هغه په دې شعر کي ذکر دي :

افعال عموم نزد ارباب عقول کون است، ثبوت است، وجود است حصول

له دې پرته په افعال خاصه پوري کله تعلق راتلای سي په قرينې د مقام سره؛ پس په نيز د بصريانو يا به په (کان) پوري متعلق وي ظرف، يا به په (وجد) پوري، يا به په (ثبت) پوري او يا به په (حصل) پوري متعلق وي.

او د کوفيانو په نيز يا به په (کائن) پوري متعلق وي، يا به په (موجود)، يا به په (ثابت) او يا به په (حاصل) پوري متعلق وي.

وَلَا بُدَّ فِي الْجُمْلَةِ مِنْ ضَمِيْرٍ يَعُوْدُ إِلَى الْمُبْتَدَإِ كَـ (الْهَاءِ) فِيْ مَا مَرَّ

او نسته چاره په جمله کې له يو ضمير څخه چې هغه گرځي ومبتدا ته لکه (الهاءِ) په هغه (مثال) کې چې تېر سو.

تشريح: هر کله چې جمله خبر واقع سي؛ نو په دې جمله کې به عائد وي د ربط لپاره چې راجع به وي مبتدا ته؛ ځکه جمله په خپله مستقله ده او د خبر ربط وي له مبتدا سره؛ نو (هذا) د ربط لپاره به په جمله خبريه کې عائد ضروري وي او دا عائد به ضمير وي او عوائد خلور دي: ۱- ضمير، لکه په ذکر سوو مثالونو کې. ۲- الف او لام، لکه په (نِعم الرّجل زيدٌ) کې الف او لام. ۳- وضع د اسم ظاهر په مقام د ضمير کې، لکه: ﴿ٱلْحَآقَّةُ ۝ مَا ٱلْحَآقَّةُ ۝﴾ [الحقة: ۱-۲]. ۴- او څلورم عائد خبر تفسير مبتدا ده، لکه: ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝﴾ [الاخلاص: ۱]؛ نو دلته مصنف رحمه الله عليه ضمير ووايه؛ ځکه يو اړخ ته ضمير زيات مشهور دی په عوايدو کې او دويم ضمير عمده دی او بل ضمير عائد قوي دی او دلته هم عائد قوي پکار دی؛ ځکه د جملې څه تعلق له مبتدا سره نسته اه!.

وَيَجُوْزُ حَذْفُهُ عِنْدَ وُجُوْدِ قَرِيْنَةٍ، نَحْوُ: (السَّمَنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ، وَالْبُرُّ الْكُرُّ بِسِتِّيْنَ دِرْهَمًا)

او روا دی حذفيدل يې (يعني: د عائد) په وخت کې د پيدا کېدلو د يوې قرينې، لکه: (السَّمَنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ، وَالْبُرُّ الْكُرُّ بِسِتِّيْنَ دِرْهَمًا)

تشريح: په دې عبارت سره جواب دی د سوال مقدره چې ته؛ خو وايې: چې خبر جمله واقع سي؛ نو چاره نسته له يو عائد څخه.

اوس ستا قاعده منقوضه سوه په (البُرّ الكُرّ بستّين درهما) باندي، يا په (السّمن مَنَوان بدرهم) باندي؛ نو دلته جمله خبر واقع دی او عائد پکې نسته؛ نو مصنف جواب ورکړی په دې عبارت سره: (ويجوز حذفه إلخ).

او دلته عائد محذوف دی چې (منه) دی؛ پس تقدير د عبارت داسې سو: (البُرّ الكُرّ منه بستّين درهما) او (السّمن مَنَوان بدرهم)؛ نو دلته قرينه د بائع او د مشتري خبري دي اه!.

وَقَدْ يَتَقَدَّمُ الْخَبَرُ عَلَى الْمُبْتَدَإِ. نَحْوُ: (فِي الدَّارِ زَيْدٌ)

او په تحقيق سره مخکې کيږي خبر پر مبتدا، لکه: (فِي الدَّارِ زَيْدٌ)

تشريح: په (قد) کې اشاره ده تقليل ته چې اصل په خبر کې تاخير دی او کله کله به مقدم کېدای سي، مگر تقديم په دوه ډوله دی: ۱- جايز. ۲- او واجب: جايز به هله وي تقديم د خبر پر مبتدا چې کله مبتدا معرفه وي، لکه: (فِي الدَّارِ زَيْدٌ).

او د تقديم د مبتدا پر خبر چې واجب وي ؛ نو د دې اووه صورتونه دي:

۱- مبتدا به مشتمله وي په داسې اسم باندې چې هغه تقاضا د كلام د صدارت كوي، لكه : (مَن أبوك ؟) .

۲- چې مبتدا او خبر معرفتين وي، مثال يې لكه : (زيد المنطلق) .

۳- چې په تخصيص كې دواړه برابر وي، لكه : (أفضل مِنك أفضل مني) .

۴- چې خبر د مبتدا فعل وي، لكه (زيدٌ قام) .

۵- چې د مبتدا خبر جمله فعليه وي، لكه : (السّيارة تجري) .

۶- چې د مبتدا تخصيص سوى وي په خبر پورې په (إنّما)، يا په (ما) او (لَا) سره، لكه : (إنّما العِلم نُورٌ)، يا لكه: (ما المُسْلِم الأصل) .

۷- چې مبتدا داسې كليمه وي چې راوړل د هغې په اول د كلام كې ضروري وي او هغه شپږ كليمې دي :

۱- (أسماء استفهام وشرط)، لكه : (مَن أبوك ؟)، (مَن يجتهد ؛ يفُز) .

۲- (ما) تعجب، لكه : (ما أحسن زيدٌ !)، (أي : شيء عظيم ؟!)، يا لكه : (ما أجمل السّماء !)، أي : سماء ذات جمال ! .

۳- (كم) خبريه، لكه : (كم مِن رَجل لقيتُهُ) .

۴- (ضمير الشان)، يا (ضمير القِصّة)، لكه : ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ①﴾ [الاخلاص: ۱]، يا لكه : (هي الدّنيا تعطى وتمنع) .

۵- (اللام الابتدائية)، لكه : (لمصر بلد عظيم) .

۶- او (اسم موصول) چې متضمن وي معنا د شرط لره، لكه : (الّذي يجتهد ؛ فله إنعام) .

او تقديم د خبر پر مبتدا چې واجب وي ؛ نو د دې پينځه صورتونه دي : ۱- خبر داسې اسم وي چې تقاضا كوي د صدارت، لكه : (أين زيدٌ ؟) .

۲- چې خبر مصحح وي د مبتدا، لكه : (في الدّار رَجل) .

۳- په مبتدا كې ضمير وي او راجع وي جز د خبر ته، لكه : (على التمرة مثلها زبد) .

۴- چې (أنّ) سره له اسم او خبره مبتدا وي، لكه : (عندي أنّك قائمٌ) .

۵- كله چې خبر په (إنّما) سره، يا په (ما) او (إلّا) سره خاص سوى وي په مبتدا پورې، لكه : (إنّما القائم محمد)، يا لكه : (ما الخطيب إلّا عليّ) .

وَيَجُوزُ لِلْمُبْتَدَأِ الْوَاحِدِ أَخْبَارٌ كَثِيرَةٌ. نَحْوُ: (زَيْدٌ عَالِمٌ فَاضِلٌ عَاقِلٌ)

او روا دي مبتدا واحد لره ډېر خبرونه. لکه: (زَيْدٌ عَالِمٌ فَاضِلٌ عَاقِلٌ)

تشريح: تعدد د خبر په دوه ډوله دی: ۱- (تعدد لفظا ومعنا). ۲- او (تعدد لفظا فقط).

۱- مثال د تعدد لفظي فقط لکه: (هذا حلو حامض)؛ نو دلته تعدد د خبر لفظي دی او معنا نه دی؛ ځکه (حلو حامض) تعبير دی له (هذا أمر) څخه، يعني: دا مرتبه ده په مينځ د حموضت او حلاوت کي چي ځيني پښتانه (خوږه لوړی)، يا (خوږ رکمه) ورته وايي او کله چي خواږه او تروه سره يو ځای سي؛ نو په دې صورت کي بيا په حرف عاطفه سره خبر هم راځي، لکه: (هذا حلوٌ وحامضٌ) او پرېښوول د ذکر د حرف عاطف اولی دي.

۲- او مثال د تعدد لفظي او معنوي لکه: (زيد عالم فاضل عاقل): نو په دې صورت کي هم دواړه جايز دي، يعني: ترک او راوړل د حرف عاطف، مګر راوړل يې اولی دي له پرېښودلو څخه اه!.

(۱۸۳) پوښتنه: مصنف رحمه الله عليه مثال د پرېښولو د حرف عاطف ولې ذکر نه کړی؟

جواب: هغه مثال ظاهر وو او په کوم کي چي حرف عاطف نه وو؛ نو په هغه کي خفاء وه او په دې وجه يې دا شان ذکر وکړ.

او بل دا چي دا مثال يې راوړی دی لپاره د دفع د توهم چي مبتدا کله متعدده وي؛ نو هلته حرف عاطف راوړل واجب دي او چي په کوم ځای کي خبر متعدد وي؛ نو هلته به هم حرف عاطف راوړل واجب وي.

او مصنف صاحب دفع د توهم وکړه؛ نو ځکه يې دا مثال ذکر کړی چي حرف عاطف راوړل او نه راوړل دواړه جايز دي اه!.

او په ذکر کولو کي د حرف عاطفه شان د خبر په شان د مبتدا نه دی.


دليل: د يوې مبتدا لپاره (أخبار كثيرة) جايز دي؛ ځکه دا خبر حکم وي په مبتدا باندي او چي څرنګه يو حکم کول جايز وي؛ هم دغه رنګهورباندي ډېر حکمونه جايز وي په دې شرط باندي چي په مينځ د دې خبرونو کي تضاد نه وي او په اعتبار د معنا سره داسي نه سي ويلای چي: (زيد عالم وجاهل)، يا لکه: (زيد عاقل ومجنون).

د (تعدد الخبر) **دوې نقشې**: پوه سه! په دې چي (تعدد الخبر) دوه حالته لري:

۱- يو حالت يې (تعدد المخبر عنه) او (بدون تعدد المخبر عنه) دی.

۲- او بل حالت يې (متفق الجنس) او (مختلف الجنس) دی.

نو اوس به د دې دواړو حالتونو د وضاحت لپاره په راتلونکو دوو نقشو کي د دې ذکر وسي:


تعدد الخبر
سره له (تعدد المخبر عنه) مبتدا
بيله (تعدد المخبر عنه) مبتدا
لفظي. لكه : (زيدٌ وعمرو) او لكه : (عالمٌ وجاهلٌ)
معنوي. لكه : (هما عالمٌ وجاهلٌ)
جائز
واجب
كله يې معنى بيله تعدده پوره كيږي
كله يې معنى بيله تعدده نه پوره كيږي
يو صورت يې دا دئ چې عطف يې اولى دى. لكه : (زيد عالم)
بل صورت يې دا دئ چې ترك يې جائز دى. لكه : (زيد عالم وشاعر)
يو صورت يې دا دئ چې عطف يې جائز دى. لكه : (الخلو حلو وحامض)
او بل صورت يې دا دئ چې ترك يې اولى دى. لكه : (الخلو حلو حامض)
تعدد الخبر
متفق الجنس
مختلف الجنس
په اسم كي
په فعل كي
تعدد د خبر كوم چي په جنس كي سره متفق وي لومړى په اسم كي راځي چي دا يا په خپل مينځ كي دوه ډوله دى : ۱- په يوه مرتبه كي راځي چي سره له عطفه يې مثال لكه : (زيد أكل وشرب). او بيله عطفه يې مثال لكه : (زيد عالمٌ شاعرٌ).
۲- په ډېرو مرتبو كي راځي چي سره له عطفه يې مثال لكه : ﴿ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ ...﴾ [الحديد: ۲۰]. او بيله عطفه يې مثال لكه : ﴿وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ۝ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ۝ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ۝﴾ [البروج: ۱۴-۱۶].
تعدد د خبر كوم چي په جنس كي سره متفق وي دويم په فعل كي راځي چي دا بيا په خپل مينځ كي دوه ډوله دى : ۱- په يوه مرتبه كي راځي چي سره له عطفه يې مثال لكه : (زيد أكل وشرب). او بيله عطفه يې مثال لكه : (زيد أكل شرب).
۲- په ډېرو مرتبو كي راځي چي سره له عطفه يې مثال لكه : (زيد أكل، وشرب، وكتب). او بيله عطفه يې مثال لكه : (زيد أكل، شرب، كتب).

د مبتدا او خبر ځیني اړیني قاعدې : ۱- قاعده : کله چي په شروع د کلام کي تر معرفي وروسته جمله اسميه، یا فعلیه وي : نو دغه معرفه به مبتدا وي او وروسته جمله به ورلره خبر وي، مثال يې لکه : ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الاخلاص: ۱]. یا لکه : ﴿...وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَآءُ...﴾ [البقرة: ۲۷۲] .

۲- قاعده : که په شروع د کلام کي ضمیر منفصل راغی ؛ نو هغه به مبتدا وي، لکه : (هي اسم وفعل وحرف)، یا لکه : (هو الأول والآخر) .

۳- قاعده : مبتدا به زیاتره جامده وي او خبر به مشتقي وي، لکه : (زيدٌ قائمٌ) .

۴- قاعده : که تر (من) شرطیه وروسته فعل لازمي وي ؛ نو (من) به مبتدا او وروسته به یې خبر وي، لکه : ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا...﴾ [الانعام: ۱۶۰] .

۵- قاعده : تر (لو لا) وروسته، یعني : مدخول د ده به مبتدا وي، لکه : (لو لا علي ؛ لهلك عمر) ؛ نو علي مبتدا او موجود خبر محذوف دی. (أي : لو لا علي موجود ؛ لهلك عمر) .

۶- قاعده : (مخصوص بالمدح) او (مخصوص بالذّم) به په یو ترکیب سره هم مبتدأ واقع کیږي، لکه : (نِعم العبد، أي هو) .

۷- قاعده : تر (کیف) وروسته واقع اسم مبتدا موخر وي او (کیف) به خبر مقدم وي، لکه : ﴿أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكْرَىٰ ..﴾ [الدخان: ۱۳]. (أي : کیف لهم الذکر ؟!) .

۸- قاعده : ضمیر فصل هم کله کله مبتدا واقع کیږي، لکه : ﴿... وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [البقرة: ۵] .

۹- قاعده : مبتدا به همېشه اسم واقع کیږي او خبر کله ظرف او کله فعل واقع کیږي .

۱۰- قاعده : ظرف او جار مجرور مبتدا نه واقع کیږي او که چیري واقع سي ؛ نو حرف جر به زائد وي، لکه : ﴿.. هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ ...﴾ [فاطر: ۳]

۱۱- قاعده : مبتدا که جمله واقع سوې وي ؛ نو مؤول به وي په تاویل د مصدر سره، لکه : ﴿.. سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ...﴾ [البقرة: ۶]، (أي : إنذارك وعدم إنذارك) .

۱۲- قاعده : اسم اشاره هم عائد واقع کیږي، لکه : ﴿... وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ...﴾ [الأعراف: ۲۶] .

۱۳- قاعده : که ضمیر شان مبتدا واقع سوه ؛ نو تقدیم به د ده واجب وي ؛ ځکه چي صدارت دده فوت نه سي .

۱۴- قاعده : که مبتدا تر (أما) وروسته واقع سوه ؛ نو په خبر باندي به د فاء دخول واجب وي، لکه : ﴿وَأَمَّا ٱلْقَٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾ [الجن: ۱۵] .

د مبتداء حذفېدو ځايونه : په عربي ژبه کې ځيني ځايونه داسي دي چې مبتدا پکې حذفيږي او هغه لکه په راتلونکې قاعده کې چې بيان سوي دي :

۱۵- قاعده : (۱) په مقوله د (قال) کې مبتدا محذوفه وي، لکه : ﴿... أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ [الأنعام: ۲۵] .

(۲) تر فاء جزائيه وروسته حذف د مبتدا هم جايز دی، لکه : ﴿... كُن فَيَكُونُ﴾ [البقرة: ۱۱۷] .

(۳) اسم صفت چې په اول د کلام کې راسي او وروسته يې اسم ذات نه وي ؛ نو مبتدا به حذف وي، لکه : ﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ...﴾ [البقرة: ۱۱۷]، (أي : هو بديع السموات والأرضين)، يا لکه : ﴿صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ﴾ [البقرة: ۱۸]، (أي : هو صم بكم عمي) .

(۴) د استفهام په جواب کې مبتدا حذف وي، لکه : ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ۝ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ﴾ [الهمزة: ۵-۶]، (أي : هي نار الله) .

(۵) هغه مصدر چې قائم مقام د فعل وي ؛ نو هغه به خبر وي او مبتدا به حذف وي، لکه : (صبرٌ جميلٌ)، أي : صبري صبرٌ جميلٌ .

(۶) خبر چې کله دلالت په قسم کوي ؛ نو هلته به مبتدا حذف وي، لکه : (في زمتي لأفعلن كذا)، أي : في ذمتي عهدٌ .

(۷) په تفصيل د اجمال کې مبتدا حذف وي، لکه : (هي ثلاثة أقسام : اسم وفعل وحرف)، أي : أحدها اسم، وثانيها فعل، وثالثها حرف .

د خبرد حذفېدو ځايونه : په عربي ژبه کې ځيني ځايونه داسي نور سته چې هلته خبر حذفيږي او هغه لکه په راتلونکې قاعده کې چې بيان سوي دي :

۱۶- قاعده : (۱) کله چې ظرف او جار مجرور تر مبتدا وروسته راسي ؛ نو هلته به خبر محذوف وي، لکه : (زيدٌ في الدّار)، أي : ثابت في الدّار .

(۲) تر (لو لا) او (لو ما) وروسته خبر محذوف وي، لکه : (لو لا علي ؛ لهلك عمر)، أي : لو لا علي موجود ؛ لهلك عمر .

(۳) په جواب د قسم کې خبر محذوف وي، لکه : (لعمرك لأفعلن كذا)، أي : لعمرك قسمي .

(۴) تر (لا لنفي الجنس) وروسته خبر زياتره حذف وي، لکه : (لا بأس)، أي : لا بأس عليك !

۱۷- قاعده : (نواسخ المبتدأ) : د دې درې ډولون دي : ۱- افعال، لکه : افعال ناقصه او افعال مقاربه . ۲- اسماء، لکه : مشتقات له افعال ناقصه وو څخه . ۳- حروف، لکه : (حروف مشبه بالفعل، ما و لا، لا لنفي الجنس) او داسي نور .

۱۸- قاعده : عموما خبر مفرد وي او دا ډول امور مذکوره خبر واقع کيږي چي کله مفرد وي، لکه : ۱- اسم جامد چي مثال يې (هذا غلامٌ) دی. ۲- اسم مشتقي، لکه : ﴿... ٱللَّهُ خَـٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ ..﴾ [الرعد: ۱۶] ۳- اسم ظرف، لکه : ﴿... إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ..﴾ [التوبة: ۴۰] ۴- جار مجرور، لکه : (الحمد لله) . ۵- عَلَم، لکه : (هُو الله) . ۶- اسم موصول، لکه : ﴿... أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ ..﴾ [البقرة: ۱۷۷] ۷- مرکب اضافي، لکه : (محمّد رسول الله) . ۹- مرکب توصيفي، لکه : (هو قرآن مجيد) . ۱۰- مرکب صوتي، لکه : (سيّد النّحويين سيبويه) . ۱۱- مرکب تعدادي، لکه : (طُلاب المدرسة خمسة عشر) . ۱۲- مرکب امتزاجي، لکه : (قريتنا بعلبك) .

۱۹- قاعده : کله چي مبتدا متضمن سي معني د شرط لره ؛ نو د دې په خبر باندي فاء جزائيه داخليږي او د دې لپاره څو شرايط دي چي دا فاء کله جايز وي، کله واجب وي او کله ممتنع وي او جزاء د شرط زياتره ځايونه جمله واقع کيږي او نور تفصيل په راتلونکي ډول سره دی :

پوه سه ! په دې چي جمله جزائيه پر دوه ډوله ده : (۱) جمله خبريه . (۲) او جمله انشائيه : نو اول چي جمله خبريه ده - دا په درې ډوله ده : ۱- اسميه ؛ چي داخول د فاء پکي واجب وي، لکه : ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ...﴾ [الأنعام: ۱۶۰] . ۲- ماضيه ؛ چي يو ډول سره له (قد) راځي او (فاء) داخلولورباندي روا نه وي، لکه: (إن أكرمتني ؛ أكرمتك) او بل ډول بېله (قد) راځي او (فاء) داخلول ورباندي واجب وي، لکه : (إن يسرق ؛ فقد سرق أخ له مِن قبل) . ۳- فعليه ؛ چي دا بيا په خپل مينځ کي په دوه ډوله ده: اول مضارع منفي ده چي يو پکي سره له (لا) او بېله (لا) راوړل دواړه روا دي، لکه : (إن تشتهي لا أضربك)، يا (فأضربك) او بل پکي سره له (لن) راوړل روا دي چي په هغه کي د (فاء) داخلول واجب دي، لکه : ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَـٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۸۵] .

او دويم مضارع مثبت ده ؛ چي د دې دوه مثالونه دي، لکه : (إن تضربني ؛ أضربك)، يا (فأضربك) ؛ نو دواړه يې روا دي، يعني : که (إن) ورباندي داخل سي او که يا .

دا د جمله خبريه ډولونه سول او جمله انشائيه بيا په خپل مينځ کي دوه ډوله ده، لکه : ۱- امر . ۲- او نهي .

۱- جمله انشائيه امر دا ده : چي داخلول د (فاء) په امر باندي واجب وي، لکه : ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى ...﴾ [آل عمران: ۳۱]

۲- او جمله انشائيه نهي دا ده : چي داخلول د (فاء) په نهي باندي واجب وي، لکه : ﴿...فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ...﴾ [الممتحنة: ۱۰] .

واعْلَمْ ! أَنَّ لَهُمْ قِسْمٌ آخَرَ مِنَ المُبْتَدَأ، لَيْسَ مُسْنَدٌ إِلَيهِ وَهُوَ صِفَةٌ وَقَعَتْ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ، نَحْوُ : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ) .

أَوْ بَعْدَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ، نَحْوُ : (أَقَائِمٌ زَيْدٌ ؟) بِشَرْطِ أَنْ تَرْفَعَ تِلْكَ الصِّفَةِ اسْمًا ظَاهِرًا. نَحْوُ : (مَا قَائِمٌ الزَّيْدَانِ، وَأَقَائِمٌ الزَّيْدَانِ ؟) بِخِلَافِ (مَا قَائِمَانِ الزَّيْدَانِ)

او پوهه سه : په دې چې د دوی (نحاتو) لپاره يو ډول دی له مبتدا څخه چې مسند إليه به نه وي او دا يو صفت دی چې واقع وي وروسته تر حرف د نفي پې، لکه : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ).

او يا واقع وي وروسته تر حرف د استفهام، لکه : (أَقَائِمٌ زَيْدٌ ؟) په شرط د دې مرفوع کوي دغه صفت اسم ظاهر، لکه : (مَا قَائِمٌ الزَّيْدَانِ) او (أَقَائِمٌ الزَّيْدَانِ ؟) په خلاف د (مَا قَائِمَانِ الزَّيْدَانِ)

يادونه : د دې عبارت ترکيب ډېر واضح دی، په دې وجه مکررولو ته يې اړتيا نشته اه !.

تشريح : هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله عليه له اول ډول څخه د مبتدا ؛ نو شروع يې وکړه په دويم ډول د مبتدا کې او داسې يې وويل : (واعلم ! أنّ لهم إلخ).

او د دې ډول مبتدا لپاره يو څو شرايط دي : ۱- اسم صفتي به وي . ۲- رافع به وي اسم ظاهر لره . ۳- واقع به وي تر حرف نفي او حرف استفهام وروسته . ۴- او مسندبه وي، نه مسندإليه .

(۱۸۴) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په دې ترکيب د مثال باندې : (أقريشيّ زيدٌ ؟) چې دا د قسم ثاني له مبتدا څخه دی سره له دې چې اسم صفتي نه دی ؟

جواب : په اسم صفتي کې تعميم دی حقيقي وي، لکه په امثله مذکوره کې چې سو او که حکمي تاويلي وي، لکه دلته (أقريشيّ) حکمي تاويلي دی ؛ ځکه د دې تاويل په منسوب سره سوی دی، لکه قاعده مشهوره چې ده اه !.

(۱۸۵) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه ده په ﴿.. أَرَاغِبٌ أَنتَ ...﴾ [مريم: ٤٦] باندې او دلته رافع اسم ظاهر لره نه دی ؛ ځکه تر (أَرَاغِبٌ) وروسته (أَنتَ) واقع دی ؟

جواب : مراد له اسم ظاهر څخه دا دئ چې ضمير مستتر به نه وي او ضمير بارز پکې داخل دی ؛ ځکه ضمير بارز حکماً اسم ظاهر دی، لکه : (ما قائم الزّيدان) او (أقائم الزّيدان) ؛ نو په ترکيب کې (ما) حرف نفي، (أقائم) اسم صفتي مبتدا مسندبه، (الزّيدان) فاعل قائم مقام د خبر او دغه ډول دويم مثال هم دی .

(۱۸۶) پوښتنه : (قائم) دې خبر مقدم سي او (الزّيدان) دې له اول ډول مبتدا موخره څخه سي ؟

جواب : په دې ترکيب سره مطابقت د ضمير او د مرجع نه راځي ؛ ځکه ضمير د مفرد به تثنيه ته راجع وي او دا ممتنع دی .

فايده : هر کله چې صيغه د صفت تر حرف نفي او استفهام وروسته واقع سي ؛ نو په دې کې درې صورتونه دي :

۱- چي تر صفت وروسته به له اسم ظاهر سره مطابق نه وي . ۲- اسم ظاهر به تثنيه او يا جمع وي او صفت به مفرد وي، لکه : (ما قائم الزّيدان)، يا (ما قائم الزّيدون) ؛ نو په دې صورت کي مبتدا مسندبه او اسم ظاهر فاعل سدمسد د خبر دی .

۲- صفت هم مفرد او اسم ظاهر هم مفرد وي، لکه : (أقائم زيد ؟)، يا (ما قائم زيد) ؛ نو په دې صورت کي دوه ترکيبه جايز دي : ۱- اسم صفتي مبتدا مسند به او اسم ظاهر فاعل سد مسد خبر دی . ۲- (أقائم) خبر مقدم دی او (زيد) مبتدا موخره ده .

۳- او دريم صورت دا دئ : چي اول صفت او اسم ظاهر په تثنيه او جمع کي دواړه سره مطابق وي، لکه : (أقائمان الزّيدان ؟)، يا (ما قائمون الزّيدون) ؛ نو په دې صورت کي يو ترکيب جايز دی : (أقائمان)، يا (ما قائمون) خبر مقدم دی او (الزّيدان)، يا (الزّيدون) مبتدا موخره ده .

د مبتدا او خبر لپاره يو مختصر تمرين : ۱- (الحَمْدُ لله) . ۲- ﴿ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ ...﴾ [النساء: ۳۴] . ۳- ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲] . ۴- ﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ...﴾ [الأحزاب: ۲۱] . ۵- ﴿... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ...﴾ [الحشر: ۷] . ۶- ﴿قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ﴾ [الحجر: ۷۱] . ۷- ﴿وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾ [البروج: ۱۴-۱۶] .

خَبَرُ إِنَّ وَأَخَوَاتِهَا. وَهِيَ : (أَنَّ. وَكَأَنَّ. ولَكِنَّ. وَلَيْتَ. ولَعَلَّ) ؛ فَهٰذِهِ الحُرُوفُ تَدْخُلُ عَلَى المُبْتَدَأ وَالخَبَرِ ؛ فَتَنْصِبُ المُبْتَدَأَ. وَيُسَمَّى اِسْمَ إِنَّ. وَتَرْفَعُ الْخَبَرَ وَيُسَمَّى خَبَرَ إِنَّ

خبر د (إنّ) او د هغه اخوات او هغه دا دي : (أَنَّ، وَكَأَنَّ، وَلَكِنَّ، وَلَيْتَ) او (لَعَلَّ) : نو دا حروف داخليږي پر مبتدا او خبر : نو نصب ورکوي مبتدا ته او دا بلل کيږي اسم د (إنَّ) او مرفوع کوي خبر او بلل کيږي خبر د (إنَّ)

د خبر د (إنّ) او د هغې د اخواتو بحث : هر کله چي مصنف رحمه الله عليه فارغ سو له بيان څخه د مبتدا او خبر ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د قسم خاص د مرفوعاتو باندي چي خبر د (حروف مشبه بالفعل) دی او عمل د (حروف مشبه بالفعل) دا دئ چي اسم لره نصب ورکوي او خبر لره رفع ورکوي .

او (حروف مشبه بالفعل) مشابهت له فعل سره په څلورو شيانو کي لري :

۱- (صيغة)، لکه : (أنَّ) په شان د (فرَّ) . ۲- (صورة)، لکه : په ثلاثيت او رباعيت کي (إنّ، أنّ، کأنّ، ليت) او (لکنّ) ثلاثي دي او (لعلّ) رباعي دی . ۳- د (إنّ) او (أنّ) معنی د (حققتُ) ده او (کأنّ) په معنی (تشبهت) . ۴- عملا فعل متعدي فاعل لره رفع او مفعول به لره نصب ورکوي، مګر فرق دا دئ چي عمل د فعل اصلي دي او عمل د دې حروفو فرعي دی .

او فعل مخکې اسم ته رفع ورکوي اودويم اسم ته نصب ورکوي او دا حروف (بعكس الفعل) دي او په خبر د دې حروفو کې اختلاف دی چې په اعتبار د اثر سره يې دوه مذهبه دي : ۱- بصريان. ۲- او کوفيان.

بصريان وايي : دا حروف په اسم او خبر دواړو کې عمل کوي ؛ ځکه دا له عربو څخه داغسې اورېدل سوي دي.

او کوفيان وايي : چې دا حروف صرف په مبتدا کې عمل کوي چې نصب ورکوي او خبر مخکې تر دخول د دوی مرفوع وو ؛ نو پس تر دخول د دوی به هم مرفوع وي په هغه عامل سابقه باندي چې معنوي دی، مګر متون ټول په مذهب د بصريانو باندي بناء دي او دلته هم مصنف صاحب مذهب د بصريانو مختاره کړی دی اه !.

؛ فَخَبَرُ إِنَّ هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُولِهَا، نَحْوُ : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

:نو خبر د (إِنَّ) هغه مسند دی وروسته تر دخول د دوی، لکه : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

(۱۸۷) پوښتنه : په تعريف کې دخول ذکر دی او مضاف دی ضمير د حروف ته ؛ نو بنا په دې چې (إنّ زيدًا قائم) څني خارج سو : ځکه په دې کې تمام (حروف مشبه بالفعل) ؛ خو داخل نه دي او بله دا چې ټول (حروف مشبه بالفعل) به څنګه په يو معمول کې داخل سي ؟

جواب : دلته عبارت په حذف د مضاف سره دی چې (أحد) دی، يعني : (بعد أحد دخولها) اه !.

(۱۸۸) پوښتنه : دلته لفظ د (أخوات) راوړل مناسب نه دي ؛ ځکه دا لفظ په (ذوي العقول) کې کارول کيږي او (حروف مشبه بالفعل) ؛ خو له (ذوي العقول) څخه نه دي ؟

جواب : دلته (أخوات) په معنا د (أمثال) او (أشباه) وو باندي دي.

او پوه سه ! په دې چې دا قيد په تعريف کې چې (هو المسند) دی دا په منزله د جنس دی چې معرف او نامعرف ټولو لره شامل دی، يعني : خبر د مبتدا او خبر د (كان) او خبر د (لا لنفي الجنس) لره هم شامل دی او (بعد دخولها) : دا په منزله د فصل دی چې په دې سره ټول خارج سول.

وَحُكْمُهُ : فِي كَوْنِهِ مُفْرَدًا. أَوْ جُمْلَةً. أَوْ مَعْرِفَةً. أَوْ نَكِرَةً كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَأِ

او حکم يې دا دئ : چې په حال د کېدو د ده کې به مفرد وي، يا به جمله وي. يا به معرفه وي او يا به نکره وي لکه حکم د خبر مبتدا

زنځيري ترکيب : حكمه مبتدا، في جار، كون فعل ناقص مضاف. هُ مضاف إليه اسم د كون. مفردا معطوف عليه، وجملة أو معرفه أو نكرة معطوفات. معطوف عليه سره له معطوفاتو خبر د كون سو چې دا بيا مجرور د جار سو. جار سره له مجروره متعلق په حكمه مبتدا پوري. كحكم خبر المبتدأ ظرف مستقر متعلق په ثابت مقدر پوري چې دا خبر د مبتدا سو.

وَلَا يَجُوزُ تَقْدِيمُ أَخْبَارِهَا عَلَى أَسْمَائِهَا

او نه دي روا مخکي کېدل د خبرونو يې ايعني: د (حروف مشبه بالفعل) خبرونه] پر اسماؤ د دې

زنځيري ترکيب: لا نافيه، يجوز فعل، تقديم مضاف، أخبارها مضاف إليه، على أسمائها ظرف لغوه متعلق په تقديم پوري، مضاف سره له مضاف إليه او متعلقه فاعل د يجوز سو.

تشريح: دا عبارت جواب دی له سوال مقدره څخه او سوال داسي وارديږي چي خبر د (إنّ) په ټولو احوالو کي په شان د خبر د مبتدا دی ؛ نو په مبتدا باندي تقديم د خبر جايز دی.

او د ده خبر به هم داسي وي چې د ده خبر به په اسم باندي مقدم کيږي او حال دا دئ چي دا جايز نه دی ؛ نو په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى د دې سوال جواب وکړی چي (ولا يجوز).

دليل: دا حروف په عمل کي ضعيف دي او عمل په معمول مرتب باندي کيږي، نه په غير مرتب باندي چي کله په ترتيب کي دوی بدل سول ؛ نو د ضعف له وجي بيا عمل نه کوي.

او بله وجه دا ده چي د دوی عمل فرعي دی چي تقديم د منصوب دي په مرفوع باندي وسي او په صورت د تقديم کي به عمل اصل سي او دا نه دی، بلکي د دوی د عمل باطلول دي اه !.

إِلَّا إِذَا كَانَ ظَرْفًا، نَحْوُ: (إِنَّ فِي الدَّارِ زَيْدًا) ؛ لِمَجَالِ التَّوَسُّعِ فِي الظُّرُوفِ

مګر نه دا چي کله ظرف وي، لکه: (إِنَّ فِي الدَّرِ زَيْدًا) ؛ لپاره د فراخي په ظرفونو کي

تشريح: ظرف په کلام کي په کثرت سره راځي، له دې وجي دوی ظروف په شان د محارمو ګڼي، بيا تقديم د خبر واجب به هله وي چي اسم د (حروف مشبه بالفعل) به نکره وي او خبر به ظرف وي، لکه: (إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا، وَإِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةً)⁽¹⁾.

او جايز به هله وي چي اسم د دوی معرفه وي او خبر ظرف وي، لکه: ﴿إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ﴾ [الغاشية: ٢٥]. يا لکه: (إِنَّ فِي الدَّارِ زَيْدًا).

د خبر د (إنّ) او د هغې د اخواتو لپاره تمرين: ۱- ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ﴾ [النازعات: ٢٦]. ۲- ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ ...﴾ [الحج: ٦٢]. ۳- ﴿يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ﴾ [الأنفال: ٦]. ۴- ﴿... لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا﴾ [الطلاق: ١]. ۵- ﴿... ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ أَنْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ ...﴾ [الأعراف: ٤٣].

⁽¹⁾ دا په حديث شريف کي راغلي دي : د دې اوله ټوټه (إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا) امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په خپل (صحيح البخاري)، کتاب النكاح، باب : الخطبة، کي روايت کړي ده. حديث شمېره (۵۱۴۶).

او دويمه ټوټه يې (إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةً) امام بيهقي رَحِمَهُ اللهُ په (السُّنن الصغير)، کتاب الشهادات، باب : مَن تجوز شهادته...، کي روايت کړي ده. حديث شمېره (۳۳۶۹).

(۶..ونِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ﴾ [البقرة: ۱۷] . ۷- ﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ...﴾ [الجن: ۱] . ۸- ﴿قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ﴾ [يس: ۲۶] . ۹- ﴿وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ ...﴾ [هود: ۳۶] . ۱۰- ﴿أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ﴾ [البقرة: ۱۲] .

اِسْمُ كَانَ وَأَخَوَاتِهَا، وَهِيَ : صَارَ، وَأَصْبَحَ، وَأَمْسَى، وَأَضْحَى، وَظَلَّ، وَبَاتَ، وَرَاحَ، وَآضَ، وَعَادَ، وَغَدَا، وَمَازَالَ، وَمَا بَرِحَ، وَمَا فَتِئَ، وَمَا انْفَكَّ، وَمَا دَامَ، وَلَيْسَ .

فَهٰذِهِ الْأَفْعَالُ تَدْخُلُ أَيْضًا عَلَى الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ، فَتَرْفَعُ الْمُبْتَدَأَ، وَيُسَمَّى اِسْمَ كَانَ، وَتَنْصِبُ الْخَبَرَ، وَيُسَمَّى خَبَرَ كَانَ

اسم د (كَانَ) اواخوات يې او هغه دا دي : (صَارَ، وَأَصْبَحَ، وَأَمْسَى، وَأَضْحَى، وَظَلَّ، وَبَاتَ، وَرَاحَ، وَآضَ، وَعَادَ، وَغَدَا، وَمَا زَالَ، وَمَا بَرِحَ، وَمَا فَتِئَ، وَمَا انْفَكَّ، وَمَا دَامَ) او (لَيْسَ) .

نو دغه افعال هم داخليږي پر مبتدا او خبر چې مرفوع کوي مبتدا او دا اسم د (كَانَ) بلل کيږي او منصوب کوي خبر او دا خبر د (كَانَ) بلل کيږي

يادونه : ترکيب يې واضح دی اه ! .

تشريح : شپږم ډول له مرفوعاتو څخه اسم د افعال ناقصه وو دی او دا ټول مشهور اولس (۱۷) دي چې دوی ته افعال ناقصه وايي او د دې بحث به که د الله تعالی خوښه وه په بحث د فعل کې راسي او دا ډول د دې معناوي به هم هلته راسي .

او د افعال ناقصه عمل دا دی : چې اسم لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ورکوي او مدخول د دوی مبتدا او خبر دی چې مبتدا ته يې اسم د دوی وايي او خبر ته يې خبر د دوی وايي .

او له دوی څخه چې کوم الفاظ مشتق راځي ؛ د هغوی حال هم د دوی په ډول دی، لکه : (يكون، أو لم يكن، لا يكون، كائن) او داسې نور او دا ډول مصدر د دوی چې کون دی - د هغه هم دغه حال دی .

فَاسْمُ كَانَ هُوَ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُولِهَا، نَحْوُ : (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

نو اسم د (كَانَ) چې دی هغه مسند إليه دی وروسته تر دخول د دوی، لکه : (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

تشريح : (المسند إليه) په تعريف مذکوره کې په منزله د جنس دی چې شامل دی معرف او غير معرف دواړو لره، لکه : مبتدا او اسم د (ما) او (لا مشبهتين بليس) لره هم شامل دی او (بعد دخولها) ؛ دا په منزله د فصل دی چې په دې سره له معرف پرته نور ټول خارج دي .

(۱۸۹) پوښتنه : له دې تعريف څخه دا معلومه سوه چې تمام افعال ناقصه به په يو اسم باندې داخل سي ؛ نو هله به د دوی اسم ګرځي ؛ نو ستا قاعده منقوضه سوه په (كان زيدا قائما) باندې ؟

جواب: دلته عبارت په حذف د مضاف سره دی، يعني : وروسته د دخول د يو د دوی .

وَيَجُوزُ فِي الكُلِّ تَقْدِيمُ أَخْبَارِهَا عَلَى أَسْمَائِهَا. نَحْوُ : (كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ)، وَعَلَى نَفْسِ الأَفْعَالِ أَيْضًا فِي التِّسْعَةِ الأُوَلِ. نَحْوُ : (قَائِمًا كَانَ زَيْدٌ) . وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ فِي مَا فِي أَوَّلِهِ "مَا" ؛ فَلَا يُقَالُ : (قَائِمًا مَا زَالَ زَيْدٌ) . وفي "لَيْسَ" خِلَافٌ . وَبَاقِي الْكَلَامِ فِي هٰذِهِ الأَفْعَالِ يَجِيئُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِي إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى

او روا دي په ټولو (افعالو) کي مخکې کول د هغو د خبرونو پر اسماؤ د دوی، لکه : (كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ) او پر خپله پر افعالو هم روا دي په نهو لومړيو کي، لکه : (قَائِمًا كَانَ زَيْدٌ) . او نه دئ روا دا په هغه کي چي د هغه په اول کي "مَا" وي : نو داسي نه ويل کيږي : (قَائِمًا مَا زَالَ زَيْدٌ) . او په "لَيْسَ" کي خلاف دی . او پاته خبري به په دې افعالو کي راسي په دويم ډول کي که خوښه وه د الله تعالی

تشريح: مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره دوې مسئلې ذکر کوي : ۱- تقديم د اخبارو په اسماء د افعال ناقصه وو باندي . ۲- او تقديم د اخبارو په نفس افعالو باندي .

او هرچي تقديم د اخبارو دی په نفس اسماؤ باندي په افعال ناقصه کي ؛ نو دا جايز دی ؛ ځکه دا افعال په عمل کي قوي دي چي په معمول مرتب او غير مرتب دواړو کي عمل په کيږي، له دې وجي (كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ) ويل جايز دي، مګر د دې لپاره به شرط دا وي چي التباس نه راځي د خبر له اسم سره .

او هغه صورت به داسي وي چي اسم او خبر د افعال ناقصه اسم مقصور وي او قرينه نه وي، لکه : (مَا كَانَ مُوسَى عِيسَى) ؛ نو په دې کي تقديم د خبر په اسم باندي جايز نه دی ؛ ځکه التباس راځي او هر چي تقديم دی په نفس افعالو باندي د خبر ؛ نو په دې کي تفصيل دی او هغه دا چي افعال ناقصه په دې اعتبار سره په درې ډوله دي :

۱- اول ډول يوولس افعال له دوی څخه داسي دي چي په هغې باندي تقديم د خبر جايز دی چي هغه له (کان) څخه تر (غدا) پوري دي او د دې دليل دا دئ : چي د ده عامل فعل دی او فعل په عمل کي قوي دی چي په مقدم او موخر دواړو کي عمل په کيږي، لکه : (قَائِمًا كَانَ زَيْدٌ) او دا عبارت چي (فِي التِّسعة الأُوَل) ؛ نو دا سهو د قلم د ناسخ ده ؛ ځکه چي نهه (۹) افعال نه دي، بلکي يوولس (۱۱) دي .

۲- دويم ډول هغه افعال دي چي په اول د هغو کي لفظ د (ما) راغلی وي، برابره خبره ده چي (ما) نافيه وي او که (ما) مصدريه وي او د دوی خبر په دې افعالو نه سي مقدم کېدلای او هر چي هغه افعال دي چي په اول کي يې (ما) نافيه وي ؛ نو ځکه چي تقديم د خبر جايز نه دی او (ما) نافيه تقاضا د صدارت د کلام کوي .

او په دې سره به هغه باطل سي او کوم چي په اول کي يې (ما) مصدريه وي، لکه : (ما دام) ؛ نو د ده معمول، يعني : د مصدر په ده نه سي مقدم کېدلای : ځکه چي په عمل کي ضعيف دی .

۳- درييم ډول له افعال ناقصه وو څخه (ليس) دی چي په دې کي د نحاتو اختلاف دی .

بعضي د تقديم قائل دي ؛ ځکه د ده عمل له وجې د فضيلته دی ؛ نو (ليس) په شان د (کان) دی او معمول منصوب په فعل مخکې کېدای شي. لکه ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة: ٥] ؛ نو په ليس کي هم مقدم کېدای سي.

او بعضي نحات د عدم تقديم قائل دي ؛ ځکه د ده عمل د نفي له وجې دی چي په شان د دويم ډول د افعال ناقصه وو دی او تفصيل د افعال ناقصه وو به په بحث د فعل کي راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

د افعال ناقصه وو لپاره تمرين : ۱- ﴿... أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ﴾ [الشورى: ٥٣]. ۲- ﴿... فَظَلَّتْ أَعْنَـٰقُهُمْ لَهَا خَـٰضِعِينَ﴾ [الشعراء: ٤]. ۳- ﴿قَالُوا۟ تَٱللَّهِ تَفْتَؤُا۟ تَذْكُرُ يُوسُفَ ...﴾ [يوسف: ٨٥]. ۴- ﴿لَا يَزَالُ بُنْيَـٰنُهُمُ ٱلَّذِى بَنَوْا۟ رِيبَةً فِى قُلُوبِهِمْ...﴾ [التوبة: ١١٠]. ۵- ﴿خَـٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ ...﴾ [هود: ١٠٧]. ۶- ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ﴾ [النحل: ٥٨]. ۷- ﴿وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَـٰمًا﴾ [الفرقان: ٦٤].

فَصْلٌ: اِسْمُ (مَا، وَلَا) الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِـ(لَيْسَ)، وَهُوَ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا. نَحْوُ: (مَا زَيْدٌ قَائِمًا. وَلَا رَجُلٌ أَفْضَلَ مِنْكَ)، وَيُخْتَصُّ "لَا" بِالنَّكِرَةِ، وَيَعُمُّ "مَا" بِالْمَعْرِفَةِ وَالنَّكِرَةِ

فصل دی: اِبل له مرفوعاتو څخه اسم د (مَا) او (لَا) دی چي مشابه (ورته) وي له (لَيْسَ) سره او هغه مسند إليه دی وروسته تر دخول د دوی، لکه: (مَا زَيْدٌ قَائِمًا، وَلَا رَجُلٌ أَفْضَلَ مِنْكَ) او خاصيږي "لَا" په نکره سره او عاميږي "مَا" په معرفه او نکره سره

ترکيب : اسم مضاف، ما و لا معطوف عليه او معطوف موصوف، ال په معنی د التي اسم موصول، مشبهتين اسم مفعول، هما نائب فاعل ؛ نو اسم مفعول سره له نائب فاعل او متعلقه صله د موصول، موصول سره له صلې صفت د موصوف، موصوف سره له صفته مضاف إليه د مضاف - دا مبتدا، واو زائده .

هو المسند إليه الخ جمله اسميه خبر د مبتدا، بعد ظرف مضاف، دخولها مضاف إليه، بعد دا بيا مفعول فيه د مسند لپاره او دا مجموعه بيا خبر سو د اسم د (ما و لا) لپاره، يُختص فعل مجهول، لا په تاويل د هذا اللفظ نائب فاعل، بالنكرة متعلق دی په يختص پوري، يعم فعل، ما په تاويل د هذا اللفظ فاعل، بالمعرفة والنكرة ظرف لغو متعلق په (عمّ) پوري اه!.

تشريح : اووم ډول له مرفوعاتو څخه اسم د (ما و لا) دی چي مشابه وي له ليس سره او دا له دوو وجو څخه مشابهت ورسره لري : ۱- په معنا د نفي کي يې ورسره مشابهت دی، لکه څرنګه چي ليس د نفي لپاره راځي ؛ نو (ما و لا) هم د نفي لپاره راځي . ۲- ليس په مبتدا او خبر داخليږي ؛ نو (ما و لا) هم داسي دي .

او ليس مبتدا لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ؛ نو (ما و لا) په عمل کي هم دغه شان دي .

او په تعريف کي لابدي ده له جنس او فصل څخه او المسند إليه په منزله د جنس دی چي شامل دی معرف او غير معرف دواړو لره، لکه مبتدا او اسم د حروف مشبه بالفعل لره او دا قيد چي (بعد دخولها) دی؛ دا په منزله د فصل دی چي په دې سره تمام خارج سول.

نو په عمل د (ما ولا) کي دوه مذهبه دي: ۱- حجازين. ۲- او بني تميم: حجازين وايي: (ما ولا) عاملين دي او د دوی دوه دلائل دي: ۱- عقلي. ۲- نقلي.

عقلي دليل يې دا دئ: چي (ما ولا) په شان د (ليس) دي او (ليس) په کلام د عربو کي عامل پيدا سوی دی؛ نو (ما ولا) به هم عمل کوي.

او نقلي دليل يې په قرآن شريف کي راغلی دی، لکه الله تعالی چي فرمايي: ﴿...مَا هَذَا بَشَرًا ...﴾ [يوسف: ۳۱]؛ نو (هذا) اسم او (بشرا) منصوب دی چي خبر د (ما) دی.

او بني تميم وايي: (ما ولا) عاملين نه دي؛ ځکه وروسته اسم او خبر د دوی به مرفوع وي په عامل معنوي سره او د دوی هم دوه دلائل دي: ۱- عقلي. ۲- نقلي.

عقلي دليل يې دا دئ: يو عامل چي عمل کوي؛ نو شرط د هغه لپاره دا دئ: چي هغه به خاص په اسم، يا فعل پوري وي او (ما ولا) دا رنګه نه دي؛ ځکه دوی پر اسم هم داخليږي او پر فعل هم داخليږي؛ نو په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راغله، له دې وجي دوی عاملين نه دي.

او نقلي دليل يې دا دئ: کوم چي په شعر کي راغلی دی:

ومهفهف كالغصن قلت له انتسب فأجاب ما قتل المحب حرام

نو (حرام) مرفوع خبر دی او (قتل المحب) مرفوع مبتدا ده او دواړه تر (ما) وروسته راغلي دي او که (ما) عمل کولای سوای؛ نو دلته به (حراما) وو په نصب سره وای؛ ځکه خبر به د (ما) وای.

مګر مختاره مذهب په نيز د مصنف د جمهورو نحاتو او حجازينو دی او جواب وبني تميم ته له دليل عقلي څخه دا دئ: چي (ما ولا) دوه ډوله دي: ۱- اسمي. ۲- او فعلي؛ اسمي عمل کوي په لفظ او معنا دواړو کي او فعلي عمل کوي فقط په معنا کي نه په لفظ کي او تاسي دا فرق نه دئ کړی!.

او جواب له دليل نقلي څخه دا دئ: چي د شعر قائل ستاسو د قبيلې سړی دی؛ نو دا څنګه په دليل کي پيش کوئ! نور تفصيل د دې به په منصوباتو کي راسي؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

تفصيل: مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت (وَيَخْتَصُّ لَا بِالنَّكِرَةِ) سره فرق د (ما ولا) بيانوي او د (ما و لا) په خپل مينځ کي درې فرقه دي: اول فرق يې دا دئ: چي دا فقط په اسماء نکره باندي داخليږي او (ما) عام دی - په معرفة او نکره دواړو باندي داخليږي.

دویم فرق یې دا دئ : (لا) لپاره د مطلق نفي دی، برابره خبره ده که زمانه ماضي وي او که زمانه حالي وي او که د زمانه استقبالي وي او (ما) لپاره د نفي حالي راځي فقط.

او دریم فرق یې دا دئ : چي په خبر د (لا) "با" نه سي داخلیدلای، یعني : داسي نه سي ویل کېدای : چي (لا رَجُل بأفضل منك) په خلاف د خبر د (ما) چي داسي ویل کېدای سي : (ما زید بقائم) او د (ما) مشابهت له (لیس) سره زیات دی او تر (لا) خپله (لیس) په معرفه او نکره دواړو داخلیږي : نو (ما) هم داسي دی او (لیس) د نفي حالي لپاره راځي: نو (ما) هم د نفي حالي لپاره راځي او په خبر د (لیس) باء داخلیږي : نو په خبر د (ما) هم باء داخلیږي په خلاف د (لا) : ځکه د ده مشابهت له (لیس) سره کم دی.

فایده (د "لا" په هکله د نحاتو اختلاف) : کوم (لا) چي په آخر کي یې تا ملحقه سوې وي، لکه په دې قول د الله تعالی کي : ﴿... وَّلَاتَ حِیْنَ مَنَاصٍ﴾ [ص: ۳] : نو په دې کي د نحاتو دوه مذهبه دي :

اول مذهب د سیبویه او خلیل رحمهما الله . او دویم مذهب د اخفش رحمه الله .

سیبویه او خلیل رحمهما الله وایي : دا (لا) مشابه له لیس سره دی او تا زیاته سوې ده لپاره د تاکید د نفي، لکه زیاتوالی د تاء په (ربة) او (ثمة) کي چي د تاکید لپاره ده او دوی وایي : چي د (لات) تخصیص په احیانو (وختونو) پوري دی او د ده یو معمول به ذکر وي او بل به مقدر وي چي دواړه ظاهر ول باطل دي.

او په دې آیت کي د دوی په مذهب باندي (حین مناص) د (لا) خبر دی او اسم د ده محذوف دی چي لفظ د (الحین) دی او دا مرفوع دی : نو خبر دا رنګه سو : (ولات الحِینُ حین مناص، أي : ولیس الحِینُ حین مناص).

او اخفش رحمه الله وایي : دا (لات) هغه (لا لنفي الجنس) دی او تا ورپوري زیاته سوې ده او دخول د ده خاص دی په وختونو پوري : نو د ده په نېز باندي دا (حین) منصوب دی چي اسم د (لا لنفي الجنس) او خبر د ده محذوف دی چي هغه (موجودٌ) دی : نو تقدیر دا ول سو : (ولات حین مناص موجود).

دویم قول د اخفش صاحب دا دئ : چي دا (لات) عمل نه کوي او دا لفظ د (حین) چي وروسته ځني راغلی دی : دا منصوب دی په فعل مقدره سره چي هغه (کان) دی او تقدیر یې داسي دی : (ولات کان حین مناص) : نو دا (حین) منصوب دی چي خبر د (کان) دی او اسم د ده به محذوف وي چي (الحین) دی اه !.

(۱۹۰) پوښتنه : (ما و لا) لره عمل اصلي د فعل ورکول سوی دی او دا جایز نه دی ؟

جواب : زیاتوالی د فرع په اصل باندي ناجایز او ممنوع دی او مساوات (برابروالی) یې جایز دي، مګر بیا هم (غیر مستحسن)، یعني : ښه نه دی.

(۱۹۱) پوښتنه : (غير مستحسن) يې ولې اختيار کړی ؟

جواب : دا له وجې د ضرورته چې هغه ضرورت دا دی : که چیرې عمل فرعي (ما و لا) لره ورکول سي ; نو التباس به له (حروف مشبه بالفعل) سره راسي او بنا پر ضرورت عمل اصلي د فعل (ما و لا) لره ورکول سو ; ځکه قاعده دا ده : (الضروريات تبيح المحذورات) .

فايده (د "ما و لا" ډولونه) : اول به د (لا) ډولونه ذکر سي :

۱- (لا) نافيه : (۱) دا په فعل کې په لفظ کې عمل نه کوي، مثال يې دی : (لا ينبغي لك أن تتكاسل !) او په اسم باندې هم دا خاصيږي، مګر چې په جمله اسميه باندې دا خل سي ; نو تکرار د بل (لا) به ورسره لازم وي، لکه : ﴿لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ﴾ [يس: ۴۰].

(۲) دا ډول په ماضي باندې چې (لا) داخل سي ; نو تکرار راولي، لکه : ﴿فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ﴾ [القيامة: ۳۱].

(۳) دا ډول په خبر باندې چې (لا) داخل سي ; نو تکرار راولي، لکه : (زيد لا كاتب و لا شاعر) .

(۴) دا ډول په صفت د موصوف باندې چې داخل سي ; نو تکرار راولي، لکه : (جاء رَجل لا طويل و لا قصير) .

(۵) دا ډول په حال د ذو الحال چې داخل سي ; نو تکرار راولي، لکه : (جاء زيد لا ضاحكا و لا باكيا) .

۲- (لا) نافيه عاطفه : د دې لپاره درې شرطونه دي : (۱) ما قبل د (لا) به اثبات وي، لکه : (اجلس و لا تترك) .

(۲) حروف عاطفه به ورسره مقارن نه وي، لکه : (اجلس لا تترك) او دا نه صحيح کيږي چې داسې يې انسان ووايي : (اجلس ولا تترك)، يعني : واو عاطفه ورسره راوړل نه دي صحيح اه !.

(۳) ما بعد د (لا) به ضد د ما قبل وي، لکه : (جاءني رجل لا امرأة) او داسې نه سي ويل کېدای : (جاءني رَجل لا زيد) . او مثال د لا نافيه عاطفه لکه : (اقرأ الكِتاب لا المجلة) .

۳- (لا) جوابيه : دا به واقع وي په جواب د سوال د سائل کې، لکه : (هل جاءني زيد ؟) .

۴- (لا لنفي الجنس) : لکه : (لا رَجل في الدار)، يا لکه : ﴿ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲].

۵- (لا) مشابه په (ليس) سره : لکه : (لا رَجل قائما) .

۶- (لا) ناهيه جازمه : دا خاص دی په فعل مضارع پورې، لکه : (لا تخف)، يا لکه : ﴿... لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ﴾ [لقمان: ۱۳]، يا لکه ﴿... فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا﴾ [الاسراء: ۲۳].

تر دې ځايه د (لا) ډولونه ذکر سول، وروسته به د (ما) ډولونه ذکر سي :

۱-(ما موصوله): لکه: ﴿مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ...﴾ [النحل: ۹۶]، أي: الّذي عندكم.

۲-(ما تامه): لکه: ﴿... فَنِعِمَّا هِيَ ...﴾ [البقرة: ۲۷۱]، أي: فنعم الشيء.

۳-(ما استفهاميه): لکه: ﴿وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ﴿۱۷﴾﴾ [طه: ۱۷]، أي: ما جاء بك.

۴-(ما شرطيه): لکه: ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ ...﴾ [البقرة: ۱۰۶].

۵-(ما نافيه غير عامله): لکه: (مَا جاء أحد).

۶-(ما نافيه مشابه بليس): لکه: ﴿... مَا هَٰذَا بَشَرًا ...﴾ [يوسف: ۳۱].

۷-(ما مصدريه): لکه: ﴿... عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ ...﴾ [التوبة: ۱۲۸].

۸-(ما زائده): لکه: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ...﴾ [آل عمران: ۱۵۹]، یا لکه: ﴿... فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ ...﴾ [مريم: ۲۶].

۹-(ما كافه): لکه: ﴿... أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ...﴾ [الكهف: ۱۱۰]، یا لکه: ﴿قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ...﴾ [فصلت: ۶].

۱۰-(ما موصوفه): لکه: ﴿وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا﴿۵﴾﴾ [الشمس: ۵].

۱۱-(ما صفتيه): لکه: ﴿... قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ﴿۱۰﴾﴾ [الأعراف: ۱۰].

فَصْلٌ: خَبَرُ (لا) لِنَفْيِ الْجِنْسِ، وَهُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا، نَحْوُ: (لَا رَجُلَ قَائِمٌ)

فصل دی: [يل له مرفوعاتو څخه] خبر د (لا) د نفي جنس دی او دا به مسند وي وروسته تر دخول يې [يعني: تر دخول د (لا)]، لکه: (لَا رَجُلَ قَائِمٌ)

تشريح: اتم ډول له مرفوعاتو څخه خبر د (لا لنفي الجنس) دی او (هو المسند) په تعريف کې په منزله د جنس دی چې معرف او غير معرف ټولو له شامل دی او (بعد دخولها) فصل دی چې په دې سره پرته له معرف خارج سو.

(۱۹۲) پوښتنه: خبر د (لا لنفي الجنس) به ولې مرفوع وي؟

جواب: د (لا) مشابهت دی له فعل منفي سره، لکه څنګه چې فعل منفي په نفي دلالت کوي؛ نو دغه ډول (لا) هم په نفي دلالت کوي؛ نو (لا) فرع د فعل سوه او عمل فرعي وفعل (لا) له ورکړل سو چې اسم د ده به منصوب وي او خبر د ده به مرفوع وي.

بل جواب: د (لا) مشابهت دی له (أنّ) سره لفظا او معنا؛ ځکه (أنّ) راځي د تاکيد د اثبات لپاره او (لا) راځي د تاکيد د نفي لپاره؛ نو دا (لا) حمل سو په (أنّ) باندې له وجې د علاقې د تضاد او له وجې د حمل د نقيض په بل نقيض باندې او علاقه د تضاد هم يو تضاد دی.

(۱۹۳) پوښتنه: په (لا رَجل قائم) کې نفي د جنس نه ده راغلې، بلکې نفي د صفت راغلې ده؟

جواب: دلته عبارت په حذف سره دی چې خبر د (لا التي لنفي الجنس) دی.

(۱۹۴) پوښتنه : جنس د (لا) مخکي تر راتلو د (لا) هم مسند دی ؛ نو دلته لازميږي اسناد د مسند او دا باطل دئ؟

جواب : دلته مراد له اسناد څخه اسناد جديده دی .

ځيني مختلفي نحوي فايدې : اوله فايده : (لا) په اسم او خبر کي عمل کوي په دې شرط سره چي نکرتين وي او که معرفتين وي؛ نو عمل نه کوي، لکه : (لا زيد في الدار ولا عمرو)، يالکه : (لا القمر طالع ولا النجوم لامعات) .

دويمه فايده : د (لا) او د ده په اسم کي به فاصل نه وي ؛ ځکه که فاصل وي - بيا عمل نه کوي، لکه : (لا في الحديقة صبيان ولا بنات) .

دريمه فايده : اسم د ده به د ده له خبر څخه موخر نه وي، کنې بيا عمل نه کوي، لکه : (لا في الدار رَجل ولا امرأة) .

څلورمه فايده : اکثر د ده خبر به حذف کيږي، لکه : (لا بأس ولا حرج) ؛ نو دلته خبر حذف دی چي ثابت دی، (أي : لا بأس ثابت) .

پينځمه فايده : کله کله د ده اسم هم حذف کيږي، لکه : (لا عليك، أي : لا بأس عليك !) .

يادونه : تر همدې ځايه د مرفوعاتو بحث په مکمله توګه پای ته ورسېدی، وروسته به د منصوباتو بحث پيل سي ؛ بِاللهِ التَّوْفِيْقِ، وَبِيَدِهٖ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ .



د منصوباتو بيان

اَلْمَقْصَدُ الثَّانِيْ فِي الْمَنْصُوْبَاتِ

مقصود دويم په (بيان د) منصوباتو کي دی

زنځيري ترکيب : المقصد الثاني مبتدا، في المنصوبات جار مجرور ظرف مستقر متعلق په کائن پوري چي دا خبر د مبتدا دی .

تشريح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله عليه د بيان له مقصداول څخه چي مرفوعات وه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د مقصد ثاني کي چي منصوبات دي او مصنف چي منصوبات مخکي تر مجروراتو او پس له مرفوعاتو ذکر کړل ؛ نو دې درې وجې دي :

۱- مرفوعات او منصوبات دواړه په عامل واحد کې شریک دي او د دواړو عامل فعل وي، لکه : (ضرب زيد عمروا) په خلاف د مجروراتو چې د هغې عامل حروف جاره وي .

۲- منصوبات په نسبت د مجروراتو ډېر دي او مجرورات قليل دي او د ډېر د شان اهتمام کيږي او د چاچي شان لوړ وي ؛ هغه مخکې وي .

۳- منصوبات معمول د (فعل بالذات) وي او مجرورات (بالواسطه) وي او (بالذات) مخکې وي په (بالواسطه) باندې او منصوبات جمع د منصوب ده اوکه د (منصوبة) ده : نو د دې بيان بعينه هغه دی کوم چې په مرفوعاتو کې تېر سوی دی ؛ نو مکررولو ته يې اړتيا نسته .

الْأَسْمَاءُ الْمَنْصُوبَةُ إِثْنَا عَشَرَ قِسْمًا : الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ، وَبِهِ، وَفِيْهِ، وَلَهُ، وَمَعَهُ، وَالْحَالُ، وَالتَّمِيِيْزُ، وَالْمُسْتَثْنَى، وَاسْمُ إِنَّ وَأَخَوَاتِهَا، وَالْمَنْصُوبُ بِلَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ، وَخَبَرُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ

اسماء منصوبه دوولس ډوله دي : مفعول مطلق، به، فيه، له، معه، حال، تمييز، مستثنى، اسم د إن او اخوات يې، منصوب په لا د (التي لنفي الجنس) سره او خبر د (ما) او (لا) چې مشابه وي په (ليس) سره

زنځيري ترکيب : الأسماء المنصوبة موصوف او صفت مبتدا، إثنا عشر قسما خبر، المفعول المطلق معطوف عليه او وروسته يې ټوله معطوفات معطوف عليه سره له معطوفاتو بدل سو د إثنا عشر، يا مفعول به د فعل مقدره چې (أعني) دی، يا هر يو خبر د مبتدا محذوفي چې (أحدها) دی او (ثانيها) دی .

تشريح : منصوبات دوولس ۱۲ دي : ۱- (مفعول مطلق) . ۲- (مفعول به) . ۳- (مفعول فيه) . ۴- (مفعول له) . ۵- (مفعول معه) . ۶- (الحال) . ۷- (تميز) . ۸- (مستثنى) . ۹- اسم د (إنّ) او اخوات يې . ۱۰- خبر د (كان) سره له اخواتو . ۱۱- اسم د (لا لنفي الجنس) . ۱۲- خبر د (ما و لا) چې مشابه وي په (ليس) سره .

اودا منصوبات په دوه ډوله دي : ۱- مفاعيل . ۲- او ملحقات . او مفاعيل په پينځه ډوله دي :

۱- (مفعول مطلق) . ۲- (مفعول به) . ۳- (مفعول فيه) . ۴- (مفعول له) . ۵- او (مفعول معه) . او هر چې ملحقات دي ؛ نو هغه اووه ۷ دي :

۱- (الحال) . ۲- (تميز) . ۳- (مستثنى) . ۴- اسم د (إن) او اخوات يې . ۵- (كان) سره له اخواتو . ۶- اسم د (لا) د (نفي الجنس)

۷- خبر د (ما و لا) چې مشابه وي په (ليس) سره . او د پينځو مفاعيلو مثالونه يو شاعر په خپل شعر کې جمع کړي دي :

حَمِدْتُ حَمْدًا حَامِدًا وَحَمِيْدًا　　رِعَايَةَ شُكْرِهِ دَهْرًا مَدِيْدًا

(حَمِدْتُ حَمْدًا) مفعول مطلق، (حَامِدًا) مفعول به، (وَحَمِيْدًا) مفعول معه، (رِعَايَةَ شُكْرِهِ) مفعول له، (دَهْرًا مَدِيْدًا) مفعول فيه .

د نحاتو اختلاف : دا مذهب د جمهور و نحاتو دی چي مفاعيل پينځه دي او په مذهب د سيرافي نحوي رحمه الله عليه مفاعيل شپږ دي، پينځه مذکوره دي او شپږم (مفعول عنه) دی او استدلال د ده په دې قول دالله تعالی سره دی : ﴿وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ ...﴾ [الاعراف ۱۵۵] ؛ نو (قومه) پکي (مفعول عنه) دی، مګر جمهور نحات وايي : دا (مفعول عنه) نه صحيح کيږي ؛ ځکه بيا به قول په (مفعول إليه) باندي دوی کوي په دې قول کي چي وايي : (دخلت البيت) ؛ نو دا (بيت) دي (مفعول إليه) سي ؛ ځکه دلته تقدير داسي دی (دخلت إلی البيت) او حال دا دئ چي د (مفعول إليه) هيڅ چا قول نه دئ کړی ؛ نو معلومه سوه چي (مفعول عنه) هم نسته.

امام زجاج وايي : مفاعيل درې دي : ۱- (مفعول مطلق) . ۲- (مفعول به) ؛ ۳- (مفعول فيه) او هر چي (مفعول له) دی ؛ نو داخل دی په (مفعول مطلق) کي او هر چي (مفعول معه) دی ؛ نو هغه داخل دی په (مفعول به) کي، مګر غوره مذهب د جمهورو نحاتو دی .

د اسم منصوب تعريف : اسم منصوب هغه اسم ته وايي چي مشتمل وي په علامه د مفعوليت باندي او علامات د مفعوليت څلور دي : ۱- فتحه په مفرداتو او جمع مکسر کي . ۲- کسره په جمع مؤنث سالم کي . ۳- يا په تثنيه او جمع مذکر سالم کي او د دوی په ملحقاتو کي . ۴- الف په اسماء ستة مکبره کي .

فايده : افعال ناقصه په صورت کي افعال دي او په معنا کي حروف دي ؛ ځکه کان اسم او خبر دواړه غواړي او کله کله فقط اسم غواړي ؛ نو څرنګه چي حرف محتاج دی ضم د ضميمې ته، دغه ډول افعال ناقصه محتاج دي اسم او خبر دواړو ته ؛ نو سوه افعال ناقصه معنا حروف او په همدې وجه خبر او اسم د ده د معمولاتو په مرفوعاتو او منصوباتو کي له حرف څخه ګڼل کيږي .

فَصۡلٌ : اَلۡمَفۡعُوۡلُ الۡمُطۡلَقُ وَهُوَ مَصۡدَرٌ بِمَعۡنًى فِعۡلٍ مَّذۡكُوۡرٍ قَبۡلَهُ

فصل دی : مفعول مطلق او دا مصدر دی په معنی د فعل مذکور سره چي تر ده مخکي دی

ز نځيري ترکيب : المفعول المطلق مبتدا، هو مصدر إلخ خبر د مبتدا او په مينځ کي واو زائده دی، يا هو مبتدا مصدر موصوف، با حرف جر، معنی مضاف، فعل موصوف مذکور صفت، قبله ظرف مضاف مضاف إليه مفعول فيه چي دا مجموعه شبه جمله صفت د موصوف سو، موصوف سره له صفته مضاف إليه د مضاف، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره خبر د مبتدا چي هو دی، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه خبر د مبتدا چي المفعول المطلق دی .

تشريح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله عليه د منصوباتو له اجمالي ذکر کولو څخه ؛ نو شروع يې وکړه په تفصيل باندي او په دولسو منصوباتو کي يې مفاعيل مقدم کړل ؛ ځکه دوی اصل دي له ملحقاتو څخه ؛ نو حقدار د تقديم دي او بيا په مفاعيلو کي يې مفعول مطلق مقدم کړی په باقي مفاعيلو باندي ؛ ځکه مفعول مطلق منصوب وي بېله تقيده تر حرف په (فيه)، (له) او (معه) سره ؛ نو ده ته فعل متعدي کيږي په ذات سره او نورو مفاعيلو ته متعدي کيږي په واسطه سره او په ذات سره تعديت اولی دی تر (بالواسطه) ! .

د مفعول مطلق وجه تسميه : دې ته مفعول مطلق وايي : ۱- ځکه دی حقيقتا مفعول دی د فاعل . ۲- مطلق له اطلاق څخه دی او اطلاق وايي خالي والي ته او دی هم خالي دی له قيد څخه د (به)، (له) او (فيه) .

د قيوداتو په هکله يادونه : په تعريف د مفعول مطلق کې لفظ د مصدر په منزله د جنس دی او ټولو مصادرو لره شامل دی ؛ نو (بمعنى فعل مذکور) فصل اول دی چې په دې سره (مفعول له) خارج سو او په دې قول کې چې (ضربته تأديبا) ؛ (تأديبا) مصدر دی، مگر (بمعنى فعل مذکور) نه دی چې ضربت دی او (قبله) فصل ثاني دی چې په دې سره خارج سو (الضرب واقع على زيد) . او (الضرب) مصدر دی مگر مخکې فعل يې نسته ؛ نو (الضرب) مبتدا ده او (واقع على زيد) خبر دی .

(۱۹۵) پوښتنه : ستا تعريف منقوض دی په دې ترکيب باندې چې (أنا ضارب ضربا) دی ؛ نو دلته (ضربا) مفعول مطلق دی او مخکې يې فعل نسته ؟

جواب : فعل عام دی، که حقيقي وي او که شبه فعل ؛ نو دلته ضارب شبه فعل دی .

(۱۹۶) پوښتنه : ستا تعريف منقوض دی په دې ترکيب باندې چې (فضرب الرّقاب) دی ؛ ځکه تر دې مخکې فعل نسته ؟

جواب : فعل عام دی لفظي وي، که تقديري ؛ نو دلته اگر که فعل لفظا نسته، مگر تقديرا ذکر دی او تقدير د عبارت داسې دی : (فاضربوا ضرب الرّقاب) .

(۱۹۷) پوښتنه : مراد له فعل څخه به فعل اصطلاحي وي چې حدث نسبت زمانه ده ؛ نو زمانه او نسبت ؛ خو قابل د ذکر نه دي او ته څنگه وايې : (فعل مذکور قبله) ؟

جواب : مراد په فعل سره معنى لغوي د فعل ده چې هغه (حدث) دی فقط .

(۱۹۸) پوښتنه : ستا تعريف منقوض دی په دې ترکيب باندې چې (ضربت ضربا) دی او دلته حدث نه دیٔ مذکور. بلکې فعل اصطلاحي دی ؟

جواب : فعل مذکور عام دی مطابقي وي، که تضمني ؛ نو دلته حدث په ضمن د فعل کې دی .

وَيُذْكَرُ لِلتَّاكِيْدِ كَـ (ضَرَبْتُ ضَرَبًا)، أَوْ لِبَيَانِ النَّوْعِ، نَحْوُ : (جَلَسْتُ جِلْسَةَ القَارِيْ)، أَوْ لِبَيَانِ الْعَدَدِ كَـ (جَلَسْتُ جَلْسَةً أَوْ جَلْسَتَيْنِ أَوْ جَلَسَاتٍ)

او ذکر کېږي لپاره د تاکيد لکه (ضَرَبْتُ ضَرَبًا) اويا لپاره د بيان د نوع. لکه : (جَلَسْتُ جِلْسَةَ القَارِيْ) او يا لپاره د بيان د عدد. لکه : (جَلَسْتُ جَلْسَةً أَوْ جَلْسَتَيْنِ أَوْ جَلَسَاتٍ)

تشریح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله له تعریف څخه د مفعول مطلق ؛ نو شروع یې وکړه په تقسیم باندي او دا ډول یې ووېل : (وَيُذْكَرُ إلخ) ؛ نو پوه سه ! په دې چي مفعول مطلق پر درې ډوله دی :

۱- مفعول مطلق تاکیدي، لکه : (ضَرَبْتُ ضَرْبًا) . ۲- مفعول مطلق نوعي، لکه : (جلس جلسة القاري) . ۳- مفعول مطلق عددي، لکه : (جلست جلسة) .

او وجه د حصر په دریو کي دا ده : چي دا مفعول مطلق به خالي نه وي یا به په مفهوم د ده کي زیادت په مفهوم د فعل باندي وي او یا به نه وي، که نه وو ؛ نو مفعول مطلق تاکیدي دی او که وو ؛ نو بیا به خالي نه وي یا به دا زیادت د نوع لپاره وي، یا به د عدد لپاره وي، که د نوع لپاره وو ؛ نو مفعول مطلق نوعي دی او که د عدد لپاره وو ؛ نو مفعول مطلق عددي دی او مصنف صاحب د دې دریو لپاره درې مثالونه ذکر کړي دي .

د تاکیدي مثال لکه : (ضربت ضربا)، د مفعول مطلق نوعي مثال لکه : (جلست جلست القاري، أي : جلست نوعا مِن الجلوس) او د مفعول مطلق عددي مثال لکه : (جلست جلسة، أي : جلست مرة واحدة) او فرق د مفعول عددي او نوعي په وزن سره کېږي چي د نوع لپاره وزن د (فعلة) راغلی دی په کسرې د فاء سره او د عدد لپاره په وزن د (فعلة) راغلی دی په فتحې د فاء سره، لکه شاعر چي وايي :

المفعل للموضع والمفعل للآلة　　　والفعلة للمرة والفعلة للحالة

او فرق د دې دواړو له مفعول مطلق تاکیدي څخه په دا سې توګه دی چي دوي دواړه تثنیه او جمع کېدای سي، یعني مفعول مطلق نوعي او عددي او هر چي مفعول مطلق تاکیدي دی ؛ نو دا نه تثنیه او نه جمع کېدای سي ؛ ځکه تثنیه او جمع دلالت په تعدد کوي او مفعول مطلق تاکیدي په ماهیت (معرى عن العدد) باندي دلالت کوي چي په مینځ د دوی کي تضاد او منافات دی او هر چي اولني دوه ډولونه دي ؛ ځکه تثنیه او جمع کېږي چي دوی دلالت په تعدد کوي، نه په ماهیت (معرى عن العدد) باندي اه ! .

وَيَكُوْنُ مِنْ غَيْرِ لَفْظِ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ. نَحْوُ : (قَعَدْتُ جُلُوْسًا، وَأَنْبَتَ نَبَاتًا)

او کله کله کېږي بېله لفظ د فعل مذکور، لکه : (قَعَدْتُ جُلُوْسًا، وَأَنْبَتَ نَبَاتًا)

تشریح : له قد څخه معلومېږي چي په اکثرو اوقاتو کي په مینځ د فعل او مفعول مطلق کي به مغایرت نه وي او دا مغایرت په دوه ډوله دی :

۱- مغایرت مادي . ۲- مغایرت بابي .

مغایرت مادي دې ته وايي : چي مفعول مطلق د بوې مادې نه وي او فعل له بلې مادې څخه راغلی وي، لکه : (قعدت جلوسا)، جلوسا مفعول مطلق دی چي د ده ماده جیم. لام او سین دی او فعل د ده (قعدت) دی چي ماده د دې قاف، عین او تا ده او مغایرت بابي دې ته

وايي چي د مفعول مطلق جدا باب وي له فعل څخه، لکه : (أنبت نباتا) ؛ نو دلته (نباتا) مفعول مطلق دی او باب يې ثلاثي مجرد دی او فعل يې (أنبت) دی، لکه ثلاثي مزيد فيه دی، يعني باب افعال دی .

د نحاتو اختلاف : سيبويه رحمه الله عليه وايي : مفعول مطلق مغاير له فعل خپل څخه نه راځي ؛ ځکه د ده په مذهب په مفعول مطلق او فعل کي مطابقت شرط دی او کوم ځای چي مغايرت راغلی وي، لکه دلته ؛ نو تاويل يې کيږي او تقدير د عبارت دلته داسي وايي : (قعدت وجلست جلوسا) او (أنبت ونبت نباتا) .

دليل دسيبويه صاحب دا دئ : په مفعول مطلق کي شرط دا دئ چي فعل به په ده مشتمل وي د قبيلې د اشتمال له کل څخه په جز باندي او هر کله چي دا مغاير سي ؛ نو اشتمال نه راځي .

او جمهور نحات وايي : مفعول مطلق بېله لفظه راځي او مذهب د سيبويه ضعيف دی نقلا او عقلا هر چي عقلا دی ؛ نو سيبويه پکي تقدير راولي او تقدير خلاف د اصل دی او هر چي نقلا دی ؛ ځکه په ډېرو مواضعو کي مفعول مطلق مغاير راغلی دی او ډېر مواضع داسي دي چي تاويل پکي هم نه سي کېدلای، لکه : (ولا تضرُّوهُ شيئا)، يا لکه : (حلفت يمينا) ؛ نو دلته شيئا او يمينا مفعول مطلق واقع دی او مغاير دی له فعل څخه چي تقدير او تاويل پکي هم نه کيږي ؛ ځکه دا جامد دی .

سيبويه ته د جمهورو نحاتو جواب : چي اشتمال عام دی هغه که لفظي وي، يا معنوي وي او لفظا بيا عام دی هغه (بالذات) وي، که (بالواسطه) وي، د معنوي مثال لکه : (قعدت جلوسا) چي د دواړو معنا يوه ده .

او په (أنبت نباتا) کي اشتمال لفظي دی مګر (بالواسطه) دی ؛ ځکه (أنبت) مشتمل دی په (نباتا) باندي او سيبويه په (لا تضرّوه شيئا) کي تاويل کوي چي دا په معنا د (قليلا) سره دی او صفت د موصوف محذوف دی چي (ضرارا) دی ؛ نو عبارت داسي سو (ولاتضروه ضرارا قليلا) ؛ نو دلته (ضرارا) مفعول مطلق دی او مغاير نه دئ له خپل فعل څخه اه ! .

وَقَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا کَ قَوْلِكَ لِلْقَادِمِ : (خَيْرَ مَقْدَمٍ)، أَيْ : قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ

او په تحقيق سره حذفيږي فعل يې له وجي د درېدو د قيام د قريني جوازا لکه ستا دا وينا وراتلونکي ته : (خَيْرَ مَقْدَم)، يعني : ته داسي راوراندي سوې په وړاندي کېدو د غوره وړاندي کېدونکي سره

تشريح : مصنف رحمه الله عليه تر دې وروسته اوس دا بيانوي چي کله کله له مفعول مطلق څخه فعل حذف کيږي او دا بيا دوه ډوله دی : ۱- حذف جائزي . ۲- او حذف وجوبي .

او حذف وجوبي په دوه ډوله دی : ۱- حذف وجوبي قياسي . ۲- حذف وجوبي سماعي، مګر دلته صاحب د (هداية النحو) د حذف وجوبي قياسي صورتونه نه دئ ذکر کړي له وجي د اختصار څخه او صاحب د (کافيه) يې په دې کي تفصيل کړی دی او ذکر کړي يې دي

په (منها) سره او حذف چې کيږي ؛ نو د دې لپاره به قرينه وي او مثال د فعل په حذف جائزي سره لکه : (خير مقدم) سو چې فعل له ده

څخه حذف سوی دی کوم چې هغه (قدمت) دی.

(۱۹۹) پوښتنه : مفعول مطلق هغه ته وايي چې فعل مشتمل وي په هغه باندي د قبيلې د اشتمال له کل څخه په جز باندي او دلته فعل چې

(قدمت) دی مشتمل په خير باندي نه دی او بل دا چې مفعول مطلق مصدر وي او دلته خير اسم تفضيل دی ؛ نو په دواړو تقديرونو سره

مفعول مطلق صحيح نه دی.

جواب : پر ده اطلاق د مفعول مطلق سوی دی مجازا په اعتبار د موصوف محذوفه سره ؛ نو تقدير دا ډول سو چې (قدمت قدوما خير

مقدم) او په اعتبار د مضاف إليه سره چې مقدم دی او هغه مصدر ميمي دی.

(۲۰۰) پوښتنه : دلته قرينه څه ده ؟

جواب : قرينه حاليه ده چې هغه مشاهده د حال د مخاطب ده ؛ ځکه دا قول هغه چاته ويل کيږي چې په هغه باندي څه علامې د (قدوم)

ښکاره سوي وي او دلته حذف جائزي د فعل سوی دی ؛ ځکه دلته په حذف د فعل (قيام) د (سد مسد) نسته.

وَوُجُوْبًا سِمَاعًا. نَحْوُ : (سَقْيًا، وَشُكْرًا، وَحَمْدًا، وَرَعْيًا. أَيْ : سَقَاكَ اللهُ سَقْيًا، وَشَكَرْتُكَ شُكْرًا، وَحَمِدْتُكَ حَمْدًا، وَرَعَاكَ اللهُ رَعْيًا)

او وجوبا سماعا، لکه : (سَقْيًا، وَشُكْرًا، وَحَمْدًا، وَرَعْيًا، أَيْ : سَقَاكَ اللهُ سَقْيًا، وَشَكَرْتُكَ شُكْرًا، وَحَمِدْتُكَ حَمْدًا، وَرَعَاكَ اللهُ رَعْيًا)

تشريح : حذف وجوبي سماعي دې ته وايي چې تر يوې قاعدې او ضابطې لاندې نه وي، بلکې له عربو څخه په سماع باندي موقوف وي،

لکه فعل چې حذف سوی وي له مفعول مطلق څخه په حذف وجوبي سماعي سره لکه (سقيا) او داسې نور.

او دلته مصنف صاحب څلور اسماء ذکر کړي دي : ۱- (سقيًا) : د دې عامل حذف سوی دی، لکه : (أي : سقاك الله سقيا)، ۲- (شكرًا)

: د دې هم عامل حذف سوی دی، لکه : (أي : شكرت شكرا)، ۳- (حمدًا) : د دې هم عامل حذف سوی دی، لکه : (أي : حمدت

حمدا). ۴- (رعيا) او د دې هم عامل حذف سوی دی، لکه : (أي : رعاك الله رعيا).

نو له دوی څلورو څخه فعل وجوبا سماعا حذف سوی دی ؛ ځکه له عربو څخه د دې فعلونو د ذکر کولو سماع نه ده سوې او دا معنا د حذف

وجوبي سماعي ده او قرينه دلته په نفس حذف باندي دا ده چې استعمال د مفرداتو دی.

(۲۰۱) پوښتنه : دليل د حذف د افعالو له دې مصادرو سره عدم سمع ده ؛ نو عرب : خو وايي چې (سقاك الله سقيا، وشكرت لك

شكرا) افعال ورسره ذکر کوي ؟

اول جواب: دا کلام د مولدینو دی، یعني د هغه خلکو کلام دی چي هغوی خالص عرب نه وي او مونږ حذف په کلام د خالصو عربو کي وايو

دویم جواب: حذف د افعالو چي واجب دی دلته په هغه وخت کي چي دا مصادر له لام جاره سره مستعمل سي. لکه: (حمداله، شکراله، رعياله) او په دې طريقې سره چي دوی مستعمل سي؛ نو د هيڅ چا په کلام کي له دې مصادرو سره فعل نه دئ ذکر - نه په کلام د عربو کي او نه په کلام د مولدینو کي.

د مفعول مطلق ځيني قاعدې: ۱- قاعده: مصدر چي کله فاعل، يا مصدر ته مضاف وي؛ نو د ده فعل به حذف وي، لکه: (سبحان الله، أي: سبحت سبحان الله).

۲- قاعده: کله کله مفعول مطلق په تلفظ کي د فعل په ځای راوړل کيږي، لکه: (إيمانا لا کُفرا، أي: آمن ولا تکفر سمعا وطاعة، أي: اسمع وأطع).

۳- قاعده: (أنّ مع الفعل) مفعول مطلق نه واقع کيږي؛ ځکه (أنّ) ناصبه مصدريه فعل په استقبال پوري مختص کوي او تاکيد په مصدر سره کيږي چي کله شان د مفهوم د فعل وي.

۴- قاعده: مصدر په دوه ډوله دی: ۱- متصرف. ۲- او غير متصرف. له مصدر متصرف څخه مراد هغه مصدر دی چي فاعل نائب فاعل مبتدا خبر مفعول به واقع کيږي، لکه: ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ...﴾ [البقرة: ۱۰] او غير متصرف صرف منصوب بنا پر مفعوليت واقع کيږي، مثال يې لکه: (سبحان معاذ الله).

۵- قاعده: بعض مصادر د دعا لپاره کارول کيږي، لکه: (ويله ويحه).

۶- قاعده: (أيضا) چي کله په کلام کي واقع سي؛ نو دا مفعول مطلق د فعل محذوف وي، لکه: (أض أيضا).

۷- قاعده: مصدر کله کله په امر، يا نهي، يا دعاء کي واقع کيږي وجوبا او فعل به ځني حذف وي، لکه: (قياما لا قعودا، أي: قم قياما لا تقعد قعودا)، يا لکه: ﴿... وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا ...﴾ [البقرة: ۸۳].

۸- قاعده: کله لفظ د (کُل) په ځای د مصدر باندي درېږي، لکه: ﴿... فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلْمَيْلِ ...﴾ [النساء: ۱۲۹]. په دې مثال کي اصلا مفعول (مطلق الميل) دی. مګر د هغه په ځای (کل) مضاف (إلى الميل) قائم دی.

۹- قاعده: په لفظ د بعض کي هم دا قانون دی، لکه: ﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ ٱلْأَقَاوِيلِ﴾ [الحاقة: ۴۴].

۱۰- قاعده: کله ضمير قائم مقام د مصدر ګرځي، لکه: ﴿... لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ [المائدة: ۱۱۵]، أي: لا أعذب العذاب.

د مفعول مطلق لپاره يو مختصر تمرين : ۱- ﴿... اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ [الاحزاب: ۴۱] . ۲- ﴿.. وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا ...﴾ [الاسراء: ۱۹] . ۳- ﴿... فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ [الاحزاب: ۷۱] . ۴- ﴿قَالُوا سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ﴾ [القلم: ۲۹] . ۵- ﴿... يُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ [النساء: ۶۵] .

فَصْلٌ : الْمَفْعُولُ بِهِ وَهُوَ اسْمٌ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ فِعْلُ الْفَاعِلِ كَـ(ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

فصل دى : مفعول به او دا هغه اسم دى چي واقع سوى وي پر ده فعل د فاعل لكه (ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

د مفعول به تعريف : دويم ډول له مفاعيلو خمسه وو څخه مفعول به دى او مفعول به يې ؛ ځكه تر مفعول مطلق وروسته ذكر كړى چي د فعل زيات اتصال له مفعول به سره دئ .

او مفعول به په لغت كي هغه شى ته وايي چي د هغه په وجه فعل سوى وي او اصطلاحي معنا (ما وقع في الكتب) او الف لام په المفعول به كي په معنا د (الذي) سره دى او مفعول په معنا د (فُعِلَ) سره دى او (به) جار مجرور ورلره نائب فاعل دى ؛ نو تقدير د عبارت دا ډول سو: (الّذي فُعِلَ بِهِ) او دغه ډول تقدير په مفعول فيه او مفعول له او مفعول معه كي هم دى.

د قيوداتو فايده : په تعريف كي اسم په منزله د جنس دى چي شامل دى معرف مفعول به لره او باقي مفاعيلو لره او (وقع عليه فعل الفاعل) په منزله د فصل دى چي په دې سره باقي مفاعيل خارج سول .

(۲۰۲) پوښتنه : په (مررت بزيد) كي د (مرور) تړاو له (زيد) سره دى او دا خو مفعول به نه دى، بلكي مجرور دى ؟

جواب : مراد له تړاو څخه هغه دى چي بېله واسطي د حرف جر وي او په دې مثال كي تړاو سره له واسطي د حرف جره راغلى دى .

(۲۰۳) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په دې تركيب باندي چي (ما ضرب زيدٌ عمرا) دى او دلته خو نفي د تړاو راغلى ده؟

جواب : مراد زموږ مطلق تړاو دى، برابره خبره ده چي ايجابي وي، كه سلبي وي او مذكور تركيب په تعريف د مفعول به كي داخل دى او خارج نه دى .

د (مفعول به) **په عامل كي د نحاتو اختلاف :** په عامل د مفعول به كي څلور مذهبونه دي :

۱- اول مذهب د سيبويه دى : چي عامل د مفعول به فعل دى ؛ هغه نصب وركړى دى .

۲- مذهب د هشام دى : چي عامل په مفعول به كي فاعل دى او فعل په فاعل كي عامل دى فقط .

۳- مذهب د فراء دى : چي عامل په مفعول به كي فعل او فاعل دواړه دى .

۴- مذهب د ځينو نحاتو دى : چي عامل په مفعول به كي فاعليت دى چي امر معنوي دى .

حاصل دا سو چي مذاهب ثلاثه سابقه وايي چي عامل د مفعول به لفظي دى او ځيني نحات عامل معنوي وايي، مگر غوره مذهب د سيبويه دى .

وَقَدْ يَتَقَدَّمُ عَلَى الفَاعِلِ كَـ (ضَرَبَ عَمْرًوا زَيْدٌ)، وَقَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهُ لِقِيَامِ قَرِينَةٍ جَوَازًا، نَحْوُ: (زَيْدًا) فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ: (مَنْ أَضْرِبُ؟)

او په تحقيق سره [كله كله مفعول به] مخكي كيږي پر فاعل لكه (ضَرَبَ عَمْرًوا زَيْدٌ) او په تحقيق سره فعل د ده له وجي د يوې قرينې دى جوازا، لكه: (زَيْدًا) په جواب كي د هغه چاچي ووايي: (مَنْ أَضْرِبُ؟)

تشريح: كله كله حذف د عامل د مفعول به كېداى سي جوازا چي قرينه حاليه وي، كه قرينه مقاليه، مثال د قرينه حاليه يې لكه يو سړى مكې شريفي ته روان وي او ورته وويل سي: (مَكَّةَ مكّة)؛ نو دلته حذف د عامل ناصبه د مفعول به راغلى دى له وجي د وجود د قرينه حاليه يې چي هغه (تريد) دى، يعني (تريد مكة) او مثال د قرينه لفظيه يې لكه مصنف رحمه الله چي ذكركړى دى: (زيدا مفعول به) او حذف د عامل ناصبه د دې راغلى دى له وجي د وجود د قرينې چي هغه سوال د سائل دى؛ نو دلته عامل ناصبه د مفعول به په سوال د سائل كي موجود دى او له دې وجي په جواب كي راوړلو ته يې ضرورت نسته؛ ځكه (المذكور في السؤال كالمعاد في الجواب)، يعني په سوال كي دويم ځل يادول داسي دي لكه په جواب كي دويم ځل راګرځول؛ نو تقدير دا ډول سو: (أضرب زيدا).

وَوُجُوبًا فِي أَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ، الْأَوَّلُ: سِمَاعِيٌّ، نَحْوُ: (اِمْرَأً وَنَفْسَهُ، وَانْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ، وَأَهْلًا وَسَهْلًا)، وَالبَوَاقِي قِيَاسِيَّةٌ

او وجوبا په څلورو ځايونو كي [حذف كيږي]، لومړى: سماعي دى، لكه: (اِمْرَأً وَنَفْسَهُ، وَانْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ، وَأَهْلًا وَسَهْلًا) او نور پاته قياسي دي

(۲۰۴) پوښتنه: حصر ستا په څلورو ځايونو كي باطل دى؛ ځكه له دې څلورو ځايونو پرته په نورو ځايونو كي هم حذف راځي، لكه: (أخاك أخاك) په صورت د (اغراء) كي، (أي: انصر أخاك)، يا (الزم أخاك) او دا ډول په صورت د مدح كي، لكه: (الحمد لله الحميد، أي: أعني الحميد) او همدا ډول په صورت د ذم كي، لكه: (أعوذ بالله مِن الشّيطان الرّجيم، أي: أعني الرّجيم) او همدا ډول په صورت د ترحم كي، لكه: (مررت بزيد المسكين، أي: أعني المسكين)؛ نو له دې څلورو صورتونو پرته نور ځايونه هم موجود دي؟

جواب: (أربع مواضع) چي ويل كيږي؛ نو له وجي د كثرت څخه او نه د حصر له وجي څخه اه!.

تشريح: حذف وجوبي په دوه ډوله دى: ۱- سماعي. ۲- قياسي. د سماعي لپاره به (سد مسد) نه وي او د قياسي حذف لپاره قائم مقام او (سد مسد) وي؛ نو سماعي يې مقدم كړى په قياسي باندي له وجي د قلت څخه؛ ځكه قليل مقدم وي په كثير باندي.

(۲۰۵) پوښتنه: (ونفسه) به خالي نه وي، يا به تاكيد وي د (امرأ) او يا به عطف وي په ضمير د (اترك)؛ نو هر يو واحد نه صحيح كيږي؛ ځكه فصل راځي په مينځ د موكَد او موكِد كي په واو سره او هر چي عطف دی - دا هم نه صحيح كيږي؛ ځكه په ضمير مرفوع متصل باندي عطف هله روا دی چي كله د هغه تاكيد په ضمير مرفوع منفصل سره راغلی وي او دلته داسي نه دئ؟

جواب: دواړه احتمالين صحيح دي او هر چي تاكيد دی؛ نو دا روا دی او فصل په واوسره نه دئ راغلی، بلكي دا واو په معنا دمع سره راغلی (أي: اترك امرأ مع نفسه) او يا دا چي فصل روا دی؛ ځكه چي په قرآن كريم كي يې ذكر راغلی دی: ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ۝﴾ [التكاثر ۳-۴].

نو دويم احتمال هم صحيح دی او دلته تاكيد په منفصل سره راغلی دی، تقديرا لكه: (أي: اترك امرأ هو ونفسه)، يا ﴿... انْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ ...﴾ [النساء: ۱۷۱] او دا بل مثال دی چي دلته (خيرا) مفعول به دی او حذف د عامل ناصبه ځني سوی دی چي (اقصدوا) دی (أي: اقصدوا خيرا لكُم!).

(۲۰۶) پوښتنه: عامل د ده؛ خو ذكر دی چي (وانتهوا) دی؟

جواب: (وانتهوا) عامل ناصبه د (خيرا) لپاره نه صحيح كيږي؛ ځكه چي بيا فساد د معنا راځي او معنا به داسي وګرځي چي ځانونه تاسي وساتئ له خير څخه چي هغه توحيد دی؛ نو معلومه سوه عامل ناصبه د (خيرا) محذوف دی چي هغه (واقصُدُوا) دی، يعني: (انتهوا يا أيها النصارى عن التثليث واقصدوا خيرا لكم، وهو التوحيد).

فايده: (أهلا وسهلا)؛ دا بل مثال دی (أهلا) مفعول به دی او عامل ناصبه د ده حذف دی په حذف وجوبي سماعي سره؛ ځكه عرب له دې سره فعل نه ذكر كوي چي اصل عبارت يې (أتيت أهلا) راځي.

د (أهلا) لپاره دوې معناوي دي: ۱- قرابت او (أقارب). ۲- (تعمير) او عمارت او هر كله چي په معنا د قرابت او (أقارب) سره سي؛ نو مفعول به كېدل يې صحيح دي، يعني: (أتيت الأقارب لا الأجانب) او هر كله چي په معنا د (تعمير) او عمارت سره سي؛ نو دا به هله مفعول به سي چي په معنا د (مبني للمفعول) سي او صفت د موصوف محذوفه سي چي (مكانا) دي؛ نو اصل عبارت به داسي سي: (أتيت مكانا ما هو لا أو سهلا) او (سهلا) هغه ځمكي ته وايي چي اواره وي او د دې په مقابل كي (حزنا) دی چي سختي ځمكي ته وايي؛ نو د دې لپاره عامل ناصبه (وطئت) دي (أي: وطئت سهلا مِن البلاد لا حزنا).

په (خيرا لكم) او (أهلا وسهلا) **كي د نحاتو د اختلاف حل**: په مثال د (خيرا لكم) كي د نحاتو اختلاف دی او په دې كي څلور مذهبونه دي: ۱- سيبويه. ۲- امام كسائي. ۳- فراء. ۴- او ځيني كوفيان.

۱- سيبويه وايي: مفعول به د عامل د ده حذف دی.

۲- امام کسائي وايي : چې دا مفعول به نه دی، بلکې خبر د فعل ناقص دی چې (يكن) دی ؛ نو اسم د فعل ناقص او فعل ناقص دواړه حذف دي او تقدير د عبارت د ده په نېز داسې دی : (انتهوا عن التثليث ؛ يكن الانتهاء خيرا لكم) .

۳- فراء وايي : دا (خيرا) صفت د مفعول مطلق محذوفه دی چې انتهاء دی او تقدير د عبارت د ده په نېز داسې دی : (انتهوا عن التثليث انتهاء خيرا لكم) .

۴- کوفيان وايي : (خيرا) حال دی له فاعل (انتهوا) څخه او تقدير د عبارت داسې دی : (انتهوا عن التثليث حال كونكم قاصدين للخير) ؛ نو دلته مصنف مذهب د سيبويه مختاره کړی دی .

او بل مثال چې (أهلا وسهلا) دی ؛ په دې کې هم د نحاتو اختلاف دی :

۱- جمهور نحات وايي : دواړه مفعول به دي او فعل د دوی حذف دی .

۲- او امام مبرد وايي : دواړه مفعول مطلق دي او فعل د دوی حذف دی چې (أهلت أهلا وسهلت سهلا) دی ؛ نو مصنف رحمة الله عليه مذهب د جمهورو نحاتو غوره کړی دی .

اَلثَّانِيْ : اَلتَّحْذِيْرُ وَهُوَ مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِيْرِ "اِتَّقِ" تَحْذِيْرًا مِمَّا بَعْدَهُ، نَحْوُ : (إِيَّاكَ وَالْأَسَدَ)، أَصْلُهُ "اِتَّقِكَ وَالْأَسَدَ"، أَوْ ذُكِرَ الْمُحَذَّرُ مِنْهُ مُكَرَّرًا، نَحْوُ : (الطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ)

دويم دول : تحذير او دا مفعول په تقدير د "اِتَّقِ" سره دی له وجې د تحذير د هغه چې تر ده وروسته دی. لکه : (إِيَّاكَ وَالْأَسَدَ) چې اصل يې "اِتَّقِكَ وَالْأَسَدَ" دی، يا محذر منه مکرر سوی وي، لکه : (الطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ)

تشريح : دويم له هغو (مواضع أربع) ؤ څخه چې حذف د عامل ناصبه د مفعول به پکې راځي له وجې د وجود له قرينې او (سد مسد) څخه په حذف وجوبي قياسي سره – هغه موضع د تحذير دی او هر کله چې مصنف فارغ سو د بيان له هغه مواضع سماعيه ؤ څخه چې عامل ناصبه د مفعول به پکې کېدای سي په حذف وجوبي سماعي سره ؛ نو شروع يې وکړه په مواضع د حذف وجوبي قياسي سره او دا درې مواضع دي : ۱- تحذير . ۲- (ما أضمر عامله) . ۳- (مناد) ؛ نو دويم په (مواضع أربع) ؤ کې او اول په (مواضع ثلاث) ؤ کې تحذير دی .

او تحذير په لغت کې (تخويف عن الشيء) او (تبعيده عنه) ته وايي او په اصطلاح کې (هو معمول بتقدير اتّق) ته وايي او دا هغه اسم دی چې منصوب واقع سوی وي په (اتّق) سره چې هغه مقدر وي .

(۲۰۷) پوښتنه : ضمير د (اتّق) هم معمول د (اتّق) دی او هغه ؛ خو تحذير نه دی ؟

جواب : مراد په معمول سره معمول د نصب دی او ضمير د (اتّق) معمول د رفع دی .

(۲۰۸) پوښتنه: تقدير به څنګه عمل کوي؛ ځکه دی؛ خو عمل نه سي کولای؟

جواب: دلته په عبارت کي (قلب) دی او هغه معمول په (اتّق مقدرا) سره دی.

وَذِكْرَ الْمُحَذَّرِ مِنْهُ مُكَرَّرًا

او ذکر کړی يې دی محذر منه مکرر

(۲۰۹) پوښتنه: (ذكر المحذّر منه) جمله ده او (تحذيرا) مفرد دی؛ نو څنګه عطف صحيح سو؟

جواب: په جانب د معطوف عليه کي (حذرّيا) ذکر مقدر دی او تقدير داسي دی: (حُذِّر تحذيرا)، يا (ذكر لك تحذيرا).

(۲۱۰) پوښتنه: دا عطف هم صحيح نه دی؛ ځکه په جانب د معطوف عليه کي ضمير راجع دی معمول ته او په جانب د معطوف کي داسي ضمير نسته او حکم د معطوف او معطوف عليه يو وي؟

جواب: په جانب د معطوف کي عائد مقدر دی (أي: أو ذكر المحذّر مِنه مِن نوعه).

دويم جواب: کله کله حکم د معطوف او معطوف عليه جلا جلا وي، لکه: (رُبّ شاة وسلختها)؛ نو دلته دخول د (رُبّ) ممتنع دی په معطوف باندي چي (وسلختها) دی.

دريم جواب: دلته په معطوف کي ضمير ته ضرورت نه دئ راغلی؛ ځکه دلته وضع د اسم ظاهر راغلې ده په ځای د ضمير باندي اه!.

(۲۱۱) پوښتنه: په تعريف د تحذير کي تا لفظ د (أو) راوړی دی او دا راځي د تشکيک (شک کېدلو) لپاره؛ نو دا ممتنع دی په تعريف کي؟

جواب: دلته (أو) د تنويع (نوع کولو) لپاره دی، نه د تشکيک لپاره.

د (تحذير) او (محذر مِنه) **په هکله تفصيل:** زده کړه دا خبره! چي تحذير کله (محذر) وي؛ نو شرط په دې کي ذکر د (محذر مِنه) دی؛ لپاره د بيدارۍ او تنبيه د مخاطب او چي کله تحذير (محذر مِنه) وي؛ نو شرط په دې کي تکرار د (محذر مِنه) دی، بيا چي تحذير (محذر) وي؛ نو (محذر مِنه) به يا اسم صريحي وي او يا به اسم تاويلي وي، که اسم صريحي وي؛ نو بيا به خالي نه وي يا به مذکور وي په واو سره او يا به مذکور وي په (من) سره او که تاويلي وي؛ نو بيا به خالي نه وي يا به مذکور وي په واو سره او يا په (من) سره او يا به په تقدير د (من) سره وي.

لکه: (إيّاك والأسد)؛ دا په اصل کي (اتّق نفسك مِن الأسد والأسد مِن نفسك) وو؛ نو د معطوف عليه له وجي (مِن نفسك) حذف سو او اکتفاء وسوه په هغه اسد باندي چي په جانب د معطوف کي ذکر دی او تقدير د عبارت داسي سو (اتّق نفسك والأسد)، بيا (اتّق) حذف سو له وجي د تنګوالي د مقامه؛ نو (نفسك والأسد) پاته سو، بيا (نفس) حذف سو له وجي د خفته؛ ځکه دا لپاره د فصل راوړل

سوی وو په ضمیر د فاعل او د مفعول کې او هر کله چې (اتق) حذف سو ؛ نو (نفس) هم حذف سو او (ك والأسد) پاته سو، بیا په ځای د منصوب متصل ضمیر منصوب منفصل راوړل سو ؛ نو (إياك والأسد) سو او دا مثال د هغه دی چې تحذیر پکې (محذر) وي او (محذر منه) اسم صریحي وي او مذکور وي په واو سره .

او (الطّريق الطّريق) ؛ دا مثال د هغه دی چې تحذير (محذر منه) وي او مکرر وي او دا په اصل کې (اتق الطّريق الطّريق) دی ؛ نو دلته فعل د (اتق) حذف سوی دی له وجې د تنګوالي د مقامه او (الطّريق الطّريق) پاته سواه !.

او له دې قبیله (الجدار الجدار) او (الصبي الصبي) هم دی .

الثَّالِثُ : مَا أُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلَى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ بَعْدَهُ فِعْلٌ أَوْ شِبْهُهُ يَشْتَغِلُ ذٰلِكَ الفِعْلُ عَنْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ بِضَمِيْرِهِ، أَوْ مُتَعَلِّقِهِ بِحَيْثُ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ، أَوْ مُنَاسِبُهُ ؛ لَنَصَبَهُ. نَحْوُ : (زَيْدًا ضَرَبْتُهُ) ؛ فَإِنَّ (زَيْدًا) مَنْصُوبٌ بِفِعْلٍ مَّحْذُوفٍ مُضْمَرٍ ، وَهُوَ (ضَرَبْتُ) يُفَسِّرُهُ الفِعْلُ المَذْكُوْرُ بَعْدَهُ، وَهُوَ (ضَرَبْتُهُ)

درییم ډول : هغه دی چې ضمیر ګرځېدلی وي عامل د ده په شرط د تفسیر او دا هر هغه اسم دی چې وروسته یې فعل، یا شبه فعل وي کوم مشغول کوي دغه فعل له دغه اسم څخه په خپل ضمیر باندې، یا په خپل متعلق باندې په داسې شان سره که مسلط سي پر ده هغه، یا یې مناسب [ورسره ورته] وي ؛ نو نصب ورکوي، لکه : (زَيْدًا ضَرَبْتُهُ) ؛ ځکه (زَيْدًا) منصوب دی په فعل محذوف مضمر سره او هغه (ضَرَبْتُ) دی چې تفسیر کوي د ده فعل مذکور وروسته تر ده او هغه (ضَرَبْتُهُ) دی

تشریح : دریم ځای له (مواضع أربع) ؤ څخه چې عامل ناصبه پکې د مفعول به حذف کیږي په حذف وجوبي قیاسي سره ؛ هغه (ما أضمر عامله على شريطة التفسير) دی او په عبارت د مصنف کې لفظ د (شریطة) ذکر دی چې د دې دوه مراده دي : ۱- مراد له (شريطة) څخه شرط دی . ۲- په معنا د طرز او طریقې سره دی، اوس که اوله معنی مراد سي ؛ نو اضافت د (شریطة) ؤتفسیر ته بیاني دی ؛ نو معنا دا سوه چې حذف د فعل د مفعول به کیږي په دې شرط سره چې وروسته یې تفسیر موجود وي .

او که دویمه معنا مراده سي چې حذف د فعل د مفعول به کولای سي په طرز او طریقې د تفسیر د دې فعل سره ؛ نو بیا په وروسته لفظ باندې په دې معنا سره اضافت د (شریطة) وتفسیر ته لازمي دی .

(۲۱۲) پوښتنه : دا حذف د فعل ولې واجب دئ ؟

جواب : دلته حذف د فعل ؛ ځکه واجب دی چې اجتماع رانه سي په مینځ د تفسیر او مفسر کې .

(۲۱۳) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په دې ترکیب چې وایي : (جاءني رَجل، أي : زيد) ؛ نو دلته جمع راغلې ده په مفسر او تفسیر کې چې مفسر (رَجل) دی او (زيد) تفسیر دی او (أي) حرف تفسیر دی ؟

جواب : جمع هله جايز نه ده چي (مفسرنا) سوې وي له حذف څخه او دلته (مفسرنا) سوى دى له ابهام څخه او تعريف د (ما اضمر عامله) : خو عبارت دى له هغه اسم څخه چي وروسته يې فعل او يا شبه فعل وي چي مشغول به وي دا وروسته فعل له عمل کولو څخه په دې مفعول به کي په دې سبب چي يا به يې عمل کړی وي په متعلق د دې فعل کي او يا به داسې فعل وي که چيري دا فعل او يا د دې مناسب بل فعل مسلط کړل سي په دې اسم باندي : نو دې اسم ته به ضرور نصب ورکوي، لکه اول مثال يې دا دئ : (زيدا ضربته) : نو دلته (زيدا) منصوب دى په فعل محذوفه سره چي (ضربت) دى او د دې تفسير په وروسته کي (ضربت) دى، پس دا (ضربت) بعينه که په (زيدا) مسلط سي : نو (زيدا) ته نصب ورکوي.

دويم مثال يې دا دئ : چي نصب بعينه وروسته فعل نه ورکوي، بلکي د ده مناسب چي له ده سره په معنا کي برابر وي هغه مسلط سي : نو زيد ته نصب ورکوي، لکه : (زيدا مررت به) : نو دلته د (مررت) مناسب (جاوزت) دى او تقدير د عبارت دا ډول سو : (جاوزت زيدا مررت به).

او دريم مثال يې دا دئ : چي د فعل لازم مسلط سي، لکه د ضربت لازم (أهنت) دى : نو تقدير د عبارت دا ډول سو : (أهنت زيدا، ضربت غلامه).

او مثال د شبه فعل، لکه : (زيدا أنت ضاربه، أي : أنت ضارب زيدا).

وَلِهَذَا الْبَابِ فُرُوعٌ كَثِيرَةٌ

او دې باب لره ډېري فروع دي

څه تشريح : هغه فروع پينځه صورتونه جوړيږي : ۱- اختيار د رفع سره له اختياره د نصب. ۲- اختيار د نصب سره له جواز د رفع. ۳- وجوب د رفع. ۴- وجوب د نصب. ۵- او مساوات د رفع او نصب او د زيات تفصيل لپاره کافيه يې د ابن حاجب صاحب ته مراجعه وکړه!.

الرَّابِعُ : الْمُنَادَى، وَهُوَ اِسْمٌ مَدْعُوٌّ بِحَرْفِ النِّدَاءِ لَفْظًا، نَحْوُ : (يَا عَبْدَ اللهِ !)، أَيْ : أَدْعُو عَبْدَ اللهِ، وَحَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ "أَدْعُو"

څلورم : منادى ده او دا هر هغه اسم دى چي رابلل سوى (مسمى) د ده په حرف د ندا لفظي سره وي، لکه : (يَا عَبْدَ الله !)، يعني : زه عبد الله راغواړم او حرف د ندا قائم مقام د (أدعُو) دى

د منادى تعريف : څلورم له (مواضع أربع) څخه منادى ده او دا هغه اسم دى چي رابلل سوى وي مسمى د ده په حرف نداء لفظي سره، لکه : (يا عبد الله !) او يا په حرف ندا تقديري سره، لکه :

﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ﴾ [يوسف ۲۹].

فائده : په تعریف د منادی کې اسم په منزله د جنس دی چې معرف او غیر معرف ټولو لره شامل دی او (مدعو بحرف النّداء) د فصل په منزله دی چې په دې سره هغه اسم خارج سو کوم چې په حرف د ندا باندې نه وي رابلل سوی، لکه : (أدعو عبد الله) .

(۲۱۴) پوښتنه : مراد له منادی څخه منادی حقیقي په وي، یعني هغه به وي چې صلاحیت د آواز کولو پکې وي : نو له دې څخه ندا په (یا سماء ! یا أرض ! یا جبال !) خارج سو : ځکه چې په دوی کې دا صلاحیت نسته چې آواز ورته وکړل سي او دوی یې واوري سره له دې چې منادی واقع ده ؟

جواب : منادی عامه ده حقیقي وي، که حکمي وي او دا مذکور حکمي منادی ده : ځکه دوی په منزله د هغه چا دي چې په هغوی کې صلاحیت د ندا وي .

نحوي فائده : حذف د فعل په منادی کې واجب دی له دوو وجو څخه : اول دا چې منادی (کثیر الاستعمال) ده : نو مناسب ورسره تخفیف دی په حذف د فعل سره . او دویم دا چې په ځای د دې فعل باندې حرف ندا قائمه ده او که چیرې فعل حذف نه سي : نو جمع به لازم سي په مینځ د نائب او منوب کې، مګر په دې حذف د فعل کې اختلاف د نحاتو سته : سیبویه وایي : چې عامل ناصبه د منادی فعل محذوف دی او حرف ندا د هغه قائم مقامه ده . او مبرد وایي : چې عامل ناصبه په منادی کې حرف نداء ده، نه فعل : نو دلته مصنف رحمه الله علیه مذهب د سیبویه مختاره کړی دی .

وَحُرُوْفُ النِّدَاءِ خَمْسَةٌ : يَا. وَأَيَا. وَهَيَا. وَأَيْ. وَالْهَمْزَةُ الْمَفْتُوْحَةُ . وَقَدْ يُحْذَفُ حَرْفُ النِّدَاءِ لَفْظًا .
نَحْوُ : ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ...﴾ [يوسف: ٢٩]

او حروف د ندا پینځه دي : (یا، أیا، هَیا، أيْ) او همزه مفتوحه . او په تحقیق سره (کله کله) حذفیږي حرف ندا لفظا. لکه : ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ...﴾

تشریح : کله کله حرف نداء حذفیږي چې قرینه وي، لکه : (يُوسُفُ إلخ) : ځکه دا په اصل کې (یا یوسف إلخ) دی او دلته قرینه د مقام ده د حذف د حرف نداء لپاره. ولې که حرف ندا دلته مقدره نه سي : نو یوسف به مبتدا سي او (أَعْرِضْ عَنْ هَذَا) به خبر سي حالانکې (أَعْرِضْ) صیغه د امر د انشاء ده او دا خبر بېله تاویله نه واقع کیږي، له دې وجې (يُوسُفُ) منادی په حذف د حرف ندا سره دی او (أَعْرِضْ عَنْ هَذَا) جواب د ندا دی. مګر د حذف د حرف نداء لپاره څو شرطونه دي :

۱- منادی به اسم جنس نه وي : ځکه ندا د اسم جنس (قلیل الاستعمال) ده په نسبت سره ندا د عَلَم ته او که چیرې له ده څخه حرف ندا حذف سي : نو ذهن (فکر) سبقت نه کوي دې خبرې ته چې دا منادی ده، لکه : (یا رَجُل ! یا رَجُلا !) .

۲- منادی به اسم اشاره نه وي، لکه : (یا هذا) : ځکه اشاره په شان د اسم جنس ده .

۳- مستغاث به نه وي : ځکه هلته مقصود کښول د آواز وي او حذف منافي دی د کښولو له آواز سره .

۴- مندوب به نه وي ؛ ځکه په دې کې هم کشول د آواز مقصود وي.

حرف ندا په کومو ځايونو کې حذفيږي؟ : حرف د ندا په پينځو ځايونو کې حذفيږي، لکه :

۱- په کوم ځاى کې چې (عَلَم) راغلى وي، لکه : (يا الله !) ؛ په دې کې (اللهم) ويل کيږي په عوض د ميم له ياء څخه.

۲- په کوم ځاى کې چې (عَلَم) بېله عوضه د ياء راغلى وي، لکه : ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا ...﴾.

۳- په کوم ځاى کې چې (أيُّ) موصوف راغلى وي په (معرف باللام)، لکه : (أيها الرّجل).

۴- په کوم ځاى کې چې مضاف مطلق معرفې ته راغلى وي، لکه : (رَبَّنَا آتِنَا)، يا (غُلَامُ زَيْدٍ)، يا (افْعَلْ كَذَا).

۵- او پينځم دا چې په کوم ځاى کې موصولات راغلي وي ؛ نو هلته حرف د ندا حذفيږي، لکه : (مَن لا يزال محسنا أحسن إليّ) او دا په اصل کې داسې دى : (أي : يا مَن لا يزال مُحسنا أحسن إليّ).

فايده: د مضمراتو لپاره ندا شاذ ده، يعني : شاذ او نادرو ضمايرو ته ندا نه کيږي.

وَاعْلَمْ ! أَنَّ الْمُنَادَى عَلَى أَقْسَامٍ : فَإِنْ كَانَ مُفْرَدًا مَعْرِفَةً ؛ يُبْنَى عَلَى عَلامَةِ الرَّفْعِ. كَالضَّمَّةِ وَنَحْوِهَا نَحْوُ : (يَا زَيْدُ ! وَيَا رَجُلُ ! وَيَا زَيْدَانِ ! وَيَا زَيْدُونَ !)

او پوه سه ! په دې چې منادى پر پينځه ډوله دى : که چيرې مفرد معرفه وه ؛ نو بنا کيږي پر علامه د رفع، لکه ضمه (پيښ) او داسې د دې په شان لکه : (يَا زَيْدُ ! وَيَا رَجُلُ ! وَيَا زَيْدَانِ ! وَيَا زَيْدُونَ !)

تشريح : هر کله چې مصنف رحمه الله عليه فارغ سو له تعريف څخه د ندا او منادى ؛ نو شروع يې وکړه په اقسامو د منادى کې او داسې يې وويل : (واعلم أنّ المنادى إلخ) او د منادى شپږ ډولونه مصنف بيان کړي دي : ۱- اول ډول منادى مفرد معرفه ده او دلته دوه قيده دي : ۱- مفرد. ۲- معرفه.

او له مفرد څخه مراد دلته مقابل د مضاف او شبه مضاف دى چې تثنيه او جمع پکې داخل دي او د مفرد ډولونه په تفصيل د (الكلمة لفظ وُضِع لمعنى مفرد) کې ذکر سوي دي چې اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته.

او بل قيد معرفه ده : معرفه عامه ده چې مخکې د دخول له حرف ندا څخه معرفه وي، لکه : (يا زيد !) او يا وروسته تر دخول له حرف ندا څخه معرفه سوې وي، لکه : (يا رَجل !).

او حکم او اعراب د اول ډول دا دئ : چې مبني به وي په علامه د رفع سره – مبني به ؛ ځکه وي چې منادى واقع ده په ځاى د کاف ضميري باندې او کاف ضميري مشابه دى له کاف حرفي خطابي سره او هغه مبني دى ؛ نو دا به هم مبني وي او مرفوع به ؛ ځکه وي چې د منادى او د معرب فرق راسي.

او يا داچي هغه مجرور، يا منصوب وي، لکه : (يا زيد ! يا رَجُل ! يا زيدان ! يا زيدون) ؛ نو مصنف صاحب (يبني على علامة الرّفع) اوويله ؛ ځکه چي ضمه لفظي او تقديري او دا ډول الف او واو ټول پکي داخل سي .

وَيُخْفَضُ بِلَامِ الْإِسْتِغَاثَةِ. نَحْوُ : (يَالَزَيْدٍ !)

او مجرور کيږي (منادى) په لام د استغاثې سره، لکه : (يا لَزَيْدٍ !)

تشريح : دويم ډول له منادى څخه منادى (مستغاثة باللام) ده او لام استغاثه دې ته وايي چي د استغاثې په وخت کي په مستغاث باندي داخل وي او علامه د ده دا ده چي همېشه به مفتوح وي او د مستغاث لام به مکسور وي ؛ لپاره د فرق، لکه : (يَا لزيدٍ للمظلوم !)، يا لکه : (يا لله للمسلمين !)، يا لکه : (يا للمُهاجرين !) .

(۲۱۵) پوښتنه : په دې ځای کي بايد عکس وسي ؟

جواب : منادى مستغاثه په ځای د کاف ضميري واقع ده او په ضمائرو باندي چي لام داخل وي ؛ هغه مفتوح وي، لکه : (له، لك، لكما) .

او حکم او اعراب د دويم ډول دا دئ ؛ چي معرب به وي ؛ ځکه لام استغاثه لام جاره دى او دا له خواصو معظمه مکبره ؤ څخه د اسم دى چي په دې سره جهت د اسميت قوي کيږي او جهت د مشابهت ضعيف کيږي ؛ نو له دې وجي منادى مستغاثه به معربه او مجروره وي ؛ ځکه عمل د حرف جر په مدخول خپل کي د جر وي .

وَيُفْتَحُ بِإِلْحَاقِ أَلِفِهَا. نَحْوُ : (يَا زَيْدَاهُ !)

او مفتوح کيږي (منادى) په الف د استغاثې سره، لکه : (يَا زَيْدَاهُ !)

تشريح : دريم ډول له منادى څخه منادى (مستغاثة بالألف) ده ؛ نو حکم او اعراب د دريم ډول مبني بر فتحه به وي ؛ ځکه په آخر د دې کي الف دى چي دا تقاضا د فتحې د مخکي کوي ؛ نو له دې وجي به مبني بر فتحه وي، لکه څرنګه چي په اول ډول کي دا خبره تېر سوه .

وَيُنْصَبُ إِنْ كَانَ مُضَافًا. نَحْوُ : (يَا عَبْدَ اللهِ !)، أَوْ مُشَابِهًا لِلْمُضَافِ. نَحْوُ : (يَا طَالِعًا جَبَلًا !)، أَوْ نَكِرَةً غَيْرَ مُعَيَّنَةٍ كَقَوْلِ الْأَعْمَى : (يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ !)

او نصب کيږي که چيري مضاف وي، لکه : (يَا عَبْدَ الله !)، يا مشابه وي لپاره د مضاف، لکه : (يَا طَالِعًا جَبَلًا !) او يا نکره غير معينه وي، لکه : (يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ !)

تشريح : پوه سه ! په دې چې څلورم ډول د منادى : منادى مضاف ده، لکه : (يَا عبدَ الله !)، پينځم ډول د منادى : منادى شبه مضاف ده، لکه : (يا طالعا جبلًا !) او شپږم ډول د منادى : منادى نكره غير معينه ده، لکه : (يا رَجُلًا خُذ بيدي !) او حکم د دې دريو ډولونو دا دئ : چې معرب منصوب به وي .

معرب به : ځکه وي چې اضافت او شبه اضافت د خواصو معظمو له اسم څخه دي او منصوب به ؛ ځکه وي چې منادى په حقيقت کې مفعول به ده او د مفعول به اعراب نصب وي .

او هر چې منادى نكره ده ؛ نو ده مشابهت له كاف ضميري سره نسته ؛ ځکه كاف ضميري معرفه ده او نكره په ځاى د معرفه نه واقع کيږي، له دې وجې دا ډول د منادى به معرب وي .

وَإِنْ كَانَ مُعَرَّفًا بِاللَّامِ ؛ قِيلَ : (يَا أَيُّهَا الرَّجُلُ ! وَيَا أَيَّتُهَا الْمَرْأَةُ !)

او كه چيرې (منادى) معرف په لام سره وه : نو داسې به ويل كيږي : (يَا أَيُّهَا الرَّجُلُ !) په مذكر كې او (وَيَا أَيَّتُهَا الْمَرْأَةُ !) په مؤنث كې

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه قاعده بيانوي چې هر كله يو اسم (معرف باللام) وي او منادى واقع كيږي ؛ نو په مينځ د حرف نداء او (معرف باللام) كې به (أيها) په مذكر كې او (أيتها) په مؤنث كې راوړل كيږي .

(۲۱۶) پوښتنه : د منادى او حرف ندا په مينځ كې به (أيها) او (أيتها) ولې راوړل كيږي ؟

جواب : حرف ندا په (معرف باللام) نه داخليږي ؛ ځکه لازميږي جمع د دوو آلاتو د تعريف : يو حرف ندا او بل الف لام چې دواړه په يو اسم كې راځي او دا منع دي اه ! .

(۲۱۷) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه ده په (يا الله !) باندې او دلته حرف ندا بېله واسطې راغلى دى چې (أيها) دې په لفظ د الله داخل سوى وي او دلته جمع راځي د (التين) د تعريف ؟

جواب : لفظ د (الله) له دې قاعدې څخه مستثنى دى او دا له خصوصياتو څخه د لفظ د الله دى او د زيات تفصيل لپاره د نحو نورو غټو كتابونو ته مراجعه وكړه ! لكه : (كتاب سيبويه)، (المفصل) د زمخشري او داسې نور .

وَيَجُوزُ تَرْخِيمُ الْمُنَادَى، وَهُوَ حَذْفٌ فِي آخِرِهِ لِلتَّخْفِيفِ كَمَا تَقُولُ فِي مَالِكَ : (يَا مَالُ !)، وَفِي مَنْصُورٍ : (يَا مَنْصُ !)، وَفِي عُثْمَانَ : (يَا عُثْمَ !)

او روا دى ترخيم د منادى او هغه حذفېدل دي په آخر كې يې لپاره د تخفيف لكه څرنگه چې ته وايې په مالك كې : (يَا مَالُ !) او په منصور كې وايې : (يَا مَنْصُ !) او په عثمان كې وايې : (يَا عُثْمَ !)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه د خصائصو له منادى څخه يو خاصيت ذكركوي چې (ترخيم المنادى) ورته وايي او ترخيم په لغت كې نرمي كولو ته وايي او په اصطلاح كې (وهو حذف في آخر المنادى ...) ته وايي.

د ترخيم دولونه: ترخيم په دوه ډوله دى: ۱- (ترخيم في المنادى). ۲- (ترخيم في غير المنادى).

په منادى كې ترخيم بېله ضرورته هم جايز دى او په (غير المنادى) كې فقط د ضرورت شعري له وجې جايز دى او حذف د منادى چې كيږي يا به حذف د حرف واحد وي، لكه په (يا حارث!) كې (يا حار) او يا به حذف د دوو حروفو وي هغه وخت چې كله د منادى په آخر كې حرف صحيح او مخكې حرف يې مده وي.

لكه په (يا منصور!) كې (يا منص!) ويل كيږي او يا د منادى په آخر كې دوه حرفه وي چې دواړه زائد وي، لكه (يا عثمان!) چې (يا عثم!) او (يا فاطمة!) چې (يا فاطم!) ويل كيږي.

وَيَجُوزُ فِيْ آخِرِ الْمُنَادِ الْمُرَخَّمِ: الضَّمَّةُ، وَالْحَرَكَةُ الْأَصْلِيَّةُ كَمَا تَقُولُ فِي (يـ حَارِثُ! يَا حَارُ! وَيَا حَارِ!)

او روا دي په آخر كې د منادى مرخم: ضمه او حركت اصلي لكه ته چې وايې په (يَا حَارِثُ!) كې (يَا حَارُ!) او (يَا حَارِ!)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه حكم د منادى مرخم بيانوي چې په منادى مرخم باندې دوه حركتونه ويل جايز دي: (الضمة) او (الحركة الأصلية).

اول دا چې مبني برضمه به وي؛ ځكه منادى مرخم مستقله منادى ده او حرف به محذوف جوړيږي.

او دويم دا چې حركت اصليه به له دې وجې څخه جائز وي چې ګرځېدل د محذوف حرف به لكه (ملفوظ) داسې وګڼل سي په (يا حارث!) كې.

او كه مبني برضمه سي: نو (يا حارُ!) به وويل سي او كه اعتبار حركت اصليه لره وركول سي: نو (يا حارِ!) به وويل سي.

وَاعْلَمْ! أَنَّ "يَا" مِنْ حُرُوفِ النِّدَاءِ، وَقَدْ تُسْتَعْمَلُ فِيْ الْمَنْدُوبِ أَيْضًا، وَهُوَ الْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ بِـ "يَا"، أَوْ "وَا" كَمَا يُقَالُ: (يَا زَيْدَاهُ! وَوَازَيْدَاهُ!)؛ فَـ "وَا" مُخْتَصَّةٌ بِالْمَنْدُوبِ. وَ"يَا" مُشْتَرَكَةٌ بَيْنَ النِّدَاءِ وَالْمَنْدُوبِ. وَحُكْمُهُ: فِيْ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ مِثْلَ حُكْمِ الْمُنَادَى

او پوه سه! په دې چې "يَا" له حروف ندا څخه دى او په تحقيق سره دا ډول استعماليږي په مندوب كې هم او دا (متفجع عليه) دى په "يَا" سره. يا "وَا" سره لكه څرنګه چې ويل كيږي: (يَا زَيْدَاهُ!) او (وَا زَيْدَاهُ!)؛ نو "وَا" خاص دى په مندوب سره او "يَا" مشترك دى په مينځ د ندا او مندوب كې. او حكم يې دا دئ: په اعراب او بنا كې لكه حكم د منادى

د مندوب لغوي او اصطلاحي معنا : مندوب د اسم مفعول صيغه ده او په لغت کي مندوب هغه (ميت) ته ويل کيږي چي د هغه نېکياني او خوبياني بيانيږي او ژړا وربادي کيږي ؛ د دې لپاره چي اورېدنکي د ده مرگ يوه غټه پېښه وګڼي او ژړېدونکی معذور وګڼي.

او مندوب په اصطلاح کي : (هو المتفجع عليه) ته وايي او (متفجع عليه) په دوه ډوله دی : ۱- (وجودي) . ۲- او (عدمي)، د (وجودي) مثال لکه : (واحسرتاه ! وامصيبتاه !)، يعني : د چا په مرگ چي کوم مصيبت او حسرت موجود.سوی وي ؛ په هغه ندبه کيږي او د (عدمي) مثال لکه : (يَا زيدَاهُ ! وا زَيدَاهُ !)، يعني : د زيد په مرگ او په عدم (نيستوالي) باندي اظهار د افسوس کيږي.

او فرق د واو او ياء دا دئ : چي (واو) خاص دی په مندوب پوري او په منادی کي نه کارول کيږي او (يا) عامه ده په منادی او مندوب دواړو کي کارول کيږي.

د مفعول به او منادی په هکله څو قاعدې : ۱- قاعده : کله منادی حذف کيږي په وجود د قرينې سره، لکه : (ألا يا اسجدوا !) ؛ نو دلته منادی محذوفه ده چي (ألا يا قوم ! اسجدوا !) دی او اصل قرينه دخول د حرف ندا دی په فعل باندي.

۲- قاعده : د (غلام، أب، أُم، رَب، صاحب) او دابې نورو الفاظو (تورو) اضافت چي يا د متکلم ته وسي ؛ نو په دې کي څلور وجوه (وجي) جايز دي : (۱) په سکون د (يا) سره ويل کېدای سي، لکه : (يا غُلاميْ ! يا أبيْ ! يا أمّيْ ! يا رَبّيْ ! يا صاحبيْ !).

(۲) حذفېدل د (يا) او بسنه په کسرې سره کېدای سي، لکه : (يا غلامِ ! يا أبِ ! يا أُمِّ ! يا صاحبِ !) . (۳) فتحه و (يا) ته ورکول کېدای سي، لکه : (يا غلاميَ ! يا أبيَ ! يا أميَ ! يا ربّيَ ! يا صاحبيَ !) . (۴) او (يا) په الف سره بدلېدای سي، لکه : (يا غلاما ! يا أبيا ! يا أميا ! يا ربّا ! يا صاحبا !).

۳- قاعده : په (يا أبي !) او (يا أمّي !) کي (يا) په (تا) سره هم بدلېدای سي، لکه : (يا أبتِ ! يا أمتِ !).

۴- قاعده : مفعول به څو ډوله واقع کېدلای سي، لکه : (۱) مفعول به اسم صريح واقع کيږي، لکه : ﴿... وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا۝﴾ [مريم: ۴۹].

(۲) مفعول به ضمير متصل واقع کيږي، لکه : ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ۝﴾ [سبا: ۲۸].

(۳) مفعول به ضمير منفصل واقع کيږي، لکه : ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ۝﴾ [الفاتحة: ۵].

(۴) مفعول به مصدرمؤول واقع کيږي، لکه : ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ...﴾ [البقرة: ۲۶].

(۵) مفعول به جمله واقع کيږي، لکه : ﴿قَالَ إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا۝﴾ [مريم: ۳۰].

۵- قاعده : کله کله حرف ندا حذفيږي، لکه : ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ...﴾ چي په اصل کي (يا يوسف) وو او (السّلام عليك أيّها النّبيّ) په اصل کي (يا أيّها النّبيّ) وو.

۶- قاعده : په هره دعا کې حرف د ندا حذفېدلای سي، لکه : (ربّنا) او (ربّي) په اصل کې (يَا ربّنا) او (يَا ربّي) وو اه !.

۷- قاعده : تر منادی مفرد معرفه که وروسته اسم معطوف واقع سي : نو دا به خالي نه وي، يا به معطوف وي منادی سره له لامه چې په رفع او نصب دواړو سره جايز دي، لکه : ﴿.. يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ..﴾ [سبا: ۱۰] او په رفع سره هم جايز دی، لکه : (وَالطَّيْرُ) او يا به بېله لامه وي، لکه : منادی د (يَا عبدَ الله وأمته).

۸- قاعده : په پينځو ځايو کې د مفعول به حذفېدل جايز نه دي، لکه : (۱) مفعول به به (متعجب مِنه) نه وي، لکه : (ما أحسن زيدًا). (۲) مفعول به به مقصود وي، لکه : (مَن ضربْتَ ؟) په جواب کې د (ضَربتُ زيدا) کې. (۳) مفعول به به مستثنى مفرغ وي، لکه : (ما ضربت إلا زيدا). (۴) د مفعول به عامل به حذف وي، لکه : (خيرا لنا وشرّا لأعدائنا). (۵) مفعول به به له افعال قلوب ځخه مفعول وي، لکه : (حسبني منطلقا).

د مفعول به لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا ...﴾ [يوسف: ۴]. ۲- ﴿زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبْعَثُواْ ...﴾ [التغابن: ۷]. ۳- ﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ ...﴾ [آل عمران: ۲۶]. ۴- ﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ [الأعراف: ۵۹]. ۵- ﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوٓاْ أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ﴾ [الأنعام: ۲۲]. ۶- ﴿يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَٰنَ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا﴾ [مريم: ۴۴]. ۷- ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا وَٱسْتَغْفِرِي لِذَنۢبِكِ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلْخَاطِـِٔينَ﴾ [يوسف: ۲۹].

فَصْلٌ : اَلمَفْعُولُ فِيهِ هُوَ اِسْمٌ مَا وَقَعَ فِيهِ مِنَ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ، وَيُسَمَّى ظَرْفًا :

فصل دی : مفعول فيه دا هغه اسم دی چې واقع سوی وي په هغه کې [فعل د فاعل] له زمان او مکان ځخه [يعني : زمانه وي او که يو ځای وي] او دا بلل کيږي ظرف [هم].

د مفعول فيه تعريف : له مفاعيل خمسه ؤ ځخه درېيم ډول مفعول فيه دی چې تعريف يې همدا اوس د (هداية النّحو) په دې متن کې ذکر سو؛ نو مکررولو ته يې اړتيا نسته.

(۲۱۸) پوښتنه : تعريف د مفعول فيه جامع نه دئ؛ ځکه چې خارج سو له ده ځخه شبه د فعل چې اسم فاعل او داسې نور دي ؟

جواب : دلته مراد له فعل ځخه فعل لغوي دی چې حدث دی او دا ټولو ته شامل دی.

(۲۱۹) پوښتنه : داخل سو په تعريف کې (يوم الجُمعة حسنٌ) چې دا مفعول فيه نه دئ، بلکې ظرف دی ؟

جواب : دلته په تعريف کې قيد د المذکور محذوف دی، يعني فعل د فاعل مذکوره به ورباندې واقع وي چې په دې قيد سره دا ترکيب خارج دی؛ ځکه دلته فعل مذکور نه دی.

(۲۲۰) پوښتنه : (يوم الجمعة صمت فيه) څني خارج سو : نو دلته فعل مذكور په مخكي كي نسته ؟

جواب : دلته فعل محذوف دی چي دا د قبيلې له (ما أُضمِر عامله على شريطة التفسير) څخه دی .

د قيوداتو فايده : اسم په منزله د جنس دی چي معرف او غير معرف ټولو له شامل دی او دا قيد چي (وقع فعل الفاعل فيه) : دا فصل دی چي په دې سره باقي مفاعيل خارج سول .

او (ويُسمّى ظرفا) : دا دويم نوم د مفعول فيه دی او ظرف په دوه ډوله دی : ١- ظرف زمان : كله چي دی په جواب د (متى) كي واقع سي . ٢- او ظرف مكان : كله چي دی په جواب د (أين) كي واقع سي .

وَظُرُوْفُ الزَّمَانِ عَلَى قِسْمَيْنِ : مُبْهَمٌ، وَهُوَ مَا لَا يَكُوْنُ لَهُ حَدٌّ مُعَيَّنٌ كَـ (دَهْرٍ وَحِيْنٍ) . وَمَحْدُوْدٌ، وَهُوَ مَا يَكُوْنُ لَهُ حَدٌّ مُعَيَّنٌ كَـ (يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ وَشَهْرٍ وَسَنَةٍ)، وَكُلُّهَا مَنْصُوْبٌ بِتَقْدِيْرِ فِيْ تَقُوْلُ : (صُمْتُ دَهْرًا وَسَافَرْتُ شَهْرًا)، أَيْ : دَهْرٍ وَشَهْرٍ .

وَظُرُوْفُ الْمَكَانِ كَذٰلِكَ مُبْهَمٌ، وَهُوَ مَنْصُوْبٌ أَيْضًا بِتَقْدِيْرِ فِيْ نَحْوُ : (جَلَسْتُ خَلْفَكَ وَأَمَامَكَ)، وَمَحْدُوْدٌ وَهُوَ مَا لَا يَكُوْنُ مَنْصُوْبًا بِتَقْدِيْرِ فِيْ، بَلْ لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ فِيْ فِيْهِ، نَحْوُ : (جَلَسْتُ فِي الدَّارِ وَفِي السُّوْقِ وَفِي الْمَسْجِدِ)

او ظروف د زمان په دوه ډوله دي : مبهم دی او دا هغه دی چي نه وي ده لره معلومه اندازه، لكه (دَهْرٍ) او (حِيْنٍ) . او بل محدود دی او دا هغه دی چي وي ده لره معلومه اندازه، لكه (يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ وَشَهْرٍ وَسَنَةٍ) او ټوله منصوب دي په تقدير د (فِيْ) سره چي ته به يې وايې: (صُمْتُ دَهْرًا وَسَافَرْتُ شَهْرًا)، يعني : (دَهْرٍ وَشَهْرٍ) .
او ظروف د مكان هم دا ډول مبهم دی او دا هم دغه ډول منصوب دی په تقدير د (فِيْ) سره لكه : (جَلَسْتُ خَلْفَكَ وَأَمَامَكَ) او بل محدود دی او دا هغه دی چي نه وي منصوب په تقدير د (في) سره، بلكي نسته چاره له يادولو څخه د (فِيْ) په ده كي، لكه : (جَلَسْتُ فِي الدَّارِ وَفِي السُّوْقِ وَفِي الْمَسْجِدِ)

تشريح : ظروف زمان په دوه ډوله دي : ١- (محدود)، لكه : (يوم وليل) . ٢- او (مبهم)، لكه : (دهر وحين) .

او ظروف مكان هم په دوه ډوله دي : ١- (محدود)، لكه : (دار، سوق، مسجد، مدرسة) . ٢- او (مبهم)، لكه : (يمين، خلف، أمام، شمال، تحت، فوق) چي دا شپږ سره طرفونه دي .

او پوه سه ! په دې چي ظروف زمان مطلقا تقدير د (في) قبلوي او منصوب به وي، لكه د زمان محدود مثال : (سافرت شهرا) او د زمان مبهم مثال : (صُمت دهرا) او ظروف د مكان مبهم تقدير د (في) قبلوي او منصوب به وي، لكه : (جلست خلفك وأمامك) او ظروف د مكان محدود تقدير د في نه قبلوي، لكه : (جلست في الدّار، وفي المسجد، وفي السّوق) .

د مفعول فيه اختلاف : په کوم مفعول فيه کې چې (في) ملفوظ وي، لکه : (جلست في المسجد) ؛ نو په دې کې دوه مذهبه دي : ۱- مذهب د جمهورو نحاتو. ۲- او مذهب د ابن حاجب او صاحب د (هداية النحو) .

۱- جمهور نحات وايي : دا مفعول به دى په واسطې د حرف جر سره او مفعول فيه نه دى ؛ ځکه مفعول فيه د دوى په نيز هغه دى چې (ما وقع فيه فعل الفاعل) او (في) به پکې مقدره وي چې تقدير د (في) شرط د نصب د مفعول فيه نه دى، بلکې د مفعول فيه لپاره شرط دى، پس هر کله چې (في) په ظرف کې ملفوظه سوه ؛ نو دا به په واسطه د حرف جر سره مفعول به وي .

۲- ابن حاجب او صاحب د (هداية النحو) وايي : چې د مفعول فيه لپاره شرط تقدير د (في) نه دى، بلکې د نصب د مفعول فيه لپاره تقدير د (في) شرط دى، له دې وجې مفعول فيه د دوى په نيز باندې په دوه ډوله دى : اول په تقدير د (في) سره دى او دويم په ذکر د (في) سره دى، که (في) مقدره وي ؛ نو مفعول فيه به منصوب وي او که (في) مذکور وي ؛ نو مفعول فيه به مجرور وي .

د مفعول فيه لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا﴾ [الانسان: ۱۰] . ۲- ﴿.. ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِ ..﴾ [الكهف: ۱۸] . ۳- ﴿.. لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ لِلَّهِ ٱلْوَاحِدِ ٱلْقَهَّارِ﴾ [غافر: ۱۶] . ۴- ﴿... وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ﴾ [يوسف ۷۶] . ۵- ﴿يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ...﴾ [الأعراف: ۳۱] .

اَلْمَفْعُولُ لَهُ، وَهُوَ اِسْمٌ مَا لِأَجْلِهِ يَقَعُ الفِعْلُ المَذْكُورُ قَبْلَهُ، وَيُنْصَبُ بِتَقْدِيرِ اللَّامِ، نَحْوُ : (ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا)، أَيْ : لِلتَّأْدِيبِ، وَ (قَعَدْتُ عَنِ الحَرْبِ جُبْنًا)، أَيْ : لِلْجُبْنِ

مفعول له او دا هغه اسم دى چې د ده له وجې واقع وي فعل کوم ذکر وي مخکې تر ده او منصوب ګرځي په تقدير د لام سره، لکه : (ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا)، أَيْ : لِلتَّأْدِيبِ، وَ (قَعَدْتُ عَنِ الحَرْبِ جُبْنًا)، أَيْ : لِلْجُبْنِ

د مفعول له تعريف : څلورم ډول له مفاعيلو خمسه ؤ څخه مفعول له دى، کوم چې همدا اوس يې په متن کې تعريف تېر سو ؛ نو مکررولو ته يې اړتيا نسته .

(۲۲۱) پوښتنه : (تأديب) چې واقع سي په جواب د سوال د سائل کې چې (لم ضربت زيدا ؟) دى ؛ نو دا (تأديبا) مفعول له دى او مخکې يې فعل نسته .

جواب : فعل مذکور عام دى حقيقتا وي او که حکما وي ؛ نو دلته مراد حکما دى چې اصل عبارت داسې دى : (ضربته تأديبا) .

څه تشريح : (وينصب بتقدير اللّام) ؛ شرط د نصب د مفعول له تقدير د لام دى، ولې که مذکور سي ؛ نو مفعول له به مجرور سي ؛ نو په دې کې هم اختلاف دى په شان د مفعول فيه او د مصنف رحمه الله عليه په نيز باندې مفعول له دوه ډوله دى : ۱- مفعول له په تقدير د لام سره. ۲- مفعول له په ذکر د لام سره . او د جمهورو په نيز مفعول له يو ډول دى چې لام پکې مقدر وي او دا شرط د صحت د مفعول له دى .

(٢٢٢) پوښتنه: حروف تعليل نور هم وه؛ نو تخصيص د لام يې ولې وکړ؟

جواب: لام (کثير الاستعمال) وو په نسبت سره نورو ته؛ نو له دې وجې تخصيص يې وکړ د لام او حروف تعليل لکه: (من، با، في، لام) دي.

وَعِنْدَ الزُّجَّاجِ هُوَ مَصْدَرٌ تَقْدِيْرُهُ "أَدَّبْتُهُ تَأْدِيْبًا، وَجَنَبْتُ جُبْنًا"

او د زجاج په نيز دا مصدر دی چي تقدير يې داسي دی " أَدَّبْتُهُ تَأْدِيبًا، وَجَنَبْتُ جُبْنًا "

زنځيري ترکيب: عند الزجاج مضاف مضاف إليه مفعول فيه مقدم د مصدر لپاره، هو مبتدا مصدر خبر، تقديره مبتدا، (أدبته تأديبا) جمله په تاويل د دغه ترکيب سره معطوف عليه، (جبنت جبنا) معطوف چي دا ټوله بيا خبر د مبتدا لپاره دی.

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د نحاتو اختلاف ذکر کوي په مفعول له کي او په دې کي دوه مذهبه دي: ١- جمهور نحات. ٢- امام زجاج نحوي.

١- جمهور نحات وايي: دا مذکوره مثال د مفعول له دی.

٢- امام زجاج نحوي وايي: چي په کلام د عربو کي کله مفعول له ذکر سي؛ نو په هغه کي تاويل کيږي په مفعول مطلق سره، له دې وجي حاجت نه راغلی مفعول له ته بنا پر دې چي دا (تأديبا) مفعول مطلق د (أدبته) دی او (جُبنا) مفعول مطلق د (جبنت) دی، مګر مذهب د زجاج درست نه دی؛ ځکه چي د تاويل د يو ډول په بل ډول سره دا لازمه نه ده چي اول ډول ختم سي او دويم ډول جوړ سي او د دې دليل دا دئ چي د حال تعبير په مفعول فيه سره کيږي او سره له دې چي دواړه مستقل ډولونه دي، مثال يې لکه: (جاءني زيد راکبا، أي: جاءني في وقت الرّکوب).

فايده: مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د مفعول له لپاره دوه مثالونه ذکر کړل چي په دې کی اشاره ده اقسامو د مفعول له ته؛ اول مثال د هغه مفعول له دی چي فعل حاصل سوی وي لپاره د حصول د مفعول له لکه: (ضربته تأديبا)، يعني: ضرب سوی دی لپاره د ادب.

او دويم مثال د هغه مفعول له دی چي فعل حاصل سوی وي له وجي د وجود د مفعول له، لکه: (قعدت عن الحرب جُبنا)، يعني: قعود حاصل سوی دی له وجي د ځان د ساتني لپاره اه!.

د مفعول له لپاره مختصر تمرين: ١- ﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [الحشر ٢١]. ٢- ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ...﴾ [النساء: ١٦٠]. ٣- ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ﴾ [البقرة: ٢٠٧]

الْمَفْعُوْلُ مَعَهُ هُوَ مَا يَذْكُرُ بَعْدَ الْوَاوِ بِمَعْنَى "مَعَ" لِمُصَاحَبَةِ مَعْمُوْلِ الْفِعْلِ، نَحْوُ : (جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ، وَجِئْتُ أَنَا وَزَيْدًا)، أَيْ : مَعَ الْجُبَّاتِ وَمَعَ زَيْدٍ

المفعول معه هغه دى چي ذكر كيږي وروسته تر واو په معنا د "مع" سره لپاره د ملګرتيا د ده د معمول له فعل سره، لكه : (جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ، وَجِئْتُ أَنَا وَزَيْدًا)، أي : مَعَ الْجُبَّاتِ وَمَعَ زَيْدٍ

د مفعول معه تعريف : پينځم ډول له مفاعيلو څخه مفعول معه دى او مفعول معه هغه دى چي ذكر سوى وي لپاره د مصاحبت د معمول له فعل سره، برابره خبره ده چي په صدور كي وي اوكه په وقوع كي وي، يعني برابره خبره ده چي دا معمول د فعل فاعل وي اوكه مفعول وي، مثال د صدور لكه : (جاء البرد والجُبّات)، دويم مثال يې لكه : (جئتُ أنا وزيدٌ) او دريم مثال يې لكه : (استوى الماء والخشبة) او د وقوع مثال لكه : (كفاك وزيدا درهمٌ) .

(۲۲۳) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (جاءني زيدٌ وعمروٌ) او (ضربتُ زيدًا وعمروا) باندي ؛ ځكه دا مذكور وروسته تر واو دي او مصاحب د معمول له فعل سره په صدور او وقوع دواړو كي دى سره له دې چي مفعول معه نه دئ ؟

جواب : مراد په مصاحبت د معمول له فعل سره اشتراک (ګډون) د ده دى د معمول له فعل سره په صدور او وقوع كي سره له اتحاده د زمان او مكان، لكه : (سِرت وزيدا) .

(۲۲۴) پوښتنه : مفعول معه منصوب په واو سره دى، لكه شيخ عبدالقاهر جرجاني رحمه الله عليه چي تصريح ورباندي كړې ده ؛ نو شمارل د ده د معمولاتو له فعل څخه صحيح نه دئ ؟

جواب : كلام د مصنف رحمه الله عليه بناء دى په مذهب د جمهورو باندي، نه په مذهب د جرجاني باندي اه ! .

(۲۲۵) پوښتنه : واو په ځاى د (مع) ولې مقرر سو او (مع) به يې ويلاى واى ؟

جواب : واو مختصر دى له (مع) څخه .

(۲۲۶) پوښتنه : (فاء) هم مختصره ده ؛ دا بايد په ځاى د (مع) مقرر سوې واى ؟

جواب : اصل د دې واو هغه واو عاطفه دى چي په هغې كي معنا د جمعيت ده چي هغه مناسبه ده له معيت سره .

فَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ لَفْظًا، وَجَازَ الْعَطْفُ ؛ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ : النَّصْبُ وَالرَّفْعُ، نَحْوُ : (جِئْتُ أَنَا وَزَيْدًا وَزَيْدٌ)

نو كه چيري فعل لفظي وو او روا وو عطف ؛ نو روا دي په هغه كي دوې وجې : نصب او رفع، لكه : (جِئْتُ أَنَا وَزَيْدًا وَزَيْدٌ)

تشريح : عطف جايز دی ؛ ځکه مانع له عطف څخه نسته او نصب هم جايز دی بنا بر مفعول معه، لکه : (جئت أنا وزيدٌ وزيدًا) ؛ نو (زيد) مرفوع ويل کيږي بنا پر دې چې دی عطف سي په ضمير مرفوع متصل باندي او عطف په ضمير مرفوع متصل جائز دی چې کله د هغه تاکيد راسي په ضمير مرفوع متصل سره او (زيدا) منصوب هم جايز دی چې دا مفعول معه سي .

وَإِنْ لَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ ؛ تَعَيَّنَ النَّصْبُ، نَحْوُ : (جِئْتُ وَزَيْدًا) . وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ مَعْنًى وَجَازَ الْعَطْفُ ؛ تَعَيَّنَ الْعَطْفُ، نَحْوُ : (مَالِزَيْدٍ وَعَمْرٍو)

او که نه وي روا عطف ؛ نو تعين به وي د نصب، لکه : (جِئْتُ وَزَيْدًا) . او که چيري وو فعل په معنا کي او روا وي عطف ؛ نو تعين به وي د عطف، لکه : (مَالِزَيْدٍ وَعَمْرٍو)

تشريح : که چيري دا فعل معنوي وو په داسي توګه چې نه په لفظ کې موجود وو او نه په تقدير کې، بلکي د مفهوم له کلامه معلومېدی او عطف يې هم جايز وو ؛ نو متعين به وي چې عطف يې جايز دی او عطف په دې معنا سره چې يو مانع نه وي موجود له عطف څخه او نصب متعذر وي .

(۲۲۷) پوښتنه : هر کله چې (جاز العطف) يې ووايی ؛ نو (تعين العطف) ته څه ضرورت پېښ نه سو ؛ ځکه د دې ذکر او عدم دواړه سره برابر دي ؟

جواب : په (جاز) کې اشاره ده دې خبرې ته چې په معنا د امکان عام سره دی، يعني ممتنع به نه وي او واجب به وي، لکه ؛ (مالزيد وعمرو، يعني : أيّ شيء حصل لزيد وعمرو) ؛ نو عطف په دې کې ؛ ځکه متعين دی چې په دې کې عامل لفظي دی چې لام جاره ؛ ځکه دا په حکم د تکرار د عامل کې دی، پس حاجت نسته ګرځولو د ده ته معمول د عامل معنوي ؛ ځکه چې حمل په عامل ضعيفه باندي په وخت د وجود د عامل قوي کې ناجايز دی بېله ضرورت داعيه څخه، مګر علامه زمخشري صاحب وايي : دلته عطف مختار دی او متعين نه دی .

وَإِنْ لَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ ؛ تَعَيَّنَ النَّصْبُ، نَحْوُ : (مَالَكَ وَزَيْدًا، وَمَا شَأْنُكَ وَعَمْرًوا) ؛ لِأَنَّ الْمَعْنَى مَا تَصْنَعُ !

او که نه وي روا عطف ؛ نو تعين د نصب به وي، لکه : (مَالَكَ وَزَيْدًا، وَمَا شَأْنُكَ وَعَمْرًوا) ؛ ځکه معنا هغه ده چې ته يې جوړوې !

تشريح : په دې ترکيبونو کې عطف ناجايز دی او متعين دی نصب او عطف په دې وجه ناجايز دی چې په اول مثال کې لازميږي عطف په مجرور باندي بېله اعادې له حرف جر څخه او دا ناجايز دی او په دويم ترکيب کې (ما شانك وعمروا) که چيري عطف کړو په (شانك) باندي ؛ نو لازميږي خلاف د مقصود د متکلم چې هغه پوښتنه ده د شان د عمرو او د حال د مخاطب او داسي نه ده چې د شان د مخاطب او د ذات د عمرو پوښتنه ده .

او په (لأنّ المعنى ما تصنع) مثال کي فعل معنوي دی ؛ ځکه چي معنا دا ده چي (ما تصنع) ؛ نو په دې سره لګه مصنف دفع د سوال کوي چي لام ؛ خو جاره دی او متعلق غواړي ؛ نو جواب دا سو چي (لأنّ المعنى ما تضع).

د مفعول معه دوې قاعدې : ۱- قاعده : مفعول معه په خپل عامل نه سي مقدم کېدای.

۲- قاعده : مفعول معه په خپل عامل او مصاحب باندي نه سي مقدم کېدای.

د مفعول معه لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... فَأَجْمِعُوٓاْ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ...﴾ [يونس: ۷۱] . ۲- ﴿وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ ...﴾ [الحشر: ۹] ۳- ﴿... يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ﴾ [الأنبياء: ۷۹] . ۴- (لا تسافر أنت وعدوّك) . ۵- لا تأكل البطيخ والعسل . ۶- (اُكْتُبْ وَأَخَاكَ) . ۷- (ذَهَبَ الوَلَدُ وَأَبُوهُ) .

الحَالُ لَفْظٌ يَدُلُّ عَلَى بَيَانِ هَيْئَةِ الفَاعِلِ، أَوِ المَفْعُولِ بِهِ، أَوْ كِلَيْهِمَا، نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا، وَضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُودًا، وَلَقِيتُ عَمْرًوا رَاكِبَيْنِ)

حال يو لفظ دی چي دلالت کوي پر بيان د هيئت د فاعل او يا مفعول ب او پر دواړو، لکه : (جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا، وَضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُودًا، وَلَقِيتُ عَمْرًوا رَاكِبَيْنِ)

زنځيري ترکيب : الحال مبتدا، لفظ موصوف، يدل فعل فاعل، على جار، بيان مضاف، هيئة الفاعل مضاف مضاف إليه معطوف عليه، ما بعد معطوفين : دا مضاف إليه د مضاف چي هيئت دی، مضاف سره له مضاف إليه مضاف إليه د مضاف چي بيان دی، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د جار، جار سره له مجروره ظرف لغو متعلق په يدل پوري، فعل سره له فاعل او سره له متعلقه جمله فعليه صفت د موصوف، موصوف سره له صفته خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه .

تشريح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله عليه له بيان څخه د مفاعيل حقيقي ؤ ؛ نو شروع يې وکړه په مفاعيل حکمي ؤ باندي چي دې ته ملحقات د مفاعيلو هم وايي او مفاعيل حکمي دې ته وايي چي خصلت د مفعول به پکې وي چي هغه وقوع د دوی فضله په کلام کي ده او بل دا چي په (موضع ثالث) د کلام کي به واقع وي .

د حال تعريف : حال په لغت کي په دوه معناوو سره راځي : ۱- کيفيت او صنعت . ۲- تحويل او انقلاب ته هم وايي . او حال په اصطلاح کي په مختلفو معناوو سره راځي :

۱- په اصطلاح د نحاتو کي : (ما يبين هيئة الفاعل، أو المفعول به، أو كليهما) ته وايي .

۲- په اصطلاح د صرفيانو کي : زمانه حال ته وايي .

۳- په اصطلاح د اهل معاني کي : حال امر دی چي باعث وي په متکلم باندي په ايراد د خصوصيت زائده باندي په کلام کي، يعني د مقتضی له حال سره مطابق خبره کول، مثلا يعني د يو سړي خالي ذهن وي چي د هغه شک او انکار نه وي ؛ نو د هغه لپاره وبل کېږي : (زيد قائم)، بس دا کلام ورله کافي دی او چي بل سړی وي د هغه په ذهن کي شک د قيام د (زيد) وي ؛ نو د هغه د شک د لېري کولو

لپاره به ورسره دا تاکید راوړل کيږي، لکه : (إنّ زيدا قائم) او که چيري يو سړی منکر وي د قيام له زيد څخه ؛ نو د هغه د انکار د ازالې لپاره به دا تاکيد راوړل سي چي انکار د هغه زائل سي، لکه : (إنّ زيدا لقائم)، لکه د دې دوه ډولونه دا آياتونه دي : ﴿... إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ﴾ [يس: ۱۴] ؛ دا په صورت د تردد کي ويل سوي دي او بيا وايي : ﴿.. إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ مُرۡسَلُونَ﴾ [يس: ۱۶] ؛ دا په صورت د انکار کي ويل سوي دي ؛ ځکه چي هغوی انکار وکړی چي : ﴿... وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ﴾ [يس: ۱۵].

۴- په اصطلاح د منطقيانو کي حال عبارت دی له عوارض ذاتيه ؤ څخه .

۵- په اصطلاح د حکماؤ کي حال عبارت دی له هغه شي څخه چي په بل شي کي سرايت کوي .

۶- په اصطلاح د متکلمينو کي حال عبارت دی له هغه څخه چي واسطه وي په مينځ د موجود او معدوم کي .

۷- او په اصطلاح د صوفيانو کي حال عبارت دی د کيفيت له نفس څخه چي تعبير ځني کيږي په قبض او بسط سره .

(۲۲۸) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په دې ترکيب چي (آتيك والشمس طالعة) ؛ دلته دا (الشمس طلعت) حال واقع دی له مخکي څخه او دا نه فاعل دی او نه مفعول ؟

جواب : مراد دلته زموږ حال مفرده دی نه مرکبه، پس حال په دوه ډوله دی : ۱- حال مفرده . ۲- حال مرکبه . حال مرکبه دې ته وايي چي جمله حال واقع سي .

برابره خبره ده چي جمله اسميه وي او که جمله فعليه وي او حال مفرده په اووه ډوله دی : ۱- حال محققه . ۲- حال مقدره . ۳- حال مترادفه . ۴- حال متداخله . ۵- حال موطئه . ۶- حال منتقله . ۷- او حال مؤکده .

۱- حال محققه ؛ دې ته وايي چي (في الحال) ثابت وي د (ذو الحال) لپاره، لکه : (جاءني زيدٌ راكِبًا) .

۲- حال مقدره ؛ دې ته وايي چي حال د (ذو الحال) لپاره (في الحال) ثابت نه وي، لکه : ﴿... فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ﴾ [الزمر: ۷۳] ؛ نو دلته (خالدين) حال دی، مګر (خلود) له دخول سره يو ځای نه دی، بلکي وروسته به وي چي اوس هسي فرض سوی دی .

۳- حال مترادفه ؛ دې ته وايي چي له يو (ذو الحال) څخه متعدد احوال راغلي وي، لکه : (جاءني زيدٌ راكبا عاقلا ضاحكا) او داسي نور .

۴- حال متداخله ؛ دې ته وايي چي (ذو الحال) متعدد وی او حال هم متعدد وي له يو (ذو الحال) څخه حال واقع وي او بل حال د مخکي حال له ضمير څخه واقع وي او هغه ضمير (ذو الحال) واقع وي او وروسته يې بل حال واقع وي، لکه : (راشدا مهديا) .

۵- حال موطئه ؛ دې ته وايي چي په خپله مقصود نه وي او توطئه او (تمهيد) وي لپاره د بل مثال، لکه : ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ﴾ [يوسف: ۲] ؛ نو دلته (قرآنا) حال توطئه د (عربيا) حال لپاره دی .

۶- حال مؤكده : دې ته وايي چې نه منتقل كيږي دا حال له (ذو الحال) څخه، لكه : (جاءني زيدٌ عطوفًا) .

۷- او حال منتقله : دې ته وايي چې منتقل كيږي دا حال له ذو الحال څخه، لكه : (جاءني زيدٌ راكبا) .

د قيوداتو فائيده : (الحال ما يبين) په منزله د جنس دى چې تميز، صفت، حال او داسې نور څه پكې داخل سوه او دا قيد چې (هيئة الفاعل) ؛ په دې سره تميز خارج سو .

ځكه چې هغه له (هيئة الفاعل) څخه بيان نه كوي، بلكې د ذات له فاعل او د ذات له مفعول څخه بيان كوي او دا قيد چې (هيئة) مضاف سو فاعل ته ؛ نو په دې سره خارج سو صفت د مبتدا، لكه : (زيد- العالم أخوك) .

(۲۲۹) پوښتنه : هغه حال له تعريف څخه خارج سو چې له مفعول مطلق څخه واقع وي، لكه : (ضربت الضرب شديدا)، دا ډول حال له مفعول معه څخه او دا ډول حال له مضاف إليه څخه، لكه : (جئت وزيدا راكبَين) او مثال له مضاف إليه څخه، لكه : ﴿... أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا ..﴾ [الحجرات: ۱۲] .

جواب : مراد په فاعل او مفعول به سره عام دى، حقيقتا وي، كه حكما چې دا ټول پكې داخل دي او خارج نه دي ؛ ځكه دوى مفعول به حكمي دي او مفعول معه له فاعل سره په صدور كې شريک وي ؛ نو فاعل حكمي دى .

وَقَدْ يَكُونُ الْفَاعِلُ مَعْنَوِيًّا، نَحْوُ : (زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا) ؛ لِأَنَّ مَعْنَاهُ "زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ قَائِمًا"، وَكَذَا الْمَفْعُوْلُ بِهِ، نَحْوُ : (هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا) ؛ فَإِنَّ مَعْنَاهُ الْمُشَارُ إِلَيْهِ (قَائِمًا هُوَ زَيْدٌ)

او په تحقيق سره (كله كله) گرځي فاعل معنوي، لكه : (زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا) ؛ ځكه معنا يې داسې ده "زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ قَائِمًا" او دا ډول مفعول به، لكه : (هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا) ؛ ځكه معنا يې هغه ده چې اشاره ورته سوې ده په (قَائِمًا هُوَ زَيْدٌ) سره

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ اشاره كوي چې په فاعل او مفعول به كې تعميم دى او دوى به يا لفظي وي، يا معنوي، مگر دلته مصنف د لفظي اكتفاء په مثالونو سره كړې ده ؛ فاعل لفظي او مفعول به لفظي دې ته وايي : چې فاعليت د فاعل او مفعوليت د مفعول په اعتبار د لفظ او د منطوق د كلام سره وي او بيا دا ملفوظ عام دى حقيقتا وي، كه حكما او د دې مثال لكه : (ضربتُ زيدا قائما) چې دلته فاعليت د (تا) او مفعوليت د (زيد) په لفظ او منطوق د كلام كې دى او حال هم ځني واقع سوى دى له تا څخه چې دا هم صحيح دى او له زيد څخه هم صحيح دى او (قائما) حال دى .

او بل مثال (زيدٌ في الدّار قائما) ؛ دا مثال د لفظي دى چې ملفوظ حكمي وي ؛ نو دلته (قائما) حال واقع دى له هغه ضمير څخه چې مستتر دى په ظرف كې او ضمير مستتر ملفوظ دى حكما ؛ نو دلته قائما حال له زيد څخه نه دى ؛ ځكه زيد مبتدا ده، بلكې له هغه ضمير څخه دى چې كوم متعلق د (في الدّار) دى چې هغه (استقرّ) دى او د هغه له ضمير څخه حال واقع دى او فاعل معنوي او يا مفعول معنوي

هغه ته وايي چې مستفاد وي د مفهوم له كلام څخه او په نظم د كلام كي نه لفظا وي او نه تقديرا او د دې مثال لكه : (هذا زيد قائما) او دا مثال د معنوي دی ؛ ځکه مفعوليت د زيد په اعتبار د هغه معنا سره دی چې مستفاد ده د مفهوم له کلام څخه چې هغه ته اشاره نه ده راغلې په لفظ د کلام کي چې هغه (أشير) او (أنبه) دی او په (هذا) کي (ها) په معنا د (أنبه) دی او (ذا) په معنا د (أشير) دی ؛ نو سو (زيد) مفعول به ممنوي او (قائما) حال دی چې تقدير د عبارت داسي سو : (أشير إلى زيد وأنبه على زيد قائما) .

وَالْعَامِلُ فِي الْحَالِ فِعْلٌ، أَوْ مَعْنَى فِعْلٍ -

او عامل د حال به يا فعل وي او يا به معنا د فعل وي

تشريح : عامل د حال چې فعل، يا معنا د فعل وي ؛ ځکه چې دی اصل دی په عمل کي، لکه : (ضربت زيدا قائما) او فعل عام دی ملفوظ وي، که مقدر او له شبه فعل څخه مراد کوم چې دلته معنا د فعل ورته ويل سوي ده - اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضيل، مصدر، ظرف، جار مجرور، اسماء افعال او هر هغه شی دی چې معنا د فعل ځني اخيستل کيږي، لکه : حرف نداء اسم اشاره، تمني، ترجي او داسي نور .

وَالْحَالُ نَكِرَةٌ أَبَدًا، وَذُو الْحَالِ مَعْرِفَةٌ غَالِبًا كَمَا رَأَيْتَ فِي الْأَمْثِلَةِ الْمَذْكُورَةِ

او حال به نكره وي همېشه او (ذو الحال) به معرفه غالبا

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د حال او ذو الحال مقام په تركيب او كلام كي ذكر كوي چې حال به همېشه نكره وي او كه چيري ي معرفه واقع سوې وه ؛ نو په هغې کي به تاويل په نكره سره كيږي، لكه : (مررت به وحده، أي : منفردا) او ذو الحال به غالبا معرفه وي او كله به نكره هم واقع كيږي چې هغې ته اشاره مصنف په وروسته عبارت سره كړې ده .

او حال به نكره وي ؛ ځکه مقصود له حال څخه تقيد د (حدث منه وبه) دی ذو الحال ته او دا حاصليږي په نكرې سره ؛ نو حاجت نسته معرفې ته او بل دا چې حال په اصل كي خبر دی او اصل په خبر كي تنكير وي .

او ذو الحال به معرفه وي ؛ ځکه دی (محكوم عليه) دی او اصل په (محكوم عليه) كي تعريف دی، (غالبا) يعني : په غالب استعمال كي به (ذو الحال) معرفه وي او يا په غالب وختونو كي به معرفه وي .

د (ذو الحال) د نكارت ځايونه : ۱- (ذو الحال) به نكره موصوفه وي، لكه : (جاءني رَجل مِن بني تميم فارسا) . ۲- (ذو الحال) به تعريف ته محتاج نه وي، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۝ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا ..﴾ [الدخان: ٤-٥] ؛ نو دلته (أمرا) حال واقع دی له (كُل أمر) څخه . ۳- (ذو الحال) به تر استفهام وروسته راغلی وي، لكه : (هل أتاك رَجل راكب ؟) . ۴- چې تقديم

د حال راغلی وي په (ذو الحال) باندي، لکه : (جاءني راكبا رَجل) . ۵- او چي واقع سي حال پس تر (إلا)، لکه : (ما جاءني رَجل إلا راكبا) .

فَإِنْ كَانَ ذُو الْحَالِ نَكِرَةً ؛ يَجِبُ تَقْدِيمُ الْحَالِ عَلَيْهِ. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ)

که چیري (ذو الحال) نکره وه؛ نو واجب دی تقدیم د حال پر ده، لکه : (جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ)

تشریح : دلیل د دې مسئلې دا دئ : چي حال او (ذو الحال) په اصل کي مبتدا او خبر وي او مبتداچي نکره وي ؛ نو تقدیم د خبر ورباندي واجب دی او دغه ډول تقدیم د حال پر (ذو الحال) واجب دی .

او وجه دا ده : چي د حال التباس رانه سي له صفت سره په حالت نصبي کي، لکه : (ضربت رَجلا مجردا عن ثيابه) ؛ نو دلته دا نه معلومیږي چي دا (مجردا) حال دی له (رَجلا) څخه او که صفت د (رَجلا) دی .

(۲۳۰) پوښتنه : په حالت رفعي او حالت جري کي ولې تقدیم واجب دی چي هلته التباس نه راځي ؛ ځکه له اعرابه معلومیږي چي حال منصوب وي، لکه : (جاءني رَجل راكبا) او (مررت برَجل راكبا) ؟

جواب : حالت رفعي او حالت جري محمول دی په حالت نصبي باندي – طردا للباب .

(۲۳۱) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه ده په دې ترکیب باندي چي وايي : (جاءني رَجل وزيد راكبين) ؛ ځکه (ذو الحال) په دې کي نکره دی چي (رَجل) دی او تقدیم د حال ورباندي راغلی نه دئ ؟

جواب : دا حکم په هغه ځای کي دی چي حال یکي مشترک نه وي په مینځ د معرفې او نکرې کي او دلته حال مشترک دی په مینځ د معرفې او نکرې دواړو ؛ نو واجب نه دئ چي د حال تقدیم وسي پر ده .

وَقَدْ تَكُوْنُ الْحَالُ جُمْلَةً خَبَرِيَّةً. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَغُلَامُهُ رَاكِبٌ. أَوْ يَرْكَبُ غُلَامُهُ). وَمِثَالُ مَا كَانَ عَامِلُهَا مَعْنَى الْفِعْلِ. نَحْوُ : (هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا)، مَعْنَاهُ : "أُنَبِّهُ وَأُشِيْرُ"

او کله کله وي حال جمله خبریه، لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَغُلَامُهُ رَاكِبٌ، أَوْ يَرْكَبُ غُلَامُهُ) او مثال د هغه چي عامل یې معنا په فعل سره وي، لکه : (هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا). معنا یې دا ده : "أُنَبِّهُ وَأُشِيْرُ"

تشریح : په لفظ د (قد) کي اشاره ده چي حال زیاتره وخت مفرد واقع کیږي او کله کله به جمله هم واقع کیږي چي مراد له جملې څخه جمله خبریه ده، لکه مصنف رحمة الله علیه چي تصریح ورباندي کړې ده .

او انشائيه جمله حال نه واقع کيږي او غرض له حال څخه بيان د هيئت د فاعل او يا د مفعول به دی او دا چي څرنګه حاصليږي په مفرد سره ؛ نو دغه ډول حاصليږي په جملې سره هم او انشائيه جمله حال نه واقع کيږي ؛ ځکه حال مربوط وي له ذو الحال سره او په جمله انشائيه کي ربط نه وي .

(۲۳۲) پوښتنه : جمله خبريه په خپله مستقله ده او حال مربوط وي له (ذو الحال) سره ؛ نو ربط ورلره پکار دی او دلته مصنف د هغه ذکر نه وکړی ؟

جواب : دا مسئله مصنف رحمة الله عليه په اختصار سره ذکر کړې ده چي په دې کي تفصيل دی او هغه دي د نحو په غټو کتابونو کي وکتل سي .

وَقَدْ يُحْذَفُ الْعَامِلُ لِقِيَامِ قَرِينَةٍ كَمَا تَقُوْلُ لِلْمُسَافِرِ : (سَالِمًا غَانِمًا)، أَيْ : تَرْجِعُ سَالِمًا غَانِمًا

او په تحقيق سره (کله کله) حذفيږي عامل له وجي د قيام د قرينې لکه څرنګه چي ته يې مسافر ته وايې : (سَالِمًا غَانِمًا)، أَيْ : تَرْجِعُ سَالِمًا غَانِمًا

تشريح : کله ناکله حذف د عامل د حال کيږي په وخت د وجود د قرينې کي، برابره خبره ده قرينه حاليه وي، که مقاليه، د قرينه حاليه مثال لکه : (سالما غانما، أي : ترجع سالما غانما) ؛ نو قرينه دلته حال د مسافر دی او مثال د قرينه مقاليه لکه : ﴿بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ۝﴾ [القيامة: ٤] ؛ نو دلته (قادرين) حال واقع دی او حذف د عامل ځني سوی دی چي (نجمع) دی ؛ ځکه هغه يې مخکي ذکر سوی دی په دې قول سره د الله تعالى : ﴿أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ۝﴾ [القيامة: ٣] ؛ نو تقدير داسي سو : (بلى نجمعها قادرين) چي دلته (ترجع) فعل دی او ضمير د (أنت) فاعل (ذو الحال) دی او (سالما غانما) حال دی او (غانما) دا هم دی او يا (غانما) صفت د (سالما) دی .

د حال په هکله څو قاعدې : ۱- قاعده : جمهور علماء وايي : حال اسم جامد او مشتق دواړه راتلای سي، لکه : ﴿... فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا۝﴾ [مريم: ١٧] ؛ نو (بشرا) موصوف، يا حال دی او (سويا) يې صفت دی .

۲- قاعده : کله چي حال ماضي مثبت واقع سي ؛ نو لابدي به وي له (قد) څخه لفظا، لکه : (جاءني زيدٌ قد ركب ؛ فرأيته) او يا (قد) تقديرا دی، لکه : ﴿... حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ ...﴾ [النساء: ٩٠]، أي : قد حصرت صدورهم .

۳- قاعده : څرنګه چي فاعل (ذو الحال) واقع کيږي ؛ نو دغه ډول نائب فاعل هم واقع کيږي، لکه : (تؤكل الفاكهة ناضجة) .

۴- قاعده : مبتدا هم (ذو الحال) واقع کيږي، لکه : (زيدٌ راكبا حسنٌ) .

۵- قاعده : (ذو الحال) مجرور په حرف سره واقع کيږي، لکه : (مررت بهند جالسة) .

۶- قاعده: حال متعدد هم راځي، لکه: ﴿..أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ [ال عمران: ۳۹].

۷- قاعده: حال په اعتبار د جاري کېدو سره په (ذو الحال) باندي په دوه ډوله دی: ۱- (حال حقيقي بنفسه)، لکه: ﴿فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا ...﴾ [النمل: ۱۹]. ۲- (حال باعتبار متعلقه)، لکه: (مررت بالدّار قائما سكانها).

۸- قاعده: خبر (ذو الحال) واقع کېږي، لکه: (هذا الهلال طالعا).

۹- قاعده: له حال څخه کله کله عامل په حذف وجوبي سره حذف کېږي، لکه: (زيدٌ أبوك عطوفا)، أي: أُحِقُّهُ عطوفًا.

۱۰- قاعده: حال چي جمله واقع سي؛ نو په دوه شرطونو باندي به وي: ۱- جمله خبريه. ۲- رابط به پکي وي جمله حاليه.

د حال لپاره مختصر تمرين: ۱- (أَشْهَدُ أَنَّ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ). ۲- ﴿... رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا ..﴾ [ال عمران: ۱۹۱].

۳- ﴿فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا ...﴾ [طه: ۸۶]. ۴- ﴿لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ۝ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا﴾ [النبا: ۲۲-۲۳]. ۵- ﴿وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِى دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ [النصر: ۲]. ۶- (وَقَفَ الْمُذْنِبُ خَائِفًا). ۷- (تَكَلَّمَ خَالِدٌ فِي دَائِرَتِهِ جَالِسًا). ۸- (هَذَا مَحْمُودٌ وَاعِظًا). ۹- (جَاءَ الْأَبُ وَالِابْنُ رَاكِبَيْنِ سَيَّارَةً). ۱۰- (خَرَجَ الْمُعَلِّمُ رَاضِيًا عَنِ الطُّلَّابِ). ۱۱- (جَاءَ الطَّالِبُ وَكِتَابُهُ مَفْقُودٌ). ۱۲- (رَأَيْتُ النَّاسَ وَهُمْ يَرْكُضُونَ).

فَصْلٌ: اَلتَّمْيِيزُ هُوَ نَكِرَةٌ تَذْكُرُ بَعْدَ مِقْدَارٍ مِنْ عَدَدٍ، أَوْ كَيْلٍ، أَوْ وَزْنٍ، أَوْ مِسَاحَةٍ، أَوْ غَيْرِ ذَٰلِكَ مِمَّا فِيهِ إِبْهَامٌ تُرْفَعُ ذَٰلِكَ الْإِبْهَامُ. نَحْوُ: (عِنْدِيْ عِشْرُونَ دِرْهَمًا، وَقَفِيزَانِ بُرًّا، وَمَنْوَانِ سَمْنًا، وَجَرِيبَانِ قُطْنًا)، وَعَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَدًا

فصل دی: تميز دا يوه نکره ده چي ذکر کېږي وروسته تر اندازې له يو عدده، يا يو پيمانې، يا يو تولې، يا يو مسافې او يا داسي نور هغه چي په ده کي ابهام وي کوم پورته کوي دا ابهام، لکه: (عِنْدِيْ عِشْرُونَ دِرْهَمًا، وَقَفِيزَانِ بُرًّا، وَمَنْوَانِ سَمْنًا، وَجَرِيبَانِ قُطْنًا)، وَعَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَدًا

د تميز تعريف: بل د ملحقاتو له مفاعيلو څخه تميز دی، تميز په لغت کي جداوالي ته وايي او په اصطلاح کي دا هغه اسم دی چي رفع د ابهام کوي له هغه معنا (موضوع له) څخه او مصنف معنا اصطلاحي ذکر کړې ده، چي وايي: (هو نكرة تذكُرُ بعد مقدار إلخ).

د تميز ډولونه: تميز په دوه ډوله دی: ۱- چي واقع به وي وروسته تر مفرد. ۲- چي واقع وي وروسته تر جمله.

(قسم أول): هغه په دوه ډوله دی: اول دا چي مفرد مقدار وي او دويم دا چي مفرد غير مقدار وي.

پس اول ډول چي رفع د ابهام کوي له مفرد مقدار څخه؛ نو دا مفرد به يا تام وي په تنوين سره، يا به تام وي په نون د تثنيه يې سره، يا په نون د جمع سره او يا به اضافت سره.

او دا به يا عددي وي، يا به غير عددي وي، عددي لکه : (عندي عشرون درهما) ؛ نو (عشرون) عدد تام دی په نون د جمع سره چې په دې کي ابهام دی او دا ابهام په (درهما) سره رفع سو او مثال د (غير عدد مقدار) چي تام وي په تنوين سره، لکه : (رُطل زيتا) ؛ نو په (رطل) کي ابهام دی او په (زيتا) سره رفع د ابهام راغلي ده او مثال د موزون چي ابهام پکښې وي او تام وي په نون د تثنيه يې سره، لکه : (منوان سمنا) او مثال د (کيل قفيزان بُرّا) ؛ دا هم تام دی په نون د تثنيه يې سره او مثال د مساحت لکه (عندي جريبان قطنا) او مثال د مقياس، لکه : (وعلى التمرة مِثلُها زبدًا) .

(۲۳۳) پوښتنه : تميز رفع د ابهام کوي په دې يادو شيانو کي او په دې مقاديرو کي ؛ خو ابهام نسته ؟

جواب : مراد په مقادير سره مقدورات دي اه !.

وَقَدْ يَكُونُ عَنْ غَيْرِ مِقْدَارٍ، نَحْوُ : (هَذَا خَاتِمٌ حَدِيْدًا، وَسَوَارٌ ذَهَبًا)، وَفِيْهِ الخَفْضُ أَكْثَرُ

او په تحقيق سره (کله کله) کيږي (يعني ؛ تميز رفع د ابهام کوي) له (غير مقدار) څخه، لکه : (هَذَا خَاتِمُ حَدِيْدًا، وَسَوَارٌ ذَهَبًا) او په دې کي جر زيات دی

څه تشريح : کله ناکله تميز رفع د ابهام کوي له (غير مقدار) څخه، لکه : (خَاتِمُ حَدِيْدًا) ؛ نو دلته په خاتم کي ابهام وو ؛ ځکه چي خاتم د (حديد)، يعني : اوسپني هم وي او د (ذهب)، يعني : سرو زرو او د (فضة)، يعني : د سپينو زرو هم وي ؛ نو (حديد) ورلر تميز واقع سو او په دې ډول د تميز کي جر زيات دی، يعني : (کثير الاستعمال) دی ؛ ځکه غرض له تميز څخه رفع د ابهام ده او دا چي څنګه حاصليږي په نصب سره ؛ نو دغه ډول حاصليږي په اضافت سره او سره له زياتي فايدې چي تخفيف هم پکښې دی .

وَقَدْ يَقَعُ بَعْدَ الجُمْلَةِ لِرَفْعِ الْإِبْهَامِ عَنْ نِسْبَتِهَا، نَحْوُ : (طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا، أَوْ عِلْمًا، أَوْ أَبًا)

او په تحقيق سره (کله ناکله تميز) واقع کيږي وروسته تر جملې له وجي د پورته کېدلو د ابهام له خپل نسبت څخه، لکه : (طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا، أَوْ عِلْمًا، أَوْ أَبًا)

تشريح : مراد له جملې څخه جمله فعليه ده ؛ نو دلته مصنف رحمه الله عليه درې مثالونه ذکر کړل ؛ ځکه دا تميز درې ډوله دی : (۱) تميز په مميز پوري خاص وي، لکه : (طاب زيد نفسا) ؛ نو له (نفس) څخه مراد هم دغه (زيد) دی . (۲) يا به د متعلقاتو له مميز څخه وي، لکه : (طاب زيد عِلما) . (۳) او يا به د دواړو احتمال لري، لکه : (طاب زيد أبا) .

د تميز په هکله څو قاعدې : ۱- قاعده : تميز په نېز د بصريانو باندي نکره وي ؛ ځکه رفع د ابهام په نکرې باندي حاصليږي او د کوفيانو په نېز باندي په نکره کي عموم دی چي معرفه هم واقع کيږي، لکه : (سفه نفسه) او بصريان وايي : چي دا په تاويل د منفرد حال تميز نه دی.

۲- قاعده : تميز (محول عن الفاعل) هم راځي، لکه : ﴿.. وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا ..﴾ [مريم: ۴] چي اصل عبارت داسي دی : (اشتعل شيبك الرأس) او دا ډول (طاب زيد نفسا) مثال دی .

۳- قاعده: تميز (محمول عن المفعول) هم راځي، لكه: ﴿وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا ..﴾ [القمر: ١٢] چې په اصل كې (فجرنا عيون الأرض) دى.

۴- قاعده: تميز (محمول عن المبتدا) هم راځي، لكه: ﴿... أَنَا۠ أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾﴾ [الكهف: ٣٤]. أي: مالي أكثر منك.

۵- قاعده: تميز همېشه مفرد وي.

۶- قاعده: تميز به په مميز نه مقدم كېږي.

۷- قاعده: تميز له مميز څخه تاكيد نه واقع كېږي.

۸- قاعده: تميز جار مجرور او ظرف نه واقع كېږي.

د تميز لپاره مختصر تمرين: ١- ﴿إِنَّ هَـٰذَآ أَخِى لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِىَ نَعْجَةٌ وَٰحِدَةٌ ..﴾ [ص: ٢٣]. ٢- ﴿ثُمَّ فِى سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَٱسْلُكُوهُ ﴿٣٢﴾﴾ [الحاقة: ٣٢]. ٣- ﴿سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَـٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ...﴾ [الحاقة: ٧]. ۴- (اشْتَرَيْتُ خَاتَمَ فِضَّةٍ). ۵- (لَدَيَّ قَلَمُ حِبْرٍ). ۶- (زَارَنِي عِشْرُونَ صَدِيقًا). ٧- (وَجَدْتُ أَحَدَ عَشَرَ كِتَابًا مُفِيدًا).

فَصْلٌ: الْمُسْتَثْنَى لَفْظٌ يُذْكَرُ بَعْدَ (إِلَّا) وَأَخَوَاتِهَا؛ لِيُعْلَمَ أَنَّهُ لَا يُنْسَبُ إِلَيْهِ مَا نُسِبَ إِلَى مَا قَبْلَهَا

فصل دى: مستثنى يو لفظ دى چې ذكر كېږي وروسته تر (إلا) او د هغې د اخواتو؛ د دې لپاره چې معلومه سي دا چې نسبت ده ته نه كېږي د هغه چې نسبت يې مخكې ته سوى وي

د (مستثنى) **تعريف**: بل د متعلقاتو له مفاعيلو څخه مستثنى ده او مستثنى په لغت كې جلا سوي ته وايي او په اصطلاح كې دا هغه اسم دى چې ذكر سوى وي وروسته تر (إلا) او د اخواتو د (إلا) او دا تعريف اعتباري دى او له اخواتو څخه مراد: ١- (خلا). ٢- (ما خلا). ٣- (عدا). ۴- (ما عدا). ۵- (حاشا). ۶- (ليس). ٧- (لا يكون).

او دوى (ما قبل)، يعني: مخكې ته (مستثنى منه) وايي او (ما بعد)، يعني: راوروسته ته يې (مستثنى) وايي، مگر مشهور په ادواتو د استثنا كې (إلا) ده؛ نو ځكه مصنف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ هم تعين د (إلا) وكړى.

وَهُوَ عَلَى قِسْمَيْنِ: مُتَّصِلٌ، وَهُوَ مَا أُخْرِجَ عَنْ مُتَعَدِّدٍ بِـ "إِلَّا" وَأَخَوَاتِهَا، نَحْوُ: (جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا زَيْدًا)

او دا (مستثنى) پر دوه ډوله ده: متصله ده او دا هغه ده چې راوتلې وي له متعدد څخه په "إِلَّا" او د هغې په اخواتو باندې. لكه: (جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا زَيْدًا)

تشريح: پس دا مستثنى پر دوه قسمه ده: ١: (مستثنى متصل). ٢- (مستثنى منقطع).

١- (مستثنى متصل): دې ته وايي: چې د هغې (إخراج) سوى وي له (متعدد) څخه، برابره خبره ده چې دا (متعدد) مذكور وي او كه مقدر.

۲- او (مستثنی منقطع) ؛ دې ته وايي : چې دا يو داسې اسم دی چې ذکر سوی وي وروسته تر (إلا) او د هغې د اخواتو چې (مخرج) به نه وي له (متعدد) څخه، لکه : (جاءَني القوم إلا حمارا) .

(۲۳۴) پوښتنه : (إخراج) ؛ خو هسې هم له متعدد څخه کيږي ؛ نو ذکر کول د (عن متعدد) وروسته تر (إخراج) زايد دی چې ذکر نه يې ضرورت نسته ؟

جواب : دا بيان د تفصيل دی چې (لفظا وتقديرا) دی، لکه : ابن حاجب رحمه الله عليه چې پر دې تصريح کړې ده او وايي : (فالمتصل هو المخرج عن متعدد لفظا أو تقديرا)، د متعدد لفظي مثال لکه : (جاءني القوم إلا زيدا) او د متعدد تقديري مثال لکه : (ما جاءني إلا زيدٌ) چې په اصل کې عبارت داسې وو : (ما جاءني القوم إلا زيدا) .

وَمُنْقَطِعٌ، وَهُوَ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَ "إِلَّا" وَأَخَوَاتِهَا غَيْرُ مُخْرَجٍ عَنْ مُّتَعَدِّدٍ لِعَدَمِ دُخُوْلِهِ فِي الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ، نَحْوُ : (جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا)

او (بله مستثنی) منقطع ده او دا هغه ده چې مذکوره وي وروسته تر "إِلَّا" او د هغې د اخواتو بېله دې چې وتلې وي له (متعدد) څخه له وجې د نه ننوتلو د دې په (مستثنی منه) کې، لکه : (جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا)

تشريح : زده کړه ! دا خبره چې څه په تفصيل د (مستثنی متصل) او (منقطع) کې د نحاتو اختلاف دی او په دې کې د دوی دوه مذهبه دي : ۱- عام نحات . ۲- او محققين نحات .

۱- عام نحات وايي : چې (مستثنی متصل) دې ته وايي : چې (مستثنی) داخله وي په (مستثنی منه) کې او (منقطع) دې ته وايي : چې (مستثنی) داخله نه وي په (مستثنی منه) کې او دا به داسې وي، که (مستثنی) د جنس له (مستثنی منه) څخه وو ؛ نو دا (مستثنی) متصله سوه او که د جنس څخه نه وه ؛ نو دا منقطعه ده .

۲- محققين نحات وايي : که (مستثنی) داخله وه په (مستثنی منه) کې (قطعا قبل الاستثناء) ؛ نو دا به متصله وي او که خارجه وه (مستثنی) له (مستثنی منه) څخه قطعا ؛ نو دا منقطعه ده او په دواړو صورتونو کې برابره خبره ده که له جنس څخه د (مستثنی منه) وي، يا نه ؛ نو څه فرق نه لري .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ إِعْرَابَ الْمُسْتَثْنَى عَلَى أَقْسَامٍ : فَإِنْ كَانَ مُتَّصِلًا ، وَقَعَ بَعْدَ فِيْ كَلَامٍ مُّوْجِبٍ، أَوْ مُنْقَطِعًا كَمَا مَرَّ، أَوْ مُقَدَّمًا عَلَى الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ، نَحْوُ : (جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدًا أَحَدٌ)، أَوْ كَانَ بَعْدَ خَلَا وَعَدَا عِنْدَ الْأَكْثَرِ، أَوْ بَعْدَ مَاخَلَا وَمَاعَدَا وَلَيْسَ وَلَا يَكُوْنُ، نَحْوُ : (جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا...إلخ)، كَانَ مَنْصُوْبًا

او پوهه سه ! په دې چي اعراب د مستثنی پر څلور ډوله دی : نو که متصله وه : واقع کيږي وروسته، مگر نه په کلام (موجب) کي، يا که منقطعه وه لکه څرنگه چي تېره سوه، يا مخکې وه پر (مستثنی منه)، لکه : (جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدًا أَحَدٌ)، يا وروسته تر (خلا) او (عدا) وه په نېز د زياترو (نحاتو)، يا وروسته تر (ماخلا، ماعدا، ليس) او (لا يكون) وه، لکه : (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا...إلخ) : نو وي به منصوبه

تشريح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله عليه د تعريف او د اقسامو له مستثنی منه څخه : نو شروع يې وکړه په تعريف او اقسامو د مستثنی کي او په دې عبارت سره يې شروع وکړه په اعراب د مستثنی کي او داسي يې وويل :

(اعلم ! أن إعراب إلخ) .

او اعراب د مستثنی څلور ډوله دی :

۱- نصب بنا پر استثنا . ۲- اعراب په اعتبار د بدل . ۳- اعراب (بحسب العوامل) . ۴- او جر .

تفصيل : اول ډول چي نصب دی دا په څلورو ځايو کي راځي :

۱- اول مستثنی متصل وي چي واقع وي وروسته تر (إلا) او (كلام موجب) وي، لکه : (جاءني القوم إلا زيدا) .

۲- (مستثنی منقطع) وي او (كلام موجب) وي، يا نه، د (موجب) مثال لکه : (جاءني القوم إلا حمارا) او د (غير موجب) مثال لکه : (ماجاءني القوم إلا حمارا) .

۳- مستثنی پر (مستثنی منه) مخکې وي .

برابره خبره ده چي (كلام موجب) وي، يا نه. د (موجب) مثال لکه : (جاءني إلا زيد القوم) او د (غير موجب) مثال لکه : (ماجاءني زيدا أحدٌ) .

۴- او څلورم دا چي : مستثنی واقع وي وروسته تر (خلا وعدا) په نېز د زياترو نحاتو باندي او يا وروسته تر (ماعدا، ماخلا، ليس) او (لا يكون) . او مثالونه يې دا دي : (جاء القوم خلا زيدا، عدا زيدا، وماخلا زيدا، ماعدا زيدا)، يا لکه : (جاءني القوم ليس زيدا) او (لا يكون زيدا) او د دې ټولو نهه صورتونه جوړ سول .

او په څلورو ځايو کي مستثنی منصوبه وي وجوبا چي په اولو دريو صورتونو کي منصوبه وي : ځکه مستثنی وروسته تر (إلا) ده، مگر مفعول به ده، يعني مشابه له مفعول به سره په فضليت کي ده .

او اعراب د مفعول به نصب وي : نو د دې به هم اعراب نصب وي او د بدل د اعراب احتمال دلته نسته چي د مبدل منه اعراب ورکول سي او تر (خلا) او (عدا) وروسته مستثنی به : ځکه منصوبه وي چي زياتره نحات وايي : دا فعلين دي .

او (خلا يخلو، عدا يعدو عدوا) : معنا يې ده تجاوز د فاعل چي د دوی به ضمير مستتر وي په دوی کي او تر دوی وروسته مستثنی مفعول به وي او بعض نحات وايي : چي (خلا) او (عدا) له حروف جاره څخه دي، په دې وجه مستثنی به مجرور وي وروسته تر دوی دوو

او (ماعدا) او (ماخلا) فعلین دي په قرینه د دخول د (ما) مصدریه سره چي تر دوی دوو وروسته مستثنی به منصوبه وي بنا پر مفعولیت او (لیس) او (لا یکون) فعلین دي له افعال ناقصه ؤ څخه چي چي تر دوی وروسته مستثنی خبر د دوی وي په باب د استثناء کي او اسم د دوی به ضمیر مستتر وي .

(۲۳۵) پوښتنه : تر (خلا) وروسته مفعول به نه راځي ؛ ځکه دا فعل لازمي دی ؟

جواب : (خلا) په معنا د (جاوز) سره دی او (جاوز) فعل متعدي دی .

وَإِنْ كَانَ بَعْدَ إِلَّا فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجِبٍ، وَهُوَ كُلُّ كَلَامٍ يَكُوْنُ فِيْهِ نَفْيٌ وَنَهْيٌ وَاسْتِفْهَامٌ . وَالْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ مَذْكُوْرٌ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ : النَّصْبُ وَالْبَدَلُ عَمَّا قَبْلَهَا. نَحْوُ : (مَا جَاءَنِيْ أَحَدٌ إِلَّا زَيْدًا وَإِلَّا زَيْدٌ)

او که چیري وروسته تر (إِلَّا) وي په کلام (غیر موجب) کي او دا هر هغه کلام دی چي په هغه کي نفي، نهي او استفهام وي . او (مستثنی منه) مذکوره ده چي روا دي په دې کي دوې وجې : نصب او بدل مخکي له دې څخه. لکه : (مَا جَاءَنِيْ أَحَدٌ إِلَّا زَيْدًا وَإِلَّا زَيْدٌ)

تشریح : دویم ډول له مستثنی څخه په اعتبار د اعراب چي جایز دي په هغه کي دوې وجې، لکه : جواز د نصب او اختیار د بدل ؛ نو دا هغه مستثنی ده چي واقع وي وروسته تر (إلا) او کلام غیر موجب وي او (مستثنی منه) به مذکوره وي، لکه : (ماجاءني أحد إلا زيدا وإلا زيدٌ) ؛ نو دلته مراد له بدل څخه بدل بعض دی، نه بدل کل او له (کلام موجب) څخه مراد هغه کلام دی چي په هغه کي نفي، نهي او استفهام وي او (مستثنی منه) به پې ذکر وي، ولې که (مستثنی منه) ذکر نه وي ؛ نو تر هغه اعراب به وروسته راځي چي (بحسب العامل) به وي او په دې ډول د مستثنی کي نصب جایز دی بنا پر استثناء او بدل جایز دی ؛ ځکه مانع ورلره نسته، مګر بدل مختار دی ؛ ځکه چي وروسته تر (إلا) حمل سي په بدل باندي ؛ نو اعراب د ده به (بالأصالة) سي او که حمل سي په استثنا باندي ؛ نو اعراب د ده به (بالواسطة) سي او استحقاق د اعراب (بالأصالة) غوره دی تر اعراب (بالواسطة) .

(۲۳۶) پوښتنه : بدل تابع د مبدل منه وي ؛ نو اعراب د ده څنګه (بالأصالة) وي او دا ؛ خو (بالطبع) وي ؟

جواب : مراد (بالأصالة) سره نظر د مقصود د متکلم دی ؛ ځکه مقصود په نظر د متکلم سره بدل وي او مستثنی مقصوده نه وي .

وَإِنْ كَانَ مُفَرَّغًا بِأَنْ يَكُوْنَ بَعْدَ إِلَّا فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجِبٍ. وَالْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ غَيْرُ مَذْكُوْرٍ ؛ كَانَ إِعْرَابُهُ بِحَسْبِ الْعَوَامِلِ. تَقُوْلُ : (مَا جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدٌ، وَمَا رَأَيْتُ إِلَّا زَيْدًا، وَمَا مَرَرْتُ إِلَّا بِزَيْدٍ)

او که چیرې (مستثنی) مفرغه وي وروسته تر (إلا) په کلام (غیر موجب) کې او (مستثنی منه) نه وي مذکوره؛ نو وي به اعراب د ده (بحسب العوامل) چې ته به وایې: (مَا جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدٌ، وَمَا رَأَيْتُ إِلَّا زَيْدًا، وَمَا مَرَرْتُ إِلَّا بِزَيْدٍ)

تشریح: دریم ډول له مستثنی څخه په اعتبار د اعراب سره چې وي؛ دا به په اعتبار د عواملو سره منصوب، یا مرفوع او مجرور وي.

که عامل د (مستثنی منه) تقاضا د رفع کوله؛ نو مستثنی به هم مرفوع وي، که یې تقاضا د نصب؛ نو مستثنی به هم منصوبه وي او که یې تقاضا د جر کوله؛ نو مستثنی به هم مجروره وي او د دې ټولو مثال لکه: (مَا جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدٌ، وَمَا رَأَيْتُ إِلَّا زَيْدًا، وَمَا مَرَرْتُ إِلَّا بِزَيْدٍ)؛ نو ادې ته (مستثنی مفرغ) وایي؛ ځکه د عمل د مستثنی لپاره (مستثنی منه) فارغه وي.

(۲۳۷) پوښتنه: دې ته (مفرغ له) ولې پکار وه؟

جواب: دلته مراد هم دغه ده چې مستثنی (مفرغ له)، که څه هم مشهوره ده په (مستثنی مفرغ) سره.

(۲۳۸) پوښتنه: عوامل جمع ده او اطلاق د جمع کم ازکم په درو باندې کیږي؛ نو مطلب دا سو چې مستثنی به معرب ګرځي په حسب د عواملو سره چې درې وي او دا معنا خطا ده؟

جواب: الف او لام په (العوامل) کې لپاره د جنس دی چې مراد له (جنس العوامل) څخه جمعیت دی.

وَإِنْ كَانَ بَعْدَ غَيْرَ وَسِوَى وَسَوَاءَ وَحَاشَا عِنْدَ الْأَكْثَرِ؛ كَانَ مَجْرُوْرًا. نَحْوُ: (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ، وَسِوَى زَيْدٍ. وَسَوَاءَ زَيْدٍ. وَحَاشَا زَيْدٍ)

او که چیرې (مستثنی) وروسته تر (غَيْرَ، سِوَى، سَوَاءَ) او (حَاشَا) وي په نېز د زیاترو (نحاتو)؛ نو وي به مجروره. لکه: (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ، وَسِوَى زَيْدٍ، وسَوَاءَ زَيْدٍ، وَحَاشَا زَيْدٍ)

تشریح: څلورم ډول له مستثنی څخه په اعتبار د اعراب سره هغه ده چې مجروره به وي مستثنی وروسته تر (غیر، سوی) او (سواء)؛ ځکه دوی مضاف ګرځي او وروسته تر دوی مضاف إلیه راځي او مضاف إلیه مجرور وي.

او دا ډول تر (حاشا) وروسته به هم مجرور وي په نېز د زیاترو نحاتو؛ ځکه (حاشا) حرف جر دی.

او تر حرف جر وروسته مجرور راځي او ځیني نحات وایي: چې تر دې وروسته به منصوب راځي؛ ځکه دی فعل دی او ضمیر پکې مستتر هغه ورلره فاعل دی او وروسته به یې منصوب وي؛ ځکه مفعول به واقع وي.

وَاعْلَمْ! أَنَّ إِعْرَابَ "غَيْرَ" كَإِعْرَابِ الْمُسْتَثْنَى بِـ "إِلَّا" تَقُوْلُ: (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ. وَغَيْرَ حِمَارٍ. وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ الْقَوْمُ. وَمَا جَاءَنِيْ أَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ وَغَيْرَ زَيْدٍ. وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ. وَمَا رَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ. وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ).

وَاعْلَمْ ! أَنَّ لَفْظَةُ "غَيْرَ" مُوْضُوعٌ لِلصِّفَةِ. وَقَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلْإِسْتِثْنَاءِ كَمَا أَنَّ لَفْظَةَ (إِلَّا) مُوْضُوعَةٌ لِلْإِسْتِثْنَاءِ، وَقَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلصِّفَةِ. كَمَا فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ...﴾ [الأنبياء: ٢٢] أَيْ : غَيْرَ اللهِ . وَكَذٰلِكَ قَوْلُكَ : (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ)

او پوه سه ! په دې چې اعراب د "غَيْر" داسي دی لکه اعراب د مستثنی په "إِلَّا" سره چې ته به يې وايې : (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ، وَغَيْرَ حِمَارٍ، وَمَا جَاءَنِي غَيْرُ زَيْدٍ الْقَوْمُ، وَمَا جَاءَنِي أَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ وَغَيْرَ زَيْدٍ، وَمَا جَاءَنِي غَيْرُ زَيْدٍ، وَمَا رَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ، وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ) .

او پوه سه په دې چې لفظ د "غَيْر" وضع سوی دی لپاره د صفت او په تحقيق سره استعماليږي لپاره د استثنا لکه څرنګه چې لفظ د (إِلَّا) وضع سوی دی لپاره د استثنا او په تحقيق سره استعماليږي لپاره د صفت. لکه په دا قول د الله تعالى کي : ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ...﴾. أَيْ : غَيْرَ الله . او دا ډول ستا دا قول : (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ)

تشريح : هر کله چې مصنف رحمة الله عليه فارغ سو له مستثنی څخه په اعتبار د اعراب سره ؛ نو شروع يې وکړه په اعراب د (غير) د اعراب کي : ځکه دا اسم متمکن دی چې اعراب ته ضرورت لري او په ادواتو د استثنا کي د (إلا) اعراب نه بيانيږي ؛ ځکه دا حرف دی چې اعراب نه قبلوي او (خلا، عدا، ماخلا، ماعدا) :

او (ليس) دا فعل ماضي دی او ماضي د مبني والي په وجه هم اعراب نه قبلوي او (لا يکون) مضارع ده چې د هغه اعراب په اعتبار د عواملو سره وي مجزوما، يا منصوبا او (حاشا) په نېز د زياترو نحاتو حرف جر دی چې دا هم اعراب نه قبلوي او اعراب د (غير) په شان د اعراب د مستثنی دی په (إلا) سره بنا پر تفسير مذکوره باندي او کوم ځای چې مستثنی منصوب وي وجوبا او چيري چې جر ته جواز د نصب او اختيار د بدل دی ؛ نو دی به هم په هغه ځای کي داسي وي اه ! .

د (غير) **استعمال :** د عربو په کلام کي (غير) په دوه ډوله دی : ۱- (غير) صفتي . ۲- (غير) استثنائي . ۱- نو د (غير) صفتي معنا دا ده : چې دلالت کوي په ذات مبهمه باندي چې ماخوذ وي ورسره ځيني صفتونه او دا مغاير به مقابل د هغه اسم سي چې کوم مقابل د فعل او د حرف دی . ۲- او د (غير) استثنائي معنا دا ده : چې حمل سي په (إلا) باندي. يا (إلا) په ده حمل سي ؛ نو معنا صفتي به مراد نه وي بلکي معنا استثنائي به مراد وي چې هغه مغايرت دی. برابره خبره ده چې مغايرت ذاتي وي، يا صفتي او کله چې (إلا) په معنا د غير سي نو مثال يې داسي دی : ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا...﴾ [الأنبياء ٢٢]. أي : (غير الله) . او دا ډول په (لا إله إلا الله) کي (إلّا) په معنا سره د (غير) ده، يعني : (غير الله) .

او (إلا) چې په معنا د (غير) سره وي : نو د دې لپاره درې شرطونه دي : ۱- تر (إلا) مخکي به جمع وي . ۲- (غير محصور) عدد به وي جمع . ۳- تعذر د استثنا به وي متصلا او منقطعا .

يعني چې په معناد (إلا) سره وي ؛ نو د دې لپاره څه شرط نشته، لکه : په ياد مثال کې درې سره شرطونه موجود دي : ۱- (آلهة) جمع ده
۲- جمع مذکور ده (غير محصور العدد) . ۳- استثناء متعذره ده ؛ نو (إلا) په معناد (غير) سره ده او فساد د معنا دا دی چې (لخرجتا عن النظام) .

او دلته (إلا) د استثناء لپاره نه صحيح کيږي ؛ ځکه فساد د معنا به لازم سي او معنا به داسي سي : که چيري وی په ځمکه او آسمان کې ډېر الهه (خدايان) وې چې مستثنی دی له هغو څخه الله سبحانه وتعالی ؛ نو بيا به فساد په دوی کې خامخا پيدا سوی وای او که يې معنا داسې سي : چې له ډېرو خدايانو سره خدای پاک مل نه سي ؛ نو فساد به نه وي او که چيري ورسره خدای تعالی شريک سي، بيا به فساد پيدا سي ؛ نو په دې سره اثبات د وحدانيت د الله تعالی نه راځي، بلکې تعدد د آلهه ؤ لازم سو او دا معنا منافي ده له توحيد سره ؛ نو صحيح معنا دا سوه : چې له الله تعالی پرته بل پر حق ځښتن (خدای) نشته .

د مستثنی لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ﴾ [ص: ۸۷] . ۲- ﴿... فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا ...﴾ [العنكبوت: ۱۴] . ۳- ﴿قَالُوٓا إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ﴾ [الحجر: ۵۸] . ۴- ﴿... كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ [القصص: ۸۸] . ۵- ﴿... مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ ...﴾ [الأنعام: ۴۶] .

۶- (ألا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلُ)[1] . ۷- (مَا جَاءَ إِلَّا سَلِيْمٌ) . ۸- (جَاءَ الْمُسَافِرُوْنَ عَدَا سَمِيْرًا) . ۹- (مَا مَرَرْتُ إِلَّا بِالْأَحْسَنِ أَخْلَاقًا) . ۱۰- (مَا جَاءَ الطُّلَّابُ سِوَى مُعَلِّمِهِمْ) .

فَصْلٌ : خَبَرُ (كَانَ) وَأَخَوَاتِهَا : هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا . نَحْوُ : (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

فصل دی : خبر د (كَانَ) او د هغه اخوات دا هغه مسند دی چې د دوی تر دخول وروسته وي، لکه : (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

د خبرد (کان) **تعريف** : بل د متعلقاتو له مفاعليو څخه خبر د (كَانَ) دی او د ده اخوات دي چې تعريف يې په متن کې تېر سو .

د قيوداتو فايده : (هو المسند) په منزله د جنس دی چې معرف او غير معرف ټولو لره شامل دی او (بعد دخولها) په منزله د فصل دی چې په دې سره باقي مسندات خارج سول، يعني : خبر د مبتدا او داسې نور .

(۲۳۹) **پوښتنه** : په خبر د (كَانَ) کې له اول څخه اسناد موجود وو ؛ نو دا خو لازم سو اسناد د مسند ؟

جواب : مراد په مسند او اسناد سره اسناد جديد دی .

[1] دا يو شعر دی چې رسول الله ﷺ يې په هکله فرمايلي دي : (أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيْدٍ)، يعني : ډېره رښتيا خبره هغه ده چې شاعر لبيد ويلې ده . بيا يې همدغه شعر ووايه . وګوره ! (صحيح البخاري)، كتاب الأدب، باب : ما يجوز من الشعر والرجز والحداء وما يكره منه، حديث شمېره (۶۱۴۷) .

(۲۴۰) پوښتنه : (هو المسند بعد دخولها) تول به پرې داخل وي، يعني : (كان مع أخواتها) حال دا چې مسند : خوداسي نه دئ؟

جواب : دلته تقدير د عبارت په حذف د مضاف سره دی، يعني : (هو المسند بعد دخول أحدهما)، لكه : (كان زيدٌ قائماً) خبر د (كان) دی او (زيدٌ) اسم د (كان) دی.

وَحُكْمُهُ كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَأِ إِلَّا أَنَّهُ يَجُوْزُ تَقْدِيْمُهُ عَلَى أَسْمَائِهَا مَعَ كَوْنِهِ مَعْرِفَةً بِخِلَافِ خَبَرِ الْمُبْتَدَأِ، نَحْوُ : (كَانَ الْقَائِمَ زَيْدٌ)

او حكم د ده په شان د حكم د خبر د مبتدا دی مگر نه دا چې روا دی مخكې كول يې پر نومونو د دوی سره له دې چې دی به معرفه وي په خلاف د خبر د مبتدا، لكه : (كَانَ الْقَائِمَ زَيْدٌ)

تشريح : (حكمه) او شان د خبر د (كان) په شان د خبر د مبتدا دی په جواز د واقع كېدو د دې كي مفرد، يا جمله، برابره خبره ده چې جمله اسميه وي او كه فعليه وي او دا ډول په جواز د تقديم د خبر كې په اسم باندي او په نورو احكامو كې اه !.

(۲۴۱) پوښتنه : خبر د مبتدا چې معرفه وي؛ نو تقديم د ده په مبتدا باندي جايز نه دی؛ نو په خبر د (كان) كې هم دغسي پكار وو؟

جواب : مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ د دې پوښتني جواب كوي په دې خپل عبارت سره (إلا أنه يجوز تقديمه على أسماءها مع كونه معرفة)، مگر دا مطلقا نه، بلكي كله چې التباس نه راځي.

او كه التباس راتلی د خبر د (كان) د اسم له (كان) سره؛ نو بيا دلته هم جايز نه دی او البتاس په هغه ځای كي راځي چې په دواړو كي اعراب تقديري وي، يا په يو كي تقديري وي او په بل كي محلي وي، لكه : (كان موسى عيسى) چې موسى خبر وگرځوی او تقديم راسي په اسم او دا منع دی؛ ځكه التباس راځي په مينځ د خبر او اسم كي، يا لكه : (كان هذا غلامي).

فايده : خبر د (كان) ماضي نه واقع كيږي، مگر چې (قد) ورباندي داخل سي، بيا واقع كيږي، لكه : (كان قد قعد).

بله فايده : خبر د (كان) ماضي واقع كيږي چې په شرط او جزاء كي راسي، لكه : ﴿وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ ..﴾ [يوسف: ۲۷]؛ نو (قد مِن دُبر) جزا د شرط ده او خبر واقع دی د (كان) لپاره او دا ماضي ده او د (كان) ځيني ځانگړتياوي او حكمونه د مرفوعاتو په بحث كي تېر سوي دي.

د خبر د (كان) **او د هغه د اخواتو لپاره مختصر تمرين :** ۱- ﴿... أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ۝﴾ [الشورى: ۵۳]. ۲- ﴿.. تَٱللَّهِ تَفْتَؤُاْ تَذْكُرُ يُوسُفَ ...﴾ [يوسف: ۸۵]. ۳- ﴿.. فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ۝﴾ [الشعراء: ۷۱]. ۴- ﴿... وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ۝﴾ [الروم

۵- (لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ ولا دِين لمن لا عهد له)[1]. ۶- (لا طِفْلَ نَائِمٌ). ۷- (كَأَنَّ اللَّاعِبَ أَسَدٌ). ۸- (إِنَّ الوَضْعَ ...). ۹- (كَأَنَّ الهِرَّ نَمِرٌ). ۱۰- (مَا زَالَ الأُسْتَاذُ مُنْتَظِرًا الجَوابَ).

اِسْمُ (إِنَّ) وَأَخَوَاتِهَا : هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُولِهَا، نَحْوُ : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

اسم د (إِنَّ) او اخوات يې : دا يو مسند إليه دى وروسته تر دخول د دې، لکه : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

اسم د (إنّ) تعريف : بل د متعلقاتو له مفاعيلو څخه اسم د (إنّ) او اخوات يې دي چې مراد له (إنّ وأخواتها) څخه (حروف مشبه بالفعل) دى او مراد په (أخواتها) سره اشباه او نظائر د (إنّ) دي او د دوى اسم به ؛ ځکه منصوب وي چې دا مشابه دى له مفعول به سره او مفعول منصوب وي ؛ نو دا به هم منصوب وي .

فوائد قيودو : دا قيد چې (هو المسند إليه) دى ؛ دا په منزله د جنس دى چې معرف او غير معرف ټول مسند إليه پکې داخل سول او دا چې (بعد دخولها) دى ؛ په دې سره ماسوا د اسم له (إنّ) څخه خارج سو .

اسم د (إنّ) او د اخواتو لپاره يې مختصر تمرين : ۱- ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ﴾ [النازعات: ۲۶] . ۲- ﴿... إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [البقرة: ۲۰] . ۳- (البيت جديد لكن الأثاث قديم) .

مَنْصُوبُ بِلَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ : هُوَ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُولِهَا يَلِيْهَا نَكِرَةً مُضَافَةً، نَحْوُ : (لَا غُلَامَ رَجُلٍ فِي الدَّارِ)، أَوْ مُشَابِهًا لَّهَا، نَحْوُ : (لَا عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا فِي الْكِيْسِ) ؛ فَإِنْ كَانَ بَعْدُ لَا نَكِرَةً مُفْرَدَةً يُبْنَى عَلَى الْفَتْحِ، نَحْوُ : (لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ)، وَإِنْ كَانَ مَعْرِفَةً، أَوْ نَكِرَةً مَفْصُوْلًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ لَا ؛ كَانَ مَرْفُوْعًا، وَيَجِبُ تَكْرِيْرُ لَا مَعَ اِسْمٍ آخَرَ، تَقُوْلُ : (لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو. وَلَا فِيْهَا رَجُلٌ وَلَا امْرَأَةٌ)

منصوب په (لَا) سره چې د (نَفْيِ الجِنْسِ) لپاره وي : هغه مسند إليه دى وروسته تر دخول د دې چې ورنژدې ده نكره مضافه، لکه : (لَا غُلَامَ رَجُلٍ فِي الدَّارِ)، يا ورته يې دې لره، لکه : (لَا عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا فِي الْكِيْسِ) .

او که وروسته تر (لَا) نكره مفرده چې بنا وه پر زور، لکه : (لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ) او که وه معرفه، يا نكره چې جلا وي د ده او د (لَا) تر مينځ ؛ نو دى مرفوع او واجب دى تكرارد (لَا) سره له اسم بل چې ته به يې داسي وايې : (لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو، وَلَا فِيْهَا رَجُلٌ وَلَا اِمْرَأَةٌ)

د (لا لنفي الجنس) تعريف : بل د متعلقاتو له مفاعيلو څخه (منصوب بلا التي لنفي الجنس) دى چې تعريف يې په متن کې تېر سو .

(۱) (صحيح ابن حبان)، حديث شميره (۱۹۴) .

(۲۴۲) پوښتنه : داسې يې ولې ونه ويل : (اسم لا)، لکه د نورو په ډول ؟

جواب : اسم د (لا) په کلي توګه منصوب نه وي او اسم د ده پر اطلاق د منصوباتو نه دئ، بلکي اسم د (لا لنفي الجنس) زياتره مرفوع وي .

د قيوداتو فايده : (المسند إليه) په منزله د جنس دی معرف او غير معرف ټولو لره شامل دی، (بعد دخولها) په منزله د فصل دی چي په دې سره باقي مسند إليه خارج سو .

تشريح : په دې عبارت سره مصنف شروط د (منصوب بلا التي لنفي الجنس) بيانوي او هغه درې دي : ۱- (يلي) . ۲- (نكرة) . ۳- اضافت او يا مشابه د مضاف . هر چي شرط اول دی چي (يلي) ده ؛ نو په دې وجه باندي چي يواځې د (لا) عمل کمزوی دی چي په متصل کي عمل کولای سي او په منفصل کي عمل نه سي کولای او هر چي دويم شرط چي (نکره) به وي ؛ ځکه چي (لا لنفي الجنس) تقاضا کثرت کوي او په نکره کي کثرت دی او هر چي دريم شرط چي اضافت دی او يا مشابه له اضافت سره دی ؛ ځکه اضافت له خواصو مکبره معظمه ؤ د اسم څخه دی ؛ نو په دې سره قوي کيږي جهت د اسميت او ضعيف کيږي جهت د مشابهت له حرف سره، لکه : (لا غلام رَجل في الدّار) ؛ نو دا مثال د مضاف دی او (لا عشرين دِرهما في الكيس) ؛ دا مثال د شبه د مضاف دی او که پس تر (لا) نکره مفرده وه .

نو مبني ګرځي په فتحې سره، لکه : (لا رَجل في الدّار) او دلته مراد له مفرد څخه مقابل د مضاف او شبه د مضاف دی .

نو که چيري تر (لا) وروسته مفرده نکره وه، يعني : دريم شرط يکي نه وو : نو پس دی به مبني وي په حرکت د فتحې (زور) سره، يا په حرف باندي چي الف دی، يا (ياء) ده ؛ نو مبني به ؛ ځکه وي چي دی متضمن دی (من) حرف لره او حرف مبني دی ؛ نو دی به هم مبني وي او متضمن (من) حرف لره ؛ ځکه دی چي واقع دی په جواب د سوال د سائل کي چي هغه مشتمل دی په (من) حرف سره او په فتحه به ؛ ځکه مبني وي چي فتحه خفيفه (سپکه) ده .

فايده : له مبني پر فتحې څخه مراد علامه د نصب ده، برابره خبره ده فتحه وي، لکه : (لا رَجل في الدّار) او که ياء وي، لکه : (لا مسلمين لكَ) په صورت د تثنيه کي او (لا مسلِمِين لك) په صورت د جمع کي اه ! .

بله فايده : د (لا رَجل في الدّار) معنا ده (لا من رَجل في الدّار) ؛ ځکه دا واقع دی په جواب د سوال د سائل کي چي هغه (هل مِن رَجل في الدّار ؟) دی .

او په دې عبارت (وَإِنْ كَانَ مَعْرِفَةً، أَوْ نَكِرَةً مَفْصُوْلًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ لَا ؛ كَانَ مَرْفُوْعًا، وَيَجِبُ تَكْرِيْرُ لَا) سره مصنف رحمه الله عليه حکم بيانوي د اسم د (لا) چي کله يکي انتفاء د دويم او اول شرط راغلې وي، يعني : نکره نه وي او قريب لا ته هم نه وي ؛ نو په دې صورت کي واجب ده رفع بنا پر ابتدائيت او (لا) به (ملغي عن العمل) وي او هر چي معرفه ده ؛ نو ځکه (لا) يکي عمل نه کوي چي قلت

يکې حاصل سو او هر چې په منفصل صورت کې (لا) عمل نه کوي: ځکه (لا) په عمل کې ضعيف دی چې په متصل کې عمل کوي او په منفصل کې عمل نه کوي او تکرار د (لا) به: ځکه وي په صورت اول کې چې جبيره (پټی) د فوت سوي وګرځي؛ ځکه چې دا کليمه معرفه سوه؛ نوقلت پکې موجود سو، اوس د دې لپاره جبيره پکار ده او هر چې په صورت ثاني کې تکرار د (لا) دی.

ځکه چې دا به مطابق وګرځي دِ سوال له سائل سره چې وايي: (أفي الدّار رَجل، أم امرأة ؟)؛ نو په جواب کې ادوات د نفي به راځي اوچې: (لا في الدّار رَجل ولا امرأة) اه !.

او يَجُوزُ فِيْ مِثْلِ (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ) خَمْسَةُ أَوْجُهٍ : فَتْحُهُمَا، وَرَفْعُهُمَا، وَفَتْحُ الأَوَّلِ ونَصْبُ الثَّانِيْ، وَفَتْحُ الأَوَّلِ وَرَفْعُ الثَّانِيْ، وَرَفْعُ الأَوَّلِ وَفَتْحُ الثَّانِيْ

او روا دي په مثال د (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ) کې پينځه وجې: فتحه د دوی دوو، رفع د دوی دوو، فتحه د اول او نصب د دويم، فتحه د اول او رفع د دويم، رفع د اول او فتحه د دويم

تشريح: په اعتبار د ترکيب سره په دې کې پينځه وجې جايز دي او مراد له دې څخه هر هغه ترکيب دی چې (لا لنفي الجنس) پکې مکرر وي په ذريعه د عطف سره او تر هر (لا) وروسته نکره مفرد بېله فصله وي؛ نو جايز به وي پکې پينځه وجې او هغه دا دي:

(۱) اول صورت: (فتحهما)، يعني: مبني پر فتحه به وي او په دې صورت کې په دواړو ځايونو کې (لا لنفي الجنس) لپاره دی او تر دې وروسته اسم د دوی اسم دی او په دې صورت کې دوه احتماله دي: اول دا احتمال دی چې عطف د مفرد په مفرد وسي په داسې توګه چې د دواړو لپاره خبر واحد سي؛ نو تقدير د عبارت به دا ډول سي: (لا حول عن المعصية ولا قوّة على الطاعة ثابتتان بأحد إلّا بالله) او دويم احتمال دا هم کېدای سي چې عطف د جملې په جملې وسي؛ نو تقدير د عبارت به دا ډول سي: (لا حول عن المعصية ثابت بأحد إلا بالله ولا قوّة على الطاعة ثابت بأحد إلا بالله).

(۲) دويم صورت: (رفعهما)، يعني: دواړه به مرفوع وي بنا پر ابتدائيت او په دې صورت کې (لا) زائده او (لا حول ولا قوّة الا بالله) دا جمله په جواب د سوال د سائل کې واقع ده او سوال داسې وو: (أبغير الله حول وقوّة ؟)؛ نو د دې په جواب کې (لا حول ولا قوّة إلّا بالله) په سوال کې (حولٌ وقوّةٌ) مرفوع وو.

له دې وجې په جواب کې به هم مرفوع وي او په دې دويم صورت کې هم هغه دوه احتماله صحيح دي چې يو عطف د مفرد په مفرد باندي دی او بل عطف د جملې په جملې باندي دی.

(۳) دريم صورت: (فتح الأوّل ونصب الثاني)؛ په دې صورت کې اول اسم د (لا لنفي الجنس) دی چې مفتوح به وي.

او دویم اسم به (منصوب مع التنوين) وي؛ ځکه دويم (لا) زائد دی چي راوړل سوی دی لپاره د تاکید د نفي او په دې کي هم دوه احتماله صحيح دي چي يو عطف د مفرد په مفرد باندي دی او هغه دا دئ چي د دواړو لپاره خبر واحد سي، لکه: (لا حول ولا قوّة ثابتتان بأحد إلّا بالله) او که عطف د جملې په جمله سي؛ نو د هر واحد لپاره به خبر جلا جلا وي، لکه څرنګه چي مثال يې تېر سوی دی.

(۴) څلورم صورت: (فتح الأول ورفع الثاني)؛ په دې صورت کي اول اسم د (لا لنفي الجنس) دی او دويم به مرفوع وي (مع التنوين) او (لا ثاني) به زائد وي او (قوة) مرفوع دی چي عطف دی په محل بعيده د (لا حول) کي او هغه مرفوع وو بنا پر ابتدائيت؛ نو دی به هم مرفوع وي او په دې صورت کي هم دواړه احتماله صحيح دي چي يو عطف د مفرد په مفرد باندي دی او هغه دا دئ چي يو ورلره خبر سي او بل عطف د جملې په جملې باندي دی او هغه دا دئ چي د هر واحد لپاره خبر جلا جلا سي، لکه څرنګه چي مثال يې تېر سو.

(۵) پينځم صورت: (رفع الأول وفتح الثاني)؛ چي اول به مرفوع؛ ځکه وي چي (لا مشابه بليس) دی او په دويم اسم کي (لا لنفي الجنس) دی، مګر په دې صورت کي رفع د اول ضعيفه ده؛ ځکه مشابهت د (لا) له (ليس) سره لږ دی چي په دې صورت کي عطف د مفرد په مفرد باندي نه صحيح کيږي؛ ځکه د دواړو لپاره يو خبر نه صحيح کيږي او بل دا چي (لا مشابه بليس) خپله خبر منصوب غواړي او (لا لنفي الجنس) خپله خبر مرفوع غواړي او که يو خبر سي؛ نو په يو وخت کي به يو اسم مرفوع او منصوب سي او دا ناجايز دی او په دې صورت کي عطف د جملې په جملې باندي راځي، لکه څرنګه چي يې مثال تېر سو اه!.

وَقَدْ يُحْذَفُ اسْمُ (لَا) لِقَرِينَةٍ، نَحْوُ: (لَا عَلَيْكَ)، أَيْ: لَا بَأْسَ عَلَيْكَ

او په تحقيق سره (کله ناکله) حذفيږي اسم د (لَا) له وجي د يوې قرينې، لکه: (لَا عَلَيْكَ)، أَيْ: لَا بَأْسَ عَلَيْكَ

تشريح: په دې ترکيب کي اسم د (لا) حذف سوی دی چي (بأس) دی د وجود له يوې قرينې څخه چي وجود د خبر دی او لا؛ خواسم او خبر دواړه غواړي او هر کله چي د ده خبر ذکر سو؛ نو معلومه سوه چي د ده اسم هم سته؛ خو هغه حذف سوی دی چي (لا بأس) دی او بله قرينه هم سته چي هغه دخول د (لا) دی په (عليك) باندي او دا نه دئ، بلکي دخول د حرف په حرف باندي دی؛ نو معلومه سوه چي (عليك) خبر د (لا) دی او اسم د ده حذف سوی دی چي (بأس) دی.

د (لا حول ولا قوّة إلا بالله) د **پينځو وجو نقشه**: په راتلونکې نقشه کي تاسي د (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِالله) پينځه وجي په آساني سره پېژندلای سئ!:

(۱) فتحهما	(۲) رفعهما	(۳) فتح الأول ونصب الثاني	(۴) فتح الأول ورفع الثاني	(۵) رفع الأول وفتح الثاني
(لا حولَ ولا قُوّةَ إلّا بالله)	(لا حولٌ ولا قُوّةٌ إلّا بالله)	(لا حولَ ولا قُوّةً إلّا بالله)	(لا حولَ ولا قُوّةٌ إلّا بالله)	(لا حولٌ ولا قُوّةَ إلّا بالله)
په دواړو کي (لا) لپاره د نفي	په دواړو کي مطابقت د جواب د	اول لپاره د (نفي الجنس) دی او	اول لپاره د (نفـي الجنـس) او	اول (لا) په معناد (ليس) دی

الجنس دی	سائل دی	دويم زايد دی	دويم زايد دی	او دويم د (لا) د (نفي الجنس) دی
دواړه احتماله ښکي جايز دي	دواړه احتماله ښکي جايز دي	دواړه احتماله ښکي جايز دي	دواړه احتماله ښکي جايز دي	يو احتمال ښکي جايز دی
۱- يو عطف د جملې پر بلې جملې، لکه : (لا حولَ موجودٌ إلّا بالله، ولا قُوّة موجودة إلّا بالله)	۱- يو عطف د جملې پر بلې جملې، لکه : (لا حولَ موجودٌ إلّا بالله ولا قُوّة موجودةٌ إلّا بالله)	۱- يو عطف د جملې پر بلې جملې دی، لکه : (لا حولَ ثابتٌ ولا قُوّة موجودةٌ إلّا بالله)	۱- يو عطف د جملې پر بلې جملې دی، لکه : (لا حولَ ثابتٌ ولا قُوّةٌ موجودةٌ إلّا بالله)	۱- يو عطف د جملې پر بلې جملې دی، لکه : (لا حولْ موجودًا ولا قُوّة موجودةٌ إلّا بالله)
۲- او بل عطف د مفرد پر مفرد دی، لکه : (لا حولَ ولا قُوّة موجودة إلّا بالله)	۲- او بل عطف د مفرد پر مفرد دی، لکه : (لا حولْ ولا قُوّةٌ موجودان إلّا بالله)	۲- او بل عطف د مفرد پر مفرد دی، لکه : (لا حولَ ولا قُوّةَ ثابتان بأحد إلّا بالله)	۲- او بل عطف د مفرد پر مفرد دی، لکه : (لا حولَ ولا قُوّةٌ موجودةٌ إلّا بالله)	او بل احتمال چي دويم دی : هغه ښکي نشته ۱ه ۱

د خبرد (لا لنفي الجنس) لپاره **مختصر تمرين** : ۱- ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة: ۲] . ۲- ﴿.. فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلْحَجِّ ...﴾ [البقرة: ۱۹۷] . ۳- ﴿.. لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ..﴾ [الصافات: ۳۵] . ۴- ﴿.. لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ ..﴾ [البقرة: ۲۵۴] . ۵- ﴿وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ..﴾ [الكهف: ۳۹] . ۶- (إِنَّ الْوَضْعَ جَيِّدٌ) . ۷- (كَأَنَّ اللَّاعِبَ أَسَدٌ) . ۸- (كَأَنَّ الهِرَّ نَمِرٌ) . ۹- (لَا طِفْلَ نَائِمٌ) . ۱۰- (مَا زَالَ الْأُسْتَاذُ مُنْتَظِرًا الْجَوَابَ) .

خَبَرُ (مَا) و (لَا) الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِـ (لَيْسَ) هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا، نَحْوُ : (مَا زَيْدٌ قَائِمًا، وَلَا رَجُلٌ حَاضِرًا)

خبرد (مَا) او (لَا) چي مشابه وي په (لَيْسَ) سره دا هغه مسند دی وروسته تر دخول د دوی دوو، لکه : (مَا زَيْدٌ قَائِمًا، وَلَا رَجُلٌ حَاضِرًا)

د (ما) او (لا المشبهتان بليس) **تعريف** : بل د ملحقاتو له مفاعيلو څخه خبر د (ما) او (لا) دی چي تعريف يې په متن کي تېر سو .

د قيوداتو فايده : (هو المسند) : دا په منزله دجنس دی چي شامل دی معرف او غير معرف ټولو لره او په دې قيد سره چي (بعد دخولهما) دی : دا په منزله د فصل دی چي باقي مسندات ټول په خارج سول .

أَوْ إِنْ وَقَعَ الْخَبَرُ بَعْدَ إِلَّا. نَحْوُ : (مَا زَيْدٌ إِلَّا قَائِمٌ)، أَوْ تَقَدَّمَ الْخَبَرُ عَلَى الْإِسْمِ. نَحْوُ : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ)، أَوْ زِيْدَتْ "إِنْ" بَعْدَ "مَا". نَحْوُ : (مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ) ؛ بَطَلَ الْعَمَلُ كَمَا رَأَيْتَ فِي الْأَمْثِلَةِ !

او يا دا چي واقع سي خبر وروسته تر (إِلَّا)، لکه : (مَا زَيْدٌ إِلَّا قَائِمٌ)، يا مخکي سي خبر پر اسم، لکه : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ) او يا دا چي زيات سي "إِنْ" وروسته تر "مَا". لکه : (مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ) ؛ نو باطل به سي عمل لکه څرنګه چي تا په مثالونو کي وليدله !

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه هغه درې صورتونه بيانوي چي عمل د (ما و لا) ښکي باطل وي :

۱- کله چې خبر د (ما و لا) وروسته تر (إلا) راسي.

۲- کله چې خبر د دوی په اسم مقدم سوی وي.

۳- کله چې (إن) زائده وروسته تر (ما) راسي.

په اول صورت کې ابطال د عمل دی؛ ځکه د دوی عمل له وجې د مشابهت څخه د ليس سره دی په نفي کې او په دخول کې په مبتدا او خبر باندې او هغه نفي د دوی منتقضه (ماته) سوه په (إلا) سره چې مشابهت يې منتفي سو؛ نو عمل يې هم منتفي سو.

او په دويم صورت کې: ځکه ابطال د عمل دی چې دوی په عمل کې ضعيف دي او عمل په مرتب معمول کيږي او په غير مرتب کې عمل نه سي کېدلای.

او په دريم صورت کې: ځکه ابطال د عمل دی چې دوی عمل په متصل کې کوي او په (إن) سره فصل راغلی دی او په منفصل کې دوی عمل نه کوي چې مثالونه يې په کتاب کې ذکر دي، مګر دا دريم صورت صرف په کليمه د (ما) پورې خاص دی.

وَهٰذَا لُغَةُ الْحِجَازِ. أَمَّا بَنُوْ تَمِيْمٍ؛ فَلَا يَعْمَلُوْنَهُمَا أَصْلًا. قَالَ الشَّاعِرُ عَنْ لِسَانِ بَنِيْ تَمِيْمٍ:

وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ: انْتَسِبْ　　فَأَجَابَ: مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَام

بِرَفْعِ (حَرَامُ)

او دا عمل د دوی په لغت د اهل حجاز کې دی. هر چې بنو تميم دي؛ نو د دوی عمل نه کوي بالکل. (لکه څرنګه) شاعر ويلي له ژبې څخه د بني تميم:

وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ: انْتَسِبْ!　　فَأَجَابَ: مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَام

(يعني) په رفع د (حَرَامُ) ايې ويلی دی!

تشريح: په عمل د (ما و لا) کې اختلاف د نحاتو دی چې دوه مذهبه پکې دي: ۱- اهل حجاز. ۲- او بنو تميم چې د دې تفصيل په مرفوعاتو کې سوی دی په بحث د اسم د (ما و لا) کې او اقسام د (ما و لا) هم تفصيلا هلته بيان سوی دی، مګر دلته صرف تحقيق د شعر په کيږي کوم چې بني تميمو په خپل استدلال (دليل نيولو) کې پيش کړی دی، شعر:

وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ: انْتَسِبْ!　　فَأَجَابَ: مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَام

يعني: ډېر ځله د نرۍ شا والا محبوب ته چې په شان د څانګې وو ما ورته وويل: خپله نسب نامه بيان کړه! هغې په جواب کې وويل: چې قتل د عاشق حرام نه دی.

(۲۴۳) پوښتنه: په دې باندې دا اعتراض راځي چې جواب مطابق له سوال سره نه دی: ځکه سائل د نسب نامې د بيانولو سوال کوي او هغه په جواب کې وايي: چې قتل د عاشق حرام نه دئ؟

جواب: جواب له سوال سره مطابق دی: ځکه هغه نسب نامه په اشاره کې بيان کړې ده او هر کله چې هغه شاعر (حرامُ) په رفع سره ووايي؛ نو دا معلومه سوه چې زه له بني تميم څخه يم: ځکه هغوی (ما و لا) لره عمل نه وايي، (ما قتل المحب حرام)، يعني: (ما) غير عامله

دی او (قتل المحب) مبتدا ده او (حرام) ورله خبر دی او که (ما) په دې (حرام) کې عمل کړی وای ؛ نو دا به (حراما) ویل کېدای، یعني : په نصب سره بنا پر خبر د (ما) به وای .

اول جواب يې دا دئ : چې (فأجاب) : دا تفریع ده په محذوف باندې. (أي : فإن لن تنتسب ؛ فاقتل نفسي) ؛ نو پس جواب له سوال سره مطابق دی چې (ما قتل المحب حرام) دی اه ! .

د (ما ولا المشبهتين بليس) لپاره **مختصر تمرين** : ۱- ﴿مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ﴾ [القلم: ۲] . ۲- ﴿... مَا هَٰذَا بَشَرًا ..﴾ [يوسف: ۳۱] . ۳- ﴿... وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ﴾ [ص: ۳] . ۴- (لَا خَيْرَ فِي القَوْلِ بِالجَهْلِ) . ۵- (كُنْ سَمْحًا، ولا تَكُنْ مُبَذِّرًا) . ۶- (لَا طَالِبٌ حَاضِرًا) . ۷- (مَا أَنَا عَاصِيًا أَمْرَ الله) .

يادونه : تر همدې ځايه د منصوباتو بحث په مكمله توګه پای ته ورسېدی، وروسته به د مجروراتو بحث پيل سي ؛ بِاللهِ التَّوْفِيْقِ، وَبِيَدِهِ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ .



د مجروراتو بيان

اَلْمَقْصَدُ الثَّالِثُ فِيْ الْمَجْرُوْرَاتِ
مقصود دریيم په بيان د ا مجروراتو کې دی
اَلْأَسْمَاءُ الْمَجْرُوْرَةُ : هِيَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ فَقَطْ
اسماء مجروره : دا مضاف إليه دي فقط

تشريح : هر كله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ له بيان څخه د (المقصد الثاني) چې منصوبات ول ؛ نو شروع يې وكړه په بيان د (المقصد الثالث) كې چې مجرورات دي او هغه صرف مضاف إليه دي .

او پوه سه ! په دې چې د مجروراتو چې كوم مقصد او عمل دی : نو هغه به په راتلونكو عبارتو كې واضح سي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ .

(۲۴۴) پوښتنه : هر كله چې مجرورات يو دي چې مضاف إليه دي فقط ؛ نو جمع يې ولې ذكر كړه : څكه صيغه د مفرد پكار وه ؟

جواب : جمع يې په اعتبار د كثرت د انواعو او اقسامو د مضاف إليه سره ذكر كړې ده چې دا زيات دي .

دويم جواب : بل دا چې له وجې د مطابقت له منصوباتو او مرفوعاتو سره يې جمع ذكر كړې ده .

(۲۴۵) پوښتنه : مجرور په حرف جر سره هم وي ؛ نو څنګه مجرورات صرف مضاف إليه دي فقط ؟

جواب : كوم مجرورات چې پرته له مضاف إليه دي ؛ هغه له ملحقاتو څخه د ده دي چې حقيقتا هغه مجرور نه دي .

دويم جواب: دلته عبارت په حذف سره دی چې تقدير د عبارت داسې دی: (هي المضاف إليه وما يشتمل على علامة المضاف إليه). نو په دې تقدير سره به مجرورات په حرف جاره کې داخل سي.

وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ نُسِبَ إِلَيْهِ شَيْءٌ بِوَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ لَفْظًا، نَحْوُ: (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، وَيُعَبَّرُ عَنْ هٰذَا التَّرْكِيْبِ فِي الْاِصْطِلَاحِ بِأَنَّهُ جَارٌّ وَمَجْرُوْرٌ. أَوْ تَقْدِيْرًا، نَحْوُ: (غُلَامُ زَيْدٍ)، تَقْدِيْرُهُ (غُلَامٌ لِزَيْدٍ). وَيُعَبَّرُ عَنْهُ فِي الْاِصْطِلَاحِ بِأَنَّهُ مُضَافٌ وَمُضَافٌ إِلَيْهِ

او دا هر هغه اسم دی چې نسبت سوی وي ده ته د یو شي په یو واسطې د حرف جر سره لفظا، لکه: (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ) او تعبير کيږي له دغه ترکيب څخه په اصطلاح کې چې دا جار او مجرور دی او تقديرا لکه: (غُلَامُ زَيْدٍ) چې تقدير [د عبارت يې] داسې دی (غُلَامٌ لِزَيْدٍ) او تعبير کيږي له دې څخه په اصطلاح کې چې دا مضاف او مضاف إليه دی

تشريح: مصنف رحمه الله عليه په تعريف د مضاف إليه کې شي ووايي او اسم يې نه ووايي؛ ځکه مضاف کله اسم راځي، لکه: (غلامُ زيدٍ) او کله فعل راځي، لکه: (مررتُ بزيدٍ) او شي دواړو لره شامل دی.

(۲۴۶) پوښتنه: مضاف إليه به اسم وي او ستا قاعده منقوضه ده په (ينفع) باندې کوم چې په دې آيت کې ذکر دی: ﴿.. يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ...﴾ [المائدة: ۱۱۹]؛ نو (يوم) مضاف او (ينفع) فعل مضاف إليه دی؟

جواب: اسم عام دی حقيقي وي، حکمي وي او که تاويلي وي؛ نو دلته په تاويل د مصدر سره دی؛ ځکه (أن) مقدر دی؛ نو تقدير د آيت د عبارت داسې سو: (يوم نفع الصّادقين) اه!.

(۲۴۷) پوښتنه: تقدير د (أن) مصدريه خاص دی په خاصو مواضعو پورې او په هغې کې دا ځای ذکر نه دئ؟

جواب: ځايونه چې کوم ذکر دي؛ هغه د حصر لپاره نه دي. بلکې هغه مشهور ځايونه دي چې په ځينو ځايونو کې له هغه پرته تقدير د (أن) هم راغلی دی، لکه په دې قول کې چې يو شاعر خپل شعر داسې وايي:

تسمع بالمعيد خير مِن أن تراه — ستعرف قدره إن فتـــح فاه

نو دلته تر (تسمع) مخکې (أن) مقدر دی.

(۲۴۸) پوښتنه: دا قيد چې (بواسطة حرف الجرّ) دی؛ دا د څه لپاره دئ؟

جواب: په دې قيد سره احتراز کوي له هغه څخه چې نسبت پکې وي، مګر په واسطه د حرف جر نه وي، لکه نسبت د فعل وفاعل ته او يا مفعول ته بېله واسطې اه!.

(۲۴۹) پوښتنه: تاسي واسطه د حرف جر عامه واياست لفظا وي حرف جر او كه تقديرا وي؛ نو تعريف جامع نه دئ خپلو افرادو لره چي خارج سوه دي ځكه مضاف إليه په اضافت لفظي سره په مذهب د هغه چاچي هنوى اضافت لفظي په تقدير د حرف جر سره نه وايي؟

جواب: د مصنف رحمه الله عليه په نيز باندي اضافت منقسم دى لفظي او معنوي ته او دا هغه اضافت دى چي په تقدير د حرف جر سره وي: نو پس په اضافت لفظي كي د ده په مذهب او د ابن حاجب رحمه الله عليه په مذهب باندي به هم حرف جر مقدر وي.

(۲۵۰) پوښتنه: ستا په تعريف كي مفعول فيه په دې صورت كي (صمتُ يوم الجمعة !) داخل سو: ځكه (يوم) اسم دى او نسبت ورته سوى دى ديوشي په واسطه د حرف جر سره چي اصل عبارت يې داسي دى: (صمتُ في يوم الجمعة !)؟

جواب: حرف جر به مراد وي په پاته كېدلو د خپل عمل سره چي جر دى او په مفعول فيه كي په دې معنا سره حرف جر مراد نه دى.

فايده: د مصنف رحمه الله عليه له دې عبارت څخه دا معلومه سوه چي مضاف به كله فعل او كله اسم وي: ځكه مصنف رحمه الله عليه ورته يو شى ويلى دى چي د فعل مثال (مررت بزيد) او د اسم مثال (غلام زيد)، مگر عامه مشهوره خبره دا ده: چي مضاف به اسم وي او پر دې خبره ابن حاجب رحمه الله عليه تصريح كړې ده، مگر علامه حديثي صاحب د ابن حاجب د عبارتونو د تناقض د ختمولو لپاره يوه قاعده بيان كړې ده چي هغه وايي: په (مررت بزيد) كي دوه اعتباره دي:

۱- كله چي (مرور) د فعل واقع سي په (زيد) باندي او (زيد) ته په دې اعتبار سره مضاف إليه وويل سي، مگر په حقيقت كي دا مفعول به دى په واسطه د حرف جر سره: ځكه په (مررت) كي تاويل نه سي كېدلاى.

۲- او اعتبار يكي دا دئ: چي (زيد) مضاف إليه سي د (مررت): نو په (مررت) كي تاويل كيږي په (مرور) سره.

په دې وجه اول قول د ابن حاجب چي مضاف به فعل وي په اول اعتبار سره دى او دويم قول د ابن حاجب چي مضاف به اسم وي په دويم اعتبار سره دى اه!.

وَيَجِبُ تَجْرِيدُ الْمُضَافِ عَنِ التَّنْوِينِ. أَوْ مَا يَقُوْمُ مَقَامَهُ. وَهُوَ نُوْنُ التَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ. نَحْوُ: (جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ، وَغُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمُو مِصْرٍ)

او واجب دى خالي والى د مضاف له تنوين څخه او هغه چي قايم مقامه يې وي او هغه نون د تثنيه يې او جمع دى، لكه: (جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ، وَغُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمُو مِصْرٍ)

تشريح: په مينځ د مضاف او مضاف إليه كي شدت اتصال دى او تنوين او قائم مقام د ده راځي لپاره د انفصال او په مينځ د اتصال او انفصال كي منافات دى چي دا تنوين به په هغه صورت كي ليري كيږي كوم چي موجود وي، لكه: (غُلام زيدٍ)، يا (ضارب عمروٍ)، يا (حسن الوجه)، يا (ضاربا زيدٍ)، يا (ضاربو زيدٍ) او كه تنوين په الف لام سره ساقط سوى وو؛ نو بيا جايز نه دى. لكه: (الغلام زيد): نو دلته تنوين په الف لام سره ساقط سوى دى، نه په اضافت سره او په دې صورت كي د اضافت له وجي الف لام ځني ليري كيږي.

وَاعْلَمْ ! أَنَّ الْإِضَافَةَ عَلَى قِسْمَيْنِ : مَعْنَوِيَّةٌ. وَلَفْظِيَّةٌ . أَمَّا الْمَعْنَوِيَّةُ ؛ فَهِيَ أَنْ يَكُوْنَ الْمُضَافُ غَيْرَ صِفَةٍ مُضَافَةٍ إِلَى مَعْمُوْلِهَا

او پوه سه ! په دې چې اضافت دوه ډوله دي : معنوي او لفظي . هر چې معنوي دی : نو دا به وي مضاف بېله صفته چې اضافت يې سوی وي وخپل معمول ته

تشريح : هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله عليه له بيان څخه د تعريف او له شرايطو څخه د مضاف او مضاف إليه : نو شروع يې وکړه په اقسامو د اضافت کې او ويې ويل : (واعلم ! إلخ) .

او اضافت په تقدير د حرف سره په دوه ډوله دی : ۱- (اضافت لفظي) . ۲- (اضافت معنوي) . او وجه د حصر ېکي دا ده : چې دا مضاف به خالي نه وي يا به صفت وي چې عمل به کوي په مضاف إليه کي مخکي له اضافت څخه او يا به نه وي، پس اولنی اضافت لفظي دی او دويم اضافت معنوي دی او اضافت معنوي ته : ځکه معنوي وايي چې دی فايده کوي معنا په مضاف کي چې هغه تعريف او تخصيص دی .

وَهِيَ إِمَّا بِمَعْنَى (اللَّامِ)، نَحْوُ : (غُلَامُ زَيْدٍ)، أَوْ بِمَعْنَى (مِنْ)، نَحْوُ : (خَاتَمُ فِضَّةٍ)، أَوْ بِمَعْنَى فِيْ، نَحْوُ : (صَلٰوةُ اللَّيْلِ)

او دا (اضافت معنوي) به په معنا د (لام) سره وي، لکه : (غُلَامُ زَيْدٍ)، يا به په معنا د (مِنْ) سره وي، لکه : (خَاتَمُ فِضَّةٍ) او يا به په معنا د (فِيْ) سره وي، لکه : (صَلٰوةُ اللَّيْلِ)

تشريح : مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره درې ډوله د اضافت معنوي بيانوي چې دا په درې ډوله دی : ۱- اضافت (بمعنى اللام) . ۲- اضافت (بمعنى مِن) . ۳- او اضافت (بمعنى في) .

نو اضافت (بمعنى اللام) به په هغه ځای کي وي چې مضاف إليه د جنس له مضاف څخه نه وي او نه ظرف وي د مضاف لپاره، لکه : (غلام زيد، أي : غلام لزيد) او دې ته اضافت لاميه هم وايي .

او اضافت (بمعنى مِن) به په هغه ځای کي وي چې مضاف إليه د جنس له مضاف څخه وي، لکه : (خاتم فضة، أي: خاتم من فضة) او دې ته اضافت مينه هم وايي او بيانيه هم ورته وايي .

او اضافت (بمعنى في) به په هغه ځای کي وي چې مضاف إليه ظرف لپاره د مضاف وي. برابره خبره ده چې ظرف زمان وي او که ظرف مکان وي، لکه : (صلوة الليل، ضرب اليوم، أي : صلوة في الليل، وضرب في اليوم) او دې ته اضافت فويه او ظرفيه هم وايي.

وَفَائِدَةُ هٰذِهِ الْإِضَافَةِ تَعْرِيْفُ الْمُضَافِ إِنْ أُضِيْفَ إِلَى مَعْرِفَةٍ كَمَا مَرَّ. أَوْتَخْصِيْصُهُ إِنْ أُضِيْفَ إِلَى نَكِرَةٍ. كَ(غُلَامُ رَجُلٍ)

وبه به دې اضافت داده چې تعریف د مضاف که یې اضافت وسي ومعرفه ته لکه څرنګه چې تېره سوه. یا یې تخصیص دی که یې اضافت وسي ونکرې ته، لکه: (غُلَامُ رَجُلٍ).

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د اضافت معنوي دوې فایدې ذکر کوي: یو تعریف دی او بل تخصیص.

د تعریف معنا ښکاره ده او د تخصیص معنا قلت اشتراک ده چې مضاف وي مخکې اضافت ډېرو افرادو لره شامل وي.

فایده: په اضافت سره به هله تعریف حاصلېږي چې مخکې اضافت مضاف نکره وي او که چیرې معرفه وي: نو له اضافت سره به تحصیل د حاصل لازم سي او دا باطل دی.

بله فایده: په اضافت سره به تعریف هله حاصلېږي چې مضاف لفظ له مثل، غیر، شبه او داسې نورو څخه وي؛ ځکه دوی د زیات توغل له وجې په ابهام کې په اضافت سره معرفه نه ګرځي، البته که د دوی مضاف إلیه لپاره ضد واحد وو؛ نو بیا تعریف کسب کوي، لکه: (علیك بالحرکة غیر السکون) او یا لکه: ﴿..غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ..﴾ [الفاتحة: ۷] او د مثل مضاف که چیرې یو فرد مشهور وو؛ نو دی هم په اضافت سره معرفه کېږي.

وَأَمَّا اللَّفْظِيَّةُ ؛ فَهِيَ أَنْ يَكُوْنَ الْمُضَافُ صِفَةً مُضَافَةً إِلَى مَعْمُوْلِهَا. وَهِيَ فِيْ تَقْدِيْرِ الْاِنْفِصَالِ. نَحْوُ : (ضَارِبُ زَيْدٍ وَحَسَنُ الْوَجْهِ) . وَفَائِدَتُهَا : تَخْفِيْفٌ فِي اللَّفْظِ فَقَطْ

او هر چې (اضافت) لفظي دی: نو وي به مضاف یو صفت چې اضافت یې سوی وي ومعمول خپل ته او دا په تقدیر د انفصال کې دی، لکه: (ضَارِبُ زَيْدٍ وَحَسَنُ الْوَجْهِ) او فایده یې داده: تخفیف په لفظ کې راولي فقط.

تشریح: اضافت لفظي کېدل د مضاف دې صفت او اضافت به خپل معمول ته سوی وي، دا قید چې مضاف به صفت وي په دې سره احتراز راغلی له (غلامُ زیدٍ) څخه او دا قید چې (مضافة إلى معمولها) په دې سره احتراز راغلی له هغه څخه چې مضاف وي غیر معمول ته، لکه: (مصارع مصر کریم البلد، کریم العصر) . او مثال د (ضارب زید) د هغه دی چې اضافت د صفت راغلی وي خپل مفعول ته او دویم مثال د (حسن الوجه) د هغه دی چې اضافت د صفت مشبه راغلی وي خپل فاعل ته.

وَاعْلَمْ ! أَنَّكَ إِذَا أَضَفْتَ الْاِسْمَ الصَّحِيْحَ، أَوِ الْجَارِيَ مَجرَى الصَّحِيْحِ إِلَى (يَاءِ) الْمُتَكَلِّمِ ؛ كَسَرْتَ آخِرَهُ، وَأَسْكَنْتَ الْيَاءَ، أَوْ فَتَحْتَهَا كَ (غُلَامِيْ وَدَلْوِيْ، وَظَبْيِيْ)

او پوه سه! په دې چې ته کله اضافت د اسم صحیح وکړې، یا د جاري مجری صحیح وکړې و (یاء) د متکلم ته: نو کسره به ورکړې وآخر ته یې او ساکنه به کړې یاء، یا به فتحه (زور) ورکړې لکه (غُلَامِيْ وَدَلْوِيْ، وَظَبْيِيْ)

تشریح: په دې عبارت سره مصنف یوه قاعده بیانوي، یعني هر کله چې د یو اسم صحیح او یا ملحق د اسم صحیح اضافت وسي ویاء د متکلم ته: نو آخر د هغه به مکسور کېږي؛ لپاره د مناسبت د یاء او دغه یاء به مفتوحه وایې او یا به یې ساکنه وایې او دواړه صحیح دي.

نو هر چې فتحه ده ؛ ځکه اصل په هغه کليمه کې چې مشتمل په يو حرف او حرکت دی ؛ د دې لپاره چې ابتدا په ساکن لازمه نه سي حقيقتا، يا حکما.

او اصل په مبني پر حرکت کې فتحه ده له وجې له خفته او يا به يې ساکن وايي له وجې له تخفيفه او که چيرې په آخر کې الف وو ؛ نو په لغت فصيحه سره به هغه ثابت پرېښودل کيږي، برابره خبره ده چې دا الف د تثنيه يې وي، لکه : (مسلماي) او يا نه وي، لکه : (فتاي).

او دغه ډول (عصاي) او (رحاي) له وجې د عدم موجب د انقلابه، مګر د هذيل قبيله دغه الف چې د تثنيه لپاره نه وي بدلوي يې په ياء باندې. لکه په (عصاي) کې (عصي) او په (رحاي) کې (رحي) وايي او په الف د تثنيه کې تغير نه راولي.

وَإِنْ كَانَ آخِرُ الْاِسْمِ أَلِفًا ؛ تَثْبُتُ كَـ (عَصَايَ وَرَحَايَ) خِلَافًا لِلْهُذَيْلِ كَـ (عَصَيَّ وَرَحَيَّ)، وَإِنْ كَانَ آخِرُ الْاِسْمِ يَاءً مَكْسُوْرًا مَّا قَبْلَهَا ؛ أُدْغِمَتِ الْيَاءَ فِي الْيَاءِ، وَفُتِحَتِ الْيَاءَ الثَّانِيَةَ ؛ لِئَلَّا يَلْتَقِيَ السَّاكِنَانِ. تَقُوْلُ فِي "قَاضِيْ" : (قَاضِيَّ). وَإِنْ كَانَ آخِرُهُ مَضْمُوْمًا مَّا قَبْلَهَا ؛ قَلَبْتَهَا يَاءً. وَعَمِلْتَ كَمَا عَمِلْتَ الْآنَ. تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ)

او که وو آخر د اسم الف : نو ثابتيږي لکه (عَصَايَ وَرَحَايَ) په خلاف د هذيل لکه (عَصَيَّ وَرَحَيَّ) او که وو آخر د اسم ياء مکسوره ما قبل د دې : نو مدغمه به کړې ياء په ياء کې او فتحه به ورکړې دويمې ياء ته : د دې لپار نه راسي التقاء د ساکنينو. ته به په "قَاضِيْ" کې داسې وايې : (قَاضِيَّ). او که وو آخر يې مضمومه ما قبل د دې : نو واړه يې وې په ياء او عمل به ورکړې لکه څرنګه چې دې اوس عمل ورکړی دی، چې ته به يې داسې وايې : (جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ)

تشريح : که چيرې د دغه اسم په آخر کې واو وي او اضافت راغلی وي ياء د متکلم ته ؛ نو په دې کې به دوه عمله کيږي اړول او مدغمېدل. يعني : دا واو به بدليږي په ياء باندې او بيا به دا ياء به په ياء کې مدغميږي ؛ ځکه دوه حرفه له يو جنس څخه به جمع سي ؛ نو دغه واو به بدليږي په ياء باندې ؛ ځکه د صرفيانو قاعده ده : چې په هرځای کې واو او ياء جمع سي ؛ نو دغه واو به بدليږي په ياء سره او ياء به په ياء کې مدغميږي، لکه په قاضي کې به ويل کيږي (قاضيَّ) او په (مسلمون) کې به ويل کيږي (مُسلِمِيَّ).

وَفِي الْأَسْمَاءِ السِّتَّةِ مُضَافَةً إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ ؛ تَقُوْلُ : (أَخِيْ وَأَبِيْ وَحَمِيْ وَهَنِيْ)، وَ(فِيَّ) عِنْدَ الْأَكْثَرِ. (وَفَمِيْ) عِنْدَ قَوْمٍ وَ(ذُوْ) لَا يُضَافُ إِلَى مُضْمَرٍ أَصْلًا

او په اسماء سته ؤ کې چې مضاف وي ياء د متکلم ته : نو داسې به يې وايې : (أَخِيْ وَأَبِيْ وَحَمِيْ وَهَنِيْ) او (فِيَّ) د زياترو په نيز ده او (فَمِيْ) د يو ټبر په نيز ده او (ذُوْ) نه مضافيږي ومضمر ته بالکل

نکته : کله چې (فم) سره له ياء د متکلمه ملحقه سي ؛ نو بيا په دې کې درې عمله کيدلای سي : ۱- ردول. ۲- اړول. ۳- او مدغمول او په څينو استعمالاتو کې (فمي) ويل کيږي.

د (ذو) فهيده : (ذو) له اسماء سته ؤ څخه په دې قاعده کې مخالفه ده له اخواتو څخه چي د ده اضافت ضمير ته نه صحيح کيږي ؛ ځکه (ذو) يو واضع وضع کړې ده مضاف د اسم جنس ته چي دا اسم جنس ديوې نکرې لپاره صفت واقع کيږي او ضمير اسم جنس نه وي، لکه : (جاءني رجل ذومال) .

وَقَوْلُ الْقَائِلِ شِعْرٌ : (إِنَّمَا يَعْرِفُ ذا الفَضْلِ مِنَ النَّاسِ ذَوُوْهُ) شَاذٌّ

او يو قول د قائل دی دا شعر : (إِنَّمَا يَعْرِفُ ذا الفَضْلِ مِنَ النَّاسِ ذَوُوْهُ) شاذ

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه جواب کوي له سوال مقدره څخه چي تاسو ووېل : (ذو) نه مضافيږي ضمير ته او حال دا چي په دې شعر کې راغلی دی چي (ذووه) مضاف دی ضمير ته ؛ نو مصنف جواب ورکړی چي دا شاذ دی، يعني : استعمال يې لږ دی او په دې باندې نور نه قياسيږي .

وَإِذَا قُطِعَتْ هَذِهِ الْأَسْمَاءُ عَنِ الْإِضَافَةِ ؛ قُلْتَ : (أَخٌ . وَأَبٌ . وَحَمٌ . وَهَنٌ . وَفَمٌ)

او کله چي قطع سي دغه اسماء سته له اضافت څخه ؛ نو ته به يې داسې وايې : (أَخٌ، وَأَبٌ، وَحَمٌ، وَهَنٌ، وَفَمٌ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه بل حالت د اسماء سته بيانوي چي هغه استعمال د دوی دی په وخت د قطع د اضافت کې نو ويل کيږي به (أخ) او (أب إلخ)، يعني کوم لام چي په دوی کې حذف سوی دی ؛ هغه به نه رديږي او اعراب د دوی به د هغه په ځای په لام کليمه جاري کيږي .

و(ذُوْ) لَا يُقْطَعُ عَنِ الْإِضَافَةِ أَلْبَتَّةَ هَذَا كُلُّهُ بِتَقْدِيرِ حَرْفِ الجَرِّ . أَمَّا مَا يُذْكَرُ فِيهِ حَرْفُ الجَرِّ لَفْظًا ؛ فَسَيَأْتِيكَ فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى

او (ذُو) نه قطع کيږي له اضافت څخه بالکل - دا ټوله په تقدير د حرف جر سره. هر چي هغه دي چي ذکر کيږي په هغه کې حرف جر لفظا ؛ نو رابه سي تا ته په دريم ډول کې که خوښه وه د الله تعالی

تشريح : له اسماء سته ؤ څخه (ذُو) مستثنی دی او په قطع د اضافت کې (ذُوْ) نه قطع کيږي او دا اضافت لازم نه دئ ؛ ځکه وضع د ده راغلې ده لپاره د توصل د توصيف د شي په اسم جنس سره او دا معنا نه سي حاصليدلای بيله اضافته اه ! .

د مضاف او مضاف إليه په هکله ځيني ضروري قاعدې : ۱- قاعده : مضاف إليه به همېشه مجرور وي لفظا، لکه : (غلام زيد)، يا تقديرا لکه : (غلام موسی)، يا محلا لکه : (غلام هذا) .

۲- قاعده : مضاف به کله مرفوع وي، لکه : (جاء صاحب الدار) او کله به منصوب وي، لکه : (لقيت صاحب الدار) او کله به مجرور وي، لکه : (مررت بغلام زيد) .

۳- قاعده : اضافت د صفت موصوف ته او پر عکس د دې ؛ دا جایز نه دی ؛ ځکه د ترکیب اضافي معنی جلا ده او د توصیفي معنی جلا ده.

۴- قاعده : د ځینو مرکباتو اضافت په ظاهر کې د صفت موصوف ته سوی وي، مګر په حقیقت کې موصوف حذف وي، لکه : (مسجد الجامع)، یا (صلوة الأولی) چې په اصل کې (مسجد الوقت الجامع) او (صلوة الساعة الأولی) وو ؛ نو دلته تر مضاف إلیه مخکې (الوقت) او (الساعة) موصوف محذوف دی.

۵- قاعده : مضاف إلیه مفرد او جمله دواړه واقع کیږي، د مفرد مثال لکه : (غلام زید) او د جمله مثال لکه : (رجعت حین انقطع السفر).

۶- قاعده : مضاف إلیه ضمیر هم واقع کیږي، لکه : ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ...﴾ [البقرة: ۱۰].

۷- قاعده : (ما) او (من) هم مضاف إلیه واقع کیږي، لکه : ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ﴾ [الرحمن: ۲۶] او مثال د (ما) لکه : (بموت ما لا دم له).

۸- قاعده : (أب)، یا (ابنة) چې په مینځ د علمینو کې واقع سي ؛ نو دا د (ما قبل) لپاره صفت او د (ما بعد) لپاره مضاف واقع کیږي، لکه : (ألفه العلّامة فضل الرحمن فیضون بن محمد لعل مکّي)، مګر په دې کې به یو شرط دا وي چې (ما قبل) تر (ابن) به مقوله د قول نه وي ؛ ځکه بیا به (ما قبل) مبتدا وي او (ابن) مضاف او (ما بعد) مضاف إلیه به خبر وي، لکه : ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ ...﴾ [التوبة: ۳۰].

۹- قاعده : (کُل) مضاف إلیه واقع کیږي په دې شرط چې (ما قبل) یې اسم (معرف باللام) نه وي، لکه : ﴿.. فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ...﴾ [الأنعام: ۴۴].

۱۰- قاعده : (أن) مصدریه سره له (ما بعد) په تاویل د مصدر سره د (ما قبل) لپاره مضاف إلیه واقع کیږي په دې شرط چې (ما قبل) یې اسم (معرف باللام) نه وي، لکه : ﴿... مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ...﴾ [الفتح: ۲۴]، أي : من قبل أن تقدروا علیهم.

د مجروراتو لپاره مختصر تمرین : ۱- ﴿.. آلِ فِرْعَوْنَ ...﴾ [البقرة: ۴۹]. ۲- ﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ...﴾ [البقرة: ۱۱۷]. ۳- ﴿.. خَلَوْا مِن قَبْلِكُم ...﴾ [البقرة: ۲۱۴]. ۴- ﴿رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ﴾ [الأعراف: ۱۲۲]. ۵- ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷]. ۶- ﴿... غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة: ۲۴۹]. ۷- ﴿.. هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۖ هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ﴾ [الحشر: ۲۲].

۸- (جَاءَ حَاصِدُ الزَّرْعِ الآنَ). ۹- (مُحَمَّدٌ رَسُولُ الله ﷺ وَأَبُوْ بَكْرٍ خَلِيفَتُهُ مِنْ بَعْدِهِ). ۱۰- (جَاءَ أَبِي مِنَ الْمَتْجَرِ).

پېژندنه: تر همدې ځایه د مجروراتو بحث په مکمله توګه پای ته ورسېدی، وروسته به د توابعو بحث پیل سي؛ بِاللهِ التَّوْفِيْقِ، وَبِيَدِهِ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ.



الخَاتِمَةُ: فِي التَّوَابِعِ

خاتمه ده: په (بیان) کي د توابعو

اِعْلَمْ! أَنَّ الَّتِيْ مَرَّتْ مِنَ الْأَسْمَاءِ الْمُعْرَبَةِ؛ كَانَ إِعْرَابُهَا بِالْأَصَالَةِ. بِأَنْ دَخَلَتْهَا الْعَوَامِلُ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ وَالْمَنْصُوْبَاتِ وَالْمَجْرُوْرَاتِ؛ فَقَدْ يَكُوْنُ إِعْرَابُ الْاِسْمِ بِتَبَعِيَّةِ مَا قَبْلَهُ. وَيُسَمَّى التَّابِعَ؛ لِأَنَّهُ يَتْبَعُ مَا قَبْلَهُ فِي الْإِعْرَابِ

ژباړه: په دې چي کوم څه تېر سول له اسماء معربه ؤ څخه؛ نو د دې (بالأصالة) وو په داسي توګه وربانديې داخل سي عوامل له مرفوعاتو، منصوباتو او مجروراتو څخه؛ نو په تحقیق سره ګرځي اعراب د اسم په تابع والی د (ما قبل) سره او بلل کیږي (تابع)؛ ځکه چي دی تابع دی د (ما قبل) په اعراب کي

خاتمه په بیان کي د توابعو: هر کله چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ فارغ سو د بیان له مقاصد ثلاثه ؤ څخه چي مرفوعات، منصوبات او مجرورات دي او دې ته معربات اصلیه هم وایي؛ نو شروع یې وکړه په توابعو باندي چي دې ته معربات تبعیه وایي؛ نو حاصل دا سو چي مخکي هغه اسماء معربه ذکر سوه چي عوامل یې رفع، نصب او جر ورکونکی وو (بالذات) داخل وه په دغه اسماء معربه باندي او اوس هغه اسما معربه ذکر کوي چي په هغو (عوامل بالذات) داخل نه وي، بلکي په واسطه له (ما قبل) اسم سره په دې اسماء معربه باندي داخل وي، له دې وجې دې ته (توابع) او (ما قبل) ته (متبوع) وایي.

پس زده کړه دا خبره! چي دا توابع پېنځه دي: ۱- صفت. ۲- معطوف بالحرف. ۳- تاکید. ۴- بدل. ۵- او عطف بیان.

وجه د حصر په دې پېنځو کي دا ده: چي (مقصود بالنسبة) به خالي نه وي یا به (تابع) وي، یا به (متبوع) وي او یا به دواړه وي.

اوس که اول وو؛ نو هغه تابع او که دویم وو؛ نو بیا به خالي نه وي یا به غرض د دواړو له تابع څخه دلالت وي په هغه معنا باندي چي ثابت وي په متبوع کي او یا به راوړل سي لپاره د تقرر د هغه معنا چي په (متبوع) کي وي او یا به راوړل سي د توضیح د هغه چي په (متبوع)

کي ده، که اول وو ؛ نو هغه نعت او که دويم وو ؛ نو هغه تاکيد او که دريم وو ؛ نو عطفِ بيان او که مقصود دواړه وه ؛ نو هغه (معطوف بالحرف) دی.

وَهُوَ كُلُّ ثَانٍ مُعْرَبٌ بِإِعْرَابِ سَابِقِهِ مِنْ جِهَةٍ وَّاحِدَةٍ

او دا (تابع) هر هغه دويم معرب دی چي (معرب) وي په مخکي اعراب سره له يو اړخ څخه

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه تعريف د تابع ذکر کوي او په تعريف کي لابدي وي له جنس او فصل څخه ؛ نو دلته دا قيد په تعريف کي چي (كُلّ ثان) دی په منزله د جنس دی او هر اسم موخر لره شامل دی او دا قيد چي (معرب بإعراب سابقه) فصل اول دی او په دې سره له مبتدا خبر، مفعول ثاني د باب د (علمت) او مفعول ثالث د باب د (أعلمت) ؛ له دې پرته چي کوم اسم موخر وي، لکه خبر د حروف مشبه بالفعل او خبر د افعال ناقصه ؤ، خبر د (ما و لا المشبهتين بليس) او داسي نور ټول خارج سول ؛ ځکه د دوی اعراب موافق له اول سره نه دی او دا قيد چي (من جهة واحدة) په دې سره خبر د مبتدا او مفعول ثاني او ثالث د باب د (علمت) او (أعلمت) خارج سو ؛ ځکه د دوی جهت د اعراب له (ما قبل) سره يو نه دی، که څه هم په اعراب کي له (ما قبل) سره موافق دی او مؤخر هم دی. مګر په يو جهت سره له (ما قبل) څخه دی.

(۲۵۱) پوښتنه : په تعريف کي لفظ د (کُل) راغلی دی او دا راځي د احاطې د افرادو لپاره ؛ نو په دې سره لازم سو تعريف د افرادو او دا باطل دی ؟

جواب : په تعريف کي لفظ د (کُل) داخل نه دی او تفصيل يې مخکي تېر سوی دی.

وَالتَّوَابِعُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ : النَّعْتُ. وَالْعَطْفُ بِالْحُرُوْفِ. وَالتَّاكِيْدُ: وَالْبَدَلُ. وَعَطْفُ الْبَيَانِ

او توابع پينځه ډوله دي : نعت دی، عطف په حروفو سره دی، تاکيد دی، بدل دی او عطف بيان دی

(۲۵۲) پوښتنه : توابع جمع د تابع ده او تابع وزن فاعل دی او فاعل په وزن د فواعل نه جمع کېږي او دلته توابع وزن د فواعل دی ؟

جواب : وزن فاعل په دوه ډوله دی : ۱- صفتي . ۲- اسمي . وزن فاعل صفتي نه جمع کېږي په فواعل سره او وزن فاعل اسمي په فواعل سره جمع کيږي ؛ نو دلته فاعل اسمي دی نه صفتي.

او بل دا چي فاعل صفتي په دوه ډوله دی : ۱- صفت عاقل . ۲- صفت غير عاقل ؛ نو فاعل صفت عاقل نه جمع کيږي په فواعل سره او فاعل صفت غير عاقل جمع کيږي ؛ نو دلته صفت د غير عاقل دی.

او (تَابِعٌ) چي اسم دی ؛ نو دا جمع کيږي په (توابع) سره، لکه : (شواهق) او (طوالع) چي جمع د (شاهق) او (طالع) ده.

(۲۵۳) پوښتنه: د تعريف نه توابعو څخه خارج سو تابع فعلي او تابع حرفي، لکه: (إنّ إنّ) او (ضرب ضرب)؛ ځکه ثاني معرب نه دی په اعراب د خپل سابق باندي؟

جواب: تابع حرفي او تابع فعلي که خارج سي؛ نو څه نقصان نه دی؛ ځکه بحث زموږ په توابعو د مرفوعاتو، منصوباتو او مجروراتو کي دی چي هغه د دوالونو له اسم څخه دي او که دوی خارج سي؛ نو څه نقصان نه راځي.

(۲۵۴) پوښتنه: دا تعريف په تعريف د تابع هم نه صادقيږي؛ ځکه (کل ثان)؛ خو (ثالث، رابع) او (خامس) او داسي نورو لره نه شامليږي؛ ځکه چي دوی (ثان) نه دئ؟

جواب: مراد له (ثان) څخه هر موخر (وروستنی) دی؛ نو په دې معنا سره (ثالث) او (رابع) ټول داخل سوه.

(۲۵۵) پوښتنه: هر کله چي ثاني معرب وګرځېدی په اعراب د سابق سره؛ نو سابق بلا اعراب پاته سو؟

جواب: مراد په (إعراب سابقه) سره جنس اعراب د سابق دی، نه عين اعراب د سابق اه!.

(۲۵۶) پوښتنه: خارج سو له تعريف څخه هغه تابع چي اعراب په دواړو کي يا په يو کي تقديري وي او يا محلي؛ ځکه ثاني معرب په اعراب د سابق سره نه دئ؟

جواب: اعراب دلته عام دی او (لاحق) که تقديري وي. لفظي وي او که محلي، کوم چي معتبر وي په سابق کي تقديري، يا لفظي او يا محلي اه!.

فصل: النَّعْتُ تَابِعٌ يَدُلُّ عَلَى مَعْنًى فِيْ مَتْبُوْعِهِ. نَحْوُ: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ)، أَوْ فِيْ مُتَعَلِّقِ مَتْبُوْعِهِ. نَحْوُ: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ)، وَيُسَمّٰى صِفَةً أَيْضًا

فصل دی: نعت يو تابع دی چي دلالت کوي پر يو معنا چي په خپله متبوع کي وي، لکه: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ). يا په متعلق د متبوع کي وي، لکه: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ) او بلل کيږي صفت هم

د نعت تعريف: هر کله چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه فارغ سو د بيان د اجمال له توابعو څخه؛ نو شروع يې وکړه په تفصيل د توابعو کي چي اول د توابع خمسه ؤ نعت دی چي ده ته (صفت) هم وايي او نعت يې مقدم کړی په نورو باندي له وجي د دې چي استعمال يې ډېر. فايدې يې ډېري او متابعت يې پوره دی؛ ځکه دی د خپل متبوع په لسو شيانو کي تابع دي؛ نو پس دی (أوفر متابعتا) دی او هغه لس شيان به په وروسته بحثو کي ذکر سي؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ.

د قيوداتو فايده: دا قيد چي تابع دی دا په منزله د جنس دی چي تمام توابع پکي داخل دي او دا قيد چي (يدل على معنى في متبوعه)؛ په دې سره له نعت پرته تمام توابع خارج سول.

او نعت په دوه ډوله دی : ۱- (صفة بحاله) چې دې ته مصنف اشاره کړې ده په دې عبارت سره (يدلّ على معنى في متبوعه) . ۲- (صفة بحال متعلقه) دی چې دې ته مصنف رحمه الله عليه اشاره کړې ده په دې عبارت سره چې وايي : (أو في متعلق متبوعه) ؛ نو (صفة بحاله) دې ته وايي : چې يو صفت (بالذات) لپاره د موصوف واقع سوی وي، لکه : (جاءني رَجل عالم) چې په دې مثال کې (رَجل) موصوف منعوت متبوع دی او (عالم) صفت نعت تابع دی ؛ نو عالم دلالت کوي په يوه معنا باندې چې علم دی او هغه (بالذات) موجود دی په رجل کې، يعني دلالت کوي په يوه معنا چې موجوده ده په (رَجل) کې چې هغه معنا علم دی .

او (صفة نعت بحال متعلقه) دې ته وايي : چې يو صفت (بالذات) لپاره د موصوف واقع نه وي، لکه : (جاءني رَجل عالمٌ أبوه) ؛ په دې مثال کې (عالم) موصوف او (عالم) يې صفت دی او دا (عالم) صفت د متعلق د (رجل) دی چې هغه (أبوه) دی .

پس زده کړه دا خبره ! چې متعلق د موصوف هغه دی چې په مينځ د موصوف او صفت کې علاقه وي او علاقه عامه ده چې قريبه وي او که بعيده او علاقه قريبه په درې ډوله ده : ۱- علاقه د نسبت، لکه : (جاءني رَجل عالم أبوه) . ۲- علاقه د ملک، لکه : (جاء رَجل حسن غلامه) . ۳- او دريم علاقه د مخالطې ده، لکه : (مررت برَجل طويل ثوبه) .

او مثال د علاقه بعيده، لکه : (مررت برَجل قائم غلام أبيه) .

وَالْقِسْمُ الْأَوَّلُ يَتْبَعُ مَتْبُوْعَهُ فِيْ عَشَرَةِ أَشْيَاءٍ : فِي الْإِعْرَابِ، وَالتَّعْرِيْفِ، وَالتَّنْكِيْرِ، وَالْإِفْرَادِ، وَالتَّثْنِيَةِ، وَالْجَمْعِ، وَالتَّذْكِيْرِ، وَالتَّأْنِيْثِ، نَحْوُ : (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ، وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ، وَرِجَالٌ عَالِمُوْنَ، وَزَيْدُنِ الْعَالِمُ، وَامْرَأَةٌ عَالِمَةٌ)

او اول ډول اچې (صفة بحاله)، يا (نعت بحاله) دی| دا تابع وي د خپل متبوع اچې موصوف دی| په لسو شيانو کې : اعراب، تعريف، تنکير، افراد، تثنيه، جمع، تذکير، تانيث، لکه : (جاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ، وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ، وَرِجَالٌ عَالِمُوْنَ، وَزَيْدُنِ الْعَالِمُ، وَامْرَأَةٌ عَالِمَةٌ)

موصوف او صفت به په لسو شيانو کې مطابقت سره لري : اولنی ډول چې هغه (نعت بحاله) دی ؛ دا به له خپل متبوع سره مطابق وي په لسو شيانو کې چې هغه درې ډوله په اعراب کې دي : ۱- رفع . ۲- نصب . ۳- جر . يعني : که چيرې متبوع مرفوع وي ؛ نو تابع به هم مرفوع وي او که متبوع منصوب او مجرور وي ؛ نو تابع به هم منصوب او مجرور وي، هم دغه ډول په : ۴- معرفه . ۵- نکره . ۶- افراد . ۷- تثنيه . ۸- جمع . ۹- تذکير . ۱۰- او تانيث کې هم تابع له متبوع سره مطابق وي، مګر په دې لسو شيانو کې څلور په ترکيب کې موجوديږي او شپږ نه موجوديږي له وجې د منافات د ځينو له ځينو سره، لکه په اعراب کې به يا رفع وي، يا به نصب وي او يا به جر وي، دغه ډول په تعريف او تنکير کې له دې دواړو څخه به يا په تعريف او يا په تنکير کې وي، په دغه پرتله باندې په افراد، تثنيه، جمع، تذکير او تانيث کې هم مطابقت ضروري دی .

(۲۵۲) پوښتنه: ستا قاعده منقوضه سوه په (رَجل علامة) او (امرأة علامة) سره او دا دوول په (رَجل صبور) او (امرأة صبور) سره ځکه په دې کې مطابقت نشته د موصوف له صفت سره په تذکير او تانيث کې؟

ځواب: د مطابقت حکم په هغه صفت کې دی چې په هغه کې مذکر او مؤنث برابر نه وي او صفت د مؤنث دې په مذکر کې جاري نه وي، لکه: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ)؛ نو دلته (عَالِمٌ) صفت د (رَجُلٌ) دی چې څلور سره شيان پکې موجود دي: ۱- صفت او موصوف دواړه مرفوع دي. ۲- دواړه نکره دي. ۳- دواړه مفرد دي. ۴- دواړه مذکر دي، لکه: (رَجُلَانِ عَالِمَانِ)؛ دا مثال د تثنيه يې دی او درې امره پکې موجود هم دي.

(رِجَالٌ عَالِمُوْنَ): دا مثال د جمعې دی او درې سره پکې موجود هم دي.

(زَيْدُ الْعَالِمُ): دا مثال د معرفې دی او درې سره پکې موجود هم دي.

او (امْرَأَةٌ عَالِمَةٌ): دا مثال د تانيث دی او درې سره پکې موجود هم دي، لکه: افراد، تنکير او تانيث.

وَالْقِسْمُ الثَّانِيْ إِنَّمَا يَتْبَعُ مَتْبُوْعَهُ فِي الْخَمْسَةِ الْأَوَّلِ فَقَطْ أَعْنِيْ: الْإِعْرَابَ، وَالتَّعْرِيْفَ، وَالتَّنْكِيْرَ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿... مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا ...﴾ [النساء: ۷۵]

او دويم دوول هغه دی چې تابع وي د خپل متبوع په پينځو اولو شيانو کې فقط، يعني: اعراب [چې رفع، نصب او جر دی]، تعرف او تنکير لکه د قول د الله تعالى: ﴿... مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا ...﴾ [النساء: ۷۵]

تشريح: دويم دوول له نعت (صفت) څخه چې (بحال متعلقه) دی هغه دی چې مطابق وي له خپل متبوع سره په پينځو شيانو کې، لکه: اعراب چې په هغه کې رفع، نصب او جر داخل دي، تعريف او تنکير، مګر په پينځو شيانو کې به دوه موجوديږي او درې نه موجوديږي، لکه دا قول د الله تعالى سو: ﴿... مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا ...﴾ [النساء: ۷۵]؛ نو په دې مثال کې (القرية) موصوف او (الظالم) صفت (بحاله) دی چې په دې کې د صفت له موصوف سره په دوو شيانو کې مطابقت دی: ۱- په اعراب کې چې دواړه مجرور دي. ۲- او بل دا چې دواړه معرفه دي.

وَفَائِدَةُ النَّعْتِ تَخْصِيْصُ الْمَنْعُوْتِ إِنْ كَانَا نَكِرَتَيْنِ، نَحْوُ: (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ)، وَتَوْضِيْحُهُ إِنْ كَانَا مَعْرِفَتَيْنِ، نَحْوُ: (جَاءَنِيْ زَيْدُنِ الْفَاضِلُ).

وَقَدْ يَكُوْنُ لِمُجَرَّدِ الثَّنَاءِ وَالْمَدْحِ، نَحْوُ: (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)، وَقَدْ يَكُوْنُ لِلذَّمِّ، نَحْوُ: (أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ)، وَقَدْ يَكُوْنُ لِلتَّاكِيْدِ، نَحْوُ: ﴿.. نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ﴾ [الحاقة: ۱۳]

او فايده د نعت تخصيص د منعوت دی چې کله وي دواړه نکره، لکه : (جاءني رجلٌ عالمٌ) او وضاحت يې دا دئ چې وي دواړه معرفه، لکه : (جاءني زيدٌ الفاضلُ)
او کله کيږي لپاره د خالي ثنا او ستاينې، لکه : (بسم الله الرحمن الرحيم) او کله کيږي لپاره د مذمت، لکه : (أعوذ بالله من الشيطان الرجيم) او کله کيږي لپاره د
تاکيد، لکه : ﴿... نفخةٌ واحدةٌ﴾ [الحاقة ١٣]

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د نعت پينځه فايدې ذکر کوي :

۱ - تخصيص په منعوت کې نعت پيدا کوي، لکه : (جاءني رجلٌ عالمٌ) : په دې شرط چې دواړه نکره وي .

۲ - د توضيح لپاره د منعوت مثال، لکه : (جاءني زيدٌ الفاضل إن كانا معرفتين) .

۳ - (لمجرد الثناء) په منعوت کې نعت پيدا کوي، لکه : (بسم الله الرحمن الرحيم) .

۴ - (لمجرد الذم) په منعوت کې نعت پيداکوي، لکه : (أعوذ بالله من الشيطان الرجيم) .

۵ - (للتاكيد) په منعوت کې نعت پيدا کوي، لکه : ﴿... نفخةٌ واحدةٌ﴾ .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ النَّكِرَةَ تُوْصَفُ بِالْجُمْلَةِ الْخَبَرِيَّةِ. نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ أَبُوْهُ قَائِمٌ، أَوْ (قَامَ أَبُوْهُ).
وَالضَّمِيْرُ لَا يُوْصَفُ، وَلَا يُوْصَفُ بِهِ

او پوه سه ! په دې چې نکره موصوفه کيږي په جمله خبريه يې سره، لکه : (مررتُ برجلٍ أبوهُ قائمٌ)، يا (قامَ أبوهُ) . او ضمير نه موصوف واقع کيږي او نه صفت

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه بله يوه قاعده بيانوي چې ضمير نه موصوف واقع کيږي او نه صفت او ضمير په درې ډوله دی : ۱ - ضمير متکلم . ۲ - ضمير مخاطب . ۳ - ضمير غائب : نو ضمير د متکلم او مخاطب اعرف المعارف دي چې دوی موصوف نه واقع کيږي : ځکه صفت لپاره د توضيح د موصوف وي .

او د دوی توضيح ته ضرورت نسته او ضمير د غائب حمل دی په ضمير د متکلم او مخاطب باندې او ضمير صفت نه واقع کيږي : ځکه صفت يو تابع وي چې دلالت کوي په هغه معنا چې موجوده وي په موصوف کې او ضمير دال دی په ذات باندې نه په معنا باندې اه ! .

(۲۵۸) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په ﴿... لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ [آل عمران: ٦] او دلته (هُوَ) موصوف واقع دی او (العزيز الحكيم) صفتونه دي ؟

جواب : (العزيز الحكيم) بدل له (هُوَ) څخه دی او صفتونه د (هُوَ) نه دي .

ځينې نحوي فايدې : ۱ - فايده : ځينې نحات د نعت لپاره شرط اشتقاق ګرځوي، يعنې صفت به مشتقې واقع کيږي او نه جامد او که چيرې جامد راغلی وي : نو تاويل به کوي په مشتقې سره، مګر مذهب د جمهور و نحاتو دا دئ چې شرط په نعت کې د جامد او اشتقاقي معتبر نه دی، لکه دې ته اشاره ابن حاجب صاحب کړې ده په دې عبارت سره : (ولا فصل بين أن يكون مشتقا أو غيره ...) .

...ميه: موصوف به خاص وي له صفت څخه او يا به مساوي وي له صفت سره؛ لپاره د دې چې لازم نه سي زياتوالى د فرع په اصل ...ي. مګر دا به په اعتبار د مفهوم سره وي. نه په اعتبار د خارج سره او اعتراض نه راځي په توصيف د حيوان په (ناطق) سره؛ ځکه موصوف دلته چې حيوان دى ډېر خاص هم نه دى او مساوي هم نه دى له (ناطق) سره، بلکې ډېر عام دى؛ نو مراد زموږ له مساوي او ...ص څخه په مصداق کې نه دى، بلکې په تعريف او معلوميت کې دى.

۳- فايده: د (معرف باللام) توصيف به هم په (معرف باللام) سره کيږي د وجې له قاعدې مذکورې څخه. لکه: (قام الرّجل العالم).

۴- فايده: د اسم اشارې توصيف به هم په (معرف باللام) سره کيږي له وجې د پورته کولو د ابهام په اشاره کې او د اسم اشاره توصيف به په اسم اشاره سره نه کيږي. لکه: (مَرَرْتُ بهذا العالِمِ).

۵- فايده: مطابقت د صفت له موصوف سره به لازم وي. مګر که اسم تفضيل مستعمل وو په (مِن) سره؛ نو مطابقت بيا لازم نه دى او اسم تفضيل به دې صورت کې همېشه مفرد مذکر وي. لکه: (مررت برِجال أفضل مِن زيد).

۶- فايده: هغه صفتونه چې مذکر او مؤنث يکې برابر وي، لکه وزن د (فعول) او (فعيل) چې په دوى کې هم مطابقت شرط نه دى لکه څرنګه چې پې مثال تېر سو: (جَاءَتْنِي اِمْرَأَةٌ صَبُوْرٌ) او (اِمْرَأَةٌ قَتِيْلٌ)، يا لکه: (جَاءَنِي رَجُلٌ صَبُوْرٌ) او (رَجُلٌ قَتِيْلٌ).

۷- فايده: دوه اسمونه معرفه وو او يا نکره وو: نو غالبا صفت او موصوف به وي، د دواړو معرفو مثال لکه: (جاء الرّجل العالِمُ) او د دواړو نکرو مثال لکه: (جَاءَنِي رجلٌ عالِمٌ).

۸- فايده: تر اسم اشاره وروسته اسم (معرف باللام) غالبا صفت او موصوف وي. لکه: ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ ...﴾ [البقرة ۲]

۹- فايده: کله کله به درې، يا څلور، يا پينځو اسماؤ باندې چې الف لام داخل سي؛ نو په دې کې اول موصوف وي او پاته صفات وي. لکه: ﴿بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ [الفاتحة ۱]، يا لکه: ﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ...﴾ [الحشر ۲۴]، يا لکه: (الحجّ واجب على الأحرار المسلمين البالغين العقلاء الأصحاء).

۱۰- فايده: کله کله تر نکره وروسته فعل واقع وي؛ نو دغه هم موصوف او صفت وي په دې شرط چې فعل د جزاء په مقام کې نه وي واقع. لکه: (الکلمة لفظ وُضِع لمعنى مفرد ...)، يا لکه: (حروف تجرّ الاسم فقط کلمة تدل على معنى في نفسها).

۱۱- فايده : كه يو فعل وروسته تر نكره په مقام د جزاء كې وو ؛ نو موصوف او صفت به نه وي، لكه : (مَنْ بَنَى لله مَسْجِدًا ؛ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)⁽¹⁾.
۱۲- فايده : كله يو اسم ضمير ته مضاف وي او تر دې وروسته (معرف باللام) راسي ؛ نو دغه هم غالبا موصوف او صفت وي، لكه : (سبحان ربّي الأعلى)، يا (سبحان ربّي العظيم) .
۱۳- فايده : كله چي تر اسم موصول مخكې اسم (معرف باللام) راسي ؛ نو هغه هم موصوف او صفت وي، لكه : ﴿... هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ۝ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ ...﴾ [البقرة: ٢-٣] .
۱۴- فايده : لفظ د (ابن) د (ما قبل) لپاره صفت او د (ما بعد) لپاره مضاف واقع كيږي، لكه : (أحمد بن محمد بن حسن) .
۱۵- فايده : اسم مضاف ضمير ته وي او تر دې وروسته چي اسم موصول راسي : دا موصوف صفت واقع كيږي، لكه : ﴿...وَأُمَّهَـٰتُكُمُ ٱلَّـٰتِىٓ أَرْضَعْنَكُمْ...﴾ [النساء: ٢٣] .
۱۶- فايده : هر كله چي تر نكره وروسته لفظ د (غير) راسي ؛ نو دا هم صفت او موصوف وي، لكه : ﴿.. إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَـٰلِحٍ ...﴾ [هود: ٤٦] او يا داسي نور مثالونه .
۱۷- فايده : يو اسم چي مضاف وي ضمير ته او وروسته يې اسم اشاره راسي ؛ نو دا هم په ځينو ځايونو كې موصوف او صفت واقع كيږي، لكه : ﴿... مِن سَفَرِنَا هَـٰذَا نَصَبًا۝﴾ [الكهف: ٦٢] .
۱۸- فايده : چي د لفظ تر ذات مخكې نكره راسي چي دا هم غالبا صفت او موصوف وي. لكه د فقه په دې عبارت كې : (والقهقهة في كُلِّ صلاة ذات ركوع وسجود) .
۱۹- اسم منسوب چي دا په حكم د اسم مشتقي كې وي، لكه : (جَاءَنِي رَجل بغدادِيّ، أي : منسوب إلى بغداد).
۲۰- اسم جامد چي دلالت پر تشبيه كوي، لكه : (رأيتُ رَجلًا أسدًا، أي : شُجاعًا) .
۲۱- لفظ د (ذو) په معنا د صاحب سره اخيستل كيږي، لكه : (جاء رَجل ذو عِلم، أي : صاحب عِلم) .

(۱) (صحيح ابن خزيمة)، كتاب الصّلاة، باب : فضل بناء المساجد، حديث شمېره (۱۲۹۱) او دې ته لږ ورته حديث ابن حبان په خپل (صحيح) كې هم روايت كړى دى، حديث شمېره (۱۶۱۰) .

نعت او منعوت (صفت او موصوف) لپاره مختصر تمرین : ۱- ﴿الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ [الفاتحة: ۳] . ۲- ﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ﴾ [البقرة: ۲] . ۳- ﴿.. صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا﴾ [النساء: ۶۸] . ۴- (أَبُوكَ عَالِمٌ مُحْتَرَمٌ) . ۵- (الْجُنْدِيُّ الجَبَانُ مَذْمُومٌ) . ۶- (الطِّفْلُ الصَّغِيرُ مَحْبُوبٌ) . ۷- (العَامِلُ الْمُجِدُّ مَمْدُوحٌ) . ۸- (سَمِيحٌ طالِبٌ مُوفَّقٌ) . ۹- (هَذَا رَجُلٌ عَالِمٌ) . ۱۰- (يَا زَيْدُ طَالِبٌ !) .

فَصْلٌ : العَطْفُ بِالحُرُوْفِ تَابِعٌ يُنْسَبُ إِلَيْهِ مَا نُسِبَ إِلَى مَتْبُوعِهِ. وَكِلَاهُمَا مَقْصُودَانِ بِتِلْكَ النِّسْبَةِ. وَيُسَمَّى (عَطْفَ النَّسَقِ) .

وَشَرْطُهُ : أَنْ يَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ مَتْبُوعِهِ أَحَدُ حُرُوفِ الْعَطْفِ. وَسَيَأْتِيْ ذِكْرُهَا فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى. نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ عَمْرٌو)

فصل دی : عطف په حروفو سره یو تابع دی چې نسبت کیږي ده ته د هغه کوم چې نسبت یې خپل متبوع ته کیږي او دواړه مقصوده دي په دغه نسبت سره او دا (عَطفَ النَّسَقِ) نومیږي.

او شرط یې دادئ : چې وي به د ده او د خپل متبوع په مینځ کې یو د حروفو د عطف او ژر دی چې بیان به یې راسي په درییم دول کې که د الله تعالی خوښه وه، لکه [مثال یې] : (قَامَ زَيْدٌ عَمْرٌو)

د عطف (بالحرف) تعریف : دویم ډول له توابعو څخه (معطوف بالحرف) دی او عطف په لغت کې میلان ته وایي او معطوف اصطلاحي ته معطوف په دې وجه وایي چې معطوف یکې مائل سوی وي معطوف علیه ته، یعني معطوف په حکم د معطوف علیه سره ګرځي او اصطلاحي تعریف یې مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ ذکر کړی دی چې دې ته (عطف النسق) هم وایي او د (نسق) معنا ده برابر بدل ؛ نو په اعراب کې هم (تابع معطوف) او (متبوع معطوف علیه) سره برابر وي، له دې وجې (عطف النسق) ورته وایي .

او دویمه معنا د (نسق) ده ترتیبول : نو (تابع معطوف) تر (متبوع معطوف علیه) وروسته په ترتیب سره وي .

د قیودانو فایده : لفظ د تابع په منزله د جنس دی چې تمام توابع په دې سره داخل سوه او دا قید چې (كلاهما مقصودان بالنسبة) : دا په منزله د فصل دی چې په دې سره باقي توابع خارج سوه .

یادونه : د حروف عاطفه ؤ بحث به مکمل په (القسم الثالث) کې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ .

وَإِذَا عُطِفَ عَلَى الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوعِ الْمُتَّصِلِ ؛ يَجِبُ تَأْكِيْدُهُ بِالضَّمِيْرِ الْمُنْفَصِلِ. نَحْوُ : (ضَرَبْتُ أَنَا وَزَيْدٌ)

او کله چې عطف وسي پر ضمير مرفوع متصل ؛ نو واجب دی تاکید والی یې په ضمیر منفصل سره، لکه : (ضَرَبْتُ أَنَا وَزَيْدٌ)

تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه یوه قاعده د عطف بیانوي او هغه دا ده چې هر کله اراده وسي د عطف په ضمیر مرفوع ... باندې : نو تاکید به د هغه راوړل کیږي په منفصل سره : ځکه ضمیر منفصل داسي دی لکه یو جزء له کیلمې څخه لفظا او معنا او عطف په د... باندې بیله تاکیده په منفصل سره دا عطف دی په جزء د کلیمې باندي او دا باطل دی .

(۲۵۹) پوښتنه : هر کله چې د ضمیر متصل تاکید راسي په منفصل سره او بیا عطف ورباندې وسي : نو دا به خالي نه وي یا به دا عطف وي په (د...) باندي .

او یا به دا عطف وي په (مؤكِد) باندي، كه عطف وي په (مؤكَد) باندي : نو لازمیږي عطف په جز د کلیمې باندي او كه په (مؤكِد) باندې يې عطف وایې : نو دا تاکید سو او عطف نه سو ؟

جواب : دا عطف دی په (مؤكَد) باندي او اعتراض نه واردیږي : ځکه کله چې د ده تاکید وسو په ضمیر منفصل سره : نو هغه اتصال د ده ختم سو په سبب د تاکید سره، لکه : (ضربتُ أنا وزيد) : نو دلته ضمیر متصل دی .

إِلَّا إِذَا فُصِلَ. نَحْوُ : (ضَرَبْتُ الْيَوْمَ وَزَيْدٌ) . وَإِذَا عُطِفَ عَلَى الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ الْمُتَّصِلِ ؛ يَجِبُ إِعَادَةُ حَرْفِ الْجَرِّ. نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِكَ وَبِزَيْدٍ)

مگر ... دا چې کله یې فصل واقع سي، لکه : (ضَرَبْتُ الْيَوْمَ وَزَيْدٌ) . او کله چې عطف وسي پر ضمیر مجرور متصل باندي : نو واجب دی راګرځول د حرف جر، لکه : (مَرَرْتُ بِكَ وَبِزَيْد)

تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه بله قاعده د عطف ذکر کوي او هغه دا ده چې کله عطف وسي په ضمیر مجرور باندي : نو اعاده د حرف جر واجب ده لپاره د دې چې عطف نه وسي په جزء د کلیمې باندي : ځکه ضمیر مجرور په شان د جزء دی د جار له وجې د شدت اتصال د مجروره له جار سره. اوس که عطف وسي بیله د اعادې د حرف جره : نو لازم به سي عطف په جز د کلیمې باندي او دا باطله دہ .

(۲۶۰) پوښتنه : هر کله چې اعاده د حرف جر په معطوف کې وسي : نو لازم به سي عطف په مرکب باندي او دا ؛ خو باطل دئ ؟

جواب : معطوف په حقیقت کې مجرور دی او اعاده د حرف جر تکرار د عامل دی .

فایده : دا قاعده عامه ده چې د حرف جر هم اعاده واجبه ده او که په مضاف إلیه مجرور ضمیر باندي عطف وسي ؛ نو اعاده د مضاف هم واجبه ده. لکه : (جاءني غُلامك وغلامُ زيد). مګر مصنف صاحب د اختصار له وجې د دې پرېښوول کړي دي .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ الْمَعْطُوفَ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوفِ عَلَيْهِ. أَعْنِيْ إِذَا كَانَ الْأَوَّلُ صِفَةً لِشَيْءٍ. أَوْ خَبَرًا لِأَمْرٍ. أَوْ صِلَةً. أَوْ حَالًا ؛ فَالثَّانِيْ كَذٰلِكَ أَيْضًا

جواب: په دې چې معطوف په حکم کې د معطوف عليه دی، يعني چې کله اول صفت د يو شي وي، يا خبر لپاره د يو امر وي، يا صله وي، يا حال وي: نو دويم هم دا ډول دی.

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د معطوف او معطوف عليه اشتراک د حکم ذکر کوي جوازا او ممتنعا او ددې نه پس بيا په (ما بعد - أعني إذا كان إلخ) عبارت سره تفصيل کوي.

(۲۶۱) پوښتنه: معطوف د پر ځله مبني وي او معطوف عليه معرب وي او يا بالعکس وي او يا معطوف معرفه وي او معطوف عليه نکره وي او يا بالعکس وي او معطوف مفرد وي او معطوف عليه تثنيه او جمع وي: نو څنګه معطوف په حکم د معطوف عليه کې وئ؟

جواب: معطوف به په حکم د معطوف عليه کې وي په احوال عارضه ؤ کې له (ما قبل) څخه معطوف عليه ته او دا: خو احوال دي چې عارض دي (من حيثيت نفسه إلى المعطوف) او دلته دا حکم زموږ مراد نه دی.

وَالضَّابِطَةُ فِيهِ أَنَّهُ حَيْثُ يَجُوْزُ أَنْ يُقَامَ الْمَعْطُوْفُ مَقَامَ الْمَعْطُوفِ عَلَيْهِ؛ جَازَ الْعَطْفُ. وَإِلَّا؛ فَلَا

او قاعده په دې کې دا ده چې په کوم ځای کې روا وي چې ودريږي معطوف پر ځای د معطوف عليه: نو روا دی عطف. کنې: نو نه دئ روا

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه تر دې مخکې د قاعدې لپاره يوه ضابطه بيانوي او هغه دا ده چې معطوف به په حکم د معطوف عليه کې په هغه ځای کې وي چې صحيح وي اقامت د معطوف پر ځای د معطوف عليه باندې او چيرې چې معطوف پر ځای د معطوف عليه نه دريږي: نو بيا معطوف په حکم د معطوف عليه کې نه راځي.

وَالْعَطْفُ عَلَى مَعْمُوْلَيْ عَامِلَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ جَائِزٌ إِنْ كَانَ الْمَعْطُوفُ عَلَيْهِ مَجْرُوْرًا وَمُقَدَّمًا. وَالْمَعْطُوفُ كَذٰلِكَ. نَحْوُ: (فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَالْحُجْرَةِ عَمْرٌو). وَفِي هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ مَذْهَبَانِ آخَرَانِ. وَهُمَا أَنْ يَجُوْزَ مُطْلَقًا عِنْدَ الْفَرَّاءِ وَلَا يَجُوْزُ مُطْلَقًا عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ

او عطف پر دوو معمولينو د دوو عاملينو چې سره مختلف وي جايز دی که وو معطوف عليه مجرور او مقدم [يعني: مخکې وو] او معطوف هم دغه ډول دی. لکه: (في الدار زيد والحجرة عمرو). او په دې مسئله کې دوه مذهبه نور دي او هغه دا دي چې روا دی مطلقا په نېز د فراء او نه دئ روا په نېز د سيبويه

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه بله قاعده د عطف بيانوي چې په اصل کې دلته دو صورتونه دي: ۱- صورت اتفاقا جايز دی. ۲- صورت اختلافي دی.

۱- نو اول صورت چې اتفاقي جايز دی هغه دا چې دوه اسمونه عطف سي په دوو معمولينو باندې او دوی وي دوه معمولين د يو عامل لپاره چې دا جايز دی، لکه: (ضرب زيد عمروا، وبكر خالدا): په دې مثال کې (زيد) او (عمرو) د (ضرب) عامل واحد معمولين دي او په دوی باندې عطف د (بکر) او (خالدا) سوی دی په داسې توګه چې (بکر) عطف دی: څکه دا (مسموع من العرب) دی

۲- او دويم اختلافي صورت : يعني هر كله چي دوه اسمونه عطف سي په معمولينو د عاملينو مختلفينو باندي په داسي توګه چي مجرور مقدم پکي نه په جانب د معطوف عليه کي وي او نه په جانب د معطوف کي وي ؛ نو دا جايز نه دي په نيز د جمهورو په خلاف د امام فرا، لکه : (زيدٌ في الدّار وعمرو في الحجرة) ؛ په دې مثال کي (زيد) معمول د مبتدا دی چي عامل معنوي دی او (الدّار) معمول د (في) جاره دی او په دې (زيد) باندي عطف د (عمرو) سوی دی او په (الدّار) باندي عطف د (الحجرة) سوی دی، مګر په دې مثال کي مجرور نه په جانب د معطوف عليه کي مقدم دی او نه په جانب د معطوف کي ؛ ځکه دا عطف باطل دی او دا واو (حرف ضعيف) دی چي نه سي قايمېدلای په ځای د دوو عاملينو باندي او د دې صورت له عربو څخه سماع (اورېدنه) هم نه ده سوې .

د (معطوف بالحرف) ځيني مهمي قاعدې : ۱- د اسم ظاهر عطف په اسم ظاهر باندي کيږي، لکه : (جاءني زيدٌ وعمرو) .

۲- قاعده : د اسم ضمير عطف په اسم ضمير باندي کيږي، لکه : (أكرمتهم وإيّاكم) .

۳- قاعده : د اسم ضمير عطف په اسم ظاهر باندي کيږي، لکه : (أكرمت حمادا وإيّاك) .

۴- قاعده : د فعل عطف په فعل او د حرف عطف په حرف باندي کيږي، لکه : ﴿.. وَإِن تُؤْمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ ..﴾ [محمد: ۳۶] .

۵- قاعده : عطف د جمله اسميه يې په جمله اسيمه باندي جايز دی، بلکي غوره دی، لکه : ﴿أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ۝﴾ [البقرة: ۵] .

۶- قاعده : د اسم ظاهر عطف په ضمير باندي جايز دی، لکه : (جاءني القوم إلا أنت وحماد) .

۷- قاعده : د يو جار او مجرور عطف پر بل جار او مجرور صحيح دی، لکه : ﴿.. ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ ...﴾ [الأنفال: ۲۴] .

۸- قاعده : په يو کلام کي اسماء ضمائرو ته مضاف وي او په مينځ کي يې واو، يا بل حرف عاطفه وي چي دوی هم سره معطوف او معطوف عليه وي، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿... مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَاۖ ...﴾ [البقرة: ۶۱] .

۹- قاعده : هر کله چي اسم موصول مکرر وي او په مينځ کي حرف عاطف وي ؛ نو د دويم اسم موصول له صله څخه د اول اسم موصول په صله باندي عطف صحيح دی، لکه : ﴿وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِٱلْـَٔاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ۝﴾ [البقرة: ۴] .

۱۰- قاعده : هر کله چي اسم اشاره مکرره وي او په مينځ کي واو عاطفه او داسي بل شی راسي ؛ نو د دويم اسم اشاره عطف په اول اسم اشاره باندي صحيح دی، لکه : ﴿أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ۝﴾ [البقرة: ۵] .

د (معطوف بالحرف) لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿.. ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ ...﴾ [البقرة: ۳۵] . ۲- ﴿.. ٱعْبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ۝﴾ [البقرة: ۲۱] . ۳- ﴿... سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ۝﴾

٤- (أَيَّدَ الشَّاهِدَ هَذَا وَأَبُوهُ) . ٥- (خَرَجْتُ أَنَا وَسَعِيدٌ مِنَ الدَّارِ) . ٦- (الشِّتَاءُ بَارِدٌ ، وَالصَّيْفُ حَارٌّ) . ٧- (... الدَّرْسَ خَالِدٌ وَسَعِيدٌ).

متن: التَّأْكِيدُ تَابِعٌ يَدُلُّ عَلَى تَقْرِيرِ الْمَتْبُوعِ فِيمَا نُسِبَ، أَوْ عَلَى شُمُولِ الْحُكْمِ لِكُلِّ أَفْرَادِ الْمَتْبُوعِ

ترجمه: تاکید دا يو تابع دى چې دلالت کوي پر تقرير د متبوع په هغه کې چې نسبت يې سوى وي. يا په شمول د حکم لپاره د هر فرد د افرادو د متبوع

تشريح: هر کله چې فارغ سو مصنف رحمة الله عليه له بيان څخه د عطف ؛ نو شروع يې وکړه په تاکيد باندې او تاکيد صيغه د مصدر ده له باب تفعيل څخه چې په لغت کې په معنا د مضبوط کولو سره ده او اصطلاحي معنا يې مصنف رحمة الله عليه کړې ده .

وَالتَّأْكِيدُ عَلَى قِسْمَيْنِ : (لَفْظِيٌّ) وهُوَ تَكْرِيرُ اللَّفْظِ الْأَوَّلِ. نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ زَيْدٌ، وَجَاءَ جَاءَ زَيْدٌ) .

وَ(مَعْنَوِيٌّ) وهُوَ بِأَلْفَاظٍ مَعْدُودَةٍ، وهِيَ : (النَّفْسُ وَالْعَيْنُ) لِلْوَاحِدِ وَالْمُثَنَّى وَالْمَجْمُوعِ بِاخْتِلَافِ الصِّيغَةِ وَالضَّمِيرِ. نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ. وَالزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا. أَوْ نَفْسَاهُمَا. وَالزَّيْدُونَ أَنْفُسُهُمْ)، وَكَذَلِكَ (عَيْنُهُ. وَأَعْيُنُهُمَا. أَوْ عَيْنَاهُمَا. وَأَعْيُنُهُمْ) . (جَاءَتْنِي هِنْدٌ نَفْسُهَا. وَجَاءَتْنِي الْهِنْدَانِ أَنْفُسُهُمَا. أَوْ نَفْسَاهُمَا. وَجَاءَتْنِي الهِنْدَاتُ أَنْفُسُهُنَّ) . وَ(كِلَا وَكِلْتَا) لِلْمُثَنَّى خَاصَّةً. نَحْوُ : (قَامَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، وَقَامَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا) . وَ(كُلٌّ. وَأَجْمَعُ. وَأَكْتَعُ. وَأَبْتَعُ. وَأَبْصَعُ) لِغَيْرِ الْمُثَنَّى بِاخْتِلَافِ الضَّمِيرِ فِي (كُلٍّ). وَالصِّيغَةِ فِي الْبَوَاقِي. تَقُولُ : (جَاءَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ أَكْتَعُونَ أَبْتَعُونَ أَبْصَعُونَ. وَقَامَتِ النِّسَاءُ كُلُّهُنَّ جُمَعُ كُتَعُ بُتَعُ بُصَعُ)

او تاکيد پر دوه ډوله دى : (لفظي) او دا هغه دى چې تکرار د لفظ اول راسي. لکه : (جَاءَنِي زَيْدٌ زَيْدٌ، وَجَاءَ جَاءَ زَيْدٌ) .

او (معنوي) او دا په شو الفاظو سره وي. او دا لکه (النَّفْسُ وَالْعَيْنُ) د واحد او تثنيه يې لپاره او مجموع په اختلاف د صيغې او ضمير سره دى. لکه : (جَاءَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ، وَالزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا، أَوْ نَفْسَاهُمَا، وَالزَّيْدُونَ أَنْفُسُهُمْ) او دا ډول (عَيْنُهُ، وَأَعْيُنُهُمَا، أَوْ عَيْنَاهُمَا، وَأَعْيُنُهُمْ) . (جَاءَتْنِي هِنْدٌ نَفْسُهَا، وَجَاءَتْنِي الْهِنْدَانِ أَنْفُسُهُمَا، أَوْ نَفْسَاهُمَا، وَجَاءَتْنِي الْهِنْدَاتُ أَنْفُسُهُنَّ) . او (كِلَا وَكِلْتَا) د تثنيه يې لپاره خاص راځي. لکه : (قَامَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، وَقَامَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا) . او (كُلٌّ، وَأَجْمَعُ، وَأَكْتَعُ، وَأَبْتَعُ، وَأَبْصَعُ) پرته له تثنيه يې راځي په اختلاف د ضمير سره په (كُلّ) کې او صيغه په پاتو کې داسې ده چې به يې وايې : (جَاءَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ أَكْتَعُونَ أَبْتَعُونَ أَبْصَعُونَ) . (وَقَامَتِ النِّسَاءُ كُلُّهُنَّ جُمَعُ كُتَعُ بُتَعُ بُصَعُ)

تشريح: او تاکيد په دوه ډوله دى : ١- لفظي . ٢- او دويم معنوي . وجه د حصر دا ده چې دا تاکيد به خالي نه وي. يا به تکرار د لفظ اول وي لفظا او معنا او يا به معنا وي فقط، که اول وو : نو تاکيد لفظي او که ثاني وو : نو تاکيد معنوي دى .

او مصنف رحمه الله عليه د قسم اول لپاره دوه مثالونه ذکر کړي دي، لکه : (جاءني زيدٌ زيدٌ) چي اشاره ده دې خبري ته چي تاکيد لفظي په اسم، فعل او حرف ټولو کي راځي .

دا ډول په جمله اسميه او فعليه کي هم تاکيد لفظي راځي، د جمله اسميه يې لکه : (زيد قائم) او د جمله فعليه يې مثال لکه : (جاء زيدٌ جاء زيدٌ) .

او تاکيد معنوي مسموع دی په الفاظ معدوده ؤ کي چي نفس، عين او داسي نور اته الفاظ دي چي د دوی معناوي او استعمالات په کتاب کي ذکر دي، مګر د دوی درې الفاظ چي (أكتع أبتع) او (أبصع) دي : په دې کي د علماوو اختلاف دی، ځيني عالمان وايي : چي د دې الفاظو څه معنا نسته په حال د افراد کي او هر کله چي جمع ذکر سي : نو بيا په معنا د جمع دي .

او ځيني عالمان وايي : چي په حال د افراد کي د دوی معنا سته چي (أكتع) په معنا د هغه چا دی چي ګوتي يې په ورغوي کي سره نښتلي وي او (أبصع) په معنا د احمق سره دی، يعني : بې عقله او (أبتع) په معنا د (أطول العنق) سره دی، چي ډېري اوږدې غاړې والا ته ويل کيږي .

وَإِذَا أَرَدْتَ تَأْكِيْدَ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ بِـ (النَّفْسِ وَالْعَيْنِ) ؛ يَجِبُ تَأْكِيْدُهُ بِالضَّمِيْرِ الْمُنْفَصِلِ، تَقُوْلُ : (ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسُكَ)

او کله چي ستا اراده سي د مؤکد والي د ضمير د مرفوع متصل په (النَّفْس وَالْعَيْن) سره : نو واجب دی مؤکدوالي يې په ضمير منفصل سره چي ته به يې داسي وايې : (ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسُكَ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه قاعده کليه بيانوي او دليل د مذکوري مسئلي دا دئ چي تاکيد به اول په منفصل سره کيږي : د دې لپاره چي لازم نه سي التباس د تاکيد له فاعل سره په صورت د عدم تاکيد کي په ځينو صورتونو کي او په کوم ځای کي چي التباس نه راځي هغه (طردا للباب) حمل سوی وي .

لکه : (ضربت أنت نفسك) او دا قيد يې ولګوی چي ضمير د مرفوع متصل به وي : ځکه د ضمير منصوب او مجرور تاکيد په نفس او عين سره کيږي بېله تاکيد منفصل څخه، لکه : (أنت نفسك قائم) .

وَلاَ يُؤَكَّدُ بِـ (كُلٍّ وَأَجْمَعَ) إِلَّا مَا لَهُ أَجْزَاءٌ وَأَبْعَاضٌ يَصِحُّ اِفْتِرَاقُهَا حِسًّا. كَـ (الْقَوْمِ). أَوْ حُكْمًا. كَمَا تَقُوْلُ : (اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ). وَلَا تَقُوْلُ : (أَكْرَمْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ)

او نه مؤکد کيږي په (كُلّ وَأَجْمَع) سره مګر دا چي هغه لره اجزا او ابعاض وي چي صحيح وي افتراق د هغه حسا. لکه (الْقَوْم). يا حکما لکه څرنګه چي ته يې وايې : (اشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ) او داسي به نه وايې : (أَكْرَمْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ)

تشريح: په (كُل) او (أجمع) سره تاكيد د هغه شي راځي چي هغي لره اجزاء وي او مراد په اجزاء سره امور متعدده دي؛ نو افرادو لره بيا هم شامليږي؛ ځکه (كُل) دلالت کوي په کليت باندي او (أجمع) دلالت کوي په جمعيت باندي او دا نه متحقق کيږي. مګر په (ذو الأجزاء) کي او دلته مونږ ځکه له اجزاء ځخه مراد افراد واخيستـه.

وَاعْلَمْ! أَنَّ (أَكْتَعَ وَأَبْتَعَ وَأَبْصَعَ) أَتْبَاعٌ لِـ(أَجْمَعَ). وَلَيْسَ لَهَا مَعْنىً هٰهُنَا بِدُوْنِهِ؛ فَلَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُهَا عَلَى (أَجْمَعَ) وَلَا ذِكْرُهَا بِدُوْنِهِ

او پوه سه! په دي چي (أَكْتَعَ وَأَبْتَعَ وَأَبْصَعَ) تابع دي لپاره د (أَجْمَعَ). او نسته دي لره معنا دلته بيله دي؛ نو نه دئ روا مخکي کول يي پر (أَجْمَعَ) او نه يي ذکر کول بيله دي

تشريح: دا دري الفاظ چي (أكتع، أبتع) او (أبصع) دي؛ دا د (أجمع) تابع دي او کله چي (أجمع) ذکر سي؛ نو دوى به ورسره ذکر کيږي، پس هر کله چي دوى تابع د (أجمع) سو؛ نو دوى به نه مقدم کيږي په (أجمع) باندي؛ ځکه لازميږي تقديم د تابع په متبوع باندي

او دا خبره چي له (أجمع) ځخه به په دوى کي کوم لفظ اول راځي؛ ځيني نحات وايي: چي (أكتع) به راځي او بيا (أبتع) او (أبصع). ځيني نحات وايي: چي (أبصع) مقدم دی په (أبتع) باندي.

او ځيني نحات وايي: چي تعين په دوى کي د تقدم نسته، يعني هر يو چي مقدم سو او يا موخر سو؛ نو پروا نه لري او دوى بيله (أجمع) په ترکيب کي نه ذکر کيږي؛ ځکه لازميږي ذکر د تابع بيله ذکر د متبوع او دا باطل دی او يا له وجي د عدم ظهور د دلالت د دوى بيله د معنا د (أجمع) او!.

د تاكيد لپاره مختصر تمرين: ۱- ﴿.. خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا ...﴾ [يس ۳۶] ۲- ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ [الحجر ۹۲] ۳- ﴿... قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ ...﴾ [آل عمران ۱۵۴] ۴- ﴿كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا﴾ [الفجر ۲۱] ۵- ﴿... لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ﴾ [التوبه ۳۳] ۶- (إِنَّ إِنَّ الْوَلَدَ نَائِمٌ). ۷- (أَنْتَ نَفْسُكَ لَمْ تُعْطِ أَخَاكَ حَقَّهُ). ۸- (جَاءَ جَاءَ سَعِيدٌ). ۹- (ذَهَبَ الطِّفْلَانِ كِلَاهُمَا). ۱۰- (هٰذِهِ خَالَتُكَ عَيْنُهَا).

اَلْبَدَلُ تَابِعٌ يُنْسَبُ إِلَيْهِ مَا نُسِبَ إِلَى مَتْبُوْعِهِ. وَهُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّسْبَةِ دُوْنَ مَتْبُوْعِهِ

بدل يو تابع دی چي نسبت کيږي ده ته د هغه چي نسبت يئ کيږي وخپل متبوع ته او هغه مقصود دی په نسبت سره بيله خپل متبوعه؛ يعني مقصود په نسبت سره (بدل) دی، نه متبوع چي (مبدل منه) دی!

د (بدل) **تعريف :** هر كله چې فارغ سو مصنف رحمة الله عليه د بيان له تاكيد څخه ؛ نو شروع يې وكړه په بل ډول د توابعو كې چې (بدل) دى او (بدل) په لغت كې (عوض) او مقابل ته وايي او په اصطلاح كې لكه اوس چې يې په متن كې بيان وسو .

د قيوداتو فايده : تابع په منزله د جنس دى چې شامل دى معرف او غير معرف ټولو لره او (هو المقصود بالنسبة) فصل اول دى چې په دې سره نعت، تاكيد او عطف بيان خارج سو ؛ ځكه په دوى كې مقصود صرف متبوع وي او دا قيد چې (دونه) دى ؛ دا دويم فصل دى چې په دې سره (معطوف بالحرف) خارج سو ؛ ځكه په دوى كې مقصود دواړه دي .

(۲۶۲) پوښتنه : تعريف د بدل په (معطوف بالحرف) صادق سو چې معطوف وي په بل سره چې په دې كې هم متبوع مقصود وي ؟

جواب : په دې كې متبوع له لوېه سره مقصود وي، مګر اعراض د دې وسو له وجې د ظهور د غلط او قصد د معطوف وسو ؛ نو په دې سره معنا دواړه مقصود وګرځېدل .

(۲۶۳) پوښتنه : په تعريف سره هغه بدل خارج سو چې پس تر (إلا) وي، لكه : (ما قام أحد إلّا زيد) ؛ ځكه دى مقصود نه دى په نسبت سره خپل متبوع ته ؟

جواب : (ما نسب إلى المتبوع) ؛ دلته (قيام) دى او نسبت د (قيام بعينه إلى التابع) دى، مګر فرق دا دئ ؛ چې په اول كې (سلبي) دى او په دويم كې (ايجابي) دى او په تعريف كې چې د بدل كوم نسبت ذكر سوى دى ؛ هغه عام دى (سلبي) وي، كه ايجابي اه ! .

وَأَقْسَامُ الْبَدَلِ أَرْبَعَةٌ : (بَدَلُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ). وَهُوَ مَا مَدْلُولُهُ مَدْلُولِ الْمَتْبُوعِ. نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ أَخُوكَ). وَ(بَدَلُ الْبَعْضِ مِنَ الْكُلِّ). وَهُوَ مَا مَدْلُولُهُ جُزْءُ مَدْلُولِ الْمَتْبُوعِ. نَحْوُ : (ضَرَبْتُ زَيْدًا رَأْسَهُ).

وَ(بَدَلُ الْاِشْتِمَالِ). وَهُوَ مَا مَدْلُولُهُ مُتَعَلِّقُ الْمَتْبُوعِ كَـ (سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ). وَ(بَدَلُ الْغَلَطِ). وَهُوَ مَا يَذْكَرُ بَعْدَ الْغَلَطِ. نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ جَعْفَرٌ. وَرَأَيْتُ رَجُلًا حِمَارًا)

او ډولونه د (البدل) څلور دي : (۱) - يو - (بَدَلُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ) دى او دا هغه دى چې خپل مدلول يې مدلول د متبوع وي. لكه : (جَاءَنِي زَيْدٌ أَخُوكَ). (۲) او - دويم - (بَدَلُ الْبَعْضِ مِنَ الْكُلِّ) دى او دا هغه دى چې خپل مدلول يې يو جزء د مدلول د متبوع وي. لكه : (ضَرَبْتُ زَيْدًا رَأْسَهُ)

(۳) او - دريم - (بَدَلُ الاِشْتِمَالِ) دى او دا هغه دى چې خپل مدلول يې په متبوع پورې اړوند وي. لكه (سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ) او - څلورم - (بَدَلُ الْغَلَطِ) دى او دا هغه دى چې تر غلط (غلط) وروسته ذكر كيږي. لكه : (جَاءَنِي زَيْدٌ جَعْفَرٌ. وَرَأَيْتُ رَجُلًا حِمَارًا)

په څلورو ډولونو کې د (بدل) د حصر کېدووجه : وجه د حصر په څلورو کي دا ده چې (بدل) او (مبدل مِنه) به خالي نه وي يا به په مينځ د دوی کي ملابست وي او يا به نه وي، که دويم وو ؛ نو (بدل الغلط) او که اول وو ؛ نو بيا به خالي نه وي يا به (بدل الكُل) له (مبدل مِنه) ځنه وي او يا به جز له (مبدل مِنه) ځخه وي او يا به په يو د دوی کي مشتمل وي په بل باندي که اول وو ؛ نو (بدل الكُل) دی، که دويم وو (بدل البعض) او که دريم وو ؛ نو (بدل الاشتمال) دی .

د تشريح : ۱- (بدل الكُل مِن الكُل) : دې ته وايي چې د (بدل) او (مبدل منه) مصداق يو وي، لکه : (جاءني زيدٌ أخوك) ؛ زيد (مبدل منه) او (أخوك) بدل دی او له دواړو ځخه يو سړی مراد دی چې هم دغه زيد دی ! .

۲- (بدل البعض مِن البعض) : دې ته وايي چې د بدل مدلول له (مبدل مِنه) ځخه جز وي، لکه : (ضربت زيدا رأسه) ؛ نو زيدا (مبدل مِنه) دی او (رأسه) بدل بعض دی ؛ ځکه (رأس) جز د زيد دی .

۳- (بدل الاشتمال) : دې ته وايي چې د بدل مدلول د (مبدل منه) له متعلقاتو ځخه وي، لکه : (سُلِب زيدٌ ثوبه) ؛ نو زيد (مبدل منه) او (ثوبه) بدل اشتمال دی ؛ ځکه (ثوب) له متعلقاتو ځخه د زيد دی .

۴- (بدل الغلط) : دې ته وايي چې د (مبدل مِنه) تر غلطي وروسته ذکر کيږي لپاره د تدارک د دغې غلطۍ، لکه : (جاءني زيد جعفر إلخ) : نو زيد (مبدل منه) او جعفر (بدل الغلط) دی ؛ ځکه خبري کوونکی په جعفر باندي تلفظ کوي، مګر په غلطي سره له ژبې ځخه د زيد نوم ووت، بيا تر دې غلطۍ وروسته خبري د جعفر نوم واخيست ! .

وَالْبَدَلُ إِنْ كَانَ نَكِرَةً مِنْ مَعْرِفَةٍ ؛ يَجِبُ نَعْتُهُ كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿... بِالنَّاصِيَةِ ۝ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ ..﴾ [العلق: ۱۵-۱۶] وَلَا يَجِبُ ذٰلِكَ فِيْ عَكْسِهِ. وَلَا فِي الْمُتَجَانِسَيْنِ

او (بدل) که نکره وه له معرفې ځخه ؛ نو واجب دی نعت يې لکه دا قول د الله تعالى : ﴿... بِالنَّاصِيَةِ ۝ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ ..﴾ او نه دئ واجب عکس يې او نه په متجانسينو کي

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د بدل او (مبدل منه) څلور صورتونه د جواز (روايت) ذکر کوي په اعتبار د نکرې او معرفې :

۱- (مبدل مِنه) او (بدل) دواړه معرفې، لکه : ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝﴾ [الفاتحة ۶]

۲- (مبدل منه) او (بدل) دواړه نکرې، لکه : مثال : ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ۝﴾ [النبأ ۳۱-۳۲]

۳- (مبدل منه) نکره او (بدل) معرفه، لکه : ﴿... إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۝ صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي ...﴾ [الشورى ۵۲-۵۳]

۴- (مبدل مِنه) معرفه او (بدل) نکره، لکه : ﴿... لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ۝ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ ..﴾ [سورة العلق ۱۵-۱۶]

په څلورم ډول کي دا شرط دی چي له بدل سره صفت راوړل لازمي دي : ځکه مقصود په کلام کي بدل دی، که چيري د بدل نکره صفت نه راوړل سي : نو لازم به سي تاوان د مقصود چي بدل دی له غير مقصود څخه چي مبدل منه دی، پس هر کله چي د ده صفت راوړل سو: نو نکره مخصصه سوه او قريبه سوه معرفې ته. لکه : (بالناصية) مبدل منه معرفه ده او د دې بدل (ناصية) نکره موصوفه ده په (كاذبة) سره او !.

د (البدل) په هکله څو مهمي قاعدې : ۱- قاعده : بدل او (مبدل منه) په اعتبار د اسم ظاهر او ضمير سره هم په څلور ډوله دی : ۱- (مبدل مِنه) او بدل دواړه اسمين ظاهرين، لکه : (جاءني زيد أخوك) . ۲- (مبدل مِنه) او بدل دواړه اسمين ضميرين، لکه : (ضربته إياه) . ۳- (مبدل منه) اسم ظاهر او بدل ضمير، لکه : (ضربت زيدا إياه) . ۴- (مبدل مِنه) ضمير او بدل ظاهر، لکه : ﴿... وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ...﴾ [الكهف ۶۳]

۲- قاعده : د (بدل الكُل مِن الكُل) له خپل متبوع سره په اتو شيانو کي مطابقت لازم وي : ۱- رفع . ۲- نصب . ۳- جر . ۴- افراد . ۵- تثنيه . ۶- جمع . ۷- تذکير . ۸- تانيث .

۳- قاعده : هر کله چي تر لقب وروسته اسم ذکر سي : نو غالبا (مبدل مِنه) واقع کيږي. لکه : (قال الشيخ الإمام الأجل الزاهد أبو الحسن أحمد) .

۴- قاعده : په کلام کي چي مخکي عدد ذکر سي او وروسته بيا د دې عدد تفصيل وي : نو غالبا دا د (ما قبل) لپاره بدل وي. لکه : (مائة عامل لفظية ومعنوية) .

۵- قاعده : تر (هذا) اسم اشاري وروسته اسم صفت او بيان واقع کيږي، همدا ډول بدل واقع کيږي، لکه : (هذا الكِتَاب) .

۶- قاعده : بدل په حکم د تکرار د عامل کي وي، لکه : ﴿۞وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ ...﴾ [الأنعام ۷۴]، أي : قال لآزر .

۷- قاعده : د جملي بدل جمله هم واقع کيږي، لکه : ﴿... أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ۝ أَمَدَّكُم بِأَنْعَٰمٍ وَبَنِينَ ۝﴾ [الشعراء ۱۳۲-۱۳۳] .

۸- د فعل بدل فعل نه واقع کيږي، لکه : ﴿... وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ۝ يُضَٰعَفْ لَهُ ٱلْعَذَابُ ...﴾ [الفرقان ۶۸-۶۹] .

د (البدل) لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝﴾ [الفاتحة ۶] . ۲- ﴿رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۝﴾ [الأعراف ۱۲۲] . ۳- ﴿...غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝﴾ [الفاتحة ۷]

عَطْفُ البَيَانِ، تَابِعٌ غَيْرُ صِفَةٍ يُوَضِّحُ مَتْبُوعَهُ. وَهُوَ أَشْهَرُ اسْمَىْ شَيْءٍ. نَحْوُ : (قَامَ أَبُو حَفْصٍ عُمَرُ وَقَامَ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرَ). وَلَا يَلْتَبِسُ بِالْبَدَلِ لَفْظًا فِيْ مِثْلِ قَوْلِ الشَّاعِرِ :

أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوعًا

عطف بيان يو تابع دى چې غير صفت دى كوم وضاحت د خپل متبوع كوي او دا يو ډېر مشهور (اوځار) د دوو نومونو د يو شي دى، لكه: (قَامَ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ وَقَامَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ) او نه بدليږي په بدل سره لفظا په مثال د وينا د شاعر كې اچې وايي:

أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوعًا

او د شعر ژباړه دا ده: زه د هغه سړي زوى يم چې بكري بشر بهادر سړى يې وژلى دى او دى په داسې حال كې دى چې مرغان په دې حال كې د ده د روح (اروا) د ختلو انتظار كوي (او مرغان به هله د ده غوښې وخوري اه!)

د (عطف البيان) **تعريف**: هر كله چې فارغ سو مصنف رحمه الله عليه د بيان له بدل څخه: نو شروع يې وكړه په بل ډول د توابعو كې چې عطف بيان دى.

د قيودواتو فايده: تابع په منزله د جنس دى چې شامل دى معرف او غير معرف توپلو لره او غير صفت دا فصل اول دى چې په دې سره صفت خارج سو او (يُوَضِّحُ مَتْبُوْعَهُ): دا دويم فصل دى چې په دې سره باقي توابع خارج سول پرته له عطف بيانه او عطف بيان ته عطف بيان: ځكه وايي چې دا بيان د خپل متبوع كوي، لكه: (أقسم بالله أبو حفص عمر) او (أبو حفص) كنيه د عمر رضي الله عنه ده، مگر په دې كې سره مشهور نه دى: نو بسنه يې په دې نه وكړه او اسم محضه يې ورلره ذكر كړى چې عمر دى او دا په هغه وخت كې كېداى سي چې اسم محضه مشهور وي او كه بالعكس وو په كنيه سره لكه يو امام عالم مشهور دى په (أبو يوسف) سره چې دا كنيه د (يعقوب) ده او په دې خپل نامه باندې مشهور نه دى، يا لكه (أبو حنيفه) نوم د (نعمان) دى چې په دې سره مشهور نه دى: ځكه هر كله چې په كنيه سره مشهور وي: نو ذكر د كنيه به كيږي، نه د محضه.

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه فرق د بدل او عطف بيان ذكر كوي چې په اصل كې ځيني نحات وايي: توابع څلور دي او عطف بيان داخل دى په بدل كې او دا ډول جلا نه دى، مگر جمهور نحات وايي: دا يو مستقل ډول دى په ځينو صورتونو كې په اعتبار د معنا سره چې فرق يې تر لمر روښانه دى او په ځينو صورتونو كې په اعتبار د لفظ سره التباس وو د بدل او عطف بيان په اعتبار د معنا سره چې فرق يې ښكاره دى: ځكه په بدل كې (مقصود بالنسبة) بدل او ذكر د مبدل منه لپاره د توطيې او تمهيد وي او په عطف بيان كې (مقصود بالنسبة) متبوع وي او ذكر د تابع لپاره د وضاحت د متبوع وي، مگر دلته مصنف رحمه الله عليه لفظا قيد ولگوى: ځكه د دوى ترمينځ دا فرق پټ دى: نو دلته په مثال سره دا واضح كوي چې لفظا هم د دوى ترمينځ فرق سته او مراد په دې تركيب سره هغه تركيب دى چې عطف بيان واقع سوى وي له (معرف باللام) څخه او هغه ته اضافت د صفت (معرف باللام) سوى وي. پس دلته عطف بيان جايز دى او بدل ناجايز دى او په دې شعر كې (بشر) عطف بيان دى لپاره د (البكري) چې اضافت د صفت (معرف باللام التارك) ورته سوى دى: نو (بشر) په دې تركيب كې عطف بيان هم صحيح كېداى سي.

او بدل نه صحيح کيږي ؛ ځکه بدل په حکم د تکرار د عامل کې وي ؛ نو معنا به داسې سي چې (التارك بشر) ؛ نو سې به په پول د (الضارب زيد) او دا ترکيب نه دئ صحيح ؛ نو واقع کېدل د دې بدل هم نه دي صحيح .

د عطف بيان په هکله ځيني مهمې قاعدې : ۱- قاعده : تر لقب وروسته چې اسم واقع سي ؛ نو هغه عطف بيان وي، لکه : (قال أبو حفص عمر) .

۲- قاعده : کنيه چې وروسته تر اسم واقع سي ؛ نو هغه عطف بيان وي. لکه : (زيد أبو عمرو) .

۳- قاعده : تر اسم اشاره وروسته اسم ظاهر عطف بيان وي. لکه : (هذا الكِتاب) .

۴- قاعده : تر صفت وروسته موصوف عطف بيان وي. لکه : (جاء عالِمٌ زيد) .

۵- قاعده : تر مفسر وروسته تفسير عطف بيان وي. لکه : (هذا مسجدٌ، أي : ذهبٌ) .

د عطف بيان لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ [الأعراف: ٥٦] . ۲- ﴿... تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا ...﴾ [التحريم: ٨] ۳- ﴿وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ...﴾ [البقرة: ٣١] . ۴- (رَأَيْتُ مَجِيدًا حَامِدًا) . ۵- (سَافَرَ مَسْعُودٌ أَخُوكَ) . ۶- (كَسَرْتُ القِنِّينَةَ رَأْسَهَا) . ۷- (مَا أَعْظَمَ جِهَادَ أَبِي عُبيدة عامرِ بن الجراحِ) .

يادونه : تر همدې ځايه د معرب بيان په مکمله توګه پای ته ورسېد. وروسته به د مبني بيان پيل سي : بِاللهِ التَّوْفِيْقُ وَبِيَدِهِ أَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ.



د اسم مبني تعريف او حکم

اَلْبَابُ الثَّانِيْ فِي الْاِسْمِ الْمَبْنِيِّ
دويم باب ثابت دي په بيان د اسم مبني کې
وَهُوَ اِسْمٌ وَقَعَ غَيْرَ مُرَكَّبٍ مَعَ غَيْرِهِ. مِثْلُ : (أ. ب. ت. ث ...)
او دا هر هغه اسم دی چې واقع سوی وي غير مرکب له بل سره. لکه : (أ، ب، ت، ث ...)
زنځيري ترکيب : الباب موصوف، الثاني يې صفت. موصوف سره له صفته مبتدا، في جار، الاسم موصوف، المبني يې صفت، موصوف سره له صفته مجرور د في جاره، جار سره له مجروره ظرف مستقر چې متعلق دی تر ثابت اسم فاعل پوري، بيا ثابت اسم فاعل سره له هو ضمير فاعل او سره له في جاره او متعلقه : دا شبه جمله خبر دی لپاره د الباب الثاني مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه .

د مبني په باب کې د ترکيب نه يادولو وجه: پوه سه! په دې چې د مبني په باب کې د ترکيب څه خاص ضرورت نسته؛ ځکه چې د مبني د عبارتو ترکيب ډېر ښه واضح دی او زياترو شارحينو هم د مبني ترکيب نه دئ بيان کړی، مګر له دې سره سره په مبني کې دوه نور ځايونه داسې سته چې ترکيب يې ډېر اړين دی او هغه زه تر خپلو عبارتو لاندې راوړم! إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ .

تشريح: هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله د باب اول له اسم معرب څخه؛ نو شروع يې وکړه په دويم باب د اسم مبني کې؛ نو ويې ويل: (الباب الثاني ... إلخ) .

او په دې عبارت سره مصنف رحمه الله اول دول د اسم مبني ذکر کوي چې مرکب له غير سره نه وي .

د مبني ډولونه: مبني په درې ډوله دی: ۱- مبني مطلق . ۲- مبني اصل . ۳- اسم مبني .

۱- مبني مطلق: دې ته وايي چې په اختلاف د عواملو سره د ده په آخر کې اختلاف نه راځي او د ده د حرف آخر حرکت او سکون د يو عامل له وجې څخه نه وي .

۲- مبني اصل: دې ته وايي چې په خپله بناء کې چا ته محتاج نه وي او دا درې ډوله دی: ۱- فعل ماضي . ۲- امر حاضر . ۳- او جمله حروف .

۳- او اسم مبني: دا هغه اسم دی چې له مبني اصل سره مشابهت لري او د دې اته (۸) ډولونه دي: ۱- ضمائر . ۲- اسماء اشارات . ۳- اسماء موصولات . ۴- اسماء افعال . ۵- اسماء اصوات . ۶- اسماء کنايات . ۷- اسماء مرکبات . ۸- او بعض ظروف .

(۲۶۴) پوښتنه: باب معرب ولې مقدم سو پر باب مبني باندې؟

جواب: معرب په منزله د مفرد وو او مبني په منزله د مرکب دی او مفرد مخکې وي پر مرکب او معرب يو ډول دی چې مرکب به وي سره له غير څخه او مشابه به نه وي له (مبني الأصل) سره او اسم مبني په دوه ډوله دی: ۱- (اسم وقع غير مرکب) . ۲- او (ما شابه مبني الأصل) .

او بل دا چې په معرب کې ښکاره کېدل د (ما في الضمير على وجه الأكمل) وي او په مبني کې ښکاره کېدل د (ما في الضمير على وجه الأنقص) وي او اکمل (پوره) مقدم وي په اِنقص (کم) باندې: ځکه باب د اسم معرب مقدم سو پر باب د اسم مبني اه! .

(۲۶۵) پوښتنه: مراد له غير څخه به عامل وي: نو تعريف د اسم مبني مانع نه سو له دخول څخه د نورو چې مبتدا او خبر پکې داخل سو؛ ځکه چې دا دواړه له خپل عامل سره مرکب نه دي او معرب دي؟

جواب: دا قيد په عبارت د مصنف کې چې (مع غيره) دی عام دی چې مرکب له عامل سره به نه وي او بيله عامله به هم نه وي او مبتدا او خبر که له عامل سره مرکب نه دي، مګر مبتدا له خبر سره مرکب ده او خبر د مبتدا سره مرکب ده .

(۲۶۶) پوښتنه: له تعريف څخه (غلامي) خارج سو؛ ځکه چې لفظ د (غلام) له ضمير متکلم چې (ي) ده سره مرکب دی او سره د دې دا (غلامي) مبني دی او تا په (غيره) کې تعميم کړی دی چې له عامل سره مرکب وي او که له غير عامل سره مرکب وي؛ نو مبني به وي؟

جواب: که غير پکې عامل نه وي؛ نو سبب د تحقق د عامل به هم نه وي او په (غلامي) کې سبب د تحقق د عامل نسته چې په مبني کې (غلامي) داخل سو او مبتدا او خبر څني خارج سول.

(۲۶۷) پوښتنه: په مثال کې (أ، ب، ت، ث) ذکر کول صحيح نه دي؛ ځکه بحث زموږ په اسم مبني کې دی او دا؛ خو حروف دي؟

جواب: په دې کې دوه اعتباره دي:

۱- اعتبار د اسماء. ۲- او بل اعتبار د مسمياتو؛ نو دلته له دې حروفو څخه مراد اسماء دي، نه مسميات؛ ځکه دا په دې اعتبار سره حروف هجا دي.

وَمِثْلُ (أَحَدٌ، اِثْنَانِ، ثَلَاثَةٌ)، وَكَلَفْظَةِ (زَيْدٍ) وَحْدَهُ؛ فَإِنَّهُ مَبْنِيٌّ بِالْفِعْلِ عَلَى السُّكُونِ وَمُعْرَبٌ بِالْقُوَّةِ. أَوْ شَابَهَ مَبْنِيَّ الْأَصْلِ

او مثال د (أَحَدٌ، اِثْنَانِ، ثَلَاثَةٌ) او لکه لفظ د (زَيْد) يواځې دی؛ ځکه دی مبني په فعل دی پر سکون او معرب دی په قوت سره او يا دا چې مشابه وي له (مبني الأصل) سره

تشريح: دا مذکوره اسماء هر کله چې د دوی ترکيب (مع الغير) نه وي راغلی؛ نو دا به (مبني على السکون بالفعل) وي، لکه: (أ، ب، زيد، واحد، اثنان، ثلاثة) او دا معرب بالقوه دي هر کله چې د دوی ترکيب له عامل سره وسي؛ نو بيا به معرب وي، لکه: (جاءني واحد)، يا (جاءني ألف)، يا (جاءني زيد) او داسې نور او دوی مرفوع دي بنا پر فاعليت او معرب دي.

او په دې عبارت (أو ما شابه مبني الأصل) سره د اسم مبني دويم ډول ذکر کوي چې اسم به هله مبني کيږي چې مشابهت يې راغلی وي له (مبني الأصل) سره، يا له ماضي سره، يا له امر حاضر سره او يا له حرف سره.

(۲۶۸) پوښتنه: کليمه د (أو) په عربي کلام کې د ترديد لپاره راځي او تقسيم د وضاحت لپاره وي؛ نو ذکر د (أو) دلته صحيح نه دئ؟

جواب: دلته (أو) د تقسيم لپاره دی، نه د ترديد لپاره؛ ځکه په دې سره دلته د اسم مبني دويم ډول بيانوي.

(۲۶۹) پوښتنه: تعريف بيا مانع نه سو؛ ځکه چې غير منصرف پکې داخل سو او غير منصرف له مبني اصل سره مشابه دی چې هغه فعل دی

جواب: غير منصرف له اسم مبني څخه خارج دی؛ ځکه چې دا مشابهت موږ په تاثير د اعراب کې وايو او د غير منصرف مشابهت له فعل سره په وجود د فرعيتينو کې دی، نه په منع د اعراب کې.

(۲۷۰) پوښتنه: اسم فاعل: خو مشابهت لري له فعل مضارع سره او اسم فاعل: خو معرب دی؟

جواب: مشابهت د اسم په له هغه (مبني الأصل) سره راغلی وي چې هغه په خپل اصل باندي باقي وي او مضارع له مبني څخه نقل سوی ده معرب ته او دلته د مبني اصل معنا دا ده چې اصل وي په بناء کې چې هغه ماضي، امر حاضر او حروف دي، نه دا چې اصل يې بناء وي چې هغه مضارع ده.

بِأَنْ يَكُوْنَ فِي الدَّلَالَةِ عَلَى مَعْنَاهُ مُحْتَاجًا إِلَى قَرِينَةٍ. كَـ(الْإِشَارَةِ). نَحْوُ: (هٰؤُلَاءِ) وَنَحْوِهَا

په داسي شان چې په دلالت کې پر خپله معنا محتاج وي وېوې قرينې ته، چې (الإشارة) ده. لکه: (هٰؤُلَاءِ) او داسي نور

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه د اسم مبني د مشابهت له (مبني الأصل) سره درې وجې بيانوي:

۱- اسم مبني به مشابه وي له (مبني الأصل) سره په احتياج کې. لکه حرف چې محتاج دی (ضم) د (ضميم) ته: نو اسم اشاره محتاجه وي خپل مشار إليه ته.

۲- اسم مبني به مرکب وي د دريو حروفونو په (کم) سره. لکه (کم برايي) کنايه سوه په شان د (عن) چې اسم مشابه دی له حرف سره په عدد د حرفو کې، يا لکه (ذا ومن) سو.

۳- اسم به متضمن وي معنی د حرف لره. لکه: (أحد عشر إلى تسعه عشر) او (أحد عشر) اسم مبني دی تر (تسعة عشر) پوري؛ ځکه دا اسم متضمن دی معنا د حرف لره چې دا په اصل کې (أحدٌ وعشرٌ إلى تسعةٌ وعشرٌ) دی؛ نو (أحد) اسم دی او (عشر) هم اسم دی او په مينځ کې يې حرف عطف واو دی چې هغه لره متضمن دی او قاعده دا ده چې متضمن مبني لره مبني وي.

أَوْ يَكُوْنَ عَلَى أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْرُفٍ. أَوْ تَضَمَّنَ مَعْنَى الْحَرْفِ. نَحْوُ: (ذَا وَمَنْ وَأَحَدَ عَشَرَ إِلَى تِسْعَةَ عَشَرَ). وَهٰذَا الْقِسْمُ لَا يَصِيْرُ مُعْرَبًا أَصْلًا

او يا دا وي کم تر درو حرفو. يا متضمن وي معنا د حرف لره. لکه: (ذا ومن وأحد عشر إلى تسعة عشر) او دا ډول نه ګرځي معرب بالکل

تشريح: هر کله چې د اسم مبني دوه ډولونه سول چې يو ډول (۱) وقع غير مرکب مع غيره) سو او دويم ډول (ما شابه مبني الأصل) نو په مذکوره بالامتن کې مصنف د دواړو اقسامو په مينځ کې فرق ذکر کوي چې په اول ډول کې دوه اعتباره دي: ۱- اعتبار د بناء. ۲- او اعتبار د معرب؛ نو د اول ډول مبني عارضي وقتي سو او په دويم ډول کې اعتبار واحد دی چې بنا ده په ټولو وختونو کې: نو سوه بناء د ده اصلي دائمي، له دې وجې مصنف وايي (وهذا القسم لا يصير معربا أصلا).

وَحُكْمُهُ: أَنْ لَا يَخْتَلِفَ آخِرُهُ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ

او حکم یې دا دئ: چې نه مختلف کیږي آخر یې په اختلاف د عواملو سره

(۲۷۱) پوښتنه: چې د حکم اضافت سوی دی ضمیر د مبني ته؛ نو تقدیر دا دول سو (أي: حكم المبني) او دا اضافت به د استغراق لپاره وي؛ نو د دې معنی دا سوه چې ټول احکام د اسم مبني دا دي: چې عدم اختلاف د حرف آخر دی او دا معنا صحیح نه ده: ځکه د مبني ډېر احکام دي پر ته د عدم اختلاف له حرف آخر ځخه؟

جواب: دلته اضافت د عهد لپاره دی چې هغه خیني احکام دا اسم مبني دلته بیانوي.

(۲۷۲) پوښتنه: حکم کارول کیږي په مرکب کي او مبني: خو اسم مفرد دی: ځکه چې مبني د اسم له دول ځخه دی او اسم د کلمې له دول ځخه دی او په تعریف د کلمې کي مأخوذ مفرد دی؛ نو مبني هم مفرد سو؟

جواب: دلته حکم په معنا د اثر سره دی: نو تقدیر دا سو: (أي: أثر اسم المبني).

(۲۷۳) پوښتنه: د اثر نسبت مؤثر ته کیږي او دلته ... خو نسبت مبني ته سوی دئ؟

جواب: دا نسبت مجازا دی: ځکه دا اثر مرتبه دی په اسم مبني باندي.

(۲۷۴) پوښتنه: ... جمع ده او که د جمع ... وي ... نو که په اسم باندي دري عامله داخل سي: هله به مبني وي او حال دا دئ چې خبره داسي نه ده؟

جواب: دلته جنس عوامل مراد دی ... که تر دې زيات وي.

وَحَرَكَاتُهُ تُسَمَّى ضَمًّا وَفَتْحًا وَكَسْرًا وَسُكُونُهُ وَقْفًا

او حرکتونه یې ... نومول کیږي ضمه فتحه او کسره او سکون یې وقف ... کیږي

د ضمې فتحې کسرې او وقف وجه تسمیه: ضمه په ... معنی د ... خای کولو له دوو شونډو سره پیدا کیږي: په دې وجه ضمه ورته وایي او فتحه په ... نو د دوو شونډو سره پیدا کیږي: په دې وجه فتحه ورته وایي او کسره په ... کبدلو د لاندي شونډي سره پیدا کیږي.

په دې وجه کسره ورته وایي او وقف ... ورته وایي او په دې سره هم ... ځکه ورته وقف وایي

تشریح: ... چې په مبني کي ... دي او ... صورت مختلف ... دی

چې حرکت ... وي ... په ... سره ... (... زيد)

۲- حرکت ... چې تعبیر په ... سره ... بالکه ... بالکه (... زید) او داسي نور

۲- حركت اعرابي ؛ چي تعبير په لقب بنائي سره ځني وسي، لكه : په (جاءني زيد) كي چي د (زيد) رفع ته ضمه ويل كيږي، په (رأيت زيدا) كي چي د زيد نصب ته فتحه ويل كيږي او په (مررت بزيد) كي چي د زيد جر ته كسره ويل كيږي : نو دا صورت د بصريانو او كوفيانو تر مينځ اتفاقي دي .

۳- او چي له حركت بنائي ځخه تعبير په لقب اعرابي سره وسي، لكه : د (حيثُ) ضمې ته رفع ويل كيږي او په دې صورت كي اختلاف دى ؛ بصريان وايي : ناجايز دى او كوفيان وايي : جايز دى .

وَهُوَ عَلَى ثَمَانِيَةِ أَنْوَاعٍ : الْمُضْمَرَاتُ، وَأَسْمَاءُ الْإِشَارَاتِ، وَالْمَوْصُولَاتِ، وَأَسْمَاءُ الْأَفْعَالِ، وَالْأَصْوَاتِ، وَالْمُرَكَّبَاتُ، وَالْكِنَايَاتُ، وَبَعْضُ الظُّرُوْفِ

او دا (مبني) پر اته (۸) ډوله دى : مضمرات، اسماء اشارات، موصولات، اسماء افعال، اصوات، مركبات، كنايات او ځيني ظرفونه

تشريح : هر كله چي مصنف رحمة الله عليه فارغ سو د تعريف له اسم مبني ځخه او د هغه له حكم او د بيان له حركاتو ځخه : نو شروع يې وكړه په بيان د اقسامو د اسم مبني كي او ويې ويل : (وهو على ثمانية أنواع إلخ) او دا اسم مبني په اته ډوله دى .

او وجه د حصر په اتو اقسامو د اسم مبني كي دا ده : چي دا اسم مبني به خالي نه وي، يا به دا مبني وي د وجي له مناسبته له (مبني الأصل) سره او يا به له وجي د عدم تركيبه وي. كه قسم ثاني وو : نو اصوات دي .

او كه قسم اول وو ؛ نو بيا به خالي نه وي يا به يې مناسبت له ماضي او امر حاضر سره وي او يا به يې مناسبت له حروفو سره وي. كه يې مناسبت له ماضي او امر حاضر سره وو : نو اسماء افعال دي .

او كه يې مناسبت له حروفو سره وو : نو بيا به خالي نه وي يا به په تضمن كي وي. يا به په احتياج كي وي او يا به وضع د دې په شان د حرف وي ؛ نو كه آخر وو : نو كنايات دي .

او كه مناسبت يې په تضمن كي وو : نو مركبات دي .

او كه مناسبت يې په احتياج كي وو : نو (محتاج إليه) به خالي نه وي يا به مذكور وي او يا به نه وي. كه مذكور نه وو : نو ځيني ظروف دي .

او كه مذكور وو : نو يا به جمله وي، يا به غير جمله وي. كه جمله وه : نو دا موصولات دي .

او كه غير جمله وه ؛ نو بيا به خالي نه وي يا به يكي قرينه د اشارې وي او يا به قرينه د غيبوبت او تكلم او خطابت وي. كه قرينه د اشارې وه : نو اسماء اشارات دي او كه قسم ثاني وو : نو مضمرات دي اه !

(۲۷۵) پوښتنه : هر كله چي له ظروفو سره قيد د (بعض) راوړل سو : نو دا ډول له اسماء اشاراتو سره هم دا قيد راوړل پكار وو : ځكه چي (ذان) او (ذين) د ځينو عربو په نيز معرب دي او دا ډول په موصولاتو كي هم دا قيد راوړل پكار وو : ځكه چي (أي) او (أية) معرب دي. همدا ډول دا قيد په كناياتو كي هم راوړل پكار وو : ځكه چي (فلان) او (فلانة) معرب دي ؟

جواب : دا ځيني حالات دي او په زياترو حالاتو کې دوی مبني دي او ځينو حالاتو ته اعتبار نشته او زيات ته حکم د (کُل) وي او په ظروفو کې زياتره معرب وو او ځيني مبني وو ؛ ځکه قيد د (بعض) ذکر کول لازم وو اه !.

اَلْمُضْمَرُ اِسْمٌ وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلَى مُتَكَلِّمٍ، أَوْ مُخَاطَبٍ، أَوْ غَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ لَفْظًا وَمَعْنًا. أَوْ حُكْمًا

مضمر دا يو نوم دی چې وضع سوی دی د دې لپاره چې دلالت وکړي پر متکلم، يا پر مخاطب، يا پر غائب کوم چې مخکې يې ذکر وسو لفظا او معنا، يا حکما

څه تشريح : هر کله چې مصنف رحمة الله عليه فارغ سو د اجمال د اقسامو له اسم مبني څخه : نو شروع يې وکړه په تفصيل کې او تفصيل يې دا دئ چې دلته شپږ بحثونه دي : لومړی : د ضمير تعريف . دويم : د ضمير ډولونه . دريم : وجه د تقديم د بحث د ضمير په نورو باندې. څلورم : علت د بناء د ضمير . پينځم : وجه د مخالفت د تفصيل د اجمال په ذکر د مفرد سره . او شپږم : د قيوداتو فايده او د دې تولو بيان به اوس په جلا سرليکونو کې راسي .

د ضمير تعريف : لغوي معنا د ضمير دا ده : چې (مضمر) له ضمير څخه دی او ضمير پټ ته وايي او دی هم په غالب ځايونو کې پټ راځي يا ضمير له (ضمور) څخه دی او (ضمور) ويل کيږي (قليل الحم) ته، يعني : (مانده) او حروف د ضمير هم قليل وي په نسبت د اسم ظاهر سره . او معنا اصطلاحي يې مصنف ذکر کړې ده په دې قول خپل سره چې وايي : (المضمر ما وُضع إلخ) .

د ضمير ډولونه : ضمير په درې ډوله دی : ۱- ضمير په اعتبار د ذات سره چې (مخاطب)، (غائب) او (متکلم) دی.

۲- ضمير په اعتبار د اعراب سره چې مرفوع، منصوب او مجرور دی او مرفوع بيا پر دوه ډوله دی : ضمير متصل ؛ چې زياتره وخت فاعل واقع کيږي او منفصل ؛ چې مبتدا، خبر د فاعل او نائب د فاعل واقع کيږي . او منصوب هم متصل او منفصل ته وېشل کيږي : منصوب متصل چې مفعول به، يا د عامل ناصبه معمول واقع کيږي او منصوب منفصل چې فقط مفعول واقع کيږي او مجرور فقط متصل دی چې يو متصل په (ب) حرف جر (بي)، (لنا) سره واقع کيږي او بل مجرور متصل په (ي) سره واقع کيږي، لکه : (غلامي)، (داري) او داسې نور .

۳- او (دريم) ضمير په اعتبار د (ما قبل) سره دی چې فقط متصل او منفصل ته وېشل کيږي اه !.

وجه د تقديم د ضمير : هغه دا چې ضمير يې مقدم کړی په نورو اقسامو د اسم مبني باندې له دوو وجو څخه : ۱- له دې وجې چې بناء د ضمير اتفاقي ده . ۲- ضمير (أعرف) د معارفو دی .

د ضمير د بنا علتونه : هغه دوه دي : ۱- ضمائر مناسب دي له حرف سره په احتياج کې او حرف ؛ خو مبني وو ؛ نو ضمائر هم مبني سول ؛ ځکه چې حرف محتاج دی (ضم) د ضميمې ته .

وجه د مخالفت يې : هغه دا ده : چې تفصيل مخالف دی له اجمال څخه په داسې توګه چې په اجمال کې (المضمرات) ذکر وه په صيغه د جمع سره او په تفصيل کې (المضمر) په صيغې د مفرد سره ذکر دی : نو د دې يو جواب دا دئ : چې په (المضمر) کې الف لام جنسي دی چې جنس د مضمر پکې مراد دی ؛ نو مطابقت سته او مخالفت نشته . او دويم جواب يې دا دئ : چې مخالفت يې ؛ ځکه کړی دی چې دلته

تعريف د ضمير کوي او تعريف د جنس په جنس سره کيږي او تعريف د افرادو نه کيږي: له دې وجې يې په تفصيل کې په (المضمرات) سره نه دی ذکر کړی.

د قيوداتو فايده: په قيد د اسم سره خارج سو کاف د (ويلك) او په قيد د متکلم سره لفظ د متکلم او قيد مخاطب سره لفظ د مخاطب او په قيد د غائب سره لفظ د غائب له ضمير څخه خارج سول او په قيد د (تقدم ذِكره) سره اسماء غائبه (يعني اسم ظاهر) د تعريف له ضمير څخه خارج سول.

وَهُوَ عَلَى قِسْمَيْنِ: مُتَّصِلٌ وَهُوَ مَا لَا يُسْتَعْمَلُ وَحْدَهُ إِمَّا مَرْفُوْعٌ. نَحْوُ: (ضَرَبْتُ إِلَى ضَرَبْنَ). أَوْ مَنْصُوْبٌ. نَحْوُ: (ضَرَبَنِيْ إِلَى ضَرَبَهُنَّ. وَإِنَّنِيْ إِلَى أَنَّهُنَّ). أَوْ مَجْرُوْرًا. نَحْوُ: (غُلَامِيْ وَلِيْ إِلَى غُلَامُهُنَّ وَلَهُنَّ)

او دا (ضمير) پر دوه ډوله دی: متصل دی او دا هغه دی چې نه استعماليږي يواځې، يا به مرفوع وي، لکه: (ضَرَبْتُ إِلَى ضَرَبْنَ). يا به منصوب وي، لکه: (ضَرَبَنِيْ إِلَى ضَرَبَهُنَّ. وَإِنَّنِيْ إِلَى أَنَّهُنَّ) او يا به مجرور وي، لکه: (غُلَامِيْ وَلِيْ إِلَى غُلَامُهُنَّ وَلَهُنَّ)

(۲۷۶) پوښتنه: (هو) مبتدا ده او متصل او منفصل خبرين دي چې لازم سو حمل د واحد متعدد لره او دا ناجايز دئ؟

جواب: (هو) مبتدا ده او خبر د دې محذوف دی چې منقسم (وېشلی) دی او متصل او منفصل هر واحد خبر د مبتدا محذوفي دی چې (أحدهما) متصل، (وثانيهما) منفصل دی: نو حمل د واحد په واحد وسو، نه حمل د واحد په متعدد باندي.

(۲۷۷) پوښتنه: تقسيم په ضمير کې مخکې وسو: نو بيا څرنګه دلته تقسيم قبلوي؟

جواب: هلته تقسيم په اعتبار د ضمير وو او دلته په اعتبار د (ما قبل) سره دی چې اتصال او انفصال دی.

(۲۷۸) پوښتنه: ضمير متصل دي ولې مقدم کړی په منفصل باندي؟

جواب: وضع د ضمايرو په ايجاز او اختصار باندي ده او متصل ضمير ډېر مختصر دی تر منفصل: څکه مقدم کړی سو متصل پر منفصل

(۲۷۹) پوښتنه: اعراب خاصه د اسم معرب ده: نو اسم مبني څرنګه مرفوع، منصوب او مجرور راتلای سئ؟

جواب: دا محلا دی او اعراب محلي په مني کې راځي چې دوی د معرب پر ځای قائم دي او په معرب کې درې واړه قسمه اعرابه راځي. مګر فرق دا دئ د معرب او مبني چې په معرب کې اعراب په دوه ډوله راځي: ۱- لفظي اعراب. ۲- تقديري اعراب او په مني کې يو ډول اعراب راځي چې محلي دی.

(۲۸۰) پوښتنه: په عبارت کې اشکال دی چې مصنف داسې عبارت ويلی دی: (مرفوعٌ، نحو: ضربتُ)، ضمير مرفوع (ضربتَ) دی او حال دا چې (ضربتُ): خو ضمير نه دئ. بلکې ضمير يکې يو جز دی؟

جواب : دلته عبارت په تقدير د ضمير سره دى، (أي : ضمير ضربت) .

فايده : ضمير متصل په فعل پوري هم متصل كېداى سي، لكه : (ضربت) په حرف پوري هم متصل كېداى سي، لكه : (إنني) او په اسم پوري هم متصل كېداى سي، لكه : (غلامي) .

وَمُنْفَصِلٌ، وَهُوَ مَا يُسْتَعْمَلُ وَحْدَهُ إِمَّا مَرْفُوعٌ، نَحْوُ : (أَنَا إِلَى هُنَّ)، أَوْ (مَنْصُوبٌ)، نَحْوُ: (إِيَّايَ إِلَى إِيَّاهُنَّ) ؛ فَذٰلِكَ سِتُّوْنَ ضَمِيْرًا

او بل (ضمير) منفصل دى او دا هغه دى چي استعماليږي يواځي يا مرفوع، لكه : (أَنَا) تر (هُنَّ) پوري، يا منصوب، لكه : (إِيَّايَ) تر (هُنَّ) پوري ؛ نو دا (تول) شپيته ضميره سول (چي دلالت كوي په نوي (۹۰) الفاظو باندي !

تشريح : عقل تقاضا كوي چي ضماير دي نوي (۹۰) سي په دې اعتبار سره چي د هر واحد لپاره دي اتلس اتلس (۱۸) صيغې سي، اتلس د مرفوع متصل، شپږ د متكلم، شپږ د مخاطب او شپږ د غائب : دا ډول په دې طريقه اتلس د مرفوع منفصل، اتلس د منصوب متصل، اتلس د منصوب منفصل او اتلس د مجرور متصل ؛ نو دا مجموعه نوي ۹۰ جوړ سول په ضرب د اتلسو سره په پينځو كي، مګر د متكلم دوې صيغې قائم مقام سوې د څلورو په ځاى باندي له وجي د عدم التباس او په تثنيو د مخاطب او غائب كي هم اكتفاء وسوه په دوو باندي ؛ نو په څلورو تثنيو كي دوې پاته سوې چي شپږ صيغې خني ساقطي سوې .

او دولس صيغې پاته سوې، دوې د متكلم، پينځه د مخاطب او پينځه د غائب ؛ نو مجموعه دولس سوې، بيا دولسو له چي ضرب وركول سي په پينځو كي ؛ نو شپيته صيغې سوې ؛ ځكه مصنف وايي : (فذالك ستون ضميرا)، مګر دا به دلالت كوي په (تسعون) باندي چي معناوي يې شپيته (۶۰) او الفاظ (توري) يې نوي (۹۰) دي .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ الْمَرْفُوْعَ الْمُتَّصِلَ خَاصَّةً يَكُوْنُ مُسْتَتِرًا فِي الْمَاضِي لِلْغَائِبِ وَالْغَائِبَةِ كَـ (ضَرَبَ، أَيْ : هُوَ، وَضَرَبَتْ، أَيْ : هِيَ)

او پوه سه ! په دې چي مرفوع متصل خاصيږي (مستتر) په ماضي كي لپاره د غايب او غايبي، لكه (ضَرَبَ، أَيْ : هُوَ، وَضَرَبَتْ، أَيْ : هِيَ)

تشريح : هر كله چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى فارغ سو د بيان د اقسامو له ضمير څخه : نو شروع يې وكړه په بيان د محل د استتار د ضمير كي چي دا په كومو صيغو كي مستتر كيږي : نو مصنف ووېل : (واعلم ! أنّ المرفوع المتّصل إلخ). او ضمير مرفوع متصل (مستتر) كيږي په فعل كي او په صفت كي په دې شرط چي نسبت اسم ظاهر ته نه وي سوى، لكه : (زيد ضرب)، نه مرفوع منفصل، نه منصوب او نه مجرور ؛ ځكه چي دا ضمير مرفوع متصل (كالجزء) داسي دى له فعل څخه لفظا او معنا او هر چي لفظا دى : نو په دليل د اسكان د لام كليمې سره چي ضمير مرفوع پوري متصل سي او هر چي معنا دى ؛ نو دا ؛ ځكه چي دا موقوف عليه د معنا د فعل دى ؛ ځكه بغير له فاعل څخه فعل نه راځي او هر چي مجرور دى ؛ نو دا نه مستتر كيږي ؛ ځكه چي دا د فعل له اجزاؤ څخه نه دي نه لفظا او نه معنا ؛ ځكه چي دوى فضله دي او

هم چې مرفوع منفصل دی ؛ نو دا هم نه مستتر کیږي : ځکه چې دا جز د فعل معنا دی او لفظا نه دی او بل په ضمیر مرفوع منفصل کي اتصال دی او استتار ؛ خومنافي دی له انفصال سره، مگر ضمیر متصل د ماضي په څوارلسو صیغو کي په دوو صیغو کي مستتر کیږي :

۱- صیغه واحد مذکر غائب، لکه : (ضرب أي : هو) . ۲- صیغه واحده مؤنثه غائبه، لکه : (ضربت، أي : هي) .

او دا په طریقه د جواز سره وي ؛ ځکه د دې دوو صیغو اسناد فاعل اسم ظاهر ته کیدای سي، لکه : (ضرب زیدا وضربت هند) او که په طریقه د وجوب سره سي : نو لازم به سي په دې صورت کي تعدد د فاعل او دا : خو باطله ده او په پاته دولسو صیغو کي ابراز د ضمیر به وي په طریقه د وجوب، لکه : الف په (ضربا) کي او واو په (ضربو) کي سوا او تا په (ضربت) کي سوه او داسي نور .

(۲۸۱) پوښتنه : په پاته صیغو کي دي دا هم مستتر سي ؛ ځکه صیغې به په یوه طریقه سره سي ؟

ځواب : بیا به التباس لازم سي د دوی او د هغو تر مینځ .

(۲۸۲) پوښتنه : دا چې ضمیر مرفوع متصل نه مستتر کیږي ؛ ځکه چې په ضرب کي (هو) ضمیر (مستتر) دی او هغه منفصل نه دئ ؟

ځواب : دا چې متصل ته منفصل ویل سوی دی مجازا ؛ ځکه (مستتر) : خو (هو) دی او (ضرب) نه دی .

او د عبارت معنا دا ده چې په ضمیر مرفوع متصل کي مستتر کیږي منفصل چې (هو) دی .

وَفِي الْمُضَارِعِ الْمُتَكَلِّمِ مُطْلَقًا، نَحْوُ : (أَضْرِبُ)، أَيْ : أَنَا. وَ(نَضْرِبُ)، أَيْ : نَحْنُ. وَلِلْمُخَاطِبِ كَـ (تَضْرِبُ)، أَيْ : أَنْتَ. وَلِلْغَائِبِ وَالْغَائِبَةِ كَـ (يَضْرِبُ)، أَيْ : هُوَ. وَ(تَضْرِبُ)، أَيْ : هِيَ

او په مضارع متکلم کي مطلقا، لکه : (أَضْرِبُ)، یعني : زه. (نَضْرِبُ)، یعني : موږ او د مخاطب لپاره لکه (تَضْرِبُ)، یعني : ته او د غایب او غایبي لپاره لکه (يَضْرِبُ)، یعني : هغه (نارینه) او (تَضْرِبُ)، یعني : هغه (ښځینه)

تشریح : ضمیر مرفوع متصل د مضارع په پینځو صیغو کي مستتر کیږي : ۱- صیغه د (واحد مذکر غائب) . ۲- (واحد مؤنث غائبة) .

۳- صیغه د (واحد مذکر حاضر) . ۴- (واحد متکلم) . ۵- (متکلم مع الغیر) .

مگر په دوی کي په اولو دوو صیغو کي پر طریقه د جواز په شان د ماضي دی ؛ ځکه د دوی اسناد اسم ظاهر فاعل ته هم کیږي، لکه : (یضرب زید) او (تضرب هند إلخ) .

او په دریو صیغو کي پر طریقه د وجوب استتار د ضمیر به وي ؛ ځکه چې مخاطب او متکلم په وضع د واضع پاته سي، کنې مخاطب به مخاطب نه سي، لکه ته وایې : (تضرب زید)، دا ووّل متکلم به متکلم پاته نه سي، لکه ته وایې : (أضرب زید) او (نضرب زیدون) .

او دلیل د استتار د دوی دا دئ :

چي وجود د قرائنو دی په استتار باندي چي (ي) ده په (يضرب) كي او (ت) ده په (تضرب) كي په (هو) او (هي) باندي او (ت) ده په (تضرب) مخاطب كي په (أنت) باندي او همزه ده په (أضرب) متكلم كي په (أنا) او (ن) په (نضرب متكلم مع الغير) كي په (نحن) باندي راځي او په پاته صيغو د مضارع كي ابراز د ضمير دی.

وَفِي الصِّفَةِ أَعْنِي اسْمَ الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلِ وَغَيْرَهُمَا مُطْلَقًا. وَلَا يَجُوْزُ اِسْتِعْمَالُ الْمُنْفَصِلِ إِلَّا عِنْدَ تَعَذُّرِ الْمُتَّصِلِ كَـ(إِيَّاكَ نَعْبُدُ. وَمَا ضَرَبَكَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا زَيْدٌ. وَمَا أَنْتَ إِلَّا قَائِمًا)

او په صفت كي، يعني: اسم فاعل او مفعول او داسي نور مطلقا. او نه دئ روا استعمال د منفصل مگر په وخت د تعذر د متصل كي لكه (إِيَّاكَ نَعْبُدُ. وَمَا ضَرَبَكَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا زَيْدٌ. وَمَا أَنْتَ إِلَّا قَائِمًا)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه مواضع د استعمال د ضمير متصل ذكر كوي چي هغه محصور او معدود دي.

او پوه سه! په دې چي اصل په استعمال كي ضمير متصل دی؛ ځكه دی ډېر مختصر دی او منفصل ډېر اوږد دی؛ نو په كومو مواضعو كي چي ضمير متصل كارول كيږي، هلته ډېر ځايونه دي چي د هغو ذكر ممكن نه دی او په كومو ځايو كي چي استعمال د منفصل كيږي؛ د هغو ذكر كوي؛ ځكه هغه يو څو ځايونه دي چي هلته تعذر د متصل وي؛ نو منفصل استعمالېدای سي:

۱- اول ځای له هغو ځايو څخه چي استعمال د ضمير متصل پكي متعذر وي هغه دی چي كله ضمير مخكي كړل سي په خپل عامل باندي؛ ځكه اتصال په آخر كي كېدای سي، نه په اول كي، لكه: (إياك نعبد) په اصل كي (نعبدك) وو؛ ځكه د حصر لپاره ضمير په (نعبد) كي چي عامل په ضمير كي دی متصل دی؛ ځكه دا ضمير مقدم سو؛ نو تعذر د متصل سو او منفصل مستعمل سو.

۲- دويم ځای چي فصل راغلی وي په مينځ د فعل او ضمير كي؛ لپاره د يو غرض له اغراضو څخه؛ نو دلته تعذر د متصل به وي؛ ځكه سره له فعله اتصال متعذر وي، لكه: (ما ضربك إلا أنا).

۳- دريم ځای چي عامل په ضمير كي معنوي وي، لكه: (أنا زيدٌ)؛ نو دلته تعذر د متصل سو: ځكه اتصال امر لفظي وي او عامل امر معنوي وي او اتصال د امر لفظي له امر معنوي سره محال وي.

۴- څلورم ځای چي عامل په ضمير كي حرف وي، لكه: (ما أنت قائما)؛ نو دلته تعذر د متصل ضمير وي؛ ځكه حرف عامل ضعيف دی او اتصال د ضمير امر قوي دی او اتصال د ضعيف له قوي سره محال وي.

(۲۸۳) پوښتنه: (إنني) او (لي) دواړه ضميرونه متصل دي او عامل پكي حرف دی؛ نو دلته اتصال متعذر نه دئ؟

جواب: دا قاعده په ضمير مرفوع كي ده. نه په منصوبه او مجروره كي: ځكه ضمير مرفوع قوي دی او ضمير منصوب او مجرور فضله دی او د دوی اتصال له حرف سره كېدای سي. نه له ضمير مرفوع سره او نور تفصيل د نحو په اوږدو كتابو كي وگورئ!

واعْلَمْ! أَنَّ لَهُمْ ضَمِيْرًا يَقَعُ قَبْلَ جُمْلَةٍ تُفَسِّرُهُ. وَيُسَمَّى (ضَمِيْرَ الشَّأْنِ) فِي الْمُذَكَّرِ. و(ضَمِيْرَ الْقِصَّةِ) فِي الْمُؤَنَّثِ. نَحْوُ: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الاخلاص ۱]، (وَإِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ)

ترجمه: په دې پوه شه چې دوی لره یو ضمیر دی چې واقع کیږي جمله کوم تفسیر یې کوي او بلل کیږي (ضَمِيْرَ الشَّأْنِ) في مذکر کې او (ضَمِيْرَ الْقِصَّةِ) بلل کیږي په مؤنث کې، لکه: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الاخلاص ۱]، (وَإِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ)

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه بل ډول د ضمیر ذکر کوي چې هغه مسمی دی په ضمیر شان او ضمیر قصه سره او د ضمیر شان او ضمیر قصه لپاره څلور شرطونه دي: ۱- د دې ضمیر مرجع به په (ما قبل) کې نه وي.

۲- د ده تفسیر به په (ما بعد) کې په جملې سره سوی وي. ۳- ضمیر د غائب به وي، لکه: (هو) او (هي). ۴- او په امر عظیم کې به وي.

وَيَدْخُلُ بَيْنَ الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ صِيْغَةٌ مَرْفُوْعٌ مُنْفَصِلٌ مُطَابِقٌ لِلْمُبْتَدَأِ إِذَا كَانَ الْخَبَرُ مَعْرِفَةً. أَوْ أَفْعَلَ مِنْ كَذَا. وَيُسَمَّى (فَصْلًا)؛ لِأَنَّهُ يَفْصِلُ بَيْنَ الْخَبَرِ وَالصِّفَةِ. نَحْوُ: (زَيْدٌ هُوَ الْقَائِمُ. وَكَانَ زَيْدٌ هُوَ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)، وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿...كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ..﴾ [المائدة ۱۱۷]

او داخلیږي په مینځ د مبتدا او خبر کې صیغه د مرفوع منفصل چې مطابق وي لپاره د مبتدا کله چې خبر معرفه وي، یا (أَفْعَلَ مِنْ كَذَا) او بلل کیږي (فصل)؛ ځکه چې دی جلاوالی راولي په مینځ د خبر او صفت کې، لکه: (زَيْدٌ هُوَ الْقَائِمُ، وَكَانَ زَيْدٌ هُوَ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو) او الله تعالیٰ فرمايلي دي: ﴿...كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ..﴾ [المائدة ۱۱۷]

تشریح: مصنف رحمه الله علیه په دې عبارت سره بل ډول د ضمیر ذکر کوي چې هغه ته (ضمیر فصل) وایي او د دې فصل لپاره هم څو شرطونه دي چې مستفاد دي د نحو د کتابونو له ځينو عبارتو څخه: ۱- د مبتدا او خبر تر مینځ به وي. ۲- ضمیر مرفوع منفصل به وي، نه مرفوع متصل، نه مجرور متصل او نه منصوب مطلقا. ۳- مطابق به وي له مبتدا سره (إفراد، تثنية، جمع، تذكير) او (تأنيث). ۴- او ضمیر فصل به هله په مینځ د مبتدا او خبر کې واقع کیږي چې خبر معرفه وي حقیقتا، یا حکما، یعني: چې اسم تفضیل مستعمل په (من) سره وي.

(۲۸۴) پوښتنه: مصنف رحمه الله علیه (صيغة) مرفوع وويله؛ نو ضمیر به یې وبلي وای؟

ځواب: په ضمیر فصل کې دوه مذهبه دي: اول مذهب د خلیل نحوي صاحب دی او دویم مذهب د جمهورو نحاتو دی.

مذهب د خلیل نحوي دا دئ: چې د ضمیر فصل لپاره محل د اعراب نشته؛ ځکه دا حرف دی په صورت د ضمیر باندې او جمهور نحات وایي: دا مبتدا وي او (ما بعد) ورله خبر وي او محل د اعراب ورله سته؛ نو صیغه یې؛ ځکه وويله.

د قيوداتو فايده : دا ضمير به مرفوع ؛ ځکه وي چي دا مبتدا ده په مذهب د جمهورو نحاتو باندي او مبتدا مرفوع وي او منفصل به ؛ ځکه وي ضمير چي واقع سي په مبتدا کي ؛ نو (واجب الانفصال) وي او دا قيد چي (مطابق للمبتدأ)، يعني : له مبتدا سره به مطابق وي، نه له خبر سره ؛ ځکه مبتدا اصل رکن د کلام دی، نه خبر او دا قيد چي ضمير فصل به معرفه وي ؛ ځکه دا ضمير فصل ؛ د دې لپاره راوړل کيږي چي فصل د خبر د صفت نه راوړل کيږي او چي التباس رانه سي د خبر له صفت سره او دا التباس هله راځي چي خبر معرفه وي او که خبر نکره سي ؛ نو بيا التباس د خبر له صفت سره نه راځي ؛ ځکه د موصوف او صفت مطابقت وي په تعريف اوتنکير کي اه ! .

(٢٨٥) پوښتنه : ډېر ځايونه داسي دي چي هلته مبتدا او خبر دواړه معرفه وي او ضمير فصل په مينځ د مبتدا او خبر کي نه وي، لکه : (الله إلهنا، آدم أبونا، محمّد نبيّنا) ؟

جواب : دا مذکوره شرطونه د ضمير فصل لپاره دي، نه دا چي د مبتدا او خبر لپاره دي او دا اختصاص (مِن جانبٍ) دی، نه (مِن كُلّ جانبٍ) اه ! .

د ضمير په هکله څو مهمي قاعدې : ١- قاعده : تر ضمير مخکي د مرجع ذکر ضروري دی چي دا به يا لفظي وي حقيقتا، يا به لفظي وي حکما، يا به معنا وي او يا به حکما فرضا وي .

٢- قاعده : که مرجع (ما قبل) نه وه ؛ نو په (ما بعد) کي به وي او دا بيا مسمی کيږي په ضمير شان سره په مذکر کي، لکه : ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الاخلاص: ١] او په ضمير قصه سره په مؤنث کي، لکه : (إنّها زينب قائمة) .

٣- قاعده : کله د مبتدا او خبر ترمينځ يو ضمير راځي چي هغه ته ضمير فصل وايي، لکه : ﴿... وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [البقرة: ٥] چي د دې لپاره څو شرطونه وه او هغه مخکي تېر سوي دي .

٤- قاعده : که تر ضمير وروسته تفسير په تميز سره سوی وو ؛ نو هغه ته ضمير مبهم وايي، لکه : ﴿... فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ..﴾ [البقرة: ٢٩] .

٥- قاعده : د ضمير له خپل مرجع سره په دوو شيانو کي مطابقت ضروري دی، لکه : (١) په تذکير او تانيث کي ؛ د تذکير مثال لکه : (حامد هو قائم) او د تانيث مثال لکه : (زينب هي قائمة) . (٢) په واحد، تثنيه او جمع کي، لکه : (زيد ضرب، هند ضربت، الرّجلان ضربا، الرّجال ضربُوا، النّساء ضربن) .

٦- قاعده : ضمير چي واقع سي په مينځ د مرجع او خبر کي ؛ نو رعايت د خبر اولی دی، لکه : (العِلم هي نعمة) .

٧- قاعده : کله چي مرجع د ضمير په مذکر او مؤنث دواړو کي يو وي او ضمير يې وروسته راسي ؛ نو کله لحاظ د مذکر کيږي او کله لحاظ د مؤنث کيږي، د مذکر مثال لکه : ﴿وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا ...﴾ [النساء: ١١٢] او د مؤنث مثال لکه : ﴿وَإِذَا رَأَوْاْ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ...﴾ [الجمعة: ١١] .

د مضمراتو لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷] . ۲- ﴿... إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ۳۰] . ۳- ﴿... فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾ [الحج: ۴۶] . ۴- ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم ...﴾ [الأنعام: ۲] . ۵- ﴿وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ﴾ [النحل: ۶] . ۶- (إِنَّهُ عَالِمٌ نِّحْرِيرٌ) . ۷- (رَأَيْتُهُمْ يَدْرُسُونَ فِي الصَّفِّ) . ۸- (زاوية التركيز خاوية) .

۹- (مَنْ ظَنَّ بِكَ خَيْرًا ؛ فَصَدِّقْ ظَنَّهُ)[1] . ۱۰- (هُمْ أَسَاتِذَةٌ مُحْتَرَمُونَ) .

فَصْلٌ : أَسْمَاءُ الْإِشَارَاتِ مَا وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلَى مُشَارٍ إِلَيْهِ، وَلَهُ خَمْسَةُ أَلْفَاظٍ لِسِتَّةِ مَعَانٍ، وَذَلِكَ (ذَا) لِلْمُذَكَّرِ . وَ(ذَانِ، وَذَيْنِ) لِمُثَنَّاهُ . وَ(تَا، وَتِي، وَذِي، وَتِهْ، وَذِهْ، وَتِهِي، وَذِهِي) لِلْمُؤَنَّثِ . وَ(تَانِ، وَتَيْنِ) لِمُثَنَّاهُ . وَ(أُولَاءِ) بِالْمَدِّ وَالْقَصْرِ لِجَمْعِهَا

فصل دي په بيان د : د اسماء اشاراتو کي، (اسم اشاره) دا هر هغه اسم دی چي وضع سوی دی لپاره د دې چي دلالت کوي پر (مشار إليه) او دې لره پينځه الفاظ توري دي د شپږو معناوو لپاره او دا (ذَا) لپاره د مذکر دی . او (ذَانِ) او (ذَيْنِ) لپاره د تثنيه يې دی . او (تَا، تِي، ذِي، تِهْ، ذِهْ، تِهِي) او (وَذِهِي) لپاره د مؤنث دی او (تَانِ) او (تَيْنِ) لپاره د تثنيه يې دی . او (أُولَاءِ) په مد او قصر سره لپاره د جمع د دې دی

د اسماء اشاراتو بحث : هر کله چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ فارغ سو د بحث له مضمراتو څخه : نو شروع يې وکړه په بحث د اسماء اشاراتو کي ؛ نو وايي ويل : (أَسْمَاءُ الْإِشَارَاتِ إلخ) .

او علت د بنا په اسماء اشاراتو کي دوه دي : ۱- د ځينو اسماء اشاراتو وضع په ډول د وضع د حرف ده، لکه (ذَا) دوه حرفيز دی او حرف هم دوه حرفيز راځي، لکه : (من) او (عن) چي د دې مناسبت له وجي اسماء اشارات مبني سوه او نور حمل دي په (ذَا) باندي .

۲- او بل علت د بنا دا دئ : چي اسماء اشارات محتاج دي په تعين د مدلول خپل کي واشارې ته او حرف محتاج دی په دلالت کولو کي په خپله معنا باندي وضمېدلو د کليمې آخري ته : د دې مناسبت له وجي اسماء اشارات مبني سول او اسماء اشارات پينځه توري دي لپاره د شپږو معناوو په اشتراک د جمع سره په مينځ د مذکر او مؤنث کي او هغه شپږ معاني دا دي :

چي مشار إليه به خالي نه وي يا به مذکر وي، يا به مؤنث وي، بيا هر يو له دوی څخه په درې ډوله دی : واحد، تثنيه، جمع : نو معاني شپږ او الفاظ ورته پينځه دي چي جمع د دوی د مذکر او مؤنث تر مينځ مشترکه ده او هنو پينځو الفاظو څخه اول لفظ (ذَا) دی چي په دې سره اشاره کيږي مفرد مذکر ته .

[1] (الكشكول) ۱ توک، ۱۹۶ مخ .

د (ذَ) او داسي نورو اسماء اشاراتو په اصل کي د مذاهبو اختلاف : ۱- د اخفش رحمه الله مذهب دا دئ چي اصل د (ذَا - ذَيْ) وو: نو يا (مدغم فيه) د تخفيف له وجي حذف سوه چي (ذَي) سو، بيا يا په الف بدل سو: نو (ذَا) سو.

۲- مذهب د کوفيانو دا دئ : چي اصل د (ذَا - ذَ) وو بېله الفه، بيا زياتوالی د الف په آخر د ده کي وسو: نو (ذَا) سو.

۳- مذهب د ځينو نحاتو دی، هغوی وايي : چي اصل د ده (ذَوِيْ) وو: نو يا حذف سوه د تخفيف له وجي او (ذَوِ) سو، بيا واو په الف بدل سو: نو (ذا) سو.

دويم لفظ له اسماء اشاراتو څخه (ذان) او (ذين) دی، (ذان) په حالت د رفع کي او (ذين) په حالت د نصب او جر کي راځي او د دې په اعراب او بناء کي اختلاف د نحاتو دی چي درې مذاهب دي :

۱- ځيني نحات وايي : دا معرب دی او دليل دا دئ : چي د دوی په حالت د رفع کي الف وي او په حالت د نصب او جر کي بدليږي په يا، سره، لکه په عامو تثنيو کي داسي کيږي: نو دا په هغوی باندي قياس دي.

۲- ځيني نحات وايي : (ذان) او (ذين) مبني دی او دليل د دوی لپاره هغه دی چي مخکي تېر سوی دی د اسماء اشاراتو په علت د بنا کي.

۳- مذهب د ابو إسحاق الزجاج دی : هغه وايي : چي مطلق تثنيه مبني ده : هغه که دا وي، يا نوری : ځکه دا متضمن وي حرف لره او اسم چي متضمن وي حرف لره : هغه مبني وي، لکه :

(رجلان) دی چي اصل د دې (رَجل ورَجل) دی او اصل د (زيدان - زيد وزيد) دی چي دلته مصنف صاحب دا په مبنياتو کي ذکر کړی دی او په دې کي اشاره ده ودې خبري ته چي مختار مذهب د ده په نېز باندي دويم دی چي دا مبني دی.

دريم لفظ : (تَا، تِيْ، ذِيْ، تِهْ، ذِهْ، تِهِيْ) او (وَذِهِيْ) دی چي دا وضع سوي دي لپاره د واحد مؤنث چي په دې کي اختلاف دی په دې اعتبار سره چي اصل پکي (تا) ده او که (ذِيْ) دی : نو په دې کي درې مذهبونه دي :

۱- اول مذهب دا دئ : چي اصل پکي (تا) ده : ځکه تثنيه له دې څخه جوړه ده (تان) په رفع کي، (تين) په نصب او جر کي او دا دليل د اصالت دی.

۲- دويم مذهب دا دئ : چي اصل پکي (ذِي) دی : ځکه چي دا مقابل د (ذا) دی او هغه اصل وو په مذکر کي : نو (ذي) اصل دی په مؤنث کي.

۳- دريم مذهب دا دئ : چي دواړه اصل دي له وجه د اصالت د (تا) چي هغه اول مذهب ذکر کړې ده او وجه د اصالت د (ذي) هغه د چي دويم مذهب ذکر کړې ده.

څلورم لفظ : د (تان) او (تَين) دی چي (تان) په حالت د رفع کي دی او (تَين) په حالت د نصب او جر کي دی.

پنځم لفظ: د (أولاء) دی، مګر په دې کې دوه لغته دي: ۱- (أولی) مقصوره، مګر دا الف په صورت د (يا) کې ليکل کيږي چې دا مذهب د حجازيانو دی. ۲- او بل لغت د (أولاء) ممدوده دی چې دا په همزې سره ليکل کيږي او دا مذهب د بني تميمو دی، مګر دا پنځم لفظ د اسماء اشاراتو که مقصوره وي، يا ممدوده: خود مذکر او مؤنث تر مينځ سره مشترک دی.

(۲۸۶) پوښتنه: په تعريف د اسم اشاره کې ضمير د غائب او الف لام عهد ذهني داخل سو چې په دې سره اشاره کيږي؟

جواب: مراد زموږ له مشار إليه څخه دلته اشاره حسي ده او په ضمير او الف لام سره اشاره ذهني ته کيږي.

(۲۸۷) پوښتنه: ستا قاعده ماته سوه په دې قول د الله تعالى سره چې فرمايي: ﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ...﴾ [الانعام: ۱۰۲]: ځکه په دې کې اشاره والله تعالى ته ده او هغه محسوس نه دئ؟

جواب: اشاره حسي عامه ده حقيقي وي، که حکمي؛ نو دلته حکمي اشاره ده؛ ځکه الله تعالى له وجې د زياتوالي د تمکن د اسم د ده د مومنانو په ذهنو په منزله د محسوس ځرګنده سوی دی.

(۲۸۸) پوښتنه: په عبارت کې لفظ د (ما) ذکر دی او په دې سره اشاره کيږي واحد مذکر ته او دلته تمامو اسماء اشاراتو ته اشاره سوې ده او هغه جمع ده؛ نو مطابقت يې نسته؟

جواب: دا اسماء اشارات مؤول دي په تاويل د مذکور سره او مذکور مفرد مذکر وي؛ نو مطابقت راغلی د اسم اشاره او مشار إليه.

وَقَدْ يَلْحَقُ بِأَوَائِلِهَا (هَاءُ) التَّنْبِيهِ. نَحْوُ: (هَذَا. وَهَذَانِ. وَهٰؤُلَاءِ). وَيَتَّصِلُ بِأَوَاخِرِهَا حَرْفُ الخِطَابِ. وَهُوَ أَيْضًا خَمْسَةُ أَلْفَاظٍ لِسِتَّةِ مَعَانٍ. نَحْوُ: (كَ. كُمَا. كُمْ. كِ. كُنَّ)؛ فَذَلِكَ خَمْسَةٌ وَعِشْرُوْنَ. الحَاصِلُ مِنْ ضَرْبِ خَمْسَةٍ فِيْ خَمْسَةٍ. وَهِيَ (ذَاكَ. إِلَى ذَا كُنَّ. وَذَا نِكَ إِلَى ذَا نِكُنَّ). وَكَذَلِكَ البَوَاقِيْ

او په تحقيق سره ملحق کيږي په لومړيو د دې سر (هاء) د تنبيه، لکه: (هَذا، وَهَذانِ، وَهٰؤُلاءِ). او متصل کيږي په آخرينو سره يې حرف د خطاب او هغه هم پنځه توري دي لپاره د شپږو معناوو، لکه: (كَ، كُما، كُمْ، كِ، كُنَّ): نو دا پنځه ويشت سول. چې حاصل يې په ضربېدلو څخه د پينځو په پينځو کې راځي او هغه (ذَاكَ) تر (ذَاكُنَّ) پورې او (ذَانِكَ) تر (ذَانِكُنَّ) پورې دی او دا ډول پاته هم داسې دي

تشريح: مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت او وروستنيو عبارتونو سره د اسماء اشاراتو خاص احکام ذکر کوي چې يو حکم له هغو څخه دا دئ چې په اول د اسماء اشاراتو کې (هاء التنبيه) راځي؛ لپاره د تنبيه د مخاطب، لکه: (هَذا، وَهَذانِ) او (هٰؤُلاءِ). او پيوست کيږي په آخر د اسماء اشاراتو پورې (حرف الخطاب) چې هغه کاف دی او دا حروف خطاب هم د اسماء اشاراتو په ډول دي چې پينځه الفاظ دي لپاره د شپږو معناوو او هغه دا دي: (لك، كما، كم، كما، ك) او تثنيه د مذکر او مؤنث تر مينځ مشترکه ده او مجموعه د دوی پينځه

ونښت جوړېږي چې حاصل يې راوځي د ضربېدلو د پينځو حرفونو له خطاب څخه په پينځو الفاظو د اسماء اشاراتو کې او هغه له (ذاك) څخه واخله تر (ذاكُنّ) پورې دی او داسې نور هم دي اه !.

(۲۸۹) پوښتنه : له څه نه معلومېږي چې (ذاك) حرف دی او اسم نه دئ ؟

جواب : د ده حرفيت له دې څخه معلوم دی چې د ده پر ځای اسم ظاهر نه واقع کيږي.

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (ذَا) لِلْقَرِيْبِ، وَ(ذٰلِكَ) لِلْبَعِيْدِ، وَ(ذَاكَ) لِلْمُتَوَسِّطِ

او پوه سه ! په دې چې (ذَا) د قريب لپاره دی، (ذٰلِكَ) د لېرې لپاره دی او (ذَاكَ) د ميانه لپاره دی

څه تشريح : (ذَا) د قريب لپاره راځي ؛ ځکه لږوالی د حروفو دلالت کوي پر لږوالي د مسافې باندې او (ذٰلِكَ) د لېرې لپاره راځي ؛ ځکه ډېروالی د حروفو دلالت کوي پر ډېروالي د مسافې او (ذَاكَ) د ميانه لپاره راځي ؛ ځکه د ده حروف تر (ذا) زيات دي او تر (ذلك) کم دي او توسط د حروفو دلالت کوي پر توسط د مسافې اه !.

د اسماء اشاراتو معناوې : (ذا) د واحد مذکر لپاره راځي ؛ (ذان) د تثنيه مذکر لپاره په حالت د رفع کې راځي ؛ (ذين) د تثنيه مذکر لپاره په حالت د نصب او جر کې راځي ؛ (تا، ذي، ته) او (تهي) ټوله د واحد مؤنث لپاره راځي ؛ (تان) د تثنيه مؤنث لپاره په حالت د رفع کې راځي.

(تين) د تثنيه مؤنث لپاره په حالت د نصب او جر کې راځي ؛ (أُولاء) ممدوده او (أُولى) مقصوره د جمع مذکر او جمع مؤنث لپاره راځي.

د اسماء اشاراتو لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿أُوْلَـٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ...﴾ [البقرة ۵] ۲- ﴿... هَـٰذَا ٱلَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ ...﴾ [البقرة ۲۵] ۳- ﴿... وَلَا تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ ...﴾ [البقرة ۳۵] ۴- ﴿هَـٰذَانِ خَصْمَانِ ٱخْتَصَمُوا۟ فِى رَبِّهِمْ ...﴾ [الحج ۱۹] ۵- ﴿فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَـٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ...﴾ [البقرة ۳۶] ۶- ﴿... وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ [البقرة ۷۵] ۷- ﴿... هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ...﴾ [هود ۷۸] ۸- ﴿... أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَـٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ﴾ [البقرة ۳۱] ۹- ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَـٰبُ ...﴾ [البقرة ۲] ۱۰- ﴿... فَذَٰنِكَ بُرْهَـٰنَانِ مِن رَّبِّكَ ...﴾ [القصص ۳۲]

فَصْلٌ : اَلْمَوْصُوْلُ اِسْمٌ لَا يَصْلُحُ أَنْ يَكُوْنَ جُزْءًا تَامًّا مِنْ جُمْلَةٍ إِلَّا بِصِلَةٍ بَعْدَهُ

فصل دی : موصول يو اسم دی چې نه صلاحيت نه لري د دې چې دی وګرځيږي يو جز پوره له جملې څخه مګر په يوې صلې سره چې وروسته يې راسي

د اسماء موصولاتو بحث ، دریيم ډول له ډولونو څخه د اسم مبني هغه اسم موصول دی چي علامه د بناء په دې کي مشابهت دی له حرف سره په احتياج کي او حرف محتاج دی ضمیدلو د کليمې آخري ته په دلالت کي پر معنا خپله او اسم موصول محتاج دی په (ما بعد) کي وذکر کولو د صلې ته او حرف مبني وو ؛ نو دا هم مبني سو .

او موصول په لغت کي پیوست سوي ته وايي او په اصطلاح کي هغه اسم دی چي نه تاميږي جز د جملې، يعني : مسند او مسند إليه، يا فاعل، يا مفعول به او داسي نور بيله ذکر کولو له صلې څخه نه واقع کېږي .

وَالصِّلَةُ جُمْلَةٌ خَبَرِيَّةٌ، وَلَا بُدَّ مِنْ عَائِدٍ فِيهَا يَعُودُ إِلَى الْمَوْصُولِ. مِثَالُهُ : (الَّذِيْ) فِيْ قَوْلِنَا : (جَاءَنِيْ الَّذِيْ أَبُوْهُ قَائِمٌ. أَوْ قَامَ أَبُوْهُ)

او صله جمله خبريه ده او نسته چاره له يو راګرځولو څخه په دې کي چي راګرځي وموصول ته، مثال يې لکه : (الَّذِيْ) زموږ په دې وينا کي : (جَاءَنِيْ الَّذِيْ أَبُوْهُ قَائِمٌ، او قَامَ أَبُوْهُ)

تشريح : صله به جمله خبريه وي، نه انشائيه : ځکه صله مربوط وي له موصول سره او رابط جمله خبريه قبلوي، نه انشائيه ؛ ځکه انشاء ايجاد د (ما لم يوجد) ته وايي ؛ نو رابط د غير به څرنګه قبول کړي .

او که چيري جمله انشائيه صله واقع سوې وه ؛ نو هغه به مؤول کيږي په تأويل د جمله خبريه يې سره .

او نفس جمله به ؛ ځکه وي چي په صله سره بيان د موصول کيږي او دا بيان نه حاصليږي، مګر په جملې سره .

او په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه جواب ورکوي سائل ته چي ته وايي : چي صله د موصول به جمله وي او جمله په خپله مستقله وي چي مشتمله وي په مسند او مسند إليه باندي او ربط له چا سره نه لري او صله له موصول سره ربط لري ؛ نو مصنف جواب ورکړی دی په دې عبارت سره چي په جمله کي به عائد د ربط لپاره ضروري وي .

(۲۹۰) پوښتنه : عوائد څلور دي : ۱- ضمير . ۲- كون د خبر تفسير لپاره د مبتدا، لكه : ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ①﴾ [الإخلاص: ۱] . ۳- الف او لام، لکه : (نعم الرّجل زيد) . ۴- او وضع د اسم ظاهر په ځای د ضمير باندي، لکه : ﴿الْحَاقَّةُ① مَا الْحَاقَّةُ②﴾ [الحاقة: ۱-۲] ؛ نو دلته کوم عائد مراد دئ ؟

جواب : عائد په صله د موصول کي به ضمير وي، لکه ابن حاجب چي ويلي دي : (والعائد ضمير له)، لكه : (جاء الّذي أبوه قائم) او (جاء الّذي قام أبوه) چي دوه مثالين يې راوړي دي ؛ اول مثال د جمله اسميه يې او دويم مثال د جمله فعليه يې دی اه ! .

(اَلَّذِيْ) لِلْمُذَكَّرِ. وَ(اللَّذَانِ. وَاللَّذَيْنِ) لِمُثَنَّاةٍ. وَ(اللَّتَانِ. وَاللَّتَيْنِ) لِمُثَنَّاهُمَا. وَ(الَّذِيْنَ. وَالْأُلٰى) لِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ. وَ(اللَّاتِيْ. وَاللَّوَاتِيْ. وَاللَّاءِ. وَاللَّائِيْ) لِجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ. وَ(مَا. وَمَنْ. وَأَيٌّ. وَأَيَّةٌ. وَذُوْ) بِمَعْنَى (اَلَّذِيْ) فِيْ لُغَةِ بَنِيْ طَيٍّ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ:

فَإِنَّ الْمَاءَ مَاءُ أَبِيْ وَجَدِّيْ وَبِئْرِيْ ذُوْ حَفَرْتُ وَذُوْ طَوَيْتُ

أَيْ: الَّذِيْ حَفَرْتُهُ وَالَّذِيْ طَوَيْتُهُ. وَالْأَلِفُ وَاللَّامُ بِمَعْنَى (اَلَّذِيْ) صِلَتُهُ اِسْمُ الْفَاعِلِ وَاِسْمُ الْمَفْعُوْلِ. نَحْوُ: (جَاءَنِيْ الضَّارِبُ زَيْدًا). أَيْ: الَّذِيْ يَضْرِبُ زَيْدًا، أَوْ (الْمَضْرُوْبُ غُلَامُهُ)

(اَلَّذِيْ) لپاره د مذکر دی. (اَللَّذَانِ) او (اَللَّذَيْنِ) د تثنيه (مذکر) لپاره دی او (اَللَّتَانِ) او (اَللَّتَيْنِ) د تثنيه (مؤنث) لپاره دي او (اَلَّذِيْنَ) او (اَلْأُلٰى) لپاره د جمع مذکر دی او (اَللَّاتِيْ، وَاللَّوَاتِيْ، وَاللَّاءِ) او (اَللَّائِيْ) لپاره د جمع مؤنث دی. او (مَا، وَمَنْ، وَأَيٌّ، وَأَيَّةٌ) او (ذُوْ) په معنا سره د (اَلَّذِيْ) دی په لغت کې د بني طي لکه دا قول د شاعر [چې وايي]:

فَإِنَّ الْمَاءَ مَاءُ أَبِيْ وَجَدِّيْ وَبِئْرِيْ ذُوْ حَفَرْتُ وَذُوْ طَوَيْتُ

يعني: هغه چې ما کنده کړې او ما هغه پېچلې دی. او الف ولام په معنا سره د (اَلَّذِيْ) دي چې صله يې اسم فاعل او اسم مفعول ده، لکه: (جَاءَنِيْ الضَّارِبُ زَيْدًا). يعني: هغه چې وهي زيد، يا [يې مثال دی] (اَلْمَضْرُوْبُ غُلَامُهُ)

تشريح: اسماء موصوله پر دوه ډوله دي: اسماء موصوله خاصه. ۲- او اسماء موصوله عامه.

اسماء موصوله خاصه دا دي: ۱- (الذي) د مذکر لپاره دی. ۲- (اللذان) او (اللذين) د تثنيه يې لپاره دی. ۳- (التي) د مؤنث لپاره دی. ۴- (اللتان) او (اللتين) د تثنيه مؤنث لپاره دی. ۵- (الذين) د جمع مذکر لپاره دی. ۶- (اللاتي، اللواتي، اللاء) او (اللائي) د جمع مؤنث لپاره دی.

او د (الذي) اصل (لذي) وو چې الف لام ورباندې داخل سو: نو (اَللَّذِيْ) سو، بيا لام په لام کې مدغم سو (اَلَّذِيْ) سو او په دې کې نور لغات هم دي، لکه: (اَلَّذِيْ) او (اَلَّذِ) په حذفېدلو د ياء سره او پاته کېدلو د ذال سره دی او (اَلَّذْ) په حذفېدلو د ياء سره او سکون د ذال سره دی.

او اسماء موصوله عامه دا دي: ۱- (من). ۲- (ما). ۳- (أيٌّ) او (أيّةٌ). ۴- الف او لام. ۵- (ذُوْ). ۶- او (مَا ذَا).

د (من) او (ما) **په هکله تفصيل:** (من) او (ما) دواړه له موصولاتو څخه دي. ۲- دواړه مبني دي. ۳- يو يې پر ځای د بل کارول کېږي. ۴- دواړه د معنا له لوري د مذکر او مؤنث او تثنيه او جمع لپاره دي. ۵- له دواړو څخه تعبير په (الّذي) او (اللتي) سره کېږي.

او (مَن) کارول کیږي غالبا په (ذوي العِلم) او (ذوي العقول) کي او په (غير ذوي العلم) او (غير ذوي العقول) کي لږ کارول کیږي. د (مَن) په (ذوي العِلم) او (ذوي العقول) کي مثال لکه : ﴿... مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ ...﴾ [البقرة: ۲۵۵].

او په (غير ذوي العِلم) او (غير ذوي العقول) کي يې مثال لکه : ﴿... فَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ بَطۡنِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ ...﴾ [النور: ۴۵]

او (ما) کارول کیږي په عکس د (مَن) باندي. د (ما) په (غير ذوي العِلم) او (غير ذوي العقول) کي مثال لکه : ﴿.. بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ ..﴾ [البقرة: ۴] او مثال يې په (ذوي العِلم) او (ذوي العقول) کي لکه : ﴿.. فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ ...﴾ [النساء: ۳] او په دواړو کي يې هم استعمال د دوی راټلای سي، لکه : ﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ﴾ [الحديد: ۱].

او پوه سه ! په دې چي (مَن) څو ډوله راځي، لکه : ۱- (مَن) موصوله راځي، لکه : (أكرمت مَن جائك) . ۲- (مَن) استفهاميه هم راځي، لکه : (مَن غلامك ؟) . ۳- (مَن) شرطيه هم راځي، لکه : (مَن تضرب أضرب!). ۴- او (مَن) موصوفه هم راځي، لکه په دې قول د شاعر کي :

كَفَى بِنَا فَضْلًا عَلَى مَنْ غَيْرِنَا   حُبُّ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ إِيَّانَا

دا خلور ډولونه د (مَن) سول او (مَا) پر شپږ ډوله راځي، لکه : ۱- (مَا) موصوله راځي، لکه : ﴿.. بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ ...﴾ [البقرة: ۴] ۲- (مَا) استفهاميه، لکه : ﴿وَمَا تِلۡكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ﴾ [طه: ۱۷] . ۳- (مَا) شرطيه، لکه : ﴿مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ ...﴾ [البقرة: ۱۰۶] . ۴- (مَا) تامه، لکه : ﴿.. فَنِعِمَّا هِيَۖ ...﴾ [البقرة: ۲۷۱] . ۵- (مَا) موصوفه لکه : ﴿وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا﴾ [الشمس: ۵-۷] . ۶- او (مَا) صفتيه، لکه : ﴿... قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ﴾ [الأعراف: ۱۰] .

دالف لام په هکله تفصيل : الف لام دواړه له موصولاتو څخه دي او دا په شان د الف لام حرفي نه دي چي ذکر دي په دې قول د مصنف کي : (ومن خواصه دخول اللّام) ؛ ځکه په دې کي د نحاتو اختلاف دی ؛ سيبويه وايي : لام خاصه د اسم ده .

خليل نحوي وايي : الف لام دواړه خاصي د اسم دي او فراء وايي : همزه يوازې خاصه د اسم ده لکه څرنګه د کتاب په اول کي په علاماتو داسم کي دا خبره تېره سوه .

او الف لام اسمي دواړه موصولي اسمي دي بېله اختلافه او له دوی څخه تعبير په مذکر کي په (الذي) سره او په مؤنث کي تعبير په (التي) سره ځني کيږي او صله د دوی به اسم فاعل او اسم مفعول وي .

دليل يې دا دئ : چي په الف لام اسمي کي دوه اعتباره دي : ۱- اعتبار د صورت . ۲- او اعتبار د معنا .

اوس خبره دا ده : چې په اعتبار د صورت سره دوی مفرد دي په شان د الف لام حرفي ؛ نو هغه ؛ خو مفرد دي او دوی هم مفرد دي او په اعتبار د معنا سره جمله ده ؛ ځکه دوی صله غواړي او صله سره له موصوله نه وي، مگر جمله وي ؛ نو حاصل سو په دوی کي دوه اعتباره چي صورتا مفرد دي او معنا جمله ده ؛ نو مدخول هم داسي غواړي چي صورتا مفرد وي او معنا جمله وي او هغه نه دئ، مگر اسم فاعل او اسم مفعول دي.

اسم فاعل او اسم مفعول دواړه صورتا مفرد دي ؛ ځکه دا دواړه له اسم جامد سره مشابه دي په عدم تغيير کي په حالت د غيبوبت او خطاب او تکلم کي، لکه : (أنا ضارب، أنت ضارب) او (هو ضارب) ؛ ځکه چي دا په شان د (أنا رَجل، أنت رَجل) او (هو رَجل) دی او اسم جامد : خو مفرد وو ؛ نو دا هم مفرد سول .

او معنا [يعني : د معنا له لوري] اسم فاعل او اسم مفعول جمله ده : ځکه جمله دې ته وايي : چي مشتمله وي په ذات او وصف باندي او په اسم فاعل او اسم مفعول کي دا دواړه صفته سته، لکه : (جاء الضارب زيدا، أي : الّذي يضرب زيدا إلخ) .

د (ذُو) په هکله **تفصيل** : (ذُو) هم له موصولاتو څخه دی چي له ده څخه تعبير په (الذي) او (التي) سره کيږي، مگر (ذو مقيد) دی په قيد د قبيلې د بني طي سره ؛ ځکه د دوی په نېز له موصولاتو څخه دی او مبني دی، نه په نېز د جمهورو نحاتو ؛ ځکه هغوی وايي : (ذُو) په معنا د (صاحب) سره دی او معرب دی اه ! .

او د (ذُو معرب) او (ذُو مبني) تر مينځ فرق دا دئ : چي تر (ذُو معرب) وروسته مفرد راځي او تر (ذو مبني) وروسته جمله راځي.

او بل فرق يې دا دئ چي له (ذو معرب) څخه تعبير په (صاحب) سره کيږي او له (ذو مبني) څخه تعبير په (الذي) سره کيږي.

وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْعَائِدِ مِنَ اللَّفْظِ إِنْ كَانَ مَفْعُوْلًا ، نَحْوُ : (قَامَ الَّذِيْ ضَرَبْتُ)، أَيْ : الَّذِيْ ضَرَبْتُهُ

او روا دي حذفېدل د عائد له لفظ څخه که مفعول وو، لکه : (قَامَ الَّذِيْ ضَرَبْتُ)، أَيْ : الَّذِيْ ضَرَبْتُهُ

تشريح : مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره دفع د سوال وکړه او سوال دا واردېږي په تعريف د اسم موصول کي چي : (ولا بُدّ مِن عائد)، يعني : چي عائد به په صله د موصول کي لازمي وي ؛ نو په ځينو صورتونو کي په صله د موصول کي عائد نه وي او مصنف دفع د سوال وکړه چي ويې ويل : (ويجوز حذف العائد)، مگر دا مطلقا نه حذفيږي، بلکي د دې لپاره څلور شرطونه دي : ۱- دا عائد به فضله وي . ۲- دا ضمير د عائد به راجع وي موصول ته، لکه : (سمع الله لَمن حمده) . ۳- تر (إلا) وروسته به ضمير منفصل نه وي، لکه : (جاءني الّذي ما ضربتُ إلّا إيّاه) . ۴- او په صله کي به دوه ضميرونه موجود نه وي، لکه : (جاء الّذي ضربته في داره) .

او (مَاذَا) هم له اسماء موصولاتو څخه دی، مگر (ذَا) تر (مَا) استفهاميه وروسته واقع کيږي، کنې بيا دا اسم اشاره نه ده اه ! .

...لَنَ (أَيًّا. وَأَيَّةٌ) مُعْرَبَةٌ إِلَّا إِذَا حُذِفَ صَدْرُ صِلَتِهِمَا كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا﴾ [مريم: ٦٩]. أي : هُوَ أَشَدُّ

...: په دې چې (أيًا) او (أيّةً) معرب دي مګر نه دا کله چې حذف سي صله يو له دوی څخه، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا﴾ [مريم: ٦٩]. اي : هُوَ أَشَدُّ

...ح : مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره دفع د سوال کوي او سوال دا واردېږي : چې (أي) او (أية) تا له موصولاتو څخه شمار ... او حال دا دئ چې دا معرب دي ؛ نو مصنف جواب ورکوي : چې درې صورته پکې معرب او يو صورت پکې مبني دی او د هغه له وجې ...ته په موصولاتو کې ذکر کړل .

...مبني صورت يې) : نو د (أي) او (أية) څلور صورته دي چې په دريو صورتونو کې معرب او په يو صورت کې مبني وي چې مضاف وي ...صدر د صله يې مذکور نه وي ؛ نو د مبني صورت په (أي) کې، لکه د حالت رفع مثال يې : (جاءني أيُّهم قائمٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : ...ايت أيُّهم قائمٌ) او حالت د جر يې لکه : (مرَرت بأيّهم قائمٌ) .
...په (أية) کې حالت د رفع يې لکه : (جاءتني أيَّتُهن قائمةٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : (رأيت أيُّهنّ قائمةٌ) او حالت د جر يې لکه : ...مرَرتُ بأيّتهنّ قائمةٌ) ؛ نو په دې صورت کې (أيّ) او (أيّة) مضاف دي او صدر د صله يې محذوف دی .

...معرب اول صورت يې) : او درې صورتونه په معرب کې راځي کوم چې په (أيّ) کې راځي، لکه حالت د رفع يې : (جَاءَنِي أيٌّ هُو ...قائمٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : (رأيتُ أيًّا هُو قائمٌ) او حالت د جر يې لکه : (مرَرْتُ بأيّ هُو قائمٌ) .
...په (أية) کې مثالونه لکه حالت د رفع يې : (جاءتني أيّةٌ هي قائمةٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : (رأيت أيّة هي قائمة) او حالت د جر يې لکه : (مرَرت بأيّة هي قائمةٌ) ؛ نو په دې د معرب په اول صورت کې (أيّ) او (أيّة) دواړه مضاف دي او صدر د صله يې مذکور دی .

(د معرب دويم صورت يې) : په دې صورت کې مضاف هم نه وي او صدر د صله يې هم مذکور نه وي، لکه په (أيّ) کې حالت د رفع مثال يې : (جاءني أيٌّ قائمٌ) ؛ حالت د نصب لکه : (رأيتُ أيًّا قائمٌ) او حالت د جر يې لکه : (مرَرت بأيّ قائمٌ) .
او په (أية) کې مثالونه يې لکه حالت د رفع يې : (جاءتني أيّةٌ قائمةٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : (رأيتُ أيّةً قائمةٌ) او حالت د جر يې لکه : (مرَرت بأيّةٍ قائمةٌ) .

(د معرب دريم صورت يې) : په دې صورت کې مضاف وي او صدر د صله يې هم مذکور وي، لکه په (أيّ) کې حالت د رفع مثال يې : (جاءني أيّهم هُو قائمٌ) ؛ حالت د نصب يې لکه : (رأيت أيّهم هو قائمٌ) او حالت دَ جر يې لکه : (مرَرت بأيّهم هُو قائمٌ) .

او په (أيّة) کې مثالونه یې لکه حالت د رفع یې : (جاءتني أيّتهن هي قائمة) ؛ حالت د نصب یې لکه : (رأيت أيّتهن هي قائمة) او حالت د جر یې لکه : (مرَرْت بأيّتهن هي قائمة) .

د صله ډولونه : صله پر درې ډوله ده : ۱- صله جمله فعلیه، لکه : (سافر الّذي أقام في منزلي !) . ۲- صله جمله اسمیه، لکه : (حضرتُ التلميذ !) . ۳- او صله شبه جمله چې مراد ځني ظرف دی، لکه : (رأيت الرّجل الّذي في الدّار) .

د اسماء موصولاتو په هکله څو مهمې قاعدې : ۱- قاعده : په اسماء موصوله کې له تثنیه یې او جمع پرته ټول الفاظ مبني دي او په تثنیه یې او جمع کې اختلاف دی .

۲- قاعده : (الذي) او (اللاتي) د مذکر (ذوي العقول) لپاره راځي او (من، ما، ال) او (ذو) په معنا د (الذي) سره راځي چې همیشه په یو حالت باندي وي او په واحد، تثنیه او جمع او دا ډول په مذکر او مؤنث کې هم تبدیلي نه پکې راځي .

۳- قاعده : د (ذا) موصوله لپاره درې شرطونه دي : ۱- تر (ما) استفهامیه او یا (مَن) استفهامیه وروسته به واقع وي . ۲- په (ذا) کې به د اسم اشاره معنا مراده نه وي، له دې وجې په (ماذا الكتب) مثال کې (ذا) اسم اشاره ده او موصوله نه ده . ۳- او (ذا) به د (ما) او (مَن) سره متصله یوه کلیمه نه وي، لکه : (لماذا) او په ﴿... مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ ...﴾ [البقرة: ۲۵۵] کې (ذا) موصوله نه دی .

۴- قاعده : صله همېشه تر موصول وروسته راځي .

۵- قاعده : د موصول خاص لپاره د عائد ضمیر مطابقت ضروري دی او په موصول عام کې دوې وجې جایز دي : ۱- د لفظ رعایت . ۲- او د معنا رعایت، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ۝﴾ [البقرة: ۸] .

۶- قاعده : په موصول اسمي کې حذف د الف لام جایز نه دی او په نورو کې حذف کېدای سي .

۷- قاعده : اسماء موصوله په ترکیب کې فاعل، مفعول، مبتداء، خبر، موصوف، صفت او داسې نور جوړېږي .

۸- قاعده : تر اسم موصول وروسته چې کله جار مجرور راسي ؛ نو د هغه تړاو صرف په فعل پوري وي، ﴿قَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ...﴾ [النحل: ۲۶]

۹- قاعده : عائد د موصول چې کله فضله وي ؛ نو حذف د هغه جایز دی، ﴿ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ ...﴾ [الرعد: ۲۶] .

د اسماء موصولاتو لپاره مختصر تمرین : ۱- ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ ...﴾ [الاسراء: ۱] ۲- ﴿... فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰ ...﴾ [الصافات: ۱۰۲] ۳- ﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا ...﴾ [المجادلة: ۱] . ۴- ﴿مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖ ...﴾ [النحل: ۹۶] . ۵- ﴿وَٱلَّذِي جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ۝﴾ [الزمر: ۳۳] .

أَسْمَاءُ الْأَفْعَالِ : هُوَ كُلُّ اِسْمٍ بِمَعْنَى الْأَمْرِ وَالْمَاضِيْ، نَحْوُ : (رُوَيْدَ زَيْدًا)، أَيْ : أَمْهِلْهُ. وَ(هَيْهَاتَ زَيْدٌ)، أَيْ : بَعُدَ

اسماء افعال: دا هر هغه اسم دی چې په معنا د امر او ماضي سره وي، لکه: (رُوَيْدَ زَيْدًا)، يعني: پرېږده يې او (هَيْهَاتَ زَيْدٌ)، يعني: وروسته

د اسماء افعالو بحث: څلورم ډول له مبني څخه اسماء افعال دي او اسماء افعال دې ته وايي: چې په معنا د فعل ماضي سره وي. يا په معنا د امر حاضر سره وي.

(۲۹۱) پوښتنه: دريم ډول د اسم فعل هم سته چې هغه په معنا د مضارع دی، لکه: (أُفٍّ) چې په معنا د (أتزجر) سره دی او (أَوْهِ) په معنا د (أتوجع) سره دی او دا ډول تا ذکر نه کړئ؟

جواب: دوی هم په معنا د ماضي سره دي: ځکه د (أف) معنا ده (تزجرت)، يعني: ما ته تکليف رسېدلی وو او د (أوه) معنا ده (توجعت)، يعني: ما ته درد رسېدلی وو او په مضارع کې مجازا مستعمل دی؛ ځکه مقصود له دوی څخه اخبار نه دئ، بلکې انشاء ده او له انشاء سره چې ډېر مناسبت لري؛ هغه مضارع حالي ده.

أَوْ كَانَ عَلَى وَزْنِ فَعَالِ بِمَعْنَى الْأَمْرِ. وَهُوَ مِنَ الثُّلَاثِيِّ قِيَاسٌ كَـ (نَزَالِ). بِمَعْنَى "اِنْزِلْ". وَ(تَرَاكِ) بِمَعْنَى "اُتْرُكْ"

يا اوي پر وزن د فعال چې په معنا د امر سره دی او هغه له ثلاثي څخه قياس دی لکه (نَزَالِ) چې په معنا د "اِنْزِلْ" سره دی او (تَرَاكِ) په معنا د "اُتْرُكْ" سره دی

عامه قاعده: له هر ثلاثي مجرد څخه (فعال) په معنا د امر حاضر مشتق کولو سره صحيح دي، لکه: (نزال) په معنا د (انزل) او (تراك) په معنا د (اترك)، همدا ډول (ضراب) په معنا د (اضرب)، (كتاب) په معنا د (أكتب) سره او (حلال) په معنا د (حَلِّ) سره او .!.

(۲۹۲) پوښتنه: ستا قاعده ماته سوه په (قوام) او (قعاد) باندې: ځکه دا په معنا د (قم) او (اقعد) سره نه دي؟

جواب: اسماء أفعال له ثلاثي مجرد څخه په وزن د فعال سره ډېر راځي او له دې وجې دې ته قياسي ويل کيږي او داسې نه ده چې هرځای اسم په وزن د فعال وي؛ نو په معنا د امر حاضر سره به وي.

وَيَلْحَقُ بِهِ فَعَالِ مَصْدَرًا مَعْرِفَةً كَـ (فَجَارِ) بِمَعْنَى "الْفُجُوْرِ". أَوْ صِفَةً لِلْمُؤَنَّثِ. نَحْوُ : (يَا فَسَاقِ) بِمَعْنَى "فَاسِقَةٌ". وَ(يَا لَكَاعِ) بِمَعْنَى "لَا كِعَةٍ". أَوْ عَلَمًا لِلْأَعْيَانِ الْمُؤَنَّثَةِ كَـ (قَطَامِ. وَغَلَابِ. وَحَضَارِ). وَهٰذِهِ الثَّلَاثَةُ لَيْسَتْ مِنْ أَسْمَاءِ الْأَفْعَالِ، وَإِنَّمَا ذَكَرْتُ ! هٰهُنَا لِلْمُنَاسَبَةِ

او ملحق کيږي په ده سره فعال مصدر معرفه لکه (فَجَارِ) چې په معنا د "الْفُجُوْرِ" سره دی، يا [ملحق کيږي] صفت لپاره مؤنث، لکه (يَا فَسَاقِ) په معنا سره د "فَاسِقَةُ" او (يَا لَكَاعِ) په معنا سره د "لَاكِعَةِ" دی، يا [ملحق کيږي] عَلَم لپاره د اعيانو مؤنثه وو لکه (قَطَامِ، وَغَلَابِ، وَحَضَارِ) او دا درې نه دي له اسماء افعالو څخه او بېشکه دلته ما ؛ د مناسبت له وجې ذکر کړله

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د فعال امري ملحقات ذکر کوي او هغه درې دي، لکه : ۱- فعال مصدري . ۲- فعال صفتي . ۳- او فعال علمي او د دې تفصيل دا دئ : چې فعال پر پينځه ډوله دی :

۱- فعال امري ؛ چې په معنا د امر حاضر سره وي، لکه : (نزال) په معنا د (انزل) سره دی .

۲- فعال مصدري ؛ چې په معنا د مصدر معرفه سره وي، لکه : (فجار) په معنا د (الفجور) سره دی، يا لکه : (حذار) په معنا د (حذر)، يعني : بيري سره دی .

۳- فعال صفتي ؛ چې په معنا د صفت سره وي، لکه : (فساق) په معنا د (فاسقة) سره دی .

۴- فعال علمي (غير ذوات الراء) ؛ چې د اعيان مؤنثه وو لپاره عَلَم وي، لکه : (غلاب، قطام) .

۵- او فعال علمي (ذوات الراء) ؛ چې د داسې اعيان مؤنثه وو لپاره علم وي چې په آخر کې يې (راء) وي، لکه : (حذار، حضار، فجار) او داسې نور .

اوس خبره دا ده چې د دوی حکمونه څه دئ ؟ نو حکم يې دا دئ : چې اول قسم اتفاقا مبني دی، قسم ثاني او ثالث ؛ دا هم مبني دی له وجې د مشابهت د دوی له قسم اول سره چې هغه فعال امري دی په وزن او اشتقاق کې او هر چې په وزن کې دی ؛ نو دا ظاهر دئ او هر چې په اشتقاق کې دی ؛ نو فعال امري، يعني : (نزال) معدول له (انزل) څخه، (فجار) معدول له (الفجور) څخه او (فساق) معدول له (فاسقة) څخه دی او هر چې قسم رابع دی ؛ نو د دې په اعراب او بناء کې اختلاف دی چې په دې کې دوه مذهبه دي : اول مذهب د حجازيانو دی او دويم مذهب د بني تميم دی ؛ حجازيان وايي : مبني دی له وجې د حمل د دوی په فعال امري باندې .

او مناسبت د دوی وزن او عدل دی او بني تميم وايي : معرب دی ؛ ځکه اصل په اسماؤ کې اعراب دی او حمل په نظائرو باندې ضروري نه دی .

او مصنف رحمه الله عليه هم مبني ورته ويلې دي او هر چې قسم خامس دی ؛ نو دا اتفاقي مبني دی ؛ ځکه د دې په آخر کې حرف راء ده او هغه ثقيله ده (كالمكرر في المخرج) داسې ده، که معرب سي ؛ نو زيات ثقل به راسي ؛ ځکه په معرب کې سلوک په طرق متعدده ؤ باندې وي .

او که مبني سي ؛ نو ثقل به کم وي ؛ ځکه په مبني کې سلوک په طريقه واحده باندې وي او سلوک په طريقه واحده اسهل وي تر سلوک په طرق متعدده ؤ باندې او په دې فعال کې چې مذکور دي ؛ دا درې ډوله دي : ۱- فعال مصدري . ۲- فعال صفتي . ۳- او فعال علمي، که هغه (ذوات الراء)، يعني : د (راء) والا وي، يا نه چې دا يې له اسماء افعال څخه نه دئ ذکر کړي اه ! .

پېژندنه (د اسماء افعالو ډولونه) : اسماء افعال په دوه ډوله دي : يو ډول مشهور دي چې دا کوم اوس ذکر سول او بل ډول غير مشهور دي، د اسماء افعال غير مشهوره چې ځيني مثالونه يې په لاندې ډول دي :

۱- (آمين) بمعنى استجب . ۲- (أوه) بمعنى توجعت . ۳- (أف) بمعنى أتزجر . ۴- (أمامك) بمعنى أخذ أمامك زيد، أي خذه ! . ۵- (إليك) بمعنى اذهب إليك عني، أي : اذهب عني ! . ۶- (عليك) بمعنى الزم ! . ۷- (مكانك) بمعنى أثبت . ۸- (بس) بمعنى اسكن . ۹- (حيّ، وحيهل) بمعنى أقبل . ۱۰- (دونك) بمعنى خذ دونك زيدا، أي : خذه ! . ۱۱- (بخ) بمعنى ارضى ! . ۱۲- (رُويدا) بمعنى أمهل . ۱۳- (زه) بمعنى استحسن . ۱۴- (سرعان) بمعنى سرع، أو أسرع . ۱۵- (شتان) بمعنى افترق . ۱۶- (صه) بمعنى اسكت ! يعني : صه عن الكلام . ۱۷- (قد، وقط) بمعنى يكفي . ۱۸- (مه) بمعنى امنع . ۱۹- (واه) بمعنى أتحير . ۲۰- (وي) بمعنى أتعجب . ۲۱- (هلُم) بمعنى ائت ! . ۲۲- (هيت) بمعنى أقبل . ۲۳- (هيهات) بمعنى تأسفت . ۲۴- (يهات) بمعنى قد .

ځيني نحوي فايدې : ۱- فايده : ځيني علماء د دې فرق کوي د واحد مؤنث او د واحد مذکر لپاره (هاء) استعمالوي او د جمع مذکر لپاره (هاؤم) استعمالوي، لکه : ﴿... هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ﴾ [الحقة ۱۹] او د جمع مؤنث لپاره (هاؤن) استعمالوي .

۲- فايده : اسماء افعال وضع سوي دي لپاره د اختصار . لکه (رُويدا) د مذکر او مؤنث، او دا ډول د واحد، تثنيه او جمع لپاره وضع سوي دي او کارول کيږي په خلاف د (مهل) باندې .

۳- فايده : د افسوس او تأسف لپاره، لکه : ﴿هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ﴾ [المؤمنون ۳۶] استعماليږي، يعني : (هيهات !) .

۴- فايده : په محل د اعراب د اسماء افعال کې درې مذاهب دي : يو مذهب وايي : (لا محلّ لها مِن الإعراب) . دويم مذهب وايي : د اسماء افعالو محل د اعراب بنا پر ابتدائيت دی او فاعل د دوی قائم قام د خبر دی او دريم مذهب وايي : محل د اعراب يې نصب بنا پر مفعول مطلق دی د فعل مقدره لپاره .

۵- فايده : اسم فعل که چيرې مشترک وو په مينځ د دوو معناوو کې ؛ نو د فعل په اعتبار سره استعماليږي، لکه : (حيهل الثريدة، بمعنى ائت الثريد !) او که (حيهل) په معنا د (أقبل) سره وو ؛ نو په صله کې يې به (على) راځي، لکه : (حيهل على الخير بمعنى أقبل على الخير) سره دی او دا ډول (حيهل) په معنا د (أسرع) سره راځي، لکه : (إذا ذكر الصالحون ؛ فحيهل بعُمر)، أي : أسرعوا بذكره .

۶- فايده : اسماء افعال مضاف نه واقع کيږي او زياتره مبني پر سکون وي .

۷- فايده : کوم اسماء افعال چې په معنا د امر حاضر سره دي : نو په جواب کې يې به مضارع مجزوم راځي او که چيرې واقع سي ؛ نو منصوب به نه راځي، لکه : (صه ؛ فاحدثک) .

د اسماء افعالو لپاره مختصر تمرین: ۱- ﴿فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا﴾ [الطارق ۱۷] . ۲- ﴿هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ﴾ [المؤمنون ۳۶] . ۳- (تأبّط شرّا) . ۴- (هيت لك يا زيد !) . ۵- (بخ بخ يا سعد !) . ۶- (دونك يا زيد !) . ۷- (عليك بالإخلاص في العمل يا فلان !) .

فَصْلٌ : اَلْأَصْوَاتُ كُلُّ لَفْظٍ حُكِيَ بِهِ صَوْتٌ. كَ (غَاقِ) لِصَوتِ الْغُرَابِ. أَوْ صُوِّتَ بِهِ الْبَهَائِمُ كَ (نَخْ) لِإِنَاخَةِ الْبَعِيْرِ

فصل دی : آوازونه هر هغه لفظ دی چې حکایت کیږي په هغه سره د آواز. لکه (غَاقِ) لپاره د آواز د کارګه. یا چې آواز کوي په هغه سره څارویان لکه (نَخ) لپاره د چوګولو د اوښ

د اسماء اصواتو بحث: پینځم ډول له مبني څخه اسماء اصوات دي، یعني : د آوازونو نومان او په هر ژبه د آواز خپل نوم وي .

(۲۹۳) پوښتنه: تعریف جامع نه سو : ځکه له دې څخه هغه اصوات خارج سول چې هغه جاري کيږي په ژبو د حیواناتو او مرغانو باندي او هغه يې دلته ولې ذکر نه کړل ؟

جواب: له اصوات څخه مراد دلته هغه اصوات دي چې هغه جاري وي په ژبه د انسان باندي .

(۲۹۴) پوښتنه: زید، عمر، بکر ته هم باید اصوات وواېل سي : ځکه دا هم په ژبه د انسان باندي جاري کیږي ؟

جواب: اصوات هغه دي چې وضع پکي نه وي او په دې کي وضعه ده .

(۲۹۵) پوښتنه: علت د بناء په اصوات کي څه دئ ؟

جواب: عدم ترکیب دی : ځکه دوی په ترکیب کي نه واقع کیږي او که واقع وي، لکه : (زید غاق)، یا (کتبت غاق) : نو دا حکایت دی .

د اصواتو ډولونه: اصوات پر دوه ډوله دي : ۱- منقوله . ۲- او غیر منقوله . ۱- اول ډول چې منقوله دي دا په خپل مینځ کي دوه ډوله دي : یو ډول منقول ومصدر ته دي، لکه (واها) چې دې لره حکم د مصدر دی او بل ډول منقول ومصدر ته دي. بیا له مصدر څخه منقول و اسم فعل ته دي. لکه (صه) او (مه) چې په حکم کي د اسم فعل دي .

۲- دویم ډول غیر منقوله دي او دا هم په خپل مینځ کي دوه ډوله دي : یو ډول هغه آوازونه دي چې انسان لره پیښیږي په وخت د پښیماني کي. لکه (وي)، یا ورته پیښیږي په وخت د تعجب کي. لکه (ويح، وح) او بل ډول هغه آوازونه دي چې له انسانه پرته نورو ژوو او ساه کښانو ته پیښیږي. لکه (غاق) د کارګه آواز ته وايي او (نخ) چې د اوښ چوکېدلو لپاره ویل کیږي او یا داسي نور آوازونه او غیر منقوله اصوات ټوله مبني دي .

د اصولو لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي ...﴾ [طه: ۱۸] . ۲- (كان غرابنا يتغوق) . ۳- (نخ نخ يا بعير فلان !) .

فَصْلٌ : الْمُرَكَّبَاتُ كُلُّ اِسْمٍ رُكِّبَ مِنْ كَلِمَتَيْنِ لَيْسَتْ بَيْنَهُمَا نِسْبَةٌ

فصل دی : مركبات هر هغه نوم دی چي مركب سوی وي له دوو كليمو څخه كوم چي نه وي د دوی دوو تر مينځ يو مناسبت

د مرکباتو بحث : شپږم دول له مبني څخه مركبات دي چي په دې کي بيان د مرکباتو کيږي، کوم چي معدود دي له اسماء مبني څخه .

(۲۹۶) پوښتنه : (المركبات) مبتدا ده او (كُلّ اسمٍ) خبر دی ؛ نو دلته حمل د (كُلّ اسمٍ) په مبتدا باندي صحيح نه دی ؛ ځکه ارميږي حمل د واحد په متعدد باندي ؟

جواب : په (المركبات) کي الف لام جنسي دی چي په دې سره د جمعيت معنا ختم سوې ده او جنس ځني مراد دی ؛ ځکه حمل يې صحيح دی .

اوبل جواب دا دئ : چي (المركبات) مضاف إليه د فصل دی په دې اعتبار سره چي هغه خبر د (هذا) محذوف دی ؛ نو تقدير د عبارت دا ډول سو چي : (هذا فصل المركبات)، هذا مبتدا، فصل مضاف، المركبات مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه خبر سو د هذا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه او (كُلّ اسمٍ) مبتدا ده او (ما بعد) ورلره خبر دی .

(۲۹۷) پوښتنه : (كلمتين) مصنف وويله ؛ نو (اسمين) يې ولې نه وويل ؟

جواب : د دې لپاره چي په مركبات کي هغه مركب داخل سي کوم چي مركب وي له اسم او فعل څخه، لکه (حضرت موت)، يا (بخت نصر). دا ډول هغه مركب پکي داخل سي چي اول جز د هغه اسم وي او دويم جزء يې صوت وي، لکه : سيبويه او راهويه .

(۲۹۸) پوښتنه : (تأبط شرّا) مركب دی او د مبنياتو څخه دی ؛ نو دا ولې خارج سو ؟

جواب : دلته بيان د هغه مركب دی چي د هغه سبب د بناء تركيب وي او دلته د بنا سبب تركيب نه دی .

فَإِنْ تَضَمَّنَ الْجُزْءُ الثَّانِيْ حَرْفًا ؛ يَجِبُ بِنَاؤُهُمَا عَلَى الْفَتْحِ كَـ (أَحَدَ عَشَرَ إِلَى تِسْعَةَ عَشَرَ) إِلَّا (اثْنَىٰ عَشَرَ) ؛ فَإِنَّهَا مُعْرَبَةٌ كَالْمُثَنَّىٰ

که چيري متضمن سي جزء ثاني حرف : نو واجب دی بنا د دوی دوو پر فتحه لکه (أَحَدَ عَشَرَ) تر (تِسْعَةَ عَشَرَ) پوري مګر نه (اثْنَى عَشَرَ) : ځکه چي دا معرب دی لکه تثنيه

تشريح: مصنف رحمه الله په دې عبارت سره تفصيل د مرکباتو کوي او حکم يې بيانوي: نو که چيري د مرکب دويم جز متضمن وو حرف لره. برابره خبره ده که دغه حرف حرف عاطف وو او که بل حرف وو. لکه: (أحد عشر): نو مبني به وي دواړه جزه په فتحه باندې او د اول جز علت د بناء دا دی:

چې په آخر د وسط کې راغلی دی: نو اجراء د اعراب په وسط کې جايز نه دی: ځکه محل د اعراب آخر د کليمې وي او هر چې جز ثاني دی: نو علت د بناء د هغه تضمن دی حرف لره او جزء ثاني په شان د (أحد عشر) مبني دی او هر چې بنا ده په فتحې سره: ځکه چې فتحه (أخف الحركات) ده.

وَإِنْ لَمْ يَتَضَمَّنْ ذَلِكَ: فَفِيهَا لُغَاتٌ أَفْصَحُهَا بِنَاءُ الْأَوَّلِ عَلَى الْفَتْحِ. وَإِعْرَابُ الثَّانِي غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ كَ (بَعْلَبَكَّ). نَحْوُ: (جَاءَنِي بَعْلَبَكُّ. وَرَأَيْتُ بَعْلَبَكَّ. وَمَرَرْتُ بِبَعْلَبَكَّ)

او که متضمن نه سي دا: نو په دې کې څو لغتونه دي چې ډېر فصيح يې بنا د اول ده پر فتح او اعراب د دويم دی چې غير منصرف وي لکه (بعلبكّ) چې مثال يې دی: (جاءني بعلبكُّ، ورأيتُ بعلبكَّ، ومررتُ ببعلبكَّ)

تشريح: که چيري د مرکب دويم جز متضمن حرف لره نه وو: نو په دې کې څلور لغاته دي او په دې کې افصح لغت اول جز مبني پر فتحه او ثاني معرب په اعراب د غير منصرف سره دی، لکه: (جاءني بعلبكُّ رأيت بعلبكَّ، مررت ببعلبكَّ): نو اول جز يې مبني او دويم جز يې معرب دی؛ ځکه متضمن حرف لره نه دی او غير منصرف دی: ځکه دوه سببونه پکې موجود دي: ١- علميت. ٢- او ترکيب.

د مرکباتو لپاره مختصر تمرين: ١- (الصَّلاةُ عِمادُ الدِّين). ٢- (حَيَّ على الصَّلاة). ٣- (عَلَيْكَ نَفْسَكَ يَا سَعْدُ!). ٤- (مَكَانَكَ يَا سَعِيدُ). ٥- (هَيْهَاتَ مِنَّا الذِّلَّة).

فَصْلٌ: الكِنَايَاتُ. هِيَ أَسْمَاءٌ تَدُلُّ عَلَى عَدَدٍ مُبْهَمٍ. وَهِيَ (كَمْ وَكَذَا). أَوْ حَدِيثٍ مُبْهَمٍ. وَهُوَ (كَيْتَ وَذَيْتَ)

فصل دی: کنايات. دا داسې اسماء (نومونه) دي چې دلالت کوي پر عدد مبهم او دا (كَمْ وَكَذا). يا کنايات دلالت کوي پر حديث مبهم او دا (كَيْتَ وَذَيْتَ) دي

د کناياتو بحث: اووم ډول له مبني څخه کنايات دي او کنايات جمع د کنايه يې ده او کنايه مصدر دی چې معنا د دې دا ده: له يو شي څخه تعبير کول لپاره د يو غرض د اغراضو په داسې الفاظو سره چې په دلالت کې صريح نه وي، مګر دلته معنی مصدري مراد نه ده، بلکې حاصل بالمصدر مراد دی، (أي: ما يكنى به).

او دلته ځيني کناياتي مراد دي چې مبني دي: ځکه ځيني کناياتي معرب وي، لکه: (فلان وفلانة) چې دا کنايه ده له اعلام څخه او اسم کنايه دلالت کوي په عدد مبهم باندې لکه: (كم وكذا): ځکه دا د اعدادو کنايه يې دي او يا په مبهم کلام دلالت کوي، لکه: (كيت

وذيت)، مګر زياتره استعمال د دوی په واو عاطفه سره وي، لکه : (سمعت، کيت وذيت، بيني وبين فلان ذيت وذيت) چې حرکت د دوی د تا ضمه، فتحه او کسره درې سره صحيح دي.

او (کم) پر دوه ډوله دی : ۱- (کم) استفهاميه . ۲- او (کم) خبريه : نو (کم) استفهاميه متضمن دی همزې د استفهام لره، له دې وجې مبني دی، يا وضع د دې په شان د حرف ده او بل دا چې (کم) استفهاميه محمول دی په (کم) خبريه باندې .

او (کذا) مرکب دی له کاف تشبيه څخه او (ذا) تر اسم اشاره مخکې ترکيب يې مبني وو ؛ نو تر ترکيب وروسته هم پر هغه خپله بناء باندې باقي دی.

او (کيت وذيت) پر ځای د جملې واقع کيږي او د (صاحب المفصل) په نيز باندې جمله له (مبني الأصل) څخه ده، له دې وجې دوی مبني دي.

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (كَمْ) عَلَى قِسْمَيْنِ : اِسْتِفْهَامِيَّةٌ وَمَا بَعْدَهَا مَنْصُوبٌ مُفْرَدٌ عَلَى التَّمْيِيْزِ، نَحْوُ : (كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ ؟).

وَخَبَرِيَّةٌ وَمَا بَعْدَهَا مَجْرُوْرٌ مُفْرَدٌ، نَحْوُ : (كَمْ مَالٍ أَنْفَقْتَهُ؟)، أَوْ مَجْمُوْعٌ، نَحْوُ : (كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتَهُمْ)، وَمَعْنَاهُ التَّكْثِيْرُ . وَتَدْخُلُ "مِنْ" فِيْهِمَا تَقُوْلُ : (كَمْ مِنْ رَجُلٍ لَقِيْتَهُ، وَكَمْ مِنْ مَالٍ أَنْفَقْتَهُ ؟!).

وَقَدْ يُحْذَفُ التَّمْيِيْزُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ، نَحْوُ : (كَمْ مَالُكَ ؟)، أَيْ : كَمْ دِيْنَارًا مَالُكَ ؟ وَ(كَمْ ضَرَبْتُ !)، أَيْ: كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتُ !

او پوه سه ! په دې چې "كَمْ" پر دوه ډوله دی : استفهاميه دی او وروسته يې منصوب مفرد دی اچې بنا دی ا پر تمييز، لکه : (كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ ؟) .

او بل (ډول) خبريه يې دی او وروسته يې مجرور مفرد دی، لکه : (كَمْ مَالٍ أَنْفَقْتَهُ ؟)، يا مجموع دی، لکه : (كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتَهُمْ ؟) او د دې معنا زياتوالی دی او داخليږي "مِنْ" په دوی دواړو کې چې ته به يې داسې وايې : (كَمْ مِنْ رَجُلٍ لَقِيْتَهُ، وَكَمْ مِنْ مَالٍ أَنْفَقْتَهُ؟!) .

او په تحقيق سره حذفيږي تمييز له وجې د درېدو د قرينې، لکه : (كَمْ مَالُكَ ؟)، يعني : څو ديناره دي ستا مال ؟ او (كَمْ ضَرَبْتُ !)، يعني : څو وهله ما ووهله !

تشريح : د (كَمْ) خبريه او (كَمْ) استفهاميه په يو څو وجو کې اشتراک او په يو څو وجو کې يې افتراق دی .

هغه وجې چې د اشتراک دي : ۱- د کم خبريه او کم استفهاميه په تميز باندې (مِن) جاره بيانيه داخليږي، د (کم) خبريه مثال : (کم مِن مال أنفقته ؟) او د (کم) استفهاميه مثال : (کم مِن رَجل لقيته ؟) .

او فرق په اعتبار د قريني سره دی.

۲- په وجود د قرينې سره تميز د دواړو حذف کېداى سي. (كم مالك ؟) : نو دلته (دينارا) محذوف دى چي اصل عبارت يې (كم دينارا مالك ؟) دى او دا مثال د (كم) استفهاميه دى او (كم ضربت) په اصل كي (كم ضربةً ضربتُ) دى او دا مثال د (كم) خبريه دى چي قرينه يې په اول مثال كي دخول د (كم) استفهاميه دى په معرفه باندي او حال دا چي (كم) استفهاميه پر نكره داخلېږي : نو معلومه سوه چي تميز محذوف دى او قرينه په مثال ثاني كي دخول د كم خبريه دى په فعل باندي او حال دا چي (كم) په فعل باندي نه داخلېږي : نو معلومه سوه چي تميز محذوف دى.

۳- (كم) خبريه او استفهاميه دواړه تقاضا د صدارت كوي.

۴- دواړه مرفوع محلا، منصوب محلا او مجرور محلا واقع كېږي.

او هغه وجې چي د افتراق دي : ۱- (كم) خبريه راځي لپاره د (إنشاء الكثير) او (كم) استفهاميه راځي لپاره د (أيّ عدد).

۲- د (كم) خبريه تميز راځي مفرد مجرور، لكه : (كم مالٍ أنفقته) او كله راځي جمع مجرور، لكه : (كم رجالٍ لقيته ؟) او د (كم) استفهاميه تميز راځي مفرد منصوب، لكه : (كم رجُلًا عندك ؟).

۳- تر (كم) خبريه وروسته صيغه د متكلم راځي او تر (كم) استفهاميه وروسته صيغه د مخاطب راځي.

۴- د (كم) خبريه تميز له (أسماء الأعداد) څخه په دوه ډوله راځي : (۱) د عدد اقل تميز په شان د جمع مجرور دى. (۲) د عدد اكثر د تميز په شان مفرد مجرور او د (كم) استفهاميه تميز فقط د (عدد أوسط) په ډول راځي مفرد منصوب او نور تفصيل د نحو په غټو كتابونو كي وګورئ!.

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (كَمْ) فِي الْوَجْهَيْنِ يَقَعُ مَنْصُوبًا إِذَا كَانَ بَعْدَهُ فِعْلٌ غَيْرُ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ بِضَمِيْرِهِ. نَحْوُ : (كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتُ ؟! وَكَمْ غُلَامٍ مَلَكْتُ ؟!) مَفْعُوْلًا بِهِ. وَنَحْوُ : (كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ، وَكَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتُ ؟!) مَصْدَرًا. وَ(كَمْ يَوْمًا سِرْتَ ؟! وَكَمْ يَوْمًا صُمْتُ ؟!) مَفْعُوْلًا فِيْهِ وَمَجْرُوْرًا إِذَا كَانَ قَبْلَهُ حَرْفُ جَرٍّ، أَوْ مُضَافٌ. نَحْوُ : (بِكَمْ رَجُلًا مَرَرْتَ ؟! وَعَلَى كَمْ رَجُلٍ حَكَمْتُ ؟! وَغُلَامَ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ ؟! وَمَالَ كَمْ رَجُلٍ سَلَبْتُ ؟!).

وَمَرْفُوْعًا إِذَا لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مِنَ الْأَمْرَيْنِ مُبْتَدَأً إِنْ لَمْ يَكُنْ ظَرْفًا. نَحْوُ : (كَمْ رَجُلًا أَخُوْكَ ؟! وَكَمْ رَجُلٍ ضَرَبْتُهُ ؟!). وَخَبَرًا إِنْ كَانَ ظَرْفًا. نَحْوُ : (كَمْ يَوْمًا سَفَرُكَ ؟! وَكَمْ شَهْرٍ صَوْمِيْ ؟!)

او منصوب : په دې چې (كَم) په دوو وجو سره واقع کيږي منصوب چې کله وروسته يې يو فعل وي کوم چې مشغول نه وي له هغه څخه په يو ضمير باندي. لکه : (كَمْ غلاماً ضربتَ ؟!) (كَمْ غُلَامٍ مَلَكْتُ ؟!) چې مفعول به دی او لکه : (كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ، وَكَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتُ ؟!) چې مصدر دی او (كَمْ يَوْمًا سِرْتَ ؟!) (كَمْ يَوْمًا صُمْتُ ؟!) چې مفعول فيه دی او مجرور دی هغه وخت کله چې مخکې يې يو حرف جر وي، يا يو مضاف وي. لکه : (بِكَمْ رَجُلًا مَرَرْتَ ؟! وَعَلَى كَمْ رَجُلٍ حَكَمْتُ ؟! وَغُلَامَ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ ؟! وَمَالَ كَمْ رَجُلٍ سَلَبْتُ ؟!) .

او مرفوع دی کله چې نه وي پو ښی له دوو امرو څخه مبتدا چې هغه نه وي ظرف. لکه : (كَمْ رَجُلًا أَخُوكَ ؟! وَكَمْ رَجُلٍ ضَرَبْتُهُ ؟!) او خبر دی چې کله هغه ظرف وي. لکه : (كَمْ يَوْمًا سَفَرُكَ ؟! وَكَمْ شَهرٍ صَوْمِيْ ؟!)

مطلب : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د (كَم) اعراب ذکر کوي : نو کم خبريه او استفهامية په ترکيب کې مرفوعا، منصوبا او مجرورا محلا واقع کيږي او ترکيب يې ډېر واضح دی او د نور وضاحت لپاره د حضرت مولانا نصير الحق صاحب شرحي (كفاية النحو) ته مراجعه وکړئ !.

د کنايانو لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... كَمْ ءَاتَيْنَـٰهُم مِّنْ ءَايَةٍۭ بَيِّنَةٍ ...﴾ [البقرة ۲۱۱] ۲- ﴿... كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ﴾ [البقرة ۲۴۹] ۳- ﴿وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ ...﴾ [النجم ۲۶] ۴- (بِكَمْ دِرْهَمًا اشْتَرَيْتَ الكِتَابَ ؟) . ۵- (كَمْ شَهْرًا عُطْلَتُكَ ؟) . ۶- (كَمْ كِتَابٍ قَرَأْتُ ؟) . ۷- (كَمْ يَوْمًا قَضَيْتَ فِي الْمَدِينَةِ ؟) .

فَصْلٌ : الظُّرُوفُ الْمَبْنِيَّةُ عَلَى أَقْسَامٍ ، مِنْهَا : مَا قُطِعَ عَنِ الْإِضَافَةِ بِأَنْ حُذِفَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ . كَـ (قَبْلُ . وَبَعْدُ . وَفَوْقُ . وَتَحْتُ) ، قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿... لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ...﴾ [الروم ۴] . أَيْ : مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ . هَذَا إِذَا كَانَ الْمَحْذُوفُ مَنْوِيًّا لِلْمُتَكَلِّمِ وَإِلَّا ؛ كَانَتْ مُعْرَبَةً . وَعَلَى هَذَا قُرِئَ : (لِلَّهِ الْأَمْرُ مِنْ قَبْلٍ وَمِنْ بَعْدٍ) . وَتُسَمَّى الْغَايَاتِ

فصل دی : ظرفونه بنا سوي دي پر ډولونو چې له هغو څخه هغه دي : چې قطع سوی وي له اضافت څخه په داسې توګه چې حذف سوی يې وي مضاف إليه. لکه (قَبْلُ، وَبَعْدُ، وَفَوْقُ، وَتَحْتُ). الله تعالى فرمايلي دي : ﴿... لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ...﴾ [الروم ۴]. يعني : اده الله تعالی لره امر دی اتر مخه د هر شي او وروسته تر هر شي. دا هغه وخت چې وي محذوف منوي لپاره د متکلم او که داسي نه وي : نو بيا معرب دی او پر دې بنا اداآيت] داسي اهم] ويل سوی دی : (لِلَّهِ الْأَمْرُ مِنْ قَبْلٍ وَمِنْ بَعْدٍ) او دا (الغايات) بلل کيږي

د (ظروف) بحث : ظروف په يو څو ډوله دي چې مصنف رحمه الله عليه به يې په راتلونکو عبارتو کي خپله بيان وکړي : خو اوس دلته يې د اول ډول بيان کيږي چې هغه (ظروف مقطوع الإضافت) دي، لکه : (قبل، بعد، فوق) او (تحت) چې د دوی مضاف إليه حذفيږي

لکه : (لله الأمر مِن قبل ومِن بعد) چي اصل د دې (مِن قبل كُلّ شيء ومِن بعد كُلّ شيء) دی او هر کله چي مضاف إليه حذف سو او مضاف قائم سو پر ځای د مضاف إليه ؛ نو انتهاء د کلام ورباندي وسوه، له دې وجې دوی ته ظروف د غايات هم ويل کيږي .

تفصيل : د دې ظروف غايات څلور حالات دي : ۱- مضاف إليه به يې مذكور (ياد سوی) وي .

۲- کله ناکله مضاف إليه يې محذوف وي چي بالکل هېر سوی وي .

۳- کله ناکله يې مضاف إليه محذوف وي ؛ خو د ويونکي په نيت کي يې معنا او لفظ دواړه پاته وي .

او حکم د دې دريو سره صورتونو دا دئ : چي په دې حالاتو کي به دا ظروف غايات معرب وي .

۴- کله يې مضاف إليه محذوف وي او د ويونکي په نيت کي يې صرف معنا مراد وي فقط .

او حکم د دې صورت دا دئ : چي په دې حالت کي به ظروف غايات مبني وي په ضمې سره ؛ ځکه چي د دې مشابهت دی له حروفو سره په احتياج کي او مبني به په ضمې سره ؛ ځکه وي چي بدل سي لپاره د هغه کوم چي څخني فوت سوی وي، يعني : چي کوم مضاف إليه څخني حذف سوی وو اه ! .

وَمِنْهَا : "حَيْثُ" بُنِيَتْ تَشْبِيهًا لَهَا بِالْغَايَاتِ لِمُلَازَمَتِهَا الْإِضَافَةَ إِلَى الْجُمْلَةِ فِي الْأَكْثَرِ ، قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿...سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ۱۸۲] وَقَدْ يُضَافُ إِلَى الْمُفْرَدِ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ : (أَمَا تَرَى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا)، أَيْ : مَكَانَ سُهَيْلٍ ؛ فَحَيْثُ هَذَا بِمَعْنَى مَكَانٍ . وَشَرْطُهُ : أَنْ يُضَافَ إِلَى الْجُمْلَةِ، نَحْوُ : (اِجْلِسْ حَيْثُ يَجْلِسُ زَيْدٌ)

او له ظروفو څخه "حَيْثُ" دی چي جوړ سوی دی د مشابهت لپاره په (الْغَايَات) سره له وجې چي د لازموالي د دوی له اضافت سره وجملې په زياتره (وختونو) کي، الله تعالى فرمايلي دي : ﴿...سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ۱۸۲] . او په تحقيق سره مضافيږي ومفرد ته لکه [دا] قول د شاعر : (أَمَا تَرَى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا)، يعني : ځای د (سُهيل) [چي په آسمان کي د يو ستوري نوم دی !] نو (حيث) دلته په معنا سره د ځای دی . او شرط يې دا دئ : چي مضاف سي وجملې ته، لکه : (اِجْلِسْ حَيْثُ يَجْلِسُ زَيْدٌ)

تشريح : په (حيث) کي دوه مذهبه دي : ۱- جمهور . ۲- او امام اخفش : جمهور وايي : دا له ظروف مکانيه ؤ څخه دي .

او امام اخفش وايي : په دواړو کي کارول کيږي، مګر په ظروف مکانيه کي زيات او په ظروف زمانيه کي لږ استعماليږي .

او د (حيث) په اضافت کي هم دوه مذهبه دي : جمهور نحات وايي : زياتره اضافت د ده جملې ته کيږي، لکه : ﴿...سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ او د (حيث) اضافت که څه هم جملې ته کيږي، مګر په حقيقت کي اضافت د ده ومصدر ته کيږي کوم چي له دې جملې څخه اخيستل کيږي او دا خبره ظاهره ده چي هغه مصدر ذکر نه وي ؛ نو حيث له (غايات) سره مشابه سو او هغه مبني وو ؛ نو (حيث) هم مبني سو .

نحيي نحات وايي : اضافت د ده مفرد ته کيږي، مګر په شعر کې راغلي دي :

أَمَا تَرَى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا   نَجْمٌ يُضِيئُ كَالشِّهَابِ سَاطِعًا

أي مكان سُهَيل .

مګر کله چي د ده اضافت مفرد ته وسي : نو په بناء او اعراب د ده کي اختلاف دی . ځيني نحات وايي : چي په دې صورت کي به معرب وي ، ځکه علت د بناء چي اضافت وجملې ته وو : هغه فوت سو .

او ځيني نحات وايي : چي په دې صورت کي به مبني وي او دا مشهور مذهب دی ؛ ځکه اضافت د ده مفرد ته شاذ او لږ دی او دې لره اعتبار نشته .

وَمِنْهَا : "إِذَا" وَهِيَ لِلْمُسْتَقْبَلِ . وَإِذَا دَخَلَتْ عَلَى الْمَاضِيْ ؛ صَارَ مُسْتَقْبَلًا . نَحْوُ : ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ ..﴾ [النصر: ١] . وَفِيْهَا مَعْنَى الشَّرْطِ . وَيَجُوْزُ أَنْ تَقَعَ بَعْدَهَا الْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّةُ . نَحْوُ : (أَتَيْتُكَ إِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ) . وَالْمُخْتَارُ الْفِعْلِيَّةُ . نَحْوُ : (أَتَيْتُكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ)

او له ظروفو څخه : "إِذَا" دی او دا لپاره د مستقبل دی او کله چي داخل سي پر ماضي : نو ګرځي مستقبل ، لکه : ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ ..﴾ [النصر: ١] . او په دې کي معناد شرط ده . او روا دي دا چي واقع سي وروسته تر جمله اسميه يې ، لکه : (أَتَيْتُكَ إِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ) . او مختار فعليه دی ، لکه : (أَتَيْتُكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ)

تشريح : (إذا) د راتلونکي (مستقبل) زمانه لپاره وضع سوی دی ، که څه هم پر ماضي داخل وي ، لکه : ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ ..﴾ ؛ نو دلته ماضي په معنا د مضارع سره ده .

او کله به داخل پر ماضي وي او په معنا د (مستقبل) به نه وي ، لکه : ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ ...﴾ [الكهف: ٨٦] .

نو علت د بناء په (إذا) کي په شان د ظروف غايات دی چي جملې ته مضافيږي .

وَقَدْ تَكُوْنُ لِلْمُفَاجَاةِ ؛ فَيُخْتَارُ بَعْدَهَا الْمُبْتَدَأُ . نَحْوُ : (خَرَجْتُ ؛ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ)

او په تحقيق سره کله ګرځي (إذا) لپاره د ناګهانه : نو راوړل کيږي وروسته يې مبتدا ، لکه : (خَرَجْتُ ؛ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ)

تشريح : (مفاجاة) صيغه د مصدر ده له (باب المفاعلة) څخه او د دې معنا په پښتو کي ده : ناګهانه او کله چي (إذا) د مفاجات لپاره مستعمل سي ؛ نو د شرط معنا به پکي نه وي ، له دې وجې تر ده وروسته راتلل د مبتدا مختار دي ؛ د دې لپاره چي د (إذا) شرطيه يې او (إذا) مفاجاتيه يې تر مينځ فراق راسي .

وَمِنْهَا : "إِذْ" . وَهِيَ لِلْمَاضِيْ . وَتَقَعُ بَعْدَهَا الْجُمْلَتَانِ الْاِسْمِيَّةُ وَالْفِعْلِيَّةُ . نَحْوُ : (جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ . وَإِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ)

او له ظرونو څخه : "إِذْ" دی او دا لپاره د ماضي دی او واقع کیږي وروسته تر دې دوې جملې چې اسمیه او فعلیه ده. لکه : (جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ، وَإِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ)

تشريح : (إذ) د زمانه ماضي لپاره وضع سوی دی، که څه هم په مستقبل باندي داخل سوی وي او کله په زمانه ماضي پوري خاص وي.

او فرق د (إذا) او (إذ) تر مينځ دا دئ : چي په (إذا) کي معنا د شرط ده او په (إذ) کي معنا د شرط نشته، له دې وجي وروسته تر (إذ) جمله اسميه او جمله فعليه دواړه راځي، بيله دې چي يوه جمله پکي مختاره سي.

وَمِنْهَا : "أَيْنَ، وَأَنَّى" لِلْمَكَانِ بِمَعْنَى الِاسْتِفْهَامِ. نَحْوُ (أَيْنَ تَمْشِي ؟ وَأَنَّى تَقْعُدُ ؟)، وَبِمَعْنَى الشَّرْطِ. نَحْوُ : (أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ، وأَنَّى تَقُمْ أَقُمْ)

او له ظرونو څخه "أَيْنَ، وَأَنَّى" د مکان لپاره دی چي په معنا سره د استفهام راځي. لکه : (أَيْنَ تَمْشِي ؟ وَأَنَّى تَقْعُدُ ؟) او په معنا سره د شرط راځي. لکه : (أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ، وَأَنَّى تَقُمْ أَقُمْ)

څه تشريح : (أين) د ظرف مکان، استفهام او شرط درو سره لپاره راځي او (أنّى) په معنا د مکان او (کيف) سره راځي. د مکان مثال لکه : ﴿...أَنَّى لَكِ هَٰذَا...﴾ [آل عمران: ٣٧] او د (کيف) مثال لکه : ﴿...فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ...﴾ [البقرة: ٢٢٣].

وَمِنْهَا : "مَتَى" لِلزَّمَانِ شَرْطًا. أَوْ اِسْتِفْهَامًا. نَحْوُ : (مَتَى تَصُمْ أَصُمْ. وَمَتَى تُسَافِرُ أُسَافِرُ)

او له ظرونو څخه "مَتَى" د زمان لپاره چي شرط دی، يا استفهام دی. لکه : (مَتَى تَصُمْ أَصُمْ، وَمَتَى تُسَافِرُ أُسَافِرُ)

څه تشريح : هر کله چي (متى) لپاره د شرط او استفهام راځي : نو متضمن سو حرف د شرط او حرف د استفهام لره او مبني سو، لکه مثال د شرط : (متى تصم أصم) او مثال د استفهام. لکه : (متى تسافر أسافر).

وَمِنْهَا "كَيْفَ" لِلِاسْتِفْهَامِ حَالًا. نَحْوُ : (كَيْفَ أَنْتَ ؟). أَيْ : فِي أَيِّ حَالٍ ؟

او له ظرونو څخه "كَيْفَ" لپاره د استفهام دی حالا. لکه : (كَيْفَ أَنْتَ ؟)، يعني : په کوم حال کي يې ؟

څه تشريح : (کيف) متضمن دی حرف د استفهام لره او بله معنی د (کيف) : استعمال د ده دی په شرط کي په نيز د بصريانو باندي، مګر مطلقا نه. بلکي وروسته به يې (ما) زائده راغلي وي، لکه : (کيف ما تجلس أجلس !) او په نيز د کوفيانو مطلقا کارول کيږي په معنا د شرط سره. لکه : (کيف تجلس أجلس !).

وَمِنْهَا "أَيَّانَ" لِلزَّمَانِ اِسْتِفْهَامًا. نَحْوُ : ﴿... أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾ [الذاريات ١٢]

او له ظرونو څخه "أَيَّانَ" دی چي د زماني لپاره راځي استفهاما (يعني : په طريقه د سوال راځي). لکه : ﴿... أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾ [الذاريات ١٢]

په تشريح : (أيّان) صرف د زمانه مستقبل لپاره راځي او په (أمور عظام) كي كارول كيږي او سوال وربانديي كيږي، لكه : ﴿... أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾ الذاريات ۱۲، يعني : د قيامت ورځ كله ده .

او (متى) راځي په عمومي توګه د زمانه ماضي لپاره او كله ناكله د مستقبل لپاره هم كارول كيږي، لكه : (متى تذهب إلى السوق ؟)، يعني : ته بازار ته كله ځې ؟ او يا داسي نور مثالونه .

وَمِنْهَا : "مُذْ، وَمُنْذُ" بِمَعْنَى أَوَّلَ الْمُدَّةِ إِنْ صَلُحَ جَوَابًا لِـ(مَتَى)، نَحْوُ : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ أَوْ مُنْذُ يَوْمَ الْجُمْعَةِ) فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ : (مَتَى مَا رَأَيْتَ زَيْدًا ؟) .

أَيْ : أَوَّلُ مُدَّةِ انْقِطَاعِ رُؤْيَتِي إِيَّاهُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَبِمَعْنَى جَمِيعِ الْمُدَّةِ إِنْ صَلُحَ جَوَابًا لِـ"كَمْ". نَحْوُ : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ أَوْ مُنْذُ يَوْمَانِ) فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ : (كَمْ مُدَّةً مَا رَأَيْتَ زَيْدًا؟)، أَيْ : جَمِيعُ مُدَّةِ مَا رَأَيْتُهُ يَوْمَانِ .

وَمِنْهَا : "لَدَى، وَلَدُنْ" بِمَعْنَى عِنْدَ، نَحْوُ : (الْمَالُ لَدَيْكَ)، وَالْفَرْقُ بَيْنَهُمَا أَنَّ (عِنْدَ) لَا يُشْتَرَطُ فِيهِ الْحُضُورُ، وَيُشْتَرَطُ ذَلِكَ فِي (لَدَى، وَلَدُنْ)، وَفِيهِ لُغَاتٌ أُخَرُ : (لَدْنِ، وَلُدْنَ، وَلَدْ، وَلُدْ، وَلُدُ)

او له ظروفو څخه : "مُذْ" او "مُنْذُ" دي په معنا سره د اولي مودې كه يې صلاحيت درلودی د جواب لپاره د (مَتَى)، لكه : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ أَوْ مُنْذُ يَوْمَ الْجُمْعَةِ) په جواب كي د هغه چاچي وايي : (مَتَى مَا رَأَيْتَ زَيْدًا ؟) .

يعني : له اولي مودې څخه د پريكېدو زما د ديدن له ده سره په ورځ د جمعې كي ايعني : د جمعې له ورځي څخه ما زيد نه دئ ليدلی!] او په معنا سره د ټولي مودې هم راځي چي كله صلاحيت ولري لپاره د "كَمْ". لكه : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ أَوْ مُنْذُ يَوْمَانِ) په جواب كي د هغه چا چي وايي : (كَمْ مُدَّةً مَا رَأَيْتَ زَيْدًا؟)، يعني : په ټوله موده كي ما نه دئ ليدلی دوې ورځي (هم) .

او له ظروفو څخه : "لَدَى" او "لَدُنْ" دي په معنا د (عِنْدَ) سره، لكه : (الْمَالُ لَدَيْكَ) او فرق د دوی تر مينځ دا دئ چي په (عِنْدَ) كي نه دئ شرط حضور او شرط دی دا په (لَدَى) او (لَدُنْ) كي او په دې كي نور لغتونه هم راغلي دي (لكه) : (لَدْنِ، وَلُدْنَ، وَلَدْ، وَلُدْ، وَلُدُ)

ځه تشريح : د (مذ) او (منذ) معنا ؛ خو معلومه ده او داسي نوره ګټوره تشريح يې ما په كتابو كي نه ده ليدلې او پاته سو (لدى) او (لدن) په دې كي پينځه لغات مصنف ذكر كړي او درې يې نور دي چي ټوله اته ډوله لغات كيږي او د ټولو ترتيب په راتلونكي ډول سره دی :

۱- (لدى) : په الف مقصوره سره په آخر د ده كي . ۲- (لَدُنْ) : په فتحه د لام، په ضمه د دال او په سكون د نون سره . ۳- (لَدْنِ) : په فتحه د لام، په سكون د دال او په كسره سره د نون . ۴- (لَدِنْ) : په فتحه د لام، په كسره د دال او په سكون د نون . ۵- (لَدَنْ) : په فتحه

د لام او دال او په سکون نون . ۶- (لَدْ) : په فتحه د لام او په سکون د دال . ۷- (لُدْ) : په ضمه د لام او په سکون د دال سره . ۸- (لَدُ) : په فتحه د لام او په ضمې سره د دال .

وَمِنْهَا : (قَطُّ) لِلْمَاضِي الْمَنْفِيِّ. نَحْوُ : (مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ)

او له ظروفو څخه : (قَطُّ) دی لپاره د ماضي منفي، لکه : (مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ)

تشريح : (قَطُّ) وايي وګرسره ته، (مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ)، يعني : ما ګرسره نه دئ ليدلی او په (قطّ) کې پينځه لغات دي : ۱- (قَطُّ) : په فتحه د قاف او په ضمې د طاء مشددې سره چې دا لغت مشهور دی .

۲- (قُطُّ) : په ضمه د قاف او په تشديد د طاء سره . ۳- (قَطْ) : په فتحه د قاف او سکون د طاء سره . ۴- (قُطُ) : په ضمه قاف او طاء سره .

۵- (قُطْ) : په ضمه د قاف او سکون د طاء سره .

وَمِنْهَا : (عَوْضُ) لِلْمُسْتَقْبَلِ الْمَنْفِيِّ، نَحْوُ : (لَا أَضْرِبُهُ عَوْضُ)

او له ظروفو څخه : (عَوْضُ) دی لپاره د مستقبل منفي، لکه : (لَا أَضْرِبُهُ عَوْضُ)

تشريح : عوض کارول کيږي لپاره د مستقبل منفي، لکه : (أضربه عوض) ؛ نو دا په فتحه د عين سره (عَوْض) ظرف دی لپاره د (لا أضربه) او دا مستقبل منفي دی، غرض دا چې (عوض) استغراق د نفي دی ټولو هغو زمانو لره چې راتلونکي دي .

او د عوض استعمال په کلام د عربو کې په دوو طريقو سره دی : ۱- مبني . ۲- او معرب ؛ مبني به هله وي چې مضاف إليه يې حذف وي په لفظ کې او منوي وي په نيت کې او معرب به هله وي چې مضاف إليه يې ذکر وي او يا حذف وي په حذف سره ؛ نو حکم د (عوض) په اعراب او بناء کې په ډول د حکم د غاياتو دی .

وَاعْلَمْ ! أَنَّهُ إِذَا أُضِيفَ الظُّرُوفُ إِلَى الْجُمْلَةِ، أَوْ إِلَى "إِذْ" ؛ جَازَ بِنَاؤُهَا عَلَى الْفَتْحِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿.. هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ...﴾ [المائدة: ۱۱۹]، وَكَـ(يَوْمَئِذٍ وَحِينَئِذٍ)

او پوه سه ! په دې چې کله چې اضافت وسي د ظروفو وجملې ته، يا و "إِذْ" ته ؛ نو روا دی بنا کول يې پر فتحه، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿.. هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ...﴾ [المائدة: ۱۱۹] او لکه (يَوْمَئِذٍ وَحِينَئِذٍ)

تشريح : هر کله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ له هغو ظروفو څخه چې بناء يې واجب وه ؛ نو شروع يې وکړه په هغو ظروفو کې چې بنا يې جايز وي، پس مراد له (الظروف) څخه ظروف معربه دي، لکه : (يوم) او (حين) او په دې کې دوه اعتباره دي : ۱- اعتبار د معرب .

۲- او اعتبار د بناء .

اعتبار د معرب او اعراب په هغه وخت کې راځي چې د دوی اضافت جملې ته وسي او يا (إذ) ته وسي ؛ نو اضافت د دوی عارضي دی او کسب د بناء نه کوي مضاف إليه له جملې څخه اود دوی اضافت اصل دی مفرد ته او مفرد معرب وي ؛ نو دوی به هم معرب وي او اعتبار د بنا د دوی دا دئ : هر کله چې دوی مضاف سي جملې ته او مضاف سي (إذ) ته او (إذ) مضاف وي جملې ته او جمله ؛ خو مبني ده ؛ نو دوی هم بناء کسب کړه په اضافت سره اه ! .

وَكَذٰلِكَ (مِثْلُ، وَغَيْرُ) مَعَ (مَا، وَأَنْ، وَأَنَّ)، تَقُوْلُ : (ضَرَبْتُهُ مِثْلَ مَا ضَرَبَ زَيْدٌ، وَغَيْرَ أَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ)

او دا پول (مِثْلُ) او (غَيْرُ) دی سره له (مَا، أَنْ) او (أَنَّ) چې ته به يې داسې وايې : (ضَرَبْتُهُ مِثْلَ مَا ضَرَبَ زَيْدٌ، وَغَيْرَ أَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ)

تشريح : حکم د (مِثل) او د (غير) چې (ما) او (أَن) مفتوحه مخففه او يا (أَنّ) مشدده ورسره ذکر وي په شان د (يوم) او (حين) سره دی په اعراب او بناء کې او هر چې علت د بنا دی په (مثل) او (غير) کې ؛ نو دوی مشابه دي له ځينو ظروفو سره چې (إذ، إذا) او (حيث) دی چې څنګه دوی لازم اضافت والا دي ؛ نو دا راز (مثل) او (غير) هم لازم اضافت والا دي، مګر فرق دا دئ : چې (إذ، إذا) او (حيث) مبني دي په طريقه د وجوب سره ؛ ځکه د دوی اضافت لازم دی وجملې ته او هر چې (مثل) او (غير) دي ؛ نو د دوی بناء جايز ده او د دوی اضافت لازم دی مفرد ته ؛ ځکه چې د دوی مضاف إليه به صورتا جمله وي او حقيقتا به مفرد وي او له دې وجې د دوی مشابهت له يادو ظروفو سره ليرې دی ؛ نو مبني سو په طريقه د جواز سره او وجه همدغه ده چې دوی مضاف کيږي وجملې ته ؛ نو هغه دي په (ما) مصدريه سره او يا په (أَن) مخففه او يا په (أَنّ) مثقله سره مصدر وي چې دا جمله به صورتا جمله وي او تاويلا به مفرد وي ؛ ځکه په دې سره مشابهت زياتيږي د (مثل) او (غير) له يادو ظروفو سره، مګر بيا هم دا مشابهت ليرې دی .

حاصل دا سو : بناء د دوی له وجې د مشابهت نه سوه له ظروفو سره چې (إذ، إذا) او (حيث) دي او اعراب د دوی له دې وجې څخه دی چې دا (أسماء) دي او اصل په اسماؤ کې اعراب دی .

وَمِنْهَا : "أَمْسِ" بِالْكَسْرِ عِنْدَ أَهْلِ الْحِجَازِ

او له ظروفو څخه "أَمْسِ" دی په کسره په نيز د اهل حجاز و

تشريح : په (أَمْسِ) کې دوه مذهبه دي : ۱- حجازيان . ۲- بني تميم او داسې نور .

حجازيان وايي : (أَمْسِ) مبني دی، لکه دا مذهب مصنف مختار کړی دی او صاحب د نحومير (أَمْسِ) په مبنياتو کې شمارلی دی او په مذهب د بني تميم او داسې نورو باندې (أَمْسِ) معرب دی او دا مذهب ابن حاجب او داسې نورو غوره کړی دی ؛ له دې وجې د مبنياتو په بحث د ظروفو کې يې ذکر د (أمس) نه دئ کړی .

د ظروفو لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ﴾ [النصر: ۱] . ۲- ﴿إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ [البقرة: ۱۳۱] . ۳- ﴿... فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۱۱۵] . ۴- (أَيْنَ تَذْهَبُ ؟ وَمَتَى تَأْتِي ؟) . ۵- (كَيْفَ حَالُكَ ؟) . ۶- (لَا أُكَلِّمُهُ عَوْضُ) . ۷- (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ سَافَرَ إِلَى دِمَشْقَ) . ۸- (هَلْ لَدَيْكَ قَلَمُ رَصَاصٍ ؟) .

الخَاتِمَةُ : فِيْ سَائِرِ أَحْكَامِ الْاِسْمِ وَلَوَاحِقِهِ غَيْرِ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ، وَفِيْهَا فُصُوْلٌ :

خاتمه ده : په [بيان د] ټولو احكامو د اسم او د هغه د لواحقو (ملحقاتو) كې بېله اعراب او بناء څخه او په دې كې فصلونه دي :

تشريح : هر كله چې فارغ سو مصنف رحمه الله عليه له بابينو څخه چې باب د معرب او باب د مبني دی ؛ نو شروع يې وكړه په خاتمه كې چې په دې كې هغه احكام بيانوي چې مشترك وي د معرب او مبني تر مينځ او په دې خاتمه كې لس فصلونه دي او هغه لكه :

۱- فصل په تقسيم د اسم كې معرفې او نكرې ته . ۲- فصل په بيان د (أسماء العدد) كې . ۳- فصل په بيان د تقسيم داسم كې مذكر او مؤنث ته . ۴- فصل په بيان د تعريف د تثنيه يې كې . ۵- فصل په بيان د تعريف د جمع كې . ۶- فصل په بيان د مصدر كې . ۷- فصل په بيان د اسم فاعل كې . ۸- فصل په بيان د اسم مفعول كې . ۹- فصل په بيان د صفت مشبه كې . ۱۰- او آخري لسم فصل په بيان داسم تفضيل كې .

(۲۹۹) پوښتنه : (سائر) په معنا د جمع سره راځي او دلته په خاتمه كې ټول احكام د جمع نه بيانيږئ ؟

جواب : (سائر) په معنا د باقي سره دی، نه په معنا د (جميع) سره .

(۳۰۰) پوښتنه : بيا (غير الإعراب والبناء) ذكر كولو ته ضرورت رانه غی ؛ ځكه دا له (ما قبل) څخه معلوم سو ؟

جواب : دا يې ذكر كړی دی لپاره د رعايت د مبتدي .

اِعْلَمْ ! أَنَّ الْاِسْمَ عَلَى قِسْمَيْنِ : مَعْرِفَةٌ وَنَكِرَةٌ

پوه سه ! په دې چې اسم پر دوه ډوله دی : معرفه او نكره

يادونه : دا فصل اول دی له هغو لسو فصلونو څخه چې په اسم كې معرفې او نكرې ته تقسيم سوی دي .

(۳۰۱) پوښتنه : دلته تقسيم د اسم معرفې او نكرې ته ولې وكړل سو ؟

جواب : مخكې په باب د معرب او مبني كې ذكر د معرفې او نكرې ته سوی دی، لكه په بحث د مبتدا كې چې ويل سوي وه : اصل په مبتدا كې تعريف دی او همدغه شان په بحث د اضافت كې ويل سوي وه : چې اضافت معرفې ته وسي ؛ نو اسم معرفه كېږي او دا مخكې بحث تقاضا د دې كوله چې معرفه او نكره دواړه ذكر سي .

(۳۰۲) پوښتنه : مصنف رحمه الله عليه به دا بحث متصل په بحث د معرب پوري ذكر كړی وای ؟

جواب: په باب د مبني کي مضمرات او مبهمات ذکر وه چي د اقسامو له معرفي څخه دي؛ نو د دوی معرفت هم موقوف وو پر بحث د معرفي اونکري: څکه يې تر باب د مبني وروسته بحث د معرفي او نکرې ذکر کړی.

(۳۰۲) پوښتنه: معرفه ولې مقدمه سوه په نکره باندي؟

جواب: معرفه اصل او (کثير الاستعمال) ده: نو له دې وجي يې مقدمه کړه پر نکرې.

الْمَعْرِفَةُ: اِسْمٌ وُضِعَ لِشَيْءٍ مُعَيَّنٍ. وَهِيَ سِتَّةُ أَقْسَامٍ: الْمُضْمَرَاتُ. وَالْأَعْلَامُ. وَالْمُبْهَمَاتُ. أَعْنِي أَسْمَاءَ الْإِشَارَاتِ. وَالْمَوْصُولَاتِ. وَالْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ

معرفه: يو اسم دی چي وضع سوی دی لپاره د يو شي معين او دا (معرفه) شپږ ډوله ده: مضمرات دي، اعلام دي، مبهمات دي، يعني: اسماء اشارات او موصولات دي او معرفه په الف او لام سره دي

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه د معرفي اقسام ذکر کوي او هغه شپږ ډوله دي چي اول له هغو څخه مضمرات دي کوم چي تفصيل يې مخکي په بحث د مبني کي تېر سوی دی.

(۳۰۴) پوښتنه: مضمرات ولې مقدم سول په نورو اقسامو د معرفي باندي؟

جواب: مضمرات (أعرف المعارف) دي: نو له دې وجي حقدار د تقديم دي. دويم ډول اعلام دي چي تر دوی وروسته راځي او دريم ډول مبهمات دي او مراد له مبهمات څخه اسماء اشارات او اسماء موصولات دي.

(۳۰۵) پوښتنه: مصنف رحمة الله عليه په خپل عبارت کي معرفه د الف لام ولې فقط په لام سره ذکر کړله، ولې يې په الف لام دواړو سره نه ذکر کوله؟

جواب: څکه چي يواځي په لام سره تخفيف پر ژبه راځي او تخفيف تر ثقل اولی وي او بله وجه يې تحسين هم دی او مراد په الف لام سره هغه الف لام دی چي د جنس لپاره، يا د استغراق لپاره او يا د عهد خارجي لپاره وي؛ څکه چي په دې دريو اقسامو د الف لام سره تعريف حاصلېږي او هر چي الف لام عهد ذهني دی؛ نو هغه کمزور تعريف دی.

وَالْمُضَافُ إِلَى أَحَدِهَا إِضَافَةً مَعْنَوِيَّةً. وَالْمُعَرَّفُ بِالنِّدَاءِ

او پنځم له اقسامو څخه د معرفي (مضاف دی ويو د دې) مخکي اقسامو د معرفي) ته په اضافت معنوي سره او (شپږم ډول) معرفه په (حرف) ندا سره ده

تشريح: مخکي اقسام د مضمرات، اعلام، مبهمات او معرفه الف لام سره وه او کله چي يو اسم مضاف سي يو د دې اقسامو ته: نو هغه به هم معرفه کېږي له وجي د اضافت د کسبه له مضاف إليه څخه او مصنف له اضافت سره قيد د (معنوية) ولګوی چي دا احتراز دی له هغه اسم څخه چي مضاف وي يو د دې اقسامو ته په اضافت لفظي سره: څکه چي په دې سره تعريف نه حاصلېږي اه!.

(۳۰۶) پوښتنه: لفظ د (غير) او د (مثل) نه معرفه کېږي په اضافت سره معرفي ته: نو دا ولې؟

جواب : دا دواړه مستثنی دي له دې مذکوري قاعدې څخه : ځکه چې دوی په ابهام کې توغل کړی دی ؛ نو دوی نه معرفه کيږي په اضافت سره معرفې ته او شپږم ډول هغه دی چې معرفه سوی وي په حرف ندا سره .

(۳۰۷) پوښتنه : (يا رَجل خُذ بيدي !) چې دا په قول د (أعمی)، يعني : د ړانده کې واقع سي ؛ نو دا ؛ خو بيا نکره سوه او حال دا دئ چې حرف نداء ور باندې داخله سوې ده ؟

جواب : په حرف نداء سره نکره معرفه کيږي په دې شرط چې قصد د تعين يې متکلم کړی وي، لکه : (يا رَجل !) او چې قصد يې متکلم نه وي کړی د تعين ؛ نو بيا نه معرفه کيږي په دخول د حرف ندا سره، لکه : (يا رَجلا خُذ بيدي !) .

وَالْعَلَمُ : مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ مُّعَيَّنٍ لَا يَتَنَاوَلُ غَيْرَهُ بِوَضْعٍ وَّاحِدٍ

او عَلَم : هغه (اسم معرفه) دی چې وضع سوی وي لپاره د شي معين کوم چې نه وي شامل بل ته په وضع د يو سره

د قيوداتو فايده : (ما وُضِع لشيء معين) ؛ دا جنس دی چې شامل دی معرف او غيرمعرف دواړو لره او دا قول چې (لا يتناول غيره بوضع واحد) ؛ نو دا فصل دی چې په دې سره باقي اقسام د معرفې خارج سول .

ځکه چې هغه شامل دي نورو ته او مراد په (عَلَم) سره مطلق اسم دی، برابره خبره ده : هغه که منقول وي ؛ مرتجل وي ؛ مفرد وي ؛ مرکب وي ؛ اسم محضه وي ؛ اسم لقب وي ؛ اسم کنيه وي ؛ اسم د ذات لپاره وي ؛ د حدث لپاره وي او که اسم د يو وخت لپاره وي .

(۳۰۸) پوښتنه : اقسام د معرفې ؛ خو ډېر وه ؛ نو (عَلَم) ولې خاص سو په تعريف سره ؟

جواب : د مضمراتو او مبهماتو تعريف مخکې سوی وو او (معرف باللام) او (معرف بالنداء) مستغني وو له تعريف څخه ؛ نو صرف (عَلَم) پاته سو چې هغه واضح هم نه وو او په مخکې عبارتو کې يې تعريف هم نه وو سوی ؛ ځکه مصنف رحمه الله عليه د ده تعريف وکړی .

وَأَعْرَفُ الْمَعَارِفِ الْمُضْمَرُ الْمُتَكَلِّمُ، نَحْوُ : (أَنَا، وَنَحْنُ)، ثُمَّ الْمُخَاطَبُ، نَحْوُ : (أَنْتَ)، ثُمَّ الْغَائِبُ، نَحْوُ : (هُوَ)، ثُمَّ الْعَلَمُ، ثُمَّ الْمُبْهَمَاتُ، ثُمَّ الْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ، ثُمَّ الْمُعَرَّفُ بِالنِّدَاءِ، وَالْمُضَافُ فِيْ قُوَّةِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ

او اعرف (ډېر پېژندل سوی) د معرفو ضمير د متکلم دی، لکه : (أَنَا، وَنَحْنُ)، بيا مخاطب دی، لکه : (أَنْتَ)، بيا غايب دی، لکه : (هُوَ)، بيا (عَلَم) دی، بيا مبهمات دي، بيا معرفه په (الف) لام سره دی، بيا معرفه په (حرف) ندا سره دی

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه بيان کوي د مراتبو په مينځ د معارفو کې، پس اول اعرف له دوی څخه ضمير د متکلم دی ؛ ځکه چې دی له التباس څخه بعيد دی .

(۳۰۹) پوښتنه : مصنف رحمه الله عليه بيان د تفاوت په مينځ د مضمراتو کې وکړ او په باقي معارفو کې يې نه وکړی ؛ نو د دې څه وجه ده ؟

جواب: په مضمراتو کي تفاوت موجود وو او په نورو کي نه وو؛ ځکه یې د هغه بیان نه وکړی.

وَالنَّكِرَةُ مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ غَيْرِ مُعَيَّنٍ كـ(رَجُلٍ وَّفَرَسٍ)

او نکره هغه ده چي وضع سوې وي لپاره د یو شي چي غیر معین وي، لکه (رَجُلٍ وَّفَرَسٍ)

تشریح: هر کله چي مصنف رحمه الله علیه فارغ سو له بحث څخه د معرفې؛ نو شروع یې وکړه په بحث د نکره کي او داسي یې وویل: چي نکره عبارت دی له هغه اسم نه چي وضع سوی وي لپاره د یو شي غیر معین، یعني: نامعلوم په داسي توګه چي دا شی به معهود نه وي په مینځ د متکلم او مخاطب کي.

د قیوداتو مختصره فایده: لفظ د (مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ إلخ)؛ دا جنس دی چي شامل دی معرف او غیر معرف دواړو ته چي هغه معرفه او نکره ده او لفظ د غیر معین فصل دی چي په دې سره معرفه خارجه سوه.

د نکرې شپږ علامې: ۱- حرف تعریف چي لام دی؛ دا به وړاندي داخلیږي. ۲- لفظ د (رُبَّ) به وړاندي داخلیږي. ۳- (کم) خبریه به وړاندي داخلیږي. ۴- حال به واقع کیږي. ۵- تمیز به واقع کیږي. ۶- او اسم د (لا مشابه بلیس) به واقع کیږي.

د معرفې او نکرې لپاره مختصر تمرین: ۱- ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾ [الكوثر: ۳]. ۲- ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ [المسد: ۱]. ۳- ﴿...رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة: ۲۱].

أَسْمَاءُ الْعَدَدِ مَا وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلَى كَمِّيَّةِ آحَادِ الْأَشْيَاءِ

(أسماء العدد) هغه دي چي وضع سوي لپاره د دې چي دلالت وکړي پر مرتبه د هر یو له شیانو څخه

د (أسماء العدد) بحث: هر کله چي مصنف رحمه الله علیه فارغ سو له بحث څخه د معرفې او نکرې؛ نو شروع یې وکړه په بحث د (أسماء العدد) کي او د (أسماء العدد) په هکله د څلورو شیانو پیژندل اړین دي:

لومړی: تعریف د (أسماء العدد). دویم: اصول د (أسماء العدد). دریيم استعمال د (أسماء العدد). او څلورم بیان د تمیز د (أسماء العدد).

لومړی: چي تعریف د (أسماء العدد) دی؛ نو (أسماء) په لغت کي جمع د اسم ده او د دې معنا معلومه ده او د عدد په تعریف کي دوه قولونه راغلي دي:

۱- (العدد هو الكمّ المنفصل الّذي لا يكون لأجزائه حدّ مشترك)، یعني: عدد یوه جلا مرتبه ده کوم چي د خپلو اجزاوو لپاره یې مشترک تعریف نه وي.

۲- (العدد هي كثرة مركبة مِن الآحاد)، يعني : عدد دا مركب (جوړ سوی) ډېروالی دی له يو يو څخه، لکه : (عشرة) : دا عدد دی: ځکه چي دا يو کثرت دی چي جوړ دی له افرادو څخه .

او اصطلاحي معنا د دې مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ ذکر کړې ده په دې عبارت خپل سره چي وايي : (ما وُضِع ليدُلّ إلخ)، لکه : (عشرة) سو: نو دا يو عدد دی چي وضع سوی دی لپاره د دې چي دلالت وکړي پر افرادو د شيانو .

(۳۱۰) پوښتنه : تعريف د (أسماء العدد) مانع نه سو له دخول څخه د نورو ؛ ځکه چي (رَجل) او (رجلان) پکي داخل سو او دا دواړه په کميت باندي دلالت کوي ؛ ځکه چي (رَجل) پر واحد دلالت کوي او (رَجلان) پر تثنيه دلالت کوي او حال دا دئ : چي دا ؛ خو (أسماء العدد) نه دئ ؟

جواب : (أسماء العدد) هغه اسماء دي چي د دوی (موضوع له) به په خپله (کم) او مقدار وي پرته له لحاظ د جنس څخه او (رَجل) او (رجلان) لکه څنګه چي دلالت کوي په مقدار باندي ؛ نو دغسې دلالت کوي په جنس باندي هم ؛ ځکه دوی خارج سول له تعريف څخه د (أسماء العدد) .

وَأُصُولُ أَسْمَاءِ الْعَدَدِ اثْنَتَا عَشْرَةَ كَلِمَةً (وَاحِدَةٌ إِلَى عَشَرَةٍ، وَمِائَةٌ وَأَلْفٌ)

او اصول (بنسټونه) د (أسماء العدد) دوولس کليمې دي (يو تر لسو، او سل او زر)

تشريح : مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ په دې عبارت سره دويمه خبره ذکر کوي چي هغې ته (أصول العدد) وايي او هغه دوولس دي :

۱- (واحد) . ۲- (اثنان) . ۳- (ثلثة) . ۴- (أربعة) . ۵- (خمسة) . ۶- (ستة) . ۷- (سبعة) . ۸- (ثمانية) . ۹- (تسعة) . ۱۰- (عشرة) . ۱۱- (مائة) . ۱۲- (ألف) .

او له دې پرته نور عددونه فروع دي چي له دوی څخه جوړېږي ؛ نو تفصيل دا سو چي (أسماء العدد) دوه ډوله دي : ۱- اصول . ۲- او فروع .

اصول دې ته وايي چي له دوی څخه نور (أسماء العدد) جوړېږي او فروع دې ته وايي چي له دوی څخه نور نه جوړېږي .

اصول دولس کليمې دي. (واحد) او (اثنان) بيله تا څخه او (ثلاثة) تر (عشرة) پوري چي تا پکي موجوده ده او (مائة) او (ألف) دي او له دې دولسو څخه پرته نوري د عدد (حساب) کليمې فروع دي او له دې اصولو څخه د فروع جوړولو اووه طريقې دي :

۱- طريقه : چي زياتوالی د تاء تانيث پکي وکړل سي، لکه : (واحد) او (اثنان) اصل دي چي له دوی څخه (واحدة) او (اثنتان) جوړ سي چي دا د دوی فروع دي چي زياتوالی د تا پکي سوی دی .

۲- طريقه : په اسقاط د تاء تانيث سره ده. لکه : (ثلث) او (أربع) چي دا جوړ سوي دي له (ثلاثة) او (أربعة) څخه په اسقاط له تا سره.

۳- طريقه : د تثنيه يې ده، لکه : (مئين) او (مائتين) په فتحې د همزې سره او (ألفين) چې دا دواړه له (مائة) او (ألف) څخه جوړ سوي دي.

۴- طريقه : جمع کول دي په داسي توګه چې دا اصل به جمع کيږي ؛ نو فرع به څني جوړيږي، لکه : (مئات) او (مئين) په کسرې د همزې سره او (ألوف) چې دا له (مائة) او (ألف) څخه جمع راغلي ده.

۵- طريقه : د ترکيب امتزاجي ده په داسي توګه چې د اصولو په مينځ کي به ترکيب امتزاجي کيږي ؛ نو فروع به څني جوړ سي، لکه : (ثلاثة وعشر) ؛ نو دې دواړو په مينځ کي ترکيب امتزاجي وسو او (ثلاثة عشر) څني جوړ سو.

۶- طريقه : د ترکيب اضافي ده په داسي توګه چې د اصولو په مينځ کي به ترکيب اضافي سوی وي ؛ نو فرع به څني جوړه سوې وي، لکه : (ثلاث مائة) چې د (ثلاث) اضافت (مائة) ته سوی دی ؛ نو (ثلاث مائة) څني جوړ سو.

۷- طريقه : د ترکيب عطفي ده، يعني په واسطه دعطف سره به ترکيب راغلی وي، لکه : (ثلاثة وعشرون) چې دلته (ثلاثة) معطوف عليه دی او (عشرون) ورباندي عطف دی ؛ نو په واسطه د دې عطف سره (ثلاثة وعشرون) جوړ سوی دی.

وَاسْتِعْمَالُهُ مِنْ وَاحِدٍ إِلَى اثْنَيْنِ عَلَى الْقِيَاسِ، أَعْنِيْ لِلْمُذَكَّرِ بِدُوْنِ التَّاءِ، وَلِلْمُؤَنَّثِ بِالتَّاءِ تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ: (وَاحِدٌ). وَفِيْ رَجُلَيْنِ : (اثْنَانِ). وَفِيْ امْرَأَةٍ : (وَاحِدَةٌ). وَفِيْ امْرَأَتَيْنِ : (اثْنَتَانِ). و(ثِنْتَانِ)

او استعمال به يې له يو څخه تر دوو پوري وي پر قياس، يعني لپاره د مذکر بيله تاء او لپاره د مؤنث په تاء سره چې ته به يې داسي وايې: د يوه سړي په هکله لکه : (وَاحِدٌ)، د دوو سړيو په هکله لکه : (اِثْنَانِ)، د يوې ښځي په هکله لکه (وَاحِدَةٌ) او د دوو ښځو په هکله لکه (اِثْنَتَانِ) او (ثِنْتَانِ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه درېيمه خبره ذکر کوي چې هغه استعمال د (أسماء العدد) دی ؛ نو هر کله چې مصنف رحمة الله عليه د بيان له اجمال څخه فارغ سو ؛ نو شروع يې وکړه په تفصيل باندي او ويې ويل : چې له (واحد) څخه تر (اثنان) پوري به د معدود مذکر لپاره عدد مذکر راځي.

او د معدود مؤنث لپاره به عدد مؤنث راځي او دا موافق د قياس دی ؛ ځکه په قياس کي تذکير تقاضا کوي لپاره د تذکير او تانيث تقاضا کوي لپاره د مؤنث ؛ نو د سړي لپاره به (واحد) ويل کيږي بيله تاء څخه او د رجلان لپاره به (اثنان) ويل کيږي بيله تاء څخه او په مؤنث کي تاء ورسره زياتيږي.

او په حالت د افراد او ترکيب کي، لکه : (أحد عشر) او (اثنا عشر) ؛ دا به لپاره د مذکر وي او (إحدى عشرة) او (اثنتا عشرة) لپاره د مؤنث وي او په حالت د عطف کي به هم سره موافق وي، لکه : (أحد وعشرون) او (اثنان وعشرون) لپاره د مذکر او (إحدى وعشرون) او (اثنتان وعشرون) لپاره د مؤنث راځي اه !.

وَمِنْ ثَلَاثَةٍ إِلَى عَشَرَةٍ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ، أَعْنِيْ لِلْمُذَكَّرِ بِالتَّاءِ، تَقُوْلُ: ثَلَاثَةُ رِجَالٍ إِلَى عَشَرَةِ رِجَالٍ، وَلِلْمُؤَنَّثِ بِدُوْنِهَا تَقُوْلُ: ثَلَاثُ نِسْوَةٍ إِلَى عَشْرِ نِسْوَةٍ.

وَبَعْدَ الْعَشْرِ تَقُوْلُ: أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا، وَاثْنَا عَشَرَ رَجُلًا، وَثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا إِلَى تِسْعَةَ عَشَرَةَ رَجُلًا، وَإِحْدَى عَشَرَةَ امْرَأَةً، وَاثْنَتَا عَشَرَةَ امْرَأَةً، وَثَلَاثَ عَشَرَةَ امْرَأَةً إِلَى تِسْعَ عَشَرَةَ امْرَأَةً

او له درو څخه تر لسو پورې پر خلاف د قياس دي، يعني لپاره د مذکر په تاء سره راځي چې ته به يې وايې: (ثَلَاثَةُ رِجَالٍ) تر (عَشَرَةِ رِجَالٍ) او د مؤنث لپاره بېله تاء راځي چې ته به يې داسې وايې: (ثَلَاثُ نِسْوَةٍ) تر (عَشْرِ نِسْوَةٍ) پورې.

او تر لس وروسته به يې داسې وايې: (أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا، اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا) او (ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا) تر (تِسْعَةَ عَشَرَةَ رَجُلًا) پورې او (إِحْدَى عَشَرَةَ امْرَأَةً، اثْنَتَا عَشَرَةَ امْرَأَةً) او (ثَلَاثَ عَشَرَةَ امْرَأَةً) تر (تِسْعَ عَشَرَةَ امْرَأَةً)

تشريح: له (ثلاثة) څخه تر (عشرة) پورې عدد خلاف القياس راځي، يعني: د مذکر لپاره به عدد مؤنث راځي او د مؤنث لپاره به عدد مذکر راځي؛ نو دا مخالف القياس سو.

ځکه قياس تقاضا کوي چې د مذکر لپاره مذکر راوړل سي او د مؤنث لپاره دي عدد مؤنث راوړل سي؛ نو پس په مذکر کي به ويل کيږي د دې قاعدې مذکورې موافق (ثلاثة رجال) چې (رجال) مذکر دی او جمع د (رَجل) ده او (ثلاثة) ورلره عدد مؤنث راوړل سوی دی.

او دا به تر (تسعة رجال) پورې په دې طريقه سره وي او په مؤنث کي به ويل کيږي (ثلاث نسوة)؛ نو دلته (نسوة) عدد مؤنث دی؛ ځکه چې دا جمع د (نساء) ده او ثلاث عدد ورته مذکر راوړل سوی دی او دا به تر (عشر) نسوة پورې په دې طريقه وي او دليل د دې دا دئ: چې (ثلاثة) جمع ده په اعتبار د معنا سره او جمع په تاويل د (جماعة) سره مفرد مؤنث دی؛ نو الحاق د علامې د تانيث ورپورې واجب سو او هر کله چې په مذکر کي عدد مؤنث سو؛ نو دا عدد به په مؤنث کي مذکر راوړل کيږي؛ د دې لپاره چې فرق راسي په مينځ د مذکر او مؤنث کي اه!.

(۳۱۱) پوښتنه: عکس دي وکړل سي په داسې توګه چې د مؤنث لپاره دي عدد مؤنث راوړل سي او د مذکر لپاره دي عدد مذکر راوړل سي؛ ځکه چې د قياس موافق په دې سره هم فرق حاصليږي په مينځ د مذکر او مؤنث کي؟

جواب: عکس يې وکړی؛ ځکه چې مذکر تر مؤنث په خلقت (جوړښت) کي هم مخکې دی؛ نو دی اول حق دار دی چې په عدد کي يې تا راوړل سي له وجې د تاويل مذکوره.

وَبَعْدَ ذٰلِكَ تَقُوْلُ: عِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَعِشْرُوْنَ امْرَأَةً، بِلَا فَرْقٍ بَيْنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ إِلَى تِسْعِيْنَ رَجُلًا وَامْرَأَةً

او بيا ورپسې به يې داسې وايې : (عشرون رجلا) او (عشرون امرأة) بېله فرقه په مينځ د مذكر او مؤنث كې تر (تسعين رجلا وامرأة) پورې

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه بيان د عقودو كوي چې هغه (عشرون، ثلاثون، أربعون، خمسون، ستون، سبعون، ثمانون) او (تسعون) دي د مذكر او مؤنث دواړو لپاره يو ډول كارول كيږي .

په دې شان چې مذكر به كارول كيږي د دواړو لپاره، لكه : (عشرون رجلا) او (عشرون امرأة) تر (تسعون رجلا) او (امرأة) پورې .

ځكه كه فرق يې وكړل سي په علامه د تانيث سره چې تاء ده ؛ نو دا تاء به خالي نه وي يا به مخكې تر نون د (عشرون) او اخواتو د (عشرون) راوړل كيږي او يا به وروسته تر نون راوړل كيږي او دا دواړه باطل دي .

هر چې اول صورت دى دا ؛ ځكه باطل دى چې دا نون حكما جزء د كليمې دى د (عشرون) ؛ نو لازميږي اجراء د علامې په وسط كې او هر چې بطلان د دويم صورت دى دا ؛ ځكه چې اجرا د علامې د تانيث به راسي په كليمه آخري پورې ؛ ځكه دا نون د (عشرون) حقيقتا بېله كليمه ده .

وَأَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَإِحْدَى وَّعِشْرُوْنَ امْرَأَةً، وَاثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَاثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ امْرَأَةً، وَثَلَاثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَثَلَاثٌ وَعِشْرُوْنَ امْرَأَةً إِلَى تَسْعَةٌ وَّتِسْعِيْنَ رَجُلًا، وَتِسْعٌ وَتِسْعِيْنَ امْرَأَةً. ثُمَّ تَقُوْلُ : مِائَةُ رَجُلٍ، وَمِائَةُ امْرَأَةٍ، وَأَلْفُ رَجُلٍ، وَأَلْفُ امْرَأَةٍ، وَمِائَتَا رَجُلٍ، وَمِائَتَا امْرَأَةٍ، وَأَلْفَا رَجُلٍ، وَأَلْفَا امْرَأَةٍ بِلَا فَرْقٍ بَيْنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ

او (أحدٌ وعشرون رجلا، وإحدى وّعشرون امرأة، واثنان وعشرون رجلا، واثنتان وعشرون امرأة، وثلاثة وعشرون رجلا، وثلاث وعشرون امرأة) تر (تسعة وّتسعين رجلا) او (تسع وتسعين امرأة) پورې . بيا به يې ته داسې وايې : (مائة رجلٍ، ومائة امرأةٍ، وألف رجلٍ، وألف امرأةٍ، ومائتا رجلٍ، ومائتا امرأةٍ، وألفا رجلٍ، وألفا امرأةٍ) بېله فرق په مينځ د مذكر او مؤنث كې

تشريح : په (مائة) او (ألف) او په (مائتان) او (ألفان) كې د مذكر او مؤنث څه فرق نه وي ؛ ځكه په مذكر كې به هم (مائة) ويل كيږي او په مؤنث كې هم دا رنګه (مائتان، ألف) او (ألفان) كې به هم د مذكر او مؤنث تر مينځ فرق نه وي او د دې دوې وجې دي :

۱- (مائة) او (ألف) او د دوى تثنيه يې مشابه دي له عقودو سره چې هغه (عشرون) او اخوات د ده دي په استعمال كې په مراتبو د عدد باندې او په عقودو كې د مذكر او مؤنث تر مينځ فرق نه وو ؛ نو په دوى كې به هم فرق نه وي . ۲- وجه دا ده چې په (مائة) كې (تاء) موجوده ده په اعتبار د وضع سره، پس كه د مذكر او يا د مؤنث لپاره بله (تاء) راوړل سي ؛ نو لازم به سي اجتماع د تائينو د تانيث او دا مستكره ده ؛ نو له دې وجې بېله فرق به وي د مذكر او مؤنث تر مينځ او (الف) په (مائة) باندې حمل دى او په تثنيه كې هم دغه وجه ده .

(۳۱۲) پوښتنه: په (مائة) کي (تاء) د تانيث لپاره نه ده؛ نو څرنګه به لازم سي اجتماع د علامې د تانيث؟

جواب: صورتا (تاء) دلته د تانيث لپاره ده، که څه هم حقيقتا نه ده، يعني صورت د دې د (تاء) تانيث دی.

فَإِذَ زَادَ عَلَى الْمِائَةِ وَالْأَلْفِ؛ يُسْتَعْمَلُ عَلَى قِيَاسِ مَا عَرَفْتَ، وَيُقَدَّمُ الْأَلْفُ عَلَى الْمِائَةِ، وَالْمِائَةُ عَلَى الْآحَادِ، وَالْآحَادُ عَلَى الْعَشَرَاتِ تَقُوْلُ: (عِنْدِيْ أَلْفٌ وَّمِائَةٌ وَّأَحَدٌ وَّعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَأَلْفَانِ وَمِائَتَانِ وَاثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَأَرْبَعَةُ آلَافٍ وَتِسْعُمِائَةٍ وَّخَمْسٌ وَّأَرْبَعُوْنَ امْرَأَةً)، وَعَلَيْكَ بِالْقِيَاسِ!

کله چي زيات سي پر سلو او زرو؛ نو استعماليږي پر قياس د هغه چي تا وپيژندل او مخکي کيږي زر پر سلو او سل پر آحادو او آحاد پر لسهاوو چي ته به يې داسي وايې: (عِنْدِيْ أَلْفٌ وَّمِائَةٌ وَّأَحَدٌ وَّعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَأَلْفَانِ وَمِائَتَانِ وَاثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا، وَأَرْبَعَةُ آلَافٍ وَتِسْعُمِائَةٍ وَّخَمْسٌ وَّأَرْبَعُوْنَ امْرَأَةً) او پر تا قياس دی!

تشريح: مراد له زياتوالي اخخه زياتوالی د (واحد) او د (اثنان) دی او له (ثلاثة) څخه تر (عشر) پوري او دا ډول مرکبات او عقود دي او هر کله چي دوی زيات سول په (مائة) او (ألف) باندي؛ نو (واحد) او (اثنان) به په قياس سره وي چي د مذکر لپاره به مذکر وي.

او د مؤنث لپاره به مؤنث وي او له (ثلاثة) څخه تر (عشر) پوري به پر خلاف د قياس وي چي د مؤنث عدد لپاره به مذکر عدد وي عدد او د مذکر عدد لپاره به مؤنث عدد وي.

وَاعْلَمْ! أَنَّ الْوَاحِدَ وَالْاِثْنَيْنِ لَا مُمَيِّزَ لَهُمَا؛ لِأَنَّ لَفْظَ الْمُمَيِّزِ يُغْنِيْ عَنْ ذِكْرِ الْعَدَدِ فِيْهِمَا. تَقُوْلُ: (عِنْدِيْ رَجُلٌ وَرَجُلَانِ)

او پوه سه! بېشکه يو او دوه نسته جلا کوونکی دوی دواړو لره؛ ځکه لفظ د جلا کوونکی غنا راولي له عدد څخه په دوی دوو کي چي ته به يې داسي وايې: (عِنْدِيْ رَجُلٌ وَرَجُلَانِ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه څلورمه خبره ذکر کوي چي هغه بيان د تميز دی؛ نو مصنف وايي: چي په اعدادو کي تميز د واحد او اثنان نسته له وجې د استغناء څخه، يعني: په ذکر د مميز سره استغناء راځي د ذکر له عدد څخه، لکه ويل کيږي: (رَجُلٌ) او (رَجلان)؛ نو دا (رَجل) استغناء راولي د ذکر له (واحد) څخه او (رجلان) استغناء راولي د ذکر له (اثنان) څخه.

وَأَمَّا سَائِرُ الْأَعْدَادِ؛ فَلَا بُدَّ لَهَا مِنْ مُمَيِّزٍ. فَتَقُوْلُ: مُمَيِّزُ الثَّلَاثَةِ إِلَى الْعَشَرَةِ مَخْفُوْضٌ وَّمَجْمُوْعٌ، تَقُوْلُ: (ثَلَاثَةُ رِجَالٍ وَثَلَاثُ نِسْوَةٍ)، إِلَّا إِذَا كَانَ الْمُمَيِّزُ لَفْظَ الْمِائَةِ؛ فَحِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ مَخْفُوْضًا مُفْرَدًا، تَقُوْلُ: (ثَلَاثُ مِائَةٍ وَتِسْعُ مِائَةٍ).

وَالْقِيَاسُ ثَلَاثُ مِئَاتٍ أَوْ مِئِيْنَ. وَمُمَيِّزُ أَحَدَ عَشَرَ إِلَى تِسْعَةٍ وَتِسْعِيْنَ مَنْصُوْبٌ مُفْرَدٌ. تَقُوْلُ: (أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَإِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً. وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ رَجُلًا. وَتِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ امْرَأَةً).

وَمُمَيِّزُ مِائَةٍ وَأَلْفٍ وَتَثْنِيَتِهِمَا وَجَمْعِ الْأَلِفِ مَخْفُوْضٌ مُفْرَدٌ. تَقُوْلُ: (مِائَةُ رَجُلٍ. وَمِائَةُ امْرَأَةٍ. وَأَلْفُ رَجُلٍ. وَأَلْفُ امْرَأَةٍ. وَمِائَتَا رَجُلٍ. وَمِائَتَا امْرَأَةٍ. وَأَلْفَا رَجُلٍ. وَأَلْفَا امْرَأَةٍ. وَثَلَاثَةُ آلَافِ رَجُلٍ. وَثَلَاثُ آلَافِ امْرَأَةٍ). وَقِسْ عَلَى هٰذَا!

اوهرچي تړله اعداد دي: نو نسته چاره دې لره له يو مميز (جلا کوونکي) څخه، چي ته به يې داسي وايې: تميز راويستونکی د درو ولسو ته هغه مجرور او مجموع دی، چي ته به يې وايې: (ثَلَاثَةُ رِجَالٍ وَثَلَاثُ نِسْوَةٍ) مگر نه دا که مميز لفظ د (المِائَة) وو: نو دغه وخت گرځي مجرور مفرد، چي ته به يې وايې: (ثَلَاثُ مِائَةٍ وَتِسْعُ مِائَةٍ). او قياس درې سوه، يا دوه سوه دی او مميز د يوولسو تر نهه نوي پوري منصوب مفرد دی، چي ته به يې وايې: (أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَإِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً، وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ رَجُلًا، وَتِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ امْرَأَةً).

او مميز د سلو او زرو او د تثنيه يې د دوی دوو او جمع کول د الف يې مجرور مفرد دی، چي ته به يې وايې: (مِائَةُ رَجُلٍ، وَمِائَةُ امْرَأَةٍ، وَأَلْفُ رَجُلٍ، وَأَلْفُ امْرَأَةٍ، وَمِائَتَا رَجُلٍ، وَمِائَتَا امْرَأَةٍ، وَأَلْفَا رَجُلٍ، وَأَلْفَا امْرَأَةٍ، وَثَلَاثَةُ آلَافِ رَجُلٍ، وَثَلَاثُ آلَافِ امْرَأَةٍ) او قياس وکړه پر دې! [د نورو عددونو]

تشريح: له (واحد) او (اثنان) څخه پر ته چي څومره (أسماء العدد) دي: دا په اعتبار د تميز سره په درې ډوله دي:

(١) **عدد اقل:** چي دې ته عدد ادنی هم وايي او عدد اقل چي له (ثلاثة) څخه تر (عشرة) پوري دی او تميز د ده به جمع مجرور وي، لکه: (ثلاثة رِجال وثلاث نِسوة).

(٢) **عدد اوسط:** له يولسو څخه تر نهه نوي پوري دی او تميز د ده به منصوب مفرد وي، مگر د عدد اوسط درې ډوله دي: ١- مرکبات بېله عطفه، لکه: (أحد عشر) تر (تسعة عشر) پوري. ٢- مرکب سره له عطفه، لکه: (أحد وعشرون). ٣- او عقود چي (عشرون) او (ثلاثون) دي داسي تر آخره.

(٣) **عدد اطول:** له (أَلْفٌ) څخه شا ته چي کوم نور غټ عددونه دي، لکه: (عشرة ألف، مائة ألف، ألف ألف، مليون، بليون، تريليون) او داسي نور؛ دا ټول په عدد اطول کي داخلېږي او د اعدادو په هکله د زيات تفصيل لپاره زما نړيوال کتاب (نړيوالي څېړني) ته مراجعه وکړه! وَاللّٰهُ الْمُوَفِّقُ.

د عدد په هکله ځيني مهمي قاعدي: ١- قاعده: د عدد اقل تميز جمع قلت او جمع مکسر د قياس خلاف راځي؛ ځکه دا يوه عامه قاعده ده.

۲- قاعده : كله تميز حذف كيږي، لكه : (اثنتا عشرة أسباطا) دلته (تميز فِرق) حذف دی، (أي : اثنتا عشرة فِرق أسباطا) او (أسباطا) بدل دی له (اثنتا عشرة) څخه ؛ ځکه که دا تميز سي ؛ نو عدد مذكر پكار وو .

۳- قاعده : له (اثنان) څخه تر (عشرة) پوري اسم فاعل د مذكرلپاره مذكر او د مؤنث لپاره مؤنث راځي، لكه : (ثاني، ثالث، رابع، خامس، سادس، سابع، ثامن، تاسع) او (عاشر) .

۴- قاعده : د عدد اقل مثالونه په قرآن كريم كي ټوله سته : د (ثلاثة) مثال لكه : ﴿.. ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ...﴾ [البقرة: ۲۲۸] ؛ د (رابع) مثال لكه : ﴿.. أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ...﴾ [البقرة: ۲۲۶] ؛ د (خامس) مثال لكه : ﴿...بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ۝﴾ [آل عمران: ۱۲۵] ؛ د (ستة) مثال : ﴿... فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ...﴾ [الاعراف: ۵۴] ؛ د (سابع) مثال لكه : ﴿.. سَبْعَ لَيَالٍ ...﴾ [الحاقة: ۷] ؛ د (ثامن) مثال لكه : ﴿... وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ ...﴾ [تيره حواله] ؛ د (تاسع) مثال لكه : ﴿وَكَانَ فِي ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ ...﴾ [النمل: ۴۸] او د (عاشر) مثال لكه : ﴿... فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ ...﴾ [المائدة: ۸۹] .

د عدد لپاره مختصر تمرين : ۱- (أكلتُ ثلاث برتقال !) . ۲- (عندي درهمين) . ۳- (في هذا الكيس عشرة دنانير) . ۴- (لي ألف فلوس أفغانية) . ۵- (في هذه المدينة يسكن مائة ألف شخص تقريبا) .

فَصْلٌ : الِاسْمُ إِمَّا مُذَكَّرٌ وَإِمَّا مُؤَنَّثٌ ؛ فَالْمُؤَنَّثُ مَا فِيهِ عَلَامَةُ التَّأْنِيثِ لَفْظًا أَوْ تَقْدِيرًا، وَالْمُذَكَّرُ بِخِلَافِهِ . وعَلَامَةُ التَّأْنِيثِ ثَلَاثَةٌ، التَّاءُ كَ(طَلْحَةَ)، وَالْأَلِفُ الْمَقْصُوْرَةُ كَ(حُبْلَى)، وَالْأَلِفُ الْمَمْدُوْدَةُ كَ(حَمْرَاءَ)، وَالْمُقَدَّرَةِ إِنَّمَا هُوَ التَّاءُ فَقَطْ، كَ(أَرْضٍ وَدَارٍ) بِدَلِيْلِ "أُرَيْضَةٍ وَدُوَيْرَةٍ"

فصل دی : اسم چي دی دا به يا مذكر وي او يا به مؤنث وي ؛ نو مونث هغه دی چي په هغه كي د تانيث علامه وي لفظا، يا تقديرا او مذكر په خلاف د دې دی . او علامه د تانيث دري ډوله ده : (عامه) تاء ده لكه (طَلْحَةَ)، الف مقصوره ده لكه (حُبْلَى) او الف ممدوده ده لكه (حَمْرَاءَ) او مقدره بېشكه هغه فقط (تاء) ده، لكه (أَرْضٍ وَدَارٍ) په دليل د "أُرَيْضَةٍ وَدُوَيْرَةٍ" سره

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه د تانيث علامې ذكر كوي او هغه علامې درې دي : ۱- تاء ده . ۲- الف مقصوره ده . ۳- او الف ممدوده ده .

دا مذهب د جمهورو نحاتو دی او په نېز د مير سيد سند رحمه الله عليه باندي علامې د تانيث څلور دي، هغه وايي : چي تاء دوه ډوله ده : ۱- ملفوظه . ۲- او مقدره او دربيم مذهب د ځينو نحاتو دی چي دوی هم څلور علامې د تانيث وايي : ۱- تاء . ۲- الف مقصوره . ۳- الف ممدوده . ۴- او څلورمه علامه (ياء) ده په (هذي) كي - چي دا اسم اشاره ده د مؤنث لپاره، مګر په دې مذهب باندي صاحب شرح

جامي رد کړی دی په دې عبارت سره چي وايي: (وقد زاد بعضهم الياء في قولهم "ذي، وتي"، وزعم أنها للتأنيث وليس ذلك بشئ لجواز أن يكون صيغته موضوعة للمؤنث مثل هي وأنت) .

او ځيني جواب کوي له دې (ياء) څخه ؛ وايي : چي مصنف نه ده ذکر کړې ؛ ځکه چي دلته بيان د هغه مذکر او د مؤنث کوي چي د اقسامو له اسم متمکن څخه وي او (هذي) او (تي) مؤنث اسم غير متمکن دی .

فايده (د تانيث مکمله علامې) : د تانيث ټولي علامې، يعني : نښي اووه ۷ دي، لکه څرنګه چي شيخ سليم الله خان الموقر رحمه الله تعالى په خپل کتاب (تسهيل الأدب) کي ذکر کړي دي :

۱- چي د اسم په آخر کي ګول تاء (ة) راغلي وي، لکه : (الزّهرة)، (الرّزمة) او داسي نور .

يادونه : ځيني داسي اسماء دي چي په آخر کي يې ګول تاء راغلي وي، مګر مذکر وي، لکه : (طلحة)، (خليفة)، (علّامة) او داسي نور ؛ ځکه دا د نارينه ؤ لپاره غوره سوي دي .

۲- چي ديو اسم په آخر کي الف ممدوده راغلی وي، لکه : (حمراء)، (زهراء) او داسي نور .

۳- چي ديو اسم په آخر کي الف مقصوره راغلی وي، لکه : (حُسنى)، (سلمى) او داسي نور .

۴- هغه اسم چي د ښځينه ؤ لپاره غوره سوی وي، لکه : (الأخت)، (الأم)، (زينب)، (رُقية) او داسي نور .

۵- هغه اسم چي د يو ښار، يا يو قبيلي (ټبر) لپاره غوره سوی وي، لکه : (افغانستان)، (پاکستان)، (قندهار)، (مصر) او داسي نور او د قبيلي مثال لکه : (أوسْ)، (قُريشْ) او داسي نور .

۶- هغه اسم چي د داسي اندام لپاره غورع سوی وي، کوم چي دوه، يا تر دوو زيات وي، لکه : (الأُذُن)، (العين)، (السّنّ)، (الشّفة) او داسي نور .

۷- او د تانيث آخري اوومه علامه دا ده : چي په هغه کي د تانيث له تېرو شپږو علامو څخه يوه هم نه وي، مګر عَرب هغه ته د مؤنث اسم غوره کړی وي، لکه : (أرضْ)، (دارْ)، (شمسْ)، (حربْ)، (ريحْ) او داسي نور چي تقريبا شپېتو ۶۰ ته يې شمار رسيږي او دې اسم ته (مؤنث سماعي) ويل کيږي، يعني : سماع يې له عربو څخه سوې ده[1] اه ! .

قاعده : که له اسم مؤنث څخه اسم مذکر جوړول غواړې ؛ نو د هغه اسم په پای کي ګول تاء راوله، لکه له (تائب) څخه (تائبة)، يا له (ساجدْ) څخه (ساجدةٌ) او يا له بل داسي مذکر اسم څخه مؤنث جوړول اه ! .

---

[1] (تسهيل الأدب) ۱۵ – ۱۶ مخونه، په ځانګړې تصرف سره .

(۳۱۳) پوښتنه: (رحی، أرطی) او (عصی)؛ په دوی کي الف مقصوره سته او دوی؛ خو مؤنث نه دي، بلکي مذکر دي؟

جواب: مطلق الف مقصوره؛ خو علامه د تانيث نه ده، بلکي الف مقصوره زائده علامه د تانيث وايو او الف د (رحی) او (عصی) زائد نه، بلکي اصلي دی؛ ځکه دا بدل دی د لام د کليمې او الف د (أرطی) لپاره د الحاق دی له حبل سره.

(۳۱۴) پوښتنه: (کساء، رداء) او (عباء)؛ په دوی کي الف ممدوده سته او دوی؛ خو مؤنث نه دي، بلکي مذکر دئ؟

جواب: مطلق الف ممدوده علامه د تانيث نه ده، بلکي هغه الف ممدوده چي زائده وي او په (کساء) او (رداء) کي همزه اصلي ده او په (عباء) کي همزه لپاره د الحاق ده.

(۳۱۵) پوښتنه: (عقرب) مؤنث دی؛ نو دلته د تانيث کومه علامه ده؟

جواب: علامه د تانيث عامه ده - حقيقي وي او که حکمي؛ نو په (عقرب) کي حکما علامه د تانيث موجوده ده؛ ځکه د ده حکم د تانيث له عربو څخه سماع (اوریدل) سوی دی اه!.

تشریح: زده کړه دا خبره چي د لفظي لپاره دوې معناوي دي: ۱- معنا مؤنث لفظي؛ دې ته وايي چي علامه د تانيث په لفظ کي موجوده وي، لکه: (طلحة) چي په دې معنا سره لفظي مقابل د تقديري دی؛ نو مؤنث تقديري دې ته وايي: چي علامه د تانيث پکي مقدره وي، لکه: (أرض) چي په اصل کي (أرضة) وه.

۲- معنا د لفظي چي په مقابل کي حيوان مذکر نه وي، برابره خبره ده چي علامه د تانيث په لفظ کي موجوده وي او که مقدره وي او لفظي په دې معنا سره مقابل د حقيقي دی چي هغه مؤنث دی چي په مقابل کی به مذکر حيوان موجود وي.

وَقَدْ عَرَفْتَ أَحْكَامَ الْفِعْلِ إِذَا أُسْنِدَ الْمُؤَنَّثِ؛ فَلَا نُعِيْدُهَا!

او په تحقيق سره تا وپيژندل احکام د فعل کله چي اسناد يې وسي مؤنث ته؛ نو موږ يې نه مکرره ؤ!

فَصْلٌ: اَلْمُثَنَّى اِسْمٌ أُلْحِقَ بِآخِرِهِ أَلِفٌ أَوْ يَاءٌ مَفْتُوْحٌ مَّا قَبْلَهَا، وَنُوْنٌ مَكْسُوْرَةٌ؛ لِيَدُلَّ عَلَى أَنَّ مَعَهُ آخَرَ مِثْلَهُ. نَحْوُ: (رَجُلَانِ، وَرَجُلَيْنِ). هٰذَا فِي الصَّحِيْحِ

فصل دی: مثنی ايعني: تثنيه) هغه اسم دی چي پيوست سوی وي په آخر د ده سره الف، يا (ياء) مفتوحه چي تر دې مخکي وي او نون مکسوره؛ د دې لپاره چي دلالت وکړي پر دې چي له ده سره يو بل د ده په شان دی. لکه: (رَجُلَانِ، وَرَجُلَيْنِ). همدا خبره په صحيح (قول) کي

تشریح: هر کله چي مصنف رحمه الله عليه فارغ سو د تقسيم له اسم څخه مذکر او مؤنث ته؛ نو شروع يې وکړه په بل تقسيم د اسم کي چي هغه دريو ډولونو ته سوی دی: ۱- مفرد. ۲- تثنيه. ۳- او جمع، مګر په دې دريو کي تعريف د تثنيه يې او جمع کوي او له وجې د مختصروالي د مفرد تعريف پرېږدي او تعريف د ده معلوميږي د تعريف له تثنيه يې او جمع څخه.

(۳۱۶) پوښتنه: مصنف رحمه الله علیه د تثنیه یې بحث پر جمع ولې مقدم کړی؟

جواب: د دې لپاره څلور وجې دي:

۱- عدد د تثنیه یې مقدم دی او سابق دی په عدد د جمع باندي؛ ځکه تثنیه دلالت کوي په دوو باندي او جمع دلالت کوي په زیات د دوو باندي او دوه مخکې دي په درو او داسې تر دې بالا عدد باندي.

۲- تثنیه قریبه ده مفرد ته.

۳- په تثنیه کې همېشه صیغه د واحد سالمه وي په خلاف د جمع باندي چې په ځینو افرادو کې سالمه وي او په ځینو کې نه وي، لکه جمع مکسره.

۴- او تثنیه په استعمال کې زیاته ده په نسبت سره جمع ته.

أَمَّا الْمَقْصُوْرُ؛ فَإِنْ كَانَتْ أَلِفُهُ مُنْقَلِبَةً عَنْ وَاوٍ وَكَانَ ثُلَاثِيًّا؛ رُدَّ إِلَى أَصْلِهِ. كَـ(عَصَوَانِ فِيْ عَصًا). وَإِنْ كَانَتْ عَنْ "يَاءٍ". أَوْ "وَاوٍ". وَهُوَ أَكْثَرُ مِنَ الثُّلَاثِيِّ. أَوْ لَيْسَتْ مُنْقَلِبَةً عَنْ شَيْءٍ؛ تُقْلَبُ (يَاءً). كَـ(رَحَيَانِ فِيْ رَحًى. وَمَلْهَيَانِ فِيْ مَلْهًى). أَوْ (حُبَارَيَانِ فِيْ حُبَارَى. وَحُبْلَيَانِ فِيْ حُبْلَى)

هر چې مقصور دی؛ نو که الف د ده اوښتی وو له واو څخه او وو ثلاثي؛ نو اوړي خپل اصل ته، لکه (عَصَوَانِ فِيْ عَصًا) او که اوښتی وو له "يَاء" څخه، یا له "وَاو" څخه او دی ډېر زیات وي له ثلاثي څخه، یا نه وي اوښتی له یو شی څخه؛ نو اوړي (يَاء)، لکه (رَحَيَانِ) په (رَحًى) کې او (مَلْهَيَانِ) په (مَلْهًى) کې. یا (حُبَارَيَان) په (حُبَارَى) کې او (حُبْلَيَانِ) په (حُبْلَى) کې

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه بیان د تثنیه یې او اسم مقصوره کوي او اسم مقصور عبارت دی له هغه اسم څخه چې په آخر کې الف مقصوره وي، لکه (عصي). پس هر کله چې له دې څخه تثنیه جوړېږي؛ نو په الف د تثنیه یې سره په دې کې لازمېږي اجتماع د ساکنینو؛ نو لازما په دې کې به تغیر کېږي او د دې اسم مقصوره لپاره څلور صورتونه جوړېږي:

۱- الف مقصوره به له (واو) څخه بدل راغلی وي او دا اسم به ثلاثي وي او حکم د دې صورت دا دئ: چې دغه الف به خپل اصل ته نقل کېږي چې (واو) دی په (عصي) کې به (عصوان) ویل کېږي؛ لپاره د رعایت د اصل، حقیقتا وي، لکه: (عصوان) او که حکما وي لکه (ال) کې به (ألوان) ویل کېږي او حکما واو دې ته وایي: چې (مجهول الأصل) وي، لکه (إلى) سو.

۲- چې الف بدل له (یاء) څخه راغلی وي، حقیقتا وي، لکه: (رحی) او یا حکما وي، لکه: (متی).

۳- الف بدل له واو څخه راغلی وي، مګر زیات وي په ثلاثي باندي.

۴- چې الف بدل د دې له چا څخه نه وي راغلی.

وَأَمَّا الْمَمْدُوْدُ : فَإِنْ كَانَتْ "هَمْزَتُهُ" أَصْلِيَّةً ؛ تَثْبُتُ كَـ (قُرَّاانِ)، وَإِنْ كَانَتْ لِلتَّأْنِيْثِ ؛ تُقْلَبُ وَاوًا كَـ (حَمْرَاوَانِ فِيْ حَمْرَاءِ) . وَإِنْ كَانَتْ بَدَلًا مِنْ أَصْلِ "وَاوًا" ، أَوْ "يَاءً" ؛ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ. كَـ (كِسَاوَيْنِ، وَكِسَائَيْنِ)

او هر چي ممدود دی : که وه "همزه" د ده اصلي : نو ثابتيږي لکه (قُرَّاانِ) او که وه لپاره د تانيث : نو اوړي واو لکه (حَمْرَاوَانِ) په (حَمْرَاءِ) کي . او که وه بدل له اصل (وَاو) څخه، يا له (يَاء) څخه : نو روادی په دې کي دواړه وجې، لکه (كِسَاوَيْنِ) او (كِسَائَيْنِ)

څه تشريح : د اسم ممدود لپاره دلته درې صورتونه دي : ١- همزه به اصلي وي . ٢- د تانيث لپاره به وي . ٣- له (واو) او (ياء) څخه به بدل راغلی وي .

وَيَجِبُ حَذْفُ نُوْنِهِ عِنْدَ الْإِضَافَةِ. تَقُوْلُ : (جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمَا مِصْرٍ) . وَكَذٰلِكَ تُحْذَفُ تَاءُ التَّأْنِيْثِ فِيْ تَثْنِيَةِ الْخُصْيَةِ وَالْأَلْيَةِ خَاصَّةً. تَقُوْلُ : (خُصْيَانِ وَأَلْيَانِ) ؛ لِأَنَّهُمَا مُتَلَازِمَانِ. فَكَأَنَّهُمَا شَيْءٌ وَاحِدٌ

او واجب دی حذفېدل د نون يې په وخت د اضافت کي، چي ته به يې داسي وايې : (جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ، وَمُسْلِمَا مِصْرٍ) . او دا ډول حذفيږي تاء د تانيث په تثنيه د (الخُصْيَة) او (الأَلْيَة) کي په ځانګړي توګه باندي چي ته به يې داسي وايې : (خُصْيَانِ) او (أَلْيَانِ) : ځکه چي دا دواړه متلازم دي، لکه دا چي يو شی وي

(۳۱۷) پوښتنه : هغه اسم چي متلبس وي په (تاء) د تانيث سره په وخت د تثنيه يې کي – هغه (تاء) نه حذفيږي : نو ستا قاعده منقوضه ده په (خصيان) او (أليان) باندي : نو دلته (تاء التأنيث) حذف سوې ده چي مفرد د دوی (خصية) او (ألية) دی ؟

جواب : په نورو اسماؤ کي (تاء التأنيث) نه حذفيږي او په دې اسماء کي حذفيږي له وجې د شدت اتصال څخه چي دا په منزله د مفرد دی او وجود د تانيث په وسط د مفرد کي باطل دی : نو له دې وجې په دغو اسماؤ کي دا (تاء) حذف سوه .

وَاعْلَمْ ! أَنَّهُ إِذَا أُرِيْدَ إِضَافَةُ مُثَنًّى إِلَى الْمُثَنّٰى ؛ يُعَبَّرُ عَنِ الْأَوَّلِ بِلَفْظِ الْجَمْعِ كَقَوْلِهِ تَعَالٰى : ﴿.. صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ...﴾ [التحريم: ٤]، و ﴿.. فَاقْطَعُوٓا۟ أَيْدِيَهُمَا ...﴾ [المائدة: ٣٨]، وَذٰلِكَ لِكَرَاهَةِ اجْتِمَاعِ تَثْنِيَتَيْنِ فِيْمَا تَأَكَّدَ الْاِتِّصَالُ لَفْظًا وَمَعْنًى

او پوه سه ! په دې چي کله اراده وسي د اضافت د تثنيه يې وتثنيه يې ته : نو تعبير کيږي له اول څخه په لفظ د جمع کي لکه دا قول د الله تعالی : ﴿.. صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ...﴾ او ﴿.. فَاقْطَعُوٓا۟ أَيْدِيَهُمَا ...﴾ او دا له وجې د کراهته د اجتماع د دوو تثنيه وو په هغه څه کي چي تاکيد راغلی د اتصال لفظا او معنا

مثنی لپاره مختصر تمرین : ۱- (الله واحد وليس اثنين) . ۲- (جَاءَ الْوَلَدَانِ مِنَ الْمَدْرَسَةِ) . ۳- (رَأَيْتُ الطِّفْلَيْنِ فِيْ سَاحَةِ الدَّارِ) . ۴- (الْأَبَوَانِ يُرَبِّيَانِ أَوْلَادَهُمَا) . ۵- (لِيْ أَخَوَانِ !) .

فصلٌ : اَلْمَجْمُوْعُ اِسْمٌ دَلَّ عَلَى آحَادٍ مَقْصُوْدَةٍ بِحُرُوْفِ مُفْرَدَةٍ بِتَغَيُّرٍ مَا . اِمَّا لَفْظِيٌّ كَـ(رِجَالٍ فِيْ رَجُلٍ)، أَوْ تَقْدِيْرِيٌّ كَـ(فُلْكٍ) عَلَى وَزْنِ أُسْدٍ ؛ فَإِنَّ مُفْرَدَهُ أَيْضًا "فُلْكٌ" . لَكِنَّهُ عَلَى وَزْنِ "قُفْلٍ" . فَـ(قَوْمٌ وَرَهْطٌ)، وَنَحْوُهُ .

إِنْ دَلَّ عَلَى آحَادٍ . لَكِنَّهُ لَيْسَ بِجَمْعٍ ؛ إِذْ لَا مُفْرَدَ لَهُ

حل دی : مجموع یو اسم دی چي دلالت کوي پر آحادو مقصوده ؤ په حروفو مفردو سره په تغیر سره د یو څه . هغه به یا لفظي وي لکه (رِجَالٍ فِيْ رَجُلٍ)، یا به تقدیري وي لکه (فُلْكٍ) پر وزن د (أُسْدٍ) ؛ ځکه مفرد یې هم "فُلْكٌ" دی، مګر دا پر وزن د "قُفْلٍ" دی، چي (قَوْمٌ) او (رَهْطٌ) او داسي نور دي .

که یې دلالت وکړی پر آحادو، مګر دا جمع نه ده ؛ ځکه چي ده لره مفرد نسته

تشریح : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله علیه له بیان څخه د مثنی ؛ نو شروع یې وکړه په بیان د جمع کي چي په دې فصل کي مصنف ذکر د امور ثلاثه ؤ کوي : ۱- تعریف د جمع . ۲- اقسام د جمع په اعتبار د لفظ سره . ۳- اقسام جمع په اعتبار د معنی سره .

اول تعریف ذکر کوي، پس ویلي دي مصنف دا ډول : (المجموع إلخ) . مجموع صیغه د اسم مفعول ده چي په لغت کي جمع سوي ته وایي او په اصطلاح کي لکه مصنف چي ویلي دي : (المجموع اسمٌ دلّ إلخ) او د نورو دوو امورو، لکه اقسام د جمع په اعتبار د جمع سره او اقسام د جمع په اعتبار د معنا سره .

(۳۱۸) پوښتنه : د تعریف له جمع څخه (نسوة) خارج سو ؛ ځکه دا دلالت کوي په افرادو باندي او جمع ده، مګر په حروفو د مفرد دلالت نه کوي ؛ ځکه د دې لپاره مفرد نسته ؟

جواب : مفرد عام دی چي محقق وي او که مقدر وي ؛ د دې لپاره مفرد مقدر سته چي هغه (نساء) دی په وزن د (فُعَال) سره .

ثُمَّ الْجَمْعُ عَلَى قِسْمَيْنِ : مُصَحَّحٌ، وَهُوَ مَا لَمْ يَتَغَيَّرْ بِنَاءُ وَاحِدِهِ

بیا جمع پر دوه ډوله ده : مصحح دی او دا هغه دی چي تغیر نه راځي د بناء د واحد د ده

تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه تقسیم د جمع کوي دوو ډولونو ته : ۱- مصحح . ۲- مکسر .

او دا تقسیم د جمع په اعتبار د لفظ سره دی، پس جمع په دوه ډوله ده په اعتبار د لفظ سره، یا به په حروفو د مفرد کي تغیر سوی وي او یا به نه وي، که تغیر سوی وو ؛ نو مکسر دی او که نه وو ؛ نو مصحح دی او دې ته جمع سالم هم وایي، د جمع مکسر مثال لکه : (رِجَال) او مثال د جمع سالم لکه : (مُسْلِمون) او (مُسلِمات) .

وَمُكَسَّرٌ، وَهُوَ مَا يَتَغَيَّرُ فِيْهِ بِنَاءُ وَاحِدِهِ

او بل (جمع) مكسره ده او داهغه دي چي تغير راځي د بناء د واحد د ده

تشريح : تغير د واحد په جمع مكسر كي په شپږ ډوله ده : ۱- په زياتوالي سره به وي په حروفو د مفرد باندي په غير د تغير له شكل څخه، لكه : (صنو) مفرد دى او جمع (صنوان) دى . ۲- په كمي سره به وي په حروفو د مفرد كي بېله تغير له شكل څخه. لكه : (تخم) چي جمع د (تخمةٌ) ده . ۳- په تغير د شكل سره وي په حروفو د مفرد كي بېله زياتوب او كمي، لكه : (أُسْدٌ) چي جمع د (أَسَدٌ) ده . ۴- زياتوب به هم سوى وي او تغير د شكل به هم راغلى وي، لكه : (رِجال) چي جمع د (رَجل) ده . ۵- كمي به هم سوې وي او تغير د شكل به هم راغلي وي. لكه : (رُسُل) چي جمع د (رسول) ده . ۶- زياتوب به هم سوى وي. كمي به هم سوې وي او تغير د شكل به هم راغلى وي. لكه : (غلمان) چي جمع د (غلام) ده .

فايده (د جمع مصحح، جمع مكسر او جمع سالم وجه تسميه) : جمع مصحح ته مصحح ؛ ځكه وايي چي دا له صحت څخه ماخوذه ده ؛ نو معنا يې ده چي صحيح كړل سوى او په دې كي هم مفرد په صحت باندي پاته وي ؛ نو په اصل كي دا مفرد مصحح دى او جمع ته مصحح ويل توصيف د شي دى په حال سره د خپل متعلق او د جمع سالم وجه تسميه دا ده چي (سالم) ماخوذ دى له (سلام) څخه او د دې معناد سلامتيا ده او په دې جمع كي هم صيغه د واحد سالمه وي ؛ نو په دې كي هم توصيف د شى دى په حال سره د خپل متعلق او جمع مكسر ته مكسر : ځكه وايي چي دا ماخوذ دى له كسر څخه او كسر ماتوالي ته وايي او په دې كي هم صيغه د واحد ماته سوې ده ؛ نو دلته هم توصيف د شى دى په حال سره د خپل متعلق ؛ ځكه مكسر مفرد د دې جمع ده .

وَالْمُصَحَّحُ عَلَى قِسْمَيْنِ : مُذَكَّرٌ. وَهُوَ مَا أُلْحِقَ بِآخِرِهِ "وَاوٌ" مَضْمُوْمٌ مَا قَبْلَهَا، وَ"نُوْنٌ" مَفْتُوْحَةٌ كَـ(مُسْلِمُوْنَ)، أَوْ "يَاءٌ" مَكْسُوْرٌ مَا قَبْلَهَا، وَ"نُوْنٌ" كَذَلِكَ ؛ لِيَدُلَّ عَلَى أَنَّ مَعَهُ أَكْثَرُ مِنْهُ. نَحْوُ : (مُسْلِمِيْنَ)، وَهَذَا فِيْ الصَّحِيْحِ

او مصحح پر دوه ډوله دي : مذكر دى او دا هغه دي چي پيوست سوى وي په آخر د ده سره "واو" كوم چي مضموم (پيښ والا) وي مخكي تر ده او "نون" مفتوحه (زور والا) وي لكه (مُسْلِمُوْنَ). يا "ياء" مكسوره وي مخكي تر ده او "نون" هم دا ډول وي : د دې لپاره چي دلالت وكړي پر دې چي له ده سره تر ده زيات وي. لكه : (مُسْلِمِيْنَ) او دا په صحيح كي دى

(۳۱۹) پوښتنه : د عبارت له مصنف رحمه الله عليه څخه دا معلومېږي چي لحوق د واو، نون او ياء به په آخر د جمع پوري سوى وي او دلته خو داسي نه ده ؟

جواب : دلته په عبارت د مصنف كي حذف د مضاف دى چي په آخر كي د مفرد دى او مخكي تر واو به مضموم وي په حالت رفعي كي لپاره د مناسبت د واو او مخكي تر ياء به مكسور وي په حالت نصبي او جري كي لپاره د مناسب د ياء او بله وجه دا ده : كه (ما قبل) له ياء څخه

مکسور نه سي او مضموم سي ؛ نو لازميږي ثقل او دويمه وجه دا ده : چي لازميږي خروج له ضمي حقيقي څخه کسرې تقديري ته او که نحه ورکول سي ؛ نو التباس به راسي له تثنيه يې سره .

أَمَّا الْمَنْقُوصُ ؛ فَتُحْذَفُ يَاؤُهُ. مِثْلَ : (قَاضُوْنَ وَدَاعُوْنَ)

هر چي منقوص دی ؛نو حذفيږي ياء يې،لکه : (قَاضُوْنَ وَدَاعُوْنَ)

تشريح : د اسم منقوص په آخر کي ياء کله اصلي وي، لکه (قَاضِيْ) او کله بدل راغلی وي له واو څخه، لکه : (داعي) ؛ نو پس په جمع کي دا ياء حذفيږي او هر کله چي له دې څخه جمع جوړيږي ؛ نو (قاضيون) او (داعيون) به ځني جوړيږي، دلته هغه ياء د اسم منقوص حذف سوه.

څکه په دې باندي ضمه مخکي تر واو راغله او هغه ثقيله ده په ياء باندي ؛ نو ضمه ساقطه سوه، بيا التقاء د ساکنينو راغله په مينځ د واو او وياء کي ؛نو دا ياء حذف سوه او (قاضون) او (داعون) ځني جوړ سو .

وَالْمَقْصُورُ يُحْذَفُ أَلِفُهُ. وَيُبْقَى مَا قَبْلَهَا مَفْتُوحًا ؛ لِيَدُلَّ عَلَى أَلِفٍ مَحْذُوفَةٍ. مِثْلَ : (مُصْطَفَوْنَ)

او مقصور چي دی حذفيږي الف يې او پاتيږي مخکي تر ده مفتوحه ؛ د دې لپاره چي دلالت وکړي پر الف محذوفه، لکه : (مُصْطَفَوْنَ)

تشريح : له اسم مقصوره څخه چي کله جمع مذکر سالم جوړيږي ؛ نو په دې کي به هم تغير کيږي په داسي توګه چي الف کوم چي په آخر د الف مقصوره کي موجود دی ؛ هغه به حذفيږي له وجي د التقاء له ساکنينو څخه او مخکي به يې مفتوح پاتيږي لپاره د دې چي دلالت وکړي په الف محذوفه باندي، لکه : (مُصْطَفَوْنَ) چي په اصل کي (مُصْطَفَيون) وو چي په دې کي ياء متحرکه او مخکي حرف يې مفتوح وو او هغه فاء ده ؛ نو ياء بدله سوه په الف باندي، بيا له وجي د التقاء له ساکنينو څخه چي الف او واو دی ؛ نو الف حذف سو او (مصطفون) سو .

(۳۲۰) پوښتنه : د صيغي د جمع مذکر سالم په مفرد کي تغير نه وي راغلی او دلته تغير راغلی دی په حذف د الف سره په اسم مقصوره کي او په حذف د ياء سره په اسم منقوص کي ؛ نو دا څرنګه جمع مذکر سالم سوه ؟

جواب : تغير د جمع مذکر سالم په مفرد کي منع دی لپاره د حصول د جمعيت او دلته وروسته تر حصول د جمعيته راغلی دی .

وَيُخْتَصُّ بِأُوْلِي الْعِلْمِ. وَأَمَّا قَوْلُهُمْ : (سِنُوْنَ، وَأَرَضُوْنَ، وَثُبُوْنَ، وَقِلُوْنَ) ؛ فَشَاذٌّ . وَيَجِبُ أَنْ لَّا يَكُوْنَ أَفْعَلُ مُؤَنَّثُهُ فَعْلَاءُ كَـ(أَحْمَرَ وَحَمْرَاءَ) . وَلَا فَعْلَانَ مُؤَنَّثُهُ فَعْلَى كَـ(سَكْرَانَ وَسَكْرَى) .

وَلَا فَعِيْلًا بِمَعْنَى مَفْعُوْلٌ كَـ(جَرِيْحٍ) بِمَعْنَى مَجْرُوْحٌ. وَلَا فَعُوْلًا بِمَعْنَى فَاعِلٍ كَـ(صَبُوْرٍ) بِمَعْنَى (صَابِرٍ) وَيَجِبُ حَذْفُ نُوْنِهِ بِالْإِضَافَةِ. نَحْوُ : (مُسْلِمُوْ مِصْرٍ)

او خاصيږي (دا ډول) د علم په خاوندانو پورې او هر چې دا قول د دوی دی: (سِنُوْنَ، وَأَرْضُوْنَ، وَثُبُوْنَ، وَقِلُوْنَ)؛ نو دا شاذ دی. او واجب دی دا چې نه به وي (أَفْعَلُ) مؤنث د ده (فَعْلَاءُ) لکه (أَحْمَرَ) او (حَمْرَاءَ). او نه به (فَعْلَانَ) وي مؤنث د ده (فَعْلَى) لکه (سَكْرَانَ) او (سَكْرَى).

او نه به (فَعِيْلًا) وي په معناد (مَفْعُوْلٌ) لکه (جَرِيْحٍ) په معناد (مَجْرُوْحٌ) او نه به (فَعُوْلًا) وي په معناد (فَاعِلٍ) لکه (صَبُوْرٍ) په معناد (صَابِرٍ). او واجب دی حذف بدل د نون يې په اضافت سره، لکه (مُسْلِمُو مِصْرٍ)

تشريح: چې په واو او نون سره کوم لفظ جمع کيږي؛ نو دا په (ذوي العقول) پورې خاص دی، يعني چې کوم اسم جمع کيږي په واو او نون او ياء او نون سره؛ نو دا به يو له دوو حالتو څخه خالي نه وي چې يا به دا اسم په ذات دلالت کوي، يعني اسم ذاتي به وي، لکه: (زيد، عمر) او داسې نور او يا به په ذات سره له وصفه باندې دلالت کوي، لکه:

(کاتب، قائم) او داسې نور؛ نو که اول ډول وو د دې لپاره درې شرطونه دي:

۱- اول شرط: (مذکر به وي) چې نه به پکې تاء د تانيث لفظي وي او نه به مقدره وي په دې قيد سره چې (طلحة) څنې خارج سو؛ نو دا نه جمع کيږي په جمع مذکوره سره.

۲- دويم شرط: (علم به وي) چې په دې قيد سره (رَجل) خارج سو، که مذکر عاقل دی، مګر عَلَم نه دی؛ نو دا نه جمع کيږي په جمع مذکوره سره.

۳- او دريم شرط: له (عقل والا څخه به وي) چې په دې قيد سره (أعوج) او داسې نور خارج سو او دا نوم د آس دی، مګر له (غير ذوي العقول) څخه دی چې دا هم نه جمع کيږي په جمع مذکر سره.

او که دويم ډول وو، يعني اسم صفتي وو، لکه اسم فاعل او اسم مفعول او داسې نور: نو د هغه لپاره پينځه شرطونه دي او هغه په راتلونکي ډول سره دي:

۱- اول شرط: (مذکر عاقل) به وي.

۲- دويم شرط: چې په اسم صفتي کې تا د تانيث نه وي.

۳- دريم شرط: چې اسم صفتي به په وزن د (أفعل) نه وي چې مؤنث يې په وزن د (فعلاء) راځي. لکه: (أحمر) چې مؤنث د دې (حمراء) راځي.

۴- څلورم شرط: چې اسم صفتي به په وزن د (فعلان) نه وي چې مؤنث يې په وزن د (فعلى) راځي. لکه: (سکران) چې مؤنث د ده (سکرى) راځي.

۵- او پينځم شرط: چې اسم صفتي به په وزن د (فعيل) نه وي چې په معناد (مفعول) راځي. لکه: (جريح) چې په معناد (مجروح) راځي.

وَمُؤَنَّثٌ، وَهُوَ مَا أُلْحِقَ بِآخِرِهِ "أَلِفٌ وَتَاءٌ". نَحْوُ: (مُسْلِمَاتٌ). وَشَرْطُهُ: إِنْ كَانَ صِفَةً وَلَهُ مُذَكَّرٌ أَنْ يَكُوْنَ مُذَكَّرُهُ قَدْ جُمِعَ بِالْوَاوِ وَالنُّوْنِ. نَحْوُ: (مُسْلِمُوْنَ).

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مُذَكَّرٌ؛ فَشَرْطُهُ أَنْ لَا يَكُوْنَ مُؤَنَّثًا مُجَرَّدًا عَنِ التَّاءِ كَـ(الْحَائِضِ وَالْحَامِلِ). وَإِنْ كَانَ اِسْمًا غَيْرَ صِفَةٍ جُمِعَ بِالْأَلِفِ وَالتَّاءِ بِلَا شَرْطٍ كَـ(هِنْدَاتٍ)

(او دوهم) مؤنث دی او دا هغه دی چې پیوست سوی وي په آخر سره "الف" او "تاء". لکه: (مُسْلِمَاتٌ). او شرط یې دا دئ: که وو صفت او ده لره وو مذکر چې سي دده لره مذکر چې په تحقیق سره جمع سوی وي په واو او نون سره، لکه (مُسْلِمُوْنَ).

او که نه وي ده لره مذکر: نو شرط د ده دا دئ چې نه وي مؤنث خالي له تاء څخه لکه (الْحَائِض) او (الْحَامِل) او که وو اسم د ده غیر صفت چې جمع سوی وو په الف او تاء سره بیله شرطه لکه (هِنْدَاتٍ)

تشریح: هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله علیه له جمع مذکر سالم څخه؛ نو شروع یې وکړه په جمع مؤنث سالم کې په دې خپل عبارت سره چې وایي: (ومؤنث إلخ). او جمع مؤنث سالم اسم جامد او صفتي دواړه راتلای راسي؛ نو اول بیان مصنف د اسم صفتي کوي او بیا بیان د اسم جامد کوي.

الْمُكَسَّرُ صِيغَتُهُ فِي الثُّلَاثِيِّ كَثِيْرَةٌ تُعْرَفُ بِالسَّمَاعِ. كَـ(رِجَالٍ، وَأَفْرَاسٍ، وَفُلُوْسٍ). وَفِيْ غَيْرِ الثُّلَاثِيِّ عَلَى وَزْنِ فَعَائِلَ وَفَعَالِيْلَ قِيَاسًا كَمَا عَرَفْتَ فِي التَّصْرِيفِ

(جمع) مکسر صیغه د ده په ثلاثي کې ډېري چې پېژندل کیږي په سماع سره، لکه (رِجَالٍ، وَأَفْرَاسٍ، وَفُلُوْسٍ) او په غیر ثلاثي کې پر وزن د (فَعَائِل) او (فَعَالِيْل) دی قیاس پر هغه چې تا وپېژندل په صرف کې

تشریح: زده کړه! دا خبره چې په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه بیان د صیغو د جمع مکسر کوي او تعریف په دې فصل کې اول ذکر سوی دی او په جمع مکسر سره هم اسم جمع کیږي، برابره خبره ده که ثلاثي مجرد وي او که ثلاثي مزید وي او که رباعي مجرد وي او که رباعي مزید وي او که خماسي مجرد وي او که خماسي مزید وي؛ نو پس دا ټول شپږ اقسام سول چې د دې تفصیل دا دئ: جمع په دوه قسمه ده، اول هغه ده چې یو اسم به جمع سوی وي په جمع مکسر باندي او دا به په یو خاص وزن سره نه وي قیاس، بلکې دا به موقوفه وي په سماع پوري په هغه وزن به راځي چې سماع یې له عربو څخه سوې وي، لکه (رِجال) جمع د (رَجل) او (أفراس) جمع د (فرس) ده او (فلوس) جمع د (فلس) ده او دا ډول د جمع به په ثلاثي مجرد کې راځي او دویم ډول هغه ده چې یو اسم به جمع سوی وي په جمع مکسر باندي او دا به په یو خاص وزن سره وي او موقوفه به نه وي په سماع پوري او دا ډول د جمع په غیر د ثلاثي مجرد کې راځي، لکه په وزن د (فعالل) او یا په وزن د (فعاليل) باندي.

ثُمَّ الْجَمْعُ أَيْضًا عَلَى قِسْمَيْنِ : جَمْعُ قِلَّةٍ. وَهُوَ مَا يُطْلَقُ عَلَى الْعَشَرَةِ فَمَا دُوْنَهَا. وَأَبْنِيَتُهُ : (أَفْعَلُ وَأَفْعَالٌ. وَأَفْعِلَةٌ. وَفِعْلَةٌ). وَجَمْعَا الصَّحِيْحِ بِدُوْنِ اللَّامِ كَـ(زَيْدُوْنَ وَمُسْلِمَاتٌ)، وَجَمْعُ كَثْرَةٍ، وَهُوَ مَا يُطْلَقُ عَلَى مَا فَوْقَ الْعَشَرَةِ وَأَبْنِيَتُهُ مَا عَدَا هٰذِهِ الْأَبْنِيَةِ

بيا جمع هم پر دوه ډوله ده : جمع قلت ده او دا هغه ده چې اطلاق يې کيږي پر لسو يا کم تر دې او وزنونه يې : (أَفْعَلُ، وَأَفْعَالٌ، وَأَفْعِلَةٌ، وَفِعْلَةٌ) او جمع د صحيح بېلا لام څخه لکه (زَيْدُوْنَ وَمُسْلِمَاتٌ) او (بل) جمع کثرت ده او دا هغه ده چې اطلاق يې پر بالا د لسو کيږي او وزنونه يې پرته له هغو وزنو څخه دي چې کوم تېر سول

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دويم تقسيم د جمع بيانوي په اعتبار د معنا سره ؛ نو جمع په اعتبار د معنا سره پر دوه ډوله ده : ۱- جمع قلت. ۲- او جمع کثرت ؛ جمع قلت دې ته وايي چې اطلاق د دې کيږي له دريو څخه تر لسو پوري او د دې شپږ اوزان دي : ۱- (أفعل)، لکه : (أفلس) جمع د (فلس) ده. ۲- (أفعال) لکه (أقوال) چې جمع د (قولٌ) ده. ۳- (أفعلة)، لکه : (أرغفة) چې جمع د (رغيف) ده. ۴- (فعلة) لکه (غلمة) چې جمع د (غلام). ۵- جمع مذکر سالم، لکه : (مسلمون). ۶- او جمع مؤنث سالم، لکه : (مسلمات).

او جمع کثرت دې ته وايي چې اطلاق د دې کيږي له لسو څخه پورته تر (ما لا نهاية له) پوري او اوزان د دې جمع پرته د اوزانو له جمع قلت څخه دي. مګر کله اطلاق د يو د دوی دوو په آخر د دوی کيږي، لکه : (ثلاثة قروء)، اوس (قروء) جمع کثرت ده چې د (قرء) جمع ده او استعمال يې د قلت پر ځای سوی دی او هغه (أقراء) دی. يا لکه (أصحاب) چې جمع قلت ده او استعمال يې د کثرت په ځای سوی دی.

د جمع لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ...﴾ [الحجرات ۱۴]. ۲- (اِشْتَرَيْتُ الْكُتُبَ مِنَ الْمَكْتَبَةِ). ۳- (كَرَمْتُ النَّاجِحِيْنَ فِيْ الصَّفِّ). ۴- (هٰذِهِ الْكِلَابُ يَنْهَشْنِيْ !). ۵- (هٰؤُلَاءِ نِسْوَةٌ مُهَذَّبَاتٌ).

فَصْلٌ : اَلْمَصْدَرُ اِسْمٌ يَدُلُّ عَلَى الْحَدَثِ فَقَطْ. وَيُشْتَقُّ مِنْهُ الْأَفْعَالُ كَـ(الضَّرْبِ وَالنَّصْرِ)، مَثَلًا

فصل دی : مصدر يو اسم دی چې دلالت کوي پر حدث (پېښې) فقط او مشتق کيږي له ده څخه افعال لکه (الضَّرْبِ وَالنَّصْرِ) مثلا

تشريح : دا شپږم فصل د خاتمې دی او مصنف رحمه الله عليه په بيان د مصدر کې څلور امور بيانوي : ۱- تعريف د مصدر. ۲- اوزان د مصدر. ۳- عمل د مصدر. ۴- او بيان د دوو ضابطو.

اول چې تعريف د مصدر دی ؛ نو مصدر يو اسم دی چې دلالت کوي په حدث باندې فقط او معنا د حدث ده (قائم بالغير) او دی (مشتق منه) د افعالو وي او له متعلقاتو څخه د افعالو، لکه له (ضَرَبَ) څخه (يَضْرِبُ) او (ضَارِبٌ) او له (نَصَرَ) څخه (يَنْصُرُ) او (نَاصِرٌ) مشتق دی.

او پاته سول اوزان د مصدر، عمل د مصدر او بيان د دوو ضابطو؛ نو د هغه تشريح به په راروانو عبارتو کي وسي؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

وَأَبْنِيَتُهُ مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ غَيْرُ مَضْبُوْطَةٍ، تُعْرَفُ بِالسَّمَاعِ. وَمِنْ غَيْرِهِ قِيَاسِيَّةٌ. كَ(الْإِفْعَالِ، وَالْاِنْفِعَالِ، وَالْاِسْتِفْعَالِ، وَالْفَعْلَلَةِ، وَالتَّفَعْلُلِ)

او وزنونه يې له ثلاثي مجرد څخه نه دئ محصور. چي دا پېژندل کيږي په سماع اله عربو څخه؛ . او بيله دې قياسي دي. لکه (الْإِفْعَالِ، وَالْاِنْفِعَالِ، وَالْاِسْتِفْعَالِ، وَالْفَعْلَلَةِ، وَالتَّفَعْلُلِ)

تشريح: مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى په دې عبارت سره اوزان د مصدر بيانوي او د مصدر اوزان په دوه ډوله دي: ۱- سماعي. ۲- او قياسي.

نو له ثلاثي مجردو څخه سماعي راځي؛ د دې لپاره څه قاعده او قانون نه دئ وضع سوی، بلکي دا په مختلفو اوزانو سره راځي، بيا د امام سيبويه په نيز باندي دوه دېرش ۳۲ وزنونه د دې لپاره راغلي دي او هغه حسام الدين په خپل کتاب (مراح الأرواح) کي ذکر کړي دي او مولانا کفايت الله صاحب په خپل کتاب (عِلم الصّيغة) کي څلور څلوېښت ۴۴ د نظم په ډول ذکر کړي دي او په مذهب د جمهورو صرفيانو باندي په دې کي حصر نسته.

او دويم ډول د مصدر هغه دی چي د هغه لپاره څه خاص وزن وي او په سماع پوري څه تعلق نه لري او دا بيا عام دی، هغه که له ثلاثي مزيد فيه څخه وي، که له رباعي مجرد څخه وي او که له رباعي مزيد فيه څخه وي، لکه باب افعال، انفعال او استفعال او په دې باندي نور ابواب هم قياسيږي اه!.

فَالْمَصْدَرُ إِنْ لَمْ يَكُنْ مَفْعُولًا مُطْلَقًا؛ يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ. أَعْنِيْ يَرْفَعُ الْفَاعِلَ إِنْ كَانَ لَازِمًا. نَحْوُ: (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ)، وَيَنْصِبُ مَفْعُوْلًا أَيْضًا إِنْ كَانَ مُتَعَدِّيًا. نَحْوُ: (أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا). وَلَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُ مَعْمُوْلِ الْمَصْدَرِ عَلَى الْمَصْدَرِ؛ فَلَا يُقَالُ: (أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ ضَرْبُ عَمْرٍو وَلَا عَمْرًوا ضَرْبُ زَيْدٍ)

مصدر که چيري نه وي مفعول مطلق؛ نو عمل کوي عمل د خپل فعل. يعني رفع ورکوي فاعل ته که وو لازم. لکه: (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ) او نصب ورکوي مفعول ته هم که وو متعدي. لکه: (أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا). او نه دئ روا تقديم د معمول د مصدر پر مصدر؛ نو داسي نه ويل کيږي: (أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ ضَرْبُ عَمْرٍو) او نه داسي ويل کيږي: (عَمْرًوا ضَرْبُ زَيْدٍ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى يوه ضابطه ذکر کوي چي مصدر عمل کوي. مګر په عمل کي ضعيف دی: نو د ده معمول په ده باندي نه سي مقدم کېدای، لکه:

(أعجبني ضرب زيدٌ عمرًوا) ؛ ځکه په دې مثال کې (زيد) او (عمرو) د معمولاتو له مصدر څخه دي ؛ نو د دوی تقديم په (ضرب) باندې نه سي کېدای، يعني داسي ويل چي : (زيد ضرب عمروا) او يا (عمروا ضرب زيد) ؛ دا جايز نه دي او دا مذهب د جمهورو نحاتو دی او رضي صاحب وايي : چي تقديم د ځينو معمولاتو د يو مصدر پر بل مصدر جايز دی چي هغه ظروف دي ؛ ځکه په ظروفو کې داسې فراخي موجوده ده چي هغه په نورو معمولاتو کې نسته .

وَيَجُوْزُ إِضَافَتُهُ إِلَى الْفَاعِلِ، نَحْوُ : (كَرِهْتُ ضَرْبَ زَيْدٍ عَمْرًوا)، أَوْ إِلَى الْمَفْعُوْلِ بِهِ، نَحْوُ : (كَرِهْتُ ضَرْبَ عَمْرٍو زَيْدٌ)، وَأَمَّا إِنْ كَانَ مَفْعُوْلَ مُطْلَقًا ؛ فَالْعَمَلُ لِلْفِعْلِ الَّذِيْ قَبْلَهُ، نَحْوُ : (ضَرَبْتُ ضَرْبًا عَمْرًوا) ؛ فَعَمْرٌو مَنْصُوْبًا بِـ(ضَرَبْتُ)

او روا دی اضافت د ده [يعني : د مصدر] او فاعل ته، لکه : (كَرِهْتُ ضَرْبَ زَيْدٍ عَمْرًوا)، يا ومفعول به ته، لکه : (كَرِهْتُ ضَرْبَ عَمْرٍو زَيْدٌ) او هر چي که وو مفعول مطلق ؛ نو عمل د هغه فعل دی چي تر ده مخکې دی، لکه : (ضَرَبْتُ ضَرْبًا عَمْرًوا) ؛ ځکه (عَمْرٌو) منصوب دی په (ضَرَبْتُ) سره

تشريح : استعمال د مصدر په کلام د عربو کې په وخت د عمل کې په دوو طريقو سره دی منون او غير منون چي په دې کې اول استعمال د مصدر مختار او غوره دی ؛ ځکه عمل د مصدر له وجې د مشابهت له فعل سره دی او کله چي مصدر منون سي ؛ نو مشابهت او مناسبت قوېه به پيدا سي له فعل سره ؛ ځکه دی به نکره سي او فعل په حکم د نکره کې دی، لکه : (کرهت ضرب زيد عمروا) .

او چي کله غير منون سي ؛ نو دا استعمال نفس جايز دی، اګر چي دا مشهور او ډېر استعمال والا دی ؛ ځکه په دې کې مشابهت قوېه نه حاصلېږي د مصدر له فعل سره او دلته دويمه طريقه ذکر دهؤ بيا اضافت د فاعل کله مصدر ته کېږي او کله مفعول ته او مراد له مفعول څخه عام دی - مفعول به وي، که مفعول فيه وي او که مفعول له وي .

مګر په دې کې اضافت د مصدر فاعل ته اولی دی د اضافت له مصدر څخه مفعول ته : ځکه اضافت د مصدر فاعل ته داسې دی، لکه اسناد د فعل وفاعل ته او اضافت د مصدر مفعول ته داسې دی، لکه اسناد د فعل مفعول ته او اسناد د فعل فاعل ته حقيقت دی او اسناد د فعل مفعول ته مجاز دی ؛ نو اضافت د مصدر فاعل ته حقيقت دی او اضافت د مصدر مفعول ته مجاز دی او حمل د کلام په حقيقت کې اولی دی له مجاز څخه لکه مثال د دې (کرهتُ ضرب زيد عمروا) چي دا مثال د اضافت د مصدر وفاعل ته دی او مثال د اضافت د مصدر ومفعول ته لکه (کرهت ضرب عمرو زيد) .

د مصدر لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـࣰٔا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ۝٦﴾ [المزمل: ٦] . ۲- ﴿۞لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلۡجَهۡرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ إِلَّا مَن ظُلِمَۚ ..﴾ [النساء: ١٤٨] ۳- ﴿وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ ..﴾ [الاسراء: ٨٠]

فَصْلٌ : اِسْمُ الْفَاعِلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ ؛ لِيَدُلَّ عَلَى مَنْ قَامَ بِهِ الْفِعْلُ بِمَعْنَى الْحُدُوْثِ

فصل دی : اسم فاعل يو داسې اسم دی چې مشتق سوی وي له يو فعل څخه ؛ د دې لپاره چې دلالت وکړي پر هغه چا چې قايم سوی وي په ده سره فعل په معنا د حدوث سره

د اسم فاعل تعريف : په دې فصل کې مصنف درې شيان ذکر کوي : ۱- تعريف د اسم فاعل . ۲- اوزان د اسم فاعل . ۳- عمل د اسم فاعل او د هغه لپاره شرايط .

اول چې تعريف د اسم فاعل دی : هغه مصنف ذکر کړی دی په خپل دې قول سره چې وايي : (اِسْمُ الْفَاعِلِ إلخ)، پس په تعريف کې لا بدي وي له جنس او فصل څخه ؛ نو چې (اسم) يې ووايه - دا جنس دی تمام اسماء پکې داخل سول .

او (مشتق) فصل دی چې په دې سره جوامد خارج سول او (مَن قام به) سره دويم فصل دی چې په دې سره اسم مفعول خارج سو ؛ ځکه هغه (لِمَن وقع عليه الفعل) دی او (بمعنی الحدوث) دريم فصل دی چې په دې سره صفت مشبه خارج سو ؛ ځکه هغه په معنا د ثبوت سره دی، نه په معنا د حدوث سره .

او د اسم فاعل نوري مهمې خبرې به اوس په راروانو عبارتو کې راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ .

وَصِيغَتُهُ مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ عَلَى وَزْنِ الفَاعِلِ كَـ(ضَارِبٍ وَنَاصِرٍ)، وَمِنْ غَيْرِهِ عَلَى صِيغَةِ الْمُضَارِعِ مِنْ ذٰلِكَ الْفِعْلِ بِمِيمٍ مَّضْمُوْمٍ مَكَانَ حَرْفِ الْمُضَارَعَةِ، وَكَسْرِ مَا قَبْلَ الْآخِرِ كَـ(مُدْخِلٍ وَمُسْتَخْرِجٍ)، وَهُوَ يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَعْرُوْفِ إِنْ كَانَ بِمَعْنَى الْحَالِ أَوِ الْإِسْتِقْبَالِ، وَمُعْتَمِدًا عَلَى الْمُبْتَدَإِ، نَحْوُ : (زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ)

او صيغه د ده له ثلاثي مجرد څخه پر وزن د فاعل وي، لکه (ضَارِبٍ وَنَاصِرٍ) او پرته له ده (ثلاثي مجرد) څخه بيا پر صيغه (وزن) د مضارع وي له دغه فعل څخه په ميم مضموم سره پر ځای د حرف مضارعت او کسرې د مخکې د بل لکه (مُدْخِل) او (مُسْتَخْرِج) او دا عمل کوي عمل د خپل فعل معروف، [په شرط د دې] که وو په معنا د حال، يا استقبال او تکيه کوونکی وو پر مبتدا، لکه : (زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ)

تشريح : مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په دې عبارت سره هغه دويمه خبره ذکر کوي چې هغه وزن د اسم فاعل دی او بل دا چې دريمه خبره ذکر کوي چې عمل د اسم فاعل دی ؛ نو اسم فاعل د فعل معروف عمل کوي، پس که چيرې اسم فاعل له فعل لازمي څخه وو ؛ نو فقط فاعل ته به رفع ورکوي او که چيرې له فعل متعدي څخه وو ؛ نو فاعل ته به رفع او مفعول ته به نصب ورکوي .

أَوْ ذِي الْحَالِ، نَحْوُ : (جَاءَنِي زَيْدٌ ضَارِبًا أَبُوْهُ عَمْرًوا)، أَوْ مَوْصُوْلٍ، نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِالضَّارِبِ أَبُوْهُ عَمْرًوا)، أَوْ مَوْصُوْفٍ، نَحْوُ : (عِنْدِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًوا)، أَوْ هَمْزَةِ الْإِسْتِفْهَامِ، نَحْوُ : (أَقَائِمٌ زَيْدٌ ؟)، أَوْ حَرْفِ النَّفْيِ، نَحْوُ : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ)

يا وو ذي الحال، لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ ضَارِبًا أَبُوْهُ عَمْرًوا)، يا وو موصول، لکه : (مَرَرْتُ بِالضَّارِبِ أَبُوْهُ عَمْرًوا)، يا وو موصوف، لکه : (عِنْدِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًوا)، يا وه همزه د استفهام، لکه : (أَقَائِمٌ زَيْدٌ ؟)او يا وو حرف د نفي پې، لکه : (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ)

تشريح : د عمل د اسم فاعل لپاره دوه شرطه دي : ۱- په معنا د حال، يا استقبال سره به وي . ۲- په يو د (أشياء ستة) باندي به پې تکيه سوې وي او هغه لکه : ۱- په مبتدا باندي به پې تکيه سوې وي او اسم فاعل به ورلره خبر واقع وي، لکه : (زيدٌ قائمٌ أبوه) . ۲- يا به پې په ذو الحال باندي تکيه سوې وي، لکه : (جاءني زيد ضاربا أبوه عمروا) . ۳- يا به پې په موصول باندي تکيه سوې وي، لکه : (مَرَرت بالضّارب أبوه عمروا) . ۴- يا به پې په موصوف باندي تکيه سوې وي، لکه : (عندي رَجل ضارب أبوه عمروا) . ۵- يا به پې په حرف استفهام باندي تکيه سوې وي، لکه (أقائم زيد ؟) . ۶- او يا به پې په حرف د نفي باندي تکيه سوې وي، لکه : (ما قائم زيد) .

فَإِنْ كَانَ بِمَعْنَى الْمَاضِيْ ؛ وَجَبَتِ الْإِضَافَةُ مَعْنًى. نَحْوُ : (زَيْدٌ ضَارِبُ عَمْرٍو أَمْسِ)، هٰذَا إِذَا كَانَ مُنْكَرًا

که وو په معنا د ماضي ؛ نو واجب دی اضافت په معنا سره، لکه : (زَيْدٌ ضَارِبُ عَمْرٍو أَمْسِ)، دا هغه وخت چې کله وي منکر

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه قاعده ذکر کوي د اسم فاعل لپاره ؛ اوس که چيري اول شرط منتفي وو .

برابره خبره ده چې عين ماضي وي او که په ضمن د استمرار کي وي ؛ نو شرط دا دئ : چې دی به مضاف وي په اضافت معنوي سره چې په دې سره احتراز راغي له اضافت لفظي څخه او په دې صورت کي اسم فاعل عمل د رفع او نصب په (ما بعد) کي نه کوي، بلکي (ما بعد) ته به مضاف وي په اضافت معنوي سره ؛ څکه نسته بله طريقه د ذکر د اسم فاعل لپاره بېله اضافته او دا مذهب د جمهور و نحاتو دی.

أَمَّا إِذَا كَانَ مُعَرَّفًا بِاللَّامِ ؛ يَسْتَوِيْ فِيْهِ جَمِيْعُ الْأَزْمِنَةِ. نَحْوُ : (زَيْدُنِ الضَّارِبُ أَبُوْهُ عَمْرًوا الْآنَ)، أَوْ (غَدًا)، أَوْ (أَمْسِ)

هر چې کله که وو معرفه په لام سره ؛ نو برابر به وي په دې کي ټولي زمانې، لکه : (زَيْدُنِ الضَّارِبُ أَبُوْهُ عَمْرًوا الْآنَ)، يا (غَدًا) او يا (أَمْسِ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوې قاعدې ته اشاره کوي چې کله اسم فاعل په الف لام موصولي سره معرفه وه ؛ نو په دې کي بيا شرط د معنا د حال او استقبال نه وي، بلکي په مطلق زمانه کي به عمل کوي، برابره خبره ده، زمانه ماضي وي، لکه : (أمس)، يا زمانه حالي وي، لکه : (الآن) او يا زمانه مستقبل وي، لکه : (غدا) .

د اسم فاعل لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [البقرة: ۲۰] . ۲- (جاء عمر وضرب غلامه زيد) . ۳- (ضرب عمرو زيد) .

فَصْلٌ : اِسْمُ الْمَفْعُوْلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ مُتَعَدٍّ ؛ لِيَدُلَّ عَلَى مَنْ وَقَعَ عَلَيْهِ الْفِعْلُ

فصل دی : اسم مفعول يو اسم دی چې مشتق سوی دی له فعل متعدي څخه : د دې لپاره چې دلالت وکړي پر داسې چا چې پر هغه واقع سوی وي فعل

تشريح: په دې فصل کې مصنف رحمه الله تعالى بيان د درې امورو کوي : ۱- تعريف د اسم مفعول . ۲- وزن د اسم مفعول . ۳- او عمل د اسم مفعول .

اسم مفعول په لغت کې کار کړل سوي ته وايي .

او په اصطلاح کې دې ته وايي لکه مصنف چې په عبارت کې ذکر کړله . او نوري دوې خبري به اوس مخ ته په عبارت راسي ؛ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالىٰ .

وَصِيْغَتُهُ مِنْ مُجَرَّدِ الثُّلَاثِيِّ عَلَى وَزْنِ (مَفْعُوْلٍ) لَفْظًا كَـ(مَضْرُوْبٍ)، أَوْ تَقْدِيْرًا كَـ(مَقُوْلٍ وَمَرْمِيٍّ)، وَمِنْ غَيْرِهِ كَـ(اسْمِ الْفَاعِلِ) بِفَتْحِ مَا قَبْلَ الْآخِرِ كَـ(مُدْخَلٍ وَمُسْتَخْرَجٍ)

او صيغه يې له مجرد ثلاثي څخه پر وزن د (مَفْعُوْلٍ) په وي لفظا لکه (مَضْرُوْبٍ)، يا به تقديرا وي لکه (مَقُوْلٍ) او (مَرْمِيٍّ) او (که) له بل څخه چې اسم فاعل په فتحه د (ما قبل) دبل سره وي [نو مثال يې داسي دی] لکه (مُدْخَلٍ) او (مُسْتَخْرَجٍ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله تعالى دويمه خبره ذکر کوي چې هغه وزن د اسم مفعول دی ؛ نو له ثلاثي مجردو څخه اسم مفعول راځي غالبا په وزن د مفعول باندې او کله کله په وزن د (فعيل) او (فعول) باندې هم راځي، لکه : (قتيل) او (حلوب) .

وَيَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَجْهُوْلِ بِالشَّرَائِطِ الْمَذْكُوْرَةِ فِيْ اِسْمِ الْفَاعِلِ، نَحْوُ : (زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهُ الْآنَ)، أَوْ (غَدًا)، أَوْ (أَمْسِ)

او عمل کوي (اسم مفعول) عمل د فعل مجهول په شرايطو مذکوره ؤ سره په اسم فاعل کې، لکه : (زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهُ الْآنَ)، يا (غَدًا) او يا (أَمْسِ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله تعالى دريمه خبره ذکر کوي چې هغه عمل د اسم مفعول دی او د ده د عمل لپاره هم هغه دوه شرطونه دي کوم چې په اسم فاعل کې ذکر دي .

د اسم مفعول لپاره مختصر تمرين : ۱- (الفَاعِلُ وَالمَفْعُوْلُ بِهِ يُقْتَلَانِ إِذَا لَمْ يَتُوْبَا) . ۲- (تِلْكَ الْخَارِطَةُ مَرْسُوْمَةٌ بِدِقَّةٍ) . ۳- (رَأَيْتُ قَائِدَ الكَتِيبَةِ) . ۴- (سَافَرَ المُحَاسِبُ أَمْسِ) . ۵- (مَا ذَاهِبٌ سَعِيْدٌ الْآنَ أَوْ غَدًا) . ۶- (هذا المِثَالُ مُسْتَخْرَجٌ مِنَ الْكُتُبِ القَدِيْمَةِ) . ۷- (يُعْجِبُنِي الْمُتَأَدِّبُ بِالْإِسْلَامِ) .

فَصْلٌ : الصِّفَةُ الْمُشَبَّهَةُ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ لَازِمٍ ؛ لِيَدُلَّ عَلَى مَنْ قَامَ بِهِ الْفِعْلُ بِمَعْنَى الثُّبُوْتِ

فصل دی : صفت مشبه يو اسم دی چې مشتق سوی دی له فعل لازمي څخه ؛ د دې لپاره چې دلالت وکړي پر هغه چا چې ودريدی په هغه باندې فعل په معنا د ثبوت سره

د صفت مشبه تعريف : په دې فصل کې مصنف رحمه الله تعالى بيان د امور اربعه ؤ کوي : ۱- تعريف د صفت مشبه . ۲- اوزان د صفت مشبه . ۳- عمل د ده . ۴- او صورتونه د صفت مشبه .

اوله خبره چې تعريف يې دی ؛ نو دې ته صفت مشبه وايي او دا صيغه د اسم مفعول ده چې د باب له تفعيل څخه په معنا د تشبه ورکولو سره دی او د ده مشابهت له اسم فاعل سره دی په تثنيت او جمعيت او تذکير او تانيث کي .

او په تعريف کي اسم په منزله د جنس دی، (مِن فعل لازم) : دا په منزله د فصل دی چې په دې سره اسم فاعل او اسم مفعول متعديين خارج سول او (الثبوت) ؛ دا فصل ثاني دی چې په دې سره اسم فاعل لازمي خارج سو .

وَصِيغَتُهَا عَلَى خِلَافِ صِيغَةِ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلِ. وَإِنَّمَا تُعْرَفُ بِالسَّمَاعِ كَـ(حَسَنٍ وَّصَعْبٍ وَّظَرِيْفٍ)

او صيغه د دې (صفت مشبه) پر خلاف د صيغې د اسم فاعل او مفعول ده او بېشکه پېژندل کيږي په سماع سره [له عربو څخه] لکه (حَسَنٍ وَّصَعْبٍ وَّظَرِيْفٍ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دويمه خبره ذکر کوي چې هغه وزن د صفت مشبه دی، يعني : صيغه د صفت مشبه مخالفه ده له صيغې د اسم فاعل او اسم مفعول څخه، يعني اوزان د اسم فاعل او اسم مفعول قياسي دي او اوزان د صفت مشبه سماعي دي، لکه دې ته اشاره مصنف کړې ده په دې خپل قول سره (إنّما تُعرف بالسّماع)، مګر صاحب د رضي په دې باندي رد کړی دی، هغه وايي : چې صفت مشبه د مادې له لون او عيب څخه همېشه په وزن د (أفعل) راځي، لکه : (أبيض، أسود، أعمى، أعور) او داسي نور چې دا قياسي دي، له دې وجې دا قاعده کليه ګڼل چې اوزان د صفت مشبه (تُعرف بالسّماع) ؛ دا صحيح نه ده .

وَهِيَ تَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهَا مُطْلَقًا بِشَرْطِ الْاِعْتِمَادِ الْمَذْكُوْرِ . وَمَسَائِلُهَا ثَمَانِيَةَ عَشَرَ ؛ لِأَنَّ الصِّفَةَ إِمَّا بِاللَّامِ، أَوْ مُجَرَّدَةٌ عَنْهَا . وَمَعْمُوْلُ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا إِمَّا مُضَافٌ، أَوْ بِاللَّامِ، أَوْ مُجَرَّدَةٌ عَنْهُمَا ؛ فَهٰذِهٖ سِتَّةٌ . وَمَعْمُوْلُ كُلٍّ مِنْهَا إِمَّا مَرْفُوْعٌ، أَوْ مَنْصُوْبٌ، أَوْ مَجْرُوْرٌ ؛ فَذٰلِكَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ . وَتَفْصِيْلُهَا، نَحْوُ : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ ن الْحَسَنُ وَجْهُهُ) ثَلَاثَةُ أَوْجُهٍ، وَكَذٰلِكَ (الْحَسَن الْوَجْهَ، وَالْحَسَن وَجْهٌ، وَحَسَنَ وَجْهَهُ، وَحَسَنَ الْوَجْهُ، وَحَسَنَ وَجْهٌ)

او دا (صفت مشبه) عمل د فعل خپل کوي مطلقا په شرط د تکيه يې مذکوري . او صورتونه يې اتلس دي ؛ ځکه صفت به يا په لام سره وي، يا به څني خالي وي او معمول د هر يو له دوی دوو څخه يا به مضاف وي، يا به په لام سره وي او يا به خالي وي له دوی دوو څخه ؛ نو دا (توله) شپږ سوه . او معمول د هر يو د دوی به يا مرفوع وي، يا به منصوب وي او يا به مجرور وي ؛ نو دا ټوله اتلس (ټولونه) سول . او تفصيل يې دا دئ، لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ ن الْحَسَنُ وَجْهُهُ) چې درې وجې سوې او دا ډول مثال د (الْحَسَن الْوَجْهَ، وَالْحَسَن وَجْهٌ، وَحَسَنَ وَجْهَهُ، وَحَسَنَ الْوَجْهُ، وَحَسَنَ وَجْهٌ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه څلورمه خبره ذکر کوي چې هغه صورتونه د صفت مشبه دي او هغه صورتونه اتلس دي چې وجه د حصر يې دا ده :

چې صفت مشبه به يا په الف لام سره وي او يا به خالي وي له الف لام څخه. بيا د دې درې وارو معمول به خالي نه وي يا به مضاف وي او يا به (معرف باللام) وي او يا به دواړه نه وي، پس دا شپږ صورتونه سول چې هر يو به يا مرفوع وي، يا به منصوب وي او يا به مجرور وي، پس دا ټول اتلس صورتونه سول او د دې تفصيل دا دئ : کله چې صفت مشبه (معرف باللام) وي او معمول ورلره مضاف وي ؛ نو په دې کې درې صورتونه دي : ۱- معمول مرفوع، لکه : (زيد الحسن وجهُهُ) . ۲- معمول منصوب، لکه : (الحسن وجهَه) . ۳- معمول مجرور، لکه : (الحسن وجهِه) او که صفت مشبه (معرف باللام) وو او معمول هم (معرف باللام) وو ؛ نو په دې کې هم درې صورتونه دي : ۱- معمول مرفوع، لکه : (الحسن الوجهُ) . ۲- معمول منصوب، لکه : (الحسن الوجهَ) . ۳- معمول مجرور، لکه : (الحسن الوجهِ) او که صفت مشبه (معرف باللام) وو او معمول خالي وو له الف لام او اضافت څخه ؛ نو په دې کې هم درې صورتونه دي : ۱- معمول مرفوع، لکه : (الحسن وجهٌ) . ۲- معمول منصوب، لکه : (الحسن وجهًا) . ۳- معمول مجرور، لکه : (الحسن وجهٍ) ؛ نو په دې صفت مشبه مذکور کې چې (معرف باللام) دی نهه ۹ صورتونه سول او دا ټول چې خالي له (اللام) څخه سي ؛ نو هم نهه ۹ صورتونه دي چې مجموعه اتلس ۱۸ سول .

وَهِيَ عَلَىٰ خَمْسَةِ أَقْسَامٍ. مِنْهَا : مُمْتَنِعٌ. (الحَسَن وَجْهِ. وَالْحَسَن وَجْهِه)، وَمُخْتَلِفٌ فِيْهِ (حَسَنُ وَجْهِهِ)

او دا (صفت مشبه) پر پينځه ډوله ده، چې له هغو څخه : ممتنع دی، لکه (الحَسَن وَجْهِ، وَالْحَسَن وَجْهِه) او په يو صورت کې اختلاف دی چې (حَسَنُ وَجْهِهِ) دی

تشريح : په دې صورتونو کې دوه ممتنع دي، ۱- چې يو صورت په اضافت سره د صفت دی ومعمول ته سره له خالي والي له لامه .

۲- او دويم صورت په اضافت سره د صفت دی کوم چې معرف دی په (اللام) سره ومعمول ته سره له خالي والي له لامه او بل صورت په دې پينځو کې مختلف دی او د نور تفصيل لپاره پښتو شرحي (کفاية النحو) ته مراجعه وکړئ؛ کوم چې مولانا نصير الحق صاحب ليکلې ده؛ خودلته د هغه ضرورت نسته .

وَالْبَوَاقِيْ أَحْسَنُ إِنْ كَانَ فِيْهِ ضَمِيْرٌ وَاحِدٌ. وَحَسَنٌ إِنْ كَانَ فِيْهِ ضَمِيْرَانِ. وَقَبِيْحٌ إِنْ لَّمْ يَكُنْ فِيْهِ ضَمِيْرٌ

او پاته صورتونه ډېر ښه دي که په دې کې يو ضمير وو او ښه دی که په دې کې دوه ضميره وه او بد دی که په دې کې يو ضمير هم نه وو

څه تشريح : هغه صورتونه چې ضميرونه پکې دوه وي ؛ هغه حسن دي او هغه دو صورتونه دي (حَسَنَ وَجْهَهُ) په نصب د (وَجْهَ) سره او باقي تشريح داسې ده لکه مصنف چې په عبارت کې په ډاګه کړې ده .

وَالضَّابِطَةُ: أَنَّكَ مَتَى رَفَعْتَ بِهَا مَعْمُوْلَهَا؛ فَلَا ضَمِيْرَ فِي الصِّفَةِ. وَمَتَى نَصَبْتَ. أَوْ جَرَرْتَ؛ فَفِيْهَا ضَمِيْرُ الْمَوْصُوْفِ. نَحْوُ: (زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهِهِ)

او قاعده داده - که چیري ته کله مرفوع کړې په دې سره معمول د دې صفت مشبه: نو ضمیر نشته په صفت کي او کله چي ته نصب ورکړې. یا جر ورکړې: نو په دې کي ضمیر د موصوف دی. لکه: (زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهِهِ)

تشریح: مصنف رحمه الله علیه په دې عبارت سره یوه ضابطه ذکر کوي چي کله معمول د صفت مشبه مرفوع وي په ده سره؛ نو بیا به په دې کي ضمیر نه وي؛ لپاره د دې چي لازم نه سي تعدد د فاعل چي یو ضمیر او بل اسم ظاهر دی، پس که چیري داسي سي چي په صفت کي ضمیر وي؛ نو معمول به بیا خالي نه وي یا به پټکي ضمیر وي او یا به نه وي، که وي؛ نو (حسن) بنه دی او که نه وي نو (أحسن) ډېر بنه دی.

د صفت مشبه لپاره مختصر تمرین: ۱- (اللهُ كَرِيْمُ الْفِعَالِ). ۲- (عَلِيٌّ حَسَنُ الْخُلُقِ). ۳- (الْغُلَامُ جَمِيْلُ الْوَجْهِ).

فَصْلٌ: اِسْمُ التَّفْضِيْلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ؛ لِيَدُلَّ عَلَى الْمَوْصُوْفِ بِزِيَادَةٍ عَلَى غَيْرِهِ

فصل دی: اسم تفضیل یو اسم دی چي مشتق سوی دی له یو فعل څخه: د دې لپاره چي دلالت وکړي پر موصوف په زیاتوالي سره پر ماسیوا دده

د اسم تفضیل تعریف: دا اخیرنی فصل د خاتمې دی په دې کي مصنف رحمه الله علیه د اسم تفضیل بیان کوي او دا مشتمل دی په امور خمسه ؤ باندي: ۱- تعریف د اسم تفضیل. ۲- وزن د اسم تفضیل. ۳- شرایط داسم تفضیل. ۴- استعمال د اسم تفضیل. ۵- او عمل د اسم تفضیل.

اول مصنف په دې عبارت سره تعریف وکړی د اسم تفضیل چي ویې ویل: (اِسْمٌ مُشْتَقٌّ إلخ) چي معنا یې تېره سوه او نوري څلور خبري به په راروانو عبارتو کي واضح سي: إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

وَصِيْغَتُهُ (أَفْعَلُ)؛ فَلَا يُبْنَى إِلَّا مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ الَّذِيْ لَيْسَ بِلَوْنٍ وَلَا عَيْبٍ. نَحْوُ: (زَيْدٌ أَفْضَلُ النَّاسِ). فَإِنْ كَانَ زَائِدًا عَلَى الثُّلَاثِيِّ. أَوْ كَانَ لَوْنًا أَوْ عَيْبًا؛ وَجَبَ أَنْ يُبْنَى أَفْعَلُ مِنْ ثُلَاثِيٍّ مُجَرَّدٍ؛ لِيَدُلَّ عَلَى مُبَالَغَةٍ وَشِدَّةٍ وَكَثْرَةٍ. ثُمَّ يُذْكَرُ بَعْدَهُ مَصْدَرُ ذٰلِكَ الْفِعْلِ مَنْصُوْبًا عَلَى التَّمْيِيْزِ. كَمَا تَقُوْلُ: (هُوَ أَشَدُّ اِسْتِخْرَاجًا. وَأَقْوَى حُمْرَةً. وَأَقْبَحُ عَرَجًا)

او صیغه یې (أفعل) ده: نو نه بنا کیږي مګر له ثلاثي مجرد څخه کوم چي نه وي په رنګ او عیب باندي. لکه: (زَيْدٌ أَفْضَلُ النَّاسِ). که وو زائد پر ثلاثي. یا وو رنګ او یا عیب: نو واجب دی چي بنا سي (أفعل) له ثلاثي مجرد څخه: د دې لپاره چي دلالت وکړي پر مبالغې. سختۍ او زیاتوالي. بیا ذکر کیږي وروسته تر ده مصدر د دغه فعل منصوب پر تمییز. لکه څرنګه چي ته وایې: (هُوَ أَشَدُّ اِسْتِخْرَاجًا، وَأَقْوَى حُمْرَةً، وَأَقْبَحُ عَرَجًا)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دويمه خبره ذكر كوي چې هغه وزن د اسم تفضيل دى ؛ نو د اسم تفضيل لپاره دوه وزنه راځي : ۱- (أفعل) لپاره د مذكر . ۲- (فعلى) لپاره د مؤنث .

او همدا ډول دريمه خبره ذكر كوي چې هغه شرايط د اسم تفضيل دي ؛ نو د اسم تفضيل د بناء لپاره دوه شرطونه دي : ۱- د ثلاثي مجرد په باب څخه به وي . ۲- د (لون) او (عيب) له مادې څخه به نه وي .

وَقِيَاسُهُ أَنْ يَكُوْنَ لِلْفَاعِلِ كَمَا مَرَّ . وَقَدْ جَاءَ لِلْمَفْعُوْلِ قَلِيْلًا . نَحْوُ : (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ)

او قياس يې دا دی چې وي به فاعل لره لکه څرنګه چې تېره سوه او په تحقيق سره راغلی د مفعول لپاره لږ، لکه : (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ)

تشريح: په اسم تفضيل كې د قياس تقاضا دا ده چې اشتقاق د ده لپاره د فاعل وي، يعني : تفضيل دى په فاعليت كې وي، نه په مفعوليت كې او كه د دواړو لپاره دا صيغه راسي ؛ نو التباس به راسي په فاعل او مفعول كې او اشرف فاعل دى ؛ نو له دې وجې اكتفاء په فاعل وسوه او كله كله د مفعول لپاره راځي، لكه : (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ) .

وَاسْتِعْمَالُهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ : إِمَّا مُضَافٌ كَـ(زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ) . أَوْ مُعَرَّفٌ بِاللَّامِ . نَحْوُ : (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ) . أَوْ بِـ"مِنْ" . نَحْوُ : (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

او استعمال د اسم تفضيل پر دريو طريقو دی : يا به مضاف وي لكه (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)، يا به معرف په لام سره وي، لكه : (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ) او يا به په "مِنْ" سره وي، لكه : (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه څلورمه خبره بيانوي چې هغه د اسم تفضيل استعمال دى او استعمال د اسم تفضيل په دريو طريقو سره دى :

۱- په اضافت سره، لكه : (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ) . ۲- په الف لام سره، لكه : (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ) . ۳- او په "مِنْ" سره، لكه : (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو) ؛ نو دې دريو طريقو كې اصل استعمال په (مِنْ) سره دى، بيا په اضافت سره او بيا په الف لام سره دى .

وَيَجُوْزُ فِي الْأَوَّلِ الْإِفْرَادُ وَمُطَابَقَةُ إِسْمِ التَّفْضِيْلِ لِلْمَوْصُوْفِ . نَحْوُ : (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وَالزَّيْدَانِ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وَأَفْضَلَا الْقَوْمِ، وَالزَّيْدُوْنَ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)

او روا دی په اول كې افراد او مطابقت د اسم تفضيل لپاره موصوف، لكه : (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وَالزَّيْدَانِ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وَأَفْضَلَا الْقَوْمِ، وَالزَّيْدُوْنَ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه اول حكم د استعمال بيانوي چې د دې دوې طريقې دي : ۱- افراد د اسم تفضيل، برابره خبره ده چې موصوف د ده مفرد وي، تثنيه وي او كه جمع وي، لكه : (زيد أفضل النّاس، الزّيدان أفضل النّاس، الزّيدون أفضل النّاس) او مطابقت له موصوف سره، لكه : (الزّيدان أفضلا النّاس، الزّيدون أفضلوا النّاس) او افراد ؛ ځكه جايز دى چې دا ډول اسم

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه دویمه خبره ذکر کوي چې هغه وزن د اسم تفضیل دی؛ نو د اسم تفضیل لپاره دوه وزنه راځي: ۱- (أفعل) لپاره د مذکر. ۲- (فعلی) لپاره د مؤنث.

او هغه اوول دریمه خبره ذکر کوي چې هغه شرایط د اسم تفضیل دي؛ نو د اسم تفضیل د بناء لپاره دوه شرطونه دي: ۱- د ثلاثي مجرد له باب څخه به وي. ۲- د (لون) او (عیب) له مادې څخه به نه وي.

وَقِيَاسُهُ أَنْ يَكُوْنَ لِلْفَاعِلِ كَمَا مَرَّ. وَقَدْ جَاءَ لِلْمَفْعُوْلِ قَلِيْلًا. نَحْوُ: (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ)

او قیاس یې دا دئ چې وي به فاعل لره لکه څرنګه چې تېره سوه او په تحقیق سره راغلی د مفعول لپاره لږ، لکه: (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ)

تشریح: په اسم تفضیل کې د قیاس تقاضا دا ده چې اشتقاق د ده لپاره د فاعل وي، یعني: تفضیل دی په فاعلیت کې وي، نه په مفعولیت کې او که د دواړو لپاره دا صیغه راسي: نو التباس به راسي په فاعل او مفعول کې او اشرف فاعل دی؛ نو له دې وجې اکتفاء په فاعل وسوه او کله کله د مفعول لپاره راځي، لکه: (أَعْذَرُ، وَأَشْغَلُ، وَأَشْهَرُ).

وَاسْتِعْمَالُهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ: إِمَّا مُضَافٌ كَـ(زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ). أَوْ مُعَرَّفٌ بِاللَّامِ. نَحْوُ: (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ)، أَوْ بِـ"مِنْ". نَحْوُ: (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

او استعمال د اسم تفضیل پر دریو طریقو دی: یا به مضاف وي لکه (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)، یا به معرف په لام سره وي، لکه: (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ) او یا به په "مِنْ" سره وي، لکه: (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه څلورمه خبره بیانوي چې هغه د اسم تفضیل استعمال دی او استعمال د اسم تفضیل په دریو طریقو سره دی:

۱- په اضافت سره، لکه: (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ). ۲- په الف لام سره، لکه: (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ). ۳- او په "مِنْ" سره، لکه: (زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)؛ نو دې دریو طریقو کې اصل استعمال په (مِنْ) سره دی، بیا په اضافت سره او بیا په الف لام سره دی.

وَيَجُوْزُ فِي الْأَوَّلِ الْإِفْرَادُ وَمُطَابَقَةُ اِسْمِ التَّفْضِيْلِ لِلْمَوْصُوْفِ. نَحْوُ: (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ. وَالزَّيْدَانِ أَفْضَلُ الْقَوْمِ. وأَفْضَلَا الْقَوْمِ. وَالزَّيْدُوْنَ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)

او روا دي په اول کې افراد او مطابقت د اسم تفضیل لپاره موصوف. لکه: (زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وَالزَّيْدَانِ أَفْضَلُ الْقَوْمِ، وأَفْضَلَا الْقَوْمِ، وَالزَّيْدُوْنَ أَفْضَلُ الْقَوْمِ)

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه اول حکم د استعمال بیانوي چې د دې دوې طریقې دي: ۱- افراد د اسم تفضیل. برابره خبره ده چې موصوف د ده مفرد وي، تثنیه وي او که جمع وي، لکه: (زید أفضل النّاس، الزّیدان أفضل النّاس، الزّیدون أفضل النّاس) او مطابقت له موصوف سره، لکه: (الزّیدان أفضلا النّاس، الزّیدون أفضلوا النّاس) او افراد؛ ځکه جایز دی چې دا اوول اسم

تفضيل مشابه دی له اسم تفضيل سره چې مستعمل وي په (مِن) سره؛ ځکه (مفضل عليه) د دواړو ذکر وي او د اسم تفضيل مستعمل په (مِن) سره حکم دا دئ: چې دی به همېشه مفرد مذکر وي؛ نو د دغه مشابهت له وجې دلته جايز سو او لازم هم نه دی؛ ځکه مخالفت ورسره هم له يوې وجې موجود دی.

وَفِي الثَّانِي يَجِبُ الْمُطَابَقَةُ. نَحْوُ: (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ، وَالزَّيْدَانِ الْأَفْضَلَانِ، وَالزَّيْدُونَ الْأَفْضَلُونَ)

او په دويم کې واجب دی مطابقت. لکه: (زَيْدٌ الْأَفْضَلُ، وَالزَّيْدَانِ الْأَفْضَلَانِ، وَالزَّيْدُونَ الْأَفْضَلُونَ)

تشريح: هر چې دويم استعمال دی چې هغه استعمال د اسم تفضيل دی په الف لام سره؛ نو په دې کې مطابقت ضروري دی، يعني د اسم تفضيل مطابقت د موصوف سره لازم او واجب دی؛ ځکه چې اصل مطابقت دی په مينځ د موصوف او صفت کې، لکه: (زيدٌ الأفضلُ، الزّيدان الأفضلان، الزّيدُون الأفضلُون).

وَفِي الثَّالِثِ يَجِبُ كَوْنُهُ مُفْرَدًا مُذَكَّرًا أَبَدًا. نَحْوُ: (زَيْدٌ وَهِنْدٌ، وَالزَّيْدَانِ وَالْهِنْدَانِ، وَالزَّيْدُونَ وَالْهِنْدَاتُ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

او په درېيم کې واجب دی کېدل يې مذکر مفرد همېشه. لکه: (زَيْدٌ وَهِنْدٌ، وَالزَّيْدَانِ وَالْهِنْدَانِ، وَالزَّيْدُونَ وَالْهِنْدَاتُ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو)

تشريح: درېيم استعمال د اسم تفضيل چې په (مِن) سره وي؛ نو دی به همېشه مفرد مذکر وي، يعني عدم مطابقت؛ ځکه که چېرې مطابقت راوستل سي؛ نو علامه به يا مخکې تر (مِن) راوړل کېږي او يا به وروسته تر (مِن) راوړل کېږي، که مخکې تر (مِن) راوړل سي؛ نو لازمېږي اجراء د علامې په وسط د کليمې کې حکما او دا ناجايز دی او که وروسته تر (مِن) راوړل سي؛ نو لازمېږي اجراء د علامې په کليمه آخري باندې حقيقتا او دا هم باطله ده.

وَعَلَى الْأَوْجُهِ الثَّلَاثَةِ يُضْمَرُ فِيهِ الْفَاعِلُ، وَهُوَ يَعْمَلُ فِي ذَلِكَ الْمُضْمَرِ، وَلَا يَعْمَلُ فِي الْمُظْهَرِ أَصْلًا إِلَّا فِي مِثْلِ قَوْلِهِمْ: (مَا رَأَيْتُ رَجُلًا أَحْسَنَ فِي عَيْنِهِ الْكُحْلُ مِنْهُ فِي عَيْنِ زَيْدٍ)؛ فَإِنَّ الْكُحْلَ فَاعِلٌ لِـ(أَحْسَنَ)، وَهٰهُنَا بَحْثٌ

او په درېو سره وجهو کې ضمير کېږي فاعل او دا عمل کوي په دې مضمر کې او عمل نه کوي په مظهر کې بالکل مګر نه په ډول د دوی هغه قول کې: (مَا رَأَيْتُ رَجُلًا أَحْسَنَ فِي عَيْنِهِ الْكُحْلُ مِنْهُ فِي عَيْنِ زَيْدٍ)؛ ځکه (الْكُحْلَ) فاعل دی لپاره د (أَحْسَنَ) او دلته بحث دی

تشريح: په درېو سره استعمالاتو کې اسم تفضيل همېشه په ضمير مستتر کې عمل کوي بېله څه شرطه او په اسم ظاهر کې عمل نه کوي، برابره خبره ده چې فاعل اسم ظاهر وي او که ضمير بارز وي او يا مفعول وي، البته په يو ترکيب کې اسم تفضيل په اسم ظاهر کې عمل کوي او تفصيل د دې دا دئ: چې اسم تفضيل پر دوه ډوله عمل کوي: يو عمل د نصب دی او بل عمل د رفع دی.

اول چې عمل د نصب دی : نو دا عام دی چې بناء پر مفعوليت وي او يا بنا پر ظرفيت وي او يا بنا پر حاليت وي او يا بنا پر تميز وي او هر چې عمل د نصب بناء پر مفعوليت دی ؛ نو دا له سره واقع نه دئ ؛ ځکه مفعول د اسم تفضيل نه وي، مګر (مفضل عليه) وي او (مفضل عليه) چې کله مذکور وي ؛ نو مجرور وي او هر چې عمل د نصب بناء پر ظرفيت، يا حاليت، يا تميز دی ؛ نو هغه واقع دی بېله شرطه ؛ ځکه په دې کې د عمل لپاره د اسم تفضيل ادنی درجه پکار ده او په اسم تفضيل کې معنا د فعل موجوده ده، لکه : (زيد أحسن منك اليوم راكبا) او عمل د رفع هم په دوه ډوله دی : يو په ضمير کې او بل په اسم ظاهر کې او هر چې په ضمير کې عمل د رفع واقع دی بېله شرطه ؛ ځکه عمل په ضمير کې عمل دی په مقدر کې او هغه ډېر آسانه دی چې قوت د عامل ته محتاج نه دئ .

او هر چې عمل دی په اسم ظاهر کې ؛ نو دا مشروط دی په دريو شرايطو سره ؛ ځکه اصل په عمل کې فعل دی او ماسيوا له فعل څخه چې کوم شی عمل کوي ؛ نو هغه له وجې د مشابهته يې نه کوي له فعل سره او اسم تفضيل له فعل سره مشابه نه دئ ؛ ځکه د ده لپاره داسې فعل نشته چې هغه په زياتوالي کې په معنا د ده وي او هغه درې شرايط لکه :

۱- چې اسم تفضيل به په لفظ کې صفت د يو شی وي او په اعتبار د معنا سره به د متعلق د شی صفت وي .

۲- هغه متعلق به داسې شی وي چې په يو اعتبار سره (مفضل) وي او په بل اعتبار سره (مفضل عليه) وي .

۳- او اسم تفضيل به منفي وي، يعني حرف نفي به وربانديې داخل وي، لکه : (ما رأيت رجلًا أحسن في عينه الكُحل مِنه في عين زيد).

داسم تفضيل لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۱۸۱] . ۲- ﴿لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ...﴾ [غافر: ۵۷] . ۳- (سَعِيْدٌ أَحْسَنُ أَخْلَاقًا، وَصَالِحٌ أَكْثَرُ جُوْدًا) . ۴- (وهُوَ عَلَيْكَ سَهْلٌ يَسِيْرٌ، وعَلَيْنَا صَعْبٌ عَسِيْرٌ) . ۵- (الفَرْضُ أَفْضَلُ مِنَ النَّفْلِ بِسَبْعِيْنَ ضِعْفٍ) .

اَلْقِسْمُ الثَّانِيْ فِي الْفِعْلِ، وَقَدْ سَبَقَ تَعْرِيْفُهُ . وَأَقْسَامُهُ ثَلَاثَةٌ : مَاضٍ، وَمُضَارِعٌ، وَأَمْرٌ

دويم ډول په فعل کې دی او په تحقيق سره تېر سوی دی تعريف يې . او ډولونه يې درې دي : ماضي، مضارع او امر

د فعل بيان : هر کله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰی له بحث څخه د اسم ؛ نو شروع يې وکړه په بحث د فعل کې په دې خپل عبارت سره : تقسيمېږي فعل دريو ډولونو ته چې ماضي، مضارع او امر دی .

(۳۲۱) پوښتنه : تقسيم د شی فرع د تعريف ده ؛ نو اول د شی تعريف کېږي، وروسته يې تقسيم کېږي او دلته مصنف تقسيم د فعل کوي دريو ډولونو ته او تعريف يې نه کوي ؟

جواب : مصنف دا اعتراض دفع کړی دی په دې عبارت سره : (وقد سبق تعريفه) ؛ نو حاصل دا سو : چې منم تقسيم فرع د تعريف وي ؛ خو تعريف تر فعل مخکې يو ځل تېر سوی دی چې بېرته يې اعادې ته ضرورت نشته .

الْأَوَّلُ: الْمَاضِيُّ، وَهُوَ فِعْلٌ دَلَّ عَلَى زَمانٍ قَبْلَ زَمَانِكَ

لومړی: ماضي ده او دا هغه فعل دی چې دلالت کوي پر هغه زمانې چې مخکې ده ستا تر زمانې

تشريح: ماضي په اعتبار د لغت سره صيغه د اسم فاعل ده چې مشتق ده له (مضي) څخه او دا په معنا د تېروالي سره ده او په اصطلاح کې لکه مصنف چې په عبارت کې ووېل: (الْماضي، وهو فِعلٌ إلخ).

د قيوداتو فايده: دا لفظ (دَلّ على زمان) جنس دی چې شامل دی (معرف) او (غير معرف) لره او (قبل زمانك) فصل دی چې په دې سره د تعريف له ماضي څخه فعل مضارع او امر خارج سو.

وَهُوَ مَبْنِيٌّ عَلَى الْفَتْحِ إِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ ضَمِيرٌ مَرْفُوعٌ مُتَحَرِّكٌ، وَلَا وَاوٌ كَ(ضَرَبَ)، وَمَعَ الضَّمِيرِ الْمَرْفُوعِ الْمُتَحَرِّكِ عَلَى السُّكُوْنِ كَ(ضَرَبْتُ)، وَعَلَى الضَّمِّ مَعَ الْوَاوِ كَ(ضَرَبُوْا)

او دا (فعل ماضي) مبني پر فتحه دی که چيري نه وو له ده سره ضمير مرفوع متحرک او نه واو لکه (ضَرَبَ) او سره له ضمير مرفوع متحرک مبني پر سکون به وي لکه (ضَرَبْتُ) او مبني پر ضمه به وي سره له واو لکه (ضَرَبُوْا)

(۳۲۲) پوښتنه: ماضي دي بيا (مبني على السكون) هم سي؛ ځکه اصل په افعالو کې بناء ده او اصل په بناء کې (بناء على السكون) ده؟

جواب: ماضي مشابهت لري له اسم سره په داسې توګه چې ماضي په ځای د اسم فاعل واقع کيږي، لکه: (مرَرْت برَجل ضرب) په ځای د (مرَرْت برَجل ضارب). د دې مشابهت له وجې ماضي مبني پر حرکت سوه؛ ځکه د اسم اعراب په حرکت سره وي.

(۳۲۳) پوښتنه: ماضي ولې مبني پر فتحه سوه؟

جواب: فتحه (أخف الحركات) ده؛ نو لپاره د حصول د خفت د ماضي پر فتحه مبني سوه.

د مقام (ځای) تحقيق: زده کړه! دا خبره چې ماضي به خالي نه وي يا به ضمير بارز ورسره وي، يا به نه وي، که ورسره نه وو، لکه: (ضرب) او (ضربت) په سکون د تاء سره؛ نو دا ډول د ماضي به مبني پر فتحه وي او که ضمير بارز ورسره وو؛ نو بيا به خالي نه وي، يا به ساکن وي دا ضمير او يا به متحرک وي، که ساکن وو؛ نو. بيا به خالي نه وي يا به الف وي او يا به واو وي، که الف وو؛ نو بيا به مبني پر فتحه وي، لکه: (ضربا) او (ضربتا) او که ساکن واو وو؛ نو بيا به مبني پر ضمه وي، لکه: (ضربوا) او که دا ضمير متحرک وو، لکه: (ضربن) چې صيغه د جمع مؤنث غائبات ده تر (ضربنا) چې صيغه د (متكلم مع الغير) ده چې له دې څخه اته ۸ صيغې جوړيږي: نو ماضي به مبني پر سکون وي، ولې که مبني سي پر حرکت: نو لازم به سي توالي د اربعه ؤ!.

وَالثَّانِيْ: الْمُضَارِعُ. وَهُوَ فِعْلٌ يُشْبِهُ الْاِسْمَ بِإِحْدَى حُرُوْفِ (أَتَيْنَ) فِيْ أَوَّلِهِ لَفْظًا فِي اِتِّفَاقِ الْحَرَكَاتِ وَالسَّكَنَاتِ. نَحْوُ: (يَضْرِبُ، وَيَسْتَخْرِجُ) كَـ(ضَارِبٍ، وَمُسْتَخْرِجٍ). وَفِيْ دُخُوْلِ لَامِ التَّأْكِيْدِ فِيْ أَوَّلِهِمَا تَقُوْلُ: (إِنَّ زَيْدًا لَيَقُوْمُ) كَمَا تَقُوْلُ: (إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ). وَفِيْ تَسَاوِيْهِمَا فِيْ عَدَدِ الْحُرُوْفِ. وَمَعْنًى فِيْ أَنَّهُ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْحَالِ وَالْاِسْتِقْبَالِ كَاسْمِ الْفَاعِلِ، وَلِذٰلِكَ سَمَّوْهُ مُضَارِعًا. وَالسِّيْنُ، وَسَوْفَ تَخُصُّهُ بِالْاِسْتِقْبَالِ، نَحْوُ: (سَيَضْرِبُ وَسَوْفَ يَضْرِبُ)، وَاللَّامُ الْمَفْتُوْحَةُ بِالْحَالِ. نَحْوُ: (لَيَضْرِبُ)

او دوېيم: مضارع ده او دا هغه فعل دی چې مشابهت لري له اسم سره په يو د حروفو (أتَيْنَ) کې چې په اول کې يې لفظا راغلی وي په اتفاق د حرکاتو او سکناتو کې، لکه: (يَضْرِبُ، وَيَسْتَخْرِجُ) چې (ضَارِبٍ، وَمُسْتَخْرِجٍ) دی. او په دخول د لام د تاکيد کې په اول د دوی دوو کې ته به يې داسې وايې: (إِنَّ زَيْدًا لَيَقُوْمُ) لکه څرنګه چې ته يې داسې وايې: (إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ). او په برابرېدلو کې د عدد د حروفو. او معنا په دې کې ده چې دا مشترک دی په مېنځ د حال او استقبال کې لکه اسم فاعل چې دی او له دې وجې دوی بللی دی په مضارع سره او (سين) او (سوف) يې خاصوي په استقبال سره، لکه: (سَيَضْرِبُ وَسَوْفَ يَضْرِبُ) او لام مفتوحه يې خاصوي په حال سره، لکه: (لَيَضْرِبُ)

تشريح: هر کله چې فارغ سو مصنف رحمة الله عليه د اول ډول له فعل څخه چې ماضي ده؛ نو شروع يې وکړه په دوېيم ډول د فعل کې چې مضارع ده او دا مضارع يې مقدمه کړه په امر باندې؛ ځکه مضارع اصل د امر ده او امر ماخوذ دی له مضارع څخه او مضارع ماخوذ منه ده او ماخوذ منه مقدم (مخکې) وي تر ماخوذ تبعا؛ نو پس په ذکر کې هم مقدم سوه لپاره د موافقت د ذکر له تبع سره.

او پوهېږه! په دې چې مضارع په لغت کې صيغه د اسم فاعل ده له باب مفاعله څخه چې په معنا د مشابهت سره ده او مضارع ته؛ ځکه مضارع وايي چې دا مشابه ده له اسم فاعل سره او معنا اصطلاحي مصنف ذکر کړې ده په دې عبارت سره چې ويې ويل: (هو فعلٌ يُشبه إلخ).

وَحُرُوْفُ الْمُضَارَعَةِ مَضْمُوْمَةٌ فِي الرُّبَاعِيِّ. نَحْوُ: (يُدَحْرِجُ وَيُخْرِجُ)؛ لِأَنَّ أَصْلَهُ "يُؤَخْرِجُ"

او حروف د مضارعت به مضموم وي په رباعي کې، لکه: (يُدَحْرِجُ وَيُخْرِجُ)؛ ځکه اصل يې "يُؤَخْرِجُ" دی

تشريح: د مضارع معلوم د حرف مضارعت لپاره درې احوال دي: ۱- اول حالت چې مشهور دی: هغه ضمه ده. ۲- دوېيم فتحه ده چې دا حالت يې مصنف ذکر کړی دی. ۳- او درېيم حالت د کسرې دی چې غير مشهور دی او دا لغت د بني اسد قبيلې دی. مګر دا هم مشروط دی په يو شرط سره چې تر دې بيان به وروسته راسي.

(۳۲۴) پوښتنه: په دې معنا سره (يُخْرِجُ) رباعي دی: نو ولې مصنف وايي چې اصل د ده (يُؤَخْرِجُ) دی؟

جواب: د ماضي حروف په مضارع کي موجود دي او دلته داسي نه ده؛ ځکه د دې دا رباعي هم (اخرج) دی، سره له همزې څخه رباعي لغوي دی او په (يخرج) کي درې حروف دي: (خ، ر، ج)؛ دا رباعي لغوي هم نه دی؛ نو مصنف د ده اصل ذکر کوي چي رباعي سي چي اصل د دې (يُأخرِجُ) دی؛ نو د قاعدې موافق همزه حذف سوه او حروف مضارعت هم د قاعدې موافق مضموم سول.

وَمَفْتُوحَةٌ فِيْ مَا عَدَاهُ كَـ(يَضْرِبُ، وَيَسْتَخْرِجُ)

او (حروف مضارعت) مفتوحه به وي په ماسيوا کي (د رباعي) لکه (يَضْرِبُ، وَيَسْتَخْرِجُ)

تشريح: په دې عبارت سره دويم حالت د حرف مضارعت د حرکت بيانوي چي هغه فتحه ده او په مخکي عبارت سره بيان د حالت د حرف مضارعت د حرکت د ضمې وو، پس حرف مضارعت به مفتوح وي په هغو افعالو کي چي ماسيوا وي له رباعي څخه، برابره خبره ده که هغه حروف د ماضي ثلاثي وي، خماسي وي او که سداسي وي.

او دليل د ضمې د رباعي لپاره دا دئ: چي رباعي فرع د ثلاثي ده او ضمه فرع د فتحې ده؛ نو ضمه مناسبه ده له رباعي سره په فرعيت کي او له وجي د مناسبت مذکوره ضمه ورته ورکړل سوه او رباعي فرع د ثلاثي ده په اعتبار د دوو وجهو سره، اوله وجه دا چي اول ثلاثي مخکي وي تر رباعي، پس له وجي د قبليت او تقدم (مخکي والي) ثلاثي اصل اورباعي فرع ده.

او دويمه وجه دا چي رباعي محتاج دی په وجود کي ثلاثي ته او ثلاثي (محتاج إليه) دی او (محتاج إليه) اصل وي تر محتاج؛ نو له دې وجي ثلاثي اصل او رباعي فرع ده.

او دليل د فتحې د ثلاثي مجرد دا دئ: چي ثلاثي مجرد ډېر استعمال والا دی او ډېر استعمال تقاضا د خفت کوي؛ نو لپاره د حصول د خفت ورته فتحه ورکول سوه.

او دليل د خماسي او سداسي حرفيز د ماضي د فتحې د حرف مضاعت دا دئ: چي د دوی حروف زيات دي او زيات (أثقل)، يعني درانه دي او که ضمه نه ورکول سي؛ نو لازم به سي جمع د دوو ثقلينو، له دې وجي د ثقل د پورته کولو لپاره فتحه ورکول سوه.

او دريم حالت د حرکت د حرف مضارعت کسره ده چي دا مذهب او لغت د (بني أسد) قبيلې دی او هغه مصنف نه دئ ذکر کړی او هغه دا دئ چي دوی وايي: کومه ماضي (مکسور العين) وي او يا په اول د ماضي کي همزه مکسوره وي؛ نو حرف مضارعت به مکسور کيږي، د اول مثال په باب د علم کي لکه: (يِعْلَمُ، تِعْلَمُ، إِعْلَمُ، نِعْلَمُ) او د دويم مثال په باب د (انصرف) کي لکه: (يِنْصَرِفُ، تِنْصَرِفُ، إِنْصَرِفُ، نِنْصَرِفُ)، مګر دا مذهب او لغت مرجوح دی او د نور تفصيل لپاره د صرفو مشهور کتاب (مراح الأرواح) ته مراجعه وکړه!.

وَإِنَّمَا إِعْرَبُوْهُ مَعَ أَنَّ أَصْلَ الْفِعْلِ الْبِنَاءُ لِمُضَارَعَتِهِ. أَيْ: لِمُشَابَهَتِهِ الْإِسْمِ فِيْ مَا عَرَفْتَ، وَأَصْلُ الْإِسْمِ الْإِعْرَابُ، وَذٰلِكَ إِذَا لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ نُوْنُ التَّأْكِيْدِ، وَلَا نُوْنُ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ

وېشكه دوی لعراب ورکړی دی سره له دې چي اصل د فعل بناء ده لپاره د مضارعت د ده، يعني: لپاره د مشابهت د ده له اسم سره په هغه څه کي چي تا وپېژندله او اصل د سم لعراب دی لو دا هغه وخت چي نه سي متصل په ده سره نون د تاکيد او نه نون د جمع مؤنث

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه دوې خبري ذکر کوي: ١- بيان د اعراب د مضارع چي مضارع معرب ده . ٢- او علت د اعراب د مضارع.

او (المشابهته الاسم) په اصل کي دا عبارت د مصنف واقع دی په جواب د سوال د سائل کي او سوال داسي وارديږي: چي اصل په افعالو کي بناء ده او مضارع فعل دی؛ نو ولئ مبني نه دی؟ مصنف جواب ورکړی په دې عبارت سره چي حاصل د جواب دا دئ چي اصل په افعالو کي که څه هم بناء ده، مګر په ځينو وختو کي عدول له اصل څخه سوی وي د يو عارض له وجي، لکه دلته په مضارع کي عدول سوی دی له اصل څخه چي بناء ده د فعل مضارع اعراب ته له وجي د عارض والي چي هغه له اسم فاعل سره مشابهت تامه دی.

(٣٢٥) پوښتنه: بيا پکار ده چي ټولي صيغې معربي سي؛ ځکه دا علت د اعراب په ټولو صيغو د مضارع کي موجود دی چي هغه مشابهت تامه دی او حال دا چي صيغه د جمع مؤنث د مضارع مبني وي؟

جواب: د دې سوال جواب مصنف رحمة الله عليه ورکړی دی په دې خپل عبارت سره چي وايي: (وذلك وإن لم يتّصل إلخ)؛ نو حاصل د جواب دا دئ: چي مشابهت تامه په مضارع کي علت د اعراب دی، مګر په (ما لم يمنع مانع) قيد باندي مقيد دی او چي مانع موجود وي؛ نو بيا به مضارع مبني وي، که څه هم مشابهت تامه پکي موجود وي او نون تاکيد او نون جمع مؤنث مانع د اعراب دی؛ ځکه د دوی د شدت اتصال له وجي له مضارع سره په منزله د جزء د کلي ګرځېدلی دی.

پس که چيري اعراب په دې مضارع جاري کوئ؛ نو دا به خالي نه وي يا به له نون تاکيد څخه مخکي جاري کيږي او يا به وروسته، پس که صورت اول وي؛ نو اجراء د اعراب په وسط کي به جاري سي او دا باطل دی او که وروسته جاري سي؛ نو لازميږي اجراء د اعراب د يو د دوو کليمو په بلي کليمې باندي؛ ځکه دا نون حقيقتا (كلمة أخرى) ده او دا هم باطل دی. او هر چي نون د جمع مؤنث دی؛ نو په دې کي هم مانع موجود دی چي دا نون د جمع مؤنث له مضارع سره مشابه دی د نون د جمع مؤنث له ماضي سره او هلته؛ خو (ما قبل) له نون څخه ساکن دی؛ خو په مضارع کي به هم (ما قبل) له نون څخه ساکن وي.

وَإِعْرَابُهُ ثَلَاثَةُ أَنْوَاعٍ: رَفْعٌ، وَنَصْبٌ، وَجَزْمٌ، نَحْوُ: (هُوَ يَضْرِبُ، وَلَنْ يَضْرِبَ، وَلَمْ يَضْرِبْ)

او اعراب د ده (مضارع) درې ډوله دی: رفع، نصب او جزم، لکه: (هُوَ يَضْرِبُ، وَلَنْ يَضْرِبَ، وَلَمْ يَضْرِبْ)

تشريح: مطلق اعراب په حرکت سره په څلور ډوله دی: اول رفع، دويم نصب، درېيم جر او څلورم جزم او اعراب د اسم په درې ډوله دی: اول رفع، دويم نصب او درېيم جر او اعراب د فعل هم په درې ډوله دی: اول رفع، دويم نصب او درېيم جزم، پس رفع او نصب مشترک اعراب د اسم او فعل دی او هر چي جزم دی؛ نو دا خاص دی په فعل پوري، لکه جر چي خاص دی په اسم پوري او وجه د اختصاص د جر په اسم پوري په خپل ځای کي دی چي علامات د اسم دي او هغه بيان سوي دي او وجه د اختصاص د جزم په فعل پوري؛ د دې بيان به

وروسته راسي او وجه د حصر په دريو اعرابو د فعل کې دا ده چې عامل د دې اعراب به خالي نه وي يا به لفظي وي او يا به معنوي وي، که لفظي وو ؛ نو يا به ناصبه وي او يا به جازمه وي، که اول وو ؛ نو نصب دی او که ثاني وو ؛ نو جزم دی او که عامل د دې معنوي وو ؛ نو رفع دی. د نصب مثال لکه : (لَنْ يَضْرِبَ)، د رفع مثال لکه : (هُوَ يَضْرِبُ)، د نصب مثال لکه: (لَنْ يَضْرِبَ) او د جزم مثال لکه : (لَمْ يَضْرِبْ).

فَصْلٌ فِيْ أَصْنَافِ إِعْرَابِ الْفِعْلِ، وَهِيَ أَرْبَعَةٌ :

فصل دی په ډولونو د اعراب د فعل کې او هغه څلور دي :

زنځيري ترکيب : فصل مبتدا، في حرف جاره، أصناف مجرور مضاف، إعراب مضاف إليه، مضاف سره له مضاف إليه مجرور د في جاره، جار سره له مجرورهٔ په اعتبار د خپل متعلق سره خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه.

واو حرف عاطفه، هي مبتدا، أربعة خبر د مبتدا، مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه.

أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ، وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ، وَالْجَزْمُ بِالسُّكُوْنِ، وَيُخْتَصُّ بِالْمُفْرَدِ الصَّحِيْحِ غَيْرِ الْمُخَاطَبَةِ، تَقُوْلُ : (هُوَ يَضْرِبُ، وَلَنْ يَّضْرِبَ، وَلَمْ يَضْرِبْ)

چې وي به رفع په ضمې سره، نصب په فتحې سره او جزم په سکون سره او دا خاصيږي په مفرد صحيح سره بېله مخاطبې چې ته به يې داسې وايې : (هُوَ يَضْرِبُ، وَلَنْ يَضْرِبَ، وَلَمْ يَضْرِبْ)

د اعراب د فعل ډولونه : اول ډول اعراب د فعل مضارع دا دئ چې رفع د دې به په ضمه سره وي، نصب به يې په فتحه سره وي او جزم به يې په سکون سره وي او دا ډول دغه إعراب خاص دی په هغه مضارع پورې چې مفرد صحيح وي بېله واحد مؤنث مخاطبې څخه.

او په دې دريو حالاتو کې اعراب په حرکت سره راځي ؛ ځکه دا ډول اعراب له مضارع څخه اصل دی ؛ نو دا ډول له اعراب څخه هم اصل دی، پس ورکړه اصل د اعراب اصل د مضارع ته چې مذکوره ده اه !.

وَالثَّانِيْ : أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِثُبُوْتِ النُّوْنِ، وَالنَّصْبُ وَالْجَزْمُ بِحَذْفِهَا، وَيُخْتَصُّ بِالتَّثْنِيَةِ، وَجَمْعِ الْمُذَكَّرِ، وَالْمُفْرَدَةِ الْمُخَاطَبَةِ صَحِيْحًا كَانَ أَوْ غَيْرَهُ، تَقُوْلُ :

(هُمَا يَفْعَلَانِ، وَهُمْ يَفْعَلُوْنَ، وَأَنْتِ تَفْعَلِيْنَ، وَلَنْ يَّفْعَلَا، وَلَنْ يَّفْعَلُوْا، وَلَنْ تَفْعَلِيْ، وَلَمْ تَفْعَلَا، وَلَمْ تَفْعَلُوْا، وَلَمْ تَفْعَلِيْ)

او دويم : دا دئ چې وي به رفع يې په ثابتېدلو د نون سره، نصب او جزم به يې په حذفېدلو سره وي او دا خاصيږي په تثنيه، جمع مذکر او مفرده مخاطبه پورې، هغه که صحيح وي او که بل وي چې ته به يې داسې وايې :

(هُمَا يَفْعَلَانِ، وَهُمْ يَفْعَلُوْنَ، وَأَنْتِ تَفْعَلِيْنَ، وَلَنْ يَفْعَلَا، وَلَنْ يَفْعَلُوْا، وَلَنْ تَفْعَلِيْ، وَلَمْ تَفْعَلَا، وَلَمْ تَفْعَلُوْا، وَلَمْ تَفْعَلِيْ)

تشريح : دويم ډول اعراب د مضارع دا دئ : چي رفع به په ثبوت د نون سره وي او نصب او جزم په سقوط د نون سره وي او دا ډول خاص دی په تثنيه پوري، برابره خبره ده كه تثنيه د غائب وي، يا د مخاطب وي، يا مذكر وي او يا مؤنث وي او همدا ډول خاص دی په جمع پوري، برابره خبره ده چي جمع مذكر غائب وي او يا جمع مذكر مخاطب وي او همدا ډول خاص دی په واحده مؤنث مخاطبه پوري او بيا دا جمع او تثنيه او مخاطبه عام دي، كه صحيح وي او يا ناقص وي، برابره خبره ده چي ناقص واوي، كه يايي وي او كه ناقص الفي وي .

او په دي عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دويم ډول د مضارع ذكر كوي په اعتبار د اعراب سره او د دې مضارع اعراب رفع په ثبوت د نون سره ده : ځكه په دې ډول پوري الحاق د ضمير بارزه راغلى دى چي واو په جمع كي او الف په تثنيه كي او يا په واحده مؤنثه مخاطبه كي ده : نو دوی په وجه آخر د مضارع په منزله د وسط گرځېدلى دى او وسط محل د اعراب دى : نو هر كله چي اجرا د اعراب وربانديږي وه نه سوه : نو د اعراب په عوض كي په آخر كي نون زيات سو په ځاى د رفع باندي، له دې وجي دې ته نون اعرابي وايي او په حالت رفعي كي په مفرداتو كي ثبوت د حركت وي : نو په دې ډول د مضارع كي به هم ثبوت د نون وي په حالت رفعي كي او په حالت نصبي او جزمي كي سقوط د نون به وي : ځكه جازم په مفرداتو كي حركت ساقطوي چي حركت پكي موجود وي او چي حركت موجود نه وي په كومو صيغو كي : نو عوض د حركت به موجود وي چي هغه به د ضرورت له امله حذفيږي چي نون دى او حالت نصبي تابع د جزمي دى : ځكه جزم په افعالو كي داسي دى، لكه جر په اسماء كي .

او په اسماء كي په تثنيه او جمع كي نصب تابع د جر وي : نو په دې افعالو كي به هم نصب تابع د جزم وي : ځكه په حالت نصبي او جزمي كي نون ساقطيږي .

وَالثَّالِثُ : أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الضَّمَّةِ، وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ لَفْظًا، وَالْجَزْمُ بِحَذْفِ اللَّامِ، وَيَخْتَصُّ بِالنَّاقِصِ الْيَائِيِّ وَالْوَاوِيِّ غَيْرِ تَثْنِيَةٍ وَّجَمْعٍ وَّمُخَاطَبَةٍ، تَقُوْلُ : (هُوَ يَرْمِيْ وَيَغْزُوْ، وَلَنْ يَّرْمِيَ، وَلَنْ يَّغْزُوَ، وَلَمْ يَرْمِ، وَلَمْ يَغْزُ)

او دريم : دا دئ چي رفع به يې په تقدير د ضمې سره وي، نصب به يې په فتحې سره وي لفظا او جزم به يې په حذفېدلو سره د لام وي او دا خاصيږي په ناقص يائي او واوي سره بېله تثنيه يې، جمع او مخاطبې څخه چي ته به يې داسي وايې : (هُوَ يَرْمِيْ وَيَغْزُوْ، وَلَنْ يَّرْمِيَ، وَلَنْ يَّغْزُوَ، وَلَمْ يَرْمِ، وَلَمْ يَغْزُ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دريم ډول ذكر كوي د مضارع چي په يو حالت كي به اعراب تقديري وي چي حالت د رفعي دى .

او په حالت نصبي كي به فتحه لفظي وي او جزم به په سقوط د لام سره وي : ځكه حالت رفعي به په تقدير د ضمې سره وي چي په آخر د دې كي واو او ياء ده .

او ضمه پر دوی ثقيله ده : نو مقدره به وي په حالت د رفع كي .

او هر چي فتحه د حالت نصبي ده : نو دا خفيفه ده په دوی باندي چي په حالت جزمي كي به واو او ياء غورځيږي : ځكه جازم حركت غورځوي په آخر كي چي وي او كه نه وي .

نو هغه غورځوي چي مناسب وي له حرکت سره کوم چي دا حروف د علت دي.

او نور عبارت واضح دى؛ وَالْحَمْدُ لله تَعَالَى.

وَالرَّابِعُ: أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الضَّمَّةِ، وَالنَّصْبُ بِتَقْدِيْرِ الْفَتْحَةِ، وَالْجَزْمُ بِحَذْفِ اللَّامِ، وَيُخْتَصُّ بِالنَّاقِصِ الْأَلِفِيِّ غَيْرِ تَثْنِيَةٍ وَّجَمْعٍ وَمُخَاطَبَةٍ، نَحْوُ: (هُوَ يَسْعَى، وَلَنْ يَّسْعَى، وَلَمْ يَسْعَ)

او څلورم: دا دئ چي وي به رفع په تقدير د ضمې سره، نصب په تقدير د فتحې سره او جزم به په حذفېدلو سره د لام وي او دا خاصيږي په ناقص الفي سره بيله تثنيې، جمع او مخاطبې، لکه: (هُوَ يَسْعَى، وَلَنْ يَّسْعَى، وَلَمْ يَسْعَ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ څلورم ډول د مضارع ذکر کوي په اعتبار د اعراب سره چي په حالت رفعي او نصبي کي به تقديرا وي؛ ځکه په آخر د ده کي الف دى او هغه ساکن دى چي وضعي حرکت ورباندي راوړل متعذر دى؛ نو له دې وجي به په دوو حالتو کي به اعراب تقديري وي او جزم به په حذف د لام سره وي؛ ځکه جازم غورځوي حرکت او چي حرکت نه پيدا کوي؛ نو غورځوي هغه چي مناسب وي له حرکت سره کوم چي حروف علت دي او الف له حروف علت څخه دى.

د اعراب د څلورو ډولونو لپاره مختصر تمرين: ۱- ﴿.. إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧﴾ [محمد: ۷]. ۲- ﴿... حَتَّىٰ يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ۝٩١﴾ [طه: ۹۱]. ۳- ﴿...فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ۝٣٢﴾ [النجم: ۳۲]. ۴- ﴿قَالَ لَا تَخۡتَصِمُواْ لَدَيَّ ...﴾ [ق: ۲۸]. ۵- ﴿وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ ...﴾ [النساء: ۱۰۴]. ۶- (الْإِسْلَامُ يَعْلُوْ وَلَا يُعْلَى عَلَيْهِ)[1]. ۷- (الْأَوْلَادُ يَلْعَبُوْنَ فِي السَّاحَةِ). ۸- (الْبِنْتَانِ تَلْعَبَانِ فِيْ سَاحَةِ الْمَدْرَسَةِ). ۹- (زَيْنَبُ لَمْ تَتْرُكْ كُتُبَهَا عَلَى الْمِنْضَدَةِ). ۱۰- (الطَّالِبُ يَسْعَى كَيْ يَنْجَحَ فِيْ الْإِمْتِحَانِ).

فَصْلٌ: الْمَرْفُوْعُ عَامِلُهُ مَعْنَوِيٌّ، وَهُوَ تَجَرُّدُهُ عَنِ النَّاصِبِ وَالْجَازِمِ، نَحْوُ: (هُوَ يَضْرِبُ، وَيَغْزُوْ، وَيَرْمِيْ، وَيَسْعَى)

فصل دى: (مضارع) مرفوع د دې عامل معنوي وي چي هغه خالي والى دى د مضارع دى له عامل ناصبه او جازمه څخه دي، لکه: (هُوَ يَضْرِبُ، وَيَغْزُوْ، وَيَرْمِيْ، وَيَسْعَى)

تشريح: هر کله چي فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د بيان د مواضع اربعه ؤ د اعراب له مضارع څخه؛ نو شروع يې وکړه په بيان د عواملو د مضارع کي؛ نو عوامل د مضارع درې دي: ۱- چي عامل يې رافعه وي. ۲- چي عامل يې ناصبه وي. ۳- او دريم دا چي عامل يې جازمه وي.

---

(۱) (سنن الدارقطني)، کتاب النکاح، باب: المهر، حديث شمېره (۳۶۲۰) او حديث حسن دى. لکه علامه الباني چي په (إرواء الغليل) ۵ توک، ۱۰۶ مخ کي ويلي دي.

او عامل ناصبه جازمه د مضارع عامل لفظي دی او عامل رافعه د مضارع عامل معنوي دی اه !.

په عامل معنوي د مضارع کې د نحاتو اختلاف : زده کړه ! دا خبره چې په عامل معنوي د مضارع کې دوه مذهبه دي : ۱- کوفيان. ۲- او بصريان.

کوفيان وايي : عامل معنوي د فعل مضارع عبارت دی د خالي والي د مضارع له عوامل ناصبه او جازمه ؤ څخه او بصريان وايي : عامل معنوي د فعل مضارع عبارت دی د وقوع د مضارع په موقع د اسم باندي، لکه : (جاءني رَجُل يضرب، رأيت رجلا يضرب، مرَرْت برَجل يضرب)، اوس په دې مثالونو کې مضارع پر ځای د اسم ده چې ضارب دی ؛ نو داسې ويل کيږي : (جاءني رَجل ضارب إلخ) او کوم شی چې واقع سي پر ځای د (غير) ؛ نو د هغه لپاره حکم د (غير) وي او حکم د اسم اعراب دی ؛ نو حکم د مضارع اعراب سو، مګر مطلقا نه، بلکې اقوی او اسبق اعراب د اسم مضارع ته ورکړل سو چې هغه رفع ده او رفع اسبق او اقوی اعراب د اسم دی ؛ ځکه دا رفع اعراب د فاعل دی او فاعل مقدم وي په تمامو معمولاتو باندي او مصنف رحمه الله عليه هم دلته مذهب د کوفيانو مختاره کړی دی ؛ ځکه يې وويل چې :

(هو تجرده عن الناصب والجازم) او دا مذهب يې ؛ ځکه دلته مختاره کړی دی چې د دوی په مذهب څه اعتراض نه راځي او په مذهب د بصريانو درې اعتراضه راځي چې د هغو تفصيل تاسي په پښتو شرحه (كفاية النحو) کې کتلای سئ ! او دلته يې ضرورت نسته.

فَصْلٌ : اَلْمَنْصُوْبُ عَامِلُهُ خَمْسَةُ أَحْرُفٍ : أَنْ، وَلَنْ، وَكَيْ، وَإِذَنْ، وَأَنَّ الْمُقَدَّرَةَ، نَحْوُ : (أُرِيْدُ أَنْ تُحْسِنَ إِلَيَّ، وَأَنَا لَنْ أَضْرِبَكَ، وَأَسْلَمْتُ ؛ كَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ، وَإِذَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكَ)

فصل دی : منصوب چې دی د دې عوامل پينځه حروف دي : (أَنْ، لَنْ، كَيْ، إِذَنْ) او (أَنَّ) مقدره، لکه : (أُرِيْدُ أَنْ تُحْسِنَ إِلَيَّ، وَأَنَا لَنْ أَضْرِبَكَ، وَأَسْلَمْتُ ؛ كَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ، وَإِذَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكَ)

د حروف ناصبه ؤ بحث : هر كله چې مصنف رحمه الله عليه فارغ سو د عامل رافعه له مضارع څخه ؛ نو شروع يې وکړه په عامل ناصبه د مضارع کې او دا پينځه ډوله دی :

۱- پوه سه ! په دې چې اصل عامل په دې حروفو کې د جمهورو په نيز (أَنْ) دی ؛ ځکه دی مشابه دی له (أَنَّ) همزه مفتوحه والا سره چې حرف دی له (حروف مشبه بالفعل) څخه لفظا او معنا او هر چې مشابهت لفظی دی ؛ نو هغه په فتحه د همزې کې دی چې په دواړو کې همزه مفتوحه ده او هر چې مشابهت معنوي دی ؛ نو دا دواړه حروف مصدريه دي، يعني مدخول په تاويل د مصدر سره ګرځوي، پس هر كله چې (أن) ناصبه مصدريه مشابه سو له (أَنَّ) سره لفظا او معنا ؛ نو (أَنَّ) عمل کوی د نصب او (أَنْ) به هم عمل د نصب کوي، مګر فرق دا دئ چې (أَنْ) ناصبه مصدريه په فعل کې عمل کوي او (أَنَّ) په اسم کې او عمل د نصب له وجې د مشابهت نه کوي له (حرف مشابه بالفعل) سره ؛ نو (أَنَّ) اصل سو په عمل کې او باقي حروف ناصبه عمل د نصب کوي چې دا حمل دي په (أَنْ) باندي ؛ نو هغه فرع سو.

۲- دويم د حروف ناصبه ؤ له فعل مضارع څخه (لن) دی چي په دې کي دوه اختلافه دي : لومړی په صورت د (لن) کي او دويم په معنا د (لن) کي . لومړی چي صورت د (لن) دی ؛ نو په دې کي درې مذهبونه دي : (۱) سيبويه وايي : چي دا کليمه ځان لره عامله ده، کوم چي څه تغير نه دئ پکي سوی . (۲) د فراء مذهب دی، هغه وايي : چي په اصل کي (لا والف) په نون ساکنه بدل سول ؛ نو (لن) سو . (۳) او دريم مذهب د خليل دی، هغه وايي : چي (لن) په اصل کي (لاءَنْ) وو، پس همزه ځني حذف سوه او مکتوب (غير مفروق) سو له وجي د التقاء ساکنينه ؛ نو الف هم حذف سو او (لن) سو .

او په معنا د (لن) کي دوه مذهبه دي : (۱) اهل السنت والجماعت مذهب دی، دوی وايي : چي د (لن) لپاره تاکيد د نفي دی او (تأبيد)، يعني : همېشه والی پکي نسته . (۲) او معتزله وايي : چي په (لن) کي (تأبيد) د نفي دی او حق مذهب د اهل السنت والجماعت والا دی .

۳- دريم د حروف ناصبه ؤ له فعل مضارع څخه (کي) دی او (کي) راځي لپاره د سبب، يعني : (ما قبل) د ده به سبب وي لپاره د (ما بعد). لکه : (أسلمتُ ؛ کي أدخل الجنّة) ؛ نو (ما قبل) د (کي) چي اسلام دی سبب دی لپاره د (ما بعد) چي هغه (دخول الجنّة)، يعني : ننوتل وجنت ته دي .

۴- څلورم د حروف ناصبه ؤ له فعل مضارع څخه (إذن) دی، لکه : (إذن يغفر الله لك) ؛ په دې مثال کي (يغفر) مضارع ده چي (إذن) نصب ورکړی دی، مګر د ده د عمل لپاره دوه شرطه دي : (۱) وروسته (ما بعد) د ده به معمول له (ما قبل) څخه وي . (۲) او (ما بعد) د ده به مستقبل وي .

او د (إذن) په صورت کي دوه مذهبه دي : (۱) سيبويه وايي : دا کليمه له خپله سره ده چي څه تغير نه قبلوي . (۲) او دويم مذهب د ځينو نحاتو دی، هغوی وايي :

(إذن) په اصل کي (إذ) وو چي دا ظرف (لازم الإضافة) دی ؛ نو مضاف إليه ځني حذف سو او په عوض د هغه کي تنوين راوړل سو، بيا دا تنوين وليکل سو په صورت د نون ساکنه کي او (إذن) سو .

۵- او پنځم د حروف ناصبه ؤ له فعل مضارع څخه (أنْ) مصدريه دی چي لږ څه تفصيل يې په اول دول کي تېر سو، اوس يې مکررولو ته ضرورت نسته .

وَتُقَدَّرُ "أَنْ" فِيْ سَبْعَةِ مَوَاضِعَ بَعْدَ "حَتَّى". نَحْوُ : (أَسْلَمْتُ حَتَّى أَدْخُلَ الْجَنَّةَ) . وَ"لَامِ كَيْ". نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ لِيَذْهَبَ) . وَ"لَامِ الْجَحَدِ". نَحْوُ : ﴿...مَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ...﴾ [الأنفال: ٣٣].

وَالْفَاءِ الْوَاقِعَةِ فِيْ جَوَابِ الْأَمْرِ وَالنَّهْيِ وَالْاِسْتِفْهَامِ وَالنَّفْيِ وَالتَّمَنِّيْ وَالْعَرْضِ. نَحْوُ : (أَسْلِمْ ؛ فَتَسْلَمَ. وَلَا تَعْصِ ؛ فَتُعَذَّبَ. وَهَلْ تَعْلَمُ ؛ فَتَنْجُوَ ؟ وَمَا تَزُوْرُنَا ؛ فَنُكْرِمَكَ. وَلَيْتَ لِيْ مَالًا ؛ فَأُنْفِقَهُ. وَأَلَا تَنْزِلُ بِنَا ؛ فَتُصِيْبَ خَيْرًا) . وَبَعْدَ "الْوَاوِ" الْوَاقِعَةِ فِيْ جَوَابِ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ كَذٰلِكَ. نَحْوُ : (أَسْلِمْ وتَسْلِمَ) إِلَى آخِرِهِ . وَبَعْدَ "أَوْ" بِمَعْنَى "إِلَى أَنْ"، أَوْ "إِلَّا أَنْ". نَحْوُ : (لَأُحْبِسَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ)، وَ وَاوِ الْعَطْفِ إِذَا كَانَ الْمَعْطُوْفُ عَلَيْهِ اِسْمًا صَرِيْحًا. نَحْوُ : (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُكَ وتَخْرُجَ) . ويَجُوْزُ إِظْهَارُ "أَنْ" مَعَ "لَامِ كَيْ". نَحْوُ: (أَسْلَمْتُ ؛ لِأَنْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ)، ومَعَ وَاوِ الْعَطْفِ (أَعْجَبَنِي قِيَامُكَ وَأَنْ تَخْرُجَ)

او مقدره ګرځي "أَنْ" په اوو ځايونو کي وروسته تر "حَتّٰى"، لکه : (أَسْلَمْتُ حَتّٰى أَدْخُلَ الْجَنَّةَ) . او "لَامِ كَيْ"، لکه : (قَامَ زَيْدٌ لِيَذْهَبَ) . او "لَامِ الْجَحْدِ". لکه : ﴿... مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ...﴾ [الأنفال: ٣٣]

او هغه فاء چي واقع وي په جواب کي د امر، نهي، استفهام، نفي، تمني او عرض، لکه : (أَسْلِمْ ؛ فَتَسْلَمَ، وَلَا تَعْصِ ؛ فَتُعَذَّبَ، وَهَلْ تَعْلَمُ ؛ فَتَنْجُوَ ؟ وَمَا تَزُوْرُنَا ؛ فَنُكْرِمَكَ، وَلَيْتَ لِيْ مَالًا ؛ فَأُنْفِقَهُ، وَأَلَا تَنْزِلُ بِنَا ؛ فَتُصِيْبَ خَيْرًا) . او وروسته تر "واو" چي راغلی وي په جواب کي هم د دغو ځايونو، لکه : (أَسْلِمْ وَتَسْلَمْ) تر آخره پوري. او وروسته تر "أَوْ" چي په معنا سره د "إِلَى أَنْ" او "إِلَّا أَنْ" دی، لکه : (لَأُحْبِسَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ) او واو د عطف چي کله وي معطوف عليه اسم صريح. لکه : (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُكَ وتَخْرُجَ) او روا دی ښکاره کول د "أَنْ" سره له "لَامِ كَيْ". لکه : (أَسْلَمْتُ ؛ لِأَنْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ). او سره له واو د عطف [چي مثال يې دی :] (أَعْجَبَنِي قِيَامُكَ وَأَنْ تَخْرُجَ)

تشريح : په دې اوو ځايونو کي د نحاتو اختلاف دی چي دا حروف په خپله (ما بعد) ته نصب ورکوي او که تر دوی وروسته به (أنّ) مقدره عمل د نصب کوي ؛ نو په دې کي دوه مذهبه دي : ۱- کوفيان. ۲- او بصريان.

مذهب د بصريانو دا دئ : چي (أنّ) مقدره وروسته تر دې حروف سبعه ؤ نصب ورکوي فعل مضارع لره ؛ نو بناء د دوی په مذهب باندي حروف ناصبه د فعل مضارع پينځه دي چي (أنّ) مقدره جلا ډول دی، لکه دلته چي مصنف هم داسي ويلي دي : (المنصوب عامله خمسة أحرُف ...) .

او مذهب د کوفيانو دا دئ : چي دا حروف سبعه په خپله نصب ورکوي فعل مضارع لره بېله تقدير د (أن)، پس بنا په مذهب د دوی باندي حروف ناصبه د فعل مضارع دولس ۱۲ دي چي پينځه مصنف ذکر کړي دي په دې عبارت سره : (وعامله خمسة أحرُف...) او اووه وروسته په دې عبارت سره ذکر دي چي وايي : (وتُقدّر أنْ في سبعة مواضع إلخ) او د دوی مثالونه په عبارت کي ذکر او تشريح ته يې څه ضرورت نسته .

وَيَجُوزُ إِظْهَارُ "أَنْ" مَعَ "لَامِ كَيْ"، نَحْوُ : (أَسْلَمْتُ ؛ لِأَنْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ)، وَمَعَ وَاوِ الْعَطْفِ، نَحْوُ : (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُكَ وَأَنْ تَخْرُجَ) . وَيَجِبُ إِظْهَارُ "أَنْ" فِيْ "لَامِ كَيْ" إِذَا اتَّصَلَتْ بِلَا النَّافِيَةِ، نَحْوُ : (لِئَلَّا يَعْلَمَ)

او روا دي ښکاره کول د "أَنْ" سره له "لَامِ كَيْ"، لکه : (أَسْلَمْتُ ؛ لِأَنْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ) او سره له واو د عطف، لکه : (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُكَ وَأَنْ تَخْرُجَ) . او واجب دي ښکاره کول د "أَنْ" په "لَامِ كَيْ" کي چي کله متصل سي په (لا) نافيه سره، لکه : (لِئَلَّا يَعْلَمَ)

تشريح : مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ په دې عبارت سره هغه ځايونه ښيي چي اظهار د (أنْ) پکي ممتنع دی او تقدير يې پکي واجب دی او هغه لکه : ۱- وروسته تر (لام الجحد) . ۲- (حتّی) . ۳- واو صرف . ۴- او فاء .

تر دې حروفو وروسته به تقدير د (أنْ) واجب وي او اظهار د (أنْ) به ممتنع وي او د دې لپاره چي کوم دليل دی ؛ هغه مولانا نصير الحق صاحب رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ په خپله پښتو شرحه (كفاية النحو) کي ذکر کړی دی چي د هغه د تفصيل څه ضرورت نسته ؛ وَالْحَمْدُ لله تَعَالَىٰ .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ "أَنْ" الْوَاقِعَةَ بَعْدَ الْعِلْمِ ؛ لَيْسَتْ هِيَ النَّاصِبَةُ لِلْفِعْلِ الْمُضَارِعِ، وَإِنَّمَا هِيَ الْمُخَفَّفَةُ مِنَ الْمُثَقَّلَةِ، نَحْوُ : (عَلِمْتُ أَنْ سَيَقُوْمُ)، قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ : ﴿... عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ...﴾ [المزمل: ۲۰]

او پوه سه ! په دې چي هغه "أَنْ" چي راغلی دی وروسته تر علم ؛ نو هغه ناصبه نه دی فعل مضارع لره او بيشکه دا مخففه دی له مثقله څخه، لکه : (عَلِمْتُ أَنْ سَيَقُوْمُ)، قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ : ﴿... عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ...﴾ [المزمل: ۲۰]

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ يوه قاعده بيانوي او قاعده دا ده : چي (أنْ) کله وروسته تر افعال قلوبو راسي، برابره خبره ده چي (علمت) وي، (وجدت) وي او که (رأيت) وي ؛ نو تر دوی وروسته به (أنْ) مخففه له مثقله څخه راځي (أنّ) ناصبه مصدريه ؛ ځکه افعال په معنا د يقين (باور) سره دي او په (أن المخفّفة مِن المثقّلة) کي معنا د يقين ده چي د دوی يو له بل سره مناسبت سته

او هر چي (أنْ) ناصبه مصدريه دی ؛ هغه به تر دوی وروسته نه راځي ؛ ځکه (أنْ) ناصبه مصدريه لپاره د طمعي او اميد دی او دوی لپاره د يقين دي ؛ نو د دوی په مينځ کي تضاد او منافات دی .

(۳۲۶) پوښتنه : فرق به څنګه د دوی په مينځ کي کيږئ ؟

جواب : تر (أن المخفّفة مِن المُثقّلة) وروسته به په مضارع باندي (سين، سوف) او (قد) حرف نفي چي (لم) او (لا) دی داخل وي، د (سين) مثال لکه : ﴿... عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ...﴾ او مثال د (سوف) لکه : (علمت أن سوف يقوم زيدٌ) او مثال د

(قد) لکه : ﴿لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُواْ ...﴾ [الجن: ۲۸] او مثال د (لم) لکه : (أن لم تقم) او مثال د (لا) حرف نفي لکه : (علمت أن لا تقوم) .

(۳۲۷) پوښتنه : زياتوب ولې پکې کوئ او دا فرق ؛ خو له دې افعالو څخه معلوميږي ؟

جواب : د دې لپاره چې دا حروف عوض سي له هغه نون څخه چې حذف سوی دی له دې (أن) مخففه څخه اه ! .

(۳۲۸) پوښتنه : عکس دې وسي چې تر (أن) ناصبه مصدريه وروسته دې دا حرف زيات سئ ؟

جواب : (أن) ناصبه په عمل کې ضعيف دی سره له فصل څخه د ده چې په معمول کې عمل نه سي کولای اه ! .

وَ"أَن" الْوَاقِعَةَ بَعْدَ الظَّنِّ ؛ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ النَّصْبُ بِهَا ,وَأَنْ تَجْعَلَهَا كَالْوَاقِعَةِ بَعْدَ الْعِلْمِ, نَحْوُ : (ظَنَنْتُ أَنْ سَيَقُوْمُ)

او (أن) هغه چې واقع سوی وي وروسته تر گومان ؛ نو روا دی په دې کې دواړې وجهې يو نصب په دې سره او دا چې ته يې وګرځوې لکه واقع وروسته تر علم، لکه : (ظَنَنْتُ أَنْ سَيَقُوْمُ)

تشريح : هغه (أن) چې راغلی وي وروسته تر گومان، يعني : کوم چې له افعال شک څخه دی ؛ نو په دې کې دواړه احتمالين صحيح دي : يو (أن) مصدريه او بل (أن) مخففه له مثقله .

او دواړې وجهې ؛ ځکه روا دي او هر چې احتمال د ناصبه مصدريه دی ؛ ځکه د (أن) ناصبه مصدريه د (ظن) او هغه افعال چې د ده په معنا باندې وي لکه : په (حسبت) او (خلت) کې مناسبت سته، د دوی لپاره د طمعې او اميد دی او په (أن) کې هم دغه معنا ده او هر چې دويم احتمال دی چې (أن) مخففه له مثقله به ؛ ځکه وي چې دوی به په معنا د (علمت) سي او تر (علمت) وروسته (أن) مخففه له مثقله څخه راځي ؛ نو تر دوی وروسته به هم (أن) مخففه له مثقله څخه راځي .

د (أن) په هکله يوه قاعده : (أن) وروسته تر (رجوت، طمعت، خشيت، خوفت، شككت، وهمت) او (عجبت – أن) ناصبه مصدريه راځي، نه (أن) مخففه له مثقله څخه ؛ ځکه دا افعال مذکوره منافات نه لري له (أن) ناصبه مصدريه سره او (أن) مخففه له مثقله څخه وروسته تر دې افعالو نه راځي ؛ ځکه هغه راځي وروسته تر (علمت) او تر هغو افعالو وروسته راځي چې په معنا د (علمت) وي او دوی داسي نه دي .

د حروف ناصبه ؤ لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ﴾ [يونس: ۸۸] . ۲- ﴿... حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ...﴾ [آل عمران: ۱۷۹] . ۳- ﴿... فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَن

يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَىٰ ﴿٨١﴾ [طه: ٨١]. ٤- ﴿... لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا۟ وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ...﴾ [فاطر: ٣٦]

٥- ﴿... وَأَن تَعْفُوٓا۟ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ...﴾ [البقرة: ٢٣٧].

اَلْمَجْزُوْمُ عَامِلُهُ: لَمْ. وَلَمَّا. وَلَامُ الْأَمْرِ. وَ(لَا) فِي النَّهْيِ، وَكَلِمُ الْمُجَازَاتِ. وَهِيَ: إِنْ، وَمَهْمَا، وَإِذْمَا، وَحَيْثُمَا. وَأَيْنَ. وَمَتَى. وَمَا. وَمَنْ. وَأَيٌّ. وَأَنَّى. وَإِنِ الْمُقَدَّرَةُ. نَحْوُ: (لَمْ يَضْرِبْ. وَلَمَّا يَضْرِبْ. وَلِيَضْرِبْ. وَلَا تَضْرِبْ. وَأَنْ تَضْرِبْ اضْرِبْ...) إِلَخْ

مجزوم ايعني : هغه فعل مضارع چي مجزوم وي؛ نو عامل يې : (لَمْ، لَمَّا)، لام امر، (لَا) په نهي کي او د مجازات کليمي دي (لکه) : (إِنْ، مَهْمَا، إِذْمَا، حَيْثُمَا، أَيْنَ، مَتَى، مَا، مَنْ، أَيٌّ، أَنَّى) او (إِنْ) مقدره، لکه [مثال يې دی] : (لَمْ يَضْرِبْ، وَلَمَّا يَضْرِبْ، وَلِيَضْرِبْ، وَلَا تَضْرِبْ، وَإِنْ تَضْرِبْ اضْرِبْ...) تر آخره پوري

د حروف جازمه ؤ بحث : هر كله چي فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د بيان د عوامل ناصبه ؤ له فعل مضارع څخه؛ نو شروع يې وكړه په عوامل جازمه ؤ د فعل مضارع کي او دا عوامل جازمه د فعل مضارع په دوه ډوله دي : يو ډول حروف دي او بل ډول اسماء دي چي له دې څخه تعبير په (كَلِم الْمُجازات) سره كيږي.

او حروف عامله جازمه د فعل مضارع پينځه دي : ١- (لم). ٢- (لما). ٣- لام امر. ٤- (لا) ناهيه. ٥- او (إن).

او اسماء جازمه د فعل مضارع چي تعبير په (كَلِم المجازات) سره ځني كيږي؛ هغه نهه دي : ١- (مهما). ٢- (إذما). ٣- (حيثما). ٤- (أين). ٥- (متى). ٦- (ما). ٧- (من). ٨- (أي). ٩- او (أنى).

دا مجموعه خوارلس سول او (كَلِم) جمع د (كلمة) ده او (مجازات) جمع د جزاء ده چي معنا دا سوه : كلمات د جزاء او په دې كلمات د جزاء كي (إن) ملفوظ او مقدره له حروفو څخه دی او دا نور له اسماء څخه دي او (كلمات المجازات) داخليږي په دوو جملو باندي چي يوې ته شرط وايي او بلې ته جزاء وايي او مثالونه د ټولو په ترتيب سره دا دي :

(لم يضرب، لما يضرب، ليضرب، لا تضرب، إن تضرب اضرب، مهما تقعد اقعد، إذ ما تسافر أسافر، حيثما تقصد أقصد، أين تجلس اجلس، متى تقم أقم، ما تفعل أفعل، مَن تضرب أضرب، أي شيء تأكل آكل، أنى تكتسب أكسب).

او د (إن) مقدره مثال لكه : (لا تشتمني أضربك) چي تقدير د عبارت داسي دی : (إن تشتمني أضربك)!.

وَاعْلَمْ! أَنَّ "لَمْ" تَقْلِبُ الْمُضَارِعَ مَاضِيًا مَنْفِيًّا. وَ"لَمَّا" كَذَلِكَ إِلَّا أَنَّ فِيهَا تَوَقُّعًا بَعْدَهُ وَدَوَامًا قَبْلَهُ. نَحْوُ: (قَامَ الْأَمِيرُ لَمَّا يَرْكَبْ). وَأَيْضًا يَجُوزُ حَذْفُ الْفِعْلِ بَعْدَ "لَمَّا" خَاصَّةً. تَقُوْلُ: (نَدِمَ زَيْدٌ وَلَمَّا). أَيْ: وَلَمَّا يَنْفَعْهُ النَّدَمُ. وَلَا تَقُوْلُ: (نَدِمَ زَيْدٌ وَلَمْ)

او پوه سه ! په دې چې "لَمْ" اړوي مضارع وماضي منفي ته او "لَمَّا" اړوي هم دا ډول دی مګر نه دا چې (صرف) په دې کې توقع سته وروسته تر ده او همېشتوب سته مخکې تر ده، لکه : (قَامَ الْأَمِيْرُ لَمَّا يَرْكَبْ) او دا ډول رواى دى حذفېدل د فعل وروسته تر "لَمَّا" په ځانګړې توګه چې ته به يې (بيا) داسې وايې : (نَدِمَ زَيْدٌ وَلَمَّا)، أيْ : وَلَمَّا يَنْفَعْهُ النَّدَمُ . او داسې به يې نه وايې : (نَدِمَ زَيْدٌ وَلَمْ)

تشريح : هر كله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالىٰ د تعداد د عوامل جازمه ؤ له فعل مضارع څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د معناوو د دوى کې او داسې يې وويل : (واعلم ! إلخ) .

او پوه سه ! په دې چې د (لم) او (لما) په مينځ کې اشتراک هم دی او افتراق هم دی ؛ اشتراک د دوى، لكه : ۱- دواړه (حرفين) دي . ۲- دواړه جزم وركوي . ۳- دواړه له دواخلو څخه د مضارع دي . ۴- دواړه نقل كوي مضارع وماضي منفي ته . ۵- دواړه مبني دي او داسې نور او افتراق د دوى ته مصنف اشاره کړې ده په دې عبارت سره (إلا أنّ فيها توقّعا إلخ) ؛ نو د (لم) او (لما) په مينځ کې فرق دى په اتو وجو سره چې درې له هغو څخه مصنف ذكر كړي دي :

۱- (لما) كارول كيږي په هغو امورو كې چې په هغې كې اميد او توقع وي، لكه : (قام الأمير ولما يركب) ؛ نو دا كلام هغه وخت ويل كيږي چې (ركوب) د امير متوقع وي چې حاصل به سي په خلاف د (لم) ؛ ځكه چې په دې كې دا معنا نسته او دا فرق مصنف ذكر كړى دى .

۲- په نفي د (لمّا) كې دوام او استغراق دى، لكه مثال مذكور سو په خلاف د (لم) چې په دې كې دا معنا نسته او دا فرق مصنف ذكر كړى دى په دې عبارت سره چې وايي : (و دواما قبله إلخ) .

۳- له (لمّا) څخه حذف د فعل كيږي، لكه : (ندم زيد ولما، أي : لمّا ينفعه الندم) په خلاف د (لم) چې له ده څخه حذف د فعل نه كيږي ؛ ځكه په (لما) كې حروف زيات دي چې قائم مقام د فعل محذوف ګرځي او دا فرق مصنف ذكر كړى دى په دې عبارت سره چې وايي : (وأيضا يجوز حذف الفعل إلخ) .

۴- او بل دا چې دخول د حرف شرط په (لمّا) باندې نه سي كېداى او په (لم) باندې كېداى سي، لكه : (إن لم تضرب) او داسې نه سي ويل كېداى : (إن لما يضرب) ؛ ځكه (إن) په عمل كې ضعيف دى چې له قوي فاصل سره عمل نه سي كولاى او هغه (لما) دى او (لم) هم فاصل دى، مګر ضعيف دى چې حرف شرط له ده سره عمل كولاى سي او دا فرق مصنف نه دئ ذكر كړى .

۵- په (لما) باندې همزه د استفهام نه سي داخلېداى او په (لم) باندې داخلېداى سي، لكه : (ألم تر، ألم تضرب) او داسې نه سي ويل كېداى : (ألما تر)، يا (ألما تضرب) .

۶- (لمّا) په معنا د (إذ) کارول کیږي، لکه : ﴿... فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ ...﴾ [النساء: ۷۷] ؛ نو په دې استعمال کې (لمّا) به اسمي وي، نه حرفي چې تقدير داسې سو : (إذ كُتِبَ عليهم) اه !.

۷- (لمّا) په معنا د (جمعا) سره راځي، لکه : ﴿وَتَأْكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا﴾ [الفجر: ۱۹]، أي : جمعا ؛ نو په دې معنا سره به هم اسمي وي.

۸- او اتم دا چې په معنا د (إلّا) سره راځي، لکه : ﴿وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ﴾ [يس: ۳۲]، أي : ما كُلّ إلّا جميع لدينا . په خلاف د (لم) چې په معنا د (إذ، جمعا) او (إلّا) سره نه راځي.

وَأَمَّا كَلِمُ الْمُجَازَاتِ حَرْفًا كَانَتْ أَوْ إِسْمًا ؛ فَهِيَ تَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَتَيْنِ ؛ لِتَدُلَّ عَلَى أَنَّ الْأُوْلَى سَبَبٌ لِلثَّانِيَةِ، وَتُسَمَّى الْأُوْلَى شَرْطًا وَالثَّانِيَةُ جَزَاءً

او هر چې کلیمې د مجازات دي حرفي وي، که اسمي ؛ نو دا داخلیږي پر دوو جملو ؛ د دې لپاره چې دلالت وکړي پر دې چې اوله جمله یو لامل دی لپاره د دویمې او اوله جمله شرط او دویمه جزاء بلل کیږي

تشریح : زده کړه ! دا خبره چې دا مخکې عوامل کوم ذکر سول ؛ نو دوی عمل په یو فعل کې کوي او هر چې (کلمات) د جزاء دي ؛ نو ځینې پکې حروف دي او باقي نور اسماء دي، لکه : (مهما وغیره) ؛ نو دوی جزم ورکوي دوو فعلینو لره ؛ د دې لپاره چې دلالت وکړي پر دې خبرې چې اول فعل سبب دی او دویم مسبب دی ؛ نو اولې جملې ته چې سبب دی (شرط) وایي او دویمې ته (جزاء) وایي.

او (شرط) ؛ ځکه ورته وایي چې دا په معنا د (مشروط) سره دی او دا سبب هم مشروط سوی دی لپاره د تحقق د جزاء او دویمې جملې ته چې مسبب دی (جزاء) ؛ ځکه وایي چې جزاء د هر هغه شي نوم دی چې هغه مرتب وي په آخر د شي باندې او دا مسبب چې شی ثاني دی هم مرتب دی په شي اول باندې ؛ نو له دې وجې جزاء ورته وایي.

ثُمَّ إِنْ كَانَ الشَّرْطُ وَالْجَزَاءُ مُضَارِعَيْنِ ؛ يَجِبُ الْجَزْمُ فِيهِمَا لَفْظًا. نَحْوُ : (إِنْ تُكْرِمْنِيْ ؛ أُكْرِمْكَ)، وَإِنْ كَانَا مَاضِيَيْنِ ؛ لَمْ تَعْمَلْ فِيهِمَا لَفْظًا. نَحْوُ : (إِنْ ضَرَبْتَ ؛ ضَرَبْتُ)، وَإِنْ كَانَ الْجَزَاءُ وَحْدَهُ مَاضِيًا ؛ يَجِبُ الْجَزْمُ فِي الشَّرْطِ. نَحْوُ : (إِنْ تَضْرِبْنِيْ ضَرَبْتُكَ)، وَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ وَحْدَهُ مَاضِيًا ؛ جَازَ فِي الْجَزَاءِ الْوَجْهَانِ. نَحْوُ : (إِنْ جِئْتَنِيْ أُكْرِمْكَ)

بیا که چیرې وو شرط او جزاء دواړه مضارع ؛ نو واجب دی جزم په دوی دوو کې لفظا، لکه : (إِنْ تُكْرِمْنِيْ ؛ أُكْرِمْكَ) او که وه دواړه ماضي ؛ نو عمل نه کوي په دوی دوو کې لفظا، لکه : (إِنْ ضَرَبْتَ ؛ ضَرَبْتُ) او که وه جزاء یواځې ماضي ؛ نو واجب دی جزم په شرط کې، لکه : (إِنْ تَضْرِبْنِيْ ضَرَبْتُكَ) او که وو شرط یواځې ماضي ؛ نو روا دي په جزاء کې دوې وجې، لکه : (إِنْ جِئْتَنِيْ أُكْرِمْكَ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله څلور صورتونه د شرط او جزاء ذکر کوي : ۱- اول صورت دا دئ چې شرط او جزاء دواړه مضارع وي، لکه : (إن تُكرمني أُكرمك) . ۲- چې شرط او جزاء دواړه ماضي وي، لکه : (إن ضربتَ ضربتُ) . ۳- چې شرط ماضي وي او جزاء مضارع وي، لکه : (إن جئتني أكرمك) . ۴- او څلورم دا چې شرط مضارع وي او جزاء ماضي وي اه ! .

فايده: جازم په ماضي کې لفظا عمل نه کوي او په معنا کې عمل کوي چې اول فعل ماضي سبب ګرځوي لپاره د فعل ثاني .

وَاعْلَمْ ! أَنَّهُ إِذَا كَانَ الْجَزَاءُ مَاضِيًا بِغَيْرِ "قَدْ" ؛ لَمْ يَجُزِ الْفَاءُ فِيْهِ. نَحْوُ : (إِنْ أَكْرَمْتَنِيْ أَكْرَمْتُكَ)، قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿.. وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ...﴾ [آل عمران: ۹۷]. وَإِنْ كَانَ مُضَارِعًا مُثْبَتًا أَوْ مَنْفِيًّا بِـ "لَا" ؛ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ. نَحْوُ : (إِنْ تَضْرِبْنِيْ أَضْرِبْكَ، أَوْ فَأَضْرِبُكَ. وَإِنْ تَشْتُمْنِيْ لَا أَضْرِبْكَ، أَوْ فَلَا أَضْرِبُكَ) . وَإِنْ لَمْ يَكُنِ الْجَزَاءُ أَحَدُ الْقِسْمَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ ؛ فَيَجِبُ الْفَاءُ فِيْهِ، وَذٰلِكَ فِيْ أَرْبَعِ صُوَرٍ: الْأُوْلَى : أَنْ يَكُوْنَ الْجَزَاءُ مَاضِيًا مَعَ (قَدْ)، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿.. إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ...﴾ [يوسف: ۷۷] . وَالثَّانِيَةُ : أَنْ يَكُوْنَ مُضَارِعًا مَنْفِيًّا بِغَيْرِ (لَا)، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ..﴾ [آل عمران: ۸۵] وَالثَّالِثَةُ : أَنْ يَكُوْنَ جُمْلَةً إِسْمِيَّةً، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ...﴾ [الأنعام: ۱۶۰] . وَالرَّابِعَةُ: أَنْ يَكُوْنَ جُمْلَةً إِنْشَائِيَّةً، إِمَّا أَمْرًا، كَقَوْلِهِ تَعَالَى :

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى ...﴾ [آل عمران: ۳۱]، وَإِمَّا نَهْيًا، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿.. فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ...﴾ [الممتحنة: ۱۰]

او پوه سه ! په دې چې کله وي جزاء د ماضي بېله "قَدْ" : نو نه دئ روا فاء راوړل په دې کې، لکه : (إِنْ أَكْرَمْتَنِيْ أَكْرَمْتُكَ)، [يا لکه په قرآن شريف کې مثال] الله تعالى فرمايلي دي : ﴿.. وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ...﴾ او که وه مضارع مثبته، يا منفي په "لَا" سره : نو روا دی په دې کې دواړه وجې، لکه : (إِنْ تَضْرِبْنِيْ أَضْرِبْكَ، أَوْ فَأَضْرِبُكَ، وَإِنْ تَشْتُمْنِيْ لَا أَضْرِبْكَ، أَوْ فَلَا أَضْرِبُكَ).

او که نه وه جزاء يو د دوو پوولو مذکورو : نو واجب دی راوړل د فاء په دې کې او دا په څلورو صورتو کې راځي : لومړی صورت دا دئ : چې وي به جزاء ماضي سره له (قد)، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿.. إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ...﴾ او دويم صورت دا دئ : چې وي به مضارع منفي بېله (لَا)، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ..﴾ او دريم صورت دا دئ : چې وي به جمله اسميه، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ...﴾ او څلورم صورت دا دئ : چې وي به جمله انشائيه يا امر، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى ...﴾ او يا نهي، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿.. فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ...﴾

يادونه : د عبارت تشريح خپله مصنف رحمه الله عليه په اختصار سره بيان کړي ده ؛ نو دلته يې پوره تفصيل ته ضرورت نشته، هو ! ځينو شارحينو په دې عبارت کې څه تشريح کړې ده ؛ د تفصيل لپاره مراجعه ورته وکړئ ! وَاللهُ وَلِيُّ التَّوْفِيقِ .

(۳۲۹) پوښتنه : د جملې انشائيه يې نور اقسام هم دي، لکه استفهام د هغه مثال چې يوه دعاء کې سوي دی : (إن أكرمتنا ؛ فيرحمك الله) : نو دا (فيرحمك الله) جزاء ده او جمله انشائيه دعاء ده ؛ نو مصنف رحمه الله عليه دا ډول ولې ذکر نه کړه سره له دې چې دلته هم فاء راوړل واجب دي ؟

جواب : دا دوه ډولونه چې دعاء او استفهام دی ؛ نو دا شريک دي له امر او نهي سره په دې حکم د فاء کې ؛ نو ذکر کولو ته يې ضرورت نه راغلی .

وَقَدْ يَقَعُ (إِذَا) مَعَ الْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ مَوْضِعَ الْفَاءِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ۝﴾ [الروم: ٣٦]

او په تحقيق سره واقع کيږي (إذا) سره له جمله اسميه پر ځای د فاء، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ۝﴾

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه جواب د يو سوال کوي او سوال داسې وارديږي چې مخکې ووېل سو چې جمله اسميه جزاء واقع سي : نو فاء به وربانډې داخليږي او سوال وارد سو چې ﴿... إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ۝﴾ ؛ نو په دې آيت کې جمله اسميه جزاء واقع ده او (إذا) وربانډې داخل سوی دی، نه فاء ؛ نو مصنف صاحب جواب ورکړی چې (إذا) په ځای د فاء هم راځي او په دې سره به ربط حاصليږي په شان د فاء، مګر مراد له (إذا) څخه به (إذا) مفاجاتيه وي، نه (إذا) شرطيه اه ! .

وَإِنَّمَا تُقَدَّرُ "إِنْ" بَعْدَ الْأَفْعَالِ الْخَمْسَةِ الَّتِيْ هِيَ : الْأَمْرُ. نَحْوُ : (تَعَلَّمْ ؛ تَنْجُ)، وَالنَّهْيُ. نَحْوُ : (لَا تَكْذِبْ ؛ يَكُنْ خَيْرًا لَكَ)، وَالْاِسْتِفْهَامُ. نَحْوُ : (هَلْ تَزُوْرُنَا ؛ نُكْرِمْكَ)، وَالتَّمَنِّيْ. نَحْوُ : (لَيْتَكَ عِنْدِيْ ؛ أَخْدِمْكَ). وَالْعَرْضُ. نَحْوُ : (أَلَا تُنْزِلُ بِنَا ؛ فَتُصِيْبَ خَيْرًا). وَبَعْدَ النَّفْيِ فِيْ بَعْضِ الْمَوَاضِعِ. نَحْوُ : (لَا تَفْعَلْ شَرًّا ؛ يَكُنْ خَيْرًا لَكَ)، وَذٰلِكَ إِذَا قُصِدَ أَنَّ الْأَوَّلَ سَبَبٌ لِلثَّانِيْ كَمَا رَأَيْتَ فِي الْأَمْثِلَةِ ؛ فَإِنَّ مَعْنَى قَوْلِنَا : (تَعَلَّمْ ؛ تَنْجُ)، هُوَ : (إِنْ تَتَعَلَّمْ ؛ تَنْجُ)، وَكَذٰلِكَ الْبَوَاقِيْ ؛ فَلِذٰلِكَ امْتَنَعَ قَوْلُكَ : (لَا تَكْفُرْ ؛ تَدْخُلِ النَّارَ) لِامْتِنَاعِ السَّبَبِيَّةِ ؛ إِذْ لَا يَصِحُّ أَنْ يُقَالَ : (إِنْ لَا تَكْفُرْ ؛ تَدْخُلِ النَّارَ)

او پېشكه مقدر كيږي "إنْ" وروسته تر افعالو پينځو كوم چي هغه : امر دی، لكه : (تَعَلَّمْ ؛ تَنَجُ) او نهي، لكه : (لَا تَكْذِبْ ؛ يَكُنْ خَيْرًا لَكَ) او استفهام، لكه : (هَلْ تَزُورُنَا ؛ نُكْرِمْكَ) او تمني، لكه : (لَيْتَكَ عِنْدِي ؛ أَخْدِمْكَ) او عرض، لكه : (أَلَا تَنْزِلُ بِنَا ؛ تُصِبْ خَيْرًا) او وروسته تر نفي به ځينو ځايو كي ا"إنْ" مقدر كيږي، لكه : (لَا تَفْعَلْ شَرًّا ؛ يَكُنْ خَيْرًا لَكَ) او دا ډول چي كله قصد وكړل سي د دې چي اول لامل لپاره د دويم دی. لكه څرنګه چي تا وليدل په مثالونو كي : ځكه معنا د قول زموږ دا ده : (تَعَلَّمْ ؛ تَنَجُ)، دا قول داسي دی : (إِنْ تَتَعَلَّمْ ؛ تَنَجُ) او دا ډول نور مثالونه دي، له دې وجي منع سو ستا دا قول : (لَا تَكْفُرْ ؛ تَدْخُلِ النَّارَ) له وجي د امتناع د سببيته : ځكه چي داسي نه صحيح كيږي چي وويل سي : (إِنْ لَا تَكْفُرْ ؛ تَدْخُلِ النَّارَ)

څه تشريح : هر كله چي فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ د ذكر د معاني له جوازم ملفوظه ؤ څخه ؛ نو شروع يې وكړه په بيان د هغو مواضعو كي چي (إن) شرطيه پكي مقدر كيږي او هغه مواضع پينځه دي :

۱- امر . ۲- نهي . ۳- استفهام . ۴- تمني . ۵- او عرض ؛ نو مثال د امر لكه : (تعلّم ؛ تنج) چي تقدير د عبارت داسي دی : (إن تتعلّم ؛ تنجُ) او مثال د نهي، استفهام، تمني او عرض مصنف په عبارت كي ذكر كړی دی چي دلته يې مكررولو ته اړتيا نسته .

لس مهمي قاعدي : ۱- قاعده : ادوات د شرط د دوو جملو تقاضا كوي چي يوه جمله شرط او دويم جزاء ده .

۲- قاعده : شرط به همېشه جمله فعليه وي .

۳- قاعده : شرط فعل جامد نه واقع كيږي او دا ډول فعل طلبيه هم .

۴- قاعده : د جمله شرطيه په اول كي (إن) نه راځي .

۵- قاعده : (أما) شرطيه په دوو شيانو باندي داخليږي چي اول ته قائم مقام د شرط او دويم ته قائم مقام د جزاء وايي او په دې باندي فاء هم داخليږي چي هغه ته جواب د (أما) وايي .

۶- قاعده : كله ادوات شرط دوه راځي او جزاء يوه راځي : نو بله جزاء به محذوف وي، لكه : ﴿وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ۝ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ۝﴾ [الواقعة ۹۰-۹۱] جزاء د (أمّا) ده .

۷- قاعده : كه چيري شرط او قسم دواړه جمع سول په يو ځاى كي : نو جواب به د مقدم لپاره وي او د مؤخر جواب به محذوف وي، لكه : (إن قمت والله لأقومنّ !)، يا لكه : (والله إن قمت لأقومنّ !)، يا لكه : ﴿قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ ..﴾ [الاسراء ۸۸] : نو په دې آيت كي (لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ) جواب د قسم دی .

۸- قاعده : په جواب د امر او يا نهي كي چي مضارع واقع سي : نو دا به هله مجزومه كيږي چي دوه شرطه پكي وي: ۱- چي د (إن) شرطيه دخول ورباندي صحيح وي . ۲- او دويم دا چي مضارع د (ما قبل) فعل لپاره مقصود ګرځول صحيح وي. كني مجزومه كېدل يې روا نه دي، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ۝﴾ [المدثر ۶]، يا لكه : (لا تُشرك بالله ؛ تدخل النّار) .

۹- قاعده : جزاء چي فعل جامد وي ؛ نو فاء ورباندي داخليږي، لکه : ﴿... إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ۝ فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ ...﴾ [الكهف: ۳۹-۴۰].

۱۰- قاعده : که چيري شرط او جزاء په مينځ د کلام کي واقع سي ؛ نو دوې وجې پکي جايز دي : ۱- جزم . ۲- او نصب . مګر جزم په دې کي زيات دى او رفع پکي ممتنع ده، لکه : (إنْ تستقم وتجتهد ؛ أكرمك).

د حروف جازمه و لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿... إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ۝﴾ [محمد: ۷]. ۲- ﴿ثُمَّ لْيَقْضُواْ تَفَثَهُمْ ...﴾ [الحج: ۲۹]. ۳- ﴿فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلًا وَلْيَبْكُواْ كَثِيرًا ...﴾ [التوبة: ۸۲]. ۴- ﴿... لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ۝﴾ [لقمان: ۱۳].

۵- ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ...﴾ [الأنعام: ۱۶۰]. ۶- (إِنْ تَذْهَبْ ؛ أَذْهَبْ) . ۷- (إِنْ تَكْتُبْ لِي ؛ كَتَبْتُ لَكَ) . ۸- (إِنْ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِيْنَ ؛ فَلَا تَحْتَرِمْهُمْ) . ۹- (إِنْ زُرْتَنِي أَحْتَرِمْكَ) . ۱۰- (إِنْ جِئْتَنَا ؛ فَجَزَاكَ اللهُ خَيْرًا) .

وَالثَّالِثُ : الْأَمْرُ، وَهُوَ صِيغَةٌ يُطْلَبُ بِهَا الْفِعْلُ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ

او دريم ډول [له فعل څخه] : امر دى او داهغه صيغه ده چي په دې سره طلب (پلټنه) کيږي د فعل له يو فاعل مخاطب څخه

د امر تعريف : هر کله چي فارغ سو مصنف رحمة الله عليه د بحث له مضارع څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بحث د امر کي چي دا دريم ډول د فعل دى په اعتبار د زماني سره او امر په لغت کي د کار کولو امر ته وايي او په اصطلاح کي عبارت دى له دې څخه چي څرنګه مصنف ووئيله : (هو صيغة يُطلب بها الفعل مِن الفاعل المخاطب) .

بِأَنْ تَحْذِفَ مِنَ الْمُضَارِعِ حَرْفَ الْمُضَارَعَةِ. ثُمَّ تَنْظُرَ. فَإِنْ كَانَ مَا بَعْدَ حَرْفِ الْمُضَارَعَةِ سَاكِنًا؛ زِدْتَ هَمْزَةَ الْوَصْلِ مَضْمُومَةً إِنِ انْضَمَّ ثَالِثُهُ. نَحْوُ : (أُنْصُرْ)، مَكْسُورَةً إِنِ انْفَتَحَ أَوِ انْكَسَرَ. كَـ(اِعْلَمْ، وَاضْرِبْ، وَاسْتَخْرِجْ)، وَإِنْ كَانَ مُتَحَرِّكاً؛ فَلَا حَاجَةَ إِلَى الْهَمْزَةِ. نَحْوُ : (عِدْ وَحَاسِبْ)

په داسي توګه چي حذف سي له مضارع څخه حرف د مضارعت، بيا به يې وګوري که وو وروسته تر حرف مضارعت يو (حرف) ساکن ؛ نو زيات به کړې همزه د وصل مضمومه که ضم سوى وو دريم (حرف) يې، لکه : (أُنْصُرْ) [او وګرځوه] مکسوره (دريم حرف) که فتح ورکول سوي وه، يا کسره ورکول سوې وه، لکه (اِعْلَمْ، وَاضْرِبْ، وَاسْتَخْرِجْ) او که وو متحرک ؛ نو حاجت نسته وهمزې ته، لکه : (عِدْ وَحَاسِبْ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه بيان د طريقې د امر حاضر د جوړولو بيانوي .

نو امر جوړيږي له فعل مضارع څخه او نه له فعل ماضي څخه ؛ ځکه د امر او مضارع اشتراک سته په استقبال کي، لکه امر چي څنګه دلالت په استقبال باندي کوي ؛ نو دا ډول مضارع دلالت په استقبال باندي کوي په خلاف د ماضي چي د امر ورسره داسي مناسبت نسته، پس له مضارع څخه به حرف مضارعت حذف کيږي لازما ؛ د دې لپاره چي د صيغې د مضارع اثر ختم سي، بيا تر حرف مضارعت وروسته چي کوم

حرف دی - هغه فاء کلیمه د مضارع ده ؛ نو دا به خالي نه وي یا به متحرک وي او یا به ساکن وي، که متحرک وي ؛ نو په آخر کي به جزم ورکول کیږي او په اول کي همزې ته ضرورت نشته ؛ ځکه ابتدا په ساکن نه لازمیږي، لکه : له (تَعِدُ) څخه به (عِدْ) جوړیږي او له (تحاسب) څخه به (حاسب) جوړیږي او که (ما بعد) د حرف مضارعت ساکن وو ؛ نو همزه وصلیه به راوړل کیږي ؛ د دې لپاره چي ابتدا په ساکن لازمه نه سي .

(۳۳۰) پوښتنه : د همزې پر ځای دې بل حرف راوړل سي لپاره د دفع د ابتدا په ساکن سره ؛ نو تخصیص د همزې ولې وسو ؟

جواب : د همزې او د ابتدا تر مینځ مناسبت دی ؛ ځکه همزه ادا کیږي د اول له مخارجو څخه ؛ نو له دې وجې تخصیص د همزې وسو، بیا دا همزه به مضمومه وي او یا به مکسوره وي، یعني همزه مضمومه به راوړل کیږي په هغه وخت کي چي عین کلیمه د مضارع مضموم وي، لکه له (تَنْصُر) څخه (اُنْصُرْ) او همزه مکسوره به راوړل کیږي په هغه وخت کي چي عین کلیمه د مضارع مفتوح او یا مکسور وي، لکه له (تعلم) څخه (اعلم) او له (تضرب) څخه (اضرب) .

(۳۳۱) پوښتنه : همزه مضمومه به ولې راوړل کیږي هغه وخت چي عین کلیمه د مضارع مضموم وي ؟

جواب : همزه مکسوره او مفتوحه په دې صورت کي ممکنه نه ده او هر چي عدم امکان د فتحي دی دا ؛ ځکه چي بیا به لازم سي التباس د واحد متکلم له مضارع معلوم خپل سره له دې باب څخه په حالت د وقف کي او هر چي عدم امکان د کسرې دی ؛ ځکه بیا به لازم سي خروج (وتل) له کسرې څخه ضمې ته او ! .

(۳۳۲) پوښتنه : دلته خروج له کسرې څخه ضمې ته نه لازمیږي ؛ ځکه د همزې او د عین په کلیمه کي فاء کلیمه نون دی ؟

جواب : نون ساکن دی او دا مانع نه واقع کیږي .

(۳۳۳) پوښتنه : همزه مکسوره ولې راوړل کیږي چي عین د مضارع مکسور وي ؟

جواب : همزه مفتوحه او مضمومه په دې صورت کي ممکنه نه ده، که مفتوح سي ؛ نو لازم به سي التباس له مضارع واحد متکلم خپل سره له دې باب څخه په حالت د وقف کي او مضموم کول هم ممکن نه دي : ځکه په صورت د ضمې سره لازمیږي التباس د امر د ماضي مجهولي له باب افعال سره په حالت د وقف کي .

(۳۳۴) پوښتنه : هر کله چي عین کلیمه مفتوح وي ؛ نو هلته ولې مکسوره همزه راوړل کیږئ ؟

جواب : دلته همزه مفتوح او مضمومه هم ممکنه نه ده : ځکه که مفتوح سي ؛ نو لازم به سي التباس د ماضي معلوم له باب افعال سره او ضمه هم ممکنه نه ده ؛ ځکه لازمیږي التباس د امر د واحد متکلم له مضارع مجهولي سره په حالت د وقف کي، پس هر کله چي ضمه او فتحه ممکنه نه وه ؛ نو کسره ورکول سوه .

وَالْأَمْرُ مِنْ بَابِ الْأَفْعَالِ مِنَ الْقِسْمِ الثَّانِيْ

او امر د باب افعال له دویم ډول څخه دی

تشريح : غرض د مصنف له دې عبارت څخه جواب د يو سوال دی او سوال دا دئ چې مخکې وويل سو چې عين کليمه د مضارع مکسور وي ; نو په اول کې به همزه مکسوره راوړل کيږي ; نو ستا دا قاعده منقوضه ده په (أكرِم) باندې چې دا امر دی او باب افعال د عين کليمې مکسور دی او همزه په اول کې مفتوحه راوړل سوې ده ; نو مصنف د دې سوال جواب ورکړی په دې خپل عبارت سره چې وېې ويل : (والأمر مِن باب الأفعال إلخ) .

مطلب دا چې حاصل د جواب دا دئ :

چې همزه وصليه به هله مکسوره راوړل کيږي چې پس تر حرف مضارعت ساکن وي فاء کليمه او دلته متحرکه ده چې هغه فاء کليمه حذف سوې ده ; څکه (أكرِم) جوړ له (كرم) څخه دی، پس کله چې اصل ته واړول سو چې اصل يې (كرم) دی ; نو امر ځني جوړ وو او هغه محذوفه همزه بيا راوګرځول سوه ; څکه دا کاف ساکن دی او پس تر راګرځولو له همزې څخه په خپل حرکت اصلي باقي پاته دی چې هغه فتحه ده ; نو دا همزه وصليه نه ده، بلکې همزه قطعيه ده او مخکې بحث زما په همزه وصليه کې وو، نه په قطعيه کې اه ! .

وَهُوَ مَبْنِيٌّ عَلَى عَلَامَةِ الْجَزْمِ كَ(اِضْرِبْ, وَاغْزُ, وَارْمِ, وَاسْعَ, وَاِضْرِبَا, وَاِضْرِبُوْا, وَاِضْرِبِيْ)

او دا (امر حاضر) مبني دی پر علامې د جزم لکه (اِضْرِبْ، وَاغْزُ، وَارْمِ، وَاسْعَ، وَاِضْرِبَا، وَاِضْرِبُوْا، وَاِضْرِبِيْ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه حکم د امر حاضر بيانوي ; نو په امر حاضر معروف کې په اعتبار د اعراب او بناء سره اختلاف دی چې په دې کې دوه مذهبه دي : کوفيان او بصريان .

کوفيان وايي : چې امر حاضر معروف معرب دی او اعراب د ده جزم دی په لام مقدره سره ; نو اصل د (اضرب) هغه (لتضرب) دی په لام سره، بيا لام او تاء ځني حذف سول او هر چې حذف د لام دی ; دا لپاره د تخفيف دی او هر چې حذف د حرف مضارعت چې تاء ده ; د دې لپاره چې اثر د صيغې د فعل مضارع ختم سي. پس د حذفېدو د حرف مضارعت له همزې څخه راوړل سوه په هغه صورت کې چې (ما بعد) ساکن وو او په خپل حالت باندې پاته سوه چې (ما بعد) متحرک وي او علت د اعراب د امر حاضر په نېز د کوفيانو باندې دا دئ : چې د امر په اعتبار له اصل سره (لتضرب) دی چې مشابهت له مضارع سرُه لفظا او معنا لري .

نو هر چې مشابهت لفظي دی ; دا ظاهر دی او هر چې مشابهت معنوي دی ; هغه دا دئ :

چې مضارع څنګه په معنا د حال او استقبال سره ده ; نو امر هم په معنا د حال او استقبال سره راځي او د دې مشابهت تامه له وجې څخه امر معرب سو چې علت د بناء په نېز د بصريانو دا دئ چې په امر کې علت د اعراب نه دئ موجود چې هغه (معاني مقتضية للإعراب) دي او مشابهت تامه له مضارع سره دی او په دې امر حاضر معروف کې دواړه امرين منتفي دي .

هر چې امر اول دی ; نو هغه انتفاء د (معاني مقتضية للإعراب) ده او دا ; خو ظاهره خبره ده او هرچې انتفاء د امر ثاني ده ; نو دا له دې وجې چې مشابهت تامه له فعل مضارع سره په وجود د حرف مضارعت باندې راځي او په دې کې حرف مضارعت نه دئ موجود او بناء د

امر حاضر معروف په نېز د بصريانو باندې په جزم سره نه ده؛ ځکه جزم يو ډول دی له ډولونو څخه د اعراب د فعل مضارع، بلکې بناء د امر حاضر معروف په وقف او سکون سره دی، مګر صورت او لفظا علامه د جزم پکې ده چې هغه سقوط د حرکت دی په مفرد صحيح کې او سقوط د نون دی په تثنيه، جمع او واحد مؤنث مخاطبه کې او حذف د حرف علت دی په ناقص کې اه!.

د امر حاضر معروف لپاره مختصر تمرين: ۱- ﴿.. اَضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ...﴾ [البقرة: ۶۰]. ۲- ﴿.. فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ...﴾ [البقرة: ۱۴۴] ۳- ﴿وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَرْيَمَ ...﴾ [مريم: ۱۶] ۴- ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ..﴾ [البقرة: ۲۱]. ۵- (اِسْمَعْ نَصِيْحَةَ أَبَوَيْكَ). ۶- (أُكْتُبِ الدَّرْسَ، وَاقْرَأِ الْمَجَلَّةَ). ۷- (أَيِّدِ الْعَامِلِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ).

فَصْلٌ: فِعْلٌ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ. هُوَ فِعْلٌ حُذِفَ فَاعِلُهُ وَأُقِيْمَ الْمَفْعُوْلُ مَقَامَهُ

فصل دی: فعل (د) هغه (مفعول) چې نه وي بلل سوی فاعل د هغه، دا هغه فعل دی چې حذف سوی وي فاعل د ده او درېدلی وي مفعول پر ځای د ده

د (فعل ما لم يُسمّ فاعله) **تعريف**: هر كله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ فارغ سو د اول ډول له فعل څخه چې هغه په اعتبار د زماني سره وو؛ نو شروع يې وکړه په دويم ډول د فعل کې چې هغه په اعتبار د اسناد سره دی.

پس دا فعل به خالي نه وي يا به اسناد د ده سوی وي فاعل او يا مفعول ته، که اول وو؛ نو فعل معروف، يا فعل معلوم، يا (فعل ما لم يُسمّ فاعله) ورته وايي، يا (فعل مبني للفاعل) او يا (فعل ذكر فاعله) ورته وايي او که دويم وو: نو (فعل مجهول)، يا (فعل ما لم يُسمّ فاعله)، يا (مبني للمفعول) او يا (فعل حُذف فاعله) ورته وايي.

لغوي تحقيق: په معنا لغوي د (فعل ما لم يسم فاعله) کې دوه احتماله دي: اول احتمال کليمه د (ما) په (ما لم يُسم فاعله) کې موصوله ده په معنا د (الّذي) سره او (يسم) په معنا د (يذكر) سره دی او (فاعله) لفظ نائب فاعل دی د (لم يسم فاعله) لپاره، پس (يذكر) سره له نائب فاعله جمله، صله او موصول سره له صلې صفت د موصوف محذوف دی چې هغه (المفعول) دی؛ نو تقدير د عبارت داسې دی: (فعل المفعول الّذي لم يذكر فاعله). او دويم احتمال د (ما) موصوله دا دئ: چې مراد له (ما) څخه فعل دی او (لم يسمّ) په معنا د (لم يذكر) سره او (فاعله) نائب فاعل دی؛ نو دا صله سوه د موصول چې تقدير د عبارت داسې دی: (فعل الفعل الّذي لم يسم).

(۳۳۵) پوښتنه: په دويم احتمال کې لازميږي اضافت د شي خپل نفس ته او دا باطل دی؟

جواب: دا اضافت بياني دی چې اضافت د عام سوی دی وضافت خاص ته: نو اول فعل عام دی او دويم فعل خاص دی او معنا اصطلاحي مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ ذکر کړې ده په دې خپل عبارت سره چې وايي: (هو فعل حُذف فاعله وأقيم المفعول مقامه).

هغه ځايونه چې مفعول پکې دريږي پر ځاى د فعل : هغه ځايونه چې اقامت د مفعول پکې کيږي پر ځاى د فاعل ؛ هغه اووه ۷ دي : ۱- له وجې د عدم علم په فاعل باندي، لکه : (يُسرق المتاع) . ۲- له وجې د خساست د فاعل، لکه : (شتم الخليفة)، أي : شتم زيد الخليفة . ۳- له وجې د عظمت، لکه : (قطع اللص)، أي : قطع الأمير اللص . ۴- له وجې د اختصاره، لکه : (أقيمت الصّلاة)، أي : أقام الإمام الصّلاة . ۵- له وجې د رعايت د سجعي، لکه : دا قول د الله تعالى سو : ﴿وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ﴾ [الليل: ۱۹].

۶- له وجې د علم د مخاطب په فاعل باندي، لکه : ﴿۞أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ﴾ [العاديات: ۹]، أي : بعثر الله . ۷- له وجې د شهرته، لکه : ﴿قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ﴾ [الذاريات: ۱۰] .

وَيَخْتَصُّ بِالْمُتَعَدِّيْ

او دا خاصيږي په متعدي پوري

تشريح : غرض د مصنف رحمه الله له دې عبارت څخه دا دئ : چې (فعل ما لم يسم فاعله) په فعل متعدي پوري خاص دی، نه په لازمي پوري، په دا سي توګه چې فعل متعدي تقسيميږي فعل معلوم او فعل مجهول دواړو ته او هرچې فعل لازمي دی ؛ نو دا خاص دی په فعل معلوم پوري او وجه د اختصاص دا ده : که چيري له فعل لازمي څخه (فعل ما لم يسم فاعله) جوړ کړل سي په داسي توګه چې فاعل څني حذف سي : نو لازم به سي عدم وجود د (مسند إليه) د فعل لپاره او دا باطل دی ؛ ځکه د فعل لازمي مفعول نسته چې هغه قائم سي په ځاى د فاعل باندي او (مسند إليه) سي لپاره د فعل .

(۳۳۶) پوښتنه : ذکر کول د دې عبارت چې (ويختصّ بالمتعدّي) : دا وروسته له دې عبارت څخه چې وايي : (وأقيم المفعول مقامه) مستدرک او بې فايدې دی ؛ ځکه اختصاص د (فعل ما لم يسم فاعله) معلوم سوی دی له دې عبارت څخه چې وايي : (وأقيم المفعول مقامه) ؛ ځکه مفعول د فعل متعدي لپاره وي، نه د لازمي لپاره ؟

جواب : دا تصريح په هغه څه سره چې علم ورباندي راغلى وي ضمنا ده، يعني له مخکي عبارت څخه ضمنا معلومه سوه چې (فعل ما لم يسم فاعله) خاص دی په فعل متعدي پوري او په دې عبارت سره مصنف صاحب تصريح وکړه او تصريح په هغه څه سره چې علم ورباندي راسي ضمنا جايز ده .

وَعَلَامَتُهُ فِي الْمَاضِيْ أَنْ يَكُوْنَ أَوَّلُهُ مَضْمُوْمًا فَقَطْ، وَمَا قَبْلَ آخِرِهِ مَكْسُوْرًا فِي الْأَبْوَابِ الَّتِيْ لَيْسَتْ فِيْ أَوَائِلِهَا هَمْزَةُ وَصْلٍ، وَلَا تَاءٌ زَائِدَةٌ. نَحْوُ : (ضُرِبَ. وَدُحْرِجَ. وَأُكْرِمَ)

او علامه د ده په فعل ماضي کي دا ده چې وي به اول د ده مضمومه فقط او (ما قبل) آخر به يې مکسوره وي په هغو بابونو کي چې نسته په اولو د هغو کي همزه د وصل او نه تاء زائده. لکه : (ضُرِبَ، وَدُحْرِجَ، وَأُكْرِمَ)

(۲۳۷) پوښتنه: تغیر په فعل معلوم کي ولې نه وسو لپاره د فرق؟

جواب: (فعل ما لم یسم فاعله) فرع د فعل معلوم ده او فرع اولی ده په تغیر سره له اصل څخه.

يادونه: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د (فعل ما لم یسم فاعله) درې صورتونه ذکر کوي او په درو سره ؤکي په دې عبارت کي فقط د لومړي صورت بیان کوي چي هغه يې په داغه عبارت کي تشريح کړی دی او د دې اول صورت لړ څه تفصیل مولوي نصير الحق صاحب کړی دی؛ د تفصیل لپاره د ده شرحه (كفاية النحو) ته مراجعه وکړه!.

وَأَنْ يَكُوْنَ أَوَّلُهُ وَثَانِيْهِ مَضْمُوْمًا، وَمَا قَبْلَ آخِرِهِ كَذَلِكَ فِيْمَا فِيْ أَوَّلِهِ تَاءٌ زَائِدَةٌ، نَحْوُ: (تُفُضِّلَ، وَتُضُوْرِبَ)

او دا چي وي به اول او دويم (حرف) يې مضمومه او (ما قبل) آخر يې هم دا ډول په هغه څه کي چي په اول کي يې تاء زائده راغلې وي، لکه: (تُفُضِّلَ، وَتُضُوْرِبَ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دويم صورت د (فعل ما لم یسم فاعله) ذکر کوي په داسي توګه چي د کومو بابونو په اول کي چي تاء زائده وي، لکه باب (تفعل) او (تفاعل).

او په دې کي به حرف اول چي تاء او حرف ثاني چي فاء کليمه ده دواړه به مضموم وي او (ما قبل) آخر حرف به هغه ډول مكسور وي، دغه ډول په باب (تفعلل) رباعي مزید فيه کي هم دا حکم دی، مګر مصنف له وجي د اختصاره د هغې ذکر يې نه دئ کړی.

وَأَنْ يَكُوْنَ أَوَّلُه وَثَالِثُهُ مَضْمُوْمًا وَمَا قَبْلَ آخِرِهِ كَذَلِكَ فِيْمَا فِيْ أَوَّلِهِ هَمْزَةُ وَصْلٍ، نَحْوُ: (أُسْتُخْرِجَ، وَاقْتُدِرَ). وَالْهَمْزَةُ تَتْبَعُ الْمَضْمُوْمَ إِنْ لَمْ تُدْرَجْ

او دا چي وي به اول او دريم (حرف) يې مضمومه او (ما قبل) آخر يې هم دا ډول په هغه څه چي په اول کي يې همزه د وصل راغلې وي، لکه: (أُسْتُخْرِجَ، وَاقْتُدِرَ). او همزه تابع كيږي د مضموم كله چي مدرجه نه سي

تشريح: په دې عبارت سره مصنف صاحب دریم صورت د (فعل ما لم یسم فاعله) ذکر کوي په داسي توګه چي د کومو ابوابو په اول کي همزه وصليه وي، لكه: (استخرج) او (اقتدر) چي باب استفعال او باب افتعال وي؛ نو په دې کي به حرف اول او ثالث مضموم وي او دغه ډول دا حکم د باب انفعال او باب افعنلال او باب افعوال هم دی.

(۲۳۸) پوښتنه: دا مغايرت حاصليږي په ضمې د اول حرف سره؛ نو دريم حرف ولې مضموم كيږي؟

جواب: كه اكتفاء په ضمې د حرف اول سوې وای او ثالث ته ضمه نه وای وركړل سوې؛ نو لازم سوی به وای التباس د ماضي مجهولي د امر له دې ابوابو سره په حالت د وصل کي په اول د هر باب کي او په وقف سره په آخر د هر باب کي؛ ځكه په دې کي همزه وصليه ده چي دا په لفظ کي په وصلي توګه ساقطيږي او په کتابت کي موجوده وي.

وَفِي الْمُضَارِعِ أَنْ يَكُوْنَ حَرْفُ الْمُضَارَعَةِ مَضْمُوْمًا. وَمَا قَبْلَ آخِرِهِ مَفْتُوْحًا. نَحْوُ: (يُضْرَبُ وَيُسْتَخْرَجُ) إِلَّا فِيْ بَابِ الْمُفَاعَلَةِ وَالْإِفْعَالِ. وَالتَّفْعِيْلِ. وَالْفَعْلَلَةِ.

وَمُلْحَقَاتِهَا الثَّمَانِيَةِ؛ فَإِنَّ الْعَلَامَةَ فِيْهَا فَتْحُ مَا قَبْلَ الْآخِرِ. نَحْوُ: (يُحَاسَبُ وَيُدَحْرَجُ)

او په مضارع كې دا دئ چې وي به حرف د مضارعت مضمومه او (ما قبل) آخر يې مفتوحه وي، لکه: (يُضْرَبُ وَيُسْتَخْرَجُ) مګر په باب د (الْمُفَاعَلَةِ وَالْإِفْعَالِ، وَالتَّفْعِيْلِ، وَالْفَعْلَلَةِ).

او ملحقاتو د اتو کې؛ ځکه علامه په دې کې فتحه د (ما قبل) آخر ده، لکه: (يُحَاسَبُ وَيُدَحْرَجُ)

ځه تشريح: هر کله چې مصنف رحمة الله عليه فارغ سو د علامې له (مفعول ما لم يسم فاعله) څخه په ماضي کې؛ نو شروع يې وکړه په بيان د (مفعول ما لم يسم فاعله) په مضارع کې چې مجهوله وي.

وَفِي الْأَجْوَفِ مَاضِيَةً. (قِيْلَ وَبِيْعَ). وَبِالْإِشْمَامِ (قِيْلَ وَبِيْعَ). وَبِالْوَاوِ (قُوْلَ وَبُوْعَ)

او په اجوف ماضي کې به راځي (قِيْلَ وَبِيْعَ) او په اشمام سره به راځي (قِيْلَ وَبِيْعَ) او په واو سره به راځي (قُوْلَ وَبُوْعَ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه اجوف د ماضي تعليل ته اشاره کوي او په دې کې درې وجې دي چې د واو او يا حرکت د (ما قبل) ته نقل سي د (قُوِلَ) او (بُيِعَ) په سلب د حرکت د (ما قبل) سره او واو په قول کې بدل سي په ياء سره په قانون د ميعاد سره؛ نو (قيل) به ځني جوړ شي او په (بُيِعَ) کې صرف نقل د حرکت (ما قبل) ته کيږي او يا په خپل ځای باندې پاتيږي.

او (إشمام) دې ته وايي: چې کسره د فاء کليمې مائله سي او عين چې ياء ده واو طرف ته مائله سي.

وَكَذَلِكَ بَابُ (أُخْتِيْرَ. وَانْقِيْدَ) دُوْنَ (أُسْتَخِيْرَ. وَأُقِيْمَ) لِفَقْدِ فُعِلَ فِيْهِمَا

او دا دوول باب د (أُخْتِيْرَ، وَانْقِيْدَ) دی بېله (أُسْتَخِيْرَ وَأُقِيْمَ) له وجې د ورکېدو د (فُعِلَ) په دوی دوو کې

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه اشاره کوي لکه څرنګه چې په ماضي مجهول د اجوف ثلاثي مجرد کی درې وجې دي؛ نو دغه دوول وجوه ثلاثه په ماضي مجهول د ثلاثي مزيد فيه باب افتعال او انفعال کې هم کېدای سي؛ ځکه له دوی څخه چې اول دوه حرفه ليرې سي؛ نو وزن د (فُعِلَ) به ځني جوړ سي، له (أُخْتِيْرَ) څخه به (تير) جوړ سي او له (أُنْقِيْدَ) څخه به (قيد) جوړ سي او په دوول د (قيل) او (بيع) دي، مګر دا درې وجې په ماضي مجهول د باب افعال او استفعال کې نه جاري کيږي؛ ځکه په دوی کې صورت د فعل نه جوړيږي، بلکې په دې کې صرف صورت اول جوړيږي؛ ځکه په دوی کې له حرف علت څخه (ما قبل) د اصل په اعتبار سره ساکن دی چې په اصل کې (أُسْتُخْيِرَ وَأُقْوِمَ) دی.

وَفِيْ مُضَارِعِهِ تُقْلَبُ الْعَيْنُ أَلِفًا، نَحْوُ : (يُقَالُ، وَيُبَاعُ) كَمَا عَرَفْتَ فِي التَّصْرِيْفِ مُسْتَقْصًى .

او په مضارع كې يې اوړي (يعني : بدليږي) عين په الف سره، لكه : (يُقَالُ، وَيُبَاعُ) لكه څرنګه تا پېژندله په تصريف كې په پوره توګه

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله اجوف د مضارع مجهول تعليل ته اشاره كوي چې مضارع مجهول د اجوف واوي وي او كه د يائي وي ؛ نو عين كليمه به بدليږي په الف سره په داسې توګه چې حركت د واو او يا به (ما قبل) ته نقل سي چې هغه فتحه ده او واو او يا ساكن (ما قبل) مفتوح به په الف سره بدل سي ؛ نو په (يُقْوَلُ) او (يُبْيَعُ) كې به (يُقَالُ) او (يُبَاعُ) ويل كيږي .

د (فعل ما لم يسم فاعله) لپاره مختصر تمرين : ١- ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ...﴾ [البينة: ٥] . ٢- (أُدِبَتِ الْبِنْتُ) . ٣- (أُسْتُجِيْبَتْ دَعْوَتُهُ) . ٤- (نُظِّمَ الْعَمَلُ) . ٥- (يُنْظَرُ غَدًا فِي الْأَمْرِ) .

فَصْلٌ : اَلْفِعْلُ إِمَّا مُتَعَدٍّ . وَهُوَ مَا يَتَوَقَّفُ فَهْمُ مَعْنَاهُ عَلَى مُتَعَلَّقٍ غَيْرِ الْفَاعِلِ . كـ(ضَرَبَ)

فصل دی : فعل يا به متعدي وي او دا هغه دی چې موقوفه وي پاميدل د معنا يې پر متعلق د غير فاعل، لكه (ضَرَبَ)

تشريح : په دې فصل كې مصنف رحمه الله بل تقسيم د فعل كوي دوو ډولونو ته چې يو متعدي دی او بل لازمي دی ؛ نو د فعل معنا به يا موقوفه وي په متعلق پوري چې غير وي له فاعل څخه او يا به نه وي موقوفه په غير د فاعل پوري، كه اول ډول وو : نو فعل متعدي او كه دويم ډول وو : نو فعل لازمي دی .

(٣٣٩) پوښتنه : ستا په تعريف د فعل متعدي كې فعل لازمي داخل سو : ځكه هغه هم موقوف دی په غير د فاعل پوري چې مفعول فيه او مفعول له دئ ؟

جواب : مراد زموږ له متعلق څخه مفعول به دی. نه مفعول فيه او مفعول له .

وَإِمَّا لَازِمٌ . وَهُوَ مَا بِخِلَافِهِ . كـ(قَعَدَ وَقَامَ)

او يا به لازمي وي او دا (فعل) په خلاف د هغه (فعل متعدي) دی، امثال يې لكه (قَعَدَ وَقَامَ)

تشريح : دويم ډول فعل لازمي دی چې دا په خلاف د فعل متعدي دی چې معنا د ده موقوف نه ده په مفعول به پوري. البته مفعول فيه او مفعول له او داسې نور څه غواړي .

فايده : فعل لازمي كله متنقل كيږي متعدي ته : نو ګرځي متعدي او د دې لپاره شپږ طريقې دي : ١- په حرف جر سره لازمي متعدي كيږي، لكه : ﴿... ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ ...﴾ [البقرة: ١٧] ٢- په همزې د بابِ افعال سره لازمي متعدي كيږي. لكه : (أَذْهَبتُ زَيدًا ؟) . ٣- په نقل سره باب تفعيل ته لازمي متعدي كيږي. لكه : له (فَرِحَ زَيدٌ) څخه (فَرَّحتُ زَيدًا) ٤- د باب مفاعله په الف سره لازمي

متعدي کيږي، لکه له (مشي زيدٌ) څخه (ماشيت زيدا) . ۵- د باب استفعال په سين سره لازمي متعدي کيږي، لکه له (خرج زيدٌ) څخه (استخرجتُ زيدا) . ۶- او چې کله فعل لازمي تضمن د معنا د فعل متعدي وکړي .

بله فايده : کله فعل متعدي لازمي هم ګرځي او هغه په نون د باب انفعال او په تاء د باب تفعل سره، لکه (قطع) متعدي دی او (انقطع) لازمي دی، دا ډول چې نقل سي باب تفعل ته، لکه (تقطع) اه ! .

وَالْمُتَعَدِّيْ قَدْ يَكُوْنُ إِلَى مَفْعُوْلٍ وَّاحِدٍ كَـ(ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

او متعدي په تحقيق سره کله ګرځي [يعني : کله متعدي کيږي] او يو مفعول ته لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د فعل متعدي وېش کوي څلورو ډولونو ته، اول ډول له هغو څخه دا دئ چې متعدي کيږي يو مفعول ته، لکه (ضرب زيدٌ عمرًوا) .

وَإِلَى مَفْعُوْلَيْنِ، كَـ(أَعْطَى زَيْدٌ عَمْرًوا دِرْهَمًا)، وَيَجُوْزُ فِيْهِ الْاِقْتِصَارُ عَلَى أَحَدِ مَفْعُوْلَيْهِ، كَـ(أَعْطَيْتُ زَيْدًا)، أَوْ (أَعْطَيْتُ دِرْهَمًا) بِخِلَافِ بَابِ "عَلِمْتُ"

او کله متعدي کيږي ودوو مفعولو ته، لکه (أَعْطَى زَيْدٌ عَمْرًوا دِرْهَمًا) او روا دي په دې کې اقتصار پر يو د دوو مفعولو، لکه (أَعْطَيْتُ زَيْدًا)، يا (أَعْطَيْتُ دِرْهَمًا) په خلاف د باب د "عَلِمْتُ"

څه تشريح : درېيم ډول له فعل متعدي څخه چې متعدي کيږي دوو مفعولينو ته چې په دې کې اکتفاء په يو د دوی دوو سره روا نه ده چې يو ځنې حذف سي او اکتفاء په بل وسي، بلکې دواړه به ذکر کيږي، لکه باب د (علمت)، يعني په افعال قلوب کې يې مثال (علمت زيدا فاضلا) ويل کيږي او دا جايز نه دئ اه ! .

(۳۴۰) پوښتنه : په باب د (أعطيت) کې يو مفعول حذف کېدای سي او په باب د (علمت) کې نه سي حذف کېدای ؛ نو د دې څه وجه ده ؟

جواب : په باب د (أعطيت) کې د مفعولينو مصداق يو نه دی ؛ ځکه په اصل کې مبتدا او خبر نه دي ؛ نو حذف د يو مفعول پکې جايز دی او په باب د (علمت) کې د مفعولينو مصداق يو دی چې په اصل کې مبتدا او خبر دي .

او په دوی دواړو کې تلازم دی د مبتدا لپاره خبر ضروري او لازم وي او د خبر لپاره مبتدا ضروري وي . دغه راز په دې مفعولينو د باب (علمت) کې تلازم دی چې حذف د يو د دوی دوو نه سي پکې کېدای .

وَإِلَى ثَلَاثَةِ مَفَاعِيلَ، نَحْوُ: (أَعْلَمَ اللّٰهُ زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا)، وَمِنْهُ (أَرَى، وَأَنْبَأَ، وَنَبَّأَ، وَأَخْبَرَ، وَخَبَّرَ، وَحَدَّثَ)

او متعدي کيږي ودريو مفعولو ته، لکه: (أَعْلَمَ اللّٰهُ زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا) اوله دې څخه (أَرَى، وَأَنْبَأَ، وَنَبَّأَ، وَأَخْبَرَ، وَخَبَّرَ، وَحَدَّثَ) هم دي

فايده: په دې څلورم ډول کي اصل (أعلم) دی، کله چي په دوی باندي همزه داخله نه وي؛ نو دوی متعدي کيږي دوو مفعولينو ته او هر کله چي همزه ورباندي داخله سوه؛ نو د دريم مفعول زياتوب پکي وسو له وجي د همزې او باقي افعال (أنبأ) او (نبأ)؛ دا اصل نه دي په تعديت کي دريو مفعولو ته؛ ځکه د دوی تعديت دريو مفعولو ته له دې وجي دی چي دوی د اعلام په معنا مشتمل دي، لهذا دوی قائم مقام د (أعلم) سو، له دې وجي دريو مفعولو ته متعدي کيږي او په مذهب د اخفش باندي (أظننت، أحسبت، أخلت) او (زعمت) دا څلور افعال هم د (أعلمت) قائم مقام دي؛ نو دوی هم د (أعلمت) په ډول دريو مفعولو ته متعدي کيږي.

وَهٰذِهِ السَّبْعَةُ مَفْعُوْلُهَا الْأَوَّلُ مَعَ الْأَخِيْرَيْنِ كَمَفْعُوْلَيْ (أَعْطَيْتُ) فِيْ جَوَازِ الْاِقْتِصَارِ عَلٰى أَحَدِهِمَا تَقُوْلُ: (أَعْلَمُ اللّٰهُ زَيْدًا)، وَالثَّانِيْ مَعَ الثَّالِثِ كَمَفْعُوْلَيْ عَلِمْتُ فِيْ عَدَمِ جَوَازِ الْاِقْتِصَارِ عَلٰى أَحَدِهِمَا؛ فَلَا تَقُوْلُ: (أَعْلَمْتُ زَيْدًا خَيْرَ النَّاسِ). بَلْ تَقُوْلُ: (أَعْلَمْتُ زَيْدًا عَمْرًوا خَيْرَ النَّاسِ)

او دغه اووه چي اول مفعول يې له نورو دوو سره په شان د دوو مفعولو د (أَعْطَيْتُ) دی په روايت کي د اقتصار پر يو د دوی وو چي ته به يې داسي وايې: (أَعْلَمُ اللّٰهُ زَيْدًا) او دويم له دريم سره لکه دوه مفعوله د (عَلِمْتُ) داسي دي په نه روايت کي د اقتصار پر يو د دوی دوو؛ نو ته به يې داسي نه وايې: (أَعْلَمْتُ زَيْدًا خَيْرَ النَّاسِ). بلکي ته به يې داسي وايې: (أَعْلَمْتُ زَيْدًا عَمْرًوا خَيْرَ النَّاسِ)

تشريح: مصنف رحمة الله عليه په دې عبارت سره حکم د دريو مفعولو بيانوي چي دويم مفعول له وروسته دوو سره داسي تړلو لري، لکه د باب د (أعطيت) مفعولين چي يو له بل سره څرنګه تړاو لري چي په حذف کي له هنوی څخه يو حذف کېدای سي؛ نو په دې دريو کي هم اولنی حذف کېدای سي او له وروسته دواړو سره حذف هم جايز دی. لکه: (أعلم الله عمروا فاضلا) جايز دی، دا ډول (أعلم الله زيدا) ويل هم جايز دي.

په اول مثال کي مفعول اول حذف سو چي (زيدا) دی او په دويم مثال کي دوه معموله حذف سول چي (عمروا فاضلا) دي او د دوو مفعولو تړاو يو له بل سره داسي دی، لکه د باب (أعلمت) د مفعولو چي يو له بل سره تړاو دی چي حذف د يو د دوی دوو پکي جايز نه دي، لکه: (أعلمت زيدا عمروا خير النّاس)؛ په دې مثال کي (أعلمت زيدا خير النّاس) ويل صحيح نه دی په داسي توګه چي حذف د دويم مفعول پکي راغلی دی اه!.

د فعل متعدي او فعل لازمي لپاره مختصر تمرين: ۱- ﴿أُبَلِّغُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي ...﴾ [الأعراف: ۶۲] . ۲- ﴿وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ [النصر: ۲] . ۳- ﴿وَلَا تَبْخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْاْ فِي ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾ [الشعراء: ۱۸۳] . ۴- ﴿... يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ..﴾ [البقرة: ۱۶۷] . ۵- (أَعْطَيْتُ الْفَقِيْرَ ثَوْبًا) . ۶- (ظَنَنْتُ سَعِيْدًا وَاقِفًا) . ۷- (فَرِحَ الطِّفْلُ) .

فَصْلٌ: أَفْعَالُ الْقُلُوْبِ: (عَلِمْتُ، وَظَنَنْتُ، وَحَسِبْتُ، وَخِلْتُ، وَرَأَيْتُ، وَوَجَدْتُ، وَزَعَمْتُ)

فصل دی: د افعال قلوبو: (عَلِمْتُ، وَظَنَنْتُ، وَحَسِبْتُ، وَخِلْتُ، وَرَأَيْتُ، وَوَجَدْتُ، وَزَعَمْتُ)

تشريح: هر كله چي فارغ سو مصنف رحمة الله عليه د بيان له فعل متعدي او لازمي څخه؛ نو شروع يې وكړه په بل تقسيم د فعل كي دوو قسمونو ته: ۱- (فعل قلب) . ۲- (فعل جارحة)، مګر (فعل قلب) ذكر كوي له وجي د حصر د ده او (فعل غير قلب) چي (جارحة) دی؛ هغه ځني معلوميږي مقايسة او غير محصور هم دی چي ذكر يې ممكن نه وو؛ نو پرېښوول يې د هغه وكړه.

د افعال قلوبو وجه تسميه: دوی ته (افعال قلوب)، يعني: د زړه فعلونه (كارونه)؛ ځكه وايي چي په دې كي معنا د يقين او ظن ده او د دې تړاو له اعضاء ظاهري سره نه دی، بلكي له قلب سره دی؛ نو له دې وجي دې ته (افعال قلوب) وايي او دويم اسم د دوی افعالو يقين او شك دی او د شك معنا په خلاف د يقين ده؛ ځكه ځيني د يقين لپاره راځي او ځيني د شك لپاره راځي.

د افعال قلوبو شمير: په تتبع او استقراء سره افعال قلوب اووه ۷ ثابت سوي دي چي په دې كي درې د يقين لپاره دي او هغه دا دي: ۱- (علمت) . ۲- (رأيت) . ۳- او (وجدت) او درې د شك لپاره دي او هغه دادي: ۱- (ظننت) . ۲- (حسبت) . ۳- او (خلت) او يو مشترک دی په مېنځ د يقين او شك كي چي هغه (زعمت) دی او دا كله د يقين لپاره راځي او كله د شك لپاره راځي، لكه: (زعمت الشيطان شكورا) .

(۳۴۱) پوښتنه: له دې افعالو څخه په ماضي سره ولې تعبير وسو، بيا خاص په صيغه د متكلم سره؟

جواب: له دې افعالو څخه تعبير په ماضي سره كېدای سي، مګر په ماضي پوري خاص نه دي، بلكي له دې څخه مطلق افعال مراد دي، برابره خبره ده كه ماضي وي او كه مضارع وي او تعبير په صيغه د متكلم سره دی: ځكه هر انسان د خپل (قلب)، يعني: د زړه افعال نه پېژني په نسبت سره وبل ته؛ ځكه غالبا په افعالو كي تعبير په متكلم سره كيږي.

وَهِيَ أَفْعَالٌ تَدْخُلُ عَلَى الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ؛ فَتَنْصِبُهُمَا عَلَى الْمَفْعُوْلِيَّةِ، نَحْوُ: (عَلِمْتُ زَيْدًا عَالِمًا)

او دا افعال داخليږي پر مبتدا او خبر؛ نو نصب وركوي پر مفعوليت، لكه: (عَلِمْتُ زَيْدًا عَالِمًا)

خه تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه مدخول او عمل د افعال قلوبو ذکر کوي ؛ نو مدخول د دوی مبتدا او خبر دی او عمل د دوی نصب دی بنا پر مفعولیت اه !.

(۳۴۲) پوښتنه : دا افعال په جمله اسمیه داخلیږي، نه په جمله فعلیه باندي ؟

جواب : دوی په جمله کي عمل کوي او دا عمل د دوی متصور دی په جمله اسمیه کي، نه په جمله فعلیه کي ؛ ځکه بیا لازمیږي کون د فعل عامل په فعل کي او دا باطل دی .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ لِهٰذِهِ الْأَفْعَالِ خَوَاصَّ. مِنْهَا : أَنْ لَا تُقْتَصَرَ عَلَى أَحَدِ مَفْعُوْلَيْهَا بِخِلَافِ بَابِ (أَعْطَيْتُ) ؛ فَلَا تَقُوْلُ : (عَلِمْتُ زَيْدًا)

او پوه سه ! په دې چي دغو افعالو لره خاصیات (ځانګړتیاوي) دي، له هغو څخه دا دئ : چي اقتصار به نه کیږي پر یو د مفعولو یې په خلاف د باب د (أَعْطَيْتُ) ؛ نو ته به یې داسي نه وایې : (عَلِمْتُ زَيْدًا)

خه تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه ځیني خاصیات د افعال قلوب ذکر کوي او هغه دلته څلور ذکر کوي او په هغو کي اوله خاصه بیانوي او د دې وجه مخکي ذکر سوی ده په بیان د فعل متعدي او لازمي کي اه !.

وَمِنْهَا : جَوَازُ الْإِلْغَاءِ إِذَا تَوَسَّطَتْ. نَحْوُ : (زَيْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ)، أَوْ تَأَخَّرَتْ. نَحْوُ : (زَيْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ)

او له هغو خاصیاتو څخه دا دئ : چي جواز د الغاء دی کله چي په مینځ کي سي، لکه : (زَيْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ)، یا چي وروسته سي، لکه : (زَيْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ)

تشریح : په دې عبارت سره دویم خاصیت ذکر کوي چي هغه الغاء ده او الغاء وایي : بطلان د عمل ته لفظا او معنا او د دې دوه صورتونه دي : ۱- چي (افعال قلوب) د دواړه مفعولینو په مینځ کي راسي، لکه : (زید ظننت قائم) . ۲- او چي (افعال قلوب) تر دواړو مفعولینو وروسته راسي، لکه : (زید قائم ظننت) .

نو په دې دواړو صورتونو کي (أفعال قلوب ملغي عن العمل) دي لفظا او معنا، پس افعال قلوب به په دې صورت کي په معنا د مصدر سره وي چي تعبیر به په ظرف ځني کیږي ؛ نو تقدیر د عبارت به داسي : (زید في ظني قائم)، یا لکه : (زید قائم في ظني) .

(۳۴۳) پوښتنه : (افعال قلوب) په دې صورت کي ولې ملغي سول له عمل کولو څخه ؟

جواب : هر کله چي دوی په توسط (مینځ) کي راغلل او یا (مؤخر)، یعني : وروسته سول تر مفعولینو ؛ نو (ضعیف العمل) وګرځېدل، مګر دا مسئله د جواز ده ؛ نو په صورت د توسط سره عمل د دوی اولی دی او په صورت د تأخر سره ابطال د عمل اولی دی .

وَمِنْهَا : إِنَّهَا تُعَلَّقُ إِذَا وَقَعَتْ قَبْلَ الْإِسْتِفْهَامِ. نَحْوُ : (عَلِمْتُ أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟). وَقَبْلَ النَّفْيِ. نَحْوُ : (عَلِمْتُ مَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ)، وَقَبْلَ لَامِ الْإِبْتِدَاءِ. نَحْوُ : (عَلِمْتُ لَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ)

او له هغو خاصياتو څخه دا دئ: چي بېشكه دا ترا و پيدا كوي كله چي واقع سي مخكي تر استفهام، لكه: (عَلِمْتُ أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟) او مخكي تر نفي يې، لكه: (عَلِمْتُ مَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ) او مخكي تر لام د ابتداء، لكه: (عَلِمْتُ لَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دريم خاصيت د افعال قلوبو ذكر كوي چي هغه (تعليق) دی او د (تعليق) معنا دا ده: چي لفظا عمل د دوی باطل سي او معنا نه سي باطل، يعني: اهمال لفظي او اعمال معنوي ته (تعليق) وايي او د دې (تعليق) درې صورتونه دي: ١- چي (افعال قلوب) مخكي تر استفهام راسي، لكه: (علمت أزيدٌ عِندك أم عمرو ؟). ٢- چي افعال قلوب مخكي تر نفي يې راسي، لكه: لكه: (علمت ما زيدٌ في الدّار). ٣- چي (افعال قلوب) مخكي تر لام ابتدائيه يې راسي، لكه: (علمت لزيد منطلق)؛ په دې صورتونو كي ولې عمل لفظا نه كوي؛ ځكه چي دا درې سره تقاضا د صدارت په كلام كي كوي، پس هر كله چي افعال قلوب په دې صورتونو كي عمل وكړي؛ نو د دوی صدارت به فوت سي، له دې وجې د دوی عمل لفظا باطل وګرځول سو، نه معنا اه!.

وَمِنْهَا: إِنَّهَا يَجُوْزُ أَنْ يَكُوْنَ فَاعِلُهَا وَمَفْعُوْلُهَا ضَمِيْرَيْنِ لِشَيْءٍ وَّاحِدٍ، نَحْوُ: (عَلِمْتَنِيْ مُنْطَلِقًا، وَظَنَنْتُكَ فَاضِلًا)

او له هغو خاصياتو څخه دا دئ: چي بېشكه وي به فاعل او مفعول يې دوه ضميرونه د يو شي لپاره، لكه: (عَلِمْتَنِي مُنطَلِقًا، وَظَنَنْتُكَ فَاضِلًا)

تشريح: مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره څلورم خاصيت د افعال قلوبو ذكر كوي او هغه دا دئ: چي په دې (افعال قلوب) كي فقط دا جايز دي چي د دوی فاعل او مفعول دواړه ضمير متصل د يو شي لپاره سي، يعني: د متكلم لپاره، يا د يو مخاطب لپاره او يا د غائب لپاره كېدای سي، لكه: (علمتني منطلقا)، يا (ظننتك فاضلا) په خلاف د نورو افعالو چي په هغو كي دا جايز نه دي، لكه داسي نه سي ويل كېدای: (ضربتني)، يا (ضربتك)، بلكي (ضربت نفسي) او (ضربت نفسك) به ويل كيږي په زياتوب د نفس سره په مينځ د ضمير د فاعل او د ضمير د مفعول كي اه!.

وَاعْلَمْ! أَنَّهُ قَدْ يَكُوْنُ (ظَنَنْتُ) بِمَعْنَى (اتَّهَمْتُ)، وَ(عَلِمْتُ) بِمَعْنَى (عَرَفْتُ)، وَ(رَأَيْتُ) بِمَعْنَى (أَبْصَرْتُ)، وَ(وَجَدْتُ) بِمَعْنَى (أَصَبْتُ الضَّالَّةَ)؛ فَتَنْصِبُ مَفْعُوْلًا وَّاحِدًا فَقَطْ. فَلَا تَكُوْنُ حِيْنَئِذٍ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ

او پوه سه! په دې چي په تحقيق سره ګرځي (ظَنَنْتُ) په معنا د (اتَّهَمْتُ) سره او (عَلِمْتُ) په معنا د (عَرَفْتُ) سره او (رَأَيْتُ) په معنا د (أَبْصَرْتُ) سره او (وَجَدْتُ) په معنا د (أَصَبْتُ الضَّالَّةَ) سره؛ نو منصوبه كيږي يواځي مفعول فقط چي دا وخت نه ګرځي له افعال قلوبو څخه

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه دې خبري ته اشاره كوي چي كله (افعال قلوب) د معنا له يقين او شك څخه په بله معنى كي هم راځي له دې وجې بيا يو مفعول غواړي، لكه: (ظننت بمعنى اتهمت)، دا ډول مثال د دې په قرآن كريم كي دی: ﴿وَمَا هُوَ

عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ [التكوير: ۲۴] او دا دوول د (علمت) مثال په قرآن کريم کي لکه: ﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ...﴾ [القصص: ۳۸] او (رأيت) په معنا د (أبصرت) سره دی، لکه: ﴿... فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ...﴾ [الصافات: ۱۰۲] او (وجدت) په معنا د (أصبت) سره دی، لکه: (وجدت الضالة، أي: أصبتها).

د افعال قلوبو لپاره مختصر تمرين: ۱- (عَلِمْتُ أَنَّ فِيْكَ خَيْرًا). ۲- (رَأَيْتُ الْعِلْمَ نَافِعًا). ۳- (سَعِيْدٌ نَاجِحٌ وَجَدْتُ). ۴- (ظَنَنْتُ أَنَّ أَمْرِيْ تَتِمُّ بِإِذْنِ اللهِ تَعَالَى).

فَصْلٌ: الْأَفْعَالُ النَّاقِصَةُ هِيَ أَفْعَالٌ وُضِعَتْ لِتَقْرِيْرِ الْفَاعِلِ عَلَى صِفَةٍ غَيْرِ صِفَةِ مَصْدَرِهَا. وَهِيَ: (كَانَ، وَصَارَ، وَظَلَّ، وَبَاتَ ...) إِلَى آخِرِهَا

فصل دی: افعال ناقصه داسي افعال دي چي ايښودل سوي دي لپاره د ثبوت د فاعل پر يو صفت بېله صفت د ده د مصدره او دا: (كَانَ، وَصَارَ، وَظَلَّ، وَبَاتَ ...) دي تر آخره پوري

تشريح: هر کله چي فارغ سو مصنف رحمه الله عليه له افعال تامه ؤ څخه؛ نو شروع يې وکړه په افعال ناقصه ؤ باندي او تعريف د افعال ناقصه ؤ مصنف ذکر کړی دی په دې خپل عبارت سره چي وايي: (هي أفعال إلخ).

د افعال ناقصه ؤ وجه تسميه: داده چي دا افعال په شان د نورو افعالو نه دي چي په فاعل سره تماميږي، بلکي دوی په کلام جوړېدو کي خبر ته محتاج دي؛ نو د دې نقصان (کمی) په وجه دوی ته افعال ناقصه وايي.

(۳۴۴) پوښتنه: دا افعال؛ خو مشتمل دي په نورو معناوو باندي پرته له ثبوت څخه، کله دا تول په زمانه باندي دلالت کوي او کله په ځينو باندي دلالت کوي؛ نو تخصيص د فاعل ولې وسو؟

جواب: ځکه چي فاعل ښکي عمده دی، په دې وجه د ده ذکر او تخصيص وسو.

تَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ لِإِفَادَةِ نِسْبَتِهَا حُكْمِ مَعْنَاهَا. فَتَرْفَعُ الْأَوَّلَ وَتَنْصَبُ الثَّانِيْ؛ فَتَقُوْلُ: (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

چي داخليږي پر جمله اسميه يې له وجي د افادې د نسبت يې وحکم د معنا ته، چي رفع ورکوي اول ته او نصب ورکوي دويم ته؛ نو ته به يې داسي وايې: (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا)

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه مدخول د افعال ناقصه ؤ او عمل د دوی بيانوي او افعال ناقصه داخليږي په جمله اسميه باندي لپاره د ورکولو د خپلی معنا جمله اسميه يې ته، لکه: (صار) دی؛ نو د دې معنا ده انتقال، (أي: صار زيد غنيا)، په دې مثال کي (صار) فعل ناقص دی په (زيد غني) باندي چي جمله اسميه ده داخل سوی دی او ده خپله معنا جمله اسميه يې ته ورکړه چي (زيد) له يو حالت څخه بل حالت ته نقل سو چي هغه حالت (غنا). يعني: مالدار تيا ده اول فقير وو. اوس غني سو.

او افعال ناقصه په مبتدا او خبر باندي داخليږي چي مبتدا لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ورکوي؛ ځکه مبتدا ورله فاعل دی او هغه مرفوع وي او خبر ورله (مشابه بالمفعول) دی او مفعول منصوب وي، پس دوی ته به مبتدا اوس نه ويل کيږي، بلکي اسم او خبر د افعال ناقصه ؤ به ورته ويل کيږي.

وَ(كَانَ) عَلَى ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ : نَاقِصَةٌ، وَهِيَ تَدُلُّ عَلَى ثُبُوتِ خَبَرِهَا لِفَاعِلِهَا فِي الْمَاضِي، إِمَّا دَائِمًا، نَحْوُ: ﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ [النساء: ١٧]، أَوْ مُنْقَطِعًا، نَحْوُ : (كَانَ زَيْدٌ شَابًّا)، وَتَامَّةٌ بِمَعْنَى (ثَبَتَ، وَحَصَلَ)، نَحْوُ : (كَانَ الْقِتَالُ)، أَيْ : حَصَلَ الْقِتَالُ، وَزَائِدَةٌ لَا يَتَغَيَّرُ بِإِسْقَاطِهَا مَعْنَى الْجُمْلَةِ، كَقَوْلِ الشَّاعِرِ :

جِيَادُ بَنِي أَبِي بَكْرٍ تَسَامَى عَلَى "كَانَ" الْمُسَوَّمَةِ الْعِرَابِ

أَيْ : عَلَى الْمُسَوَّمَةِ

او (كَانَ) پر درې ډوله دی : ناقصه دی او دا هغه دی چي دلالت وکړي پر ثبوت د خبر يې وفاعل ته په ماضي کي. يا به دائمي وي، لکه : ﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾، يا به منقطع وي، لکه : (كَانَ زَيْدٌ شَابًّا) او دويم (كَانَ) تامه دی چي په معناد (ثَبَتَ وَحَصَلَ) دی، لکه : (كَانَ الْقِتَالُ)، أَيْ : حَصَلَ الْقِتَالُ. او بل زائده دی چي نه متغير کيږي په پرېښودلو سره يې معنا د جملي لکه دا قول د شاعر :

جِيَادُ بَنِي أَبِي بَكْرٍ تَسَامَى عَلَى "كَانَ" الْمُسَوَّمَةِ الْعِرَابِ

أَيْ : عَلَى الْمُسَوَّمَةِ

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه فايده بيانوي چي (كان) پر درې ډوله دی : ۱- ناقصه. ۲- تامه. ۳- او زائده.

(كان) ناقصه دې ته وايي چي خبر خپل فاعل لره ثابتوي او دا ثبوت بيا عام دی چي په ماضي زمانه کي وي او که په زمانه حال او يا استقبال کي وي، که ماضي وه نو بيا به دا يا دائمي وي، لکه : ﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ او يا به منقطع وي، لکه : (كان زيدٌ شابًا).

او (كان) تامه دې ته وايي چي دا په خپل اصل اسم باندي تام سوی وي او خبر ته محتاج نه وي، لکه : (كان القتال) او د دې علامه دا ده چي وي به دا په معناد (وجد، حصل) او (ثبت) سره.

او (كان) زائده دې ته وايي چي په حذف د ده سره له جملي څخه څه تبديل د جملي په معنا کي نه راځي، لکه په دې شعر کي راغلي دي:

جِيادُ بَنِيْ أَبِيْ بَكْرٍ تَسَامَى عَلَى "كَانَ" الْمُسَوَّمَةِ الْعِرَابِ

په دې شعر کې (كَانَ) زائده راغلی دی (أَيْ : عَلَى الْمُسَوَّمَةِ الْعِرَابِ)

وَ(صَارَ) لِلْاِنْتِقَالِ. نَحْوُ : (صَارَ زَيْدٌ غَنِيًّا)

او (صَارَ) لپاره د انتقال دی، لکه : (صَارَ غَنِيًّا)

تشريح : له افعال ناقصه ؤ څخه يو (صار) دی او دی راځي لپاره د انتقال او د دې انتقال څو صورتونه دي : ۱- نقلبدل له يو صفت څخه بل صفت ته، لکه : (صار زيد عالمًا) . ۲- نقلبدل له يو حقيقت څخه بل حقيقت ته، لکه : (صار الطّين خذفا) . ۳- نقلبدل له يو ځای څخه بل ځای ته، لکه : (صار زيد من البلد إلى البلد) . ۴- نقلبدل له يو ذات څخه بل ذات ته، لکه : (صار زيد من زيد إلى بكر) : نو په دې وروستنيو دوو صورتو کې به انتقال محتاج وي په تعديت کې و (إلى) ته اه !.

(۳۴۵) پوښتنه : (رجع، ارتد، استحال) او (تحول) ؛ دا هم په معنا د (صار) سره دي او مصنف رحمه الله عليه دا ذکر نه کړل او په قرآن شريف کې هم د دې ذکر راغلی دی : ﴿... فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗا ...﴾ [يوسف: ۹۶] أي : صار بصيرا ؟

جواب : دا د ملحقاتو له (صار) څخه دي او مصنف د دوی اصل ذکر کړی دی او فرع يې پرېښې ده له وجې د اکتفاء په اصل باندې.

وَ(أَصْبَحَ)، وَ(أَمْسَى)، وَ(أَضْحَى) تَدُلُّ عَلَى اِقْتِرَانِ مَضْمُوْنِ الْجُمْلَةِ بِتِلْكَ الْأَوْقَاتِ. نَحْوُ : (أَصْبَحَ زَيْدٌ ذَاكِرًا)، أَيْ : كَانَ ذَاكِرًا فِيْ وَقْتِ الصُّبْحِ، وَبِمَعْنَى صَارَ. نَحْوُ : (أَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا)، وَتَامَّةٌ بِمَعْنَى (دَخَلَ فِي الصَّبَاحِ وَالضُّحَى وَالْمَسَا)

او (أَصْبَحَ)، (أَمْسَى) او (أَضْحَى) دلالت کوي پر اقتران د مضمون د جملې په دغو وختونو کې، لکه : (أَصْبَحَ زَيْدٌ ذَاكِرًا)، أَيْ: كَانَ ذَاكِرًا فِيْ وَقْتِ الصُّبْحِ . او په معنا سره د (صَارَ) لکه : (أَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا) او تامه په معنا د (دَخَلَ فِي الصَّبَاحِ وَالضُّحَى وَالْمَسَا) دي

تشريح : دا افعال ثلاثه مذکوره دلالت کوي په اقتران د مضمون د جملې د خپلو وختونو سره، لکه : (أصبح زيد ذاكرا)، يعني : زيد په وخت د سهار کې ذکر کوونکی سو او (أمسى زيد مسرورا)، يعني : زيد په وخت د بېګا کې خوشاله سو او په معنا د صار سره هم راځي، بيا په دې معنا کې لحاظ د وخت به نه وي سوی. لکه : (أصبح زيد غنيًا، أي : صار زيد غنيًا)، يعني : زيد مالدار وګرځېد.

وَ(ظَلَّ وَبَاتَ) يَدُلَّانِ عَلَى اِقْتِرَانِ مَضْمُوْنِ الْجُمْلَةِ بِوَقْتَيْهِمَا. نَحْوُ : (ظَلَّ زَيْدٌ كَاتِبًا)، وَبِمَعْنَى (صَارَ)

او (ظَلَّ وَبَاتَ) دلالت کوي پر اقتران د مضمون د جملې په خپلو دوو وختو سره، لکه : (ظَلَّ زَيْدٌ كَاتِبًا) او په معنا سره د (صَارَ) راځي

څه تشريح : معنا د (ظلّ زيد كاتبا، أي : حصل كتابة في النّهار)، يعني : زيد سهار ليکنه وکړه او معنا د (بات زيد نائما، أي : حصل نومه في اللّيل)، يعني : زيد د شپې بيده سو او (بَاتَ) په معنا د (صار) سره هم راځي، لکه : (بات زيد فقيرا، أي : صار زيد فقيرا)، يعني : زيد فقير سو .

(۳۴۶) پوښتنه : د دې دواړو ذکر يې ولې جلا کړی له (أصبح، أمسى) او (أضحى) څخه سره له دې چې دوی پينځه سره واړه په يوه معنا دلالت کوي چې هغه دلالت دی په اقتران د مضمون د جملې باندې ؟

جواب : دا پينځه افعال په دوو شيانو کې شريک دي : ۱- په اقتران د مضمون د جملې کې . ۲- او په معنا د (صار) باندې تول راځي، مګر په تامه کې افتراق دی چې دا دواړه په معنا د تامه باندې ډېر لږ راځي او هغه درې سره په معنا تامه باندې ډېر زيات راځي .

وَ(مَا زَالَ، وَمَا فَتِئَ، وَمَا بَرِحَ، وَمَا انْفَكَّ) تَدُلُّ عَلَى اسْتِمْرَارِ ثُبُوتِ خَبَرِهَا لِفَاعِلِهَا مُذْ قَبِلَهُ. نَحْوُ : (مَا زَالَ زَيْدٌ أَمِيْرًا)، وَيَلْزَمُهَا حَرْفُ النَّفْيِ

او (مَا زَالَ، وَمَا فَتِئَ، وَمَا بَرِحَ) او (مَا انْفَكَّ) دلالت کوي پر همېشتوب د ثبوت د خبر يې وفاعل ته له هغه وخته چې قبول کړی يې دی، لکه : (مَا زَالَ زَيْدٌ أَمِيْرًا) او لازمېږي دوی ته حرف د نفي يې

تشريح : دا څلور سره راځي لپاره د همېشتوب د خبر د دې افعالو او فاعل د دې افعالو له چې له کوم وخته يې دا خبر قبول کړی، لکه : (ما زال زيد أميرا)، يعني : زيد چې له کوم وخته امارت قبول کړی دی ؛ نو له هغه وخته زيد امير دی او دلته په دې افعالو کې معنا د نفي ده او (ما) هم نافيه دی .

او نفي چې په نفي داخله سي ؛ اثبات پيدا کوي او نفي عامه ده، که لفظي وي، لکه مذکور مثال سو او که نفي تقديري وي، لکه : ﴿.. تَاللَّهِ تَفْتَؤُا ...﴾ [يوسف: ۸۵] په اصل کې (لا تفتؤ) دی .

وَ(مَا دَامَ) يَدُلُّ عَلَى تَوْقِيْتِ أَمْرٍ بِمُدَّةِ ثُبُوتِ خَبَرِهَا لِفَاعِلِهَا. نَحْوُ : (أَقُوْمُ مَا دَامَ الْأَمِيْرُ جَالِسًا)

او (مَا دَامَ) دلالت کوي پر وخت د امر په موده د ثبوت د خبر يې وفاعل ته، لکه : (أَقُوْمُ مَا دَامَ الْأَمِيْرُ جَالِسًا)

تشريح : بل له افعال ناقصه ؤ څخه (ما دام) دی او دا راځي لپاره د دلالت د توقيت د فعل تر څو پوري چې خبر اسم لره ثابت وي، لکه : (أقوم ما دام الأمير جالسا)، يعني : تر څو پوري چې امير ناست وي ؛ نو تر هغه پوري به زه ولاړ يم او په دې ترکيب کې (ما دام) د مخکي جملې لپاره ظرف واقع دی .

وَ(لَيْسَ) يَدُلُّ عَلَى نَفْيِ مَعْنَى الْجُمْلَةِ حَالًا، وَقِيْلَ : مُطْلَقًا، وَقَدْ عَرَفْتَ بَقِيَّةَ أَحْكَامِهَا فِي الْقِسْمِ الْأَوَّلِ؛ فَلَا نُعِيْدُهَا

او دلالت نه كوي پر نفي ېې معنا د جملې حالا او يو چا ويلي دي : مطلقا او په تحقيق سره تا وپېژندله پاته حكمونه په قسم اول كې؛ نو مونږ يې نه راګرځوو

څه تشريح : (ليس) له افعال ناقصه ؤ څخه راځي لپاره د نفي د مضمون د جملې په زمانه حال كې، لكه : (ليس زيد قائما)، يعني قيام د زيد منتفي دى (في الحال) او دا مذهب د جمهور و نحاتو دى او ځيني نحات وايي : چې د مطلق نفي لپاره (ليس) راځي هنه كه نفي په زمانه ماضي كي وي، يا نفي په زمانه حالي او يا استقبالي كي وي .

د افعال ناقصه ؤ لپاره مختصر تمرين : ١- (أَصْبَحَ الرَّجُلُ كَاتِبًا) . ٢- (بَاتَ الرَّجُلُ سَاهِرًا) . ٣- (ظَلَّ الْوَلَدُ مَاشِيًا) . ٤- (كَانَ وِئَامٌ بَيْنَ الْقَوْمِ) . ٥- (مَا بَرِحَ سَعِيْدٌ جَالِسًا) . ٦- (مَا زَالَ الطَّالِبُ مُجِدًّا) .

أَفْعَالُ الْمُقَارَبَةِ : هِيَ أَفْعَالٌ وُضِعَتْ لِلدَّلَالَةِ عَلَى دُنُوِّ الْخَبَرِ لِفَاعِلِهَا

افعال مقاربه : دا داسې افعال دي چې ايښودل سوي دي لپاره د دلالت پر نږدې كېدو د خبر وخپل فاعل ته

تشريح : زده كړه دا خبره ! چې افعال مقاربه د اخواتو له افعال ناقصه ؤ څخه دي او ځيني احكام يې خاص دي چې له افعال ناقصه ؤ څخه دي، لكه خبر د دوی خاص فعل مضارع راځي او تقديم د خبر د دوی په افعالو باندې جايز نه دی په خلاف د افعال ناقصه ؤ باندې .

وَهِيَ عَلَى ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ . الْأَوَّلُ : لِلرَّجَاءِ . وَهُوَ (عَسَى)، وَهُو فِعْلٌ جَامِدٌ لَا يُسْتَعْمَلُ مِنْهُ غَيْرَ الْمَاضِيْ

او دا (افعال مقاربه) پر درې ډوله دي. لومړی : لپاره د رجاء (اميد) راځي او هغه (عَسَى) دی او دا هغه فعل جامد دی چې نه مستعمليږي له ده څخه بېله ماضي

تشريح : افعال مقاربه په درې ډوله دي : اول له هغوی څخه لپاره د (رجاء) دی چې هغه (عسى) دی، يعني د دې خبر له فاعل سره د نږديكت اميد وي؛ نو د هغه لپاره (عسى) راځي او دا (عسى) فعل جامد دی چې صرف د ده فعل ماضي راځي او مضارع، امر، نهي، اسم فاعل او اسم مفعول او داسې نوري صيغې نه راځي او د ماضي هم صرف يو څو صيغې راځي : ١- واحد مذكر غائب، لكه : (عسى) . ٢- واحده مؤنثه غائبه، لكه : (عست) او شپږ صيغې د مخاطب راځي. لكه : (عسيت، عسيتما، عسيتم، عسى، عسيتِ، عسيتما، عسيتنّ) او يوه صيغه د واحد متكلم راځي. لكه : (عسيتُ)؛ نو ټولي نهه ٩ صيغې په استعمال كي راځي .

وَهُوَ فِي الْعَمَلِ مِثْلَ (كَادَ) إِلَّا أَنَّ خَبَرَهُ فِعْلٌ مُضَارِعٌ مَعَ (أَنْ) . نَحْوُ : (عَسَى زَيْدٌ أَنْ يَقُوْمَ)

او دا په عمل كې لكه (كَادَ) مګر نه خبر د ده فعل مضارع دی سره له (أَنْ).لكه : (عَسَى زَيْدٌ أَنْ يَقُوْمَ)

څه تشریح: لکه څرنګه چې (کاد) اسم لره رفع ورکوي او خبر ورلره فعل مضارع راځي؛ نو دغه ډول (عسی) دی، مګر لږ فرق د دوی تر مینځ سته چې د (عسی) خبر فعل مضارع سره له (أَنْ) راځي او د (کاد) خبر فعل مضارع بېله (أَنْ) راځي، لکه: (عسی زید أَنْ یَّقُوم).

وَيَجُوْزُ تَقْدِيْمُ الْخَبَرِ عَلَى اسْمِهِ، نَحْوُ: (عَسَى أَنْ يَّقُوْمَ زَيْدٌ)

او روا دی مخکې کول د خبر پر اسم یې، لکه: (عَسَی أَنْ یَّقُوْمَ زَیْدٌ)

تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه یوه فایده ذکر کوي چې په دې ترکیب کې د څلورو احتمال دی: ۱- ترکیب: (زید) پکې اسم مؤخر او (أَنْ یقُوم) خبر مقدم دی. ۲- ترکیب: دا ترکیب د باب له (تنازع) څخه دی د (عسی) او د (یقوم) تنازع ده په (زید) کې، که د (یقوم) لپاره عمل وبلل سي او زید ورلره معمول سي بنا پر فاعلیت؛ نو د (عسی) اسم به ضمیر مستتر سي په (عسی) کې او راجع به سي زید ته او (أن یقوم) به ورلره خبر سي. ۳- ترکیب: (أن یقوم زید)؛ دا جمله د مرفوع ده او د منصوب په ځای قائم مقام ده د (عسی) لپاره او (عسی) فعل ناقص دی. ۴- ترکیب: (أن یقوم زید)؛ دا مجموعه فاعل د (عسی) دی او (عسی) فعل تام دی چې خبر ته یې احتیاج نسته.

(۳۴۷) پوښتنه: د (عسی) فعل د جامد والي څه دلیل دئ؟

جواب: (عسی) د انشاء د طمع لپاره راځي او انشاءات زیاتره په استعمالاتو کې د حروفو معاني ورکوي او حروف؛ خو غیرمتصرف دي، له دې وجې (عسی) جامد او غیر متصرف دی.

وَقَدْ يُحْذَفُ "أَنْ"، نَحْوُ: (عَسَى زَيْدٌ يَقُوْمُ)

او په تحقیق سره حذفیږي "أَنْ"، لکه: (عَسَی زَیْدٌ یَقُوْمُ)

څه تشریح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه یوه ضابطه ذکر کوي چې کله ناکله (أن) د خبر له (عسی) څخه حذف کیږي؛ ځکه دی مشابه دی له (کاد) سره په مقاربت کې او د (کاد) خبر بېله (أن) څخه راځي؛ نو د دې خبر هم داسې بېله (أن) راځي، مګر فرق دا دئ: چې د (کاد) خبر بېله (أن) څخه ډېر دی او د (عسی) په عکس د دې سره د (أن) ډېر او بېله (أن) څخه لږ دی.

وَالثَّانِيْ: لِلْحُصُوْلِ، وَهُوَ (كَادَ)، وَخَبَرُهُ مُضَارِعٌ دُوْنَ "أَنْ"، نَحْوُ: (كَادَ زَيْدٌ يَقُوْمُ)، وَقَدْ تَدْخُلُ "أَنْ"، نَحْوُ: (كَادَ زَيْدٌ أَنْ يَّقُوْمَ)

او دویم: لپاره د حصول دی او هغه (کَادَ) دی او خبر یې مضارع دی بېله "أَنْ" څخه، لکه: (کَادَ زَیْدٌ یَقُوْمُ) او په تحقیق سره "أَنْ" پر داخلیږي، لکه: (کَادَ زَیْدٌ أَنْ یَّقُوْمَ)

څه تشريح : دويم له افعال مقاربه ؤ څخه (كاد) دى او دى راځي لپاره د حصول، يعني چې متكلم ووايي چې حصول د خبر د (كاد) اسم د ده لره يقيني دى، لكه : (كاد زيد يقوم) .

وَالثَّالِثُ : لِلْأَخْذِ وَالشُّرُوعِ فِي الْفِعْلِ، وَهُوَ (طَفِقَ، وَجَعَلَ، وَكَرَبَ، وَأَخَذَ) . وَاسْتِعْمَالُهَا مِثْلُ "كَادَ"، (طَفِقَ زَيْدٌ يَكْتُبُ)، وَ"أَوْشَكَ" . وَاسْتِعْمَالُهُ مِثْلُ "عَسَى، وَكَادَ"

او دريم : لپاره د اخيستلو او شروع كولو په فعل كې دى او دا (طَفِقَ، وَجَعَلَ، وَكَرَبَ، وَأَخَذَ) ؔ او استعمالېدل يې لكه "كَادَ" (طَفِقَ زَيْدٌ يَكْتُبُ) او "أَوْشَكَ" دى او استعمالېدل يې لكه "عَسَى، وَكَادَ"

تشريح : دريم له افعال مقاربه ؤ څخه لپاره د شروع دى، يعني چې متكلم ووايي چې خبر اسم لره په حصول كې نږدې سوى دى په اعتبار د اخذ (اخيستلو) او شروع كولو سره او د دې معنا لپاره څلور افعال راځي : (طفق، أخذ، جعل) او (كرب) دى او استعمال د دې څلورو افعالو په ډول د (كَادَ) دى.

د افعال مقاربه ؤ لپاره مختصر تمرين : ۱- (أَخَذَ الشَّاعِرُ يُنْشِدُ قَصِيدَتَهُ) . ۲- (أَوْشَكَ الْجُنْدِيُّ يَنْتَصِرُ) . ۳- (جَعَلَ سَعِيدٌ يُنَظِّفُ ثِيَابَهُ) . ۴- (طَفِقَ الْخَطِيبُ يَخْطِبُ) . ۵- (عَسَى أَنْ يَدْرُسَ الطَّالِبُ) . ۶- (كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا)[1] . ۷- (كَادَتِ الْحَرْبُ تَقَعُ) .

فَصْلٌ : فِعْلَا التَّعَجُّبِ مَا وُضِعَ لِإِنْشَاءِ التَّعَجُّبِ

فصل دى : دوه فعله د تعجب هغه دي چې وضع سوي وي لپاره د انشاء د تعجب

د فعل تعجب تعريف : دا فصل دى په بيان د فعلينو د تعجب كې او هر كله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ فارغ سو د بيان له افعال مقاربه ؤ څخه نو شروع يې وكړه په بيان د فعل تعجب كې او تعجب ويل كيږي طاري كېدلو د يو كيفيت ته په نفس باندې په وخت د ليدلو د يو نادر امر كې او په اصطلاح د نحاتو كې تعجب ويل كيږي (ما وُضع لإنشاء التَّعجّب) او هر كله چې يې (لإنشاء التَّعجّب) ووايه : نو په دې قيد سره (عجبتُ)، يا (تعجبَ) څني خارج سو؛ ځكه دا لپاره د اخبار دى او دلته مصنف (فعلا التَّعجّب) په صيغه د تشنيه يې سره ذكر كړى او په ځينو متنو كې په (فعل التَّعجّب) او يا په (أفعال التَّعجّب) سره ذكر سوي دي او په اصل كې تطبيق د دوى دا دئ : چې تشنيه ويل سوې ده ؛ نو دا په اعتبار د حقيقت او نوعينو سره ده او صيغه د فعل په مفرد سره په اعتبار د جنس سره ده او جمعيت په اعتبار د كثرت د افرادو سره دى اه !.

---

(۱) (شعب الإيمان)، باب : الحث على ترك الغلّ والحسد، حديث شمېره (۶۱۸۸). (الدّعاء) د طبراني. حديث شمېره (۱۰۴۸) او (حلية الأولياء) د ابو نعيم. ۳ ټوک. ۵۳ مخ او حديث (حسن لغيره) دى.

وَلَهُ صِيغَتَانِ : مَا أَفْعَلَهُ. نَحْوُ : (مَا أَحْسَنَ زَيْدًا)، أَيْ : أَيُّ شَيْءٍ أَحْسَنَ زَيْدًا. وَفِيْ (أَحْسَنَ) ضَمِيْرٌ، وَهُوَ فَاعِلُهُ. وَأَفْعِلْ بِهِ. نَحْوُ : (أَحْسِنْ بِزَيْدٍ). وَلَا يُبْنَيَانِ إِلَّا مِمَّا يُبْنَى مِنْهُ أَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ.

وَيُتَوَصَّلُ فِيْ الْمُمْتَنِعِ بِمِثْلِ (مَا أَشَدَّ اسْتِخْرَاجًا) فِيْ الْأَوَّلِ، وَ(اشْدِدْ بِاسْتِخْرَاجِهِ) فِيْ الثَّانِيْ كَمَا عَرَفْتَ !

او د فعل تعجب لپاره دوې صيغې دي : چې يو (مَا أَفْعَلَهُ) دی،لکه : (مَا أَحْسَنَ زَيْدًا)، أَيْ : أَيُّ شَيْءٍ أَحْسَنَ زَيْدًا . او په (أَحْسَنَ) کې يو ضمير دی او هغه يې فاعل دی او بل (أَفْعِلْ بِهِ) دی،لکه : (أَحْسِنْ بِزَيْدٍ) . او دا دوې صيغې نه بنا کيږي مگر پر هغه چې بنا کيږي له هغه څخه (أَفْعَلُ) د تفضيل .
او پيوست کيږي په ممتنع کې په مثال د (مَا أَشَدَّ اسْتِخْرَاجًا) سره په اول (فعل) کې او (اشْدِدْ بِاسْتِخْرَاجِهِ) په دويم (فعل) کې لکه څرنگه چې تا وپېژندله !

څه تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ يوه ضابطه ذکر کوي چې هر کله د فعل تعجب معنا حاصليږي له هغو افعالو څخه چې دا څني ممتنع وي ؛ نو طريقه به يې دا وي چې (ما أشدّ)، يا (ما أقبح)، يا (ما أضعف) به راوړل کيږي او تر دې وروسته به مصدر د هغه فعل ذکر کيږي له کوم څخه چې معنا د فعل تعجب حاصليږي او دا به په طريقې د تميز سره ذکر کيږي، لکه مثال يې : (ما أشدّ استخراجا)، يا (ما أكثر حُمرته، و ما أقبح عوره) او د دويمې صيغې د جوړولو طريقه به داسې وي چې په اول کې به (اشدد) وي او تر دې وروسته به مصدر د هغه فعل ممتنع ذکر وي او باء زائده جاره به وروباندې داخله سوې وي، لکه : (اشدد باستخراجه) مثال سو ؛ نو دا به څني جوړيږي .

وَلَا يَجُوْزُ التَّصَرُّفُ فِيْهِمَا بِتَقْدِيْمٍ وَلَا تَأْخِيْرٍ وَلَا فَصْلٍ. وَالْمَازِنِيُّ أَجَازَ الْفَصْلَ بِالظَّرْفِ. نَحْوُ : (مَا أَحْسَنَ الْيَوْمَ زَيْدًا)

او نه دئ روا تصرف په دوی دوو کې په تقديم (مخکې کولو) سره، نه په تاخير (وروسته کولو) سره او نه په فصل (جلا کولو) سره او (امام) مازني (رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ) روا کړی دی فصل په ظرف سره،لکه : (مَا أَحْسَنَ الْيَوْمَ زَيْدًا)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ يوه بله ضابطه بيانوي د افعال تعجب لپاره او يوه خاصه د دوی ذکر کوي چې هغه عدم تعرف په دوی کې دی په تقديم او تاخير سره ؛ څکه هر کله چې دوی نقل سول صيغې د تعجب ته ؛ نو دوی جاري سول په مجری د امثالو باندې او په امثالو کې تغير نه کيږي، له دې وجې په (ما أحسن زيدا) کې (ما زيدا أحسن) نه ويل کيږي او ذکر د تاخير يې دلته کړی دی تاکيدا نه تأسيسا او فصل هم روا نه دئ د فعل تعجب او د معمول په مينځ کې، يعني : داسې نه سي ويل کيږي : (ما أحسن اليوم زيدا)، يا (أحسن أمس بزيد)، مگر امام مازني رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ وايي : چې فصل په ظرف سره جايز دی ؛ څکه بناء د ظروفو پر توسع ده ؛ نو

جايز دی په دې کې هغه چې جايز نه دی په نورو کې، په دې وجه دا ترکيب چې (ما أحسن اليوم زيدا)، يا (ما أحسن في الدّار زيدا) دی؛ دا د ده په مذهب جايز دی.

د افعال تعجب لپاره مختصر تمرين: ۱- (أَكْرِمْ بِهِ صَدِيْقًا !) . ۲- (أَنْعِمْ بِسَعِيْدٍ أَخًا !) . ۳- (مَا أَجْمَلَ عَيْنِي !) . ۴- (مَا أَحْسَنَ وَجْهَ السَّمَاءِ !) . ۵- (مَا أَكْثَرَ الْوَرْدَ فِي الْحَدِيْقَةِ !) .

أَفْعَالُ الْمَدْحِ وَالذَّمِّ : مَا وُضِعَ لِإِنْشَاءِ مَدْحٍ أَوْ ذَمٍّ

افعال د مدح او ذم: هغه دي چې ايښودل سوي وي لپاره د انشاء د مدح (ستاينې) او ذم (بد وينې)

د افعال مدح او ذم تعريف: هر كله چې فارغ سو مصنف رحمه الله له بيان څخه د افعال تعجب؛ نو شروع يې وكړه په بيان د افعال مدح او ذم كې او په دې كې اشاره ده چې فعل پر دوه ډوله دی: ۱- مدح او ذم. ۲- غير مدحه او غير ذم.

مگر افعال مدحه او ذم ذكر كوي او غير مدحه او غير ذم مقايسة څني معلوميږي او بل دوی محصور معدود ذكر كېداى سي او غير مدح او غير ذم غير معدود او محصور دي چې د هغه ذكر كول او ضبطول ممكن نه دي، له دې وجې پرېښودل سول.

(۳۴۸) پوښتنه: تعريف مانع نه دئ د دخول له غير څخه چې داخل سو پكې (امدح) او (اذم)؛ ځكه دوی د انشاء د مدح او ذم لپاره هم دي؟

جواب: دلته هغه افعال مدح او ذم مراد دي چې په دې لقب باندې مشهور وي او دوی داسې نه دي او دا ډول خارج سو له افعال مدح او ذم څخه (مدحت) او (ذممت)؛ ځكه دوی د اخبار مدح او ذم لپاره دي اونه د انشاء مدح او ذم لپاره اه!.

أَمَّا الْمَدْحُ؛ فَلَهُ فِعْلَانِ "نِعْمَ"

هر چې مدح دی: نو ده لره دوه فعله دي "نِعْمَ"

څه تشريح: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله تفصيل كوي له اجمال څخه؛ ځكه د مدح مشهوره دوه فعلونه دي: ۱- (نِعْمَ). ۲- او بل (حَبَّذَا) دی. او د اول فعل چې (نِعْمَ) دی نور لغات هم سته، لكه: (نَعِمَ، نَعْمَ، نِعْمَ، نِعِمَ).

او پوه سه! په دې چې په عربي ژبه كې يو لفظ د (نَعَمْ) دی، يعني: په فتحه د نون او عين دواړو سره؛ نو دا عبارت دی له هوكې څخه اه!.

وَفَاعِلُهُ اسْمٌ مُعَرَّفٌ بِاللَّامِ، نَحْوُ: (نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ)، أَوْ مُضَافٌ إِلَى الْمُعَرَّفِ بِاللَّامِ، نَحْوُ: (نِعْمَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ)، وَقَدْ يَكُوْنُ فَاعِلُهُ مُضْمَرًا، وَيَجِبُ تَمْيِيْزُهُ بِنَكِرَةٍ مَنْصُوْبَةٍ، نَحْوُ: (نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ)، أَوْ بِـ"مَا"، نَحْوُ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿.. فَنِعِمَّا هِيَ ...﴾ [البقرة: ۲۷۱]، أَيْ: نِعْمَ شَيْئًا هِيَ

او فاعل به يې اسم (معرف باللام) وي، لكه: (نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ)، يا به مضاف وي و (معرف باللام) ته، لكه: (نِعْمَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ) او په تحقيق سره ګرځي فاعل يې مضمر او واجب دی تمييز يې په نكره منصوبه سره، لكه: (نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ)، يا به په "مَا" سره وي، لكه دا قول د الله تعالى: ﴿.. فَنِعِمَّا هِيَ ...﴾، أَيْ: نِعْمَ شَيْئًا هِيَ

تشريح: فاعل د (نِعْمَ) به اسم (معرف باللام) وي او په فاعل د (نِعْمَ) کي درې صورتونه دي: ۱- فاعل د ده به (معرف باللام) وي، لكه: (نِعم الرَّجل). ۲- فاعل د ده به مضاف وي (معرف باللام) ته، لكه: (نِعم صاحب الرّجل زيد). ۳- فاعل د ده به ضمير مستتر وي او د هغه د رفع د ابهام لپاره نكره منصوبه تميز راوړل كيږي، لكه: (نِعْم رَجلا زيد) او كله به لفظ د (ما) راځي په معنا د شي سره، لكه: ﴿.. فَنِعِمَّا هِيَ ...﴾.

وَ(زَيْدٌ) يُسَمَّى: اَلْمَخْصُوْصُ بِالْمَدْحِ، وَ(حَبَّذَا)، نَحْوُ: (حَبَّذَا زَيْدٌ). (حَبَّ) فِعْلُ الْمَدْحِ، وَفَاعِلُهُ "ذَا" اَلْمَخْصُوْصُ بِالْمَدْحِ (زَيْدٌ)

او (زَيْدٌ) بلل كيږي: مخصوص په مدح سره او (حَبَّذَ) لكه: (حَبَّذَ زَيْدٌ). (حَبَّ) فعل د مدح دی او فاعل يې "ذَا" دی چي مخصوص په مدح سره يې (زَيْدٌ) دی

څه تشريح: زده كړه! دا خبره چي تر افعال مدح او ذم وروسته مخصوص راځي په افعال مدح کي (مخصوص بالمدح) او په افعال ذم کي (مخصوص بالذم) او دا د بيان د فاعل لپاره راځي.

فايده: دا (مخصوص بالمدح) او (مخصوص بالذم) به له فاعل سره مطابق وي په افراد، تثنيت، جمعيت، تذكير او تانيث كي، لكه: (نِعْم الرَّجل زيد، نِعْم الرَّجلان زيدان، نِعْم الرّجال زيدون، نِعْمت المرأة هند، نِعْمت المرأتان هندان) او (نِعْمت النساء هندات) اه!.

وَحَبَّذَا زَيْدٌ

او (حَبَّذَا زَيْدٌ)

څه تشريح: دويم فعل له افعال مدح څخه (حَبَّذَا) دی او دا لفظ له فعل او فاعل څخه مركب دی؛ ځكه (حبّ) فعل دی او (ذا) ورله فاعل دی، لكه لږ څه مخكي چي دا خبره په ډاګه سوه.

قاعده: (ذا) به همېشه فاعل د (حبّ) وي او د دې حذف او تبديل جايز نه دی او په دې کي قاعده د مطابقت د (مخصوص بالمدح) له فاعل سره نه جاري كيږي او (مخصوص بالمدح) د ده تثنيه، جمع، مذكر او مؤنث ټوله راتلای سي اه!.

وَيَجُوزُ أَنْ يَقَعَ قَبْلَ مَخْصُوصٍ أَوْ بَعْدَهُ تَمْيِيزٌ، نَحْوُ : (حَبَّذَا رَجُلًا زَيْدٌ، وَحَبَّذَا زَيْدٌ رَجُلًا)، أَوْ حَالٌ، نَحْوُ : (حَبَّذَا رَاكِبًا زَيْدٌ، وَحَبَّذَا زَيْدٌ رَاكِبًا).

وَأَمَّا الذَّمُّ ؛ فَلَهُ فِعْلَانِ أَيْضًا : (بِئْسَ)، نَحْوُ : (بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو، وَبِئْسَ غُلَامُ الرَّجُلِ عَمْرٌو، وَبِئْسَ رَجُلًا عَمْرٌو) . وَ(سَاءَ)، نَحْوُ : (سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ، وَسَاءَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ، وَسَاءَ رَجُلًا زَيْدٌ) . وَ(سَاءَ) مِثْلُ (بِئْسَ) فِيْ سَائِرِ الْأَقْسَامِ

او روا دي دا چي واقع سي مخکي تر مخصوص (بالمدح) او يا پي وروسته تميز وي، لکه : (حَبَّذَا رَجُلًا زَيْدٌ، وَحَبَّذَا زَيْدٌ رَجُلًا)، يا حال وي، لکه : (حَبَّذَا رَاكِبًا زَيْدٌ، وَحَبَّذَا زَيْدٌ رَاكِبًا) .

او هر چي (ذم) دی ؛ نو ده لره هم دوه فعله دي : يو (بِئْسَ) دی، لکه : (بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو، وَبِئْسَ غُلَامُ الرَّجُلِ عَمْرٌو، وَبِئْسَ رَجُلًا عَمْرٌو) . او بل (سَاءَ) دی، لکه : (سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ، وَسَاءَ غُلَامُ الرَّجُلِ زَيْدٌ، وَسَاءَ رَجُلًا زَيْدٌ) . او (سَاءَ) په شان د (بِئْسَ) دی په ټولو ډولونو کي

څه تشريح : هر چي فعل ذم دی ؛ نو هغه دوه فعله دي : ۱- (بئس) . ۲- او (ساء) . او استعمال د دوی د عربو په کلام کي په شان د (نِعْم) دی .

د افعال مدح او افعال ذم لپاره څو مهمي فايدي او قاعدي : ۱- فايده : په (بئس) کي د (نِعْمَ) په ډول څلور لغات دي، لکه : (بَئِسَ، بَئْسَ، بِئْسَ) او (بِئِسَ) .

۲- فايده : د افعال مدح او ذم لپاره دوه شيان راوړل ضروري دي : ۱- فاعل . ۲- (مخصوص بالمدح) يا (مخصوص بالذم) .

۳- فايده : د (مخصوص بالمدح) معرفه راوړل ضروري دي .

۱- قاعده : په وخت د قرينه کي حذف د مخصوص هم کېدای سي، لکه : ﴿... نِعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ﴾ [ص: ۳۰] ؛ نو دلته (مخصوص بالمدح) محذوف دی چي هغه ايوب عَلَيْهِ السَّلَامُ دی .

۲- قاعده : کوم ځای چي (مخصوص بالمدح) پر فعل مقدم سي ؛ نو په دې صورت کي به يو ترکيب کيږي .

۳- قاعده : د (حبّذا - مخصوص بالمدح) له فاعل سره موافق کول ضروري نه دي .

د افعال مدح او ذم لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ...﴾ [البقرة: ۹۰] . ۲- ﴿فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ ٱلْقَٰدِرُونَ﴾ [المرسلات: ۲۳] . ۳- ﴿... وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا﴾ [النساء: ۲۲] . ۴- (بِئْسَ الرَّجُلُ فِرْعَوْنُ) . ۵- (سَاءَ رَجُلًا أَبُوْ جِهْلٍ) .

اَلْقِسْمُ الثَّالِثُ فِي الْحُرُوْفِ، وَقَدْ مَضٰى تَعْرِيْفُهُ

دريېم ډول په حروفو کې دی او په تحقيق سره تېر تعريف يې

د حروفو بيان: هر کله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د بيان له فعل څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د حرف باندې چې دا دريېم ډول د کليمې دی ؛ نو دا ډول يې وويل : (القسم الثالث في الحرف)، مګر مصنف صاحب تعريف د حرف نه ذکر کوي او تقسيم کوي او سره له دې چې اول تعريف د شي وي او بيا تقسيم د شي وي ؛ ځکه تعريف مخکې ذکر سوی دی ؛ ځکه وايي : (وقد مضی تعريفه) چې بيا يې راګرځولو ته ضرورت نسته، پس دلته چاره نسته له ذکر کولو څخه د تقسيم يې اه !.

وَأَقْسَامُهُ سَبْعَةَ عَشَرَ : حُرُوْفُ الْجَرِّ، وَالْحُرُوْفُ الْمُشَبَّهَةُ بِالْفِعْلِ، وَحَرُوْفُ الْعَطْفِ، وَحُرُوْفُ التَّنْبِيهِ، وَحُرُوْفُ النِّدَاءِ، وَحُرُوْفُ الْإِيْجَابِ، وَحُرُوْفُ الزِّيَادَةِ، وَحَرْفَا التَّفْسِيْرِ، وَحُرُوْفُ الْمَصْدَرِ، وَحُرُوْفُ التَّحْضِيْضِ، وَحَرْفُ التَّوَقُّعِ، وَحَرْفَا الْاِسْتِفْهَامِ، وَحُرُوْفُ الشَّرْطِ، وَحَرْفُ الرَّدْعِ، وَتَاءُ التَّأْنِيْثِ السَّاكِنَةِ، وَالتَّنْوِيْنِ، وَنُوْنَا التَّأْكِيْدِ

او ډولونه يې اوولس (۱۷) دي (لکه) : (حُرُوْفُ الْجَرِّ، وَالْحُرُوْفُ الْمُشَبَّهَةُ بِالْفِعْلِ، وَحَرُوْفُ الْعَطْفِ، وَحُرُوْفُ التَّنْبِيهِ، وَحُرُوْفُ النِّدَاءِ، وَحُرُوْفُ الْإِيْجَابِ، وَحُرُوْفُ الزِّيَادَةِ، وَحَرْفَا التَّفْسِيْرِ، وَحُرُوْفُ الْمَصْدَرِ، وَحُرُوْفُ التَّحْضِيْضِ، وَحَرْفُ التَّوَقُّعِ، وَحَرْفَا الْاِسْتِفْهَامِ، وَحُرُوْفُ الشَّرْطِ، وَحَرْفُ الرَّدْعِ، وَتَاءُ التَّأْنِيْثِ السَّاكِنَةِ، وَالتَّنْوِيْنِ، وَنُوْنَا التَّأْكِيْدِ)

يادونه: وروسته مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د دې مذکوره ډولونو د هر ډول جلا جلا تعريف کوي او تفصيل يې بيانوي.

فَصْلٌ : حُرُوْفُ الْجَرِّ، حُرُوْفٌ وُضِعَتْ لِإِفْضَاءِ الْفِعْلِ وَشِبْهِهِ، أَوْ مَعْنَى الْفِعْلِ إِلَى مَا تَلِيْهِ، نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَأَنَا مَارٌّ بِزَيْدٍ)، وَ(هٰذَا فِي الدَّارِ أَبُوْكَ)، أَيْ : أُشِيْرُ إِلَيْهِ فِيْهَا

فصل دی : حروف د جر، دا داسې حروف دي چې ايښودل سوي دي لپاره د رسېدلو د فعل او د هغه د مشابه، يا معنا د هغه وفعل ته چې هغه نږدې وي ده ته، لکه : (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَأَنَا مَارٌّ بِزَيْدٍ)، وَ (هٰذَا فِي الدَّارِ أَبُوْكَ)، أَيْ : أُشِيْرُ إِلَيْهِ فِيْهَا

(۳۴۹) پوښتنه: حروف جاره ولې په دې نورو حروفو باندې مخکې سول ؟

جواب: ځکه دا ډېر دي او قاعده دا ده چې (العزّة للتکاثر)، يعني : عزت ډېرې لره دی او بل دا چې د دوی استعمال د عربو په خبرو کې ډېر هم دی.

فايده (د حروف جاره وُوجه تسميه) : حروف جاره ته حروف جاره ؛ ځکه وايي چې جر وايي راختلو ته او دوی فعل، يا شبه فعل، يا معنا د فعل خپل مدخول ته راباسي او بل نوم د دوی (حروف اضافت) هم دی او معنا د اضافت نسبت دی او دوی هم د فعل، يا شبه فعل، يا معنا د

فعل نسبت او اضافت خپل مدخول ته کوي، مګر دلته مراد له فعل څخه فعل اصطلاحي دی او مراد له شبه فعل څخه دلته هم هغه دی چې عمل کوي په شان د فعل او د مادې له فعل څخه هم وي، لکه : ۱- اسم فاعل . ۲- اسم مفعول . ۳- صفت مشبه . ۴- مصدر . ۵- اسم تفضيل او مراد د معنا له فعل څخه دلته هغه دی چې عمل د فعل په شان کوي، مګر د مادې له فعل څخه نه وي، لکه : ۱- (اسماء اشارات) . ۲- (حروف تنبيه) . ۳- (حروف نداء) . ۴- (ظرف) . ۵- (جار) او (مجرور) . ۶- (اسم فعل) . ۷- (حروف مشبه بالفعل) . ۸- (حروف تمني) . ۹- (حروف ترجي) او داسې نور ؛ نو مثال د فعل، لکه : (مررت بزيد) . مثال د شبه فعل، لکه : (أنا مارّ بزيد) . او مثال د معنا د فعل، لکه : (هذا في الدّار أبوك) چې معنا د دې (أشير إلى أبيك في الدّار) دی .

وَهِيَ تِسْعَةَ عَشَرَ حَرْفًا

او دا حروف جاره نولس حرفونه دي

يادونه : حروف جاره نولس (۱۹) دي چې مصنف رحمه الله څه مشهور او څه يې غير مشهور ذکر کړي دي، له دې وجې شيخ عبد القاهر جرجاني رحمه الله اولس (۱۷) ذکر کړي دي او ابن حاجب رحمه الله اتلس (۱۸) ذکر کړي دي په زياتوب د (واو) او (رُبَّ) سره .

(مِنْ)، وَهِيَ لِابْتِدَاءِ الْغَايَةِ. وَعَلَامَتُهُ : أَنْ يَّصِحَّ فِيْ مُقَابِلَتِهِ لِلْاِنْتِهَاءِ. كَمَا تَقُوْلُ : (سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ إِلَى الْكُوْفَةِ)

(مِنْ) او دا لپاره د ابتدا د غايه يې دی او علامه (نښه) يې دا ده : چې صحيح سي په مقابله کې يې لپاره د انتهاء، لکه څرنګه چې ته وايې : (سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ إِلَى الْكُوْفَةِ)

څه تشريح : هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله له اجمال څخه د حروف جاره ؤ ؛ نو شروع يې وکړه په تفصيل باندې او اول له حروف جاره ؤ څخه (مِن) دی او شروع وسوه په (مِن) سره ؛ ځکه دی راځي لپاره د ابتدا ؛ نو ابتدا په ده سره اولی ده .

(۳۵۰) پوښتنه : اضافت د ابتدا غايه يې ته نه صحيح کيږي ؛ ځکه ابتدا عبارت دی له (أول الشيء) څخه او غايه عبارت دی له (آخِر الشيء) څخه او د دې دواړو په مينځ کې تضاد دی ؟

جواب : مراد په غايه سره مسافت دی او بل دا چې مراد په غايه سره فعل دی او په فعل باندې اطلاق د غايه يې وسو ؛ ځکه غايه غرض او مقصود ته وايي او فعل هم غرض د فاعل وي او علامه د (مِن) ابتدائيه دا ده چې په مقابله کې به يې (إلى) راځي چې هغه لپاره د انتهاء د غايه يې دی، لکه : (سِرت مِن البصرة إلى الكوفة)، يا به د دې په مقابل کې هغه شی راځي چې هغه فايده د (إلى) ورکوي، لکه : (أعوذ بالله مِن الشّيطان الرّجيم) ؛ نو دلته (أعوذ) په معنا د (أفرّ) سره دی او باء په معنا د (إلى) سره ده، يعني : (أفِرّ مِن الشّيطان الرّجيم إلى الله) اه !.

وَلِلتَّبْيِينِ، وَعَلَامَتُهُ : أَنْ يَصِحَّ وَضْعُ لَفْظِ (الَّذِي) مَكَانَهُ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿... فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ..﴾ [الحج: ٣٠] . وَلِلتَّبْعِيضِ، وَعَلَامَتُهُ : أَنْ يَصِحَّ (بَعْضُ) مَكَانَهُ, نَحْوُ : (أَخَذْتُ مِنَ الدَّرَاهِمِ)

او (مِن) لپاره د تبيين (هم) راځي او علامه يې دا ده : چې صحيح وي ابښودل د لفظ د (الّذي) پر ځای د ده، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿... فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ..﴾ .او لپاره د تبعيض (هم) راځي او علامه يې دا ده : چې صحيح وي (بَعْض) پر ځای يې، لکه : (أَخَذْتُ مِنَ الدَّرَاهِمِ)

خه تشريح : بله معنا د (مِن) تبيين ده، يعني مدخول د ده به بيان وي لپاره د امر مبهم چې کوم مخکې تر (مِن) دی او علامه يې دا ده : که چيرې (مِن) حذف سي ؛ نو پر ځای يې راوړل د (الّذي) صحيح وي، لکه په دې قول د الله تعالى کې چې کوم په عبارت کې تېر سو او بله معنا د (مِن) تبعيض ده، يعني بعض مدخول د (مِن) مفعول به د فعل وي، لکه : (أخذْتُ مِن الدّراهم) او علامه يې دا ده : چې په ځای د من به (بعض) راوړل صحيح وي .

وَزَائِدَةً، وَعَلَامَتُهُ : أَنْ لَّا يَخْتَلَّ الْمَعْنَى بِإِسْقَاطِهَا، نَحْوُ : (مَا جَاءَنِيْ مِنْ أَحَدٍ)، وَلَا تُزَادُ (مِنْ) فِي الْكَلَامِ الْمُوْجَبِ خِلَافًا لِلْكُوفِيِّيْنَ, وَأَمَّا قَوْلُهُمْ : قَدْ كَانَ مِنْ مَّطَرٍ وَشِبْهُهُ ؛ فَمُتَأَوَّلٌ

او بل (مِنْ) زائده دی او علامه يې دا ده : چې نه ګډوډيږي معنا په پرېښودلو سره، لکه : (مَا جَاءَنِيْ مِنْ أَحَدٍ) او نه زياتيږي (مِنْ) په کلام موجب کې په خلاف د کوفيانو او هر چې دا قول د دوی دی : (قَدْ كَانَ مِنْ مَّطَرٍ) او د دې ورته ؛ نو دا متأول دی [يعني : تأويل يې کيږي]

تشريح : بله معنا د (مِنْ) زائده دی، يعني راځي به په کلام کې زائد ؛ نو په سقوط د ده سره به نقصان په کلام کې نه راځي او زيادت د ده به په کلام غير موجب کې وي په نيز د بصريانو باندې او کلام موجب دې ته وايي : چې په هغې کې نفي، نهي او استفهام نه وي او غير موجب دې ته وايي : چې په هغې کې نفي، نهي او استفهام وي، لکه : (ما جاءني مِن أحد)، يا (هل جاءني مِن أحد ؟)، يا (لا تضرب مِن أحد) ؛ دا ټول ترکيبونه غير موجب دي او (مِن) پکې زائد دی .

او په مذهب د کوفيانو او اخفش باندې (مِن) زائده په دواړو کلامونو کې راځي، برابره خبره ده، که موجب وي او که غير موجب وي او دوی استدلال پيش کوي په دې قول سره چې (قد كان مِن مَطر) ؛ نو دلته (مِن) زائده دی او په کلام موجب کې دی او دويم په دې قول سره د الله تعالى استدلال پيش کوي : ﴿يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ...﴾ [نوح: ٤] او دلته هم (مِنْ) زائده دی او کلام موجب دی ؛ نو بصريان جواب ورکوي : چې دلته (مِن) په آيت شريف کې د تبعيض لپاره دی او په (قد كان من مطر) کې د تبيين لپاره دی، يعني : (قد كان أي وجد شيء مِن مطر) او يا دلته هم د تبعيض لپاره دی او يا دا په موافقت د سوال د سايل کې راغلی دی چې سايل سوال وکړی : (هل كان مِن مطر ؟) ؛ نو جواب ورکوونکي جواب ورکړی : (قد كان مِن مطر) اه ! .

وَ(إِلَى)، وَهِيَ لِانْتِهَاءِ الْغَايَةِ كَمَا مَرَّ . وَبِمَعْنَى (مَعَ) قَلِيْلًا. كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿...فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ...﴾ [المائدة: ٦]

او (إلى) له جاره ؤ څخه [(إلى) دی او دا لپاره د انتها د غايه يې دی لکه څرنګه چې دا خبره تېره سوه . او په معنا سره د (مَعَ) لږ راځي، لکه دا قول د الله تعالى :

﴿...فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ...﴾

څه تشريح : پوه سه ! په دې چې (إلى) له حروف جاره ؤ څخه راځي لپاره د انتها د مسافت او (إلى) ګرځوي مدخول خپل لره (منتهى إليه) لپاره د فعل سابق، برابره خبره ده چې مدخول د ده مکان وی، لکه : (سرت مِن البصرة إلى الكوفة) او که زمان وي، لکه :

﴿...ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ...﴾ [البقرة: ١٨٧] او علامه يې دا ده : چې په مقابله د ده کې به (مِن) ابتدائيه ذکر وي .

او بل دا چې (إلى) په معنا د مع سره راځي، لکه په آيت ﴿...فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ...﴾ کې د (إلى المرافق) معنا ده، (أي : مع المرافق)، يعني : تاسې خپل مخونه او لاسونه سره له څنګلو پرېولئ اه ! .

وَ(حَتَّى)، وهِيَ مِثْلُ (إِلَى)، نَحْوُ : (نِمْتُ الْبَارِحَةَ حَتَّى الصَّبَاحِ) . وَبِمَعْنَى (مَعَ) كَثِيْرًا، نَحْوُ: (قَدِمَ الْحَاجُّ حَتَّى الْمُشَاةِ)، وَلَا تَدْخُلُ إِلَّا عَلَى الظَّاهِرِ ؛ فَلَا يُقَالُ : (حَتَّاهُ) خِلَافًا لِلْمُبَرِّدِ . وَقَوْلُ الشَّاعِرِ (شِعْرٌ) :

فَلَا وَاللهِ لَا يَبْقَى أُنَاسٌ   فَتًى حَتَّاكَ يَا ابْنَ أَبِيْ زِيَادِ

شَاذٌّ

او بل [له حروف جاره ؤ څخه] (حَتَّى) دی او دا په مثال د (إلى) دی، لکه : (نِمْتُ الْبَارِحَةَ حَتَّى الصَّبَاحِ) . او په معنا سره د (مَعَ) ډېر راځي، لکه : (قَدِمَ الْحَاجُّ حَتَّى الْمُشَاةِ) او نه داخلېږي مګر پر ظاهر ؛ څکه داسې نه ويل کېږي : (حَتَّاهُ) په خلاف د مبرد . او دا قول د شاعر دی (شعر) :

فَلَا وَاللهِ لَا يَبْقَى أُنَاسٌ   فَتًى حَتَّاكَ يَا ابْنَ أَبِيْ زِيَادِ

شاذ دی

څه تشريح : (حتّى) په شان د (إلى) دی په انتهائيت کې او په معنا د (مع) سره زيات راځي او (حتى) صرف په اسم ظاهر داخلېږي او (إلى) په ضمير او اسم ظاهر دواړو باندې داخلېږي لکه څرنګه چې دا مذهب د جمهورو نحاتو دی او په دې شعر کې چې (حتّاك) راغلی ؛ نو دا شاذ، يعني استعمال يې نادر دی .

وَ(فِيْ) وَهِيَ لِلظَّرْفِيَّةِ، نَحْوُ: (زَيْدٌ فِي الدَّارِ، وَالْمَاءُ فِي الْكُوْزِ) . وَبِمَعْنَى (عَلَى) قَلِيْلًا، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿... وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ ...﴾ [طه: ۷۱]

او بل له حروفو جاره ؤ څخه [فِي] ده او دا لپاره د ظرفيت ده، لکه: (زَيْدٌ فِي الدَّارِ، وَالْمَاءُ فِي الْكُوْزِ) . او په معنا سره د (عَلَى) لږ راځي، لکه دا قول د الله تعالى: ﴿... وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ ...﴾

تشريح: پوه سه! په دې چې (في) راځي لپاره د ظرفيت، يعني ګرځوي (ما بعد) خپل لره ظرف لپاره د (ما قبل) او دا عام دی حقيقتا وي او که مجازا، د حقيقي مثال لکه: (الماء في الكوز) او د مجازي مثال لکه: (النّجاة في الصّدق) او په معنا د (على) سره لږ راځي، مګر په دې کې اختلاف د نحاتو دی؛ امام زمخشري چې د (المفصل في صنعة الإعراب) ليکوال دی وايي: چې (في) په معنا د (على) سره نه راځي او کوم مثال چې ذکر سوی دی چې (في جزوع النخل)؛ نو دلته د (في) خپله معنا ظرفيت ده او ابن حاجب وايي: چې په دې مثال کې (في) په معنا د (على) سره دی او د دې لپاره يوه قاعده ذکر کوي چې په کوم شی کې چې معنا د استقرار د مرتبې وي؛ نو هلته مقام د ظرفيت به وي، يعني (في) به په خپله معنا حقيقي کې مستعمل وي او په کوم شی کې چې معنا د استعلاء وي او استعمال د (في) پکې سوی وي؛ نو هلته به (في) په معنا د (على) وي او که دواړي معناوي پکې وي؛ نو هلته اختيار دی چې هره معنا څني اخلې؛ نو جايز ده، لکه: (جلست في الأرض)، يا (جلست على الأرض) دواړه صحيح دي، پس دلته په آيت کې معنا د (استعلاء) ده؛ نو (في) په معنا د (على) سره ده.

فايده (د "فِي" نور درې استعمالات): ۱- (في) په معنى د (مع) سره کارول کيږي، لکه: ﴿قَالَ ٱدْخُلُوا۟ فِىٓ أُمَمٍ...﴾ [الأعراف: ۳۸]، أي: مع أممٍ . ۲- (في) په معنا د تعليل سره راځي، لکه: ﴿... لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾﴾ [الأنفال: ۶۸]؛ نو دلته (في) په معنا لام تعليله سره دی، (أي: لما أخذتم) . ۳- او (في) په معنا د مقابله سره راځي، لکه: ﴿... فَمَا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾﴾ [التوبة: ۳۸]، أي: ما الدّنيا في مقابلة الآخرة إلّا شيء قليل .

وَ(الْبَاءُ) لِلْإِلْصَاقِ، نَحْوُ: (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، أَيْ: اِلْتَصَقَ مُرُوْرِيْ بِمَوْضِعٍ يَقْرُبُ مِنْهُ زَيْدٌ

او (باء) لپاره د الصاق ده، لکه: (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، أَيْ: اِلْتَصَقَ مُرُوْرِيْ بِمَوْضِعٍ يَقْرُبُ مِنْهُ زَيْدٌ

تشريح: بل له حروف جاره ؤ څخه (باء) ده او دا راځي د ډېرو معناوو لپاره چې يو له هغو څخه الصاق دی او الصاق دې ته وايي چې ګرځوي آخري شی ملصق (منښلونکی) په مدخول خپل پوري او دا په طريقې د ګډوالي سره وي؛ نو دې ته الصاق حقيقي وايي، مثال يې لکه: (داء)؛ څکه (داء) ناروغي ته وي او ناروغي په نفس د انسان پوري تړلې ده او يا به (باء) په طريقې د ملګرتيا سره وي؛ نو دې ته

الصاق مجازي وايي، مثال يې لکه : (مررت بزيد، أي: التصق مروري بمكان يقرب مِنه زيد)، مطلب دا چې زه له زيد سره تېر سوم، يعني : ومېنلېدی زما تګ په داسې ځاى پوري چې هلته زيد ورنژدې دی اه !.

وَلِلْاِسْتِعَانَةِ، نَحْوُ : (كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ) . وَقَدْ يَكُوْنُ لِلتَّعْلِيْلِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَىٰ : ﴿...إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ...﴾ [البقرة: ٥٤] . وَلِلْمُصَاحَبَةِ كَـ(خَرَجَ زَيْدٌ بِعَشِيْرَتِهِ)

او (باء) لپاره د استعانت راځي، لکه : (كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ) . او په تحقيق سره (باء) لپاره د تعليل راځي، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿...إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ...﴾. او (باء) لپاره د مصاحبت راځي، لکه (خَرَجَ زَيْدٌ بِعَشِيْرَتِهِ)

څه تشريح : استعانت وايي وكومک ته : نو په (كتبتُ بالقلم) مثال کې باء لپاره د کومک ده، يعني : د قلم په کومک مې ليکنه وکړه او تعليل وايي علت ته : نو په (باتّخاذكم العِجْل) کې باء لپاره د علت ده، يعني : په سبب ستاسې د نيولو د ګيلګي په خدايي سره او مصاحبت وايي ملګرتيا ته : نو په (خرج زيدٌ بعشيرته) کې باء لپاره د ملګرتيا ده، يعني : زيد راووتی په ملګرتيا له خپلې کورنۍ سره اه !

وَلِلْمُقَابَلَةِ، كَـ(بِعْتُ هٰذَا بِذَاكَ)، وَلِلتَّعْدِيَةِ، كَـ(ذَهَبْتُ بِزَيْدٍ)، وَلِلظَّرْفِيَّةِ، كَـ(جَلَسْتُ بِالْمَسْجِدِ)

او (باء) لپاره د مقابلې راځي، لکه (بِعْتُ هٰذَا بِذَاكَ) او لپاره د تعديت راځي، لکه (ذَهَبْتُ بِزَيْدٍ) او لپاره د ظرفيت راځي، لکه (جَلَسْتُ بِالْمَسْجِدِ)

تشريح : پوه سه ! په دې چې (باء) د مقابلې لپاره هم راځي، لکه : (بِعْتُ هٰذَا بِذَاكَ)، يعني : دا شی ما رانيوی په مقابله د دغو پيسو او په معنا د تعديت سره هم راځي او د تعديت لغوي معنا ده تجاوز كول او په اصطلاح کې فعل لازمي متعدي كولو ته وايي، لکه : (ذهب زيد) لازمي دی چې معنا د دې دا ده : زيد تللی دی، پس هر کله چې په فاعل د دې باندې باء داخله سي ؛ نو وبه ګرځي متعدي مثال، لکه : (ذهبتُ بزيد) چې معنا د دې اوس دا سوه : ما زيد بېولی وو .

وَزَائِدَةً قِيَاسًا فِيْ خَبَرِ النَّفْيِ، نَحْوُ : (مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ) . وَفِي الْاِسْتِفْهَامِ، نَحْوُ : (هَلْ زَيْدٌ بِقَائِمٍ ؟)، وَسِمَاعًا فِي الْمَرْفُوْعِ، نَحْوُ : (بِحَسْبِكَ زَيْدٌ)، أَيْ : حَسْبُكَ زَيْدٌ، ﴿...وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾ [النساء: ٧٩]، أَيْ : كَفَى اللهُ . وَفِي الْمَنْصُوبِ، نَحْوُ : (أَلْقَى بِيَدِهِ)

او (باء) زايده راځي قياسا په خبر د نفي يې کې، لکه : (مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ) . او په استفهام کې، لکه : (هَلْ زَيْدٌ بِقَائِمٍ ؟) او سماعا په مرفوع کې راځي، لکه : (بِحَسْبِكَ زَيْدٌ)، أَيْ : حَسْبُكَ زَيْدٌ، ﴿...وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾، أَيْ : كَفَى اللهُ . او په منصوب کې راځي، لکه : (أَلْقَى بِيَدِهِ)

فايده (د "باء" نور ځلور استعمالات) : ۱- (باء) په معنا د (عن) سره هم راځي، لکه : ﴿سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ۝﴾ [المعارج: ۱]، أي : عن عذاب واقع . ۲- به معنا د (مِن) سره هم راځي، لکه : ﴿وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ ...﴾ [الفرقان: ۲۵]، أي : مِن الغمام . ۳- او په معنا د (على) سره هم راځي، لکه : ﴿... وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ ...﴾ [آل عمران: ۷۵]، أي : على قنطار . ۴- او په معنا د تجريد (خالي والي) سره هم راځي، لکه : (رأيتُ زيدا بالعِلم)، أي : خاليا عن العِلْم .

وَ(اللَّامُ)، وهِيَ لِلاِخْتِصَاصِ، نَحْوُ : (الجُلُّ لِلْفَرَسِ، وَالْمَالُ لِزَيْدٍ)، وَلِلتَّعْلِيلِ، كَـ(ضَرَبْتُهُ لِلتَّأْدِيبِ)

او (لام) چې دی دا لپاره د اختصاص دی، لکه : (الجُلُّ لِلْفَرَسِ، وَالْمَالُ لِزَيْدٍ) او لپاره د تعليل دی، لکه (ضَرَبْتُهُ لِلتَّأْدِيبِ)

تشريح : بل له حروف جاره ؤ څخه لام دی او د لام لپاره هم ډيري معناوي دي، ځيني له هغوی څخه دادي چې يو راځي په معنا د اختصاص سره او معنا د اختصاص دا ده چې يو شی د بل شی لپاره خاص کول او له بل څخه نفي کول، مګر دا په طريقې د استحقاق سره او يا په طريقې د تمليک سره وي، داول مثال لکه : (الجُلّ للفرس) او د دويم مثال لکه : (المال لزيد) .

او بل دا چې لام لپاره د تعليل، يعني : د علت راځي، لکه : (ضربته للتأديب)، ما دی وواهه د علت د ادب په وجه چې په ده کي ادب راسي .

وَزَائِدَةً، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿...رَدِفَ لَكُم...﴾ [النمل: ۷۲]، أَيْ : رَدِفَكُمْ

او بل لام راځي زايده، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿...رَدِفَ لَكُم...﴾، أَيْ : رَدِفَكُمْ

تشريح : بل لام راځي زايده په کلام کي، لکه په دې قول د الله تعالى کي : ﴿...رَدِفَ لَكُم...﴾ [النمل: ۷۲] ؛ نو دلته لام زايد دی ؛ ځکه (ردف) متعدي بنفسه دی ؛ نو پس نسته حاجت ذکر د لام ته چې په دې سره متعدي کيږي فعلِ لازمي .

وَبِمَعْنَى (عَنْ) إِذَا اسْتُعْمِلَ مَعَ الْقَوْلِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِ ...﴾ [الأحقاف: ۱۱]، وَفِيهِ نَظَرٌ

او لام په معنا سره د (عَنْ) راځي چې کله استعمال سي له قول سره، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِ ...﴾ او په دې کي نظر دی

تشريح : بل لام راځي په معنا د (عن) سره، مګر د دې لپاره شرط دا دئ : چې دا به د قول او يا د ده له مشتقاتو سره متصل وي، لکه : ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ...﴾، أي : عن الذين آمنوا .

وَبِمَعْنَى (الْوَاوِ) فِي الْقَسَمِ لِلتَّعَجُّبِ، كَقَوْلِ الْهُزَلِيِّ :

لِلّٰهِ يَبْقَى عَلَى الْأَيَّامِ ذُوْ حَيَدٍ   بِمُشْمَخِرٍ بِهِ الظَّيَّانُ وَالْإِنْسُ

او لام په معنا د (واو) سره راځي په قسم کي د تعجب لپاره، لکه د هزلي (شعر):

لله يَبْقَى عَلَى الْأَيَّامِ ذُوْ حَيَدٍ   بِمُشْمَخِرٍ بِهِ الظَّيَّانُ وَالْإِنْسُ

ځه تشريح: دا شعر د هزلي شاعر دی؛ نو په (لله يبقى) کي لام د قسم لپاره او په معنا د واو سره دی او تر (يبقى) مخکي لا حرف نفي مقدر دی او تر (على الأيام) مخکي مضاف مقدر دی، يعني: (مرور الأيام) او (حَيَد) په معنا د (شاخ مشمخر) سره دی چيږ جګ غره ته وايي او (ظبيان) جمع د (ظبي) ده چي وسی ته وايي او په (بمشمخر) کي باء په معنا د (في) سره ده او دا باقي پوره سره جمله د (مشمخر) لپاره صفت دی اه!.

او د شعر ژباړه دا ده: چي قسم په الله پاته به نه سي په تېرېدو د زماني سره ښکرونو والا ځنګلي بيزې په داسي جګ غره کي چي په هغه کي وسی او انسانان وي؛ مطلب د شاعر دا دئ: چي دنيا فاني ده او په جګو غرونو کي چي ځوک اوسيږي؛ نو هغه هم نه پاتيږي، بلکي هغه به هم مري؛ ځکه پر دې دنيا ټول ساکنان مري.

فايده (د "لام" نور ځيني استعمالات): ۱- لام جاره په معنا د (في) سره هم راځي، لکه: ﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ...﴾ [الأنبياء: ٤٧]، أي: في يوم القيامة.

۲- په معنا د (عند) سره هم راځي، لکه دلته په آيت کي داسي هم ويل کيږي: (أي: عند يوم القيامة).

۳- په معنا د (بعد) سره هم راځي، لکه: ﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ ...﴾ [الإسراء: ٧٨]، أي: بعد زوال الشمس.

۴- په معنا د (مع) سره هم راځي، لکه: ﴿فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ۝﴾ [الصفت: ١٠٣]، أي: مع الجبين.

۵- او په معنا د (إلى) سره هم راځي، لکه: ﴿... كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ...﴾ [الرعد: ٢]، أي: إلى أجل مسمّى آه!.

وَ (رُبَّ)، وَهِيَ لِلتَّقْلِيْلِ كَمَا أَنَّ (كَمْ) الْخَبَرِيَّةَ لِلتَّكْثِيْرِ، وَتَسْتَحِقُّ (رُبَّ) صَدْرُ الْكَلَامِ

او اېل له حروف جاره ځنځه (رُبَّ) دی او دا لپاره د لږوالي دی لکه څرنګه چي (كَمْ) خبريه لپاره د ډېروالي دی او حقدار دی (رُبَّ) د صدارت د کلام (خبرو)

تشريح: (رُبَّ) په پېښ سره د (راء) دا راځي لپاره د لږوالي، يعني مدخول د ده به افراد قليله وي چي په مقابله د (كم) خبريه کي به راځي؛ ځکه د (كم) مدخول افراد کثيره غواړي او دا معنا حقيقي د (رُبَّ) ده او مجازا د کثرت لپاره هم (رُبَّ) راځي او دا مذهب د جمهورو نحاتو دی چي (رُبَّ) حرف دی له حروف جاره ځنځه او اخفش او صاحب د (مفتاح) وايي (رُبَّ) اسم دی او (رَبَّ) په فتحه د (راء) سره پالونکي ته وايي، يعني: (رَبّ) او دا يو نوم دی له نومانو ځنځه د الله تعالى.

او بله خبره دا ده : چي (رُبَّ) د کلام د صدارت تقاضا کوي ؛ ځکه په ده کي معنا د انشاء تقليل ده ؛ نو د دغه دلالت لپاره صدارت غواړي، مګر صاحب د کتاب وايي : چي دی د صدارت مستحق دی او ابن حاجب وايي : چي صدارت ورلره واجب او لازم دی.

وَلَا تَدْخُلُ إِلَّا عَلَى نَكِرَةٍ مَّوْصُوفَةٍ، نَحْوُ : (رُبَّ رَجُلٍ لَقِيْتُهُ)، أَوْ مُضْمَرٍ مُبْهَمٍ مُفْرَدٍ مُذَكَّرٍ أَبَدًا مُمَيَّزٍ بِنَكِرَةٍ مَّنْصُوبَةٍ، نَحْوُ : (رُبَّهُ رَجُلًا، وَرُبَّهُ رَجُلَيْنِ، وَرُبَّهُ رِجَالًا، وَرُبَّهُ امْرَأَةً كَذَلِكَ)، وَعِنْدَ الْكُوفِيِّيْنَ يَجِبُ الْمُطَابَقَةُ، نَحْوُ : (رُبَّهُمَا رَجُلَيْنِ، وَرُبَّهُمْ رِجَالًا، وَرُبَّهَا امْرَأَةً)

او نه داخليږي (رُبَّ) مګر پر نکره موصوفه، لکه : (رُبَّ رَجُلٍ لَقِيْتُهُ)، يا به داخليږي پر مضمر مبهم مفرد مذکر همېشه مميز په نکره منصوبه، لکه : (رُبَّهُ رَجُلًا، وَرُبَّهُ رَجُلَيْنِ، وَرُبَّهُ رِجَالًا، وَرُبَّهُ امْرَأَةً كَذَلِكَ) او په نيز د کوفيانو واجب دی مطابقت، لکه : (رُبَّهُمَا رَجُلَيْنِ، وَرُبَّهُمْ رِجَالًا، وَرُبَّهَا امْرَأَةً)

تشريح : (رُبَّ) په نکره موصوفه باندي داخليږي ؛ ځکه تقليل په نکره کي متحقق کيږي په صفت سره ؛ ځکه کوم شی چي موصوف وي په يو صفت سره ؛ نو هغه له غير موصوف څخه اقل او اخص وي او يا به داخليږي پر ضمير، مبهم مفرد او مذکر باندي او دا مذهب د بصريانو دی او په مذهب د کوفيانو د ضمير مبهم او تميز کي مطابقت ضروري او لازم دی.

وَقَدْ تَلْحَقُهَا (مَا) الْكَافَّةُ ؛ فَتَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَتَيْنِ، نَحْوُ : (رُبَّمَا قَامَ زَيْدٌ، وَرُبَّمَا زَيْدٌ قَائِمٌ)

او په تحقيق سره ملحق کيږي (رُبَّ) په (مَا) کافه پوري ؛ نو داخليږي پر دوو جملو، لکه : (رُبَّمَا قَامَ زَيْدٌ، وَرُبَّمَا زَيْدٌ قَائِمٌ)

تشريح : ملحق کيږي کله کله په (رُبَّ) پوري (مَا) کافه او دی عمل نه کوي او (ما) کافه منع کوي ده لره له عمل کولو څخه په (ما بعد) کي او بيا (رُبَّ) په جمله اسميه او جمله فعليه په تولو داخليږي ؛ نو مثال د جمله اسميه يې لکه : (رُبما زيد قائم) او مثال د جمله فعليه يې لکه : (رُبما قائم زيد).

فايده : د (ما) کافه علامه دا ده چي همېشه به دی متصل ليکل کيږي او (ما) اسميه به همېشه مفصول ليکل کيږي اه !.

وَلَا بُدَّ لَهَا مِنْ فِعْلٍ مَّاضٍ ؛ لِأَنَّ رُبَّ لِلتَّقْلِيْلِ الْمُحَقَّقِ، وَهُوَ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِهِ، وَيُحْذَفُ ذَلِكَ الْفِعْلُ غَالِبًا، كَقَوْلِكَ : (رُبَّ رَجُلٍ أَكْرَمَنِيْ) فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ : (هَلْ لَقِيْتَ مَنْ أَكْرَمَكَ ؟)، أَيْ : (رُبَّ رَجُلٍ أَكْرَمَنِيْ لَقِيْتُهُ) ؛ فَـ(أَكْرَمَنِيْ) صِفَةُ الرَّجُلِ، وَ(لَقِيْتُهُ) فِعْلُهَا، وَهُوَ مَحْذُوْفٌ

او نسته چاره (رُبَّ) لره له يو فعل ماضي څخه ؛ ځکه (رُبَّ) لپاره د تقليل محقق دی او دا نه متحقق کيږي مګر په ده سره او حذفيږي دا فعل غالبا لکه دا قول ستا : (رُبَّ رَجُلٍ أَكْرَمَنِيْ) په جواب کي د هغه چا چي وايي : (هَلْ لَقِيْتَ مَنْ أَكْرَمَكَ ؟)، أَيْ : (رُبَّ رَجُلٍ أَكْرَمَنِيْ لَقِيْتُهُ) ؛ نو (أَكْرَمَنِيْ) صفت د سړي دی او (لَقِيْتُهُ) يې فعل دی او دا محذوف دی

(۳۵۱) پوښتنه : دلته (رُبَّ) په مضارع باندي داخل دی ؟

جواب : دلته مضارع په معنا د ماضي ده، يعني : (يودُّ) په معنا د (وَدَّ) سره دی .

وَ (وَاوُ) رُبَّ. وَهِيَ الْوَاوُ الَّتِيْ تَبْتَدِأُ بِهَا فِيْ أَوَّلِ الْكَلَامِ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ (شِعْرٌ) :

وَبَلْدَةٍ لَيْسَ بِهَا أَنِيْسُ إِلَّا الْيَعَافِيْرُ وَإِلَّا الْعِيْسُ

او ابل له حروف جاره ؤ څخه (واو) د (رُبَّ) دی او دا هغه واو دی چي په ده سره شروع كيږي په اول د خبرو كي لكه دا قول د شاعر (شعر) :

وَبَلْدَةٍ لَيْسَ بِهَا أَنِيْسُ إِلَّا الْيَعَافِيْرُ وَإِلَّا الْعِيْسُ

تشريح : بل حرف له حروف جاره ؤ څخه (واو) دی چي په معنا د (رُبَّ) سره دی، لكه د شاعر په دې قول كي راغلي دي : (وبلدة ليس لها...إلخ) او (اليعافير) جمع د (يعفور) ده چي معنا يې ده : د وسی بچی او (عيس) چي جمع يې (أعيس) راځي، معنا يې ده : سپين اوښ .

او د شعر ژباړه دا ده : او ما ډېر كلي پايمال كړي دي، يعني زه ورغلی يم، مګر ما په هغې كي پرته د بچو له وسيو او سپين اوښ څخه نور څه نه دیٔ ليدلي او دا شعر د عامر بن حارث دی او په دې شعر كي دی خپل جرأت او بهادري بيانوي چي داسې ځای ته تللی يمه ! چي هلته يو انسان هم نه وو او د بيري ځای وو او بل د مرستي لپاره هم يو انسان نه وو ؛ نو په دې شعر كي (واو) په معنا د (رُبّ) سره دی .

د (رُبّ) **په هكله د نحاتو د اختلاف حل :** په نېز د سيبويه او د بصريانو باندي دا (واو) عاطفه دی او تر دې وروسته به (رُبّ) مقدر وي او هغه به عامل وي او جر به وركوي او كوفيان او امام مبرد وايي : (واو) د (رُبّ) په خپله جاره دی او دليل يې دا دیٔ : چي دا (واو) په افتتاح د شعرونو او قصيدو كي راځي او كه د عطف لپاره وي ؛ نو په ابتدا كي به نه وای راغلی او دی ؛ خو راځي ؛ نو معلومه سوه چي حرف جاره دی .

او بصريان وايي : دا (واو) عاطفه دی او په ابتدا كي چي راځي ؛ نو ممكنه ده چي مخكي تر دې معطوف عليه په ذهن د متكلم كي وي او لكه څرنګه چي حرف عاطفه په اول د نورو حروفو جاره ؤ كي راځي ؛ دغه راز په اول د (رُبّ) كي هم دا (واو) راغلی دی، مطلب دا چي واو حرف عاطفه غير عامله دی او (رُبّ) حرف جر مقدر عامل دی اه ! .

وَ (وَاوُ) الْقَسَمِ. وَهِيَ تُخْتَصُّ بِالظَّاهِرِ. نَحْوُ : (وَاللهِ. وَالرَّحْمٰنِ لَأَضْرِبَنَّ) ؛ فَلَا يُقَالُ : (وَكَ)

او ابل له حروف جاره ؤ څخه (واو) د قسم دی او دا خاص دی په ظاهر پوري. لكه : (وَاللهِ، وَالرَّحْمٰنِ لَأَضْرِبَنَّ) ؛ نو داسي نه ويل كيږي : (وَكَ)

تشريح : بل له حروف جاره ؤ څخه واو قسميه دی او د ده لپاره درې شرايط دي : ۱- د ده فعل د (قسم) به حذف وي . ۲- واو د (قسم) په سوال كي نه راځي . ۳- او همېشه به په اسم ظاهر باندي داخليږي، نه په ضمير باندي .

نو هر چې اول شرط دی ؛ ځکه واو (کثير الاستعمال) دی په قسم کې ؛ نو په وخت د حذف د فعل کې ذهن فعل ته سبقت کوي او چې دويم شرط دی ؛ ځکه واو قسميه فرع د باء ده ؛ نو داسي نه ويل کيږي : (والله أجلس)، يا (والله أخبرني)، يا (والله لا تخبرني) او هر چې دريم شرط دی ؛ ځکه چې درجه د فرع کښته سي چې هغه واو قسميه دی له اصل څخه چې باء قسميه ده او باء قسميه په اسم ظاهر او ضمير دواړو باندي داخليږي .

وَ (تَاءُ) الْقَسَمِ ، وَهِيَ تُخْتَصُّ بِـ"اللهِ" وَحْدَهُ ؛ فَلَا يُقَالُ : (تَالرَّحْمٰنِ)، وَقَوْلُهُمْ : (تَرَبِّ الْكَعْبَةِ) شَاذٌّ

او [بل له حروف جاره ؤڅخه] (تاء) د قسم ده لو دا خاصه ده په (نامه د) "الله" پوري يواځي : نو داسي نه ويل کيږي : (تَالرَّحْمٰنِ) او دا قول د دوی : (تَرَبِّ الْكَعْبَةِ) شاذ دی

تشريح : بل له حروف جاره ؤڅخه تاء قسميه ده او د دې لپاره هم هغه درې شرايط دي : ۱- چې د ده فعل د (قسم) به حذف وي . ۲- تاء د (قسم) په سوال کې نه راځي . ۳- او همېشه به په اسم ظاهر داخليږي او په ضمير نه داخليږي، مګر مطلقا صرف په لفظ د الله پوري خاص ده چې (تالله) ويل کيږي او (تالرّحمٰن)، يا (تالرّحيم) او يا داسي نور ويل ناسم دي .

يادونه : (تربّ الكعبة) په كلام د عربو كې موجود دی ؛ نو په دې باندي نور قياسول صحيح نه دي او مذهب د امام اخفش دا دئ : چې (تاء) قسميه په هر اسم باندي داخليږي .

وَ (بَاءُ) الْقَسَمِ ، وَهِيَ تَدْخُلُ عَلَى الظَّاهِرِ وَالْمُضْمَرِ ، نَحْوُ : (بِاللهِ ، وَبِالرَّحْمٰنِ ، وَبِكَ) . وَلَا بُدَّ لِلْقَسَمِ مِنْ جَوَابٍ ، وَهِيَ جُمْلَةٌ تُسَمَّى الْمُقْسَمُ عَلَيْهَا . فَإِنْ كَانَتْ مُوجَبَةً ؛ يَجِبُ دُخُوْلُ اللَّامِ فِي الْاِسْمِيَّةِ وَالْفِعْلِيَّةِ ، نَحْوُ : (وَاللهِ لَزَيْدٌ قَائِمٌ ، وَ وَاللهِ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا) ، وَإِنَّ فِي الْاِسْمِيَّةِ ، نَحْوُ : (وَاللهِ إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ) ، وَإِنْ كَانَتْ مَنْفِيَّةً ؛ وَجَبَ دُخُوْلُ (مَا) ، وَ (لَا) ، نَحْوُ : (وَاللهِ مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ ، وَ وَاللهِ لَا يَقُوْمُ زَيْدٌ) .

وَاعْلَمْ ! أَنَّهُ قَدْ يُحْذَفُ حَرْفُ النَّفْيِ لِزَوَالِ اللُّبْسِ ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿..تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ...﴾ [يوسف: ۸۵] ، أَيْ : لَا تَفْتَأُ . وَيُحْذَفُ جَوَابُ الْقَسَمِ إِنْ تَقَدَّمَ مَا يَدُلُّ عَلَيْهِ ، نَحْوُ : (زَيْدٌ قَائِمٌ وَاللهِ) ، أَوْ تَوَسَّطَ الْقَسَمُ ، نَحْوُ : (زَيْدٌ وَاللهِ قَائِمٌ)

او [بل له حروف جاره ؤڅخه] (باء) د قسم ده او دا داخليږي پر ظاهر او مضمر دواړو، لکه : (بِاللهِ، وَبِالرَّحْمٰنِ، وَبِكَ) . او نسته چاره د قسم له يو جواب څخه او دا يوه داسي جمله ده چې بلل کيږي مقسم پر دې . که چيري موجبه وه ؛ نو واجب دی داخلېدل د لام په اسميت او فعليت کې، لکه : (وَاللهِ لَزَيْدٌ قَائِمٌ، وَ وَاللهِ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا)

او بیشکه په اسمیت کي ایږ مثال] لکه : (وَاللهِ إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ) او که وومنفي؛ نو واجب دی داخلیدل د (مَا) او (لَا)، لکه : (وَاللهِ مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ، وَ وَاللهِ لَا يَقُوْمُ زَيْدٌ).

او پوه سه! په دې چې په تحقیق سره حذفیږي حرف د نفي یې له وجې د زایلیدو د التباس، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿..تَاللَّهِ تَفْتَؤُاْ تَذْكُرُ يُوسُفَ...﴾، أي : لَا تَفْتَأُ . او حذفیږي جواب د قسم چې کله پر مخکې سې هغه څه چې دلالت پر ده کوي، لکه : (زَيْدٌ قَائِمٌ وَاللهِ)، یا په مینځ کې سې قسم، لکه : (زَيْدٌ وَاللهِ قَائِمٌ)

تشریح : مصنف رحمه الله علیه په تېر عبارت کې د باء قسمیه په هکله څو مهمې قاعدې ذکر کړې، لکه : ۱- د باء قسمیه لپاره ذکر د فعل قسم او حذف د فعل قسم دواړه صحیح دي، لکه : (بالله) او (أقسم بالله) . ۲- باء قسمیه په سوال او غیر سوال دواړو کې کارول کیږي، لکه : (بالله لأفعلن)، یا (بالله أجلس) دواړه صحیح دي.

۳- باء قسمیه په اسم ظاهر او ضمیر دواړو باندې داخلیږي، لکه : (بالله لأفعلَنّ، وبك لأفعلنّ) او دا دواړه صحیح دي او په اسم ظاهر کې هم تعمیم دی، یعنې : هغه که اسم ذاتي د الله تعالی وي او که اسم صفتي وي اه!.

وَ(عَنْ) لِلْمُجَاوَزَةِ. نَحْوُ : (رَمَيْتُ السَّهْمَ عَنِ الْقَوْسِ إِلَى الصَّيْدِ)

او [بل له حروف جاره ؤ څخه] (عَنْ) دی، لکه : (رَمَيْتُ السَّهْمَ عَنِ الْقَوْسِ إِلَى الصَّيْدِ)

تشریح : بل له حروف جاره ؤ څخه (عن) دی او دی راځي لپاره د (تجاوز) او (مجاوزت)، یعنې : له خپل مجرور څخه یو شی لیرې کوي او دا مجاوزت به یا په طریقې د انفصال سره وي او یا به نه وي، یعنې د مدخول له (عن) څخه به منفصل سوی وي او یا به نه وي منفصل سوی، د اول مثال لکه : (رمیت السهم عن القوس) او د دویم مثال لکه: (أخذت عنه العِلم) .

فایده (د "عَنْ" نور پېښنه استعمالات) : ۱- (عَنْ) په معنا د بدل هم راځي، لکه : ﴿وَاتَّقُواْ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ...﴾ [البقرة: ۴۸] . ۲- د استعلاء لپاره هم راځي، لکه : ﴿...فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ...﴾ [محمد: ۳۸] . ۳- د تعلیل لپاره هم راځي، لکه : ﴿.. وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِىٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ ..﴾ [هود: ۵۳] . ۴- په معنا د (بعد) سره هم راځي، لکه : ﴿لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ﴾ [الانشقاق: ۱۹]، یعنې : (حالة بعد حالة) . ۵- او په معنا د (مِن) سره هم راځي، لکه : ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ...﴾ [الشورى: ۲۵]، أي : مِن عباده .

وَ (عَلَى) لِلْاِسْتِعْلَاءِ. نَحْوُ : (زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ)

او (عَلَى) لپاره د استعلاء دی، لکه : (زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ)

څه تشریح : بل له حروف جاره ؤ څخه (على) دی او دی راځي لپاره د استعلاء او دا به یا حقیقي وي، لکه : (زید على السطح)، یعنې : زید پر بام دی او یا به حکمي وي، لکه : (عليَّ دَين)، یعنې : پر ما پور دی او یا دا سې نور مثالونه اه!.

وَقَدْ يَكُوْنُ (عَنْ وَعَلَى) اسْمَيْنِ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهِمَا (مِنْ)، كَمَا تَقُوْلُ : (جَلَسْتُ مِنْ عَنْ يَمِيْنِهِ، وَنَزَلْتُ مِنْ عَلَى الْفَرَسِ)

او په تحقيق سره وي به (عَنْ) او (عَلَى) دواړه اسمونه چي كله داخل سي پر دوی دوو (مِنْ)، لكه څرنګه چي ته وايې : (جَلَسْتُ مِنْ عَنْ يَمِيْنِهِ، وَنَزَلْتُ مِنْ عَلَى الْفَرَسِ)

تشريح : پوه سه ! په دې چي كله (عن) او (على) اسمين هم راځي او دا معنا مجازي د دوی ده او علامه د دې دا ده : چي (مِن) جاره به وړباندي داخل سوی وي او (عن) به په معنا د جانب (بغل) سره وي، لكه : (جلست عن يمينه)، يعني مِن جانب يمينه . چي معنا يې ده : زه کښېنستم د ده پر راسته بغل او (على) به په معنا د (فوق) سره وي، لكه : (ونزلت مِن على الفرس)، يعني : مِن فوق الفرس . چي معنا يې ده : او زه راكښته سوم له بالا څخه د آس ؛ ځكه چي (مِن) حرف جر دی او دا نه داخليږي، مګر په اسم باندي، كنې بيا به لازم سي دخول د حرف په حرف باندي او دا باطل دی اه !.

وَالْكَافُ لِلتَّشْبِيْهِ، نَحْوُ : (زَيْدٌ كَعَمْرٍو) . وَزَائِدَةً، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿... لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ [الشورى: ١١]

او كاف لپاره د تشبيه دی، لكه : (زَيْدٌ كَعَمْرٍو) . او بل كاف زائده دی، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿... لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾

تشريح : بل له حروف جاره وُ څخه (كاف) دی او دی راځي لپاره د تشبيه، لكه په دې قول كي (زيد كعمرو) يعني ګرځوي شی آخر مشابه له مدخول خپل سره او مدخول د ده به (مشبه به) وي، لكه : (زيد كعمرو)، يعني : زيد په شان د عمرو دی ؛ نو په دې مثال كي زيد (مشبه) او عمرو (مشبه به) او كاف (حرف تشبيه) دی .

او كاف زائده هم راځي، لكه : ﴿... لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ او په دې كي درې احتمالات دي : يو احتمال دا دئ : چي كاف پكي زائد دی راځي، لكه مخكي مثال چي يې تېر سو . دويم احتمال دا دئ : چي (مِثل) زائده دی . او دريم احتمال دا دئ : چي دواړه زائد نه دي، يعني : (كمثله) ؛ ځكه نفي د مثل د الله تعالى سوې ده كناية ؛ ځكه نفي د مثل د مثل د شي مستلزم وي او نفي د مثل لره او كنايه ابلغ وي تر صريح او په دې دريو صورتونو او احتمالاتو كي دا صورت راجح دی چي نه كاف زائد دی او نه مثل اه !.

وَقَدْ تَكُوْنُ إِسْمًا كَقَوْلِ الشَّاعِرِ : يَضْحَكْنَ عَنْ كَالْبَرَدِ الْمُنْهَمِّ

او كله كاف اسمي راځي لكه دا قول د شاعر چي دی : (يَضْحَكْنَ عَنْ كَالْبَرَدِ الْمُنْهَمِّ)

تشریح : کاف اسمي هغه وخت راځي چې کله وړباندي حرف جر داخل سي، لکه : (يضحكن عن كالبرد المنهمّ)، أي : مثل البرد المُنهمّ .

وَ (مُذْ وَمُنْذُ) لِلزَّمَانِ إِمَّا لِلْإِبْتِدَاءِ فِيْ الْمَاضِيْ، كَمَا تَقُوْلُ فِيْ شَعْبَانَ : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ رَجَبَ)، أَوْ لِلظَّرْفِيَّةِ فِيْ الْحَاضِرِ، نَحْوُ : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ شَهْرِنَا، وَمُنْذُ يَوْمِنَا)، أَيْ : فِيْ شَهْرِنَا وَفِيْ يَوْمِنَا

او اېل له حروف جاره ؤ څخه (مُذْ) او (مُنْذُ) دي لپاره د زماني، چې يا لپاره د ابتدا راځي په ماضي کي، لکه څرنګه چې ته يې په شعبان کي ايغني : د برات د مياشتي په هکله وايې : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ رَجَبَ) او يا لپاره د ظرفيت راځي په حاضر کي، لکه : (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ شَهْرِنَا، وَمُنْذُ يَوْمِنَا)، أَيْ : فِيْ شَهْرِنَا وَفِيْ يَوْمِنَا

يادونه : د (مُذ) او (مُنذ) په هکله څه تفصيل په ظروفو کي تېر سو چې اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته ؛ وَالْحَمْدُ للهِ تَعَالَى .

وَ(خَلَا وَعَدَا، وَحَاشَا) لِلْإِسْتِثْنَاءِ، نَحْوُ : (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ، وَحَاشَا عَمْرٍو، وَعَدَا بَكْرٍ)

او اېنور له حروف جاره ؤ څخه (خَلَا وَعَدَا، وَحَاشَا) دي لپاره د استثناء، لکه : (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ، وَحَاشَا عَمْرٍو، وَعَدَا بَكْرٍ)

څه تشریح : په دې استثنائي الفاظو کي چې هر يو په يو ځای کي استعمال سي ؛ نو هلته يې وروسته په جمعيت سره مستثنيات هم صحيح کېږي، لکه : (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ وَعَمْرٍو وَبَكْرٍ) او يواځي هم صحيح کيږي، لکه مخکي يې مثالونه تېر سوه .

او دا د حروف جاره ؤ آخري ډولونه وه چې تر (حَاشَا) پوري پای ته ورسېده .

د حروف جاره ؤ لپاره مختصر تمرين : ۱- (تَاللهِ لَأَنْصُرَنَّكَ) . ۲- (بِاللهِ عَلَيْكَ لَا تَقُلْ هٰذَا) . ۳- (بِأَخِيْكَ لَسْتُ بِنَادِمٍ) . ۴- (أَبْعَدْتُ الشَّرَّ عَنِ الرَّجُلِ) . ۵- (الْكِتَابُ عَلَى الْمِنْضَدَةِ) . ۶- (وَقَفْتُ مِنْ يَسَارِهِ) . ۷- (سَعِيْدٌ كَالْفَهْدِ) . ۸- (مَا تَكَلَّمْتُ مَعَهُ مُذْ شَهْرٍ) . ۹- (لَمْ أَرَهُ مُنْذُ سَنَتَيْنِ) . ۱۰- (ذَهَبَ عَمْرٌو خَلَا زَيْدٍ) . ۱۱- (جَاءَ الْأَوْلَادُ حَاشَا خَالِدٍ) . ۱۲- (رَأَيْتُ الطُّلَّابَ عَدَا سَعِيْدٍ) .

فَصْلٌ : الْحُرُوْفُ الْمُشَبَّهَةُ بِالْفِعْلِ سِتَّةٌ : (إِنَّ . وَأَنَّ . وَكَأَنَّ . وَلٰكِنَّ . وَلَيْتَ . وَلَعَلَّ) . هٰذِهِ الْحُرُوْفُ تَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَةِ الْإِسْمِيَّةِ تَنْصِبُ الْإِسْمَ وَتَرْفَعُ الْخَبَرَ كَمَا عَرَفْتَ . نَحْوُ : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

فصل دی : (حروف مشبهة بالفعل) شپږ دي : (إِنَّ، وَأَنَّ ، وَكَأَنَّ ، وَلٰكِنَّ، وَلَيْتَ، وَلَعَلَّ) . دغه حروف داخليږي پر جمله اسميه يې چې نصب ورکوي اسم ته او رفع ورکوي خبر ته لکه څرنګه چې تا وپېژندله، لکه : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ)

تشریح : هر کله چې فارغ سو مصنف رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى د بيان له حروف جاره ؤ څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د (حروف مشبهة بالفعل) کي او دا هم له حروف عامله ؤ څخه دي په شان د حروف جاره ؤ او دوي ته (حروف مشبهة بالفعل) ځکه وايي چې دوی له فعل سره په

خلورو شيانو کي مشابهت لري : ۱- په لفظ کي، ۲- په معنا کي، ۳- په عمل کي . ۴- او په اقسامو کي مشابهت ورسره لري او نور تفصيل يې په مخکي تېر سوی دی چي اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته ؛ وَالْحَمْدُ لله تَعَالَى .

وَقَدْ يَلْحَقُهَا (مَا) الْكَافَةُ ؛ فَتَكُفُّهَا عَنِ الْعَمَلِ، وَحِينَئِذٍ تَدْخُلُ عَلَى الْأَفْعَالِ، تَقُوْلُ : (إِنَّمَا قَامَ زَيْدٌ)

او په دوی پوري (مَا) کافه ملحقه کيږي ؛ نو بسنه يې کوي له عمل څخه او په دغه وخت کي داخليږي پر افعالو، چي ته به يې داسي وايې : (إِنَّمَا قَامَ زَيْدٌ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ يوه فايده ذکر کوي چي تر (حروف مشبهة بالفعل) وروسته (ما) کافه راځي چي په دغه وخت کي دوی عمل نه کوي او دوی بيا په فعل باندي هم داخليږي، لکه : (إنّما قام زيد) او په اسم باندي هم داخليږي، لکه :

﴿...أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ...﴾ [الكهف: ١١٠] .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (إِنَّ) الْمَكْسُوْرَةَ الْهَمْزَةِ لَا تُغَيِّرُ مَعْنَى الْجُمْلَةِ بَلْ تُؤَكِّدُهَا. وَ(أَنَّ) الْمَفْتُوْحَةَ الْهَمْزَةِ مَعَ مَا بَعْدَهَا مِنَ الْاِسْمِ وَالْخَبَرِ فِيْ حُكْمِ الْمُفْرَدِ

او پوه سه ! په دې چي (إِنَّ) مکسوره همزه چي ده نه متغير کوي معنا د جملې، بلکي مؤکده کوي يې او (أَنَّ) مفتوحه همزه چي ده سره تر وروسته له اسم او خبر څخه دا په حکم د مفرد کي دي

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د (أنّ) مفتوحه همزې والا او د (إنّ) مکسوره همزې والا فرق بيانوي، پس (إنّ) مکسوره همزې والا معنا د جملې نه بدلوي، بلکي زيات تاکيد پکي پيدا کوي او (أنّ) مفتوحه همزې والا سره له اسم او خبره په حکم د مفرد سره وي ؛ نو تغير په جملې کي راولي او طريقه د تغير به داسي وي چي له خبر څخه به مصدر راواخلي او اسم ته به مضاف سي، لکه : (بلغني أنّ زيدا قائم) سو ؛ نو (قائم) خبر د (أن) دی او مصدر د دې قيام دی چي دا به مضاف سي اسم د (أن) ته چي هغه زيد دی ؛ نو تقدير د عبارت به دا ډول سي : (بلغني قيام زيد) اه ! .

وَلِذَٰلِكَ يَجِبُ الْكَسْرُ إِذَا كَانَ فِيْ ابْتِدَاءِ الْكَلَامِ، نَحْوُ : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) . وَبَعْدَ الْقَوْلِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى :

﴿...يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ...﴾ [البقرة: ٦٨]

او له دې وجي واجب ده کسره چي کله وي په ابتدا کي د کلام، لکه : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) . او وروسته تر قول، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿...يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ...﴾

څه تشريح : په همزه مکسوره سره به ويل کيږي (إنّ) پس تر قول چي مشتق وي له قول څخه لکه : (قال)، يا (يقول) سو، لکه :

﴿...يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ...﴾ ؛ ځکه مقوله له قول څخه وي، مګر جمله وي .

وَبَعْدَ الْمَوْصُوْلِ، نَحْوُ : (مَا رَأَيْتُ الَّذِيْ إِنَّهُ فِي الْمَسَاجِدِ)، وَإِذَا كَانَ فِيْ خَبَرِهَا اللَّامُ، نَحْوُ: (إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ)

او وروسته تر موصول، لكه : (مَا رَأَيْتُ الَّذِيْ إِنَّهُ فِي الْمَسَاجِدِ) او كله چي په خبر كي يې لام وي، لكه : (إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ)

څه تشريح : كله چي د دې په خبر كي لام وي ؛ نو هلته به هم مكسوره همزه ويل كيږي ؛ ځكه لام راځي لپاره د تاكيد د معنا د جملې چي بناء په قاعده مذكوره باندي دا هم د جملې ځاى دى .

وَيَجِبُ الْفَتْحُ حَيْثُ يَقَعُ فَاعِلًا، نَحْوُ : (بَلَغَنِيْ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) . وَحَيْثُ يَقَعُ مَفْعُوْلًا، نَحْوُ: (كَرِهْتُ أَنَّكَ قَائِمٌ) . وَحَيْثُ يَقَعُ مُبْتَدَأً، نَحْوُ : (عِنْدِيْ أَنَّكَ قَائِمٌ) . وَحَيْثُ يَقَعُ مُضَافًا إِلَيْهِ، نَحْوُ : (عَجِبْتُ مِنْ طُوْلِ أَنَّ بَكْرًا قَائِمٌ) . وَحَيْثُ يَقَعُ مَجْرُوْرًا، نَحْوُ : (عَجِبْتُ مِنْ أَنَّ بَكْرًا قَائِمٌ)، وَبَعْدَ (لَوْ)، نَحْوُ: (لَوْ أَنَّكَ عِنْدَنَا لَأَكْرَمْتُكَ)، وَبَعْدَ (لَوْ لَا)، نَحْوُ : (لَوْلَا أَنَّهُ حَاضِرٌ ؛ لَغَابَ زَيْدٌ)

او واجب ده فتحه چيري چي واقع كيږي فاعل، لكه : (بَلَغَنِيْ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) . او چيري چي مفعول واقع كيږي، لكه : (كَرِهْتُ أَنَّكَ قَائِمٌ) . او چيري چي مبتدا واقع كيږي، لكه : (عِنْدِيْ أَنَّكَ قَائِمٌ) . او چيري چي مضاف إليه واقع كيږي، لكه : (عَجِبْتُ مِنْ طُوْلِ أَنَّ بَكْرًا قَائِمٌ) . او چيري چي مجرور واقع كيږي، لكه : (عَجِبْتُ مِنْ أَنَّ بَكْرًا قَائِمٌ) او وروسته تر (لَوْ) چي واقع كيږي، لكه : (لَوْ أَنَّكَ عِنْدَنَا لَأَكْرَمْتُكَ) او وروسته تر (لَوْ لَا) چي واقع كيږي، لكه : (لَوْلَا أَنَّهُ حَاضِرٌ ؛ لَغَابَ زَيْدٌ)

څه تشريح : واجب او لازمه ده چي وويل سي (أن) مفتوحه همزې والا په هغه ځاى كي چي وروسته تر ده فاعل واقع كيږي او په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ مقامات د (أنّ) بيانوي چي اول له هغو ځايو څخه فاعل دى ؛ ځكه چي فاعل نه وي، مگر مفرد وي، لكه : (بلغني إنّ زيدا قائم)، دا سې تر آخره پوري نور مثالونه اه ! .

وَيَجُوْزُ الْعَطْفُ عَلَى اِسْمِ (إِنَّ) الْمَكْسُوْرَةِ بِالرَّفْعِ وَالنَّصْبِ بِاِعْتِبَارِ الْمَحَلِّ وَاللَّفْظِ، مِثْلُ: (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ وَعَمْرٌو وَعَمْرًا) . وَاعْلَمْ ! أَنَّ (إِنَّ) الْمَكْسُوْرَةَ يَجُوْزُ دُخُوْلُ اللَّامِ عَلَى خَبَرِهَا

او روا دى عطف پر اسم د (إِنَّ) چي مكسوره وي په رفع او نصب سره په اعتبار د محل او لفظ سره، لكه : (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ وَعَمْرٌو وَعَمْرًا) . او پوه سه ! په دې چي (إِنَّ) مكسوره روا دى داخليدل د لام پر خبر يې

څه تشريح : مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په دې عبارت سره تفريع په اصل او قاعده باندي ذكر كوي چي (إنّ) مكسوره همزې والا معنا د جملې نه بدلوي ؛ نو لهذا د ده په خبر باندي لام تاكيد داخليداى سي ؛ ځكه لام تاكيد د جملې د تاكيد لپاره راوړل كيږي چي د دوى په مينځ كي څه تضاد نسته .

وَقَدْ تُخَفَّفُ، فَيَلْزَمُهَا اللَّامُ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ ...﴾ [هود: ۱۱۱]

او په تحقيق سره (كله ناكله) مخفف كيږي؛ نو لازموي لام لكه دا قول د الله تعالى: ﴿وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ ...﴾

تشريح: په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د (حروف مشبهة بالفعل) د تخفيف مسئله ذكر كوي او په دې كې څلور حروف مشدد دي چې په دوى كې تخفيف جايز دى او په مختلفو طريقو سره كېداى سي چې اول له هغو څخه مسئله د تخفيف د (إن) مكسوره همزه والا ذكر كوي؛ نو دا ډول يې وويل چې: (وقد تخفف إنّ المكسورة إلخ)، يعني په (إن مكسور الهمزة) كې تخفيف كېداى سي؛ ځكه دا ثقيل دى او د وجې له تشديد او كثرت استعمال څخه هم تقاضا د خفت كوي؛ نو په دې وجه مخفف راځي له مثقل څخه، مگر لام ورسره راوړل بيا په خبر كې لپاره د دې چې فرق راسي د (إن) مخففه له مثقله څخه او هر چې صورت د عمل كولو دى؛ نو دا حمل دى په صورت د الغاء باندې؛ ځكه دا لام مشروط دى په څلورو شرطو باندې:

۱- خبر به مثبت وي او منفي به نه وي؛ ځكه لام وضع سوى دى لپاره د تاكيد د امر مثبت. ۲- خبر به ماضي نه وي چې خالي وي له (قد) څخه: ځكه لام تاكيد د هغه شي كوي چې اوس موجود وي. ۳- خبر به جمله شرطيه نه وي؛ ځكه دا (متردد الوجود) دى او په لام سره تاكيد د هغه شي راځي چې (متحقق الوجود) وي. ۴- او خبر به جواب د قسم نه وي: ځكه هغه مصدر وي په لام سره لپاره د دې چې لازم نه سي توالي د لامينو، مگر نه دا كه فصل راغلى وو په مينځ د (إن) او د لام كې په (ما) زائده سره، لكه: ﴿وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ ...﴾ [هود: ۱۱۱].

وَحِينَئِذٍ يَجُوزُ إِلْغَاؤُهَا، كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ﴾ [يس: ۳۲].
وَيَجُوزُ دُخُولُهَا عَلَى الْأَفْعَالِ عَلَى الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿... وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ﴾ [يوسف: ۳]. ﴿... وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ﴾ [الشعراء: ۱۸۶]

او دغه وخت روا دى الغاء (ابله كول) يې، لكه دا قول د الله تعالى: ﴿وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ﴾.

او روا دى داخلول يې پر افعالو پر مبتدا او خبر، لكه دا قول د الله تعالى: ﴿... وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ﴾. ﴿... وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ﴾.

تشريح: جايز دى دخول د (إن) مكسوره وروسته تر تخفيف په هغو افعالو باندې چې هغه له دواخلو څخه د مبتدا او خبر وي، لكه باب د (كان) سو، يا باب د (علم) سو؛ ځكه اصل په ده كې دا دى چې دى به داخليږي په مبتدا او خبر باندې.

نو هر كله چې فوت سو د خول د ده په مبتدا او خبر باندې؛ نو چاره نسته له ده څخه چې دى به داخليږي په هغو افعالو باندې چې هغه د دواخلو له مبتدا او خبر څخه وي لپاره د رعايت د اصل، لكه څرنګه چې يې دوه مثالونه په عبارت كې تېر سوه اه!

وَكَذٰلِكَ أَنَّ الْمَفْتُوحَةَ قَدْ تُخَفَّفُ ؛ فَحِينَئِذٍ يَجِبُ إِعْمَالُهَا فِيْ ضَمِيْرِ شَأْنٍ مُقَدَّرٍ. فَتَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَةِ إِسْمِيَّةً كَانَتْ، نَحْوُ : (بَلَغَنِيْ أَنْ زَيْدٌ قَائِمٌ)، أَوْ فِعْلِيَّةً، نَحْوُ : (بَلَغَنِيْ أَنْ قَدْ قَامَ زَيْدٌ) .
وَيَجِبُ دُخُوْلُ (السِّيْنِ)، أَوْ (سَوْفَ)، أَوْ (قَدْ)، أَوْ حَرْفِ النَّفْيِ عَلَى الْفِعْلِ، كَقَوْلِهٖ تَعَالَى : ﴿...عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ...﴾ [المزمل: ٢٠]، وَالضَّمِيْرُ الْمُسْتَتِرُ اِسْمُ (أَنَّ)، وَالْجُمْلَةُ خَبَرُهَا

او دا ډول (أَنَّ) مفتوحه په تحقيق سره (كله ناكله) مخففه كيږي ؛ نو په دغه وخت كې واجب دى عمل كول يې په ضمير شان كې چې مقدر وي، بيا داخليږي پر جملې كه هغه اسميه وي، لكه : (بَلَغَنِيْ أَنْ زَيْدٌ قَائِمٌ)، يا فعليه وي، لكه : (بَلَغَنِيْ أَنْ قَدْ قَامَ زَيْدٌ) .
او واجب دى داخلېدل د سين، يا د (سَوْفَ)، يا د (قَدْ) او يا د حرف نفي يې پر فعل، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿...عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ...﴾ او ضمير مستتر اسم د (أَنَّ) دى او جمله يې خبر دى

تشريح : په دې عبارت سره بيان د يوې ضابطې كوي چې هر كله (أَنَّ) مفتوحه همزې والا وروسته تر تخفيف په فعل باندې داخل سي ؛ نو په دغه وخت كي يو له څلورو شيانو څخه په فعل باندي داخلول ضروري دي : ۱- سين . ۲- (سوف) . ۳- (قد) . ۴- او حرف نفي يې ؛ لپاره د دې چې التباس را نه سي له (أن) ناصبه مصدريه سره ؛ نو مثال د سين، لكه : ﴿...عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ...﴾ ؛ مثال د (سوف)، لكه : (سوف يأتي كُل ما قُدِّر) ؛ مثال د (قد)، لكه : ﴿لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ...﴾ [الجن: ٢٨] او په حرف نفي كي به قرينه پكار وي ؛ ځكه چې حرف نفي له دواړو سره راتلاى سي، كه (أن) ناصبه مصدريه وي او كه (أن) مخففه له مثقله څخه وي او قرينه به يا لفظي وي چې كله وروسته يې مضارع منصوبه راغلې وي .
نو دا به (أن) ناصبه مصدريه وي او چې كله يې وروسته مضارع مرفوع راغلې وي ؛ نو دا به (أن) مخففه له مثقله څخه وي او قرينه به يا معنويه وي او هغه دا ده : كه چيرې مضارع يې په استقبال پورې خاص وي ؛ نو دا به (أن) ناصبه مصدريه وي، كنې (أن) مخففه به وي له مثقله څخه اه ! .

وَ (كَأَنَّ) لِلتَّشْبِيْهِ، نَحْوُ : (كَأَنَّ زَيْدًا الْأَسَدُ). وَهُوَ مُرَكَّبٌ مِنْ كَافِ التَّشْبِيْهِ وَ (إِنَّ) الْمَكْسُوْرَةِ. وَإِنَّمَا فُتِحَتْ لِتَقَدُّمِ الْكَافِ عَلَيْهَا. تَقْدِيْرُهُ : (إِنَّ زَيْدًا كَالْأَسَدِ) .
وَقَدْ تُخَفَّفُ فَتَلْغَى، نَحْوُ : (كَأَنْ زَيْدٌ أَسَدٌ)

او (كَأَنَّ) لپاره د تشبيه دى، لكه : (كَأَنَّ زَيْدًا الْأَسَدُ) او دا مركب دى له كاف تشبيه او (إِنَّ) مكسوره څخه او بېشكه دى مفتوح گرځېدلى دى له وجې د مخكې والي د كاف پر ده، چې تقدير يې داسې دى : (إِنَّ زَيْدًا كَالْأَسَدِ) .

او په تحقيق سره (كله ناكله) مخفف كيږي چې ملغي (عن العمل) سي، لكه: (كَأَنْ زَيْدٌ أَسَدٌ)

تشريح: بل له حروف (مشبهة بالفعل) څخه (كأنّ) دى او دى راځي لپاره د تشبيه، يعني د يو شى له بل شى سره تشبيه وركوي، لكه: (كأنّ زيدا أسدٌ)، يعني: ګواكي زيد يو زمرى دى؛ نو دلته په مثال كي زيد له زمري سره مشابه سو.

(۳۵۲) پوښتنه: دا عبارت چي وايي: (وَإِنَّمَا فُتِحَتْ) تر (إِنَّ زَيْدًا كَالْأَسَدِ) پوري جواب دى له سوال مقدر څخه او پوښتنه داسي واردېږي: چي هر كله (كأنّ) مركب سو له كاف تشبيه او (إنّ) مكسورې همزې والا سره؛ نو همزه ولې مكسوره نه سوه؟

جواب: دا دئ چي همزه په (كأنّ) كي؛ ځكه مفتوحه سوه چي كاف حرف جر دى او حرف جاره په (أن) مفتوحه همزې والا باندي داخلېږي، نه په (إنّ) مكسوره همزې والا باندي.

او په دې كي لحاظ او رعايت د اصل سوى دى، كه څه هم اوس دا حرف جر نه دى او كله چي همزه مكسوره په مفتوحه باندي بدله سوه؛ نو تقدير د عبارت (كأنّ زيدا أسد) داسي سو: (إنّ زيدا كالأسد).

وَ (لَكِنَّ) لِلْإِسْتِدْرَاكِ، وَيَتَوَسَّطُ بَيْنَ كَلَامَيْنِ مُتَغَايِرَيْنِ فِي الْمَعْنَى، نَحْوُ: (مَا جَاءَنِي الْقَوْمُ لَكِنَّ عَمْرًوا جَاءَ)، وَ (غَابَ زَيْدٌ، لَكِنَّ بَكْرًا حَاضِرٌ). وَيَجُوزُ مَعَهَا الْوَاوُ، نَحْوُ: (قَامَ زَيْدٌ وَلَكِنَّ عَمْرًوا قَاعِدٌ). وَقَدْ تُخَفَّفُ فَتَلْغَى، نَحْوُ: (مَشَى زَيْدٌ، لَكِنْ بَكْرٌ عِنْدَنَا)

او (لَكِنَّ) لپاره د استدراك دى او په مينځ كي راځي د وو كلامينو متغايرينو په معنا كي، لكه: (مَا جَاءَنِي الْقَوْمُ لَكِنَّ عَمْرًوا جَاءَ) او (غَابَ زَيْدٌ، لَكِنَّ بَكْرًا حَاضِرٌ). او روا دى له دې سره واو، لكه: (قَامَ زَيْدٌ وَلَكِنَّ عَمْرًوا قَاعِدٌ). او په تحقيق سره مخفف كيږي چي ملغي (عن العمل) سي، لكه: (مَشَى زَيْدٌ، لَكِنْ بَكْرٌ عِنْدَنَا)

تشريح: بل له (حروف مشبهة بالفعل) څخه (لكن) دى او دا راځي لپاره د استدراك او استدراك په لغت كي موندلو ته وايي او په اصطلاح كي دفع د توهم ته وايي چي هغه له مخكي كلام څخه راغلى وي او (لكن) راځي په مينځ د كلامينو متغايرينو كي، برابره خبره ده چي لفظي متغاير وي او كه معنوي متغاير وي، مطلب دا چي يو كلام منفي وي او بل مثبت وي، لكه: (جاء زيد، لكن عمرو لم يجيئ).

وَ (لَيْتَ) لِلتَّمَنِّي، نَحْوُ: (لَيْتَ هِنْدًا عِنْدَنَا). وَأَجَازَ الْفَرَّاءُ (لَيْتَ زَيْدًا قَائِمًا) بِمَعْنَى أَتَمَنَّي

او (لَيْتَ) لپاره د تمنا دى، لكه: (لَيْتَ هِنْدًا عِنْدَنَا). او روا كړى دى (امام) فراء داسي (لَيْتَ زَيْدًا قَائِمًا) په معناد (أَتَمَنَّي) سره

تشریح : بل له (حروف مشبهة بالفعل) څخه (ليت) دی او دا راځي لپاره د (تمني) او دا په عربي ژبه کي تمنا ته ويل کيږي او تمنا طلب د حصول د شی دی په طريقي د ميني سره او دا په ممکن او ممتنع دواړو باندي داخليږي، لکه : (ليت زيدا قائم)، يا (ليت الشباب يعود) په خلاف د (لعلّ) چي د (ترجي) لپاره دی او (ترجي) په ممکن باندي داخليږي او په ممتنع باندي نه داخليږي اه !.

وَ(لَعَلَّ) لِلتَّرَجِّيْ، كَقَوْلِ الشَّاعِرِ :

أُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ   لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِيْ صَلَاحًا

او (لَعَلَّ) لپاره د (ترجي) امید دی، لکه دا قول د شاعر :

أُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ   لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِيْ صَلَاحًا

تشریح : بل له (حروف مشبهة بالفعل) څخه (لعلّ) دی او دی راځي لپاره د (ترجي)، يعني د امید د يو شی په دې شرط چي د هغه شی وجود (شتون) به کېدونکی وي، برابره خبره ده چي هغه شی محبوب (خوښ کړل سوی) وي، لکه : ﴿...لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [البقرة ١٨٩] او که مکروه (کرکه ځني سوې) وي، لکه : ﴿...لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٌ﴾ [الشورى ١٧].

او د شعر ژباړه دا ده : (أُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ)، يعني : زه له نېکانو سره مينه لرم او له دوی څخه نه يم . (لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِيْ صَلَاحًا)، يعني : ښايي چي الله (تعالی) به ما ته [له نېکانو سره د محبت په وجه] صالحوالی په روزي راکړي .

وَشَذَّ الْجَرُّ بِهَا (لَعَلَّ زَيْدٍ قَائِمٌ)

او شاذ ګرځي جر په دې سره (لَعَلَّ زَيْدٍ قَائِمٌ)

(۳۵۳) پوښتنه : (لعل) له (حروف مشبهة بالفعل) څخه نه دئ صحيح ؛ ځکه دا خو له حروف جاره ؤ څخه دئ ؟

جواب : دا دئ په دې سره جر شاذ دی چي راغلی دی په دې شعر کي لکه : (لعلّ أبي المغوار منك قريب) ؛ نو يا خو جر په دې کي په طريقه د حکايت سره دی او چيري چي په بل ځای کي دی مجرور استعمال سوی دی ؛ نو دلته په طريقي د حکايت سره ذکر سوی دی او يا دا چي دا (رَجل) مشهور وو په (أبي المغوار) سره ؛ نو په احوال ثلاثه ؤ کي په (ياء) سره ذکر کيږي، برابره خبره ده چي حالت رفعي وي، که حالت نصبي وي او که حالت جري وي .

وَفِيْ (لَعَلَّ) لُغَاتٌ : عَلَّ، وَعَنَّ، وَأَنَّ، لَأَنَّ، وَلَعَنَّ

او په (لَعَلَّ) کي څو لغتونه دي (لکه) : (عَلَّ، وَعَنَّ، وَأَنَّ، لَأَنَّ) او (لَعَنَّ)

تشريح : په (لَعَلَّ) کې توله لس لغتونه دي، مګر مصنف رحمه الله دلته شپږ ذکر کړي دي او څلور يې پرېښي دي: ۱- (عَلّ) په حذف د لام سره . ۲- (عن) په حذف د اول لام سره او په بدل د دويم لام په نون سره . ۳- (أنْ) په حذف د اول لام سره او په بدل د عين کليمې په همزې سره او په بدل د دويم لام په نون سره . ۴- (لانّ) په بدل د لام کليمې په همزې سره او دويم لام په نون سره . ۵- (لعنّ) چې دويم لام په نون مشدد سره بدل سي . ۶- او (لعلّ) دا په خپل اصل باندې پاته دی .

وَعِنْدَ الْمُبَرِّدِ أَصْلُهُ (عَلَّ)، زِيْدَ فِيْهِ اللَّامُ، وَالْبَوَاقِيْ فُرُوْعٌ

او په نيز د (امام) مبرد اصل يې (عَلَّ) دی، چې په دې کې لام زيات سوی دی او نور پاته فروع دي

د (حروف مشبهة بالفعل) لپاره **مختصر تمرين** : ۱- (إِنَّ سَعِيْدًا قَائِمٌ) . ۲- (هٰذَا عَالِمٌ لٰكِنَّهُ وَضِيْعٌ) . ۳- (كَأَنَّ زَيْدًا أَسَدٌ) . ۴- (سَلْمَانُ يَدْرُسُ وَلٰكِنْ سَعِيْدٌ يَلْعَبُ) .

حُرُوْفُ الْعَطْفِ عَشَرَةٌ: اَلْوَاوُ، وَالْفَاءُ، وَثُمَّ، وَحَتّٰى، وَ أَوْ، وَإِمَّا، وَأَمْ، وَلَا، وَبَلْ، وَلٰكِنْ

حروف د عطف لس دي : (اَلْوَاوُ، وَالْفَاءُ، وَثُمَّ، وَحَتّٰى، وَ أَوْ، وَإِمَّا، وَأَمْ، وَلَا، وَبَلْ) او (لٰكِنْ)

تشريح : دا فصل دی په بيان د حروف عطف کې او هغه لس ۱۰ دي او هر کله چې مصنف رحمه الله فارغ سو د بيان له (حروف مشبهة بالفعل) څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د حروف عطف کې او عطف په لغت کې امالې ته وايي او دې حروفو ته حروف عطف په دې مناسبت سره وايي چې په دې سره ميلان د معطوف معطوف عليه ته راځي او دا حروف لس دي : ۱- (واو) . ۲- (في) . ۳- (ثم) . ۴- (حتّی) . ۵- (أو) . ۶- (إمّا) . ۷- (أم) . ۸- (لا) . ۹- (بل) . ۱۰- او (لكن) .

فَالْأَرْبَعَةُ الْأُوَلِ لِلْجَمْعِ ؛ فَـ(الْوَاوُ) لِلْجَمْعِ مُطْلَقًا. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو). سَوَاءٌ كَانَ زَيْدٌ مُقَدَّمًا فِي الْمَجِيْءِ، أَوْ عَمْرٌو

څلور اولني چې دي لپاره د جمع دي ؛ نو (واو) لپاره د جمع دی مطلقا. لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو)، برابره خبره ده که وي زيد مخکې په تګ کې او که عمرو مخکې وي

تشريح : هر کله چې فارغ سو مصنف رحمه الله د بيان د اجمال له حروف عطف څخه ؛ نو شروع يې وکړه په بيان د تفصيل د حروف عطف کې او داسې يې ووېل : چې په حروف عطف کې څلور اولني لپاره د جمع دي، برابره خبره ده چې مطلق جمع وي او که په ترتيب سره وي او مراد له جمع څخه دا ده : چې (معطوف عليه) او (معطوف به) په حکم کې برابر وي او دا معنا مراده نه ده چې په مصاحبت سره به وي .

(۳۵۴) پوښتنه : واو په حروف عاطفه کې په دې نورو ولې مقدم سو ؟

جواب : لپاره د رعايت د اصل ؛ ځکه په حروف عطف کې واو اصل دی .

وَ (الْفَاءُ) لِلتَّرْتِيْبِ بِلَا مُهْلَةٍ. نَحْوُ : (قَامَ زَيْدٌ فَعَمْرٌو)، إِذَا كَانَ زَيْدٌ مُتَقَدِّمًا وَعَمْرٌو مُتَأَخِّرٌ بِلَا مُهْلَةٍ . وَ (ثُمَّ) لِلتَّرْتِيْبِ بِمُهْلَةٍ. نَحْوُ : (دَخَلَ زَيْدٌ ثُمَّ عَمْرٌو)، إِذَا كَانَ زَيْدٌ مُتَقَدِّمًا وَبَيْنَهُمَا مُهْلَةٌ . وَ (حَتَّى) كَـ(ثُمَّ) فِي التَّرْتِيْبِ وَالْمُهْلَةِ إِلَّا أَنَّ مُهْلَتَهَا أَقَلُّ مِنْ مُهْلَةِ (ثُمَّ) .

وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُوْنَ مَعْطُوْفُهَا دَاخِلًا فِي الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ . وَهِيَ تُفِيْدُ قُوَّةَ الْمَعْطُوْفِ. نَحْوُ: (مَاتَ النَّاسُ حَتَّى الْأَنْبِيَاءُ)، أَوْ ضُعْفًا. نَحْوُ : (قَدِمَ الْحَاجُّ حَتَّى الْمُشَاةُ)

او (فاء) لپاره د ترتيب ده بېله مهلته. لکه : (قَامَ زَيْدٌ فَعَمْرٌو)، هغه وخت چې کله زيد مخکې وي او عمرو وروسته وي بېله مهلته . او (ثُمَّ) لپاره د ترتيب دی په مهلت سره. لکه : (دَخَلَ زَيْدٌ ثُمَّ عَمْرٌو)، هغه وخت چې کله زيد مخکې وي او د دوی په مينځ کې مهلت وي . او (حَتَّى) لکه (ثُمَّ) داسې دی په ترتيب او مهلت کې مګر نه دا چې وي مهلت يې کم تر مهلت د (ثُمَّ) .

او شرط دی دا چې وي معطوف يې داخل په معطوف عليه کې . او دا فايده کوي قوت په معطوف کې، لکه : (مَاتَ النَّاسُ حَتَّى الْأَنْبِيَاءُ)، يا فايده کوي ضُعف، لکه : (قَدِمَ الْحَاجُّ حَتَّى الْمُشَاةُ)

تشريح : مصنف رحمة الله عليه په دې عبارت سره د (حتّى) لپاره شرط بيانوي چې قاعده دا ده : چې د (حتّى) معطوف به د خپل متبوع معطوف عليه جز وي او (حتّى) به په خپل معطوف کې قوت او ضعف پيدا کوي هغه وخت که جز قوي وو ؛ نو قوت به فايده کوي او که جز ضعيف وو ؛ نو ضعف به فايده کوي، د قوت مثال لکه : (مات النّاس حتّى الأنبياء) او مثال د ضعف لکه : (قَدِم الحاجّ حتّى المشاة) .

او د (حتّى) لپاره څلور شرايط دي : ۱- اسم به وي . ۲- اسم ظاهر به وي . ۳- معطوف به د معطوف عليه جز وي . ۴- او له (ما قبل) څخه به زيات وي، لکه : (مات النّاس حتّى الأنبياء) او يا به کم وي، لکه : (قَدِم الحاجّ حتّى المشاة) .

د (ثمّ) او (حتّى) تر مينځ فرق : ۱- په (حتّى) کې مهلت کم او په (ثمّ) کې زيات دی . ۲- د (حتّى) معطوف به په معطوف عليه کې داخل وي په خلاف د (ثمّ) . ۳- او دريم فرق يې دا دئ : چې په (حتّى) کې مهلت ذهني وي او په (ثمّ) کې خارجي وي، لکه : (مات النّاس حتّى الأنبياء)، يعني : د تمامو انسانانو تر مرګ وروسته د انبياؤ وفات امر ذهني دی او په خارج کې دا ترتيب لازم او ضروري نه دی، بلکې د انبياؤ وفات د خلکو په مينځ کې سوی دی .

وَ (أَوْ وَإِمَّا وَأَمْ) ثَلَاثَتُهَا لِثُبُوْتِ الْحُكْمِ لِأَحَدِ الْأَمْرَيْنِ مُبْهَمًا لَا بِعَيْنِهِ. نَحْوُ : (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ). وَ (إِمَّا) إِنَّمَا تَكُوْنُ حَرْفُ الْعَطْفِ إِذَا تَقَدَّمَتْهَا إِمَّا أُخْرَى. نَحْوُ : (الْعَدَدُ إِمَّا زَوْجٌ، وَإِمَّا فَرْدٌ). وَيَجُوْزُ أَنْ يَتَقَدَّمَ (إِمَّا) عَلَى (أَوْ). نَحْوُ : (زَيْدٌ إِمَّا كَاتِبٌ أَوْ أُمِّيٌّ)

او (أَوْ وَإِمَّا وَأَمْ) دا درې راځي لپاره د ثبوت د حکم لپاره د يو د امرينو چې مبهم وي نه په خپله، لکه : (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ) .او (إِمَّا) بېشکه وي به حرف عطف چې کله مخکې سي ورباندې بله (إِمَّا)، لکه : (الْعَدَدُ إِمَّا زَوْجٌ، وَإِمَّا فَرْدٌ) او روا دى دا چې مخکې سي (إِمَّا) پر (أَوْ)، لکه : (زَيْدٌ إِمَّا كَاتِبٌ أَوْ أُمِّيٌّ)

څه تشريح : دا درې حروف راځي لپاره د يو د دوو امرو چې هغه (غير معين) وي په نېز د متکلم باندې اه !.

(۳۵۵) پوښتنه : ستا قاعده ماته سوه په دې قول د باري تعالى سره : ﴿...وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا﴾ [الإنسان: ۲۴] ؛ نو دلته کليمه د (أو) د (أحد الأمرين) لپاره نه صحيح کېږي ؟

جواب : دلته (أو) په خپله معنا قائم دی او هر چې عموم دی ؛ نو هغه معلومېږي له يو مبهم څخه په سياق د نفي کې، نه له وجې د کليمې د (أو)، يا (أَمْ) اه !.

وَ (أَمْ) عَلَى قِسْمَيْنِ : مُتَّصِلَةٌ. وَهِيَ مَا يُسْأَلُ بِهَا عَنْ تَعْيِيْنِ أَحَدِ الْأَمْرَيْنِ. وَالسَّائِلُ بِهَا يَعْلَمُ ثُبُوْتَ أَحَدِهِمَا مُبْهَمًا. بِخِلَافِ (أَوْ، وَإِمَّا) ؛ فَإِنَّ السَّائِلَ بِهِمَا لَا يَعْلَمُ ثُبُوْتَ أَحَدِهِمَا أَصْلًا . وَتُسْتَعْمَلُ بِثَلَاثَةِ شَرَائِطٍ. الْأَوَّلُ : أَنْ يَقَعَ قَبْلَهَا هَمْزَةٌ. نَحْوُ : (أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟) .

وَالثَّانِيْ : أَنْ يَلِيَهَا لَفْظٌ مِثْلَ مَا يَلِي الْهَمْزَةُ. أَعْنِيْ إِنْ كَانَ بَعْدَ الْهَمْزَةِ اِسْمٌ ؛ فَكَذٰلِكَ بَعْدَ (أَمْ) كَمَا مَرَّ. وَإِنْ كَانَ بَعْدَ الْهَمْزَةِ فِعْلٌ ؛ فَكَذٰلِكَ بَعْدَهَا. نَحْوُ : (أَقَامَ زَيْدٌ أَمْ قَعَدَ؟). فَلَا يُقَالُ : (أَرَأَيْتَ زَيْدًا أَمْ عَمْرًوا ؟) .

وَالثَّالِثُ : أَنْ يَكُوْنَ أَحَدُ الْأَمْرَيْنِ الْمُسْتَوِيَيْنِ مُحَقَّقًا . وَإِنَّمَا يَكُوْنُ الْاِسْتِفْهَامُ عَنِ التَّعْيِيْنِ ؛ فَلِذٰلِكَ يَجِبُ أَنْ يَكُوْنَ جَوَابُ (أَمْ) بِالتَّعْيِيْنِ دُوْنَ (نَعَمْ)، أَوْ (لَا) . فَإِذَا قِيْلَ: (أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟) ؛ فَجَوَابُهُ بِتَعْيِيْنِ أَحَدِهِمَا. أَمَّا إِذَا سُئِلَ بِـ(أَوْ)، وَ(إِمَّا) ؛ فَجَوَابُهُ (نَعَمْ)، أَوْ (لَا)

او (أَمْ) پر دوه ډوله دی: يو متصله دی او دا هغه دی چې سوال څنې کيږي په هغه سره له تعيين څخه د يو د دوو امرينو. او سائل (پوښتنه کوونکی) په دې سره پوهيږي په ثبوت د يو د دوی دوو په مبهمه توګه په خلاف د (أَوْ) او (إِمَّا) سره: ځکه سائل په دې دوو سره نه پوهيږي په ثبوت د يو د دوی دوو بالکل. او استعماليږي دا په دريو شرطو سره، اول شرط دا دئ: چې واقع کيږي مخکې يې همزه، لکه: (أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟).

او دويم شرط دا دئ: چې ورنږدې سي لفظ يې لکه څرنګه چې ورنږدې دی همزه يې. يعني که وو روسته تر همزې اسم: نو دا ډول دی وروسته تر (أَمْ) لکه څرنګه چې تېر سو او که وو وروسته تر همزې فعل: نو دا ډول دی وروسته يې، لکه: (أَقَامَ زَيْدٌ أَمْ قَعَدَ ؟)، بيا داسي نه ويل کيږي: (أَرَأَيْتَ زَيْدًا أَمْ عَمْرًا ؟).

او دريم شرط دا دئ: چې وي به يو د امرينو سره برابر په محققه توګه او پېشکه وي به استفهام عن تعيين څخه: نو په دې وجه واجب دی دا چې وي به جواب د (أَمْ) په تعيين سره بيله (نَعَمْ)، يا (لَا). (او) کله چې وويل سي: (أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟): نو جواب يې دی په تعيين سره د يو د دوی دوو امرينو، هر چې کله يې پوښتنه وسي په (أَوْ) او (إِمَّا) سره: نو جواب يې دی (نَعَمْ)، يا (لَا)

تشريح: او (أَمْ) په دوه ډوله دی چې يو متصله دی او بل منقطعه دی او په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ د (أَمْ) حرف عاطفه تحقيق کوي او د دې دريو حروفو چې (أَمْ، إِمَّا) او (أَوْ) دی؛ نو د دوی تر مينځ فرق بيانوي.

او پوه سه! په دې چې (أَمْ) متصله دې ته وايي: چې (ما بعد) د ده به مربوط وي له (ما قبل) سره، لکه د الله تعالی دا قول: ﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ...﴾ [المنافقون ٦]

او (أَمْ) منقطعه دې ته وايي: چې (ما بعد) د ده به مربوط نه وي له (ما قبل) سره، لکه: ﴿... قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ...﴾ [الرعد ١٦]

او بل فرق يې دا دئ: چې له (أَمْ) متصله سره همزه لازمه ده د استفهام، يعني بيله دې څخه نه راځي او په (أَمْ) منقطعه کي همزه لازمه نه ده، لکه دې ته اشاره کړې ده مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په دا غه خپل عبارت سره.

وَمُنْقَطِعَةٌ: وَهِيَ مَا تَكُونُ بِمَعْنَى (بَلْ) مَعَ الْهَمْزَةِ كَمَا رَأَيْتَ شَبَحًا مِنْ بَعِيدٍ، قُلْتَ: (إِنَّهَا لَإِبِلٌ) عَلَى سَبِيلِ الْقَطْعِ. ثُمَّ حَصَلَ لَكَ شَكٌّ أَنَّهَا شَاةٌ؛ فَقُلْتَ: (أَمْ هِيَ شَاةٌ ؟)، تَقْصُدُ الْإِعْرَاضَ عَنِ الْإِخْبَارِ الْأَوَّلِ. وَالْاِسْتِئْنَافِ بِسُؤَالٍ آخَرَ مَعْنَاهُ: (بَلْ هِيَ شَاةٌ ؟).

او بل (أَمْ) منقطعه دی: او دا هغه دی چې وي په معنا د (بَلْ) [يعني: بلکې] سره لکه څرنګه چې ته يوه بدنه (مجسمه) ووينې له ليري (ځای) څخه، ته داسي وايې: (إِنَّهَا لَإِبِلٌ) پر طريقه د قطع، بيا تا ته شک پيدا سي چې دا به پسه وي: نو بيا ته داسي ووايې: (أَمْ هِيَ شَاةٌ ؟)، چې ته په دې سره قصد لرې د اعراض له خبر تيا اولي څخه او استئناف په سوال بل سره چې د هغه معنا داسي ده: (بَلْ هِيَ شَاةٌ ؟)

څه تشريح: دويم ډول (أَمْ) منقطعه دی چې دا به په معنا د بل سره وي او يا به په معنا د همزې سره وي او دا به کارول کيږي په هغه ځای کي چې تر مخکې يکې اعراض وسي او دويمه خبره ذکر سي تر امر وروسته. لکه: (إنّها لإبل، أم هي شاة، أي: بل هي شاة).

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (أَمْ) الْمُنْقَطِعَةَ لَا تُسْتَعْمَلُ إِلَّا فِي الْخَبَرِ كَمَا مَرَّ. وَفِي الْاِسْتِفْهَامِ. نَحْوُ: (أَعِنْدَكَ زَيْدٌ، أَمْ عَمْرٌو ؟)، سَأَلْتَ أَوَّلًا عَنْ حُصُوْلِ زَيْدٍ، ثُمَّ أَضْرَبْتَ عَنِ السُّؤَالِ الْأَوَّلِ وَأَخَذْتَ فِي السُّؤَالِ عَنْ حُصُوْلِ عَمْرٍو.

وَ (لَا، وَبَلْ، وَلٰكِنْ) جَمِيْعُهَا لِثُبُوْتِ الْحُكْمِ لِأَحَدِ الْأَمْرَيْنِ مُعَيَّنًا. أَمَّا (لَا) ؛ فَلِنَفْيِ مَا وَجَبَ لِلْأَوَّلِ عَنِ الثَّانِيْ، نَحْوُ: (جَاءَنِيْ زَيْدٌ لَا عَمْرٌو)، وَ (بَلْ) لِلْإِضْرَابِ عَنِ الْأَوَّلِ وَالْإِثْبَاتِ لِلثَّانِيْ، نَحْوُ: (جَاءَنِيْ زَيْدٌ بَلْ عَمْرٌو)، وَمَعْنَاهُ: (بَلْ جَاءَنِيْ عَمْرٌو)، وَ(مَا جَاءَ بَكْرٌ بَلْ خَالِدٌ)، مَعْنَاهُ: (بَلْ مَا جَاءَ خَالِدٌ). وَ (لٰكِنْ) لِلْاِسْتِدْرَاكِ، وَيَلْزَمُهَا النَّفْيُ قَبْلَهَا، نَحْوُ: (مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ لٰكِنْ عَمْرٌو)، جَاءَ، أَوْ بَعْدَهَا، نَحْوُ: (قَامَ بَكْرٌ لٰكِنْ خَالِدٌ لَمْ يَقُمْ)

او پوه سه ! په دې چې (أَمْ) منقطعه نه استعمالیږي مګر په خبر کي لکه څرنګه چي تېره سوه او په استفهام کي، لکه: (أَعِنْدَكَ زَيْدٌ، أَمْ عَمْرٌو ؟)، چي تا داسي پوښتنه وکړه اوله پلا له حاصلولو څخه د زید، بیا دي اعراض وکړی له اول سوال څخه او وادي ٔخیستی په سوال کي له حاصلولو څخه د عمرو.

او (لَا، وَبَلْ، وَلٰكِنْ) ټوله يې لپاره د ثبوت د حکم دی لپاره د يو د امرينو په معينه توګه. هر چي (لَا) دی: نو له وجي د نفي د هغه چي واجب سوی دی د اول لپاره له دويم څخه، لکه: (جَاءَنِيْ زَيْدٌ لَا عَمْرٌو) او (بَلْ) لپاره د اضراب دی له اول څخه او اثبات لپاره د دويم دی، لکه: (جَاءَنِيْ زَيْدٌ بَلْ عَمْرٌو) او معنا يې ده: (بَلْ جَاءَنِيْ عَمْرٌو) او (مَا جَاءَ بَكْرٌ بَلْ خَالِدٌ) چي معنا يې ده: (بَلْ مَا جَاءَ خَالِدٌ). او (لٰكِنْ) لپاره د استدراک دی او لازم دی نفي يې مخکي، لکه: (مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ لٰكِنْ عَمْرٌو)، چي (جَاءَ) او وروسته يې دی، لکه: (قَامَ بَكْرٌ لٰكِنْ خَالِدٌ لَمْ يَقُمْ)

د حروف عاطفه ؤ لپاره مختصر تمرين: ١- ﴿أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةٌ ...﴾ [سبا: ٨].

٢- ﴿... فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [البقرة: ٣٨].

٣- ﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ [البقرة: ٢٨].

٤- (أَفِي الدَّارِ سَعِيْدٌ، أَمْ خَالِدٌ ؟).

٥- (إِنَّهُمْ لَذَاهِبُوْنَ، أَمْ رَاجِعُوْنَ ؟).

فَصْلٌ: حُرُوْفُ التَّنْبِيْهِ ثَلَاثَةٌ: (أَلَا، وَأَمَا، وَهَا) وُضِعَتْ لِتَنْبِيْهِ الْمُخَاطَبِ ؛ لِئَلَّا يَفُوْتَهُ شَيْءٌ مِنَ الْكَلَامِ ؛ فَـ(أَلَا)، وَ(أَمَا) لَا يَدْخُلَانِ إِلَّا عَلَى الْجُمْلَةِ اِسْمِيَّةً كَانَتْ، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ ...﴾ [البقرة: ١٢]، وَقَوْلُ الشَّاعِرِ (شِعْرٌ):

أَمَا وَالَّذِيْ أَبْـكَى وَأَضْحَكَ وَالَّذِيْ أَمَاتَ وَأَحْيَى، وَالَّذِيْ أَمَرَهُ الْأَمْرَ

أَوْ فِعْلِيَّةً، نَحْوُ: (أَمَا لَا تَفْعَلْ)، وَ(أَلَا تَضْرِبْ).

وَالثَّالِثُ: (هَا) تَدْخُلُ عَلَى الْجُمْلَةِ الْإِسْمِيَّةِ، نَحْوُ: (هَا زَيْدٌ قَائِمٌ)، وَالْمُفْرَدِ، نَحْوُ: (هٰذَا، وَهٰؤُلَاءِ)

فصل دی: (حروف التنبيه) درې دي: (أَلَا، وَأَمَا، وَهَا) چې دا ښودل سوي دي لپاره د تنبيه د مخاطب؛ د دې لپاره چې نه سي فوت يو شی له کلام څخه: نو (أَلَا) او (أَمَا) نه داخليږي مګر پر جمله اسميه يې چې وي، لکه دا قول د الله تعالی: ﴿أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ ...﴾ او دا قول د شاعر دی (شعر):

أَمَا وَالَّذِيْ أَبْكَى وَأَضْحَكَ وَالَّذِيْ أَمَاتَ وَأَحْيَى، وَالَّذِيْ أَمَرَهُ الْأَمْرَ

او يله جمله فعليه ده، لکه: (أَمَا لَا تَفْعَلْ) او (أَلَا تَضْرِبْ).

او دريم دادی: (هَا) داخليږي پر جمله اسميه يې، لکه: (هَا زَيْدٌ قَائِمٌ) او مفرد لکه: (هٰذَا) او (هٰؤُلَاءِ)

تشريح: بل له حروفو څخه حروف د تنبيه دي او دوی ته حروف تنبيه ځکه وايي چې دوی راځي لپاره د ايقاظ او وينولو د مخاطب چې هغه غافل وي او دا حروف تنبيه درې دي، لکه: (أَلَا، وَأَمَا، وَهَا)؛ نو (أَلَا) او (أَمَا) راځي لپاره د تاکيد د مضمون د جملې او دا دواړه داخليږي په جملې باندې، برابره خبره ده چې جمله خبريه وي او که جمله انشائيه وي او هر چې (هَا) ده: نو دا داخليږي په اسم اشاره باندې، لکه: (هٰذَا).

فايده: په (أما) کې پينځه لغات دي: ۱- چې همزه په (هَا) سره بدله سي، لکه: (هَمَا). ۲- همزه په عين سره بدله سي، لکه: (عما). ۳- له (هما) څخه چې الف ساقط سي، لکه: (هم). ۴- له (عما) څخه چې الف ساقط سي، لکه: (عم). ۵- او له (أما) څخه چې الف ساقط سي، لکه: (أم).

د حروف تنبيه لپاره مختصر تمرين: ۱- ﴿... أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ۱۳].

۲- (ألا! صلّوا في اليوم والليلة خمس صلوات).

۳- (أما! لا تشربوا الخمر).

فَصْلٌ: حُرُوفُ النِّدَاءِ خَمْسَةٌ: (يَا، وَأَيَا، وَهَيَا، وَأَيْ، وَالْهَمْزَةُ الْمَفْتُوحَةُ)؛ فَـ(أَيْ)، وَالْهَمْزَةُ لِلْقَرِيْبِ، وَ(أَيَا، وَهَيَا) لِلْبَعِيْدِ، وَ(يَا) لَهُمَا، وَلِلْمُتَوَسِّطِ إِلَى، وَقَدْ مَرَّ أَحْكَامُ الْمُنَادَى.

فصل دی: حروف د ندا پينځه دي (لکه): (يَا، وَأَيَا، وَهَيَا، وَأَيْ) او همزه مفتوحه: نو (أَيْ) او همزه (مفتوحه) د نژدې لپاره ده. او (أَيَا) او (هَيَا) د لېرې لپاره ده او (يَا) د دواړو لپاره ده او په تحقيق سره تېر سوي دي حکمونه د منادی

فايده: ياء حذفيږي هم او يا د مندوب لپاره هم راځي او د استعانت لپاره هم راځي او په لفظ د الله باندي يا داخليږي او دا ځانګړتياوي تولي له حروف ندائيه ؤځخه د (يا) دي.

د حروف ندا لپاره مختصر تمرين: ۱- (يَا زَيْدُ ! أَعْطِنِيْ كَيْسًا) . ۲- (أَيَا إِدْرِيْسُ ! تَعَالَ) . ۳- (هَيَا بَكْرُ! لَا تَذْهَبْ إِلَى السُّوْقِ) . ۴- (أَيْ عَبْدَ الْعَلِيِّ ! لَا تَغُشَّنِيْ) . ۵- (أَ عَمْرُو ! صَلِّ الصَّلَاةَ مُوَدِّعٍ) .

فَصْلٌ : حُرُوْفُ الْإِيْجَابِ سِتَّةٌ : (نَعَمْ ، وَبَلَى ، وَأَجَلْ ، وَجَيْرِ ، وَإِنَّ ، وَإِيْ) .

أَمَّا (نَعَمْ) ؛ فَلِتَقْرِيْرِ كَلَامٍ سَابِقٍ ، مُثْبَتًا كَانَ أَوْ مَنْفِيًّا ، نَحْوُ : (أَجَاءَ زَيْدٌ ؟) ، قُلْتَ : نَعَمْ ! وَ(أَمَا جَاءَ زَيْدٌ ؟) ، قُلْتَ : نَعَمْ !

فصل دی: (حروف الإيجاب) شپږ دي : (نَعَمْ، وَبَلَى، وَأَجَلْ، وَجَيْرِ، وَإِنَّ، وَإِيْ) .

هر چي (نَعَمْ) دی؛ نو له وجي د تقرير د مخکي کلامه، هغه که مثبت وي، يا نفي يې. لکه : [يو څوک پوښتنه وکړي :] (أَجَاءَ زَيْدٌ؟)، ته [په جواب کي] ورته وواېي : (نَعَمْ !) او [څوک وواېي :] (أَمَا جَاءَ زَيْدٌ ؟)، ته [په جواب کي] ورته واېي : (نَعَمْ !)

تشريح: بل له حروفو ځخه (حروف الإيجاب) دي او هغه شپږ دي، لکه په عبارت کي چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ ذکر کړله او دلته له ايجاب ځخه مراد دا نه دي چي مقابل د سلب او نفي وي، بلکي دلته مراد ځني جواب ورکول دي اه ! .

او اول حرف له دې حروفو ځخه (نعم) دی او دی راځي لپاره د تحقق دِ مضمون د مخکي جملې ايجابا وي، نفيا وي، خبرا وي او که استفهاما وي، لکه څرنګه چي دوه مثالونه په عبارت کي تېر سوه .

فايده: په (نعم) کي څلور لغتونه دي : ۱- (نَعَم) په دوو فتحو سره ويل کيږي او دا يې مشهور لغت دی . ۲- په فتحه د نون او کسرې د عين سره، لکه : (نَعِم) . ۳- د نون او عين دواړو په کسرې سره، لکه : (نِعِم) . ۴- او په فتحه د نون او د عين اړولو په حاء سره، لکه : (نحم) .

وَ (بَلَى) تُخْتَصُّ بِإِيْجَابِ مَا نُفِيَ اِسْتِفْهَامًا ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿...أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى...﴾ [الأعراف: ۱۷۲] ، أَوْ خَبَرًا كَمَا يُقَالُ : (لَمْ يَقُمْ زَيْدٌ) ، قُلْتَ : (بَلَى) ، أَيْ : قَدْ قَامَ .

وَ (إِيْ) لِلْإِثْبَاتِ بَعْدَ الْاِسْتِفْهَامِ ، وَيَلْزَمُهَا الْقَسَمِ ، كَمَا إِذَا قِيْلَ : (هَلْ كَانَ كَذَا ؟) ، قُلْتَ : (إِيْ وَاللهِ) .

وَ (أَجَلْ ، وَجَيْرِ ، وَإِنَّ) لِتَصْدِيْقِ الْخَبَرِ كَمَا إِذَا قِيْلَ : (جَاءَ زَيْدٌ) ، قُلْتَ : (أَجَلْ) ، أَوْ (جَيْرِ) ، أَوْ (إِنَّ) ، أُصَدِّقُكَ فِيْ هَذَا الْخَبَرِ

او (بَلَى) خاص دی په ايجاب (جواب) ورکولو سره د هغه څه چي نفي يې سوې وي استفهاما، لکه دا قول د الله تعالى : ﴿...أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى...﴾، يا خبر وي لکه څرنګه چي ويل کيږي : (لَمْ يَقُمْ زَيْدٌ)، بيا ته په جواب کي اووايې : (بَلَى)، أَيْ : قَدْ قَامَ.

او (إِيْ) لپاره د اثبات (ثابتولو) دی وروسته تر استفهام او لازميږي ده لره قسم، لکه څرنګه چي ويل کيږي : (هَلْ كَانَ كَذَا ؟)، بيا ته ووايې : (إِيْ وَالله) .

او (أَجَلْ، وَجَيْرَ) او (إِنَّ) لپاره د تصديق د خبر دی لکه څرنګه چي ويل کيږي : (جَاءَ زَيْدٌ)، بيا ته ووايې : (أَجَلْ)، يا (جَيْرَ) او يا (إِنَّ)، يعني : زه دي تصديق کوم په دې خبره کي

تشريح : دويم حرف له حروف ايجاب څخه (بلى) دی او دی راځي لپاره د جواب ورکولو د مخکي نفي يې، يعني: نفي سابقه باطلوي او په ده سره ايجاب راځي، برابره خبره ده که خبر وي او که استفهام وي، لکه څرنګه چي په عبارت کي يې مثال تېر سو .

او دريم حرف له حروف ايجاب څخه (إِي) دی چي دا راځي لپاره د ثابتولو د يو شي په استفهام کي او له دې لفظ سره قسم ذکر کول لازم دي، لکه يو څوک ووايي : (هل كان كذا ؟) ؛ نو بل څوک په جواب کي ورته ووايي : (إي والله)، يعني : هوکي والله چي او مقسم د ده په درې شيان وي : ۱- لفظ د (الله) . ۲- (رَبّ) . ۳- او لفظ د (عُمر)، يعني : د ژوند، لکه : (إي والله)، يا (إي ورَبِّي)، يا (إي ولعمري) .

او څلورم، پينځم او شپږم له حروف ايجاب څخه (أَجَل، جَيْر) او (إِنَّ) دی او دوی راځي لپاره د تصديق د مخبر، برابره خبره ده چي خبر موجب وي او که منفي وي اه ! .

فايده : پوه سه ! په دې چي د حروف ندا او حروف ايجاب تر دوارو وروسته ندائيه نبه (!) راځي ؛ ځکه دا لپاره د رغ، يا د پوهي ده ؛ نو په ندائي، يا ايجابي حروفو کي هم د يو شي رغ کيږي، يا يوه معنا پاموول کيږي او د ندائيه نبي د زيات تفصيل په هکله زما بل کتاب (دُرُوس المفتي) ته مراجعه وکړه ! .

د (حروف الإيجاب) **لپاره مختصر تمرين :** ۱- (هَلْ رَأَيْتَ سَعِيْدًا ؟ نَعَمْ !) . ۲- (أَلَسْتَ عَالِمًا ؟ بَلَى!). ۳- (لَدَيْكَ نُقُودٌ ؟ أَجَلْ) . ۴- (هُوَ مَرِيضٌ ؟ جَيْرَ !) . ۵- (سَافَرَ سَعِيْدٌ ؟ إِنَّ !) . ۶- (أَكَانَ يَعْمَلُ فِي البَيْتِ؟ إِيْ وأَبِيكَ !) .

فَصْلٌ : حُرُوْفُ الزِّيَادَةِ سَبْعَةٌ : (إِنْ، وَأَنْ، وَمَا، وَلَا، وَمِنْ، وَالْبَاءُ، وَاللَّامُ)

فصل دی : حروف زيادت اووه دي : (إِنْ، وَأَنْ، وَمَا، وَلَا، وَمِنْ، وَالْبَاءُ) او (اللَّامُ)

تشريح : بل له حروفو څخه حروف زيادت دي چي هغه اووه دي او دوی ته حروف زيادت ؛ ځکه ويل کيږي چي په کومه جمله کي راغلي وي ؛ نو د دوی په اسقاط سره د دوی په معنا کي خلل او نقصان نه راځي او فايده د دې حروفو په کلام د عربو کي دا ده چي يو تاکيد په کلام (خبرو) کي راولي او بل تحسين (ښايست) د کلام راولي .

فَـ(إِنْ) تُزَادُ مَعَ (مَا) النَّافِيَةِ، نَحْوُ : (مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ)، وَمَعَ (مَا) الْمَصْدَرِيَّةِ، نَحْوُ : (اِنْتَظِرْ مَا إِنْ يَجْلِسَ الْأَمِيْرُ)، وَمَعَ (لَمَّا)، نَحْوُ : (لَمَّا إِنْ جَلَسْتَ جَلَسْتُ)

نو (إِنْ) چي دی دا زياتيږي سره له (مَا) نافيه يې، لکه : (مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ) او سره له (مَا) مصدريه يې، لکه : (اِنْتَظِرْ مَا إِنْ يَجْلِسَ الْأَمِيْرُ) او سره له (لَمَّا)، لکه : (لَمَّا إِنْ جَلَسْتَ جَلَسْتُ)

تشريح : اول حرف له حروف زيادت څخه (إِنْ) دی او دا په دريو ځايو کي زائد راځي، لکه : ۱- تر (ما) نافيه پې وروسته چي مثال يې دی : (ما إِنْ زيد قائم)، يا لکه څرنګه حسان بن ثابت ﷺ په خپل يو شعر کي ويلي دي :

مَا إِنْ مَدَحْتُ مُحَمَّدًا بِمَقَالَتِي ... لَكِنْ مَدَحْتُ مَقَالَتِيْ بِمُحَمَّدِ

يعني : داسي نه دی چي ما د (حضرت) محمّد ﷺ ستاينه وکړه په خپلي مقالي سره، بلکي ما خپله مقاله وستايله [يعني : ښايسته کړه] په [صفت د] محمّد ﷺ سره .

۲- له (ما) مصدريه سره (إِنْ) زائده راځي، لکه : (انتظر ما إن يجلس الأمير) چي په معنا د (انتظر مُدّة جلوس الأمير) سره دی.

۳- او تر (لَمّا) وروسته هم راځي، لکه : (لَمّا إن جلستَ جلستُ) .

فايده : همدا ډول دوه ځايه هم (إِنْ) له (ما) سره راځي : ۴- چي هغه يو له (ما) اسميه يې سره راځي، لکه د الله تعالی دا قول : ﴿وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ...﴾ [الأحقاف: ۲۶] . ۵- او بل له (ألا) حرف تنبيه سره هم راځي (ألا إِنْ قام عمرو) ؛ نو ټوله پينځه ډوله سوله اه ! .

وَ (أَنْ) تُزَادُ مَعَ (لَمَّا)، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ ...﴾ [يوسف: ۹۶]، وَبَيْنَ (لَوْ) وَالْقَسَمِ الْمُتَقَدَّمِ عَلَيْهَا، نَحْوُ : (وَاللهِ أَنْ لَوْ قُمْتَ قُمْتُ)

او (أَنْ) زياتيږي سره له (لَمَّا)، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ ...﴾ او په مينځ د (لَوْ) او قسم متقدم کي پر هغه، لکه : (وَاللهِ أَنْ لَوْ قُمْتَ قُمْتُ)

تشريح : دويم حرف زائده (أَنْ) دی او دا هم په يو څو ځايو کي زائد راځي، لکه : ۱- تر (لَمّا) وروسته چي مثال يې په عبارت کي تېر سو او فرق د (إِنْ) او (أَنْ) دا دئ : چي تر (لَمّا) وروسته د (إِنْ) زياتوب لږ راځي او تر (لَمّا) وروسته د (أَنْ) زياتوب ډېر راځي .

۲- او دويم ځای د (أَنْ) زياتوب په مينځ د (لو) او قسم کي راځي، لکه : (والله أَنْ لو قمتَ قمتُ) .

وَ (مَا) تُزَادُ مَعَ (إِذَا، وَمَتَى، وَأَيِّ، وَأَنَّى، وَأَيْنَ، وَإِنْ) شَرْطِيَّاتٍ، كَمَا تَقُوْلُ: (إِذَا مَا صُمْتَ صُمْتُ)، وَكَذَا الْبَوَاقِيْ وَبَعْدَ بَعْضِ حُرُوْفِ الْجَرِّ، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ...﴾ [آل عمران: ١٥٩]، وَ ﴿..عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَٰدِمِينَ﴾ [المؤمنون: ٤٠]، وَ ﴿مِّمَّا خَطِيٓـَٰٔتِهِمْ أُغْرِقُواْ فَأُدْخِلُواْ نَارًا...﴾ [نوح: ٢٥]، وَ (زَيْدٌ صَدِيْقِيْ) كَمَا (أَنَّ عَمْرٌو أَخِيْ).

وَلَا تُزَادُ مَعَ الْوَاوِ وَبَعْدَ النَّفْيِ، نَحْوُ: (مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو)، وَبَعْدَ أَنَّ الْمَصْدَرِيَّةِ، نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ...﴾ [الأعراف: ١٢]، وَقَبْلَ الْقَسَمِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ﴾ [البلد: ١] بِمَعْنَى أُقْسِمُ، وَأَمَّا (مِنْ، وَالْبَاءُ، وَاللَّامُ).

فَقَدْ مَرَّ ذِكْرُهَا فِيْ حُرُوْفِ الْجَرِّ، فَلَا نُعِيْدُهَا!

او (مَا) زياتيږي له (إِذَا وَمَتَى، وَأَيِّ، وَأَنَّى، وَأَيْنَ، وَإِنْ) شرطيه ؤ سره، لکه څرنګه چي ته وايې: (إِذَا مَا صُمْتَ صُمْتُ) او دا ډول نور دي او [(ما) زياتيږي] وروسته تر ځينو حروف د جر، لکه دا قول د الله تعالى: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ...﴾ او ﴿..عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَٰدِمِينَ﴾ او ﴿مِّمَّا خَطِيٓـَٰٔتِهِمْ أُغْرِقُواْ فَأُدْخِلُواْ نَارًا...﴾ او [لکه دا مثال:] (زَيْدٌ صَدِيْقِيْ) لکه څرنګه چي دا [مثال هم] دی: (أَنَّ عَمْرٌو أَخِيْ).

او نه زياتيږي (مَا) سره له واو او وروسته تر نفي يې، لکه: (مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو) او (زياتيږي) وروسته تر (أَنْ) مصدريه يې، لکه دا قول د الله تعالى: ﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ...﴾ او (زياتيږي) مخکي تر قسم. لکه دا قول د الله تعالى: ﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ﴾ په معنا د قسم سره او هر چي (مِن، باء) او (اللام) دي.

نو په تحقيق سره د هغو ذکر تېر سوی دی په حروفو د جر کي چي موږ يې بيانه راګرځوو!

تشريح: دريم حرف زائده (مَا) دی او دا هم په څو ځايو کي زائده راځي، لکه مصنف رحمه الله عليه چي په عبارت کي ذکر کړي دي او څلورم حرف زائده (لا) دی چي دا هم په څو ځايو کي زائده راځي او د دې لپاره هم مصنف په خپل عبارت کي تفصيل وکړ.

د (حروف الزِّيادة) **لپاره مختصر تمرين**: ۱- (لَمَّا أَنْ سَافَرْتَ سَافَرْتُ). ۲- (مَا سَافَرَ سَعِيْدٌ وَلَا خَالِدٌ). ۳- (مَتَى مَا جَلَسْتَ جَلَسْتُ). ۴- (وَاللهِ أَنْ لَوْ أَتَيْتَ أَتَيْتُ).

فَصْلٌ: حَرْفَا التَّفْسِيْرِ: (أَيْ وَأَنْ)؛ فَـ(أَيْ) كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ...﴾ [يوسف: ٨٢]، أَيْ: أَهْلَ الْقَرْيَةِ. كَأَنَّكَ تُفَسِّرُهُ أَهْلَ الْقَرْيَةِ.

وَ (أَنْ) إِنَّمَا يُفَسِّرُ بِهَا فِعْلٌ بِمَعْنَى الْقَوْلِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿وَنَادَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ﴾ [الصافات: ۱۰۴]؛ فَلَا يُقَالُ : قُلْتُ لَهُ : (أَنِ اكْتُبْ)؛ إِذْ هُوَ لَفْظُ الْقَوْلِ، لَا مَعْنَاهُ

فصل دی : دوه حرفه د تفسير دي : چي يو (أَيْ) دی او بل (أَنْ) دی ؛ نو (أَيْ) چي دی لکه دا قول د الله تعالی : ﴿وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ...﴾، أَيْ : أَهْلَ الْقَرْيَةِ . ګواکي ته يې تفسير بيانوي د (أَهْلَ الْقَرْيَةِ) .

او (أَنْ) چي دی بېشکه تفسير يې کيږي په يو فعل سره په معنا د قول، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿وَنَادَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ﴾ ؛ نو داسي نه ويل کيږي : چي ما ورته وويل ده ته : (أَنِ اكْتُبْ) ؛ ځکه چي دا لفظ د قول دی، نه د معنا

تشريح : دا فصل دی په بيان د دوو حرفو د تفسير کي او هغه لکه : (أي) او (أنْ) او (أي) په تفسير د مبهم کي راځي، برابره خبره ده چي دا مبهم مفرد وي او که جمله وي، مثال د مفرد لکه : (جاء رَجل، أي زيد) او مثال د جملي لکه : (قطع رزقه، أي : مات) .

د (حروف التّفسير) **لپاره مختصر تمرين** : ۱- (تعلّم العربيّة، أي : اللّغة العربيّة) . ۲- (اِقرَأ الْكُرسِيَّ، أَيْ : آيَةَ الْكُرسِيِّ) . ۳- (اِعْلَمْ ! أَنِ اكْتُبْ وَاقْرَأْ) .

فَصْلٌ : حُرُوفُ الْمَصْدَرِ ثَلَاثَةٌ : (مَا، وَأَنْ، وَأَنَّ) ؛ فَالْأَوْلَيَانِ لِلْجُمْلَةِ الْفِعْلِيَّةِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿...ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ...﴾ [التوبة: ۱۱۸]، أَيْ : بِرُحْبِهَا، وَقَوْلِ الشَّاعِرِ :

يَسُرُّ الْمَرْءُ مَا ذَهَبَ اللَّيَالِي ... وَكَانَ ذَهَابُهُنَّ لَهُ ذَهَابًا

وَ (أَنْ)، نَحْوُ قَوْلُهُ تَعَالَى : ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ...﴾ [النمل: ۵۶]، أَيْ : قَوْلُهُمْ .

وَ (أَنَّ) لِلْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ، نَحْوُ : (عَلِمْتُ أَنَّكَ قَائِمٌ)، أَيْ : قِيَامَكَ

فصل دی : حروف د مصدر دري دي : (مَا، وَأَنْ، وَأَنَّ) ؛ نو اولني دوه لپاره د جمله فعليه يې دي، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿...ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ...﴾، أَيْ : بِرُحْبِهَا . او دا قول د شاعر دی :

يَسُرُّ الْمَرْءُ مَا ذَهَبَ اللَّيَالِي ... وَكَانَ ذَهَابُهُنَّ لَهُ ذَهَابًا

يعني : خوشاله کوي سړی هغه چي تيري سوي له شپو څخه . او وه تېرېدل يې ده لپاره تېرېدل [يعني : د شپو په تېرېدو د ده مرګ نور رانږدې کېدی اه !] .

او (مثال) د (أَنْ)، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ...﴾، أَيْ : قَوْلُهُمْ .

او (أَنَّ) لپاره د جمله اسميه يې دی، لکه : (عَلِمْتُ أَنَّكَ قَائِمٌ)، أَيْ : قِيَامَكَ

څه تشريح : اولني دواړه حرفونه (ما) او (أنْ) په جمله فعليه پوري خاص دي چي دا ګرځوي په تاويل د مصدر سره، لکه څرنګه چي مصنف رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ يې په عبارت کي خپل مثالونه ذکر کړله .

فايده: (أنّ) په جمله اسميه پوري هغه وخت خاص دى چې كله مشدد وي او مخفف نه وي او (مَا) كافه ورپوري نه وي پيوست سوى، كنې په جمله اسميه يې او فعليه يې دواړو به بيا داخليږي.

د حروف مصدر لپاره مختصر تمرين: ۱- (عَلِمْتُ مَا عَلَّمْتَ) . ۲- (لَا أُطِيْعُكَ إِلَّا أَنْ تَعْبُدَ اللهَ تَعَالَى) . ۳- (ذَهَبْتُ إِلَى الْبَقَالَةِ، وَوَجُدْتَكَ أَنَّكَ اشْتَرَيْتَ) .

فَصْلٌ : حُرُوفُ التَّحْضِيْضِ أَرْبَعَةٌ : (هَلَّا، وَأَلَّا، وَلَوْلَا، وَلَوْمَا)، لَهَا صَدْرُ الْكَلَامِ، وَمَعْنَاهَا حَضٌّ عَلَى الْفِعْلِ إِنْ دَخَلَتْ عَلَى الْمُضَارِعِ، نَحْوُ : (هَلَّا تَأْكُلُ)، وَلَوْمٌ إِنْ دَخَلَتْ عَلَى الْمَاضِيْ، نَحْوُ : (هَلَّا ضَرَبْتُ زَيْدًا)، أَوْ حِيْنَئِذٍ لَا تَكُوْنَ تَحْضِيْضًا إِلَّا بِاِعْتِبَارِ مَافَاتَ . وَلَا تَدْخُلُ إِلَّا عَلَى الْفِعْلِ كَمَا مَرَّ .

وَإِنْ وَقَعَ بَعْدَهَا اِسْمٌ ؛ فَبِإِضْمَارِ فِعْلٍ، كَمَا تَقُوْلُ : (لِمَنْ ضَرَبَ قَوْمًا : هَلَّا زَيْدًا)، أَيْ : هَلَّا ضَرَبْتَ زَيْدًا

فصل دى : حروف تحضيض څلور دي : (هَلَّا، وَأَلَّا، وَلَوْلَا) او (لَوْمَا)، چې دې لره صدارت د كلام دى او معنا يې رغبت دى پر فعل هغه وخت چې داخل سي پر مضارع، لكه : (هَلَّا تَأْكُلُ) او (لَوْمْ) ايعني : پښېمانتيا چې پر ماضي (تېره زمانه) داخله سي، لكه: (هَلَّا ضَرَبْتُ زَيْدًا)، يا دا وخت نه ګرځي تحضيض مګر په اعتبار د هغه چې فوت سوى وي . او نه داخليږي مګر پر فعل لكه څرنګه چې تېر سو .

او كه واقع سي وروسته يې يو اسم ؛ نو په ضمير كېدلو د فعل سره دى، لكه نه چې يې څرنګه وايې : (لِمَنْ ضَرَبَ قَوْمًا : هَلَّا زَيْدًا)، أَيْ : هَلَّا ضَرَبْتَ زَيْدًا

تشريح: دا فصل دى په بيان د (حروف التحضيض) كې او دا څلور دي چې دوى راځي لپاره د ترغيب د متكلم مخاطب لره چې كله په فعل مستقبل داخل سي، لكه : (هلّا تتوب قبل الموت ؟)، يعني : ايا ته توبه باسې مخكې تر مرګ ؟ او دى په جواب كې ورته وايي : (نَعَمْ ! أَتُوْبُ)، يعني : چې هو ! زه توبه باسم .

او چې كله په فعل ماضي باندې داخل سي : نو فايده كوي تندم (پښېمانتيا) او زجر (رټنه) په هغه څه سره چې ضايع سوي دي. لكه : (هلّا قرأت القرآن ؟)، يعني : ايا تا قرآن (شريف) ووايه ؟ .

او د دې حروفو لپاره صدارت د كلام وي لپاره د دې چې دلالت وكړي په يوه نوعه د كلام باندې له اول حالت څخه اه ! .

أَوْ جَمِيْعُهَا مُرَكَّبَةٌ، جُزْؤُهَا الثَّانِيْ حَرْفُ النَّفْيِ، وَالْأَوَّلُ حَرْفُ الشَّرْطِ، أَوِ الْاِسْتِفْهَامِ، أَوْ حَرْفِ الْمَصْدَرِ

او دا ټول حروف مركب دي، چې دويم جز يې حرف نفي يې دى او اول (جز) يې حرف شرط دى. يا (حرف) استفهم دى او يا حرف مصدر دى

څه تشریح: دا ټول حروف مرکب دي او مفرد نه دي او مرکب سوي دي له دوو جزئینو څخه چي دویم جز د دوی به حرف نفي وي او اول جز به یې حرف شرط وي، لکه په (لولا) او (لوما) کي او په (هلّا) کي اول جز حرف استفهام دی او (هلّا) په اصل کي (هلْ لا) وو او په (ألّا) کي اول جز مصدر دی چي په اصل کي دا (أنْ لا) وو.

وَ (لِلَوْلَا) مَعْنىً آخَرُ. هُوَ امْتِنَاعُ الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ لِوُجُوْدِ الْجُمْلَةِ الْأُوْلَى. نَحْوُ: (لَوْلَا عَلِيٌّ؛ لَهَلَكَ عُمَرُ). وَحِينَئِذٍ تَحْتَاجُ إِلَى الْجُمْلَتَيْنِ أُوْلَهُمَا اسْمِيَّةٌ أَبَدًا

او د (لَوْلَا) لپاره بله معنا ده، چي هغه منع کول دي د جملې دویمې له وجې د جملې اولې، لکه: (لَوْلَا عَلِيٌّ؛ لَهَلَكَ عُمَرُ) او دا وخت دی اړیږي ودوو جملو ته چي اول د دوی به اسمیه وي همېشه

څه تشریح: کوم (لولا) چي مصنف رحمه الله علیه ذکر کړی؛ نو دا (لولا) امتناعیه دی؛ ځکه چي دی منع راولي د دویمې جملې او اوله جمله د دې به همېشه اسمیه وي او دویمه یې عامه ده، هغه کله فعلیه وي او کله اسمیه وي.

د (حروف التحضيض) **لپاره مختصر تمرين:** ۱- (هَلَّا أَكْرَمْتَ أَبَاكَ؟). ۲- (أَلَّا تَذْهَبُ مَعِي إِلَى الْمُحَاضَرَةِ؟). ۳- (لَوْلَا سَيْفُ خَالِدٍ؛ لَمَا انْتَشَرَ الْإِسْلَامُ). ۴- (لَوْمَا مُحَمَّدٌ؛ لَرَسَبْتُ).

فَصْلٌ: حَرْفُ التَّوَقُّعِ (قَدْ). وَهِيَ فِي الْمَاضِيْ لِتَقْرِيْبِ الْمَاضِيْ إِلَى الْحَالِ. نَحْوُ: (قَدْ رَكِبَ الْأَمِيْرُ)، أَيْ: قُبَيْلَ هَذَا. وَلِأَجْلِ ذَلِكَ سُمِّيَتْ حَرْفَ التَّقْرِيْبِ أَيْضًا. وَلِهَذَا تَلْزَمُ الْمَاضِيْ؛ لِيَصْلُحَ أَنْ يَقَعَ حَالًا

فصل دی: حرف د توقع (قَدْ) دی او دا په ماضي کي لپاره د نزدېوالي د ماضي ده وحال ته، لکه: (قَدْ رَكِبَ الْأَمِيْرُ)، أَيْ: قُبَيْلَ هَذَا. او له دې وجې دا بلل کیږي حرف تقریب هم. او له دې وجې لازمه ده ماضي؛ ځکه چي صلاحیت د واقع کېدو د حال سته

تشریح: حرف د (قد) چي په ماضي باندي داخل سي؛ نو زمانه ماضي حال ته قریبه کوي، لکه: (قد ركب الأمير، أي: قُبيل هذا). او د (قد) په پښتو ژبه کي معنا دا ده: په تحقیق سره؛ ځکه چي دا لفظ تحقیق فایده کوي.

وَقَدْ تَجِيْءُ لِلتَّأْكِيْدِ إِذَا كَانَ جَوَابًا لِمَنْ يَسْأَلُ: (هَلْ قَامَ زَيْدٌ؟)، تَقُوْلُ: (قَدْ قَامَ زَيْدٌ). وَفِي الْمُضَارِعِ لِلتَّقْلِيْلِ، نَحْوُ: (إِنَّ الْكَذُوْبَ قَدْ يَصْدُقُ، وَإِنَّ الْجَوَادَ قَدْ يَبْخَلُ). وَقَدْ تَجِيْءُ لِلتَّحْقِيْقِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ ...﴾ [الأحزاب: ۱۸]. وَيَجُوْزُ الْفَصْلُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْفِعْلِ بِالْقَسَمِ، نَحْوُ: (قَدْ وَاللهِ أَحْسَنْتَ)

او (قَدْ) راځي لپاره د تاکيد چې کله وي جواب د هغه چالپاره کوم چې پوښتنه ځني وسي (لکه) : (هَلْ قَامَ زَيْدٌ ؟)، ته اپه جواب کي ورته اووايي : (قَدْ قَامَ زَيْدٌ) . او په مضارع کي لپاره د لږوالي راځي، لکه : (إِنَّ الْكَذُوبَ قَدْ يَصْدُقُ، وَإِنَّ الْجَوَادَ قَدْ يَبْخَلُ) . او (قَدْ) راځي لپاره د تحقيق، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿ قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ ...﴾ او روا دی فصل په مينځ کي د ده (قَدْ) او فعل په قسم سره، لکه : (قَدْ وَالله أَحْسَنْتَ)

تشريح : او کله راځي د تاکيد لپاره هغه وخت چې کله ماضي په جواب د سوال کي راسي، لکه يو سائل سوال کړی وي په (هل قام زيدٌ ؟) سره، يعني : ايا زيد دربدلی دئ ؟ نو يو بل يو جواب ورکړي : هو په تحقيق سره زيد دربدلی دی .

او په مضارع کي معنا د لږوالي پيدا کوي، لکه : (إنّ الكذوب قد يصدق وإنّ الجواد قد يبخل)، يعني : بېشکه درواغجن کله ناکله ريشتيا وايي او بېشکه سخي کله ناکله بخل کوي .

فايده : همدا ډول (قَدْ) کله په مقام د مدح کي معنا د ډېروالي پيدا کوي، لکه دا قول د الله تعالی : ﴿... قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ...﴾ [النور: ٦٣] .

وَقَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ بَعْدَ (قَدْ) عِنْدَ الْقَرِينَةِ، كَقَوْلِ الشَّاعِرِ (شِعْرٌ) :

أَفِدَ التَّرَحُّلُ غَيْرَ أَنَّ رِكَابَنَا لَمَّا تَزُلْ بِرِحَالِنَا وَكَأَنْ قَدِنْ

أَيْ : وَكَأَنْ قَدْ زَالَتْ

او په تحقيق سره حذفيږي فعل وروسته تر (قَدْ) په وخت د قرينې کي، لکه دا قول د شاعر (شعر) :

أَفِدَ التَّرَحُّلُ غَيْرَ أَنَّ رِكَابَنَا لَمَّا تَزُلْ بِرِحَالِنَا وَكَأَنْ قَدِنْ

أَيْ : وَكَأَنْ قَدْ زَالَتْ

تشريح : کله حذف د فعل کيږي تر (قَدْ) وروسته لکه راغلي دي په دې قول د شاعر کي چې مصنف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په خپل عبارت کي ذکر کړی او د شعر معنا دا ده : فايده کړی کوچ کول بېله دې چې زموږ سپرلياني، هغه نه سوې زايلي زموږ په کوچ باندي او ګواکي (قَدِنْ) دی، يعني : او ګواکي دا زايلي سوې (ولاړې) اه ! .

قاعده : (قَدْ) به په مضارع هغه وخت داخليږي چې مضارع خالي وي له عوامل لفظيه او جازمه ؤ ځخه او همدا ډول خالي وي له سين او (سوف) ځخه .

د حرف (التوقع) **لپاره مختصر تمرين :** ١- (جَاءَ حَسَنٌ وَقَدْ يَجِيْءُ حُسَيْنٌ) . ٢- (قَدْ جَاءَ الْمُسَافِرُ) . ٣- (قَدْ حَقَقْتُ هَذِهِ الْمَسْئَلَةَ) . ۴- (قَدْ ذَهَبَ أَبُوكَ) . ٥- (قَدْ يَنْقَطِعُ التَّيَارُ الْكَهْرَبَائِيُّ) .

فَصْلٌ : حَرْفَا الْإِسْتِفْهَامِ : (اَلْهَمْزَةُ، وَهَلْ) لَهُمَا صَدْرُ الْكَلَامِ. وَتَدْخُلَانِ عَلَى الْجُمْلَةِ اِسْمِيَّةً كَانَتْ، نَحْوُ : (أَزَيْدٌ قَائِمٌ ؟)، أَوْ فِعْلِيَّةً، نَحْوُ : (هَلْ قَامَ زَيْدٌ ؟)

فصل دی : دوه حرفه د استفهام دي : (همزه) او (هَلْ) چي دې دوو لره صدارت د كلام دی او دا دواړه داخليږي پر جمله اسميه يې، لكه : (أَزَيْدٌ قَائِمٌ ؟)، يا پر (جمله فعليه يې، لكه : (هَلْ قَامَ زَيْدٌ ؟)

تشريح : بل له حروفو څخه (حرف الاستفهام) دی چي دا راځي لپاره د طلب د فهم او د علم او هغه دوه دي : ۱- همزه. ۲- (هَلْ) او د دوی لپاره صدر د كلام دی ؛ ځكه دوی دلالت كوي په خاص نوع د كلام باندي چي هغه استفهام دی ؛ نو په اول، يعني : صدر د كلام كي به راوړل كيږي چي دلالت وكړي له اول وهلت څخه په دغه خاص نوع باندي او دا به په جمله اسميه او فعليه دواړو داخليږي، د جمله اسميه يې مثال لكه : (أزيدٌ قائِمٌ ؟) او مثال د جمله فعليه يې مثال لكه : (أقام زيدٌ ؟) .

د همزې او (هل) فرق : همزه په هره جمله اسميه باندي داخليږي، برابره خبره ده چي د دې خبر فعل وي او كه اسم وي، مگر (هل) په هغه جمله اسميه باندي داخليږي چي خبر د هغې فعل وي ؛ ځكه (هل) په معنا د (قد) سره دی او (قد) له لوازمو څخه د فعل دی.

وَدُخُولُهُمَا عَلَى الْفِعْلِيَّةِ أَكْثَرُ ؛ إِذِ الْإِسْتِفْهَامُ بِالْفِعْلِ أَوْلَى

او داخلول د دوی دوو [د همزې او (هَلْ)] پر فعليه يې ډېر دی ؛ ځكه استفهام په فعل سره ډېر غوره دی

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه فايده ذكر كوي او هغه دا ده چي دا دواړه حرفونه به په جمله اسميه يې او فعليه يې باندي داخليږي، مگر دخول د دوی دوو به په جمله فعليه يې باندي ډېر زيات وي تر جمله اسميه يې ؛ ځكه استفهام زيات په فعل سره كيږي نه په اسم سره اه !.

وَقَدْ تَدْخُلُ الْهَمْزَةُ فِي مَوَاضِعَ لَا يَجُوزُ دُخُولُ (هَلْ) فِيهَا، نَحْوُ : (أَزَيْدًا ضَرَبْتَ ؟ وَأَتَضْرِبُ زَيْدًا وَهُوَ أَخُوكَ ؟ وَأَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟ وَأَوْ مَنْ كَانَ ؟ وَأَفَمَنْ كَانَ ؟ وَأَثُمَّ ؟) إِذَا مَا وَقَعَ. وَلَا تُسْتَعْمَلُ (هَلْ) فِي هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ. وَهٰهُنَا بَحْثٌ

او په تحقيق سره داخليږي همزه په څو ځايونو كي چي نه دئ روا داخلول د (هَلْ) په دې كي، لكه : (أَزَيْدًا ضَرَبْتَ ؟ وَأَتَضْرِبُ زَيْدًا وَهُوَ أَخُوكَ ؟ وَأَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو ؟ وَأَوْ مَنْ كَانَ ؟ وَأَفَمَنْ كَانَ ؟ وَأَثَمَّ ؟) كله چي نه سي واقع او نه استعماليږي (هَلْ) په دغو ځايو كي. او په دې ځای كي بحث دی

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمة الله عليه دا بيانوي چې همزه عامه ده تر (هل) او بل دا چې د (هل) لپاره څو ځايونه داسې چې هلته استعمال د همزې صحيح نه دی : ۱- په (هل) باندې حرف عاطفه داخليدای سي، نه په همزې باندې، لکه د الله تعالى دا قول : ﴿... فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ [المائدة: ۹۱].

۲- تر (أم) وروسته د (هل) استعمال صحيح دی، نه د همزې.

۳- په اثبات کې (هل) د نفي لپاره راځي او همزه داسې نه ده، لکه : ﴿هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾ [المطففين: ۳۶] په معنا د (لم يُثوب) سره دی.

۴- تر (هل) وروسته (إلّا) د اثبات لپاره راځي او همزه داسې نه ده، لکه : ﴿هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ [الرحمن: ۶۰].

۵- او په کوم خبر د مبتدا چې (باء) زائده راغلې وي؛ نو هلته (هل) راوړل کيږي نه همزه، لکه : (هل زيد بقائم؟) اه!.

د (حرفا الاستفهام) لپاره **مختصر تمرين** : ۱- (أَكْتُبَ الدَّرْسُ ؟) . ۲- (أَمُحَمَّدٌ جَاءَ ؟) . ۳- (أَوَ مَا عِنْدَكَ حَقٌّ ؟) . ۴- (هَلْ زَيْدٌ فِي الدَّارِ ؟) . ۵- (هَلْ تَعَلَّمْتَ القِرَاءَةَ ؟) .

فَصْلٌ : حُرُوْفُ الشَّرْطِ : (إِنْ، وَلَوْ، وَأَمَّا) لَهَا صَدْرُ الْكَلَامِ. وَيَدْخُلُ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهَا عَلَى الْجُمْلَتَيْنِ اسْمِيَّتَيْنِ كَانَتَا، أَوْ فِعْلِيَّتَيْنِ. أَوْ مُخْتَلِفَتَيْنِ

فصل دی : حروف د شرط (درې) دي : (إِنْ، وَلَوْ، وَأَمَّا) چې دې لره صدارت د کلام دی او دا هر يو (حرف) داخليږي له دې څخه پر دوو جملو چې دواړې اسمين وي، يا فعلين وي او يا سره مختلفي وي

تشريح : بل له حروفو څخه حروف د شرط دي چې هغه درې دي (إنّ، لو) او (أمّا) او دا حروف دلالت کوي په تعليق د يو شی په بل شی پوري.

او شرط په لغت کې يو شی په بل شی پوري لازمولو ته وايي او په اصطلاح کې تعليق د حاصلېدلو د مضمون د جملې په حاصلېدلو سره د مضمون د بلې جملې ته وايي.

فَـ(إِنْ) لِلْاِسْتِقْبَالِ وَإِنْ دَخَلَتْ عَلَى الْمَاضِيْ، نَحْوُ : (إِنْ زُرْتَنِيْ ؛ أَكْرَمْتُكَ)، وَ (لَوْ) لِلْمَاضِيْ وَإِنْ دَخَلَتْ عَلَى الْمُضَارِعِ، نَحْوُ : (لَوْ تَزُوْرُنِيْ ؛ أَكْرَمْتُكَ)

نو (إنْ) لپاره د استقبال دی که څه هم داخل سي پر ماضي، لکه : (إِنْ زُرْتَنِيْ ؛ أَكْرَمْتُكَ) او (لَوْ) لپاره د ماضي دی که څه هم پر مضارع داخل سي، لکه : (لَوْ تَزُوْرُنِيْ ؛ أَكْرَمْتُكَ)

فايده : (لو) په معنا د (إنْ) باندي هم کارول کيږي، لکه : (إن أعجبتكم) او په معنا د (أن) ناصبه باندي هم کارول کيږي، لکه : ﴿.. يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِى...﴾ [المعارج: ۱۱] .

وَيَلْزَمُهُمَا الْفِعْلُ لَفْظًا كَمَا مَرَّ ، أَوْ تَقْدِيْرًا ، نَحْوُ : (إِنْ أَنْتَ زَائِرِيْ ؛ فَأَنَا أُكْرِمُكَ) .

وَاعْلَمْ ! أَنَّ (إِنْ) لَا تُسْتَعْمَلُ إِلَّا فِي الْأُمُوْرِ الْمَشْكُوْكَةِ ؛ فَلَا يُقَالُ : (آتِيْكَ إِنْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ) ، بَلْ يُقَالُ : (آتِيْكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ)

او لازم دی دوی دوو لره فعل لفظا لکه څرنګه چې تېر سوه، یا تقدیرا لکه : (إِنْ أَنْتَ زَائِرِيْ ؛ فَأَنَا أُكْرِمُكَ) .

او پوه سه ! په دې چې (إنْ) نه استعماليږي مګر په هغو امورو کې چې شکي وي ؛ نو داسي نه ويل کيږي : (آتِيْكَ إِنْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ)، بلکې داسي ويل کيږي : (آتِيْكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ) .

تشريح : مصنف رحمه الله تعالیٰ په دې عبارت سره بيان د يوې قاعدې کوي چې (إنْ) شرطيه همېشه په هغو امورو کې کارول کيږي چې شک پکې وي، نه په هغو امورو چې يقيني وي ؛ نو له دې وجې څخه دا ترکيب غلط دی چې وايي: (آتيك إنْ طلعت الشّمس) ؛ ځکه (طلوع) د (شمس) له امورو يقينيه ؤ څخه دي، بلکې داسي ويل کيږي : (آتيك إذا طلعت الشّمس) او دا ترکيب صحيح دی ؛ ځکه (إذا) په امورو يقينيه ؤ کې کارول کيږي ! .

وَ (لَوْ) تَدُلُّ عَلَى نَفْيِ الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ بِسَبَبِ نَفْيِ الْجُمْلَةِ الْأُوْلَى كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ...﴾ [الأنبياء: ۲۲]

او (لَوْ) دلالت کوي پر نفي ېې د جملې دويمې په سبب د نفي د جملې اولي لکه دا قول د الله تعالی : ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ...﴾

تشريح : لو شرطيه جمله ثاني نفي کوي په سبب د نفي اولي سره، لکه په تېر آيت شريف کې دويمه جمله (لفسدتا) ده، کومه چې په (لو) سره منتفي ده له وجې د انتفاء د اولي جملې چې وايي : په مځکه کې د اله تعدد نسته .

وَإِذَا وَقَعَ الْقَسَمُ فِيْ أَوَّلِ الْكَلَامِ ، وَتَقَدَّمَ عَلَى الشَّرْطِ ؛ يَجِبُ أَنْ يَكُوْنَ الْفِعْلُ الَّذِيْ تَدْخُلُ عَلَيْهِ حَرْفُ الشَّرْطِ مَاضِيًا لَفْظًا ، نَحْوُ : (وَاللهِ إِنْ أَتَيْتَنِيْ ؛ لَأَكْرَمْتُكَ) ، أَوْ مَعْنًى ، نَحْوُ : (وَاللهِ إِنْ لَمْ تَأْتِنِيْ ؛ لَأَهْجُرَنَّكَ) ، وَحِيْنَئِذٍ تَكُوْنُ الْجُمْلَةُ الثَّانِيَةُ فِي اللَّفْظِ جَوَابًا لِلْقَسَمِ ، لَا جَزَاءً لِلشَّرْطِ ؛ فَلِذَلِكَ وَجَبَ فِيْهَا مَا وَجَبَ فِيْ جَوَابِ الْقَسَمِ مِنَ اللَّامِ وَنَحْوِهَا كَمَا رَأَيْتَ فِي الْمِثَالَيْنِ !

او كله چي واقع سي قسم في اول د خبرو كي او مخكي سي پر شرط : نو واجب دى دا چي وي فعل كوم چي داخليږي پر ده حرف دشرط ماضي په لفظي توگه، لكه : (وَاللهِ إِنْ أَتَيْتَنِي ؛ لَأَكْرَمْتُكَ)، يا [داخليږي پر ده] معنا، لكه : (وَاللهِ إِنْ لَمْ تَأْتِنِي ؛ لَأَهْجَرْتُكَ) او دغه وخت وي جمله دويمه په لفظ كي جواب لپاره د قسم، نه جزاء لپاره د شرط : نو په دې وجه واجب دى په دې كي هغه چي واجب دى په جواب د قسم كي له لام او داسي نور و څخه لكه څرنگه چي تا وليدله په دوو مثالو كي !

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه يوه قاعده بيانوي چي هر كله په اول د كلام كي قسم واقع سو او په شرط باندي مقدم وو ؛ نو حرف شرط چي په كوم فعل داخل وي ؛ دا به لازما فعل ماضي وي او دا كه لفظا وي، لكه : (وَاللهِ إِنْ أتيتني لأكرمك) او يا معنا وي، لكه : (والله إنْ لم تأتني لأهجرتك) .

إِمَّا إِنْ وَقَعَ الْقَسَمُ فِيْ وَسْطِ الْكَلَامِ ؛ جَازَ أَنْ يُعْتَبَرَ الْقَسَمُ . بِأَنْ يَكُوْنَ الْجَوَابُ لَهُ. نَحْوُ : (إِنْ أَتَيْتَنِيْ وَاللهِ لَآتِيَنَّكَ)، وَجَازَ أَنْ يَلْغَى. نَحْوُ : (إِنْ تَأْتِنِيْ وَاللهِ آتِكَ)

يا به واقع وي قسم په مينځ د كلام كي ؛ نو روا دى دا چي معتبر سي قسم، په داسي شان چي وي به جواب د ده لپاره، لكه : (إِنْ أَتَيْتَنِيْ وَاللهِ لَآتِيَنَّكَ) او روا دى دا چي لغوه سي، لكه : (إِنْ تَأْتِنِيْ وَاللهِ آتِكَ)

تشريح : كه چيري قسم په اول د كلام كي نه وو او په دې باندي شرط او يا غير شرط مقدم وو او قسم په مينځ د كلام كي وو ؛ نو بيا دواړه جايز دي، يعني : كه د شرط اعتبار وسي ؛ نو دا به جزاء وي او كه د قسم اعتبار وسي ؛ نو دا به جواب د قسم وي .

وَ (أَمَّا)، لِتَفْصِيْلِ مَا ذُكِرَ مُجْمَلًا . نَحْوُ : (النَّاسُ سَعِيْدٌ وشَقِيٌّ، أَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِيْ الْجَنَّةِ، وَأَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِيْ النَّارِ)

او هر چي (أَمَّا) دى ؛ نو دا لپاره د تفصيل د هغه څه دى چي ذكر سو په اجمالي توگه، لكه : (النَّاسُ سَعِيْدٌ وشَقِيٌّ، أَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِيْ الْجَنَّةِ، وَأَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِيْ النَّارِ)

تشريح : بل له (حروف الشرط) څخه (أمّا) دى چي دا راځي لپاره د تفصيل د اجمال چي متكلم كومه يوه خبره مجمله كړې وي : نو د هغې د تفصيل لپاره راځي چي هغه اجمال به يا په ذكر كي وي او يا په ذهن كي وي، د ذكر مثال لكه : (جاء إخوتك أمّا زيد ؛ فأكرمته، وأمّا عمرو ؛ فأهنته، وأمّا بكر ؛ فأعرضتُ عنه) .

او مثال د اجمال ذهني هغه دى چي هغه معلوم وي مخاطب ته په واسطې، يا قرينې سره .

او كله (أمّا) راځي د مجرد استيناف لپاره بېله سبق اجمالي څخه، لكه (أمّا) چي ذكر كيږي په اوائلو د خطبو كي، لكه : (أَمَّا بَعْدُ) .

او چي كله (أمّا) لپاره د تفصيل راځي ؛ نو بيا پكي تكرار لازم دى ؛ ځكه مفصل مكرر وي او كله كله اكتفا صرف په يو قسم باندي كيږي ١ه!.

وَيَجِبُ فِيْ جَوَابِهَا : (الْفَاءُ)، وَأَنْ يَكُوْنَ الْأَوَّلَ سَبَبًا لِلثَّانِيْ، وَأَنْ يُحْذَفَ فِعْلُهَا مَعَ أَنَّ الشَّرْطَ لَا بُدَّ لَهُ مِنْ فِعْلٍ، وَذٰلِكَ ؛ لِيَكُوْنَ تَنْبِيْهًا عَلَى أَنَّ الْمَقْصُوْدَ بِهَا حُكْمُ الْاِسْمِ الْوَاقِعِ بَعْدَهَا. نَحْوُ : (أَمَّا زَيْدٌ ؛ فَمُنْطَلِقٌ)، تَقْدِيْرُهُ (مَهْمَا يَكُنْ مِنْ شَيْءٍ ؛ فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ) ؛ فَحُذِفَ الْفِعْلُ وَالْجَارُّ وَالْمَجْرُوْرُ وَأُقِيْمَ (أَمَّا) مَقَامَ (مَهْمَا) حَتَّى بَقِيَ. أَمَّا (فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ). وَلَمَّا لَمْ يُنَاسِبْ دُخُوْلُ حَرْفِ الشَّرْطِ عَلَى (فَاءِ) الْجَزَاءِ نَقَلُوْا الْفَاءَ إِلَى الْجُزْءِ الثَّانِيْ. وَوَضَعُوْا الْجُزْءَ الْأَوَّلَ بَيْنَ (أَمَّا)، وَ (الْفَاءِ) عِوَضًا عَنِ الْفِعْلِ الْمَحْذُوْفِ

او واجب دی په جواب کي یې [یعني : په جواب د (أَمَّا) کي] : (داخلېدل د) فاء او دا چي اول به سبب وي لپاره د دویم او دا چي حذف سي فعل یې سره له دې چي شرط لره چاره نسته له یو فعل څخه او دا ؛ د دې لپاره چي سي دا تنبیه پر دې چي مقصود په دې سره حکم د اسم واقع دی وروسته تر دې، لکه : (أَمَّا زَيْدٌ ؛ فَمُنْطَلِقٌ)، چي تقدير يې داسي دی (مَهْمَا يَكُنْ مِنْ شَيْءٍ ؛ فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ) ؛ نو حذف سو فعل، جار او مجرور او ودرېدی (أَمَّا) پر ځای د (مَهْمَا) تر دې چي پاته سو (أَمَّا فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ) او له دې وجي نه دئ مناسب داخلېدل د حرف شرط پر (فاء) د جزاء چي دوی (نحویانو) نقل کړل فاء ودویم جز ته. او دوی کښېښودی اول جز په مینځ کي د (أَمَّا) کي او (فاء) بدل دی له فعل محذوف څخه

څه تشریح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله علیه د (أَمَّا) خاصیت بیانوي او د دې تفصیل په خپل عبارت سره بیانوي.

ثُمَّ ذٰلِكَ الْجُزْءُ الْأَوَّلُ إِنْ كَانَ صَالِحًا لِلْاِبْتِدَاءِ ؛ فَهُوَ مُبْتَدَأٌ كَمَا مَرَّ. وَإِلَّا ؛ فَعَامِلُهُ مَا يَكُوْنُ بَعْدَ الْفَاءِ. كَـ(أَمَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ ؛ فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ) ؛ فَـ(مُنْطَلِقٌ) عَامِلٌ فِيْ (يَوْمِ الْجُمُعَةِ) عَلَى الظَّرْفِيَّةِ

بیا دا اول جز که یې صلاحیت درلودی لپاره د ابتدا ؛ نو دا مبتدا ده لکه څرنګه چي دا خبره تېره سوې ده ؛ څکه عامل یې دا دئ چي وي به وروسته تر فاء، لکه (أَمَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ ؛ فَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ) ؛ نو (مُنْطَلِقٌ) چي دی عامل یې په (يَوْمِ الْجُمُعَةِ) کي پر ظرفیت دی

د (حروف الشّرط) **لپاره مختصر تمرين** : ۱- (إِنْ أَسَأْتَ ؛ فَأُعَاقِبُكَ). ۲- (إِنْ سَافَرْتَ ؛ أُسَافِرْ). ۳- (إِنْ جِئْتَ وَاللّٰهِ لَأَعْطَيْتُكَ الْهَدِيَّةَ). ۴- (تَاللّٰهِ إِنْ جِئْتَنِيْ ؛ لَأَكْرَمْتُكَ). ۵- (إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ دِيْنٌ ؛ فَكُوْنُوا أَحْرَارًا فِيْ دُنْيَاكُمْ).

فَصْلٌ : حَرْفُ الرَّدْعِ (كَلَّا)، وُضِعَتْ لِزَجْرِ الْمُتَكَلِّمِ وَرَدْعِهِ عَمَّا يَتَكَلَّمُ بِهِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ﴾ [الفجر: ١٦] ؛ (كَلَّا)، أَيْ : لَا يَتَكَلَّمُ بِهٰذَا ؛ فَإِنَّهُ لَيْسَ كَذٰلِكَ. وَهٰذَا فِي الْخَبَرِ

فصل دی : حرف (الرّدع) هغه (كَلَّا) دی، چې اېښودل سوی دی لپاره د رټنې د متكلم او د هغه د راګرځولو له هغه څه څخه چې دی خبري په كوي، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ﴾؛ نو (كَلَّا) معنا دا چې: چې خبري به نه كوي په دې سره؛ ځكه دی نه وي داسې. او دا په خبر كې داسې وي

تشريح : دا فصل دی په بیان د (حروف الرّدع) كې چې هغه (كَلّا) دی او د (كَلّا) معنا منع ده، پس هر كله چې (كَلّا) د زجر او منع لپاره وضع سوی وو ؛ نو له دې وجې د ده نوم (حرف الرّدع) كېښودل سو .

او په لفظ د (كَلّا) كې د نحاتو اختلاف دی چې دا مفرد دی او كه مركب ؟ نو د جمهورو نحاتو په نېز باندې دا لفظ بسيط او مفرد دی او د ابن يعيش په نېز باندې دا مركب دی چې يو (كاف تشبيه) دی او بل (لا) دی، پس هر كله چې معنا د تشبيه په دې كې پيدا سوه ؛ نو لام مشدد كړل سو .

وَقَدْ تَجِيْءُ بَعْدَ الْأَمْرِ أَيْضًا، كَمَا إِذَا قِيْلَ لَكَ : (اضْرِبْ زَيْدًا)، فَقُلْتَ : (كَلَّا)، أَيْ : لَا أَفْعَلُ هٰذَا قَطُّ . وقَدْ تَجِيْءُ بِمَعْنَى (حَقًّا)، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ [التكاثر: ٣]. وَحِيْنَئِذٍ تَكُوْنُ اِسْمًا يُبْنَى ؛ لِكَوْنِهِ مُشَابِهًا لِـ(كَلَّا) حَرْفًا . وَقِيْلَ : تَكُوْنُ حَرْفًا أَيْضًا بِمَعْنَى (أَنَّ) لِتَحْقِيْقِ الْجُمْلَةِ، نَحْوُ : ﴿كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ﴾ [العلق: ٦]. بِمَعْنَى (إِنَّ)

او په تحقيق سره راځي (كَلّا) وروسته تر امر هم دا ډول، لكه څرنګه چې ورېل سي تا ته : (اضْرِبْ زَيْدًا)، بيا ته داسې ووايې : (كَلَّا)، يعني : نه كوم دا فعل ګرسره .

او په تحقيق سره راځي (كَلّا) په معنا د (حَقًّا)، لكه دا قول د الله تعالى : ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ او دغه وخت وي به اسم چې بنا يې سوې وي ؛ د دې لپاره چې كېدل يې مشابه (ورته) دي له (كَلّا) سره حرفا . او يو چا ويلي دي : چې وي به حرف هم دا ډول په معنا سره د (أَنَّ) لپاره د تحقيق د جملې، لكه : ﴿كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ﴾ چې په معنا سره د (إِنَّ) دی

څه تشريح : (كَلّا) د زجر او منع لپاره هغه وخت راځي چې وروسته تر خبر وي او كله تر امر وروسته هم راځي، لكه : (اضرب زيد) او ته ووايې : (كَلّا)، يعني : دا كار ګرسره نه كوم ! .

د (حرف الرّدع) لپاره **مختصر تمرين** : ١- (إِنَّ سَعِيْدًا كَاذِبٌ، كَلَّا) . ٢- (كَلَّا سَتَرَى مَنِ الْمُهَانُ ؟) . ٣- (هَلْ ذَهَبْتَ إِلَى الْمَلْعَبِ ؟ كَلَّا) .

فَصْلٌ : تَاءُ التَّأْنِيْثِ السَّاكِنَةِ تَلْحَقُ الْمَاضِيَ ؛ لِتَدُلَّ عَلَى تَأْنِيْثِ مَا أُسْنِدَ إِلَيْهِ الْفِعْلُ، نَحْوُ : (ضَرَبَتْ هِنْدٌ) . وَقَدْ عَرَفْتَ مَوَاضِعَ وُجُوْبِ إِلْحَاقِهَا

فصل دی : تاء تانیث ساکنه ملحقه کیږي په ماضي پورې ؛ د دې لپاره چې دلالت وکړي پر تانیث د هغه چې مسند سوی وي هغه ته فعل، لکه : (ضَرَبَتْ هِنْدٌ). اوپه تحقیق سره تا [په بیان د (فاعل) کې] پیژندلي دې ځایونه د وجوب د ملحقه کېدو یې

(۳۵۶) پوښتنه : تخصیص د (تاء التأنیث السّاکنة) ولې په فعل پورې وسو ؟

جواب : اصل په اسم کې اعراب دی او اصل په فعل کی بناء ده ؛ نو تحرک د تاء دا علامه د اسم سوه او سکون د تاء علامه د بناء د فعل سوه ! .

وَإِذَا لَقِيَهَا سَاكِنٌ بَعْدَهَا ؛ وَجَبَ تَحْرِيكُهَا بِالْكَسْرِ ؛ لِأَنَّ السَّاكِنَ إِذَا حُرِّكَ ؛ حُرِّكَ بِالْكَسْرِ، نَحْوُ : (قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ)، وَحَرَكَتُهَا لَا تُوجِبُ رَدَّ مَا حُذِفَ لِأَجْلِ سُكُونِهَا ؛ فَلَا يُقَالُ : (رَمَاتِ الْمَرْأَةُ) ؛ لِأَنَّ حَرَكَتَهَا عَارِضِيَّةٌ وَاقِعَةٌ لِرَفْعِ الْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ ؛ فَقَوْلُهُمْ : (الْمَرْأَتَانِ رَمَاتَا) ضَعِيفٌ . وَأَمَّا إِلْحَاقُ عَلَامَةِ التَّثْنِيَةِ وَجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ ؛ فَضَعِيفٌ ؛ فَلَا يُقَالُ : (قَامَا الزَّيْدَانِ، وَقَامُوا الزَّيْدُونَ وَقُمْنَ النِّسَاءُ) .

وَبِتَقْدِيرِ الْإِلْحَاقِ لَا تَكُونُ الضَّمَائِرُ ؛ لِئَلَّا يَلْزَمَ الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ، بَلْ عَلَامَاتٍ دَالَّةٍ عَلَى أَحْوَالِ الْفَاعِلِ كَتَاءِ التَّأْنِيثِ

او کله چې ملاقي سي له دې سره ساکن وروسته تر دې ؛ نو واجب دی حرکت ورکول په کسرې سره ؛ ځکه ساکن چې حرکت وکړي ؛ نو حرکت کوي په کسرې سره، لکه : (قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ) او حرکت یې نه واجبوي اړول د هغه چې حذف سوی وي له وجې د ساکن کېدو یې ؛ نو داسې نه ویل کیږي : (رَمَاتِ الْمَرْأَةُ) ؛ ځکه حرکت د دې عارضي دی چې دا واقع دی لپاره د پورته کولو د التقاء د ساکنینو ؛ نو دا قول د دوی : (الْمَرْأَتَانِ رَمَاتَا) ضعیف دی .

او هر چې ملحق کېدل دي د علامې د تثنیه یې، جمع مذکر او جمع مؤنث ؛ نو دا (هم) ضعیف دی ؛ ځکه داسې نه ویل کیږي : (قَامَا الزَّيْدَانِ، وَقَامُوا الزَّيْدُونَ وَقُمْنَ النِّسَاءُ) .

او په تقدیر سره د الحاق نه ګرځي ضمائر ؛ د دې لپاره چې لازم نه سي اضمار مخکې تر ذکر، بلکې (دا) علامې دي چې دلالت کوي په حالاتو د فاعل، لکه تاء د تانیث چې ده

د (تاء التانیث) **لپاره مختصر تمرین :** ۱- (أَدَّتْ زَيْنَبُ مَا عَلَيْهَا) . ۲- (جَلَسَتِ الْأُمُّ تَخِيطُ ثَوْبَهَا) . ۳- (خَرَجَتِ الطِّفْلَةُ مِنَ الْبَيْتِ) . ۴- (ظَلَّتِ الْمُعَلِّمَةُ وَاقِفَةً) . ۵- (قَامَتِ الْبِنْتُ بِأَدَاءِ وَاجِبِهَا) .

فَصْلٌ : التَّنْوِينُ نُونٌ سَاكِنَةٌ تَتْبَعُ حَرَكَةَ آخِرِ الْكَلِمَةِ، لَا لِتَأْكِيدِ الْفِعْلِ

فصل دی : تنوین داسې نون دی چې ساکن دی کوم چې تابع دی د حرکت د آخري کلیمې، نه لپاره د تاکید د فعل

تشریح : دا فصل دی په بیان د تنوین کي چي تنوین د نون ساکن دی او تنوین مصدر دی په معنا د (منون) کولو سره، مګر دا تنوین په تلفظ کي نون ساکن ویل کیږي او په کتابت کي يې دوه زوره، یا دوه پېښه او یا دوه زېره لیکل کیږي او تنوین تابع د حرکت دی، که چیري حرکت په حالت د وقف کي ساقط سو ؛ نو تنوین به ورسره ساقطیږي اه ! .

وَهِيَ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ. الْأَوَّلُ : لِلتَّمَكُّنِ. وَهُوَ مَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْاِسْمَ مُتَمَكِّنٌ فِيْ مُقْتَضَى الْاِسْمِيَّةِ. أَيْ : أَنَّهُ مُنْصَرِفٌ. وَنَحْوُ : (زَيْدٌ وَّرَجُلٌ) .

وَالثَّانِيْ : لِلتَّنْكِيْرِ. وَهُوَ مَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْاِسْمَ نَكِرَةٌ. نَحْوُ : (صَهٍ). أَيْ : أُسْكُتْ سُكُوْتًا مَا فِيْ وَقْتٍ مَّا. وَأَمَّا (صَهْ) بِالسُّكُوْنِ ؛ فَمَعْنَاهُ : أُسْكُتِ السُّكُوْتَ الْآنَ . وَالثَّالِثُ : لِلْعِوَضِ. وَهُوَ مَا يَكُوْنُ عِوَضًا عَنِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ. نَحْوُ : (حِيْنَئِذٍ. وَسَاعَتَئِذٍ. وَيَوْمَئِذٍ). أَيْ : حِيْنَ إِذْ كَانَ كَذَا . وَالرَّابِعُ : لِلْمُقَابَلَةِ. وَهُوَ التَّنْوِيْنُ الَّذِيْ فِيْ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ. نَحْوُ : (مُسْلِمَاتٍ). وَهَذِهِ الْأَرْبَعَةُ تَخْتَصُّ بِالْاِسْمِ . وَالْخَامِسُ : لِلتَّرَنُّمِ. وَهُوَ الَّذِيْ آخِرَ الْأَبْيَاتِ وَالْمَصَارِيْعِ. كَقَوْلِ الشَّاعِرِ (شِعْرٌ) :

أَقِلِّيَ اللَّوْمَ عَاذِلُ وَالْعِتَابَنْ   وَقُوْلِيْ إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

وَكَقَوْلِهِ :

يَا أَبَتَا ! عَلَّكَ. أَوْ عَسَاكَنْ

او دا (تنوین) پر پېنځه ډوله دی. لومړی ډول : لپاره د تمکن دی او دا هغه دی چي دلالت کوي پر دې چي اسم متمکن په تقاضا د اسمیت کي دی. یعني چي دی منصرف دی او لکه : (زَيْدٌ وَرَجُلٌ) .

او دویم : لپاره د تنکیر دی او هغه دا دئ چي دلالت کوي پر دې چي اسم نکره دی. لکه : (صَهٍ). یعني : چوپ سته په چوپېدلو سره په یو وخت کي. او هر چي (صَهْ) دی په سکون سره : نو معنا يې دا ده : چي چوپ سه په چوپېدلو سره اوس . او دریم : لپاره د عوض دی او دا هغه دی چي عوض وي له مضاف إليه څخه. لکه : (حِيْنَئِذٍ، وَسَاعَتَئِذٍ، وَيَوْمَئِذٍ). یعني : هغه وخت چي کله وي داسي . او څلورم : لپاره د مقابلي دی او دا هغه تنوین دی کوم چي په جمع مؤنث سالم کي دی. لکه : (مُسْلِمَاتٍ) او دا څلور ډولونه خاص دي په اسم پوري . او پېنځم : لپاره د ترنم دی او دا هغه (تنوین) دی چي ملحقه کیږي په آخر د بیتو او مصریو پوري. لکه دا قول د شاعر (شعر) :

أَقِلِّيَ اللَّوْمَ عَاذِلُ وَالْعِتَابَنْ   وَقُوْلِيْ إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

او لکه دا قول يې :

يا أَبَتَا ! عَلَّكَ، أَوْ عَسَاكَنْ

يادونه : د تنوین د پېنځو ډولو تفصيلي بيان د کتاب په مقدمه کي تېر سوی دی. چي اوس يې مکررولو ته اړتیا نسته : وَالْحَمْدُ لله تَعَالَىٰ .

فايده : تنوين عوض په درې ډوله دی ؛ نو اول دا دئ : چې د جملې په عوض او بدل کې راغلی وي په آخر د مضاف إليه کې، لکه : (حينئذ) او (يومئذ) . دويم : دا چې د اسم په عوض کې به راغلی وي په آخر د مضاف کې او دا راځي په لفظ د (كُل) کې، لکه : (كُلٌّ قائم) چې په اصل کې (كُلّ إنسان قائم) . ۳- او دريم دا چې د حرف او حرکت په بدل کې راغلی وي، لکه : (جوارٍ، غواشٍ) او (دواعٍ) .

وَقَدْ يُحْذَفُ مِنَ الْعَلَمِ إِذَا كَانَ مَوْصُوْفًا بِـ(ابْنٍ). أَوْ (ابْنَةٍ) مُضَافًا إِلَى عَلَمٍ آخَرَ. نَحْوُ : (جَاءَنِيْ زَيْدُ بْنُ عَمْرٍو. وَهِنْدُ ابْنَةَ بَكْرٍ)

او په تحقيق سره حذفيږي له نامه څخه چې کله وي موصوف په (ابن). يا (ابنة) سره کوم چې مضاف وي وبل نامه ته. لکه : (جَاءَنِيْ زَيْدُ بْنُ عَمْرٍو، وَهِنْدُ ابْنَةَ بَكْرٍ)

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ يوه قاعده بيانوي چې له (عَلَم)، يعني : نامه څخه حذف د تنوين کيږي کوم چې موصوف وي په لفظ د (ابن) او (ابنة) سره او دا لفظ بل نامه ته مضاف وي ؛ ځکه دا ډول (عَلَم كثير الاستعمال) وي او كثرت د استعمال تقاضا د تخفيف کوي : نو له دې وجې تنوين ځنې حذفيږي .

(۳۵۷) پوښتنه : ستا قاعده منقوضه سوه په (فلان) باندې چې دا (عَلَم) نه دئ او تنوين ځنې حذفيږي ؟

جواب : (فلان) حمل سوی دی په (عَلَم) باندې : ځکه دا کنايه ده له ده څخه .

د تنوين لپاره مختصر تمرين : ۱- ﴿يُنَبَّؤُا الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ [القيامة: ۱۳] ۲- (إذا وَصَلْتَ إِلَى الْبَيْتِ مَاذَا تَعْمَلُ حِينَئِذٍ ؟) . ۳- (أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَا) . ۴- (جَاءَ سَعِيْدٌ مِنَ السُّوْقِ) . ۵- (مَهٍ ! إِنَّهُمْ قَادِمُوْنَ) . ۶- (هَذَا زَيْدٌ أَخُوْكَ) . ۷- (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ مُؤْمِنَاتٌ) .

فَصْلٌ : نُوْنُ التَّأْكِيْدِ :وَهِيَ وُضِعَتْ لِتَأْكِيْدِ الْأَمْرِ وَالْمُضَارِعِ إِذَا كَانَ فِيْهِ طَلَبٌ بِإِزَاءِ (قَدْ) لِتَأْكِيْدِ الْمَاضِيْ . وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ : خَفِيْفَةٌ. أَيْ : سَاكِنَةٌ أَبَدًا. نَحْوُ : (اِضْرِبَنْ). وَثَقِيْلَةٌ. أَيْ : مُشَدَّدَةٌ مَفْتُوْحَةٌ أَبَدًا إِنْ لَمْ يَكُنْ قَبْلَهَا أَلِفٌ. نَحْوُ : (اِضْرِبَنَّ). وَمَكْسُوْرَةٌ إِنْ كَانَ قَبْلَهَا أَلِفٌ. نَحْوُ : (اِضْرِبَانِّ. وَاضْرِبْنَانِّ)

فصل دی : نون تاکيد او دا هغه دی چې کېښېنودل سوی وي لپاره د تاکيد د امر او مضارع چې کله وي په ده کې طلب په برابرې سره د (قَدْ) لپاره د تاکيد د ماضي . او دا پر دوه ډوله دی : خفيفه دی. يعني : چې ساکن به وي همېشه. لکه : (اِضْرِبَنْ) او بل ثقيله دی. يعني : مشدده مفتوحه به وي همېشه هغه چې نه وي په (ما قبل) کې الف. لکه : (اِضْرِبَنَّ) او مکسوره دی هغه چې وي به په (ما قبل) کې يې الف. لکه : (اِضْرِبَانِّ، وَاضْرِبْنَانِّ)

(۳۵۸) پوښتنه: نون تاكيد خفيفه ولې مقدم سو په نون تاكيد ثقيله باندي؟

جواب: نون تاكيد خفيفه مقدم سو په ثقيله باندي له وجې د خفته. او بل دا چي نون خفيفه جزء د نون ثقيله دى او جز مقدم وي په (كُل) باندي.

وَتَدْخُلُ فِي الْأَمْرِ. وَالنَّهْيِ. وَالْاِسْتِفْهَامِ. وَالتَّمَنِّيْ. وَالْعَرَضِ جَوَازًا؛ لِأَنَّ فِيْ كُلٍّ مِّنْهَا طَلَبًا. نَحْوُ: (اِضْرِبَنْ. وَلَا تَضْرِبَنْ. وَهَلْ تَضْرِبَنْ. وَلَيْتَكَ تَضْرِبَنْ. وَأَلَا تَنْزِلُ بِنَا؛ فَتُصِيْبَ خَيْرًا)

او دا (نون تاكيد) داخليږي په امر، نهي، استفهام، تمني او عرض باندي جوازاً؛ ځكه چي په هر د دوى كي طلب سته. لكه: (اِضْرِبَنْ، وَلَا تَضْرِبَنْ، وَهَلْ تَضْرِبَنْ، وَلَيْتَكَ تَضْرِبَنْ، وَأَلَا تَنْزِلُ بِنَا؛ فَتُصِيْبَ خَيْرًا)

(۳۵۹) پوښتنه: نونْ تاكيد په اول كي ولې نه راځي په شان د لام تاكيد؟

جواب: نون خفيفه ساكن دى؛ نو ابتدا په ساكن لازميږي او دا محال دى. او بل دا چي تاكيد همېشه تر موكد وروسته راځي، له دې وجي ځكه په آخر كي ملحق كيږي.

وَقَدْ تَدْخُلُ وُجُوْبًا لِوُقُوْعِهِ عَلَى مَا يَكُوْنُ مَطْلُوْبًا لِلْمُتَكَلِّمِ غَالِبًا؛ فَأَرَادُوْا أَنْ لَا يَكُوْنَ آخِرَ الْقَسَمِ خَالِيًا عَنْ مَعْنَى التَّأْكِيْدِ كَمَا لَا يَخْلُوْ أَوَّلُهُ مِنْهُ. نَحْوُ: (وَاللهِ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا).

وَاعْلَمْ! أَنَّهُ يَجِبُ ضَمُّ مَا قَبْلَهَا فِيْ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ. نَحْوُ: (اِضْرِبُنَّ)؛ لِيَدُلَّ عَلَى الْوَاوِ الْمَحْذُوْفَةِ. وَكَسْرُ مَا قَبْلَهَا فِي الْمُخَاطَبَةِ. نَحْوُ: (اِضْرِبِنَّ)؛ لِيَدُلَّ عَلَى الْيَاءِ الْمَحْذُوْفَةِ. وَفَتْحُ مَا قَبْلَهَا فِيْ مَا عَدَاهُمَا. أَمَّا فِي الْمُفْرَدِ؛ فَلِأَنَّهُ لَوْ ضُمَّ؛ لَالْتَبَسَ بِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ. وَلَوْ كُسِرَ؛ لَالْتَبَسَ بِالْمُخَاطَبَةِ

او په تحقيق سره دا داخليږي وجوبا له وجي د واقع كېدو يې پر هغه چي وي مطلوب لپاره د متكلم غالبا؛ نو دوى اراده وكړه د دې چي نه به وي آخر د قسم خالي له معنا څخه د تاكيد لكه څرنګه چي نه وي خالي اول يې له ده څخه. لكه: (وَاللهِ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا).

او پوه سه! په دې چي واجب دى ضمه د (ما قبل) په جمع مذكر كي. لكه: (اِضْرِبُنَّ): د دې لپاره چي دلالت وكړي پر واو محذوفه او كسر د (ما قبل) په مخاطبه كي. لكه: (اِضْرِبِنَّ): د دې لپاره چي دلالت وكړي پر ياء محذوفه او فتحه د (ما قبل) يې په ماسوا د دوو دوو كي. هر چي په مفرد كي دى؛ ځكه د دې لپاره كه ضم سي: نو التباس به راسي په جمع مذكر پوري او كه كسره وركول سي: نو التباس به راسي له مخاطبي سره

څه تشريح: دلته له قسم څخه مراد جواب د قسم دى او مراد له (وفتح ما قبلها فيما عداهما) څخه هغه واحد مذكر غائب. مؤنث غائب. مخاطب او متكلم دى. هغه كه واحد وي. يا جمع اه!.

وَأَمَّا فِي الْمُثَنَّى وَجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ ؛ فَلِأَنَّ مَا قَبْلَهَا أَلِفٌ. نَحْوُ : (اِضْرِبَانِّ. وَاضْرِبْنَانِّ). وَزِيْدَتْ أَلِفُ قَبْلَ النُّوْنِ فِيْ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ لِكَرَاهَةِ اِجْتِمَاعِ ثَلَاثَ نُوْنَاتٍ : نُوْنُ الضَّمِيْرِ. وَنُوْنَا التَّأْكِيْدِ

او هر چي په تثنيه او جمع مؤنث کي دی : نو له وجې د دې چي (ما قبل) يې الف دی. لکه : (اضْرِبَانِّ، وَاضْرِبْنَانِّ) او زيات سوی دی الف مخکي تر نون په جمع مؤنث کي له وجې د کراهت د اجتماع د درو نونانو (لکه) : نون د ضمير او دوه نونان د تاکيد

تشريح : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله عليه علت د فتحې د (ما قبل) د نون په تثنيه او جمع مؤنث کي ذکر کوي ؛ ځکه په تثنيه کي (ما قبل) د نون الف دی چي هغه فتحه غواړي په (ما قبل) کي او په جمع مؤنث کي هم الف مفاصله وي، چي هغه هم تقاضا د فتحې د (ما قبل) کوي.

وَنُوْنُ الْخَفِيْفَةِ لَا تَدْخُلُ فِي التَّثْنِيَةِ أَصْلًا. وَلَا فِيْ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ حُرِّكَتِ النُّوْنُ ؛ لَمْ تَبْقَ خَفِيْفَةً. فَلَمْ تَكُنْ عَلَى الْأَصْلِ. وَإِنْ أَبْقَيْنَتَهَا سَاكِنَةً ؛ يَلْزَمُ الْتِقَاءُ السَّاكِنَيْنِ عَلَى غَيْرِ حَدِّهِ

او نون خفيفه نه داخليږي په تثنيه يې کي بالکل او نه په جمع مؤنث کي ؛ ځکه که چيري حرکت ورکړي نون : نو نه پاتيږي خفيفه. چي دا به نه وي پر (خپل) اصل او که يې پاته کړې ساکن : نو لازميږي التقاء د ساکنينو پر ماسيوا د خپل صفت

څه تشريح : مصنف رحمه الله عليه په دې عبارت سره يوه ضابطه ذکر کوي چي نون خفيفه په څو ځايو کي راځي او حاصل يې دا دئ : چي په دوو ځايو کي نون خفيفه نه راځي، بلکې ممنوع دی، لکه : ۱- تثنيه . ۲- او جمع مؤنث اه !.

وَهُوَ غَيْرُ حَسَنٍ

او دا نه دئ ښه

زنځيري ترکيب : واو حرف عاطفه. هو مبتدا. غير مضاف. حسن مضاف إليه. مضاف سره له مضاف إليه خبر د هو مبتدا. مبتدا سره له خبره جمله اسميه خبريه.

(۳۶۰) پوښتنه : مصنف رحمه الله عليه د (حَسَن) پر ځای ولې (جَمِيْل) نه وايي ؛ ځکه چي دا لفظ ډېر مشهور او واضح دئ ؟

جواب : (حَسَن) په عربي ژبه کي ښه او ګره (سوچه) ته وايي او (جميل) ښايسته ته وايي او د (جميل) اطلاق زياتره وخت پر (ذوي العقول) کيږي : نو دلته (ما قبل) له (غير ذوي العقول) څخه دی : په دې وجه يې (حَسَن) لفظ ووايه او د (جميل) لفظ نه وُوايه اه !.

په پای کي يو وار بيا د ترکيب په هکله يادونه : الحمد لله د مبني په باب کي ما خپله درې ځايه ترکيب راوړی ! چي اول ځای د مبني د باب په سر کي : دويم ځای د مبني د باب په مينځ کي او دريم په همدې آخري ځای کي ما ترکيب راوړی دی ؛ ځکه که چيري تر نورو عبارتونو لاندي يې ترکيب راوړم ! لکه د معرب په باب کي چي مي راوړی دی : نو زما دا شرحه به ډېره غټه سي او په دې کي هم زما حکمت دا دئ : چي بيا هم ګران لوستونکی طالب جلن، يا مدرس عالم ګيله نه وکړي چي په مبني کي يې د هيڅ ځای ترکيب نه وو کړی. کني زما خوښه : خو دا وه چي د (هداية النحو) د کوچني او غټ عبارت تر هر يوه لاندي د هغه خپل ترکيب ما راوړی وای. مګر د دې

تېرې کيلي د ختمولو او د طالب جان او مدرس د پام را اړولو په وجه مې يواځې درې ځايه ترکيب ذکر کړي ! چې بيا هم دوى له ترکيب ښخه ښخي ښې شناخته نه سي او د ځانګړو عبارتو په ترکيب کې خپل کوښښ (هڅه) وکړي ؛ وَالْحَمْدُ لله تَعَالَى .

د (نون التأكيد) لپاره مختصر تمرين : ۱- (أُدْرُسِنَّ ؛ كَيْ تَفْهَمِيْ الْمَوْضُوْعَ) . ۲- (أُكْتُبَنَّ الدَّرْسَ) . ۳- (أُكْتُبَانِّ مَا أَقُوْلُهُ) . ۴- (تَاللهِ لَأَفْرَحَنَّ بِهٰذَا) . ۵- (وَاللهِ لَتَذْهَبُنَّ) .

وَاللهُ أَعْلَمُ، وَعِلْمُهُ أَتَمُّ، وَهُوَ الْعَلِيْمُ بِكُلِّ شَيْءٍ وَحْدَهُ .

د دې شرحې (فتح النحو) پښتو شرح (هداية النحو) د پاى کرښې : لوى متعال ښښتن ﷻ ته دې د زړه له کومې ستاينې او شکرونه وي چې زما دا شرحه په خيريت او عافيت سره ديخ د ځيلې په مينځ کې پاى ته ورسېده او تقريبا شاوخوا پينځه مياشتې وخت يې زما څخه واخيست ! وَالْحَمْدُ للهِ كَمَا هُوَ أَهْلُهُ وَيَرْضَاهُ .

ورځ : يکشنبه .

وخت : د ماښام تر لمانځه وروسته .

نېټه : ۲۷/ دريمه خور (جمادي الأُولى)/ ۱۴۴۲ هجري چې د ۲۰۲۱ عيسوي کال/ د جنوري د مياشتې/ له ۱۰ نېټې سره سمون لري .

وَصَلَّى اللهُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝﴾ [الصافات: ۱۸۰-۱۸۲]

❁ ❁ ❁

